امین الفتاویٰ

افادات

فضیلۃ الشیخ ابو محمد امین اللہ البشاوری

جمع و ترتیب

ابو خالد لائق احمد غزنوی

۱



مکتبہ محمدیہ

امین الفتاوی

افادات

فضیلة الشیخ علامه ابو محمد امین الله پیشاوری حفظه الله

جمع وترتیب

ابوخالد لایق احمد غزنوی

اول جلد

ناشر

کانال تلگرام مکتبة منهاج السنة

(@Mbmenhajsa96)



بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب العقیده

الحمد لله رب العالمین، والصلاه والسلام
علی رسوله الکریم وعلی آله وصحبه أجمعین .اما بعد :

عبد النبی او عبد الرسول نوم کېښودل جائز نه دی

سوال : عبد النبی یا عبد الرسول نوم کېښودل څه حکم لری ؟
جواب : عبد النبی، عبد الرسول، نوم ایښودل حرام او نا جائز دی. په دے تحریم باندے دقرآن او سنت ډیر دلائل او د علماؤ ډیر زیات أقوال دی :

۱ - اول دلیل د قرآن کریم نه: قال الله عز وجل :

﴿ یا أیها الذین آمنوا لا تقولوا راعنا وقولوا انظرنا ﴾ الآیه. [سورت بقره آیت : ۱۰٤] ـ

په دے آیت کریمه کښے الله رب العزت صحابه کرامو رضی الله عنهم ته یو أدب ښائی او هغه دا چه اے مؤمنانو ! مشتبه الفاظ پریږدئ او صریح الفاظ استعمالوئ، داسے الفاظ مه وایئ چه دهغه ښه معنی هم وی او بده معنی هم، بلکه ددے لفظ په ځائے داسے الفاظ استعمالوئ چه دهغه نه بده معنی نه فهمیږی ـ

په دے آیت کښے د (راعنا) وئیلو نه ځکه منع فرمائیلے شویده چه ددے یوه ښه معنی ده چه : (زمونږ رعایت اوکړه زمونږ لحاظ وکړه) اوغلطه معنی ئے داده چه (راعنا) اے کم عقله ! یا اے شپونکیه زمونږ ! نو صحابه کرامؓ چه کله درسول الله ﷺ تقریر یا وعظ آوریدلو نو چه کومه خبره باندے به پوهه نشول نو رسول الله ﷺ ته به ئے وئیل : (راعنا) یعنی لږ خبره راته په قلار قلار وکړه، زمونږ لحاظ په کښے وساته چه پرے پوهه شو۔

لیکن منافقانو او نور دین دشمنانو به هم دا لفظ وئیلو لیکن غلط مطلب به ئے ترے اخستلو. نو الله رب العالمین صحابه کرامو رضي الله عنهم ته حکم اوکړو چه دا لفظ مه استعمالوئ اګرکه تاسے غلطه معنی ترے نه نه اخلئ لیکن بیا ئے هم مه استعمالوئ ځکه دوه معنے لری یوه صحیح او بله غلطه. نو ددے وئیل ناجائز دی، بلکه ددے په ځائے بل لفظ وئیل پکار دی۔

نو عبد النبي هم دوه معنا ګانے لری یوه غلطه چه دنبی بنده، او بله صحیح معنی چه دنبی غلام. نو دا وئیل جائز نه دی ځکه اوس بیان شو چه کله یو لفظ دوه معنے لری صحیح او غلط نو وئیل ئے نه دی پکار۔

شامي په رد المحتار ص: (۲۵۳/۵) کښے لیکی:

مجرد ایهام المعنی المحال کاف فی المنع عن التلفظ بهذا الکلام وان احتمل معنی صحیحا۔

یعنے: صرف وهم دمعنی باطلے چه دیو لفظ نه معلومیږی نودا پوره دے دمنع کولو دوئیلو ددے کلام نه، اګرکه هغے کښے احتمال دصحیح معنی هم وی.

مطلب دشامی دعبارت دادے چه کله یو لفظ غلطه معنی ورکوی نو دابه دصحیح معنی ورکولو دپاره هم نه استعمالوی۔

۲ – دویم دلیل: په تحریم دنوم کیښودلو په عبد النبی باندے دحدیث نه:

عن ابی هریره رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ:

لا یقولن أحدکم عبدی وأمتی، کلکم عبید الله وکل نسائکم اماء الله ولکن لیقل: غلامی وجاریتی وفتای وفتاتی، ولا یقل العبد: ربی ولکن لیقل: سیدی۔

(رواه مسلم: ۲۳۸/۲، کما في المشکاه: ۴۰۷/۲)۔

نو ددے حدیث نه هم دا معلومه شوه چه دعبد اضافت صرف الله ته پکار دے، یو سړے باید خپل غلام ته هم دا ونه وائی چه (هذا عبدی) اګرکه ددے نه مراد غلام اخلی. بلکه دعبد په ځائے غلام، فتا (ځوان) لفظ وئیل پکار دی چه داسے دے وائی: (هذا غلامی) دا زما غلام دے (هذا فتای) دا زما ځوان دے۔

۳ – دعلماؤ اقوال: په دے خبره
چه عبد النبی، عبد الرسول نوم ایښودل جائز نه دی:

ځکه که دعبد النبی نه دنبی بنده واخلے نو دا خو شرك او كفر دے، اوكه چرے غلام او تابعدار دنبی اخلے نو بیا هم ناجائز او منع دے :

١ - ملا علی قاری حنفی لیکلی :

واما ما اشتهر من التسمیه بعبد النبی فظاهره کفر، الا ان اراد بالعبد المملوك۔

یعنے : دعبد النبی نوم ایخودل په ظاهره کښے کفر دے مگر که دعبد نه مملوك (غلام) واخستل شی بیا کفر نه دے . (شرح فقه اکبر ص : (٢٣٨) ۔

٢ - په مرقات شرح مشکاه (١٠٦/٩) کښے ملا علی قاری حنفی لیکلی :

ولا یجوز نحو عبد الحارث ولا عبد النبی ولا عبره بما شاع بین الناس۔

یعنے : عبد الحارث او عبد النبی اوددے په شان نور نومونه ایخودل جائز نه دی، او خلقو کښے چه دا نوم رائج دے نو ددے هیڅ اعتبار نشته ۔

مطلب دا رواج کیدل ددے نوم په خلقو کښے دلیل دجواز نشی جوړیدے .

٢ - علامه عبد الحی لکهنوی لیکلی دی :

عبد النبی نام نهادن اکر این اعتقاد است که این کس بنده نبی است عین شرك است، واکر عبد بمعنی غلام ومملوك است آن هم خلاف واقع است۔

(مجموعه الفتاوی لعبد الحی لکهنوی : ٨٤/٣) یا (٩٥/٣) (٣٣٧/٢) .

٣ - رد المحتار کښے دی :

ویؤخذ من قوله عبد فلان منع التسمیه بعبد النبی (٢٦٨/٥) ۔

یعنے : ددے نه معلومیږی چه عبد النبی نوم ایخودل منع دی۔

٤ - فتاوی رشیدیه کښے رشید احمد حنفی لیکلی دی : چه عبد النبی نوم نه که معنی بنده دنبی واخستلے شی دا خو شرك دے اوکه چرے دامعنی ترینه وانخلی نو بیا هم گناه ده، دداسے نوم بدلول پکار دی ۔

(اوگوره : فتاوی رشیدیه ص : ٧٢) ۔

٥ -راه سنت کښے سرفراز خان صفدر حنفی دیوبندی لیکلی دی چه داسے نوم لکه عبد النبی، عبد الرسول کیخودل جائز نه دی . (راه سنت ص : ٢٩٢) ۔

٦ - کفایه المفتی کښے مفتی کفایت الله حنفی دهلوی لیکلی دی چه :

دعبد الرسول، عبد النبی پشان نومونه شریعت کښې جائز نه دی ، که د(عبد) نه بنده اومخلوق واخستے شی دا خو صریح شرك دے، اوکه ددے (عبد) نه معنی مجازی واخستے شی نو بیا اگرکه شرك نه دے لیکن بیا هم موهِم شرك دے .او چه دیو شئ نه دشرك تو هم پیدا کیږی هغه هم نا جائز وی، دداسے نومونو نه ځان ساتل پکار دی.

(اوگوره : کفایه المفتی : ٢٤٨/٩).

٧ – فتاوی خلیلیه کښې مولانا محمد خلیل احمد حنفی لیکلی دی چه : عبد النبی نوم ایخودل جائز نه دی. اوگوره : جلد اول فتاوی مظاهر علوم المعروف فتاوی خلیلیه).

٨ – شرح منهاج کښې ابن حجر مکی لیکی :

ویحرم عبد النبی وعبدالکعبه .

یعنې : عبد النبی او عبد الکعبه نومونه کیخودل ناجائز دی.

٩ – فتاوی الدین الخالص مسئله رقم (٤) د کتاب الایمان والعقیده (١٦٤٢/٤) کښې لیکلی دی چه عبد النبی، عبد الرسول نوم ایخودل حرام دی او ناجائز دي .

١٠ – استاذ المشائخ الشیخ العلامه ابو زکریا عبد السلام حفظه الله په خپل تفسیر احسن الکلام (٤٣٨/١) کښ، دارنگه په التبیان في تفسیر أم القرآن ص : (٧١) کښې په دے ډیر زیات دلا ئل جمع کړی دی چه متشابه الفاظ لکه عبد النبی، عبد الرسول وئیل په اسلام کښې منع دی او دقرآن او سنت نه ددے تحریم واضح دے.

١١ – مولانا خرم علی رحمه الله المتوفی (١٢٢٨) هـ په خپل کتاب (نصیحه المسلمین ص : ٢٤) کښ فرمائیلی چه عبد النبی او نور مُوهِم نومونه کیخودل جائز نه دی .

١٢ – په معجم المناهی اللفظیه کښ بکر بن عبد الله ابو زید فرمائی :

عبد الرسول نوم کیخودل حرام دی (ص : ٣٧٤).

١٣ – الشیخ نظام الدین شائق په خپل کتاب (داسلام دسپیڅلی دین څو مهم احکام) کښ د (صفحه : ٣٢) نه تر (٣٧) پورے دیوے مرکے په عنوان سره په دے موضوع بنه بحث کړے او په هغے کښې ئے دا ثابته کړے چه عبد النبی نوم ایخودل حرام او شرك دے.

۲ – مسئلښ : رسول الله ﷺ (۱۲۰) ېو سلو شل خراب نومونه دخلقو بدل کړېدی. لهذا حرام نومونه او قبیح اسماء بدلول اوددے په ځائے ښائسته نومونه کېخودل سنت طریقه ده۔

آیا الله تعالی څوك په خوب کښے لیدلے شی ؟

سوال : الله رب العزت په خوب کښے لیدل کېدلے شی اوکه نه ؟ د قرآن او حدیث په رنړا کښے جواب راکړئ !

جواب : الحمد لله رب العالمین، والصلاه والسلام علی رسوله الکریم۔

اما بعد : په دے خبره دمسلمانانو اتفاق دے چه آخرت کښے الله رب العزت لیدل کیږی. دقرآن او سنت نه په دے ډیر دلائل دی. لیکن په دنیا کښے د الله لیدل په ویښه باندے غیر ممکن دی. درسول الله ﷺ په باره کښے چه دوئ الله لیدلے دے اوکه نه هم دصحابه کرامو اختلاف دے۔

او په خوب کښے دالله رب العزت لیدل انبیاء کرامو او نورو مسلمانانو لره ممکن دی دلا ئل په دے خبره دادی :

۱ – امام دارمی باب تړلے دے :

باب فی رؤیۃ الرب سبحانه وتعالی۔

بیا ئے حدیث ذکر کړېدے چه رسول الله ﷺ فرمائی :

رأیت ربی فی احسن صوری، فقال : فیم یختصم الملا الاعلی. قلت : انت اعلم . . الحدیث

یعنے : ما خپل رب په خوب کښے په ډیر ښائسته صورت کښے اولیدلو، نو ماته ئے اوفرمائیل : بره ملائك په څه کښے بحث ومباحثه کوی ؟ ما ورته عرض اوکړو ته ښه پوهه ئے . تر آخر دحدیث پورے۔

(دارمی : ۵۱/۲)۔

دا حدیث مسند احمد (۲۹۰/۱، ۲۸۵) ابن ابی عاصم رقم (٤٦٧) مشکاۃ (۷۰/۱، ۷۱) مختصر العلو للذهبی (۷۹، ۱۱۸) کښے هم راغلے دے۔

۲- دویم حدیث : عن ام طفیل امرأۃ ابی بن کعب قالت : سمعت رسول اللہ ﷺ یقول : رأیت ربی فی المنام فی صورۃ شاب موفر فی خضر علیہ نعلان من ذھب علی وجھہ فراش من ذھب.

أم طفیل وائی : ما د رسول اللہ ﷺ نه واوریدل چه فرمائیل ئے : ما اللہ رب العزت په خوب کښے د یو ښائسته ځوان په شکل په شنو جامو کښے ولیدۀ چه د سرو زرو نعلین ئے په خپو وو او په مخ باندے ئے د سرو زرو پتنګان وو۔

او دا حدیث صحیح دے .علامه البانیؒ ورته صحیح وئیلی دے۔

اوګوره تخریج السنۃ لابن ابی عاصم رقم (۴۱۷) ۔

دارنګه ابوزرعه هم دے حدیث ته صحیح وئیلے دے۔

۳- دریم حدیث : ابن سیرینؒ نه نقل دی : من رأی ربه دخل الجنۃ . (دارمی :۵۱/۳)۔

یعنے چا چه خپل رب العزت په خوب کښے اولیدو نو ددے تعبیر دادے چه دا به جنت ته ځی .او نبراس کښے دی چه للہ تعالی به ئے ضرور د غم نه خلاص کړی.

امام احمد رحمه الله نه نقل دی چه ما رب العالمین په خوب کښے اولیدلو نو ما ورنه تپوس وکړو چه ډیر غوره عبادت کوم یو دے ؟ نو الله ما ته اوفرمائیل : تلاوۃ القرآن. یعنے د قرآن تلاوت۔

اوګوره حاشیه د شرح العقائد ص (۶۰)۔ دغه شان امام ابو حنیفه رحمه الله نه نقل دی چه ده سل ځله الله په خوب کښے لیدلے وو. (حاشیه شرح العقائد) (ص۶۰).

دارنګه درے احادیث په کنز العمال (۲۲۸/۱) کښے وګوره.

مرقات (۲۰۹/۲) او مرعات (۴۳۴/۲) کښے دی : انه لا اشکال فی الحدیث اذ الرائی قد یری غیر المتشکل متشکلا والمتشکل بغیر شکله الخ۔

مطلب دا چه دے حدیث کښے هیڅ اشکال نشته په خوب کښے یو سړے یو شے چه شکل صورت نه لری په شکل صورت کښے وینی اوکله یو شے شکل لری خو خوب لیدونکے ئے په بل شانته شکل کښے وینی۔

او شرح العقائد (۶۰) کښے دی : د الله رب العزت لیدل په خوب کښے دډیرو سلفوؒ نه نقل دی۔

دارنګه حمزی القاری نه روایت دے چه ده الله رب العالمین ته قرآن په خوب کښے وئیلے وو۔۔۔ دغه شان ابن حجرؒ په خپل کتاب (الرؤیا والاحلام ص : ۸۷) کښے فرمائی :
جوز أهل التعبیر رؤیۃ الله فی المنام مطلقاً۔
یعنے : اهل تعبیر د الله تعالی لیدل په خوب کښے هرڅنګه جائز ګڼړی۔
او د بعض علماؤ په نیز الله په خوب کښے نۀ لیدل کیږی او دغه پورتنی حدیثونه د دوئ په نیز ضعیف دی۔

تحقیق د حدیث : لو کان موسی و عیسی حیین :

سوال : لو کان موسی وعیسی حیین لما وسعهما الا اتباعی.
دا حدیث کوم ځائے دے، او صحیح دے که ضعیف ؟
جواب : لا حول ولا قوۃ الا بالله۔
دا حدیث بے اصله او بے بنیاده دے، دحدیثونو په کتابونو کښے نشته او نه ددے څه سند شته۔
دارنګه دا حدیث دنورو متواترو احادیثو خلاف دے چه عیسی علیه السلام الله رب العزت آسمان ته ژوندے پورته کړے دے او هلته هغه ژوندے دے او قیامت ته نزدے به راکوزیږی۔ په دے کښے د پنځوسو (۵۰) نه زیات احادیث راغلی دی.
اودا حدیث ابن کثیر په خپل تفسیر (۳۷۸/۱) کښے ددے آیت لاندے راوړیدے :
﴿ واذا اخذ الله میثاق النبیین ﴾۔
دغه شان (۱۰۰/۳) کښے ئے هم ذکر کړیدے په قصه د موسی او خضر علیهما السلام کښے۔ اودا حدیث ملا علی قاریؒ هم ذکر کړیدے په شرح د فقه الاکبر ص (۱۱۲) کښے۔ لیکن د حدیثونو په یو کتاب ئے هم حواله نۀ ده ورکړے۔ ددے نه معلومیږی چه دا چا په دے کتابونو کښے د ځانه داخل کړیدے۔
اوګوره فتاوی الدین الخالص : (۲٤/۳)۔

د صلیب علامات اوپیژنئ

سوال : د صلیب علامات کوم دی، دے باره کښے مونږ اوریدلی دی چه د صلیب ډیر زیات

علامات دی، که تاسو د صلیب د علاماتو شکل هم راته اولیکئ دا به ستاسو ډیره مهربانی وی۔
جزاکم الله خیرا !

جواب : ولا حول ولا قوی الا بالله۔
زما محترمو مسلمانانو ورونو ! حقیقت دادے چه نن صبا باوجود ددے چه ساینس او نورو دنیوی علومو ډیره ترقی کړیده۔ ولے بیا هم د دین اسلام نه ډیر خلق جاهله او ناخبره دی۔ تردے پورے چه په خپلو خبرو اترو ، کپناستو پاڅیدو، شکل اولباس کښے په شعوری اوغیر شعوری طور سره خپل اسلامی شعار پریښے دے . اود نورو قومونو شعارئے په شکل، لباس، کپناستو، پاڅیدو، وضع رفع او خبرو اترو کښے اختیار کړے دے . ددے حرامو نشانو نه دمسلمانانو دروازه، دیوال، چهت، فرش، جانماز، بالښت، بړستن، څادر او نور داستعمال څیزونه هم محفوظ پاتے نشول . او مسلمانان بیغمه ناست دی په دے باندے هیڅ افسوس اوخفگان هم نه کوی چه زه څکوم ؟ حالانکه دیهودو، نصاراؤ او نورو کافرانو نښو نښانو ته اسلام دبُت په نظر گوری۔
تاسو ته پته ده چه دنصاراوو غټ کفر دادے چه دوئ عیسی علیه السلام دالله ځوئے گنړی، دارنگه یهود عزیر علیه السلام دالله ځوئے گنړی حالانکه قرآن او سنت کښے داخبره په ډیره سختئ سره رد شوے ده . الله رب العالمین فرمائی :
انی یکون له ولد ولم تکن له صاحبه وخلق کل شئ . (انعام آیت : ۱۰۱)۔
ترجمه : څرنگ کیدے شی هغه لره اولاد حال داچه نشته هغه لره ښځه، او پیدا کړے ئے دے هر څیز۔
دارنگه ام المؤمنین عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی :
ان النبي ﷺ لم یکن ترك في بیته شیئا فیه تصالیب الا نقضه (بخاری : ۸۸/۲)۔
یعنے : نبی کریم ﷺ په خپل کور کښے هیڅ داسے شے نه پریښوده چه هغه کښے به تصویر وو مگر هغه به ئے ماتولو۔
رسول الله ﷺ ته کله چه عدی بن حاتم رضی الله عنه راغے نو هغه فرمائی : چه زما په غاړه

کښې دسرو زرو نه جوړ شوې صلیب وو، نو ماته رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

یا عدی اطرح عنك هذا الوثن – (رواه الترمذی : ۱۳۶/۲)۔

ترجمه : اې عدی دڅان نه دا بت وارتوه۔

نصاری خپل مذهبی نښه نښانې په مسلمانانو کښې رائج کول غواړی ددې وجې نه په مختلفو شکلونو او مختلفو څیزونو باندې دصلیب علامات خوروی. په قالینو، جانمازونو، چائنك، پیالو، کارپټ وغیره څیزونو باندې دصلیب شکلونه موجود دی۔

لیکن مسلمانان هغه بغیر دسوچ او فکر نه اخلی او کافران ئې دمسلمانانو دګمراه کولو دپاره جوړوی. تردې چه پخوا به په هرات او نورو ځایونو کښې چه کوم قالینونه جوړیدل نو نصاری او نورو کافرانو به هغه قالین په ګران قیمت اوډیر ښه اخستل چه هغې کښې به دصلیب علامات اوشکلونه وو۔

اومسلمانانو به جوړول او په دې نه پو هیدل چه دا مونږ څه جوړه وو او په دې باندې مونږ کوم ځائے ته رسیږو. اودا علامات به ورته بد هم نه ښکاره کیدل بلکه دې سره داخبره ذهن کښې کینی چه عیسی علیه السلام پهانسی شویدې (والعیاذ بالله).

اودا عقیده سراسر دقرآن سنت خلاف ده. الله تعالی فرمائی :

﴿ وما قتلوه وما صلبوه ولکن شبه لهم ﴾ – (نساء : ۱۵۷)۔

ترجمه : اونه دې وژلے دوئ هغه لره او نه ئې په سولئ کړیدې لیکن یو شان کړې شو (یو تن دعیسی علیه السلام سره) دوئ ته. احسن الکلام (۴۶۹/۳)۔

مونږ تاسو ته دیو مسلمان په حیثیت سره دا لازم دی چه دخپل کور، لباس، وغیره نه دا کفری نښې نښانې اوباسو. دصلیب هغه علامات دادی :

د حیواناتو حشر به هم کېږي

سوال : آیا حیوانات به هم دقیامت په ورځ راپاڅولے شی ؟ بعضے علماء وائی چه دحیواناتو حشر به دقیامت په ورځ نه کېږي اوکومو احادیثو کښې چه دهغے ذکر راغلے دے هغه مجاز او کنایه ده د ظالم او مظلوم نه. مونږ ته دقرآن او سنت مطابق جواب راکړئ۔

جواب : کومو احادیثو کښې چه دحیواناتو دراپاڅېدلو ذکر دے چه دقیامت په ورځ به راپاڅېږي هغه حق اوحقیقت دے۔

دحیواناتو په حشر باندے دقیامت په ورځ قرآن او حدیث دواړه دلیل دی دارنګه سلفو هم فرمائیلی دی. قرآن کریم کښې الله رب العزت فرمائی :

وما من دابه في الارض ولا طائر يطير بجناحيه الا امم امثالكم ما فرطنا في الكتاب من شئ ثم الى ربهم يحشرون. (انعام : ٤٨)۔

ترجمه : اونشته هیڅ زنده سره په زمکه اونه مرغۍ چه الوځی په وزرو خپلو مګر ډلے دی ستاسو په شان، نه دی پرېخی مونږ په دے کتاب کښې دهیڅ ضروری مسئلے (ددین) نه بیا به رب خپل ته جمع کړے شئ۔

امام قرطبی فرمائی چه : ظاهره داده چه ضمیر تولو ته راجمع دے۔

او الله رب العزت فرمائی : **واذا الوحوش حشرت**۔

یعنے : کله چه وحشی حیوانات راجمع کړے شی۔

او احادیث خو په دے موضوع کښې ډیر زیات دی :

١ – امام مسلم په خپل صحیح (١٩٩٧/٤) درسول الله ﷺ حدیث راوړیدے فرمائی :

لتؤدن الحقوق الى اهلها يوم القيامه حتى يقاد للشاه الجماء من الشاه القرناء۔

یعنے : خامخا به تاسو حقونه ورکوئ خپلو مستحقینو ته دقیامت په ورځ، تردے چه هغه ګډه بیزه

چه ښکر نه لري دهغه ګډے بيزے نه به بدله واخلی چه ښکرو والا وی۔

اودا حديث مسند احمد کښے هم ذکر دے (۲/۲۳۵، ۳۲۳)۔

۲ – امام قرطبی ؒ يو حديث ذکر کړے چه مستدرك حاکم (۳۱٦/۲) طبرانی (۳٤۷/۱۱) او ابن کثيرؒ اودر منثور کښے ئے هم راوړيدے چه ابو هريرةؓ فرمائی :

يحشر الخلق کلهم يوم القيامه البهائم والدواب والطير وکل شئ فيبلغ من عدل الله تعالی يومئذ ان ياخذ للجماد من القرناء ثم يقول : کونی ترابا فذلك قول الله تعالی : ويقول الکافر ياليتنی کنت ترابا۔

يعنے : الله رب العزت به تول خلق راپاڅوی دقيامت په ورځ، حيوانات، درنده ګان، مرغان او هرشے، تردے چه دالله رب العزت عدل به دے ته ورسيږی چه دهغے ګډے بيزے دپاره به چه ښکر نه لری دهغے ګډے بيزے نه بدله واخستلے شی چه ښکرو والا وی، بيا به الله رب العزت امر وکړی چه خاورے شئ. په دغه وخت به کافر دا آرمان اوکړی چه کاش زه هم خاورے وے۔

اود عثمان رضی الله عنه نه هم دا نقل دی. اوګوره مسند احمد (۷۲/۱) ابن کثير (۱۳۱/۲) دارنګه دابو ذر رضی الله عنه نه هم روايت ديچه هغه فرمائی : رسول الله ﷺ په خوا کښے دوه ګډانو ښکرے سره ورکړے نورسول الله ﷺ اوفرمائيل : ته پوهيږے چه دے دواړو ګډانو په څه وجه ښکرے سره يو بل ته اړم کړے، ابوذرؓ وائی ما عرض اوکړم : نه، رسول الله ﷺ اوفرمائيل : الله رب العزت خو وريا ندے پو هيږی او زر دے چه دقيامت په ورځ به ددوئ مينځ کښے فيصله اوشی۔

اوګوره مسند احمد (۱٦۲/۵، ۱۷۳) زاد المسير (۳٦/۳) طبری (۳٤۸/۱۱)۔

دارنګه شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په مجموعه الفتاوی (۲٤۸/٤) کښے فرمائی :

واما البهائم فجميعها يحشرها الله يوم القيامه کما دل عليه الکتاب والسنه۔

ترجمه : هرچه چارپايان دی نو دا تول به دقيامت په ورځ الله تعالی راپاڅوی لکه په دے خبره قرآن اوسنت دليل دے۔

اوڅوك چه دا وائی چه دحيواناتو حشر به نه کيږی نودا ډير خطاء قول دے بلکه دا ګمراه دے يا کافر. والله اعلم. تفصيل دپاره الدين الخالص (۲۸٤/۱) اوګوره۔

❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁

خضر علیه السلام څوك وو ؟

سوال : خضرعلیه السلام پیغمبر وو که ولی ؟

جواب : دخضرعلیه السلام باره کښې صحیح قول دادے چه داد الله رب العزت یو پیغمبر وو. دلا ئل په دے باندے دادی :

۱ – قال الله تعالیٰ : فوجدا عبدا مّن عبادنا آتینه رحمه من عندنا وعلمناه من لدنا علماً. (الکهف : ٦٥)۔

یعنے : دے دواړو (موسیٰ علیه السلام او ملګری ئے) یو زمونږ دبنده ګانو نه یو بنده بیاموندلو چه مونږ هغه دخپل طرفنه رحمت ورکړے وو اود خپل طرفنه مو ورته علم ورکړے وو۔

په دے آیت کریمه کښے الله رب العزت اوفرمائیل چه ماخضر علیه السلام ته دخپل طرفنه رحمت ورکړے وو، اود رحمت مفهوم اګرچه عام دے لیکن دکلام دسیاق نه دا خبره معلومیږی چه دلته درحمت نه نبوت او وحی مراد دی۔

او قرآن کریم کښے ډیرو ځایونو کښے درحمت اطلاق په وحی اونبوت باندے شویدے. مثلا نوح علیه السلام فرمائی :

﴿ یا قوم أرأیتم ان کنت علی بینه من ربی وآتانی رحمه من عنده ﴾ . (هود)۔

صالح علیه السلام فرمائی : ﴿ یا قوم ارأیتم ان کنت علی بینه من ربی وآتانی رحمه من عنده ﴾ (هود : ٦٣)۔

او رسول الله ﷺ ته الله رب العزت فرمائی :

وما کنت ترجو ان یلقی الیك الکتاب الا رحمه من ربك فلا تکونن ظهیرا لّلکافرین۔

(القصص) ددے آیت دسیاق سباق نه صفا طور سره دا معلومیږی چه دلته درحمت نه نبوت مراد دے. نو دخضر علیه السلام باره کښے (رحمه من عندنا) دنوح علیه السلام باره کښے (رحمه من عنده) دصالح علیه السلام باره کښے (منه رحمه) اود محمد ﷺ باره کښے (رحمه من ربك) الفاظ راغلی.

ددے الفاظو یوشان والی ته په کتلو سره مشهور مفسر علامه آلوسی لیکلی دی چه :

والمعهود علی انها الوحی والنبوه فالجمهور علی انه نبی والمنصور ما علیه الجمهور (روح

المعانی : سورت الکهف : ٦٥)۔
يعنې : جمهور علماء ددې قائل دي چه خضرعليه السلام ته چه کوم رحمت ورکړې شوې وو هغه وحي او نبوت وو اود جمهورو داقول مضبوط او قابل قبول دې۔
دارنګه د (من لدنا علما) نه هم په ظاهره همدغه معلوميږي چه خضر عليه السلام ته چه الله رب العزت کوم علم ورکړې وو هغه وحي وه ځکه چه الهام او نور ځيزونو نه حاصل شوې علم ظني وي. اود ظني علم په بناء باندې دېو سړي قتل نشي کيدې۔
٢ – دويم دليل په نبوت دخضرعليه السلام دادې چه هغه کوم کارونه کړي دي هغه دتاويل اود وحي بيانولو نه روسته فرمائي : ﴿وما فعلته عن امري﴾ ۔
يعنې : دا کارونه ما په خپل اختيار او خوښه سره نه دي کړي. يعنې ماته ددې حکم شوې وو او زه مامور من الله ووم. او الهام ياتخمين يا ظن ته سړې په قطعي الفاظو دانشي وئيلې چه دا دالله حکم وو، بلکه دهغه اطلاق په وحي او نبوت باندې کيږي۔
٣ – دريم دليل : دادې چه کله موسي عليه السلام دعلم دسفر دپاره کوم تکليف برداشت کړې او دهغه دملاقات اميد ئې کړيدې اود هغه نه ئې دا اجازه طلب کړې چه زه ستاسره دېو شاګرد په حيثيت سفر کوم : ﴿ هل اتبعك على ان تعلمني مماعلمت رشدا ﴾ ۔
نوددې نه هم معلومه ده چه دا پيغمبر وو، ولې چه که خضر عليه السلام نبي نه وې نو موسي عليه السلام به ترينه علم نه زده کولې، ځکه چه نبي معصوم دغير معصوم نه علم نه زده کوي۔
بل داچه غير معصوم انسان دنبي سره دغه شان خبرې اترې نشي کولې کومې خبرې چه خضر عليه السلام موسي عليه السلام ته کړي دي لکه دا خبره امام قرطبي په خپل تفسير کښې بيان کړي (١٦/١١) او دائې هم فرمائيلي دي چه :
والآيه تشهد بنبوته لان بواطن افعاله لا تکون الابوحي۔
يعنې : آيت شاهد دې په نبوت دخضرعليه السلام باندې، ولې چه پټ کارونه دده صرف دوحي په ذريعه سره کيدې شي۔
ددې دلائلو دوجې نه حافظ ابن حجرؒ او حافظ ابن کثيرؒ هم دجمهورو قول ته ترجيح ورکړې چه خضر عليه السلام نبي وو۔
اوګوره : الاصابه في تمييز الصحابه (١/٤٢٩، ٤٣٠) البدايه والنهايه (١/٣٣٨) طبع بيروت

دتفصیل دپاره دشیخ گوهر رحمنؒ کتاب : تفهیم المسائل (۲۴۳/۳) کتل پکار دی۔
دغه شان عمدة القاری کښې دے قول ته ترجیح ورکړے شویده (۶۰/۲)۔
فتاوی حقانیه (۱۴۹/۱) (۱۴۹/۲) کښې ئے هم دا قول غوره کړیدے . دارنگه تفسیر البحر المحیط (۱۴۷/۶) کښې ابو حیان هم وئیلی دی چه جمهور علماء دخضر په نبوت قائل دی۔
امام رازی په التفسیر الکبیر کښې فرمائی :
قال الاکثرون : ان ذلك العبد کان نبیاً واحتجوا علیه بوجوه۔
یعنې : اکثر علماء وائی چه دغه بنده پیغمبر وو، او په دے خبره دوئ گڼړ دلائل لری۔
(تفسیر کبیر : ۱۴۸/۲۱) في تفسیر سوره الکهف آیت : ۶۵)۔
دارنگه مجله البحوث الاسلامیه (۲۸۱/۲۳) کښې په ډیر تفصیل سره ثابته کړیده چه خضر علیه السلام نبی وو۔

فقه کښې خصوصا
فقه حنفی کښې د مکروه نه څه مراد وی ؟

سوال : فقه کښې دمکروه لفظ ډیر راځی نو کله چه دڅه په باره کښې راشی چه دا مکروه دے نو بعضے خلق مکروه تحریمی ترینه مراد کوی او څوك ترینه مکروه تنزیهی مراد کوی راجح او صحیح مذهب دے کښې کوم یو دے ؟

جواب : کله چه مکروه مطلق ذکر شی یعنې دتحریم یا تنزیه قید اوقرینه ورسره نه وی نو دمکروه نه به مکروه تحریمی اخستلے شی دفقهائے احناف او نورو سلفو صالحینوؒ په نزد باندے . لکه دا خبره فقهاء احنافو په ډیر وضاحت سره بیان کړیده :

۱ – علامه ابن نجیم چه ده ته ابو حنیفه ثانی هم وئیلے کیږی لیکلی :

واعلم ان المکروه اذا اطلق في کلامهم فالمراد منه التحریم، الا ان ینص علی کراهه التنزیه، فقد قال المصنف في المستصفی : لفظ الکراهه عند الاطلاق یراد بها التحریم، قال ابو یوسف : قلت لابی حنیفه : اذا قلت شئ اکره فما رأیتك فیه ؟ قال : التحریم۔

یعنې : فقهاء کرام چه دمکروه مطلق لفظ په خپل کلام کښې استعمال کړی نو دهغے نه مراد تحریم

(حرامول) وی. مگر کله چه دمکروه سره په کراهت تنزیهی باندے تصریح اوکړے شی. بیا به تنزیه مراد وی. اومصنف په المستصفی کښے فرمائیلی دی. چه دکراهت لفظ مطلق ذکر شی. نو مراد به ترینه تحریم وی. قاضی ابو یوسف فرمائی : ما دابو حنیفهؒ نه تپوس اوکړو چه کله ته دیو شئ باره کښے اووائے چه زه دا مکروه گنړم نوددے نه ستا مقصود څه وی ؟ امام ابو حنیفهؒ اوفرمائیل : تحریم یعنے حرام والے وی۔

اوگوره : البحر الرائق (۱۳۱/۱)۔

۲ – همدغه عبارت ابن عابدین شامی. ددر مختار په شرح کښے دمکروه په تعریف کښے دبحر الرائق نه نقل کړیدے . شامی. (۲۲٤/۱)۔

۳ – علامه جلال الدین الخوارزمی. حنفی. دهدایه په شرح الکفایه (٤٤٠/۸) کښے لیکی. : وذکر محمد في المبسوط ان ابا یوسف قال لابی. حنیفه : اذا قلت في شئ اکرهه فما رأیك فیه ؟ قال : التحریم ۔

یعنے : امام محمد په خپل تصنیف کړی. کتاب المبسوط کښے ذکر کړی دی. چه امام ابو یوسفؒ دامام ابو حنیفه نه تپوس اوکړو چه کله ته دیو شئ متعلق دمکروه لفظ اووائے نو ددے نه ستا څه مراد وی، امام ابوحنیفه اوفرمائیل : حرام والے۔

٤ – مجدد بدعات وخرافات وشرکیات احمد رضا خان بریلوی. لیکی. :

ان الکراهه في کلام الامام للتحریم۔

یعنے : دامام ابوحنیفه په کلام کښے دمکروه لفظ دتحریم دپاره استعمالیږی. فتاوی. رضویه (٤٤٥/۱)۔

بل ځائے لیکی. : اقول : مطلق الکراهه للتحریم۔

یعنے : زه وایم مطلق کراهت دتحریم دپاره وی. فتاوی. رضویه (٤٠٨/۱)۔

۵ –ابو المکارم حنفی. لیکی. : المکروه التحریم عند الامام۔

یعنے : دامام ابو حنیفهؒ په نزد دمکروه نه مراد حرام وی. ابو المکارم (۱۵۹/۳)۔

٦ – مشهور محدث او فقیه نواب صدیق حسن خانؒ لیکی. :

حافظ ابن القیمؒ دراعلام الموقعین تصریح کرده است بآنکه استعمال کراهت در محاوره سلف در تحریم بود۔

یعنې : حافظ ابن قیمؒ په اعلام الموقعین کښې تصریح کړېده چه دسلفوؒ په محاوره کښې دکراهیت اطلاق په تحریم باندې کیږی. اوګوره : الدلیل الطالب ص : (۵۰۲)۔

۷ – شیخ سرفراز خان صفدر لیکی : مطلق مکروه دامام ابو حنیفه او نورو سلفو صالحینوؒ په اصطلاح کښې په مکروه تحریمی باندې اطلاق کیږی. راه سنت ص (۲۵۹)۔

ددې علماء کرامو داقوالو نه په واضح طور سره معلومه شوه چه کله فقه کښې دیو عمل باره کښې دا ذکر شی چه دا مکروه دې نوددې نه به مراد حرام وی۔

دمثال په طور فقه کښې راځی چه په قبرونو باندې بناء آبادی لکه قبې، ګنبدونه وغیره جوړول مکروه دی. لکه عالمګیری (۱۷٦/۱) قاضی خان (۹۲/۱) کبیری ص (۵۹۹) فتاوی سراجیه ص (۲٤) وغیره. اودا خبره ئې حقه اودصحیح احادیثو موافق بیان کړېده ۔

لیکن بعضې مبتدعین (خذلهم الله) وائی چه په قبر باندې آبادی جائز ده. او د احادیثو غلط جوابونه کوی،او فقه کښې چه کوم لفظ دمکروه ذکر شویدې هغې نه مکروه تنزیهی (یعنې خلافِ اولی) اخلی. اود مذهب په نوم په دین کښې بدعات ننباسی. سره ددې نه چه مذهب کښې په داسې بدعاتو باندې سخت رد شویدې۔

اوکله چه دخواهشاتو اود خیتې خبره راشی نوبیا نه احادیث ګوری ، نه مذهب۔ اونه ثوك ده ته بې مذهبه وائی. اوداسې مبتدعینو مذهب اودین لکه دګلنازې اودس ګرځیدلې دې۔ مفتی عبد العلي دیوبندی په خپل کتاب بلوغ المرام في تعلیم الاسلام کښې ذکر کړېدی چه ګلنازه نومې یوه ښځې وه، هغې به چه کله اودس اوکړو نوبیا چه به کله هغې سره خاوند جماع اوکړه نو ددې اودس به نه ماتیده، اودې ښځې به وئیلې چه زما اودس شته دې۔

دوئ هم چه کله یو ځل دا اووئیل چه زه مسلمان یم داامام ابو حنیفه مقلد یم، نو بیا که شرك کوی نو هم دده اسلام نه خرابیږی۔ که یوسړې هرقسم بدعات کوی ، هرقسم ګناهونه کوی، نو یو ملا هم نه دې راپاڅیدلې چه مثلاً دا سړې چرسی دې، زانی دې، ګیره خرئی اوسود خوری اوجواری کوی، چکلې چلوی نودا زمونږ دمذهب نه اووتلو. یا یو سړې شرك کوی لکه بریلیان وغیره نودوئ ته یو ملاهم دا نه وائی چه دا غیر مقلدین شو. دا زمونږ دمذهب خلاف کوی. دا دمذهب نه اووتل بې مذهب شول. لیکن که یو انسان دصحیح حدیث په وجه یوه خبره غوره کړی نو بیا شور او غوغا شروع شی دا بې مذهبه شو دابې ادبه شو. نوددې مقلدینو دا عقیده هم دګلنازې اودس دې چه په جماع

سره هم نه ماتیږی۔ والله المستعان۔

د چا دعاء ښه قبلیږي ؟

سوال : دکوم کس دعاء ښه قبلیږی ؟ په دلیل سره جواب راکړئ.
وجزاکم الله خیرا۔

جواب : دعا یو بهترین عبادت دے، قرآن اوسنت کښے ډیر داسے اسباب ښودلی شویدی چه دهغے په اختیارولو سره دانسان دعاء ښه قبلیږی، لکه بعضے وختونه دی چه هغے کښے دعاء ښه قبلیږی. بعضے داسے ځایونه دی چه هلته دعاء ښه قبلیږی. بعضے داسے اذکار دی چه دهغے په واسطه دعاء ښه قبلیږی. او بعضے داسے کسان هم ذکر شوی دی چه دهغوئ دعاء ښه قبلیږی۔

دلته بعضے هغه کسان ذکر کووم چه دکومو دعاء ښه قبلیږی۔

۱ – څوك چه ډیر ذکر کوی نودده دعاء ښه قبلیږی۔

۲ – دمظلوم کس دعاء ښه قبلیږی (اګرکه کافر ولے نه وی کما في الصحیحه)۔

۳ – دعادل او انصاف دار بادشاه دعاء ښه قبلیږی. ځکه حدیث کښے دی :

عن ابي هریره رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : ثلاثه لا یرد الله دعائهم : الذاکر الله کثیرا، والمظلوم، والامام المقسط۔

اخرجه البیهقی في شعب الایمان. انظر صحیح الجامع (۵۸۷/۱) رقم (۳۰۶۳) والصحیحه للشیخ الالبانی (۲۱۱/۳) رقم (۱۲۱۱) وکنز العمال (۱۰۰/۲) رقم (۳۳۲۶)۔

ترجمه : ابو هریره رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : درے کسان دی چه الله تعالی ددوئ دعاء نه رد کوی : یو هغه کس چه دالله تعالی ذکر ډیر کوی. دویم مظلوم انسان. دریم انصاف دار بادشاه۔

دمظلوم دعاء الله تعالی قبلوی اګرکه کافر ولے نه وی.

لکه مسند احمد (۱۵۳/۳) کښے دی :

اتقوا دعوه المظلوم وان کان کافرا، فانه لیس دونها حجاب۔

ترجمه : دمظلوم دښیرو نه ځان اوساتئ اکرکه کافر وی، ولے چه ددے ښیرو مخے ته څه پرده او حائل نه واقع کیږی (بلکه نیغ الله ته رسیږی)۔

اوګوره الصحیحه (٤٠٧/٢) رقم (٧٦٧) والجامع الصغیر (٨٤/١) قم (١١٩)۔

٤ – دپلار دعاء خپلو بچو دپاره۔

٥ – دمسافر دعاء. ددے دوارو دعاء هم ښه قلبیږی. لکه حدیث کښے دی :

ثلاثه تستجاب دعوتهم : الوالد ، والمسافر ، والمظلوم۔

(اخرجه احمد والطبرانی واورد الشیخ في الصحیحه رقم (٥٩٦) والجامع الصغیر (٥٨٥) رقم (٣٠٤٩) کنز العمال (١٠٠/٢) رقم (٣٣٢٤)۔

ترجمه : درے کسان دی چه دهغوی دعاء قبلیږی : دپلار دعاء (دبچو دپاره) دمسافر دعاء. اود مظلوم دعاء۔

بل حدیث شریف کښے دی :

ثلاثه دعوات مستجابات لا شك فیهن : دعوه الوالد علی ولده ، ودعوه المسافر، ودعوه المظلوم ۔

یعنے : درے دعاګانے دی چه دهغے په قبلیدو کښے هیڅ شك نشته : دپلار دعاء دبچو دپاره ، دمسافر دعاء اود مظلوم دعاء۔

(اخرجه احمد، وابوداود والترمذي والبخاري في الادب المفرد. انظر صحیح الجامع الصغیر (٥٨٢/١) رقم (٣٠٣١) کنز العمال (٩٩/٢) رقم (٣٣٢٢)۔

٦ – دروژه دار دعاء ښه قبلیږی. لکه حدیث شریف کښے دی :

ثلاث دعوات مستجابات : دعوه الصائم، ودعوه المظلوم، ودعوه المسافر۔

(اخرجه البیهقی في شعب الایمان : ٣٤٥/٣) واوردها الشیخ في الصحیحه (٧٠٦/٤) رقم (١٧٩٧) والجامع الصغیر (٥٨٢/١) رقم (٣٠٣٠)۔

ترجمه : درے دعاګانے قبلیدونکے دی : دروژه دار دعاء، دمظلوم دعاء، اود مسافر دعاء ---- بل حدیث شریف کښے دی :

ثلاث دعوات لا ترد : دعوه الوالد لولده، ودعوه الصائم ، دعوه المسافر۔

(رواه البیهقی : ٣٤٥/٣) انظر الصحیحه (٤٠٦/٤) رقم (١٧٩٧) والجامع الصغیر (٥٨٢/١) رقم (٣٠٣٢) کنز العمال (٩٩/٢) رقم (٣٣٢٣)۔

ترجمه : درے دعاګانے دی چه نه رد کیږی : دپلار دعاء بچو دپاره، دروژه دار دعاء، دمسافر دعاء۔

٧ – مسلمان ورور ته دهغه په غیاب کښے (پسے شا) دعاء کول. ددے کس دعاء خپل مسلمان ورور

ته ښه قبلیږی. لکه حدیث شریف کښے دی:

دعاء الاخ لاخیه بظهر الغیب لا یرد۔

یعنے: مسلمان ورور ته پسے شا دعاء کول نه رد کیږی (بلکه قبلیږی)۔

بل حدیث کښے دی: دعوه الرجل لاخیه بظهر الغیب مستجابه۔

یعنے: مسلمان ورور ته دهغه په غیاب کښے دعاء کول قبوله ده۔

(اوګوره صحیح الجامع الصغیر: ۶۳۷/۱) رقم (۳۳۷۹) و (۳۳۸۱) والادب المفرد للبخاری (۲۳۴/۱) کنز العمال (۹۸/۲) رقم (۲۳۱۶)۔

۸ – څوك چه دصحت، خوشحالئ، راحت اوفراخئ په حالت کښے دالله تعالی نه دعاء ډیره غواړی نودده دعاء به دپریشانئ، غم او تکلیف په حالت کښے ښه قبلیږی۔

لکه حدیث شریف کښے دی:

من سره ان یستجیب الله له عند الشدائد والکرب فلیکثر الدعاء في الرخاء۔

(رواه الترمذي وابن عدی وابن عساکر وغیره. والحدیث صحیح انظر الصحیحه (۱۴۱/۲) رقم (۵۹۳)۔

یعنے: څوك چه دا خوښوی چه دسختو او تکلیفونو په وخت کښے دده دعاء الله تعالی قبوله کړی، نو ده له پکار دی چه په فراخئ او خوشحالئ کښے دے ډیرے دعاګانے غواړی۔

۹ – دمضطر (سخت مجبور) شخص دعاء ښه قبلیږی. کما قال الله تعالی:

﴿امن یجیب المضطر اذا دعاه ویکشف السوء﴾۔

ترجمه: څوك دے هغه څوك دپریشان حالی دعاء قبوله کړی هرکله چه هغه الله راوبلی، او څوك دے هغه څوك چه دده تکلیف لرے کړی۔

مضطر، سخت مجبوره شخص ته وئیلے شی چه دالله تعالی نه سیوا دهرچا نه دیو کس طمع ختمه شی او صرف الله ته متوجه شی نودداسے کس دعاء الله تعالی قبلوی۔

دزلزلے کیدو وجه

سوال: مونږ آوریدلی دی چه زلزله په دے وجه کیږی چه دزمکے لاندے یو غوئے (بقر) سرته حرکت ورکړی نو په دے سره زلزله راشی. آیا دا خبره څه اصل لری اوکه نه؟

جواب: دزلزلې کېدلو دا وجه بيانول جهالت دے. دے باره کښې علامه ابن کثير په خپل تفسير کښې په سورتِ قلم (٥١٥/٤) کښې علامه خازن په سورت طه (٢٤٩/٣) او بغوي وغيره چه کوم آثار راوړيدي، هغه تول اسرائيليات دي، هغه آثار يو هم قابل اعتماد نه دے. بلکه دزلزلې کېدو نورے وجے دي، چه بعضے شرعي دي، او بعضے حسي دي:

١ – دالله رب العالمين قدرت او علم دے چه په دے سره خپل بندګان ويروي۔

٢ – دانسانانو ګناهونه دي، خصوصاً زنا کول۔

٣ – دزمکے ګيس او بخار دے چه په زمکه کښے جمع شي، نو هغه دزمکے نه په زوره اوځي، نو دے سره زمکه کښے زلزله راشي۔

شيخ الاسلام ابن تيميةؒ په مجموعه الفتاوي کښے ليکلي دي:

والزلازل من الآيات التي يخوف الله بها عباده كما يخوفهم بالكسوف وغيره من الآيات والحوادث لها اسباب وحكم، فكونها آيه يخوف الله بها عباده هي من حكمه ذلك. واما اسبابه: فمن اسبابه انضغاط البخار في جوف الارض كما ينضغط الريح والماء في المكان الضيق، فاذا انضغط طلب مخرجاً فيشق ويزلزل ما قرب منه من الارض۔

ترجمه: اوزلزلے دهغه علاماتو نه دي چه الله تعالی په دے سره خپل بندګان ويروي لکه څنګه په دنمر اوسپوږمۍ په توريدو او نورو علاماتو سره خپل بندګان ويروي. اودے قسم حوادثو دپاره اسباب او حکمتونه وي. نو ددے دالله دقدرت علامه کېدل چه الله پرے خپل بندګان ويروي دا ددے حکمت دے. او هرچه ددے اسباب دي: نو ددے بعضے اسباب دزمکے په ډډ کښے دبخار راتنګيدل دي لکه څنګه چه هواء او اوبه په تنګ ځائے کښے رابند شي، نو کله چه په تنګ ځائے رابند شي نو بيا دوتلو لار طلب کوي، نو اوچوي او خواؤ شا زمکه اوخوزوي۔

بيا روسته شيخ الاسلام ليکي:

واما قول بعض الناس: ان الثور يحرك رأسه فيحرك الارض فهذا جهل وان نقل عن بعض الناس، وبطلانه ظاهر، فانه لو كان كذلك لكانت الارض كلها تزلزل وليس الامر كذلك. والله اعلم. (مجموعه الفتاوي: ٢٦٤/٢٤)۔

ترجمه: اود ځينو خلقو دا خبره چه غوئے خپل سر خوځوي نو دے سره زمکه اوخوځيږي نو دا خبره کول ناپوهي ده اګرچه دځينے خلقو نه نقل دي. اوددے خبرے بطلان ښکاره ده دے ځکه که چرے

داسې وې لکه چه دوئ وائی نو بیا خو پکار داده چه توله زمکه باندې زلزله راتلې، سره ددې نه چه داسې نه ده۔

دتفصیل دپاره اوګوره فتاوی الدین الخالص (٥٤٢/٦) ۔

د لولاك لما خلقت الافلاك – حدیث تحقیق

سوال : لولاك لولاك لما خلقت الافلاك – آیا دا صحیح حدیث دې که نه ؟ بعضې علماؤ لیکلی دی چه دا سندا ضعیف دې لیکن دمعنی په اعتبار سره صحیح دې . نو آیا داخبره صحیح ده اوکه نه ؟

جواب : په دې کښې هیڅ شك نشته چه محمد رسول الله ﷺ دالله په مخلوقاتو کښې دتولو نه غوره مخلوق دې اوکوم فضیلت چه الله تعالی رسول الله ﷺ ته ورکړیدې نو دومره فضیلت ئې بل چاته نه دې ورکړې . درسول الله ﷺ په فضیلت اومنقبت کښې دقرآن کریم ډیر آیتونه او ډیر زیات صحیح احادیث شته دې – الحمد لله . لیکن ددې باوجود بعضې خلق موضوعی او ضعیف احادیث وائی اودا په خلقو کښې مشهوره وی، حالانکه موضوعی حدیث بغیر دتردید او تکذیب نه بیانول لویه ګناه ده . اودا هم داحد الکاذبین دجملې نه دې کما في الحدیث۔

~~الله رب العالمین درسول الله ﷺ فضیلت داسې بیان کړیدې چه رسول الله ﷺ~~ رحمه للعالمین دې، هغه ته ئې فرمائیلی دی : انا اعطیناك الکوثر . یعنې مونږ تاته کوثر در کړیدې . دکوثر معنی ده خیر کثیر (ډیر زیات خیرونه اوښیګړې). چه نهر کوثر حوض کوثر ددې مصداق دې. لکه چه بوصیری درسول الله ﷺ صفت داسې کړیدې : فمبلغ العلم انه بشر وانه خیر خلق الله کلهم۔

بعد از خدا توئې قصه مختصر (سعدی)۔

لیکن دا حدیث چه (لولاك لولاك لماخلقت الافلاك) یا ددې په شان نور روایتونه موضوع (دځانه جوړ شوی) دی، نه سندا صحیح دی، نه معنی اونه لفظا صحیح دی . بلکه دا چا دځانه په رسول الله ﷺ پسې دروغ جوړ کړیدی . اود زیات وضاحت دپاره دهغه کتابونو نومونه ذکر کوم دا روایت ئې ذکر کړیدې او بیا دهغه علماؤ حوالې ذکر کوم چه دې حدیث ته ئې موضوع وئیلې دې۔

دا حدیث په دې کتابونو کښې دې : مستدرك دحاکم (٦١٥/٢) تاریخ ابن عساکر (٣٢٣/٢) البدایه والنهایه (٧٥/١) مجمع الزوائد (٨٥٣/٨) المعجم الصغیر للطبرانی (١٨٢/٢) بیهقی في دلا ئل

النبوه (٤٨٩/٥)، او نورو کتابونو بیا ددوئ نه نقل کړېدے۔

دے حدیث ته امام صنعانی په خپل کتاب الاحادیث الموضوعه ص (۵۲) رقم (۷۸) کښے او علامه عجلونی په کشف الخفاء (١٦٤/٢) کښے او امام شوکانی په الفوائد المجموعه في الاحادیث الموضوعه ص (۳۲٦) کښے، دارنګه علامه ناصر الدین الالبانيؒ په سلسلۀ الاحادیث الضعیفه (۲۵/۱) کښے او ملاعلی قاری په الموضوعات ص (۵۹) حرف اللام کښے دے تولو علماؤ دا حدیث موضوع (دروغ) اود ځانه جوړ شوے ګرځولے دے. لېکن ملا علی قاری ددے نه روسته لیکلی دی چه معنی ئے صحیح ده.

اود ملا علی قاری په شان شیخ ذکریا صاحب په فضائل اعمال کښے او مفتی رشید احمد په احسن الفتاوی (٤٨٤/١) کښے هم وئیلی چه دا روایت په اعتبار دمعنی سره صحیح دے. دارنګه فتاوی حقانیه (٢٠٣/٢) کښے هم دی چه دا روایت دمعنی اود مضمون په لحاظ سره صحیح دے۔

لېکن تحقیقی او صحیح خبره داده چه دا روایت نه سنداً صحیح دے اونه معنی ً۔

هرچه دا روایت سنداً صحیح نه دے، دا ځکه چه ددے په سند کښے عبد الرحمن بن زید بن اسلم دے اودا په اجماع سره ضعیف دے.

اوګوره کتاب الضعفاء والمتروکین (٩٥/٢) میزان الاعتدال للذهبی (٥٦٤/٢)۔

امام ذهبی په تلخیص المستدرك في ذلك المستدرك کښے لیکلی چه دا روایت موضوع دے ځکه چه په دے کښے عبد الرحمن دے وهو واه. (ذیل المستدرك :٦١٥/٢) ابن حجر په تهذیب التهذیب (١٧٧/٦، ١٧٩) کښے دده دتضعیف کولو نه روسته لیکلی دی چه عبد الرحمن به موضوعی حدیثونه روایت کول. هیثمی په مجمع الزوائد (٢٥٣/٨) کښے فرمائی :

رواه الطبرانی في الاوسط والصغیر وفیه من لم اعرفهم۔

ابن ابي حاتم دابو حاتم رازی، احمد بن حنبل، عبد الرحن بن مهدی، علی بن المدینی، یحیی بن معین، او ابو زرعه نه نقل کوی چه عبد الرحمن بن زید بن اسلم نا قابل قبول اومتروك راوی دے۔

اوګوره : الجرح والتعدیل لابن ابي حاتم (٢٣٢/٥) فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیه (١٥١/٢) (٢٥٤/١). میزان الاعتدال للذهبي (٥٦٤/٢) وقال : خبر باطل۔

اوځوك چه دا وائی چه حکم دے روایت ته صحیح وئیلی دی، نو ددے خبرے تحقیق دادے چه : دحاکم تغافل او تساهل یو مسلمه حقیقت دے. امام ذهبی او بدر الدین عینی دواړو لیکلی دی چه :

لاریب ان في المستدرك احادیث کثیره لیست علی شرط الصحه بل فیه احادیث موضوعه شان المستدرك باخراجها فیه۔

چه دے خبره کښې هیڅ شك نشته چه مستدرك کښې ډیر احادیث داسے دی چه دصحیح حدیث دشرط مطابق نه دی بلکه دے کښې موضوعی هم شته چه ددے وجے نه مستدرك وریاندے بدرنګ شوېدے۔

اوګوره : تذکره الحفاظ للذهبی (۲۳۲/۳) عمده القاری بحث الجهر ببسم الله الرحمن الرحیم.

دارنګه علامه ابن حجرؒ په حاکم باندے داسے تبصره کوی :

حاکم رشتینے او راست باز محدث وو لیکن دهغه په کتاب المستدرك کښې ډیر غورزیدلی حدیثونه موجود دی. بیا روسته لیکی : ددے غلطیانو وجه داده چه حاکم مستدرك په آخیری عمر کښې لیکلے دے او په دے وخت کښې دده په یاداشت کښې تغیر راغلے وو. اوددے دلیل چه دده یاداشت کښې تغیر راغلے وو دادے چه کوم راویان ده په خپل کتاب الضعفاء کښې ذکر کړیدی او چه هغه روایاتو باندے د استدلال نه منع کړے نو په مستدرك کښې ده په خپله دهغه راویانو نه نقل کړے هغوئ ته صحیح هم وئیلی دی. چه ددے یو مثال عبد الرحمن بن زید اسلم دے چه مستدرك کښې دهغه نه نقل کړیدے. حال دا چه عبد الرحمن ده په (الضعفاء) کښې ذکر کړیدے اودا ئے هم ورسره وئیلی دی چه عبد الرحمن دخپل پلار نه موضوعی روایتونه هم نقل کړیدی۔

اوګوره لسان المیزان (۲۳۳/۵) بحواله تفهیم المسائل للشیخ ګوهر رحمنؒ۔

بله دا چه که حاکم دیته صحیح هم وئیلی وی نو مونږ خو ړانده مقلدین نه یو چه حاکم ورته صحیح اووئیل نو مونږ دے هم ورته صحیح اووایو. بلکه مونږ به تحقیق کوو او دتحقیق نه پس دا معلومه شوه چه دا روایت موضوع دے لکه مخکښې ذکر شو۔

اوکوم آثار چه مفتی رشید احمد په احسن الفتاوی (۴۸۴/۱) کښې ذکر کړی هغه هم موضوع اوضعیف دی چه ددے روایت دپاره تائید نشی واقع کیدے ځکه هغه په خپله نه دے ثابت نو دبل دپاره به څنګه دثبوت ذریعه اوګرځی. چه دابن عساکر روایت علامه سیوطی او ابن الجوزي موضوع ګرځولی دی اوددیلمی روایت هم موضوع دے لکه ددیلمی روایت علامه البانیؒ هم دضعیف روایتونو نه شمارلے دے۔

دارنګه دابن عباسؓ نه چه کوم روایت راغلے اوحاکم روایت کړے هغے باره کښې امام ذهبی لیکلی

دی : واظنه موضوعاً علی سعید. المستدرك مع تلخیص الذهبی (۶۱۵/۲). شیخ البانی ؒ په الضعیفه (۲۹۸/۱) رقم (۲۸۰) کښې لیکلی :

لا اصل له مرفوعاً وفیه عمرو بن اوس الانصاری وقال الذهبی في المیزان (۲۴۶/۳) یجهل حاله وأتی بخبر منکر۔

یوبل حدیث هم ابن الجوزي نقل کړے چه دسلمان فارسی رضی الله عنه نه روایت دے چه هغه ډیر اوګد حدیث دے اودهغه په آخر کښې دی :

ولقد خلقت الدنیا واهلها لاعرّفهم کرامتك علی ومنزلتك عندی ولولاك یامحمد ما خلقت الدنیا۔

ترجمه : یقیناً ما دنیا اودنیا والا دے دپاره پیدا کړی چه دوئ ته ستا کرامت اوښایم اوکومه مرتبه چه زما په نزد ستا ده هغه ورته اوښایم، اوکه چرے ته نه وے اے محمد ! نو مابه دنیا نه وے پیدا کړے۔

لیکن دے باره کښې علامه ابن الجوزی ؒ لیکلی چه ددے حدیث په موضوع کیدو کښې هیڅ شك نشته. اوددے په سند کښې مجهول اوضعیف راویان موجود دی. ابو مسکین ، ابراهیم بن یسع او یحیی بصری درے واړه ضعیف او متروك راویان دی۔

احمد بن حنبل ؒ فرمائی : ما دیحیی بصری حدیث سیزلی دی. اوفلاس وائی : دا دروغژن کس وواو منګرت حدیثونه به ئے بیانول ۔

اوګوره : اللآلی المصنوعه في الاحادیث الموضوعه للسیوطی (۲۷۲/۱)۔

دا بحث خو د سند اود روایت په حقله وو.

باقی پاتے شو ددے حدیث معنی نو دا حدیث دمعنی او مضمون په لحاظ سره هم نه دے صحیح. دقرآن کریم نه داخبره ثابته ده چه الله رب العزت انسانان او پیریان دخپل دعبادت دپاره پیدا کړی دی۔ او انبیاء او رسولان علیهم السلام ئے ددے دپاره رالیږلی دی چه دے انسانانو ته دالله رب العزت دبندګئ طریقه ور اوښائی. لیکن بل طرفته ددے روایاتو نه په صراحت سره دا ثابته ده چه توله دنیا درسول الله ﷺ دوجے نه پیدا کړے شویده. نو ښکاره مخالفت دے دمعنی ددے روایت دقرآن کریم سره۔

علامه ناصر الدین البانی ؒ په سلسله الاحادیث الضعیفه رقم (۲۸۲) کښې فرمائی :

والجزم بصحه معناه لایلیق. (یعنے دا مناسبه نه ده چه ددے روایت دمعنی په صحت باندے یقین

اوکړے شی)۔

دارنګه فتاوی ثنائیه (۳۳۵/۱) کښے مولانا ابو الوفاء ثناء الله امرتسریؒ لیکی :

لولاك حدیث نه دے، الله پوهیږی چه دا دچا قول دے چه دمعنی په لحاظ هم صحیح نه دے. او بیا روسته فرمائی : ددے متعلق نور روایتونه هم نه دی ثابت۔

(آپ کی مسائل اور ان کا حل قرآن وسنت کي روشنی میں : ۶۲/۱) کښے ابو الحسن مبشر احمد ربانی حفظه الله هم وئیلی دی چه دا سنداً اومعنی دواړه نه دے صحیح۔

دارنګه شیخ ګوهر رحمن صاحبؒ هم په تفهیم السائل (۵٤/۳، ٦٤) کښے دا ثابته کړیده چه دا روایت دسند او معنی دواړو په لحاظ صحیح نه دے. او فرمائی چه که چرے مونږ ددے روایت په مفهوم اودرایت (معنی) باندے غور اوکړو نو ددے روایت مفهوم او مضمون دواړه دقرآن خلاف ښکاری۔

ددے تول بحث تفصیل او تحقیق په فتاوی الدین الخالص (۷۸/۲، ۸۱) کښے شته . او په هغے کښے دا ثابته کړے شویده چه دلولاك حدیث لفظاً سنداً اومعنی دریے واړو طریقو باندے باطل دے چه هیڅ اصل اوبنیاد نه لری .او مفتی رشید احمد په احسن الفتاوی (٤٨٤/۱) کښے ددے حدیث دپاره تائیدات ذکر کړی نو هغه تائیدات په خپله اصل نه لری. او مقلدین حضرات اکثره ددے غم نه کوی چه دا صحیح دے اوکه ضعیف، صرف فتوی ورکوی، رطب اویابس تول سره جمع کوی۔

په دے کښے دتعجب خبره داده چه : مرزا غلام احمد قادیانی (لعنه الله) په خپل کتاب حقیقه الوحی ص (۹۹) کښے لیکي :

الله تعالی زه په دے الفاظو سره مخاطب کړم چه :

لولاك لما خلقت الافلاك – والعیاذ بالله۔

یعنے : (اے ملعونه !) که ته نه وے مابه دا دنیا نه وے پیدا کړے۔

لهذا درسول الله ﷺ لوئے شان دے، هغه دے خبرے څه حاجت نه لری چه په دروغژن روایت سره دے دهغوئ فضیلت ثابت شی ۔

وصلی الله وسلم علی قائد الغر المحجلین امام الانبیاء والمرسلین، وقائد المتقین وحبیب رب العالمین وعلی آله وصحبه واتباعه الي یوم الدین۔

حب الوطن من الایمان – حدیث نه دے

سوال: حب الوطن من الایمان دا حدیث صحیح دے که ضعیف، اودا په کوم کتاب کښے ذکر دے ؟

جواب: دا حدیث نه صحیح دے اونه ضعیف بلکه موضوعی روایت دے لکه دا خبره عجلونی په کشف الخفاء (۳٤۵/۱) رقم (۱۱۰۲) کښے ذکر کړے.

دارنګه شیخ البانیؒ په سلسه الاحادیث الضعیفه (۱۱۰/۱) رقم (۳٦) کښے وئیلی دی چه داحدیث موضوع (د ځانه جوړ شوے او منګړت) دے .اوددے معنی هم صحیح نه ده، ځکه چه دوطن مینه هم لکه دنفس اومال او نورو څیزونو پشان ده. لکه څنګه چه دنفس او مال سره مینه کول څه کمال اوصفت نه دے نو دغه شان دوطن سره مینه کول هم دی. بل داچه په دے کښے مؤمن اوکافر تول سره برابر دی نو دا څنګه دایمان سره تعلق اولری ؟

هذا وبالله التوفیق.

النعمان سراج امتي حدیث نه دے

سوال: النعمان سراج امتی – (ابوحنیفه زما دامت ډیوه ده) دا حدیث دے اوکه نه ؟

جواب: امام ابوحنیفهؒ ددے امت د علماؤ نه یو عالم دے. او دا حدیث چه: النعمان سراج امتی دایو موضوعی (دځانه جوړ شوے) حدیث دے. چه دا رسول الله ﷺ نه دے وئیلے بلکه چا دځانه دامام ابوحنیفهؒ په باره کښے جوړ کړیدے. او نسبت ئے رسول الله ﷺ ته کړیدے. لکه دا خبره ملا علی قاری په الموضوعات الکبیر ص: (٤۷) رقم (۱٤۳) کښے کړیده چه: (النعمان سراج امتی – موضوع باتفاق المحدثین) .

یعنے دا په اتفاق دمحدثینو سره چا دځانه جوړ کړیدے.

دارنګه ابن الجوزیؒ هم په الموضوعات (٤۸/۲) کښے وئیلی دی چه دا حدیث چا دځانه جوړ کړیدے.فتاوی حقانیه (۲۲۰/۲) کښے هم وئیلی دی چه: النعمان سراج امتی دا حدیث چا دځانه جوړ کړیدے. اوبیا ئے رسول الله ﷺ ته نسبت کړیدے.

فتاوی ثنائیه کښے مولانا ثناء الله امرتسریؒ فرمائی: النعمان سراج امتی حدیث نه دے دمحدثینو په نزد دا ثابت نه دے. دسفر السعاده مصنف هم ورته بے ثبوته وئیلے دے.

اوګوره فتاوی ثنائیه (۳۳٦/۱).

اود امام ابو حنیفه په باره کښې مونږ یوه فتوی را نقل کړې دعلماؤ دجرح او تعدیل نه، دهغې کتل هم ضروري دي۔



خیر الامور اوساطها – حدیث دے که نه ؟

سوال : خیر الامور اوساطها – آیا داحدیث دے که هسې مقوله ده ؟ دارنګه دا کومو کتابونو کښې ذکر شویدے ؟

جواب : دا ضعیف حدیث دے . امام بیهقي په (۲۷۳/۳) کښې ذکر کړي چه دا حدیث پوره طور سره داسې دے :

عن کنانه ان النبي ﷺ نهی عن الشهرتین : ان یلبس الحسنه التي ینظر الیه فیها او الدنیه او الرئه التي ینظر الیه فیها . قال عمرو – احد الرواه – بلغني ان رسول الله ﷺ قال : امرا بین الامرین وخیر الامور اوساطها . قال البیهقي : وهذا منقطع۔

دا حدیث قرطبي هم ذکر کړے (۱۵٤/۲) (۳٤۳/٥) و (۲۷۱/٦) دارنګه عجلوني په کشف الخفاء (۳۹۱/۱) رقم (۱۲٤۷) کښې وئیلي چه دا حدیث ضعیف دے ۔

الاتحاف (۳۳٦/۷) (۱۳/۸) کښې وئیلي دي چه : روی مرسلا وبسند آخر فیه مجهول وفي الدیلمي بلا سند ۔

یعنې : دا حدیث مرسلاً روایت کړے شویدے او په بل سند سره هم روایت شویدے خو په هغې کښې مجهول راوي دے . او په دیلمي کښې بغیر سنده دے۔

په المقاصد الحسنه ص (۲۰۵) رقم (٤٥٥) کښې دي چه داحدیث ضعیف دے ۔

اوګوره : فتاوی الدین الخالص (۲٦۸/۱) رقم المسئله (۹۵) . هذا وبالله التوفیق۔

د ګناه بعضې هغه خبرې چه خلق ئے ګناه نه ګڼري

سوال : هغه کومې خبرې دي چه انسان دهغې په وئیلو سره ګنهګاریږي . که تاسو مونږ ته ددې تفصیل اوکړئ نودا به ډیر ښه وي . جزاکم الله خیراً !

جواب : دا ټو څو خبرے دی چه خلق ئے کوی اود شریعت خلاف دی، اود الله رب العزت دجلال خلاف دی چه په دے بعضو خبرو انسان کافر کیږی او په بعضو سخت ګنهګار یږی. نو ددے نه ځان ساتل واجب دی۔

۱ - خپل واك او خپله خاوره . ۲ - فلانے خپل واك. ۳ - فلانے آزاد. ٤ - الله جل جلاله خو زړه نه لری چه په چا ئے وسوزوی. ۵ - ښه دے چه دالله تعالی په یاد ئے (مریض ته وائی). ٦ - زمونږ په دعاګانو او قنوت نازله باندے الله تعالی غوږ هم اونه ګرولو (والعیاذ بالله. ۷ - توکل په شوتل. ۸ - توکل په ځائ. ۹ - دلته دخدائے ګندونه دی. ۱۰ - وریږه وریږه دفلانو خلق مزدوره (باران ته وائی). ۱۱ - دفلانی شی مہرمنه وطی کړم. ۱۲ - څه دخدائے ځوئے ئے چه نیمه شپه کښے ویخ ناست ئے. ۱۳ - فلانکے سړے شاهنشاه دے. ۱٤ - زه دنه پریدم که دالله تعالی بوتے هم شے. ۱۵ -جو لا کھے وه لا هو. ۱٦ - بریښنا په وخت وائی : ملائك په زړو سکوترو چل یا دوی. ۱۷ - قیامت کښے به سخت تیل وی کیدے شی چه پټ به شو. ۱۸ - ان الصلاه تنهی مونځ تنها دے. ۱۹ - دباران ډیریدو په وخت وائی : دروازے ترینه راخلاصے شویدی. ۲۰ - زه به کافر یم که دا کار اوکړم. ۲۱ - والشمس وضحاها څمځمئ په کښے وهاها. ۲۲ - غیب عطائی ورکړل شویدے. ۲۳ - اللهم ربنا اودے وهه درنه بلا. ۲٤ - حدیث کښے شته خو زمونږ مذهب کښے نشته. ۲۵ - في شغل فاکهون دپیشو غل پاك دی (والعیاذ بالله). ۲٦ - غیر منصوص مسائلو کښے تقلید کوو.

۲۷ -مونږ په نصوصو متعارضه ؤ کښے تقلید کوو. ۲۸ - په الله به شی په تابه شی. ۲۹ - منزل دتولو یو دے خو سفر جدا جدا. ۳۰ - تول علماء حلوا خواره دی. ۳۱ - الله تعالی ے غوږه اوریدل کوی او ے سترګو لیدل کوی ے لاسه نیول کوی. ۳۲ - اذا تعارضا تساقطا - یعنی الآیتین. ۳۳ - مدرسو کښے کفر لوستلے کیږی. ۳٤ - زه داسلام نه بیزاره یم زه به مسلمان نه یم، زه به یهودي یم که دا کار اوکړم. ۳۵ - وحده الوجود زمونږ عقیده ده. ۳٦ - انګریزان او روسیان دمسلمانانو نه غوره دی. ۳۷ - قرآن غته غوښه ده اومونږ دخپتے بیماران یو نو څنګه مونږ دقرآن ترجمے اوکړو. ۳۸- اسلام او قرآن ددهشت ګردئ دین دے. ۳۹ - دقرآن درس فتنه ده. ٤۰ - هر آیت یا حدیث چه زمونږ دمذهب خلاف راشی نودابه یا منسوخ وی یا به په کښے تاویل کوو. ٤۱ - الله تعالی هر ځائے کښے دے. ٤۲ - ملك الموت به سترے شوے وی یا به بوډا شوے وی. ٤۳ - پل صراط سره زمونږ څه کار دے چه پرے ورتیریږو، دیخوا به په قلاره ناست یو. ٤٤ - قرآن او حدیث ظنی دلا ئل دی. ٤۵

-احمد احد سے جدا نهین. ٤٦ – اللهم صل کتَ مے ساز کړه که سملے. ٤٧ -من ربك مېخے له واښه کتې له درب وکه. ٤٨ – قرآن او حدیث کښې لسمه حصه دین هم نشته. ٤٩ – چه الله اوغواړي او ته اوغواړے. ٥٠ – په الله به شي او په تا به شي. ٥١ – سمندر په چپو راغے خو کشتیبان (مانړکے) هوښیار وو. ٥٢ – ما دپاره صرف الله او ته ئے. ٥٣ – که بتکه (بطخه) او سپے کور کښې نه وے نو غله به راغلي وے. ٥٤ – افعال دالله معلل بالاغراض نه دي. ٥٥ – زمونږ فیصله به په فقه حنفي وي. ٥٦ – آذان ته رمباړه وئیل. ٥٧ – چه کله اقامت باندے امر کوي نو وائي: هیندول اووهه. (والعیاذ بالله). ٥٨ – آمین بالجهر ته براړے یا رمباړے وئیل. ٥٩ – خدائے خدائي به بدله شي خو زه دا کار نه کوم. ٦٠ – چالره چه الله اونیسي، محمد ئے پریدي او چالره چه محمد اونیسي نو هیڅوك ئے نشي پریخودلے. ٦١ – الله رب العزت ته د (خدائے) نوم اخستل. ٦٢ – بندګانو ته (رحمن) نوم اخستل. ٦٣ – عبد القادر جیلانی ؒ ته غوث اعظم وئیل. ٦٤ – یا محمد آواز کول اولیکل. ٦٥ – په الله باندے په دروغه قسم خوړل. یا داسے وئیل چه ما دے رسول اووهي. ٦٦ – دڅلورو مذهبونو نه خارج ضال مضل دے اګرکه دآیت یا حدیث صحیح یا قول دصحابي سره موافق وي. ٦٧ – دالله رب العزت مثال دکوهي یا دباشاه اودکوتے دسر سره ورکول. ٦٨ – په دنیا کښې قطبان، غوثان او اوتاد منل۔

قبر کښې به د څه تپوس کیږي؟

سوال: دلته زمونږ په علاقه کښې یو مُلا دے چه هغه په خپل تقریر کښې اووئیل چه انسان نه به په قبر کښې دامام تپوس هم کیږي چه ته دچا په مذهب وے. نودا خبره دده څنګه ده؟ ددے وضاحت پکار دے چه په قبر کښې به دڅه تپوس کیږي؟ دقرآن اوسنت په رنړا کښې ددے حل پکاردے!

جواب: په قبر کښې صرف ددرے خبرو تپوس کیږي (۱) من ربك (۲) مادینك (۳) من نبیك؟ اودا تپوس په مختلفو الفاظو کښې کیږي، دچا نه په دغه مذکوره الفاظو سره، اودچا نه په دے الفاظو سره چه: ما تقول في هذا الرجل؟ دارنګه نور الفاظ هم شته۔

په دے خبره دلیل دادے چه تول روایاتو کښې ددے تپوسونو نه زیات څه نه دي ذکر شوي. نو څوك چه دعوی کوي چه دبل څه شي تپوس به هم کیږي نو هغه له پکار دي چه دلیل شرعي ذکر کړي په خپله خبره باندے۔

دویم داچه : په روایت داحمداو ابوداود (۲۹۷/۲) کښې راځي. کما في شرح الصدور ص (۴۹) : فما سئل عن شئ بعدها . يعنې ددغه درې مذکوره تپوسونو نه علاوه دمړي نه بل تپوس نه کېږي. نو دا حديث صريح دليل دې په دې مسئله کښې۔

البته په يو حديث کښې څلورم تپوس هم شته چه صرف دمؤمن نه کولې شي. هغه داچه کله مؤمن صحيح جواب ورکړي نو ملائك به مؤمن ته اووائي : چه تا داجوابونه دکوم ځائې نه زده کړي دي ؟ نو مؤمن به ورته اووائي : قرأت كتاب الله. يعنې ما دالله کتاب (قرآن) لوستلې وو.كما في المشكاه (۲۵/۱)۔

دا تپوس امتحاني تپوس نه دې بلکه دا دخوشحالئ تپوس دې. اودا تپوس دې په باره دسبب دصحت ددغه درې تپوسونو کښې۔

نو څوك چه وائي چه په قبر کښې به مذهب باره کښې هم تپوس کېږي. نو هغوئ سره هيڅ دليل نشته. نه دقرآن او سنت نه، اونه دمعتمدو علماؤ تائيد ورسره شته. هسې بکواس او خواهش پسې روان دي۔

کېدې شي چه دوئ يو حديث ليدلې وي چه هغې کښې داسې الفاظ دي :

من امامك – يعنې ستا امام څوك دې ؟. نو دوئ ګمان کړې وي چه ګنې دامام نه مراد امام ابوحنيفه دې. ليکن دا ګمان غلط دې. ځکه دا حديث په دې الفاظو سره په کتابونو دحديث کښې نشته. صرف علامه سيوطي په شرح صدور ص (۴۹) کښې دمسند ديلمي نه راوړيدې. او مسند ديلمي کښې اکثر روايات صحيح نه دي۔

۲ – دويم داچه : دغه روايت کښې خپله ورسره وضاحت راغلې دې په دې الفاظو سره چه : (قالا : من امامك ؟ قال : القرآن)۔

يعنې ملائك به ورته اووائي : ستا امام څوك دې ؟ مؤمن به اووائي : زما امام قرآن دې. نو اوګوره دامام نه مراد قرآن دې. نه بل کوم شخص۔

۳ – دريم داچه : که په قبر کښې دمذهب تپوس کېدلې، نو دکوم مذهب آيا داسلام ؟ يا دمذهب حنفي يا مالکي، شافعي، حنفي وغيره. که داسلام کېږي دا صحيح ده او حديث کښې راغلې ده. اوکه دبل مذهب کېږي، نو حق به کوم وي که مذهب حنفي حق وي نو بيا خو مالکيان شوافع، حنبليان او ټول محدثين او صحابه او تابعين او اکثر امت خو هلاك دي ځکه هغوئ خو احناف نه

دی، محترمو دځانه دروغ مه جوړه وئ او په الله او رسول الله ﷺ باندے دروغ جوړول عظیم جرم دے. ستاسو پشان ېو سړے به اووائی چه په قبر کښے دپیر باره کښے به هم تپوس کیږی نو بیا به تاسو څه جواب کوئ؟

محترمو! مذهب زمونږ دمسلمانانو قرآن او حدیث دے ددے مذهب نه چه څوك واوړیده تباه دے. اوامام صاحبؒ یا دامام شافعیؒ صاحب مذهب دحق معیار نه دے. په دے مذهبونو دعلماؤ کښے ډیر صحیح مسئلے شته دغه شان ډیرے غلطے مسئلے اوبے دلیله مسئلے هم په کښے شته. نو دهغوئ خبرے به په قرآن او حدیث باندے تللے شی که ورسره موافق شوے په سر سترګو به ئے قبولولے شی اوکه نه وی نو رد کولے به شی۔

زما رونړو! په صحیح دین ځان پوهه کړئ اود اسلام حقیقی تصور اوکړئ، خرافات اوبکواسات نه ځان اوساتئ، عملونه خو زمونږ کمزوری دی نو خپله عقیده اونظریه خو خرابول نه دی پکار. د امام ابو حنیفه رحمه الله نه به هم په قبر کښے تپوس شوے وي چه (من ربك، وما دینك، ومن نبیك) نوکه صحیح جواب ئے ورکړے وي جنت، ورنه ....لیکن مونږ په هغه ښه ګمان لرو چه ان شاء الله جنت ته به تلے وی۔

وبالله التوفیق۔

حرره ابو محمد امین الله البشاوري

۱۴۱۹/۱/۲۹ هـ یوم الاربعاء مسجد حمزه ګنج پیښور۔

د عذاب قبر نه د خلاصیدو اسباب

سوال: د عذاب قبر نه دخلاصی اوبچاؤ اسباب څه دی؟

د قرآن اوسنت په رنړا کښے جواب راکړئ!

جواب: عذاب قبر حق دے، دعذاب ِقبر نه انکار کول غته ګمراهی ده۔ دقبر عذاب په قرآن او سنت سره ثابت دے. الله تعالی دے مونږ تولو مسلماناتو ته دعذاب قبر نه نجات راکړی۔ په قرآن او سنت کښے دعذاب قبر نه دبچاؤ ډیر اسباب ښودلی شوی دی چه بعضے اسباب دلته ذکر کولے شی:

۱ – سبب: دالله دعذاب نه پناه غوښتل. یعنے دعاء کول. دا وجه ده چه رسول الله ﷺ به دعذاب قبر نه پناه غوښتله په دے الفاظو سره:

اللهم انی اعوذ بك من عذاب القبر. الحدیث۔

او خپلو صحابه کرامو ته به ئے فرمائیل : تعوذوا بالله من عذاب القبر. یعنے دعذاب قبر نه په الله سره پناه غواړئ. صحیح ابن حبان (٢٨٢/٣) وغیره۔

٢ – سبب : دجمعے په شپه یا ورځ چه څوك مړ شی ده ته به عذاب قبر نه وی. لکه حدیث شریف کښے دی :

ما من مسلم یموت یوم الجمعه او لیله الجمعه الا وقاه الله تعالی فتنه القبر۔

رواه احمد والترمذي . انظر صحیح الجامع الصغیر (١٠٠٦/٢) رقم (٥٧٧٣)۔

یعنے : کوم مسلمان بنده چه دجُمعے په ورځ یا شپه کښے مړ شی نو الله تعالی به ئے دقبر دعذاب نه اوساتی۔

٣ – سبب : څوك چه جهاد کښے څوکۍ کوی او مړ شی نو دا کس به هم دعذاب قبر نه خلاص وی، لکه حدیث شریف کښے دی :

کل میت یختم علی عمله الا الذي مات مرابطاً في سبیل الله فانه ینمو له عمله الی یو القیامه ویؤمن من فتان القبر۔

(اخرج ابوداود والترمذی والحاکم وسنده صحیح. انظر صحیح الجامع الصغیر (٨٣٧/٢) وصحیح الترمذي (١٢٣/٢)۔

ترجمه : دهر مړی په عمل باندے دختمیدلو مُهر لګیږی (یعنے عمل ئے ختمیږی) مګر هغه کس چه په جهاد کښے داسلامی سرحد حفاظت کوی، چه دده دپاره دده عمل تر قیامته پورے زیاتیږی اودے دقبر دعذاب نه بچ کولے شی۔

دارنګه بل حدیث کښے دی :

من مات مرابطاً في سبیل الله امنه الله من فتنه القبر۔

(اخرجه الطبرانی کما في صحیح الجامع الصغیر (١١١٥/٢) رقم (٦٥٤٥)۔

یعنے : څوك چه دالله په لاره کښے داسے حالت کښے مړ شو چه څوکۍ کوی نو دے به الله تعالی دعذاب قبر نه اوساتی۔

٤ – سبب : څوك چه دخیټے ددرد نه مړ شی نودا کس به هم دعذاب قبر نه خلاص وی لکه حدیث شریف کښے دی :

من قتله بطنه لم یعذب في قبره۔

(اخرجه احمد والترمذي والنسائي وابن حبان کما في الجامع الصغیر (۱۱۰۲/۲) رقم (۶۴۶۱)۔

یعنے : څوك چه دخیټے ددر نه مړ شی نو قبر کښے به ورته عذاب نه شی ورکولے۔

۵ – سبب : سورت تبارك الذي وئیل. دا هم دعذاب قبر نه دبچاؤ یو ښه سبب دے. لکه حدیث شریف کښے دی چه :

سوره الملك هی المانعه من عذاب القبر۔

(اخرجه ابو الشیخ في طبقات الاصبهانیین رقم (۲۶٤) ومثله الحاکم (٤۹۸/۲) والترمذي (۱٤۶/۲) وابن نصر (۶۶) وابو نعیم في الحلیه (۸۱/۳). وسنده صحیح کما في الجامع الصغیر (۶۸۰/۱) رقم (۳۶٤۳) والصحیحه (۱۳۷/۳) رقم (۱۱٤۰) للالبانی۔

۶ – سبب : څوك چه هره ورځ سل ځله داکلمه وائی :

لا اله الا الله الملك الحق المبین. (نشته لایق دعبادت سیوا دالله نه چه حق او ښکاره بادشاه دے).

ځکه حدیث کښے دی :

عن علی رضی الله قال : قال رسول الله ﷺ : من قال في کل یوم مائه مره : لا اله الا الله الملك الحق المبین، کان له امان من الفقر وانسا عن وحشه القبر۔

(اخرجه الخطیب وابو نعیم والدیلمی في مسند الفردوس (٤/۸) وهو في الحلیه (۲۸۰/۸) وفي الکنز برقم (۳۸۹۶) اوګوره فتاوي الدین الخالص (۲۵۷/۲)۔

ترجمه : علی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی : څوك چه هره ورځ سل ځله : لا اله الا الله الملك الحق المبین اووائی نودا به دده دپاره امن وی دهر فقر (غریبئ) نه (یعنے په ده به الله فقر نه راولی) اودابه دده دپاره دقبر دپریشانئ نه دخلاصئ ذریعه شی اوده ته به خوشحالی وکړے شی۔

۷ – سبب : دعذاب دقبر نه دخلاصی بل سبب شهادت دے. الله رب العزت به شهید ته دعذاب قبر نه نجات اوخلاصے ورکوی. ځکه حدیث کښے دی :

عن المقدام بن معدیکرب قال : قال رسول الله ﷺ : للشهید عند الله ست خصال : یغفر له في اول دفعه، ویری مقعده من الجنه، ویجار من عذاب القبر. الحدیث۔

ترجمه : دالله په نزد دشهید شپږ انعامونه دی : په اول ځل ده ته ګناهونه بخلے شی. اوده دپاره چه

کوم ځائے جنت کښے تیار شویدے هغه ورته ښودلے کیږی. اود قبر دعذاب نه ورته خلاصے ملاویږی۔

دا حدیث ترمذی روایت کړیدے. صحیح الترمذي (۱۳۲/۲) (۱۷۲۸) ابن ماجه کتاب الجهاد (۹۳۵/۲) ومثله في مسند احمد (۱۳۱/٤)۔

۸ – سبب : صدقه او خیرات کولو سره انسان د عذاب قبر نه خلاصیږي، لکه حدیث کښے دي : (ان الصدقه لتطفیٔ عن اهلها حر القبور... الحدیث). (الصحیحه : ۱٤۱۲/۷) رقم الحدیث (۳٤۸٤)

۔

یعنے : صدقه د صدقه کونکي نه د قبر ګرمائش ختموي۔

یسین مغربی

سوال : دلته نن صبا بازار کښے یو کتاب د (یاسین مغربی) په نوم چهاپ شویدے. په دے کښے بعضے مسائل دځانه جوړ شوی دی لیکن بیا هم بعضے علماء وائی چه ددے چهاپ کول څه ګناه نه ده. مونږ تاسوته داکتاب درلیږو چه دا کتاب څنګه دے اوددے غلط مسائل په نښه کړئ!

جواب : یسین مغربی رساله چهاپ کول یا دهغے خرڅول یا دهغے ورد کول حرام دی. اوددے رسالے خورونکو ته سخت تعزیر ورکول پکار دی (ولی الامر دپاره). دارنګه کوم نام نهاد علماء چه ددے رسالے دجواز فتوی' لیکی. هغوئ هم دسختے سزا مستحق دے.

دلیلونه او تائیدات دادی :

۱ – اول داچه سورت یس دآسمان نه راغلے دے، دمغرب او یورپ نه نه دے راغلے. نودمغربی یس په قرآن کښے داخلول عظیم تحریف دے دانوم پرے ښکاره دلیل دے۔

۲ – دویم داچه : دسورت په مینځ کښے دمخلوق نوم درداخل کړے شویدے چه دا تحریف دے اوانقطاع دقرأت ده په نوم دمخلوقاتو، چه دهغے نه روسته اعوذبالله وئیل ضروری دی، لکه التبیان للامام النووی ص (۱۰) کښے لیکلی۔

۳ – دریم داچه : په دے کښے نداء ده غیر الله ته، یا جبرئیل ویا میکائیل. او قرآن کریم ددے نه منع کړیده صراحه چه :

ولا تدع من دون الله مالا ینفعك ولا یضرك. (سورت یونس)۔

ترجمه : دالله نه سیوا هغه څوك مه رابله چه هغه نه تاته نفع درکولے شی او نه ضرر.

دارنګه دعاء عبادت دے اوعبادت دملائکو کرامو شرك دے. الله تعالی فرمائی:

ولا يامركم ان تتخذوا الملائکه والنبيين اربابا، ايامركم بالكفر بعد اذ انتم مسلمون۔

ترجمه: اودوئ تاسو ته ددے حکم نه کوی چه تاسو ملائك او پيغمبران دالله نه سوا آلهه جوړ کړئ، آیا دوئ تاسو په کفر باندے حکم اوکړی پس ددے نه چه تاسو مسلمانان یئ

٤ – څلورم دليل دادے چه: په دے کښے دداسے مخلوقاتو نوم دے چه پته نه لږيږی چه دا دشيطانانو نومونه دی اوکه دملائکو اوکه دجناتو. اوداقسم الفاظ استعمالول حرام دی. قال تعالی: لا تقولوا راعنا. قال ابن كثير (۲۰۱/۱) نهی الله عباده المؤمنين ان يتشبهوا الكافرين في مقالهم وفعالهم۔

٥ – پنځمه وجه داده: چه په يسين مغربی کښے داسے الفاظ دی چه معنی باندے ئے څوك نه پوهيږی او موهم هم دی لکه:

ابجد انجب لهطهطيل، سيدك كجعاش، يا اجب يا رقنائيل، انت وخدامك من الروحانيه والارضيه وانت مضحب سميحا الخ۔

دا قسم نور الفاظ موهمه اوبے معنی په کښے ډير دی. او علماء ليکی چه دا قسم الفاظ استعمالول جائز نه دی لکه شامی دفقهے حنفی مشهور کتاب (٢٥٤/٥) کښے دي:

وقد اختلف العلماء في جواز اطلاق الموهم عند من لايتوهم به او كان سهل التاويل واضح المحل او تخصص بطرق الاستعمال في معنی صحيح. ثم قال: ومقتضي كلام ائمتنا المنع من ذلك الا فيما ورد عن النبی ﷺ علی ما اختاره الفقيه فتامل۔

نو اوګوره چه موهم الفاظ چه واضح المحل وی او آسان تاويل والا هم وی استعمالول جائز نه دی عند الاحناف. نو هغه الفاظ چه ښکاره دشرك دی يا معنی ئے نه ده معلومه نو هغه به په طريقه اولی سره استعمالول جائز نه وی۔

٦ – شپږم دليل دادے: چه ديسين مغربی مصنف نه دے معلوم، غالباً دا کتاب کوم شيعه ليکلے دے څکه فارسی اود علیؓ نه روايت پرے دليل دے اودروغ په کښے ډير دی. اوڅوك چه شمس المعارف کتاب باندے حواله ورکوی نو يو خو صفحه او جلد نشته. نو داحواله غلطه ده، بلکه داچه شمس المعارف نه دقرآن تفسير دے، نه دحديثو کتاب دے، نه دفقه کتاب دے. نوددے قسم کتاب نه فتوی ورکول په جواز ديو بدعی عمل او ورد باندے جائز نه دی. خپله فقهاء ليکی لکه شامی (٥٥٨/١)

کښې دي:

والفقه لا یؤخذ ولاینقل عن الهوامش المجهوله سیما ما کان فساده ظاهراً۔

نوداېو مجهول کتاب دے ددے نه فتوی ورکول جائز نه دي اوکه ښه معروف هم شي نو بیا دلیل دکتاب او سنت نه راوړل ضروري دي۔

۷ – اووم دلیل دادے: چه دیسپن مغربي په مقدمه کښې موضوعي اومنګړت روایات لیکلي دي دعوامو دهوکه کولو دپاره. حال داچه موضوعي حدیث بیانول په غیر دښکاره کولو دموضوعیت ددے نه حرام او ناجائز دي. شامي لیکي (۱/۵۵۸):

ویمنع التوثق بذلك الخط اجماعهم علی حرمه العمل بالحدیث الموضوع۔

یعنې: دعلماء کرامو اجماع ده په حرمت دعمل کولو په موضوع حدیث باندے۔

دارنګه ابن حجر شرح النخبه ص (۷۳) کښې لیکي:

واتفقوا علی تحریم روایه الموضوع الا مقروناً بیبانه. لقوله ﷺ: من حدث عني بحدیث یری انه کذب فهو احد الکاذبین. اخرجه مسلم۔

یعنې: دعلماؤ په دے اتفاق دے چه موضوعي حدیث بیانول حرام دي په غیر دښکاره کولو دموضوعي والي دهغې نه دوجے ددے قول درسول الله ﷺ نه چه: چاځمانه یو حدیث روایت کړو اوده ته پته وه چه دا دروغ دي نو دا روایت کونکے هم په دروغژنو کښې یو دروغژن دے۔

او مخکښې فرمائي چه:

واتفقوا علی ان تعمد الکذب علی النبي ﷺ من الکبائر، وبالغ ابو محمد الجویني فکفر من تعمد الکذب علی النبي صلی الله علیه وسلم۔

یعنې: دعلماؤ اتفاق دے په دے چه په رسول الله ﷺ باندے قصداً دروغ جوړول کبیره ګناهونو نه دي. تردے چه ابو محمد جویني ؒ دومره پورے وئیلي دي چه چا په رسول الله ﷺ باندے دروغ جوړ کړل هغه کافر دے۔

نو دیسپن مغربي خورونکے مرتکب دکبائرو دے. اوکه دا کار حلال ګنړي سره دعلم نه بیا کافر دے. اوکوم مفتیان چه وائي: دا مغربي یسپن علماء لولي اوجواز ورکوي دا صرف دعوی' بلادلیل ده. اودغه مفتیان دسخت تعزیر قابل دي ځکه دوئ غلط اوموضوعي روایات په امت کښې خورول غواړي بلکه دقرآن تحریف اود غیر الله نه مدد اوحاجت غوښتل جائز ګنړي اودا شرك دے۔

۸ – اتم دلیل : دادے چه اصل په اذکارو کښے دادے چه دا عبادت دے اومبنی دعباداتو په توقیف ده لکه داخبره شرح العقیده الطحاویه کښے تفصیلاً ذکر شویده، دارنګه شامی (۲۵٤/۵) کښے ورته اشاره کړیده. اوګوره الدین الخالص تفصیلاً (۳۱/۱).

نودغه محرفه اذکار لوستل جائز نه دی ځکه عبادت نه دے بلکه موهم دشرك الفاظ په کښے ډیر دی.

۹ – نهم دلیل : دادے چه په دے رساله کښے دالفاظ دی :

یا ایتها الجماعه المسخرون المطیعون لهذه السوره المبارکه بحق انبیاء الله تعالی واولیائه الخ.

اودا الفاظ استعمالول جائز نه دی لکه هدایه (٤٧٤/٤) کتاب الکراهیه کښے لیکی :

ویکره ان یقول اسالك بحق فلان لانه لا حق للمخلوق علی الخالق. دارنګه شرح الفقه الاکبر ص (٦٠) کښے هم لیکی. دغه شان شامی (۲۵۳/۵) کښے هم شته.

نودے کتاب لوستل څرنګه مستحب شو او علماؤ دجواز فتوی څنګه ورکړه ؟

دغه شان وریسے داسے الفاظ دی :

وامدونی وأعینونی في الامور کلها الکلیه والجزئیه بحق انه من سلیمان الخ.

اودا الفاظ استمداد دغیر الله نه دے چه غائب دی او په کلی جزئی امورو کښے دی او دا یقیناً شرك دے.

۱۰ – لسمه وجه داده : چه درساله مشتمله ده په ډیرو دروغو اوفساد باندے، یو ځائے ص (٦) کښے لیکی چه یو څلویښت کرته دا څوك ولولی نو سحر به دبالخت دلاندے رزق مونده کړی. بل ځائے (۱۱) کښے لیکی چه که دیو شخص سړی یا ښځے محبت ځان سره پیدا کوی نودابه دصندل په لرګی اولولی بیا به هغه اور کښے واچوی نو محبت کښے به هغه شخص لیونے شی.

بیا لیکی ص (۱۳) کښے : برائے زبان بندی، دیګر برائے خصومت وعداوت انداختن میان دو کس الخ.

بیا ص (۱۳) کښے لیکی : برائے جدائی. دارنګه نور خرافات او فساد په کښے لیکلے شویدے.

معلومه شوه چه داکوم ساحر اوجادوګر او فسادی انسان لیکلے دے چه خلقو کښے جدا والے راولی اود پردو هلکانو اوجینکو سره محبت طریقه ښائی. او ښځه اوخاوند سره جدا کوی.

نودے خبرو نه روسته هیڅ یو مسلمان دانشی وئیلے چه دا یسین مغربی لوستل جائز دی پاتے لا

عالم. نومحترمو مسلمانانو رونړو دخرافاتو نه ځان اوساتئ. اوحکومت وقت له پکار دی چه ددے قسم رسالو او کتابونو مخنیوی اوکړی که داسلام دعوی چرته لری، ورنه ډبل عذاب درب العالمین کښے به ګرفتار شی. دارنګه علماء کرامو له هم ددے خرافاتو تردید په قلم او په ژبے سره پکار دی ځکه دا ددوئ ذمه واری ده. اوکومو مکتبو والو چه دجهالت په وجه چهاپ کړیدے فورا دے توبه کړی اوکه بیا هم اصرار کوی ددغه کتاب په چهاپ کولو باندے نو سخته سزا ورکول پکار دی. چه دا اودده پشان نور خلق داسے اقدام بیا اونه کړی۔

والله المستعان. وصلی الله علی نبینا محمد وآله وصحبه وسلم اجمعین۔

حرره ابو محمد امین الله البشاوری۔

۱٤۲۰/۳/۱۵



باب البدع

عید میلاد النبي نمانځل بدعت دے

سوال: د رسول الله میلاد کول په (۱۲) دولسم دربیع الاول باندے جائز دی اوکه بدعت دے؟ د قرآن اوسنت په رنړا کښے تفصیلی جواب راکړئ!

جواب: ستا دسوال جواب نه مخکښے دا خبره ضرور یاد لرل پکار دی چه دے کښے هیڅ شک نشته چه درسول الله ﷺ سره محبت عین ایمان دے که دچا درسول الله ﷺ سره محبت نه وی نو په ده کښے ایمان نشته اودرسول الله ﷺ سره دمحبت علامه دهغه دسنتو سره محبت دے. دارنګه درسول الله ﷺ افعال او اقوال بیانول دالله رب العزت سره دمحبت سبب ګرځی. اود رسول الله ﷺ دقول او فعل نه مسلمانان خبرول ددین اهمه فریضه ده۔

لیکن دا میلاد مناوول په (۱۲) دربیع الاول په دے ورځ دجلسے جلسونو اهتمام کول، په دے ورځ دخوراك څکاك انتظام کول دا بدعات دی. دا نه درسول الله ﷺ نه ثابت دی او نه دهغه نه روسته تر شپږمې صدئ (٦) پورے چا کړی دی. بلکه دا یو بدعت دے چه ددے میلاد انعقاد اول یو مسرف اوددین نه بے پرواه باچا او دهغه یو بدعتی ملګری په سنه (٦٠٤) هـ کښے دموصل په ښار کښے ایجاد کړے وو. اوګوره ابن خلکان وغیره۔

ددے باچا باره کښے امام احمد بن مصری مالکی لیکلی دی:

کان ملکا مسرفا یامر علماء زمانه ان یعملوا باستنباطهم واجتهادهم وان لا یتبعوا لمذهب غیرهم حتی مالت الیه جماعه من العلماء وطائفه من الفضلاء، ویحتفل لمولد النبی ﷺ في الربیع الاول وهو اول من أحدث من الملوك هذا العمل۔

یعنے: دا ډیر مسرف باچا وو چه دخپل وخت علماؤ ته به ئے وئیل چه په خپل اجتهاد او استنباط باندے عمل کوئ اود بل چا په مذهب پسے مه ځئ، تردے چه یو څو (دنیا پرست) علماؤ هغه ته مائل شول او هغه په ربیع الاول میاشت کښے میلاد جوړولو اودا دتولو نه اولنے باچا دے چه دا بدعت ئے جوړ کړو. (القول المعتمد في عمل المولد)۔

دارنګه دے باچا به هر کال په دے بدعت باندے په لکهونو روپئ لګولے.

لکه علامه ذهبی لیکلی دی:

کان ینفق کل سنه علی مولد النبی ﷺ نحو ثلاث مائه الف۔

ده به هر کال په میلاد باندے تقریبا (۳) درے لکه روپئ خرچ کولے. اوګوره دول الاسلام (۱۰۳/۲) اودا کوم بدعتی عالم چه ددے باچا ملګرے وو نو باچا ده ته ددے ملګرتیا په انعام کښے یو زر (۱۰۰۰) پونډه انعام ورکړو (اوګوره دول الاسلام ص: ۱۰٤)۔

دارنګه ددغه بدعتی ملا تعریف مونږ ته حافظ ابن حجرؒ داسے کوی:

کثیر الوقیعه في الائمه وفي السلف من العلماء، خبیث اللسان احمق شدید الکبر قلیل النظر في امور الدین متهاونا. (لسان المیزان: ۲۹٦/٤)۔

یعنے: ده به دائمه کرامو اوعلماء سلف په شان کښے ډیره بے ادبی کوله دګنده ژبے خاوند وو، بے عقله اوډیر زیات متکبر وو، دینی کارونو کښے ډیر بے پرواه اوسست وو۔

بل ځائے دده تعریف داسے کوی:

قال ابن نجار : رأیت الناس مجتمعین علی کذبه وضعفه . (لسان المیزان : ۲۹۵/٤)۔

یعنې : علامه ابن نجار فرمائی : ما تول خلق دده په دروغو او ضعف باندے متفق اولیدل ---- په دے بدعت باندے هر عالم حق پرست په خپل وخت کښے ډیر سخت رد کړیدے . لکه شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ لیکلی دی :

لم یفعله السلف مع قیام المقتضی له وعدم المانع فیه لو کان خیرا مَحضا اَو راجحا لَکان السلف رضی الله عنهم أحق به منا فانهم کانوا اشد محبه لرسول الله ﷺ وتعظیما لَه منا وهم علی الخیر احرص الخ۔

یعنې : سلفو صالحینوؒ میلاد درسول الله ﷺ نه دے مناؤ کړے سره دوجود دمقتضی نه اوسره دعدم وجود دمانع نه، اوکه چرته دا غوره او راجح کار وے نو هغوی په دے کار ډیر حقدا ر وو چه دا میلاد ئے مناؤ کړے وے ځکه چه هغوی زمونږ نه درسول الله ﷺ سره ډیر مینه اومحبت والا وو او هغوی درسول الله ﷺ ډیر تعظیم او احترام کونکی وو زمونږ نه، او هغوی په خیر باندے ډیر حرص کونکی وو۔

(اقتضاء الصراط المستقیم مخالفه اصحاب الجحیم : ۶۱۵/۲)۔

علامه فاکهانیؒ فرمائی :

لا اعلم لهذا المولد اصلا فًي کتاب ولا سنه ولا ینقل عمله عن احد من علماء الامه الذین هم القدوه في الدین المتمسکون بآثار المتقدمین بل هو بدعه احدثها البطالون وشهوه اعتنی بها الاکالون۔

یعنې : دمیلاد ثبوت نه دکتاب الله نه شته او نه درسول الله ﷺ دسنت نه ثابت دے، اونه دهغه علماء امت نه ثابت دے چه هغوئ (دراتلونکی امت دپاره) قدوه وو، بلکه دا یو بدعت دے چه باطل پرستو اود خیټے دخوا هشاتو خاوندانو جوړ کړے دے۔

(اوګوره المورد في الکلام علي المولد بحواله حسن المقصد في عمل المولدمندرجه الحاوی للفتاوی : ۲۲۳/۱) .

امام ابن امیر الحاج داسے فرمائی :

ومن جمله ما احدثوه من البدع مع اعتقادهم ان ذلك من اکبر العبادات واظهار الشعائر ما یفعلون في شهر ربیع الاول من المولد وقد احتوی علی بدع محرمات۔

مطلب دا چه : دخلقو دنوی بدعاتو نه یو بدعت دادے چه ددوئ سره ددے نه دیته دغتَ عبادت درجه

ورکوی، میلاد کول دی، په ربیع الاول میاشت کښې اودے کښې ډیر بدعات او حرام کارونه راجمع دی، (المدخل: ۲۲۹/۲)۔

علامه عبد الرحمن مغربیؒ لیکلی دی:

ان عمل المولد بدعه لم یقل به ولم یفعله رسول الله ﷺ والخلفاء والائمه۔

یعنې: میلاد مناوول بدعت دے، دا نه رسول الله ﷺ کړے او نه خلفاء راشدینؓ او نه ددین امامانو .(اوګوره فتاوی عبد الرحمن المغربی)۔

دارنګه علامه احمد بن محمد مصری مالکی لیکلی دی:

قد اتفق علماء المذاهب الاربعه بذم هذا العمل۔

یعنې: دڅلور وارو مذهبونو علماء ددے میلاد دقیام په مذمت کښې متفق دی۔ اوګوره : القول المعتمد۔

دارنګه ددین نورو علماؤ هم په دے سخت رد کړے چه عید میلاد النبی بدعت دے لکه امام نصیر الدین الشافعی هم په دے رد کړے. اوګوره : ارشاد الاخیار ص : (۲۰)۔

مجدد الف ثانی حنفی په مکتوبات حصه (۲۲/۵) کښې، شیخ سرفراز خان صفدر په راه سنت ص (۱۶۰) کښې، مفتی رشید احمد په احسن الفتاوی (۳٤۷/۱) کښې په دے عید میلاد النبی سخت رد کړیدے۔

تفهیم المسائل لمولانا ګوهر رحمن (۳۱۸/٤). اقتضاء الصراط المستقیم ص (۲٤۹) لشیخ الاسلام ابن تیمیۃؒ. مجموعه الفتاوی لابن عثمین (۸۷/۱) فتاوی اسلامیه (۳۹/۱). دین الحق بجواب جاء الحق کښې ابو صهیب محمد داود ارشد حفظه الله په ډیر ښه تحقیق سره ددے رد لیکلے (۱۳۷/۲). مولانا اشرف علی تهانوی په اصلاح الرسوم ص (۹۸) کښې تفصیلاً. فتاوی رشیدیه ص (۱۳۳) مجموعه الفتاوی لعبد الحی اللکهنوی (۳۳۵/٤) مولانا محمد شفیع په خپل کتاب سنت او بدعت کښې. اوګوره ناروا بدعتونه او ناروا دودونه ص (۸۵) تفصیلاً للاستاذ الزاهدی احمد زی حفظه الله.

درسول الله ﷺ دمحبت معیار

دلته دے خبرے ته مختصراً اشاره کولے شی چه درسول الله ﷺ محبت صرف دعوے سره نه دے

اونه موسمی شے دے چه صرف په ربیع الاول کښے درسول الله ﷺ تذکره کیږی باقی تول کال ہو انسان رسول الله ﷺ اونه دهغه سنت یادوی. بلکه درسول الله ﷺ دمحبت دعوی' به هله صحیح وی هرکله چه هغه شرط موجود شی کوم شرط چه رسول الله ﷺ ایخے دے۔

دجناب انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ماته یوه خبره وکړه... نو بیا روسته رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل :

ذلك سنتی ومن احب سنتی فقد احبنی ومن احبنی کان معی فی الجنه۔

(رواه الترمذي کما فی المشکاه : ۱/ ۳۰)۔

مطلب دا چه څوك زما دسنتو سره محبت کوی دے ما سره مینه کوی او څوك چه ما سره مینه کوی هغه به ما سره جنت کښے وی۔

نو دے حدیث کښے دا بیان شوه چه که چا ددرسول الله ﷺ سره مینه وه نو دهغه دسنتو سره به هم مینه لری۔

دارنګه قاضی عیاض په خپل کتاب الشفاء کښے لیکلی دی چه مشهور ولی الله سهل بن عبد الله تستریؒ فرمائی :

علامه حب الله حب القرآن، وعلامه حب القرآن حب النبی ﷺ ، وعلامه حب النبی ﷺ حب السنه ------ یعنے : دالله سره دمحبت نښه قرآن سره محبت کول دی، او دقرآن سره دمحبت نښه نبی ﷺ سره محبت کول دی، اود نبی ﷺ سره دمحبت نښه دهغه دسنتو سره محبت کول دی۔

حقیقت کښے تول مبتدعین د رسول الله ﷺ دسنتو دشمنان او ډاکوان دی. درسول الله ﷺ سنت په ډیرو انو بانو رد کوی کله دمذهب دوجے کله دخواهش په وجه کله درواج په وجه.

الله دے مونږ واقعي د رسول الله ﷺ محبان جوړ کړی، آمین.

په قبر باندے ګنبد جوړولو او قبر پخولو حکم

سوال : په قبر باندے ګنبد جوړول، هغه پخول، او هغه ښائسته کول په دین کښے څه حکم لری ؟ دقرآن اوسنت موافق جواب راکړئ !

جواب : دمقبرو په حقله دجناب رسول الله ﷺ نه چه کوم احادیث راغلی نو په هغے کښے دمقبرو دعزت کولو حکم دے او دهغے دتوهین کولو نه منع ده. ځکه زمونږ په دین کښے الحمد لله

لکه څنګه چه د یو مسلمان په ژوند کښې عزت او احترام کول بل مسلمان دپاره لازم دی دغه شان د مرګ نه پس هم دهغه عزت او احترام کول ضروری او لازمی دی. دے وجے نه حدیث کښې راغلی چه د مړی هډوکی ماتول دومره ګناه لری لکه دژوندی انسان هډوکی ماتول۔

اوګوره (صحیح سنن ابي داود: ۲۷٤٦، صحیح سنن ابن ماجه: ۱۰۳۱۰، وغیرهما۔

دغه شان حدیث شریف کښې دقبر دومره احترام راغلے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی چه په اور خپه کیده خو په خبر باندے خپه مه ګده. مطلب دا چه یو ځائے ته راګیر کړے چه یو خوا اور دے او بل خوا ته قبر، نو په اور خپه کیده خو په قبرئے مه ګده۔

دغه شان دقبر خوا کښے متیازے کول منع دی ځکه په دے سره دقبر بے حرمتی راځی. غرض دا چه هر قسم بیعزتی کول دقبر منع دی۔

لیکن قبرونه پخول او دهغے اوچتول په شریعت کښے منع دی، اودا سبب ګرځي د پاره د شرك، دا نه دمړی عزت دے اونه مړی ته په دے سره څه فائده رسیږی. زه مختصراً دلته یو څو احادیث ذکر کوم اودهغے دوضاحت دپاره دعلماؤ اقوال ذکر کوم:

احادیث

۱ - اول حدیث: دجناب جابر رضی الله عنه نه روایت دے دا فرمائی:

نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبر وان یقعد علیه وان یبنی علیه۔

یعنے: رسول الله ﷺ دقبر پخولو، په هغے باندے دعمارت (ګنبد) جوړولو او په هغے باندے دکیناستلو نه منع فرمائیلے ده۔

(صحیح مسلم: ۳۱۲/۲) مسند احمد (۲۹۵/۳) ابوداود (۱۰٤/۲) نسائي (۲۳۱/۱) ابن ماجه (۱۱۳) ترمذی مع التحفه (۳۱۲/۲) السنن الکبری (٤/٤) مستدرك (۳۷/۱) صحیح ابن حبان رقم (۳۱٥٤)۔

دا حدیث په قبر باندے دګنبد جوړولو، دهغه پخولو په منع کښے صریح دلیل دے۔

۲ - دویم حدیث: عن ابي الهیاج الاسدي التابعی ؒ نه روایت دے:

قال لی علي: الا ابعثك علي ما بعثنی علیه رسول الله ﷺ ان لا تدع تمثالا الا طمسته، ولا قبرا مشرفا الا سویته۔

صحیح مسلم (۳۱۲/۱)، مشکاه (۱٤۸/۱)۔

ترجمه : ابو الهیاج تابعیؒ فرمائی : ما ته علی رضی الله عنه وفرمائیل : آیا زه تا دهغه کار دپاره اونه لیږم کوم کار باندے چه زه رسول الله ﷺ لیږلے ووم؟ هغه دا چه هیڅ تصویر اومجسمه پے ماتولو مه پریږده او اوچت قبر پے دبرابرولو نه (دنورو قبرو نو سره) مه پریږده.

ددے صحیح او صریح حدیث نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ علی رضی الله عنه داوچتو قبرونو غورځولو دپاره لیږلے وو.

۳ – دریم حدیث : مشهور تابعی ثمامه بن شفی رحمه الله بیان کوی چه :

کنا مع فضاله بن عبید بارض الروم بردوس فتوفی صاحب لنا فامر فضاله بقبره فسوی ثم قال : سمعت رسول الله ﷺ یامر بتسویتها.

(صحیح مسلم : ۳۱۲/۱) ابوداود (۱۰۵/۱) نسائي (۲۳۱/۱) بیهقی (٤/۳) السنن الکبری (٦٥۳/۱).

ترجمه : مونږ دفضاله بن عبید رضی الله عنه سره دبردوس په علاقه کښے وو، نو زمونږ یو ملګرے مړ شو نو فضالهؓ حکم اوکړو چه قبرئے برابر کړئ (دعامو قبرونو سره) او بیا ئے وفرمائیل : ما درسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه هغه به امر کولو په برابرولو دقبرونو باندے.

یوبل روایت کښے امام المغازي محمد بن اسحقؒ نه روایت شویدے چه :

فلما دفناه قال : خففوا عنه التراب فان رسول الله ﷺ کان یامرنا بتسویه القبور.

(السنن الکبری للبیهقی : ٤۱۱/۳).

ترجمه : کله چه مونږ هغه دفن کړو نو وے فرمائیل : خاوره وریاندے کمه واچوئ ځکه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه امر به ئے کولو په دے چه قبر برابروئ (دعامو قبرونو سره).

ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه مراد دتسویه (برابرولو) نه دا نه دی چه زمکے سره برابر شی بلکه مراد دا چه خاوره وریاندے واچول شی اود عامو قبرونو سره چه یو لیښت وی برابر شی.

لکه دا خبره چه مراد دتسویه نه دادے چه خاوره وریاندے کمه واچول شی اود عامو قبرونو سره برابر شی دا معنی حنفی فقهاؤ هم کړیده. علامه ماردینی حنفی لیکی :

الا سویته : ای سویته بالقبور المعتاده. (الجوهر النقی علی البیهقی : ۱۰۳/٤).

یعنے دسویته معنی داده چه عامو طور سره دبرابرو قبرونو سره برابر شی.

حلبی په شرح دمنیه کښے لیکی :

فالمراد ما کانوا یفعلونه من تعلیه القبور بالبناء الحسن الرفیع۔

یعنې : مراد دتسویه نه برابرې دهغه اوچتو قبرونو دې چه په ښائسته اواوچت شکل باندې جوړ شوې وی. (حلبی کبیر ص (۵۹۹)۔

علامه ابن نجیم حنفی المتوفی (۹۲۰) هـ دکنز الدقائق په شرح کښې لیکی :

ویسنم القبر قدر شبر وقیل قدر أربع اصابع. وما ورد من حدیث علی ان لا ادع قبرا مشرفا الا سویته فمحمول علی مازاد علی التسنیم۔

یعنې : قبر به داوښ دقب غونته یو لیشت جوړوی اوچا وئیلی دی چه څلور ګوتې. او کومه خبره چه دعلی رضی الله عنه په حدیث کښې راغلې چه اوچت قبر به برابرولې شی نو هغهددې مقدار نه په زیات باندې محمول دې. یعنې که یو لیشت وو نو بیا خیر دې اوکه ددې نه زیات وو هغه به دیو لیشت سره برابرولې شی۔

٤ - څلورم حدیث : ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی :

نهی رسول الله ﷺ ان یبنی علی القبور او یقعد علیها اویصلی علیها۔

یعنې : رسول الله ﷺ په قبرونو باندې قبه (آبادی) جوړولو اوپه هغې باندې کیناستل اوپه هغې باندې دمونځ کولو نه منع فرمائیلې ده۔

(مسند ابو یعلی الموصلی : ٦/٢) رقم الحدیث (١٠١٦) ابن ماجه (١١٣) واللفظ له)۔

علامه هیثمی ؒ وائی : ددې حدیث تول راویان ثقه دی. (مجمع الزوائد :٦١/٣)۔

٥ - پنځم حدیث : ام المؤمنین ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دې چه :

نهی رسول الله ﷺ ان یبنی علی القبر اویجصص۔

ترجمه : رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده ددې نه چه په قبر باندې آبادی جوړه کړې شی یا چونه کړې شی۔

(مسند احمد : ٢٩٩/٦) دا حدیث اګرکه سنداً ضعیف دې لیکن دا مونږ دنورو احادیثو دوجې نه دشاهد په طور راورو. (اوګوره دین الحق بجواب جاء الحق دابو صهیب محمد داود راشد (٢٩٩/٢)۔

زیارتونه او امام ابو حنیفه رحمه الله

دامام ابو حنیفهؒ خاص شاګرد محمد بن الحسن شیبانی ؒ داسې فرمائی :

ولا نری ان یزاد علی ما خرج منه ونکره ان یجصص او یطین اویجعل عنده مسجد - الي ان قال -

ان النبی ﷺ نهی عن تربیع القبور وتجصیصها .

قال محمد : وبه ناخذ وهو قول ابي حنیفه۔

ترجمه : دے خبرے ته مونږ جائز نه وایو چه دقبر نه راښکل شے خاورے نه اضافه خاوره په قبر واچول شی. دارنگه مونږ مکروه (حرام) گنړو داخبره چه قبر دے پوخ کړے شی یادے لیو کړے شی یا دے دهغه خواته مسجد جوړ کړے شی۔ ولے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دقبرونو څلور گوټه کولو او دهغے دپخولو نه۔

(کتاب الآثار ص : (۴۹) کتب خانه مجیدیه۔

د متقدمینو احنافو اقوال

داحنافو فقهاؤ کتابونو کښے داخبره واضحه شویده چه په قبر باندے آبادی، قبه، گنبد جوړول، دقبر پخول مکروه او حرام دی، بلکه هغوی دومره زیات احتیاط په دے مسئله کښے کړے چه په قبر باندے دزیاتے خاورے اچولو نه ئے هم منع کړیده چه داکار هم دبناء علی القبر سره مشابهت لری. لیکن که چرته کوم بدبخت داکار اوکړو نو دهغے نړول واجب دی. لکه ملا علی قاری لیکی :

ویجب الهدم وان کان مسجدا ۔ (مرقات شرح مشکاه : ٦٩/٤)۔

دارنگه علامه ابراهیم حلبی ؒ دمنیه المصلي په شرح کښے لیکی :

ویکره ان یبنی علیه بناء من بیت او قبه او نحو ذلك لما مر من الحدیث آنفا ۔

یعنے : قبر پخول، لیو کول مکروه دی اودا ددے امامانو قول دے۔ اود امام ابو حنیفه نه نقل دی چه په قبر باندے آبادی کول لکه گنبد، قبه وغیره هره آبادی کول مکروه دی دمخکنی ذکر شوی حدیث دوجے نه چه په هغے کښے منع راغلے ده ددے نه۔

دارنگه ابن عابدین ددر مختار په شرح کښے فرمائی :

وعن ابي حنیفه یکره ان یبنی علیه بناء من بیت او قبه او نحو ذلك لماروی عن جابر رضی الله عنه نهی النبی ﷺ عن تجصیص القبور وان تکتب علیها وان یبنی علیها . رواه مسلم وغیره. ۔ (فتاوی شامی :۲۳۷/۲)۔

یعنے : دامام ابو حنیفه ؒ نه نقل دی چه په قبر باندے آبادی کول لکه کور، قبه او ددے په شان آبادی کول حرام دی ځکه دجابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړیده دقبرونو دپخولو، په هغے باندے دلیکلو او آبادی کولو نه. دا حدیث مسلم او نورو امامانو روایت کړیدے۔

(دلته مونږ دمکروه نه حرام اخلو ځکه امام ابوحنیفه خپله وئیلې دی چه زه مکروه ذکر کړم ددے نه زما مراد حرام وی لکه روسته به راشی ان شاء الله)۔

علامه ابن نجیم حنفی لیکلی دی:

ویکره ان یزاد علی التراب الذي اخرج من القبر لا ن الزیاده علیه بمنزله البناء الی ان قال: ولایجصص لحدیث جابر: نهی النبی ﷺ ان یجصص القبر وان یقعد علیه وان یبنی علیه (البحر الرائق:۱۹٤/۲)۔

یعنے: په قبر باندے دخپلے راویستلے شوے خاورے نه علاوه نوره خاوره اچول مکروه دی ځکه دآبادئ سره مشابهت لری (بیا روسته فرمائی) او قبر دے نه پخوی ځکه حدیث دجابر رضی الله عنه کښے راځی چه رسول الله ﷺ دقبر پخولو، په قبر دکیناستلو او په هغے باندے دآبادئ کولو نه منع فرمائیلے ده۔

قاضی خان حنفی المتوفی: ۵۹۲ فرمائی:

ولا یجصص القبر لما روی عن النبی ﷺ انه نهی عن التجصیص والتفضیض وعن البناء فوق القبر – الی ان قال – لما روی عن ابي حنیفه انه قال: ولا یجصص القبر ولایطین ولایرفع علیه بناء – (فتاوی قاضی خان دعالمگیری په حاشیه: ۱۹٤/۱)۔

ترجمه: او قبر به نشی پخولے ځکه درسول الله ﷺ نه روایت دے چه هغه منع فرمائیلے ده دقبر پخولو اوقبر ته دسپینو زرو اوبه ورکولو او په هغے باندے دآبادئ کولو نه. ځکه دامام ابو حنیفه نه روایت دے چه قبر پخول، قبر لیو کول منع دی دغه شان په قبر باندے آبادی کول منع دی۔

دفقه حنفی معتبر کتاب چه احناف وائی چه پنځه سوه (۵۰۰) علماؤ او فقهاؤ مرتب کړیده عالمگیری کښے دی:

ویسنم القبر قدر الشبر ولا یربع ولایجصص .... ویکره ان یبنی علی القبر۔

ترجمه: قبر به یو لیشت داوښ دقب غونته جوړوی او قبر به څلور گټے اوپوخ نه جوړوی او په قبر آبادی (گنبد وغیره) جوړول مکروه دی۔

(فتاوی عالمگیری: ۱٦٦/۱. طبع حافظ کتب خانه کویټه)۔

دارنگه قاضی ثناء الله حنفی المتوفی (۱۲۲۵هـ) لیکی:

آنچه بر قبور اولیاء عمارت هائے رفیع بناء میکنند وچراغان روشن میکنند واین قبیل حرام است –

(ما لا بد منه ص : ۹۵)۔

ترجمه : داولیاؤ په قبرونو باندے اوچتے آبادئ جوړول او په هغې باندے شمعے ډیوے بلول حرام دی۔

محترمو ! دفقه کتابونو کښے دارنگے حوالے ډیرے زیاتے دی لیکن دیو مسلمان او حق پرست دپاره دومره حدیثونه او د علماؤ اقوال دتائید دپاره ذکر کول کافی دی . اود معاند اوضدی شخص دپاره که دحدیثونو او د علماؤ داقوالو انبار هم اولګوے بے فائدے دی۔

ددے مسئلے دتفصیل دپاره اوګوره :

دین الحق بجواب جاء الحق لمولانا محمد داود أرشد . راه سنت دسرفراز خان صفدر ص : ۱۷۹) . رد بدعات دمولانا عبد الجبار باجوری ص (۱۸۸) فتاوی رشیدیه (۱۰۰/۱) تفهیم المسائل ص (۳) مجموعه الفتاوی دشیخ عثیمین (۹۹/۱) فتاوی دیوبند (۴۰۵/۵) . فتاوي الدین الخالص (۷) جلد، (فتاوی رشیدیه ص : ۱۴۲) فتاوی دیوبند محمد شفیع (۱/)۔

دارنګه کوم مسلمان ته او خصوصاً دامام ابو حنیفه مقلدینو ته دا حق نشته چه ددے حدیثونو اود امام ابو حنیفه دقول نه دصحیح اوصریح حدیث موافق راغلے خلاف وکړی . لیکن ددے باوجود دامام ابو حنیفه دمذهب دعوی ګیر خلق په زیارتونو باندے آبادیانے جوړوی اودغه مقلدین حضرات دجواز فتوی ورکوی او ځانته اهل السنه اود امام ابو حنیفه مقلدین وائی . خو حقیقت دادے چه یو شاعر وئیلی دی :

وکل یدعی وصلا بلیلی ولیلی لا تقر لهم بذاك

ځانته اهل السنه والجماعت وائی اوحقیقت کښے دسنتو دشمنان وی . ځانته دامام ابو حنیفه مقلدین وائی او حقیقت کښے دهغه صرف هغه خبرے منی کوم چه ددوئ دخواهش مطابق وی۔

په قبر باندے جوړ شوے ګنبد ورانول واجب دی

سوال : په قبرونو باندے چه کوم ګنبدونه جوړ شوی آیا دهغے ورانول جائز دی ؟

جواب : په زیارتونو اوقبرونو باندے چه کومے قبے او ګنبدونه او نور قسم آبادیانے شوی وی دهغے ګذارول او نړول واجب دی۔

په دے باندے دلائل دادی :

۱ – حدیث دابو الهیاج الاسدی دے چه دے دعلی رضی الله عنه یو فوجی جرنیل وو دے

فرمائی : ما ته علی رضی الله عنه اوفرمائیل : آیا زه تا دهغے کار دپاره نه لیږم کوم کار دپاره چه زه رسول الله ﷺ لیږلے ووم (هغه کار دادے) چه هیڅ تصویر او مجسمه بے ماتولو مه پریږده او هیڅ اوچت قبر دبرابرولو نه (دنورو قبرونو سره) مه پریږده۔

(مسلم : ۳۱۲/۱) مشکاه (۱۴۸/۱)۔

دبرابرولو مطلب دانه دے چه زمکے سره برابر کړے شی بلکه دعامو قبرونو سره برابرول مراد دی.

لکه علامه علاء الدین الماردینی حنفي المتوفی (۷۴۵)ھ لیکی :

الا سویته ای سویته بالقبور المعتاده (الجوهر النقی علی البیهقی : ۳/۴)۔

یعنے : دبرابرولو دامطلب دے چه دنورو قبرونو سره چه دشریعت او عادت برابر وی پو شان شی۔

امام بیهقی رواپت کړیدے چه درسول الله قبر یو لیشت دزمکے نه اوچت دے۔

(رفع قبره من الارض نحو شبر) – (السنن الکبری :۴۱۰/۳)۔

دارنګه علامه ابن حجر مکی شافعی لیکی :

تجب المبادره الي هدمها وهدم القباب التی علیها (کتاب الزواجر ص : ۱۶۳)۔

یعنے : داوچتو قبرونو او په هغے باندے دجوړ شوو ګنبدونو وارنول په تادئ سره واجب دی۔

ملا علی قاری حنفی خو په دے باب کښے دومره تصریح کړے چه فرمائی :

ویجب الهدم وان کان مسجداً۔

یعنے : که چرته څوك دقبر خوا کښے دمسجد په نوم قبے اوګنبدجوړ کړی نو دهغے نړول هم واجب دی. (مرقات : ۳۷۲/۲)۔

څکه مسجد ضرار هم دمسجد په نوم باندے جوړ کړے شوے وو لیکن دقرآن لوستونکے دهغے دانجام نه خبر دے۔

علامه سید محمد آلوسی حنفی لیکی دی :

ثم اجماعا فان اعظم المحرمات واسباب الشرك الصلاه عندها واتخاذها مساجد او بناؤها علیه وتجب المبادره الی هدمها وهدم القباب التی علی القبور اذ هی أضر من مسجد الضرار لانها أسست علی معصیه الله وعلی معصیه رسوله ﷺ وتجب ازاله کل قندیل او سراج علی قبر ولا یجوز وقفه ونذره۔

یعنے : په دے باندے اجماع ده چه ډیر زیات حرام او د شرك داسبابو نه یو سبب دے مونځ کول

دقبرونو خواکښې، یا دهغې نه مسجد جوړول یا په هغې باندے آبادی کول. او نړول ددے اوچتو قبرونو اوددے قبر ګنبدونو واجب دی بلا تاخیر. ځکه داد مسجد ضرار نه هم زیات ضرری اونقصانی دی، دا په دے وجه چه درسول الله نافرمانئ باندے جوړ شوی دی او په دے قبرونو چه کوم قندیل یا چراغ وی هغه هم لرے کول واجب دی اوددے څیزونو وقف کول هم نا جائز دی. (روح المعانی: ۲۱۹/۱۵)۔

مفتی محمد شفیع لیکلی دی چه په قبرونو باندے لکه څنګه چه دا قبے وغیره په ابتداء کښے نه دی جائز دارنګه دهغے پاتے کول (نړولو نه بغیر پریخودل) هم جائز نه دی.

اکر هدم قبه جات کے قدرت هو تو هدم کردیا جائے اور قدرت نه هو تو هدم کرکے فتنه برپا کرنا مناسب نهین او ظاهر هے که قدرت کے یهي معنی هین که اس فعل کے کرنے سے کوئي شدید فتنه مسلمانون مین برپا نه هون الخ۔

ترجمه: که دقبه جاتو (ګنبدونو) دنړولو قدرت وی نو نړول ئے پکار دی اوکه قدرت نه وی نو په نړولو سره ئے فتنه راپورته کول مناسب نه دی او ښکاره خبره ده چه دقدرت همدا معنی ده چه ددے فعل کولو سره څه سخته فتنه په مسلمانانو کښے نه پورته کیږی۔

(امداد المفتین ص: ۲۹۹)۔

حافظ ابن القیمؒ لیکی: لا یجوز بقائها وتجب هدمها۔

ترجمه: ددے ګنبدونو پاتے کول جائز نه دی بلکه ددے نړول واجب دی.

(زاد المعاد: ۲۸/۳)، راه سنت دشیخ سرفراز خان صفدر ص: (۲۷۶). رد بدعات لمولا نا عبد الجبار الباجوری ص (۱۹۲) دین الحق بجواب جاء الحق لمولا نا ابو صهیب (۳۰۲/۲) کفایه المفتی: ۶۵/٤)۔

تنبیه: شیخ سرفراز خان صفدر دیوبندی حنفی لیکلی دی چه اکثر بدعتیان دحافظ ابن تیمیهؒ او حافظ ابن قیمؒ په اوچت شان کښے ډیره ګستاخی کوی حالانکه ملا علی قاری ددے دواړو تعریف په دے الفاظو سره کړیدے:

کانا من أکابر اهل السنه والجماعه ومن اولیاء هذه الامه (راه سنت ص: ۱۸۷)۔

یعنے: حافظ ابن تیمیهؒ او حافظ ابن قیمؒ دواړه داهل سنت والجماعت مشران دی او ددے امت اولیاء دی. (جمع الوسائل: ۲۰۸/۱) طبع مصر بحواله راه سنت ص: ۱۸۷)۔

زه وایم چه دا مبتدعین خو دعامو اهل سنتو دشمنان دی نودوئ به څنګه داهل سنتو دمشرانو

حافظ ابن تیمیۃ اوحافظ ابن قیمؒ سره مینه اوکړی ؟

دارنګه امام جلال الدین سیوطیؒ خو ددوئ ډیر زیات تعریف اوصفت کړے۔

(بغیه الوعاه)۔

محترمو ! چه رسول اکرم ﷺ او علی رضی الله عنه دغه شان دامت غټو غټو علماؤ ددے قبو، ګنبدونو او ددے اوچتو اوچتو قبرونو دنړولو اوباقی قبرونو سره دهوارولو حکم کړے ! نو اوس که یو سړے راپورته شی او وائی چه ددے ورانول حرام دی آیا ددے سړی فتوی درسول الله ﷺ، دصحابه کرامؓ اود اوچتو اوچتو علماؤ دفتوؤ خلاف نه ده ؟ آیا دا بیا ځانته داهل السنت والجماعت نو ایخودلے شی ؟ هیڅ کله نه !!

امام شافعیؒ په کتاب الام (۳۷/۱) کښے فرمائی :

وقد رأیت من الولاه من هدم بمکه ما یبنی فیها فلم أر الفقهاء یعیبون ذلك۔

یعنے : ما بعضے والیان اولیدل چه په مکه کښے چه په قبرونو کوم ګنبدونه جوړ شوی وو هغه ئے اونړول نو دا خبره فقهاؤ هیڅ عیب اونه ګنړله۔

په قبرونو شمعے او چراغونه بلول حرام دی

سوال : آیا په قبرونو چراغونه او شمعے لګول دین اسلام کښے جائز دی اوکه نه ؟ دقرآن اوسنت په رنړا کښے جواب راکړئ !

جواب : په قبرونو دپاسه، دهغے شاؤ خواته چراغونه، ډیوے او شمعے بلول سخته ګناه اوحرام کار دے . دلیل په دے باندے درسول الله ﷺ حدیث دے۔

لعن رسول الله ﷺ زائرات القبور والمتخذین علیها المساجد والسرج۔

ترجمه : رسول الله ﷺ لعنت فرمائیلے دے په هغه زنانو باندے چه دقبرونو زیارت کونکے وی او په هغه خلقو چه په هغے (قبرونو) باندے جوماتونه او ډیوے جوړوی۔

(ابوداود : ۱۰۵/۲، موارد الظمآن ص : ۲۰۰، نسائی : ۲۱۳/۱، طیالسی ص ۳۵۷ مشکوه ۷۱/۱، ترمذی مع التحفه ۲۶۵/۱، مسند احمد ۲۲۹/۱، وسنده حسن)۔

ملا علی حنفی په مرقات شرح مشکاه کښے لیکی :

والنهی عن اتخاذ السرج لما فیه من تضییع المال لانه لا نفع لاحد من السراج ولانها من آثار جهنم

واما للاحتراز عن تعظیم القبور کالنهي عن اتخاذ القبور مساجد۔

ترجمه : په قبرونو باندے ډیوو او چراغونو بلولو نه چه منع راغلے نو ددے وجه داده چه په دے کښے مال ضائع کول دی ولے چه هیڅا ته ډیوے بلولو فائده نه رسی. بل دا چه داد آثارو دجهنم نه ده. اویا دا چه دا دپاره دځان ساتلو ده دتعظیم دقبرونو نه (او په دے طریقه دقبرونو تعظیم حرام دے) لکه څنګه چه منع راغلے ده ددے نه چه قبرونو خواته دے مسجدونه جوړ شی۔

(اوګوره مرقات شرح مشکاه : ۲۱۹/۲)۔

دارنګه عالمګیریه کښے دی :

وایقاد النار علی القبور فمن رسوم الجاهلیه (۱۶۷/۱)۔

یعنے : په قبرونو باندے اور بلول داد جاهلیت رسمونه دی۔

اود رسول الله ﷺ حکم واور دهغه چا په باره کښے چه اسلام کښے دجاهلیت رسمونه کوی لکه چه فرمائی :

دالله په نزد بدترین هغه څوك دے چه په اسلام کښے دجاهلیت رسمونه لټوی۔

اوګوره مشکوه (۲۷/۱) بخاری دویم جلد۔

حافظ ابن قیمؒ لیکی :

نهی رسول الله ﷺ عن اتخاذ القبور مساجد وایقاد السرج علیها . (زاد المعاد : ۱٤٦/۱)۔

یعنے : رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائیلے چه قبرونه دے سجده ګاه جوړ شی او چراغونه شمعے دے په هغے بلے کړے شی۔

داختصار په وجه صرف په هغه کتابونو حواله ورکوم چه هغے کښے په قبرونو باندے چراغونه او شمعے بلول منع کړے شوی دی۔

اوګوره فتاوی شاه رفیع الدین ص (۱٤) . اشعه اللمعات شرح مشکاه (۳٦۳/۱) طبع نورانی کتب خانه . روح المعانی (۲۳۸/۱۵) ارشاد الطالبین ص (۲۲) راه سنت ص (۱۹۲) دین الحق بجواب جاء الحق (۲۲٦/۲) ما لا بد منه ص (۹۵)۔

فائده : په مذکوره حدیث کښے دلفظ (علی) دهغے دپاسه او شاؤ خوا دواړو ته شامل دے لکه قرآن کریم کښے دی : ﴿ اوکالذي مر علی قریه ﴾ ۔ (البقره : ۲۵۹)۔

﴿ ولا تصل علی احد منهم مات أبدا، ولا تقم علی قبره ﴾ ۔ (توبه : ۸۳)۔

یعنې : جنازه مه کوه ددوئ په هیڅ تن باندې او دده دقبر په خوا کښې هم مه اودرېږه۔
او حدیث کښې راځی : فقام علیها وسطها (ابوداود : ۲/۱۰۰)۔
یعنې : دهغې خواته اودرېدو مخامخ دهغې۔
اوګوره راه سنت ص (۱۹۳) دین الحق بجواب جاء الحق (۲/۳۳۱)۔
نو لفظ د (علی) لکه څنګه چه دپاسه دپاره استعمالیږی دارنګه دهغه خواته دپاره هم استعمالیږی۔

په قبر باندې څادر اوغلاف اچول جائز نه دی

سوال: په قبرونو غلافونه او څادرونه اچول څنګه دی ؟
جواب: لا حول ولا قوه الا بالله۔
په قبرونو باندې غلافونه څادرونه او هرقسم کپړه اچول حرام او بدعت دې حدیث کښې ددې نه منع راغلې ده۔
عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه :
ان الله لم یامرنا ان نسکو الحجاره والطین . . .الحدیث. صحیح مسلم (۲/۲۰۰)۔
یعنې : الله تعالی مونږ ته ددې حکم نه دې کړې چه مونږ دې کانړو او ختو ته کپړې واچوو
------او سنن ابي داود کښې دی :
ان الله لم یامرنا فیما رزقنا ان نکسو الحجاره واللبن۔
یعنې : مونږ ته الله تعالی چه کوم رزق راکړې مونږ ته ئې دا نه دی وئیلی چه کانړو یا خښتو ته جامه ورواغوندو۔
اوګوره : ابوداود مع عون المعبود : ۴/۱۲۲)۔
ددې احادیثو نه دامعلومه شوه چه په قبر باندې څادر اچول حرام دی اواسراف دې ۔ دارنګه بدعت دې ځکه چه دجناب رسول الله ﷺ نه او صحابه کرامؓ او نورو سلفو صالحینؒ نه ددې هیڅ ثبوت نشته چه هغوی په قبرونو باندې څادرونه اوغلافونه اچولی وی. ولو کان خیرا لسبقونا الیه۔
(که چرې دا کار دخیر وې نو دې حضراتو به زمونږ نه مخکښې کړې وې)۔
څادرونه هم وو، اود اولیاء کرامو قبرونه هم وو، اچولو والا هم وو. دغه شان دهغوی اولیاء الله سره

ډېر زیات محبت هم وو. لیکن ددې باوجود هغوی په دې نه ځادرونه اچولې دي نه غلافونه اونه نور ځېزونه۔

اوګوره : دین الحق بجواب جاء الحق لمحمد داود ارشد حفظه الله (۲۲٦/۲) کفایه المفتی (٦۹/٤) احسن الفتاوی (۳۷٦/۱) راه سنت للشیخ صفدر ص (۱۹۷) رد المحتار (۸۳۹/۱) وپکره الستور علی القبور. اوګوره احسن الفتاوی (۲۷٦/۱)۔

په قبر باندې د لیکلو حکم

سوال : په قبر باندې لیکل څنګه دي، بعضې خلق د هغه دپیدائش او وفات سنه او تاریخ لیکي ، بعضې خلق آیتونه او اشعار وغیره لیکي داڅنګه دي ؟

جواب : په قبرونو باندې دارنګه دقبرونو خوا کښې لیکل کول که تاریخ دوفات وي که اشعار وي اوکه دقرآن کریم آیتونه وي دا تول حرام او ناجائز دي. حدیث شریف کښې ددې نه منع راغلې ده۔

دجابر بن عبد الله رضی الله عنهما نه روایت دې :

انه نهی رسول الله ﷺ ان یجصص القبر وان یقعد علیه وان یبنی علیه وان یکتب علیها۔

ترجمه : رسول الله ﷺ منع فرمائیلې ده ددې نه چه قبر چونه کړې شي او په هغې باندې دناستې نه او په هغې باندې دآبادۍ کولو نه او په هغې باندې دلیکلو نه۔

(رواه ابوداود :۵۵۲/۳) والترمذي (۳۵۹/۳) وقال : حسن صحیح، والنسائی (۸٦/٤) وابن ماجه (٤۹۸/۱) واحمد (۲۹۵/۳) (۳٦۰/۳)۔

دارنګه فتاوی اسلامیه (۸٤/۱) کښې علامه بن بازؒ فرمائیلي دي چه :

په قبر باندې لیکل که دقرآن کریم آیتونه وي اوکه تاریخ وفات وي یا بل څه وي دا تول منع دي، اودا لیکل په قبر وي اوکه دقبر په خواکښې په بورډ وغیره باندې وي۔

دارنګه (جهود العلماء الحنفیه في ابطال عقائد القبوریه : ۱٦۲٤/۳) کښې دکتور شمس الدینؒ په دې باندې رد کړې۔

دغه شان په کتاب الآثار للامام محمدؒ کښې دي : چه په قبر باندې لیکل مکروه دي ص (٤۵) وفیه : ونکره .... او یکتب علیه). احکام الجنائز للعلامه الالبانی ص (۲۰۵)۔

د مړو عُرسونه نماځل بدعت دے

سوال: آیا د یو ولی عُرس مناوول جائز دي اوکه نه؟

جواب: الحمد لله رب العالمېن والصلاه والسلام علی رسوله الکرېم محمد وآله واصحابه وابتاعه اجمعېن اما بعد:

په دے کښے هېڅ شك نشته چه داولېاء الله ادب او احترام او دهغوی سره محبت خاص دالله رب العزت دپاره ډېر افضل ترېن عمل دے، دهغوی خبره منل چه دشرېعت موافق وی داجر او ثواب ذرېعه ده. دارنګه هغوی ته بلا وجه ضرر اوخفګان رسول سخت دتاوان او جهنم ذرېعه ده. الله رب العالمېن داسے فرمائېلی دی:

ان الذېن فتنوا المؤمنېن والمؤمنات ثم لم ېتوبوا فلهم عذاب جهنم ولهم عذاب الحرېق (سورت بروج آېت: ۱۰)۔

ېعنے: کوم خلق چه مؤمنانو سړو اومؤمنانو ښځو ته (صرف داېمان په وجه) تکلېفونه ورکوی بیائے توبه ونه وېستله نودوی لره عذاب دجهنم دے اودوی لره عذاب دے داور سوزونکی۔

دغه شان حدېث قدسی کښے دی چه دابو هرېره رضی الله عنه نه رواېت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائېلے دے: چه الله تبارك وتعالی ارشاد فرمائی:

من عادی لی ولېا فقد آذنته بالحرب۔ (رواه البخاری: ۳۹۳/۲. والبېهقی: ۳٤٦/۳)۔

ترجمه: څوك چه زما ددوستانو سره دشمنی کوی نو زه ده دجنګ اعلان کوم۔

نو ددے آېت مبارکه اوحدېث شرېف نه داخبره واضحه شوه چه داولېاء الله سره دشمنی کول دالله تعالی عذاب ته دعوت ورکول دی. بلکه ددوئ سره محبت کول پکار دی اودوئ ته دعا ګانے کول پکار دی۔

لېکن ددے سېوا، ددوئ عرسونه کول، ددوئ په نوم نذر او منختے منل، دوئ ته په مصېبت کښے چغے او سورے وهل شرکت او بدعت دے. دانه دهغوی سره محبت دے او نه دالله رب العزت عبادت دے. بلکه دا عرسونه کول بدعت دے۔

رسول الله ﷺ فرمائېلی دی:

لا تجعلوا بېوتکم قبورا، ولا تجعلوا قبری عېدا، وصلوا علی فان صلاتکم تبلغنی حېث کنتم۔ (سنن ابی داود مع عون المعبود: ۱۷۱/۲) مسند احمد (۳٦۷/۳) نسائی. مشکاه (۸٦/۱)۔

ترجمه : خپلو کورونو نه قبرونه مه جوړوئ، او زما قبر نه اختر (مېله) مه جوړوئ، او په ما درود واېئ ځکه ستاسو درود ماته رارسی. هرچرته چه تاسو یئ.

شراحو دحدیث ددے حدیث معنی داسے کړے :

لا تجعلوا قبری عیدا: ای لا تجتمعوا للزیارہ اجتماعکم للعید.

یعنے : تاسو زما دقبر زیارت ته داسے مه راجمع کیږئ لکه څنګه چه په اختر کښے راجمع کیږئ ---- او بعینه دا اجتماع په عُرس کښے هم راځی.

شاه ولی الله صاحبؒ لیکی :

لا تجعلوا زیاره قبری عیدا: اقول : هذا اشاره الی سد مدخل التحریف کما فعل الیهود والنصاری بقبور انبیائهم وجعلو ها عیدا، وموسما بمنزله الحج.

ترجمه : زما قبر مېله مه جوړوئ ! زه وایم رسول الله ﷺ چه دا خبره کړے چه زما قبر نه مېله مه جوړوئ دا اشاره ده دتحریف ټولو دروازے بندولو ته، څنګه چه یهودو او نصاراؤ دخپلو انبیاؤ دقبرونو سره کړے وو چه هغه ئے مېله اود حج دموسم په شان اوګرځولو . (حجه الله البالغه : (۷۷/۲) طبع مصر.

ددے حدیث نه معلومه شوه چه رسول الله قبر ته تلل چه هلته اجتماع جوړه شی نه دی جائز . ځکه مطلب دزیارت دقبر رسول الله ﷺ نه په هغه باندے درود او سلام دے اودغه درود اوسلام رسول الله ﷺ ته دلرے نه هم رسیږی.

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ دارشاد مطلب دادے چه ستاسے درود سلام ماته رارسیږی که لرے یئ اوکه نزدے، لهذا زما قبر زیارت ګاه مه جوړوئ. (بحواله هدایه المستفید : ۷۰۰/۱).

ددے برعکس که یو سړے سفر وکړی او نور خلق هم ورسره ملګری شی نو دیته اجتماع عید وئیلے شی کوم نه چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده.

ځکه عربی ژبه کښے (عید) لفظ داجتماع دپاره استعمالولے شی برابره خبره ده که دخوشحالئ وی اوکه دغم.

دعربی لغت په کتابونو کښے د عید دا معنی لیکلے شویده :

علامه ابن منظور افریقی فرمائی :

والعید کل یوم فیه جمع. - (لسان العرب : ۳۱۹/۳)۔
یعنې : عید هر هغه ورځې ته وئیلې شي چه خلق په کښې راجمع کیږي۔
همدا معنی علامه مرتضی زبیدي هم کړیده۔
اوګوره تاج العروس من جواهر القاموس (۴۳۸/۲)۔
دیته نزدې نزدې معنی دمنجد مصنف هم کړیده ص (۷۲۳).
علامه وحید الزمان وائي : عید دیو ځائے کیدو ورځ ته وئیلې شي۔
لغات الحدیث : (۳۱۹/۳)۔
مولا نا غلام رسول سعید حنفي وائي : په کوم ورځ کښې چه دخلقو اجتماع وي دیته عید وئیلې شي (شرح صحیح مسلم : ۶۵۵/۲)۔
دائمه لغت دمعنی نه داخبره په صراحت سره ثابته شوه چه عربئ ژبه کښې د (عید) اطلاق په اجتماع باندې کیږي۔

ددې نه معلومه شوه چه درسول الله ﷺ دحدیث دا مطلب او معنی ده چه زما په قبر اجتماع مه کوئ اودې اجتماع مقررولو ته بعینه عُرس وئیلې شي. نوعرس نه په دې حدیث کښې منع راغله. نو هرکله چه درسول الله ﷺ په قبر مبارك باندې عُرس کول او راجمع کیدل منع دي نو دبل چا په قبر به څنګه جائز شي ؟

په دې حقله دعلماء کرامو اقوال :

۱ - قاضي ثناء الله حنفي ؒ فرمائي :

لا یجوز ما یفعله الجهال بقبور الاولیاء والشهداء من السجود والطواف حولها، واتخاذ السرج والمساجد الیها، ومن الاجتماع بعد الحول کالاعیاد ویسمونه عرسا۔
ترجمه : کوم جاهلان خلق چه داولیاؤ او شهیدانو قبرونو سره کوم کارونه کوي دا تول ناجائز دي مثلاً : سجده کول هغې ته، دهغې طواف کول، دهغوئ په قبرونو چراغونه شمعې بلول، دهغې خواته سجده کول، هر کال دهغوي قبرخواته راجمع کیدل لکه اختر کښې چه دهغې نوم عرس دې دا تول نا جائز کارونه دي. (تفسیر مظهري : ۶۵/۲)۔
قاضي ثناء الله حنفي بل ځائے لیکي :
قبور اولیاء بلند کردن وګنبد برآن ساختنند وعرس وامثال آن وچراغان کردن همه بدعت است -

(ارشاد الطالبين ص : ۲۲)۔

يعنې : داولياؤ قبرونه اوچتول او په هغې گنبدونه جوړول اوپه هغې عرسونه کول او شمعې ډيوې بلول دا تول بدعت دې۔

۲ – دشاه ولي الله صاحبؒ عبارت خو مخکښې ذکر شو. دارنگه هغه ليکي :

ومن اعظم البدع مااخترعوا في امر القبور فاتخذوها عيداً۔

ترجمه : اود غتو بدعاتو نه يو دادې چه دقبرونو باره کښې دځانه ډيرې خبرې جوړې کړې شوي دي او قبرونو ته ئې دميلې حيثيت ورکړيدې. (التفهيمات الالهيه : ٦٤/٢)۔

دغه شان ليکي :

عادت آتش پرستان وهم عادت بت پرستان هند که روزي از روز هائے معين در هر سال عيد ميکنند ومجمع عام مينمايدن پير پرستان نيز عيد غدير خم وعرس هائے قبور بزرگان مقرر کردند الخ۔

يعنې : دآتش پرستو او بت پرستو دا عادت دې چه په کال کښې يوه معلومه ورځ باندې جمع کيږي او عيد مناووي، پير پرستو فرقو هم عيدونه اوعرسونه دبزرگانو په قبرونو باندې مقرر کړي دي۔

۳ – علامه شاه محمد اسحق صاحبؒ ليکي :

مقرر ساختند روز عرس جائز نيست. (مسائل اربعين)۔

٤ – دارنگه رشيد احمد گنگوهي صاحب ليکي :

عرس کے دن زيارت کو جانا حرام هے۔

يعنې : دعرس په ورځ زيارت دپاره تلل حرام دي (فتاوي رشيديه : ۲۹/۲)۔

که څوك اووائي چه چه عرس کښې خو مونږ قرآن پاك او په رسول الله ﷺ باندې درود وايو نو ددې دپاره هم دشيخ علي متقي حنفي فتوي اوگوره هغه ليکي :

الاجتماع لقرائة القرآن علي الميت بالتخصيص في المقبره او المسجد او البيت بدعه مذمومه – (رساله رد بدعت)۔

يعنې : دمړي دپاره دقرآن خوانئ دپاره خاصکر په مقبره، مسجد يا کور کښې راجمع کيدل ناروا بدعت دې۔

اوگوره تفصيل په دين الحق بجواب جاء الحق لمولانا داود ارشد صاحب (٤١٤/٢). فتاوي الدين الخالص (٤١/١). راه سنت للشيخ سرفراز صفدر حنفي ديوبندي ص (۱۷۰)۔

د خوراك نه پس دعاء كسے د لاس اوچتولو حكم

سوال: زمونږ په علاقه کښې دا رواج دے چه کله دخوراك وغیره اوخوړلے شی نو اجتماعی طور سره لاس اوچتوی او دعاء کوی، اوکه څوك لاس اوچت نه کړی نو هغه ته بد کتلے شی. آیا روټئ خوړلو نه روسته اجتماعی یا انفرادی شکل سره لاس اوچتول دعاء کښې ثابت دی اوکه نه ؟ تسلی بخش جواب راکړئ !

جواب: الحمد لله رب العالمین والصلاه والسلام علی رسول الله اما بعد :

دے باره کښې قاعده کلیه داده چه په مطلق دعاء کښې لاس اوچتول مستحب او سنت عمل دے، لیکن کوم ځائے کښں چه خاص دعاګانے راغلی لکه سجده کښے ، کورته ننوتلو وخت کښے، کور نه بهر وتلو وخت کښے، مسجد ته داخلیدلو، بهر وتلو وخت کښے، بیت الخلاء ته ننوتلو او بهر وتلو وخت کښے، دارنګه جماع وخت کښے . نو دے ځائے کښے ددعاء وخت کښے لاس اوچتول نه دی ثابت۔

دارنګه دخوراك نه روسته چه کومے دعاګانے راغلی په هغے کښے هم لاس اوچتول نشته، دخوراك نه روسته دعاء کول سنت دي، لیکن لاس به نه اوچتوی. لکه مسجد ته چه ننوځی دعاء به کوی اولاس به په کښے نه اوچتوی، اوبه چه کله څکی دعا به کوی لیکن لاس به په کښے نه اوچتوی، اودس چه کوی دعاء به کوی لاس به نه اوچتوی۔

حاصل: داچه دروټئ نه روسته دعاء کښے لاس اوچتول بدعت دے، اوڅوك چه نه کوی هغوی ته بد کتل خو ډیر زیات قبیح او ناروا عمل دے۔

اوګوره فتاوی الدین الخالص : (٣١١/١)۔

دارنګه احسن الفتاوی : ٣٦٥/١) فتاوی شیخ الاسلام : ٥١٢/٢٢)۔

د اختر په ورځ مبارکې وئیل او غاړے ورکول

سوال: داختر په ورځ چه کله داختر مونځ اوشی نو خلق یو بل ته داختر مبارکی ورکوی یو بل ته غاړے ورکوی، لاس ورکوی، ددے څه حکم دے ؟ دقرآن او سنت په رڼا کښے جواب راکړئ !

جواب: الحمد لله والصلاه والسلام علی رسول الله اما بعد :

داختر په ورځ یو بل ته عید مبارك وئیل دارنګه یو بل ته غاړے ورکول یو بل سره لاس ملاوول نه

درسول الله ﷺ نه ثابت دی اونه دصحابه کرامؓ نه . او ظاهره به :
لو کان خیرا لسبقونا الیه (کما فی ابن کثیر : ۱۵٦/٤)۔
اوکوم کار چه نه رسول الله ﷺ کړے وی اوه دهغه باندے امر کړے وی دامردود او بدعت دے.
رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :
کل عمل لیس علیه امرنا فهورد (اخرجه مسلم)۔
یعنی : هر هغه کار چه زمونږ اجازت پرے اونه شی هغه مردود دے۔
البته دصحابه کرامؓ نه داثابت دی چه کله به داختر دمانځه نه راواپس شو نو هغوی به یو بل ته داسے وئیل : تقبل الله منا ومنك۔
لکه الجوهر النقی (۳۱۹/۳) کښې دی : باب قول الناس في العید تقبل الله منا ومنك. عن محمد بن زیاد قال : کنت مع ابي أمامه الباهلی وغیره من اصحاب النبی ﷺ فکانوا اذارجعوا یقول بعضهم لبعض : تقبل الله منا ومنك)۔
قال احمد بن حنبل : اسناده جید . دارنګه اوګوره بیهقی اومجمع الزوائد (۲۰٦/۲)۔
فقه السنه (۱/) کښے دی :
عن جبیر بن نفیر قال اصحاب رسول الله ﷺ اذا التقوا یو العید بعضهم لبعض : تقبل الله منا ومنك. قال الحافظ : اسناده جید .اما التهنیه یوم العید یقول بعضهم اذا لقیه بعد صلاه العید : تقبل الله منا ومنکم، واحاله الله علیك، ونحو ذلك فهذا قد روی عن طائفه من الصحابه انهم کانوا یفعلونه ورخص فیه الائمه کاحمد وغیره۔
یعنی : داختر دمانځه نه روسته مبارکی وئیل په دے الفاظو : (تقبل الله منا ومنکم، واحاله الله علیك) یا ددے پشانته نور الفاظ دصحابه کرامؓ نه ثابت دی او امامانو په کښے هم اجازه ورکړے لکه امام احمدؒ وغیره۔
دغه شان امام احمدؒ فرمائیلی دی : زه چاته په دے دعاء سره شروع نه کوم، لیکن که څوك ئے ماته اووائی نو جواب به ورکوم ځکه د تحیې جواب ورکول واجب دی الخ۔
دارنګه اوګوره المغنی لابن قدامه (۲۵۰/۲)۔
حاصل داچه : دمانځه نه روسته (تقبل الله منا ومنك) یو بل ته وئیل جائز دی لیکن مسجد کښے شور کول، یو بل ته غاړے ورکول بدعت دے، ددے نه ځان ساتل پکار دی۔

اوګوره فتاوى الدين الخالص (٣١٤/١) كفايه المفتى (٢٥٤/٣)۔

د آذان په وخت د ګوتو ښكلولو حكم

سوال: دآذان په وخت كښې كله چه مؤذن (اشهد ان محمد ا رسول الله) اووائى، ګوتې خكلول او هغه سترګو سره لګول څنګه دى، بعضے خلق چه دا كار كوى نو هغوى وائى چه دے كښے حديث راغلى دے. نو ددے فعل څه حكم دے ؟ اوددے حديث وضاحت اوكړئ چه دا حديث چرته دے ؟ او ثابت دے كه نه ؟ بارك الله فى عمركم !

جواب: دآذان وخت كښے چه كله مؤذن (اشهد ان محمدا رسول الله) اووائى نو په دے وخت كښے ګوتے خكلول او سترګو پورے لګول دے باره كښے يو موضوعى اود ځانه جوړ شوے حديث ديلمى په مسند الفردوس كښے ، ابو العباس احمد بن ابي بكر الثراد اليمانى په خپل كتاب (موجبات الرحمه وعزائم المغفره) كښے راوړيدے. دارنګه نهايه شرح هدايه اوحاشيه جلالين (٣٥٧/٢) ددے آيت لاندے (صلوا عليه وسلموا تسليما) راوړيدے او په روح المعانى كښے راغلے. چه په دے حديث كښے دا الفاظ دى:

عن ابي بكر الصديق رضى الله عنه انه لما سمع قول المؤذن اشهد ان محمدا رسول الله ﷺ قال هذا وقبل باطن الانملتين السبابتين ومسح عينيه فقال النبى ﷺ من فعل مثل ما فعل خليلى فقد حلت له شفاعتى) – رواه الطبرانى والبزار كما فى المجمع (١١٠/١٠)۔

ليكن دا حديث موضوع اود ځانه جوړ شويدے لكه حافظ سخاوى په (المقاصد الحسنه ص (٣٨٤) رقم (١٠٢١) كښے فرمائى: ولا يصح في المرفوع هذا شئ۔

دارنګه ددے په تعليق كښے فرمائى: بل كله مختلق وموضوع. (يعنے داټول دځانه جوړ شويدے)۔

دارنګه ملا علي قارى په الموضوعات الكبير ص (٦٤) كښے ليكى:

وكل ما يروى في هذا فلا يصح رفعه البته۔

يعنے: هر هغه روايت چه په دے باب كښے ذكركولے شى دهغے نسبت رسول الله ﷺ ته كول صحيح نه دى۔

دارنګه فتاوى ديوبند (٩٤/١) كښے دى چه په دے روايت به عمل نه كيږى، او محققين علماء په دے حديث عمل نه كوى ځكه دا درسول الله ﷺ نه نه دے ثابت.

دا حدیث نه مرفوعاً ثابت دے نه موقوفاً. ځکه که موقوفاً ثابت وے بیا هم په دے باندے عمل پکار وو، ولے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

(علیکم بسنتی وسنه الخلفاء الراشدین) او په دے صورت کښے به دا سنت تقریری هم جوړیدلو. لیکن کله چه دا کار نه رسول الله ﷺ نه ثابت دے اونه دصحابه کرامؓ نه نودا کار بدعت دے۔

اوکومه خبره چه دروح البیان مؤلف کړیده لکه حاشیه جلالین (۳۵۷/۲) کښے دی چه دا حدیث ضعیف دے او فضائلو کښے په ضعیف حدیث هم عمل کیدے شی – دا خبره غلطه ده. ولے چه دا حدیث خو موضوع اود ځانه جوړ شویدے او په رسول الله ﷺ باندے ئے ورتپلے دے. او په موضوع حدیث باندے په اتفاق دعلماؤ سره عمل جائز نه دے. اوبل دا چه په ضعیف حدیث باندے دعمل کولو دپاره (٦) شرطونه دی. یو شرط دهغے نه دادے چه موضوع به نه وی. بل دادے چه شدید الضعف به نه وی۔

دارنگه په السنن والمبتدعات (٤٩/١) کښے دی چه دا گوتے خکلول او سترگو سره لگول جهالت او بدعت دے۔

تفصیل دپاره اوگوره فتاوی الدین الخالص (٣٠/٤) (٢٨٢/٣، ٣١١) فقه السنه (١٠٩/١) سلسله الاحادیث الضعیفه (١٠٢/١) رقم (٧٣) رد المحتار (٢٦٧/١) اصلاح المساجد ص (٣٢) کفایه المفتی (٨/٣، ١٢، ١٥، ١٨)۔

د آذان نه مخکښے او روسته بعضے بدعات

سوال : زمونږ علاقه کښے بعضے مؤذنان چه کله اذان کوی نو څوك بسم الله دآذان نه مخکښے وائی، څوك اعوذ بالله وائی. دارنگه بعضے نورو ځایونو کښے : الصلاه والسلام علیك یا رسول الله ، یا حبیب الله وائی۔

سوال دادے چه آیا دآذان نه مخکښے ذکر په سنت کښے راغلے دے اوکه نه، دارنگه بسم الله یا اعوذ بالله وغیره الفاظ وئیل دآذان نه مخکښے څه حیثیت لری ؟

جواب : ولا حول ولا قوه الا بالله۔

اذان داسلام په غټو شعائرو کښے داخل دے دارنگه آذان یو ډیر افضل او غټ عبادت دے او قانون شرعی دادے چه عباداتو کښے به دسنتو تابعداری کولے شی دځانه به هیڅ شے نه جوړوی، نو په

آحادیثو درسول الله ﷺ کښې دآذان نه مخکښې هیڅ ذکر نه دے راغلے، څوك چه بسم الله یا اعوذ بالله، یا الصلاه والسلام علیك یا رسول الله یا نور اذکار وائی نو دابدعت دے او په دین کښې دځانه عمل جوړول دی. او رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه :

من احدث في امرنا هذا ما لیس منه فهو رد – متفق علیه۔

یعنے : څوك چه زمونږ په دے دین کښې دځانه څه جوړ کړی چه هغه ددے دین نه نه وی نو هغه مردود دے --- دغه شان رسول الله ﷺ فرمائی :

کل بدعه ضلاله. یعنے : په دین کښې هر نوے شے راویستل گمراهی ده۔

اوگوره : احسن الفتاوی درشید احمد (٢٨٧/٢) القول المبین (١٧٧/٢) اود تفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص (٢٧٨/٣ – ٣١٨) اوگوره چه (٤٣) بدعات او مکروهات دآذان او اقامت په کښې جمع کړے شوی دی چه هر چاته دهغے کتل اوزده کول پکار دی۔

فتاوی حقانیه (٥٤/٣) کښې دی چه بسم الله یا اعوذ بالله دآذان نه مخکښې جهراً وئیلو نه اجتناب ضروری دے اودا زیادت علی الشرع مترادف دے۔

دارنگه اوگوره فتاوی دیوبند (١٠٦/٢)۔

سوال : په دے کښې هیڅ شك نشته چه آذان داسلام دشعائرو نه یوه غټه شعیره (علامه) ده اذان کول دآذان وخت کښې دمؤذن په شان داذان الفاظ وئیل داذان نه روسته دعا وئیل احادیثو کښې ددے فضائل راغلی دی۔ لیکن په دے پُر فتن دور کښې چه دبدعاتو ډیر زور دے دمبتدعینو نه اذان هم پاتے نشو په دے کښې هم بدعت جوړ کړیدے. څوك چه داذان نه مخکښې اعوذ بالله یا بسم الله وائی څوك الصلاه والسلام وائی څوك جل جلاله وائی څوك داذان نه روسته چه کومه دعاء ده هغے کښې ډیر الفاظ اضافه کوی په ډیرو خلقو باندے سنت اوبدعت گډوډ شویدی. زمونږ سوال دادے چه :

(١) آیا دآذان نه مخکښې بسم الله اعوذ بالله یانور اذکار سنت کښې ثابت دی اوکه نه

(٢) آیا دآذان نه روسته دعاء څرنگه ده کوم چه صحیح احادیثو کښې ثابت ده۔

(٣) آیا اذان دعاء کښې لاس اوچتول شته اوکه نه ؟

جواب : (١) داول سوال جواب مخکښې تیر شو چه دهغے حاصل دادے چه د رسول الله ﷺ په احادیثو کښې په صحیح سند سره درسول الله ﷺ نه دا نه دی ثابت چه فرمائیلی وی چه دآذان نه مخکښې دا ذکر وایئ یا داذکر کول پکار دی. دارنگه ددین مشرانو نه چه هغوی درسول الله ﷺ

ملګری صحابه کرام دی هم نه دی ثابت چه فلانی صحابیؓ دآذان نه مخکښې بسم الله یا اعوذ بالله یا الصلاه والسلام وئیلی وی. او قانون شرعی دادے کوم چه رسول الله ﷺ په دے حدیث کښې بیان کړیدے چه :

من عمل عملاً لیس علیه امرنا فهو رد۔

یعنے : چا چه یوداسے کار اوکړو چه زمونږ امر په هغې باندے نه وو نو دا مردود دے۔

بل ځائے کښې راغلی دی : کل بدعه ضلاله۔

یعنے : هر نوے کار دین کښې پیدا کول ګمراهی ده۔

دهر نوی کار مطلب دادے چه درسول الله ﷺ نه یا دهغه دصحابه کرامؓ نه نه وی ثابت دا بے شکه مردود اوګمراهی ده، هغه که په ظاهره عبادت ولے نه ښکاری. مثلاً : یو سړے دماز یګر فرض مونځ (٦) رکعته کوی نو ددے سړی دا کار به غلط وی اګرچه دے مونځ کوی، یا یو سړے داختر دمانځه نه مخکښې په عیدګاه کښې نوافل کوی نو داسړے حرام کار کوی اګرچه مونځ دے۔

داذان نه مخکښې اذکار باندے – برابره خبره ده چه الصلاه والسلام وی یا اعوذ بالله، بسم الله وی یانور اذکار وی – په دے باندے ددین اسلام حق پرستو علماؤ رد کړیدے۔

اوګوره : فتاوی الدین الخالص (۲۷۸/۳ – ۳۱۸) احسن الفتاوی (۲۸۷/۲) فتاوی دیوبند (۱۰٦/۲) فتاوی حقانیه (٥٤/۳) القول المبین (۱۷۷/۲) فتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلمیه والافتاء (۹۸/٦) (۱۰٦/٦)۔

(۳) ددریم سوال جواب دادے چه داذان نه روسته دعاء په احادیثو کښې ډیر فضیلت راغلے دے. په حدیث دعمرو بن العاصؓ کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه :

اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما یقول ثم صلوا علی ، فانه من صلی علی صلاه صلی الله علیه بها عشراً، ثم سلوا الله لي الوسیله فانها منزله في الجنه لا تنبغی الا لعبد من عباد الله وارجو ان اکون انا هو فمن سال لي الوسیله حلت له شفاعتی۔

(رواه الجماعه الا البخاري وابن ماجه)۔

یعنے : کله چه تاسو دمؤذن نه واورئ نو تاسو هم دهغه په شان وایئ اوبیا په ما باندے درود وایئ ولے چه چا په ماباندے یو ځل درود اووئیل نو الله به ددے په بدله کښې په هغه باندے لس ځله رحمتونه راولیږی، بیا ما دپاره دالله نه وسیله اوغواړئ ځکه چه دا یوه درجه ده په جنت کښې، چه صرف دالله په

بندګانو کښې دېو بنده دپاره مناسب ده، او زما امېد دے چه دغه بنده به زه یم، نو چا چه ما دپاره وسېله اوغوښته (دالله نه) نو هغه دپاره زما شفاعت حلال شو۔

لېکن دا دعا هم دهغه دعاګانو دجملې نه ده چه تر یو وخت پورے خاص ده او په دے دعاء کښې هم رفع الیدین نشته بلکه رفع الیدین (لاسونه پورته کول) په دے دعاء کښې بدعت دے. چه نه درسول الله ﷺ نه ثابت دے اونه دصحابه کرامؓ نه. اورسول الله ﷺ فرمائیلې دی چه : من عمل عملا لیس علیه امرنا فهو رد۔

یعنے : چا چه یوداسے کار اوکړو چه زمونږ امر په هغې باندے نه وو نو دا مردود دے.

اوګوره فتاوی الدین الخالص، احسن الفتاوی کښې مفتی رشید احمدؒ هم وئیلې دی چه داذان نه روسته دعاء کښې لاسونه اوچتول نه دی ثابت. (۲۹۷/۲)۔

ددویم **سوال جواب** دادے چه داذان نه روسته دعاء داده :

اللهم رب هذه الدعوه التامه والصلاه القائمه آت محمدا ا لوسیله والفضیله وابعثه مقاما محمودا الذي وعدته. (بخاری : ۸۶/۱) مسلم (۱۶۶/۱) ابوداود (۱۰۶/۱) ترمذي (۶۸/۱)۔

لېکن په دے دعاء کښې بعضے زیادات دی چه هغه یا ضعیف دی یا بدعت دے۔ لکه بیهقی کښې دا زیادت هم ورسره راغلې چه (انك لا تخلف المیعاد) اوددے روایت دوجې نه بعضے علماؤ داهم ورسره ملګرے کړیده لکه فتاوی اسلامیه کښې دی۔

لېکن دے کښې تحقیق دادے چه داروایت شاذ دے، اوشاذ دقبیلې دضعیف نه وی۔

اوګوره فتاوی الدین الخالص (۲۶۸/۳)۔

دارنګه بیهقی کښې داهم ورسره اضافه شوېده چه : (اللهم انې اسئلك بحق هذه الدعوه) لېکن داهم شاذ ده لکه څنګه چه مخکښې ذکر شو۔

دارنګه معانی الآثار په یوه نسخه کښې (سیدنا محمد) هم داذان دعاء کښې ورسره راغلې اودا هم شاذ اوښکاره مدرج دے۔

٤ – بعضے خلق داذان په دعاء کښې (والدرجه الرفیعه) هم اضافه کوی اودا الفاظ ابن السنی راوړی لېکن داهم مدرج (چا دځانه اضافه) کړیدی. ځکه ابن السنی دنسائی نه روایت کړیدے اودازیادت نه په نسائي کښې شته او نه په نورو کتابونو کښې، لکه ابن حجرؒ په التلخیص ص (۷۸) کښې اوحافظ سخاوی په المقاصد الحسنه ص (۲۱۲) کښې وئیلې دی چه دا الفاظ ددے حدیث په یو سند کښې هم

نشته۔

٥ – دارنګه بعضے خلق داذان ددعاء په آخیر کښے : (یاارحم الراحمین) هم اضافه کوی، لیکن دا هم په یو سند ددے حدیث کښے هم نه دی راغلی. اوکه دعاء چه په سند سره نه وی ثابته نودهغے به څنګه رسول الله ﷺ ته نسبت صحیح شی !

ولولا الاسناد لقال من شاء ما شاء. (مقدمه مسلم)۔

او ملاعلی قاری هم په مرقاه (١٦٣/٢) کښے په (والدرجه الرفیعه) دارنګه په (یا ارحم الراحمین) اضافه کولو باندے رد کړیدے۔

اوګوره : العرف الشذي (٥٤/) دشیخ انور شاه کشمیری ؒ۔

٦ – اوبعضے خلق د: الصلاه خیر من النوم په جواب کښے (صدقت وبررت وبالحق نطقت) وائی. نو دا هم نه دی ثابت او بدعت دی. اوګوره مرقات (٣٦٣/٢)۔

حافظ ابن حجرؒ فرمائیلی دی چه د (صدقت وبررت) هیڅ اصل نشته۔

اوګوره : تلخیص الحبیر (٢١١/١) دتفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص (٢٦٧/٣)۔

د دعاء نه پس په مخ باندے د لاس راښکلو حکم

سوال : ددعاء نه روسته په مخ باندے لاسونه راښکل دسنت مطهره نه ثابت دی اوکه نه ؟ دقرآن اوسنت په رنړا کښے جواب راکړئ !

جواب : ددعاء نه روسته په مخ باندے لاس راښکل نشته بلکه دعلماؤ په دے خبره رد کړے. ځوك چه ددعاء نه روسته په مخ باندے لاس راښکلو ته مستحب وائی نو هغه په دے باب کښے په بعضے احادیثو باندے اعتماد کړیدے. حال دا چه کوم احادیث په دے باره کښے راغلی هغه ټول ضعیف دی. لکه چه روسته به ذکر کړے شی۔

دامام احمدؒ نه چا تپوس اوکړو چه یو سړے دوترو نه دفراغت په وخت کښے په مخ لاس راکاږی۔ نو هغه ورته اوفرمائیل : لم اسمع فیه بشئ۔

یعنے ما دے باره کښے هیڅ نه دی اوریدلی. مطلب دا چه کوم حدیث یا اثر ما نه دے اوریدلے چه ځوك دعاء اوکړی نو هغه دے په مخ لاس راکاږی۔

امام ابوداوَدؒ فرمائیلی دی چه ما دامام احمدؒ اولیدلو چه کله به ئے دعاء ختمه کړه نو په مخ به ئے

لاس نه راښکلو. دارنګه دامام مالكؒ نه چا تپوس اوکړو چه ددعا نه پس په مخ باندے لاس راښکل څنګه دی، نو هغه دا منکر (بد) اوګڼړلو او وے فرمائیل : ما علمت. یعنے ددے په ثبوت باندے زه خبر نه یم۔

دارنګه د عبد الله بن مبارك نه چا تپوس اوکړو چه یو سړے دعا کوی او روسته ئے په مخ باندے راکاږی. نو هغه اوفرمائیل : سفیان ثوریؒ به دامکروه ګڼړلو۔

اوګوره قیام اللیل ص (۳۲۷)۔

دارنګه په الصحیحه (۶٤٦/۲) رقم (۵۹۵) کښے دی :

قال العز بن عبد السلام : لا یمسح وجهه بعد الدعاء الا جاهل۔

یعنے : ددعاء نه پس په مخ باندے جاهل انسان لاس راښکاږی۔

امام نووی په المجموع کښے فرمائی : لایندب ذلك. یعنے داکار مستحب نه دے۔

اوګوره : ارواء الغلیل (۱۸۲/۲) العلل المتناهیه وتعلیقه (۳۵۷/۲)۔

شیخ الاسلام ابن تیمیہؒ په مجموعه الفتاوی (۵۱۹/۲۲) کښے داسے فرمائی :

واما مسحه وجهه بیدیه فلیس عنه فیه الا حدیثا اَوحدیثان لا یقوم بهما حجه۔

یعنے : ددعاء نه روسته په مخ باندے لاس راښکلو باره کښے صرف یو دوه حدیث راغلی دی چه هغه هم قابل ددے نه دی چه دلیل شی (ځکه ضعیف دی)۔

امام بیهقی په السنن الکبری (۲۱۲/۲) کښے فرمائی :

فاما مسح الوجه بالیدین عند الفراغ من الدعاء فلستُ احفظه من السلف في دعاء القنوت. وان کان یروی عن بعضهم في الدعاء خارج الصلاه، وقد روی فیه عن النبی ﷺ حدیث فیه ضعف۔

یعنے : ددعاء قنوت دختمیدلو نه پس په مخ باندے لاس راښکلو متعلق ماته دسلفو هیڅوك هم نه دے معلوم چه هغه دے په مخ باندے لاس راښکلے وی. البته دمانځه نه بهر دعاء کښے په اخیره کښے په مخ باندے لاس راښکل نو دبعضے علماؤ نه دا نقل دی چه هغوی دے کارته جائز وئیلی دی، او په دے کښے یو ضعیف حدیث هم شته۔

په فقه الادعیه والاذکار (۱۹۵/۱) کښے عبد الرزاق بن عبد المحسن البدر وئیلی دی چه ددعاء نه روسته په مخ باندے لاس راښکل نشته اوکوم احادیث چه دے موضوع کښے راغلی هغه ثابت نه دی

--- دارنګه جزء في مسح الوجه والیدین بعد رفعهما للدعاء للشیخ بکر ابوزید حفظه الله کښے هم دا

خبره لیکلې ده۔

د هغه احادیثو تفصیل چه په دے باره کښې راغلی دی

امام بیهقی په الدعوات الکبیر کښې، ابوداود په خپل سنن (۲۱٦/۱) کښې حدیث راوړیدے چه سائب بن یزید دخپل پلار نه روایت کوی:

۱ – ان النبی ﷺ کان اذا دعا فرفع یدیه مسح وجهه بیدیه۔

یعنے: نبی ﷺ به چه کله دعاء دپاره لاس پورته کړل نو دواړه لاسونه به ئے په مخ باندے راښکل. اوګوره مشکاه (۲۰۵/۱). لیکن دا روایت ددوو وجهو نه ضعیف دے:

(۱) ددے په سند کښې ابن لهیعه دے او هغه ضعیف دے۔

(۲) ددے حدیث په سند کښې حفص بن هشام دے او هغه مجهول دے۔

۲ – دویم حدیث: امام ترمذی راوړیدے:

عن عمر قال: کان النبی ﷺ اذا رفع یدیه في الدعاء لا یحطهما حتی یمسح بهما وجهه۔

وکذا اخرجه الحاکم في المستدرك (۵۳٦/۱) --- لیکن دا حدیث هم ضعیف دے. ددے په سند کښې حماد بن عیسی دے او هغه ضعیف دے۔

۳ – دریم حدیث: امام ابوداود په خپل سنن (۲۱٦/۱) کښې ابن ماجه (۱۸۱/۱) او (۸٦٦) حاکم (۵۳٦/۱) طبرانی في الکبیر ابن نصر په قیام اللیل کښې راوړیدے ص (۳۲۷) دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے:

قال قال رسول الله ﷺ: اذا دعوت الله فادع ببطون کفیك ولا تدع بظهورها فاذا فرغت فامسح بهما وجهك۔

داحدیث هم ضعیف دے چه ددے په سند کښې ابن حسان دے اودا منکر الحدیث دے. اودا حدیث بیهقی په (۲۱۲/۲) حاکم (۲۷۰/٤) کښې هم روایت کړے اوهم تول ضعیف سندونه دی چه تفصیل ئے په ارواء الغلیل (۱۷۹/۲) کښې کتلے شئ۔

٤ – څلورم حدیث: امام بخاری په ادب المفرد ص (۱۵۹) رقم (٦۰۹) کښې راوړے.

عن ابي نعیم وهو وهب قال رأیت ابن عمر والزبیر یدیران بالراحتین علي الوجه۔

لېکن دا هم ضعیف دے لکه په ضعیف دادب المفرد ص (٦١) کښې البانی رحمه الله هم ذکر کړے ځکه دے سند کښې محمد بن فلیح عن ابیه راغلے او په دے دواړو کښې کلام دے. لکه ابن حجرؒ په التقریب (٤٤٨، ٥٠٢) کښې فرمائی :

فلیح بن سلیمان بن ابي المغیره صدوق کثیرالخطاء۔

اود فلیح دځوئے په باره کښې وائی : صدوق یهم. او بعضے علماء وائي چه د صحابي دا اثر حسن درجے ته رسیږي۔

او اعلاء السنن (٣/٣٠٩) کښې دترمذی اوابوداود داحادیثو ذکر کولو نه روسته مولانا ظفر احمد عثمانی لیکی چه مجموعه احادیث دباب دحسن درجے ته رسیږی . لیکن دده داخبره خطاء ده، ځکه ضعیف احادیث چه دحسن درجے ته رسیږی هغه خپل شروط لری اودلته هغه شروط نشته۔

حاصل : دجواب داشو چه ددعاء نه روسته په مخ باندے لاس راښکل د رسول الله ﷺ نه نه دی ثابت اوکوم احادیث چه دثبوت دپاره پیش کولے شی هغه ضعیف دی. او په ضعیف حدیث سره حکم شرعی نه ثابتیږی۔

او ثوك چه دعاء نه روسته په مخ باندے لاس راښکل لازم ګنړی اونه کونکو ته بد ګوری نو داخو ډیر قبیح عمل دے، ځکه التزام دامر مستحب هم جائز نه دے، بلکه ددے ترك کول ضروری دی لکه داخبره احناف علماء هم لیکلے چه : مستحب کار خلق لازم ګنړی نو دهغے پریخودل ضروری دی . اوګوره احسن الفتاوی (١/٣٦٦)۔

د فرض مانځه نه پس په سر باندے دلاس کیخودلو حکم

سوال : بعضے خلق چه کله مونځ اوشی نو په سر لاس کیدی آیا داعمل په سنت کښې شته اوکه نه ؟ بعضے خلق فتاوی رشیدیه حواله ورکوی چه هلته ئے دا عمل ثابت ګرځولے دے .دقرآن اوسنت په رنړا کښې جواب راکړئ !

جواب : ولا حول ولا قوه الا بالله۔

دمانځه نه روسته په سر لاس ایخودل په سنت کښې نشته بلکه دا یو بدعت عمل دے چه بعض مبتدعینو دځانه جوړ کړیدے . رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

من احدث في امرنا هذا مالیس منه فهو رد۔

یعنې : چاچه زمونږ په دې دین کښې هغه شے راپیدا کړو چه په دے کښې نشته نو هغه مردود دے۔

اوکوم خلق چه دفتاوی رشیدیه حواله ورکوی نو فتاوی رشیدیه کښې ئے خو په هیڅ یو کتاب دحدیثو هم حواله نه ده ورکړے، نو هغه یو بے دلیله خبره ده۔

البته دے باره کښې یو حدیث ذکر کیږی کوم چه طبرانی او بزار روایت کړیدے لکه مجمع الزوائد (۱۱۰/۱۰) کښې دی :

عن انس بن مالك ان النبی ﷺ كان اذا صلی وفرغ من صلاته مسح بيمينه علی رأسه وقال : بسم الله الذي لا اله الا هو الرحمن الرحيم اللهم اذهب عنی الهم والحزن۔

دا حدیث ضعیف جداً (ډیر ضعیف) دے لکه امام البانی ؒ په ضعیف الجامع رقم (۴۴۲۹) اوسلسله الاحادیث الضعیفه (٦٦٠) کښې دیته ضعیف جداً وئیلی دی، ځکه دے کښې درے راویان دی یو ضعیف دے بل کذاب دے او بل متروك دے۔

اودے فعل ته صاحب السنن والمبتدعات ص (۷۱) کښې هم بدعت قبیحه وئیلے دے دارنگه فتاوی اللجنه (۴۹٤/۲) او فتاوی هیئه کبار العلماء (۳۵۲/۲) کښې هم دیته بدعت وئیلے دے. اوگوره فتاوی الدین الخالص (۲۳۰/۲، ٤٦٩/٤)۔

د شیعه گانو عقائد

سوال : یو عالم خلقو ته وائی چه ټول مسلمانان یو جنت ته به ځو که هغه سنی دے اوکه شیعه دے ځکه شیعه گان هم مسلمانان دی. زمونږ سوال دادے چه دشیعه گانو څه عقائد دی ؟ که تاسو یو څو عقائد مونږ ته پیش کړئ نو دابه ښه وی !

جواب : مسلمانانو ورونو ! دا یو څو عقیدے دشیعه گانو ستاسو مخکښې عرض کول غواړو، دے دپاره چه تاسو سوچ اوکړئ چه آیا شیعه گان دکائناتو بدترین کافر دی اوکه نه ؟ بعضے خلق دجهالت، ناپوهئ او عناد په وجه یا دووټ داخستو په طمع شیعه گانو ته کافر نه وائی. هغوئ دے په دے راتلونکو عقائدو دشیعه گانو کښې سوچ اوکړی اود انصاف په نظر دے اوگوری .او زمونږ دا یقین دے چه ان شاء الله ددے عقائدو دلیکلو نه روسته به هیڅ یو مسلمان دشیعه گانو په کفر کښې هیڅ قسم شك اونه کړی. عقائد مختصر معه حواله دادی :

۱ – اوله عقیده دشرك ده :

اصول کافی (دشیعه ګانو داحادیثو معتبر کتاب دے هغے) کښے محمد بن یعقوب لیکی : چه زمکه توله زمونږ دامام په اختیار کښے ده، او دنیا او آخرت هم دامام په اختیار کښے دے. اصول کافی ص (۲۵۹) دارنګ رجال کشی ص (۱۳۸) کښے لیکی چه : علیؓ اول هم دے او آخر هم دے، ظاهر هم دے اوباطن هم دے، اود زمکے وارث هم دے. دارنګه خمینی کافر په خپل کتاب کشف الاسرار ص (۱۲۰) کښے لیکی چه : قبر ته سجده کول، اود اولیاؤ او امامانو نه مدد غوښتل (لکه یا علی مدد وغیره وئیل) توحید دے، اوشرك نه دے.

دارنګه مقبول احمد ص (۳۳۹) په تفسیر د : اشرقت الارض کښے لیکی چه : امام دزمکے رب دے کله چه امام راوزی نو دهغه نور کافی دے. او نمر اوسپوګمئ ته حاجت نشته. دارنګه اصول کافی ص (۸۳) کښے لیکی چه : مونږ شیعه ګان دالله ژبه یو اومونږ دالله مخ او سترګے یو وغیره کفری او شرکی الفاظ.

۲ – دویمه عقیده دعلمِ غیب ده :

کلینی اصول کافی ص (۱۱۷) (۱٦۰) (۲۷۸) کښے لیکی چه : زمونږ دولس امامان په ماکان او مایکون باندے پوهیږی، اود جنت او جهنم اختیار ددوئ سره دے، او امامان پخپل اختیار باندے مری، دالله پاك واك نشته دے. (والعیاذ بالله) !

۳ – دریمه عقیده : دنسبت دناپوهئ دے الله تعالی ته : چه الله پاك په راتلونکو حالاتو او اوقاتو عالم نه دے، او دیته دوئ عقیده د (بداء) وائی.

اصول کافی ص (٤۰) باب البداء.

٤ – څلورمه عقیده داده : چه دوی وائي : زمونږ دولس امامان معصوم دی یعنے هیڅ قسم ګناه نه کوی اود تولو پیغمبرانو نه دوئ غوره او بهتر دی.

۵ – پنځمه عقیده داده : چه د مسلمانانو دیرش سپارے قرآن اصل قرآن نه دے بلکه دے کښے تحریف شویدے، او اصل قرآن دامام غائب سره دے چه روسته به راوزی اودا موجوده قرآن شراب خورو خلفاؤ دځانه جوړ کړیدے.

اوګوره : فصل الخطاب في اثبات تحریف کتاب رب الارباب، طبع ایران ص (۱۸۰) او اصول کافی ص (۲٦٤)، حیاه القلوب : ۱۰/۳، مصنف مرزا بشارت حسین، الانوار النعمانیه (۳۵۷/۲، مرآه العقول في شرح اخبار الرسول (۵۲۵/۱۲، المقدمه السادسه من تفسیر الصافي (۲۵/۱) ترجمه

تفسیر مقبول دهلوي ص (۳۸٤) وغیره۔

٦ – شپږمه عقیده داده : چه کله امام غائب راشي نو محمد علیه السلام، حسن او حسین تول به ورسره بیعت کوي اود هغه تابعداري به کوي۔

اوګوره حق الیقین (۲٤۷) تفسیر منهج الصادقین ص (۲٥٦) فروع الکافي (٥۲/۳)۔

۷ – اوومه عقیده داده : چه دڅلورو بتانو نه بیزاري فرض ده چه هغه : ابو بکر، عمر، عثمان او معاویه (رضی الله عنهم) دي. اود څلورو ناکاره زنانو نه بیزاري فرض ده چه هغه : عائشه، حفصه، ام الحکم او هنده (رضی الله عنهن) دي. اومسلمان هله شي چه ددوئ نه بیزار شي.(حق الیقین ص ٥۱۹ حیات القلوب ص ۸٥٤)۔

۸ – اتمه عقیده داده :چه درسول الله ﷺ یوه لور فاطمه وه. او زینب، ام کلثوم او رقیه درسول الله ﷺ لونړه نه دي۔

فیض الاسلام ص (٥۱۹) فروع الکافي (۲۲/۲) الاستغاثه في بدع الثلاثه۔

۹ – نهمه عقیده داده : چه صحابه تول کافران او مرتد شویدي خصوصاً: ابو بکر، عمر، عثمان او معاویه (رضی الله عنهم). مګر حسن، حسین، مقداد اوابو ذر (رضی الله عنهم) مسلمانان دي. فروع کافی ص (۱۱٥). کتاب الروضه حق الیقین (٥۲۲)۔

۱۰ – لسمه عقیده دتقیه ده :

یعنے دوی وائي : دروغ وئیل فرض دي، که چا اونه وئیل نو هغه جنت ته نشي تلے، او علی‌رض هم شیعی وو، لیکن دصحابؓ نه یریده، نو ځان ئے مسلمان خکاره کړے وو. ورنه هغه شیعه وو او زمونږ ملګرے وو. اصول کافی ص (۱۷۱)۔

۱۱ – یولسمه عقیده دمتعے ده :

یعنی زنا کول هغوئ ضروری ګڼړي، او وائي چاچه متعه اونکړه نو جنت ته نشي تلے. اوګوره منهج الصادقین ص (۳٥٦) اود متعے فضائل بیانوي : چه چا متعه اوکړه او بیا غسل کوي نو دهر څاڅکي نه به ملائك پیدا کیږي اودده دپاره به بخښنه غواړي، اوکله چه سړے پردئ زنانه دلاس نه اونیسي نو تول ګناهونه ترے رژیږي. ص (۳٥٦)۔

۱۲ – دولسمه عقیده داستعاره الفرج ده : یعنی دیو سړي ښځه، مور، خور او لور انسان دیو شپے دپاره په سوال راوستلے شي اود هغے سره زنا کولے شي داجائز او روا کار دے ددوئ په نیز. اوګوره

الاستبصار (۱۳٦/۳) فروع الکافي (۲۰۰/۲)۔

۱۳ – دېارلسمه عقېده : زنانه سره دلواطت ده : يعنی زنانه ته باقاعده په دُبر کښې راتلل (شا طرفنه) جائز دی. الاستبصار (۲٤۳/۳)۔

۱٤ – څوارلسمه عقېده داده : چه امام غائب ژوندے دے او په وريځ کښې ناست دے او روسته به راکوزېږی او عائشهؓ به راژوندئ کړی او حدِ زنا به پرے قائم کړی (والعياذ بالله)۔

۱۵ – پنځلسمه عقېده دکربلا دخاورے ده : يعنی بغېر دکربلا دخاورے نه سجده په بله خاوره نه کېږی۔

۱٦ –شپاړسمه عقېده داده : چه نجات په ځان وهلو او ګرېوان شلولو کښې دے په حضرت حسېنؓ باندے۔

۱۷ – اوولسمه عقېده دبهتان ده : چه عائشهؓ دصفوان بن المعطل صحابیؓ سره زنا کړېده (والعياذ بالله) سره ددے چه دعائشهؓ پاکی او صفائی په قرآن سره شوېده. خو دوئ قرآن کله منی !

۱۸ – اتلسمه عقېده داده : چه اصل کښې پېغمبر حضرت علیؓ دے، لېکن جبرئېل خطاء شو او وحی ئے محمد علېه السلام ته اوکړه۔

۱۹ – نولسمه عقېده داده : چه په اودس کښې دخپو وېنځل نشته بلکه دخپو مسح فرض ده۔

۲۰ – شلمه عقېده دامامت ده : يعنی فرضی (دځانه) امامان ئے جوړ کړی دی چه دولس دی، دوئ وائی داامامانو سلسله په دولسم امام (امام غائب) باندے اودرېده ځکه دولسم امام ژوندے دے په وريځ کښې ناست دے او چه کله وريځ نه وی نو په بصره کښې يو غار کښې ناست وی، اوددے امامانو متعلق دوئ دا عقېده ساتی چه تولو انبياؤ نه دوئ غوره او بهتر دی. اوچونکه دا عقېده دفرضی امامانو په قرآن کريم کښې نشته (اونه په سنت کښې) نو دوئ دقرآن کريم نه مکمل انکار اوکړو او وے وئېل چه اصل قرآن اتيا زره آيته دی دامام غائب سره چه ددے موجوده قرآن نه په کښې يو حرف هم نشته. اوهرکله چه داحادېثو راويان صحابهؓ وو، اودوئ تولو صحابوؓ ته کافر وائی نو لهذا دوئ د احادېثو نه مکمل انکار اوکړو. او خپل داحادېثو دروغژن کتابونه ئے اولېکل چه دا سو چه دروغ دی

نو هر مسلمان له پکار دی چه دخپلے عقېدے حفاظت اوکړی او ددے عقائدو نه خپل ځان هم بچ اوساتی او بل ته هم دعوت ورکړی چه ددے نه ځان اوساتی۔



بسم اللہ الرحمن الرحیم

کتاب الطهارۃ

د پاکوالۍ او اوداسه بیان

د قضائے حاجت آداب

سوال : په تشو اودکو متیازو کښے سنت طریقه څه ده ؟ مونږ ته دقرآن او حدیث په رنړا کښے جواب راکړئ. وجزاکم الله خیراً۔

جواب : اسلام یو جامع دین دے مونږ ته ئے دتول ژوند آداب بیان کړیدی چه داکار کوئ اوددے بل څیز نه ځان ساتئ. تردے چه دمتیازو کولو آداب ئے هم بیان کړیدی. چه زه دهغے نه بعضے ضروری آداب ذکر کووم :

۱- اول ادب : دادے چه کله یو کس دمتیازو کولو اراده اوکړی نو پکار دی چه دخلقو نه لرے لاړ شی اود خلقو نه پټ شی .اودا سنت طریقه ده . اونزدے ځائے کښ تشے متیازے کول هم رخصت دے۔

په دے خبره دلیل چه دمتیازو دپاره لرے تلل سنت طریقه دادے :

ابوداود (۲/۱) کښے داجابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دے :

ان النبی ﷺ کان اذا اراد البراز انطلق حتی لایراه احد . وسنده صحیح۔

ترجمه : رسول الله ﷺ به چه کله دقضائے حاجت اراده اوکړه، نو دومره به لرے لاړو چه چابه نه لیدلو۔

بل حدیث دمغیره بن شعبهؓ نه روایت دے هغه فرمائی :

ان النبی ﷺ اذا ذهب المذهب ابعد ۔

ترجمه : نبی کریم ﷺ به چه کله دقضائے حاجت اراده اوکړه نو لرے به تللو۔

دا حدیث هم ابوداود په صحیح سند سره روایت کړیدے۔

۲ - دویم أدب : کله چه بیت الخلاء ته ننوځی یا صحراء کښ قضائے حاجت کینی نو مخکښے دا دعاء لوستل سنت دی :

اللهم انې اعوذ بك من الخبث والخبائث ۔

ترجمه : اے الله ! زه په تاسره دناریینه اوزنانه شیطانانو نه پناه غواړم۔

مصنف ابن ابي شیبه، صحیح ابي داود للالبانی. صحیح الجامع الصغیر (۸٦٠/۲) رقم

(٤٧١٤) کښې دي : کان اذا دخل الکنف قال : بسم الله اللهم انی اعوذ بك من الخبث والخبائث . ومثله اخرجه البخاري(٢٦/١) ومسلم (١٦٣/١) وابوداود (٢/١) .

په حديث کښې د (خبث) لفظ په ضمه دخاء او باء سره وئيل پکار دي، لکه داخبره علامه خطابي په معالم السنن کښې کړيده، او وئيلي ئے دي چه څوك په سکون دباء سره ئے وئيل غلط دي. او څينے وائي چه دا هم صحيح دي .

او رسول الله ﷺ په دے ذکر لوستلو باندے امر کړے لکه ابوداود (٢/١) کښې دي : فليتعوذ بالله. يعنے چه کله بيت الخلاء ته ننوځي نو په الله سره پناه اوغواړي.

دارنګه ددے کلماتو بله فائده داده چه ددے په وئيلو سره دانسانانو اوپيريانو مينځ کښې پرده واقع کيږي، او پيريانو ته دانسانانو عورت نه ښکاري .

لکه دعلي رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي :

ستر ما بين أعين الجن وعورات بني آدم اذا دخل احدکم الخلاء ان يقول : بسم الله.

ترجمه : دپيريانو سترګو اود انسانانو دعورتونو ترمينځ پرده - هرکله چه پتاسو کښې څوك بيت الخلاء ته ننوځي - بسم الله وئيل دي.

دا حديث صحيح دے .(ارواء الغليل : ٨٨/١، رقم ٥٠).

اودا حديث ترمذي (١٠/١) ابن ماجه رقم (١٩٧) او ابن سني رقم (٢١) کښې روايت کړيدے. نو داسے وئيل پکار دي : (بسم الله اللهم اني اعوذ بك من الخبث والخبائث).

٣ - دريم أدب : کله چه قضائے حاجت (متيازو) ته کيني نو ترڅو چه زمکے ته نزدے شوے نه وي نو لمنه دځانه پورته کول نه دي پکار دي. بلکه سنت طريقه داده چه کله زمکے ته نزدے شي نو بيا دے لمنه راپورته کړي. لکه ابوداود کښې دي :

عن النبي ﷺ انه کان اذا اراد الحاجه لا يرفع ثوبه حتی يدنو من الارض. (٤/١).

(رسول الله ﷺ به چه کله دقضائے حاجت اراده اوکړه نو جامه به ئے ترهغے پورے نه اوچتوله چه زمکے ته به لا نزدے شوے نه وو).

اوګوره سلسله الاحاديث الصحيحه (٦٠/٣) رقم (١٠٧١).

اوددے حديث سند هم صحيح دے په شواهدو سره.

٤ - څلورم ادب : کله چه دبيت الخلاء نه راوځي نو : غفرانك وئيل سنت دي .اودا حديث ترمذي

(۱۲/۱) دارمي (۱۷٤/۱) ابن سني رقم (۲۲) حاکم (۱۵۸/۱) او بیهقي (۹۷/۱) روایت کړے او سند ئے صحیح دے۔

تنبیه : دے کښے بعضے خلق د : (غفرانك) سره (ولا عذابك) لفظ هم اضافه کوی، لیکن دا زیادت بدعت دے . اوګوره السنن والمبتدعات ص (۲۲) .

دبیت الخلاء نه دوتلو په وخت یو بل ذکر هم راغلے چه هغه ضعیف دے یعنے :

الحمد لله الذي اذهب عني الاذى وعافاني .

دا حدیث ابن ماجه رقم (۳۰۱) کښے ذکر دے لیکن دا ضعیف دے . دے کښے ا سماعیل بن مسلم راوی دے اود هغه په ضعف باندے اتفاق دے . نو صحیح داده چه صرف (غفرانك) اووئیلے شی۔

دے کښے داخبره یاد ساتل پکار دی چه دا اذکار به هغه وخت هم وئیلے شی چه صحراء کښے یوکس قضائے حاجت دپاره کینی .اودے کښے (اذا دخل الخلاء) لفظ قید اتفاقی دے . ځکه بعضے احادیث مطلق راغلی۔

۵ - پنځم ادب : دقضائے حاجت په وخت به قبلے ته مخامخ نه کینی، اونه به قبلے ته شاګرځوی، که ډکے متیازے کوی اوکه تشے . که په صحراء کښے وی اوکه په آبادئ کښے . اوهمدا قول دعلماؤ راجح دے۔

او دلیل په دے باندے حدیث دابو ایوب انصاری رضي الله عنه دے هغه فرمائی چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے :

اذا أتي احدكم الغائط فلا يستقبل القبله ولا يولها ظهره، ولكن شرقوا او غربوا .

رواه البخاري (۲٦/۱) ومسلم (۱۳۰/۱) والترمذي (۸/۱) .

ترجمه : کله چه تاسو قضائے حاجت کوئ نو مه قبلے طرفته مخ کوئ اومه ورته شا کوئ بلکه مشرق یا مغرب طرفته مخ کوئ . (دمدینے والو قبله جنوب طرفته ده. نو هغوئ به جنوب اوشمال طرفته په وخت دقضائے حاجت کښے نه مخ کوی. اومونږ به مشرق او مغرب طرفته نه مخ کوو) -----او یو بل روایت کښے دی :

فاتينا الشام فوجدنا مراحيض قد بنيت قبل القبله فننحرف ونستغفر الله .

ترجمه : مونږ شام ته لاړو هلته قبلے طرفته بیت الخلاء ګانے جوړ شوے وے . نو مونږ به دهغے نه کاږه کیناستلو او استغفار به مو کولو .مشکاة (٤۳/۱) .

دارنګه دسلمان رضی الله عنه په روایت کښې هم راځی :

نهانا رسول الله ﷺ ان نستقبل القبله لغائط اوبول – متفق علیه .

ترجمه : رسول الله ﷺ مونږه ددے نه منع کړې ېو چه دقضائے حاجت په وخت دے قبلے طرفته مخ کړو۔

٦ – شپږم ادب : دډکو متېازو نه روسته درے کانړی استعمالول واجب دی. په دے شرط چه په اوبو سره استنجاء نه کوی. ځکه حدېث دسلمان رضی الله عنه کښې دی :

ونهانا رسول الله ﷺ ان نستنجی باقل من ثلاثه احجار.

(رسول الله ﷺ مونږ ددے نه منع کړې ېو چه ددرے کانړو نه په کمو باندے استنجاء اوکړو) .دا حدېث بخاری اومسلم راوړېدے . مشکاه (٤٢/١)۔

دغه شان دابن ماجه (٥٧/١) اودارمی (١٨٣/١) په حدېث کښې دی :

عن ابي هرېره رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : انما انا لکم مثل الوالد لولده، اعلمکم .اذا أتېتم الغائط فلا تستقبلوا القبله ولا تستدبروها . وامر بثلاثه احجار۔

ترجمه : ابو هرېرهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائېلے دے : بېشکه زه تاسو دپاره په تعلېم درکولو کښې دپلار پشان ېم . نو کله چه تاسو دقضائے حاجت اراده اوکړئ نو مه قبلے ته مخ کوئ اومه ورته شاکوئ . او رسول الله ﷺ دقضائے حاجت دپاره په درے کانړو استعمالولو باندے حکم کړېدے۔

دا حدېث ابوداود هم روایت کړېدے . اوګوره مشکاه (٤٢/١) . اوسند ئے صحېح دے . په دے معنی باندے نور ډېر احادېث راغلی . اوګوره فتاوی الدېن الخالص (٣٩١/١) .

په دے کښې صرف دډکو متېازو دپاره درے کانړی استعمالول ضروری دی . باقی دتشو متېازو دپاره راجح دادی چه درے کانړی استعمالول ضروری نه دی، ځکه عام احادېثو کښې درے کانړی استعمالولو باندے امر راغلے چه دډکو متېازو دپاره ځی نو ځانه سره درے کانړی وړل ضروری دی . اودا درے کانړی استعمالول واجب دی . ځکه رسول الله ﷺ په دے باندے امر کړېدے۔

اوڅوك چه درے کانړی لازم نه ګڼړی نو دهغوئ دلائل ضعېف دی لکه ېو حدېث دابوداود باندے استدلال کوی چه :

من فعل ذلك فقد احسن، ومن لا فلا حرج . (٦/١) .

نوداحدېث ضعېف دے . په سند کښې دوه راوېان مجهول دی .

دویم استدلال: ددوئ په حدیث دابن مسعودؓ کوی چه هغه وائی:

انه اتاه بحجرین وروثه فالقی الروثه.

یعنې: ابن مسعودؓ رسول الله ﷺ ته دقضائے حاجت دپاره دوه کانړی او غاشنه راوړو، رسول الله ﷺ دخره غاشنه - غوشیان - گوذار کړل.

نوددے نه - دوئ وائی - معلومه شوه چه رسول الله ﷺ په دوه کانړو استنجاء کړیده.

لیکن دا استدلال دیو څو وجهو نه غلط دے:

۱ - اول دا چه: ددغه حدیث په بل سند کښے داسے راغلی دی چه:

ائتنی بحجر ثالث - یعنې ما له بل کانړے راوړه.

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۲۰۷/۱) کښے وئیلی دی چه ددے حدیث سند متصل شته دے، نو څوک دے دانه وائی چه ددے حدیث سند منقطع دے.

۲ - دویم دا چه: که دا اومنلے شی چه ددے حدیث سند ضعیف دے بیا هم دانه ثابتیږی چه درے کانړی لازم نه دی ځکه مخکښې ذکر شو جه په ډیرو احادیثو کښے په دریو کانړو باندے په صراحت سره امر راغلے دے. اودا حدیث خو نص نه دے په دے کښے چه درے کانړی ضروری نه دی.

۳ - بل دا چه قولی حدیث ته ترجیح وی په مقابل دفعلی حدیث کښے، ځکه فعل کښے ډیر احتمالات وی، لکه دا خبره په اصولو او مصطلح الحدیث کښ ذکر ده.

اوگوره فتاوی الدین الخالص (۳۹۳/۱).

کله چه دډکو متیازو نه روسته کاغذ (تائلیټ پیپر) استعمال شی نو بیا به د اودس خت کښے په اوبو ضرور استنجاء کولے شی.

۷ - اووم أدب: دادے چه په دے مذکوره څیزونو باندے دے استنجاء اونه کړے شی ځکه چه په دے باندے استنجاء جائز نه ده. دهغے تفصیل دادے چه حدیث کښے دی:

عن ابن مسعود رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لا تستنجوا بالروث ولا بالعظام فانها زاد اخوانکم من الجن.

اخرجه الترمذی (۱۱/۱) والنسائی (۱٦/۱).

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: چه تاسو په غوشیانو او هډوکو باندے استنجاء مه کوئ ځکه چه دا ستاسو دپیریانو ورونو توښه ده.

دارنګه بل حدیث کښې دی:

عن ابن مسعود قال: لما قدم وفد الجن علی النبی ﷺ قالوا: انه امتك ان یستنجوا بعظم او روثه او حممه فان الله جعل لنا فیها زرقا. - اخرجه ابوداود (٦/١).

ترجمه: عبد الله بن مسعودؓ فرمائی: کله چه دجناتو وفد رسول الله ﷺ ته راغے نو عرض ئے وکړو: خپل امت ددے نه منع کړه چه دوئ په هډوکی یا غاشنو یا سکرو باندے استنجاء اوکړی، ځکه الله تعالی په دے کښې مونږ دپاره رزق ایخے دے۔

نودے حدیث نه معلومه شوه چه په لاندینو څیزونو استنجاء نه کیږی:

١ - هډوکو باندے. ٢ - دحیواناتو په غوشیانو باندے۔

٣ - سکرو باندے. ٤ - په خوراکی موادو - لکه روتئ وغیره - باندے.

ددرے وجهو نه:

اول: په دے کښې اسراف راځی او اسراف حرام دے۔

دویم: دادب نه خلاف دی. اوحدیث کښې راځی: اکرموا الخبز (دروتئ عزت کوئ). اودا حدیث حسن دے په اعتبار دسند سره۔

اوګوره: صحیح الجامع الصغیر (٢٦٥/١) رقم الحدیث (١٢١٩).

٥ - په هغه تولو څیزونو باندے استنجاء منع ده چه په هغے سره انسان ته ضرر رسیږی لکه شیشه باندے استنجاء یا بل داسے شی باندے چه په هغے سره انسان ته ضرر رسیږی. ځکه حدیث کښې راځی: لا ضرر ولا ضرار. وسنده صحیح. (ارواء الغلیل: ٤٠٨/٣).

(یعنے نه ځانته ضرر ورکول جائز دی اونه بل ته)۔

اوچه په دے څیزونو استنجاء اوشی نودا ځانته ضرر ورکول دی۔

فائده: په هغه کاغذ (تائیلټ پیپر) باندے هم استنجاء جائز ده کوم چه ددے دپاره جوړ کړے شویدے. لیکن په سپین کاغذ چه دلیکلو دپاره وی استنجاء کول مناسب نه دی، ځکه چه په دے کښې دوه ضرره دی. یو خو اسراف دے. دویم بے ادبی ده. ولے چه زمونږ دین کښې ادب یو لوئے حیثیت لری۔

٨ - اتم ادب: دادے چه استنجاء (ځان پاکول) به په ښی لاس نه کوی بلکه چه کله انسان اوبه استعمالوی یاکاڼړی استعمالوی نوداکار به په ګس لاس سره کوی.

اودلیل په دے خبره حدیث شریف دے :

عن ابي قتاده رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : اذا شرب احدکم فلا یتنفس في الا ناء، واذا دخل في الخلاء فلایمس ذکره بیمینه، ولا یتمسح بیمینه.

اخرجه البخاری (۷۲/۱) ومسلم (۳۰/۱) ' انظر المشکاه (٤٢/١).

ترجمه : ابو قتادهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : کله چه پتاسو کښے څوک څکل کوی نو په لوښی کښے دے دننه ساه نه اخلی، اوکله چه بیت الخلاء ته ننوځی نو خپل ذکر (اندام مخصوصه) له دے ښے لاس نه وروړی، اونه دے په ښی لاس سره استنجاء کوی.

۹ – نهم ادب : دادے چه دمتیازو کولو وخت کښے دے دمتیازو نه ځان اوساتل شی. ځکه داد عذاب قبر سبب جوړیږی.

اودلیل په دے خبره داحدیث دے :

عن ابن عباس قال : مر النبی ﷺ بقبرین فقال : انهما لیعذبان ، وما یعذبان في کبیر، اما احدهما فکان لایستنزه من البول، واما الآخر فکان یمشی بالنمیمه. الحدیث. متفق علیه.

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائی : نبی کریم ﷺ په یودوه قبرونو باندے تیر شو. ارشاد ئے اوفرمایه : دے دواړو قبرونو والو ته عذاب ورکولے کیږی. او څه لوئے څیز باندے دے دواړو ته عذاب نه ورکولے کیږی (چه ګنے ددے پریخودل په دے دواړو ګران وو) هرچه دا یو کس دے نو ده به دمتیازو نه ځان نه ساتلو. او دے بل به چغل خوری کوله.

۱۰ – لسم ادب : دادے چه په ګودر کښے، په لاره کښے، دمیوه دارے اونے لاندے، دنهر په غاړه کوم ځائے چه اوبه جمع کیږی په دے ځایونو کښے قضائے حاجت کول جائز نه دی. لکه احادیثو کښے راځی :

عن ابي هریره رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : اتقوا اللاعنین. قالوا : وما اللاعنان یارسول الله ! قال : الذی یتخلی في طریق الناس، اوظلهم. رواه مسلم.

ترجمه :ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : تاسو ددے قابلِ لعنت څیزونو نه ځان اوساتئ. صحابوؓ عرض اوکړو : قابلِ لعنت څیزونه څه دی ؟ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : دخلقو په لارو یا سورو کښے اودس ماتے کول. مشکاه (٤٢/١).

بل حدیث کښے دی :

اتقوا الملاعن الثلاثه : البراز في الموارد، وقارعه الطريق، والظل .
رواه ابوداود وابن ماجه وسنده صحيح .
ترجمه : ځان اوساتئ دهغه درې ځيزونو نه چه هغه سبب دلعنت ګرځی :اودس ماتے کول په ګودر کښې، او په مېنځ دلاره کښې او په سوری کښې .
بل حديث کښې دابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دے چه رسول الله ﷺ دمېوه دارے اونے لاندے اودهغه نهر په غاړه چه دهغه اوبه جاری وی دادوس ماتی کولو نه منع فرمائيلے ده .
اودا حديث طبرانی روايت کړيدے په حسن سند سره. لکه داخبره علامه البانیؒ په ارواء الغليل (۱۰۲/۱) کښې کړيده. اوددے حديث ئے څلور طريقے راوړی دی. اوګوره نيل المرام شرح بلوغ المرام (۷۷/۱) للشيخ ابو عمر عبد العزيز النورستانی حفظه الله .
۱۱ - يولسم أدب : دمسجد دروازے سره متيازے کول ناجائز دی. ځکه حديث کښې ددے نه منع راغلے ده :
نهی رسول الله ﷺ ان يبال بابواب المساجد .
رواه ابوداود في مراسيله ص (۵) وسنده صحيح .
ترجمه : رسول الله ﷺ دجوماتونو دروازو سره دمتيازو کولو نه منع فرمائيلے ده .
دا حديث صحيح دے. اوګوره سلسله الاحاديث الصحيحه (۴۹۵/۶). رقم الحديث (۲۷۲۳) فتاوی الدين الخالص (۳۸۰/۳) رقم المسئله (۵۷۲).
فائده : ډير دتاسف خبره ده چه نن صبا زمونږ اوتاسو دمسجدونو مخکښے خلق متيازے کوی بلکه باقاعده دمسجد ددروازے مخکښے دمتيازو ځائے جوړ شوے وی، اوددے ډير ګنده بوئے وی چه مسجد ته هم دا بوئے راځی. په کورونو او بنګلو باندے خو لکونو روپئ خرچ کولے شی ليکن دمسجد دپاره بيت الخلاء نشو جوړولے .
چه ددے دوه وجے دی :
اول : داچه دا مسئله به يو امام هم نه وی کړی، الا ما شاء الله. چه اے خلقو ! دجومات دروازے سره متيازے کول منع دی. داځکه چه امامان غريبانان خو يا حديث دسره ګوری نه، اونه ئے وئيلی وی. اوبعضو چه وئيلی وی هغوئ اکثر تبرکاً وئيلی وی. ما په خپله دډيرو طلباؤ نه اوريدلی دی چه هغوئ وئيل : مونږ خو احاديث دتبرك دپاره وايو، ورنه دمسائلو دپاره خو فقه شته دے. فانا لله وانا اليه

راجعون!

دویمه وجه: داده چه دخلقو دزړونو نه دالله مینه، دالله ویره وتلې ده، ددنیا سره محبت ډېر شوېدے. په خوشحالئ اوغم کښے صرف درواج پوره کولو په خاطر بے تحاشا دنیا خرچ کوی اوهیڅ باك هم وریاندے نه کوی بلکه دے سره سره لا داخبره هم کوی چه دنیا خو خلق دغم او ښادئ دپاره ګټی. اوکله چه دجهاد یا ددین د یو بل کار دپاره دچندے غوښتنه ترینه اوشی نو بیا بهانے شروع کړی اودده سره نه روپئ وی نه بل څه! چه کوم ځائے اودس کولے شی.

۱۲ – دولسم ادب: په حمام کښے اودس ماتے کول منع دی لکه دا خبره دعبد الله بن مغفلؓ نه په روایت کړے شوی حدیث کښے راغلې ده:

قال: قال رسول الله ﷺ: لا يبولن احدكم في مستحمه ثم يغتسل فيه او يتوضا فيه فان عامه الوسواس منه. – رواه الترمذی (۸/۱).

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: په تاسو کښے دے څوك په خپله غسل خانه کښے متیازے نه کوی چه بیا په هغے کښے غسل او یا اودس هم کوی، ولے چه عام طور سره وسوسے ددے په وجه سره وی.

دویم حدیث ابوداود (٦/١) کښے دے:

نهی رسول الله ﷺ ان يمتشط احدنا كل يوم او يبول في مغتسله.

ترجمه: رسول الله ﷺ ددے نه منع فرمائیلے ده چه یو کس هره ورځ سرګومنځوی اویا په غسل خانه کښے متیازے کوی.

۱۳ – دیارلسم ادب: دادے چه په سوړه کښے متیازے کول پکار نه دی، لکه حدیث کښے دی چه:

نهی رسول الله ﷺ ان يبال في الحجر . والحديث ضعيف.

(رسول الله ﷺ په سوړه کښے دمتیازو کولو نه منع فرمائیلے ده).

اودا حدیث ضعیف دے. اوګوره ارواء الغليل (٩٤) رقم (٥٥).

لیکن قاضی شوکانیؒ په السيل الجرار (٦٦/١) کښے وئیلی دی چه ددے سند صحیح دے چه: لا يبولن احدكم في جحر. اودا قول چه روسته ذکر دے چه: انها مساكن الجن. نو دا مرفوع حدیث نه دے.

دارنګه یوه قیصه ابن عبد البرؒ په الاستيعاب (٣٧/٢) کښے ذکر کړیده. چه سعد بن عبادهؓ په شام

کښې وو، نو پو سوړه کښې ئے متېازے اوکړے نو :
استلقی مېتا فاخضر جلده.
یعنے : نېغ راپرېوتلو او څرمن ئے شنه شوه.
ددے روایت اګرچه سند نشته لیکن دسېرت په کتابونو کښې ډېر مشهور دے.
اوګوره الارواء (۸۵/۱) الاستیعاب لابن عبد البر (۳۷/۲).
او سوړو کښې دمتېازے کولو نه دمنع راتلو علت پو دادے چه دا د پیریانو داوسېدلو ځایونه دی.
لکه قتادهؒ نه نقل دی چه : کان یقال انها مساکن الجن.
یعنے : داسے مشهوره ده چه دا د پیریانو داوسېدلو ځایونه دی.
دوېم علت دمنع دا هم کېدے شی چه اکثره په سوړو اوغارونو کښې حشرات، ماران لړمانان وغیره خزندګان اوسېږی نو که چرته یوکس په سوړه کښې متېازے کوی نو هسے نه چه هغه خزنده راووځی اوده ته تك ورنه کړی او یا به په ده جامے پلیتی کړی.
دارنګه بل ادب دا هم دے چه د قبر خوا کښې به متېازے نه کوي، ددے نه په حدیث کښې منع راغلې ده.
۱٤ – څوارلسم ادب : داودس ماتی دادے چه : کله دوه کسان په متېازو ناست وی نو دیو بل سره خبرے کول ناجائز دی --- دلیل په دے خبره دا حدیث دے :
عن جابر رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : اذا تغوط الرجلان فلیتوار کل واحد منهما صاحبه، ولا یتحدثان، فان الله یمقت علی ذلك.
رواه احمد وصححه ابن السکن وابن القطان.
ترجمه : کله چه دوه کسان اودس ماتوی نو دیو بل نه دے پټ شی اویو بل سره دے خبرے نه کوی ځکه الله تعالی په دے غصه کېږی.
داحدیث احمد، ابن السکن او ابن القطان صحیح کړیدے. او بعضے علماؤ دا حدیث ضعیف کړیدے ځکه دے کښې عکرمه بن عمار راوی دے اوده ته بعضے علماء ضعیف وئیلے دے. لیکن حقیقت دادے چه دا حدیث حسن دے اوضعیف نه دے. ځکه عکرمه بن عمار دمسلم راوی دے اوامام مسلمؒ دده نه روایت نقل کړے. اوګوره :
توضیح الاحکام شرح بلوغ المرام (۲٦٨/۱) للشیخ عبد الله بن عبد الرحمن البسامؒ. دارنګه نیل

المرام شرح بلوغ المرام (۷۸/۱).

۱۵ – پنځلسم ادب: دادے چه تشے متیازے په ناسته کول افضل دی ځکه رسول الله ﷺ په عام اوقاتو کښے په ناسته کړیدی. اوګوره زاد المعاد (۱٦٤/۱). اګرچه په ولاړه کول هم جائز دی په دے شرط چه دمتیازو نه ځان بچ کولے شی. اودویم دا چه دعورت ښکاره کیدو نه ځان بچ کولے شی. که یو کس دمتیازو نه ځان بچ کولے شی دارنګه خلق دده عورت نه وینی نو په ولاړه هم متیازکول جائز دی.

دے باره کښے (۱۸) احادیث او آثار راغلی دی.

تفصیل په کشف النقاب عما یقوله الترمذي وفي الباب (۲٦۰/۱) کښے اوګوره.

چه بعضے دهغے نه دادی:

(۱) – اول دلیل: امام بخاری په خپل صحیح (۳۵/۱) کښے باب لګولے دے:

باب البول قائماً وقاعداً.

یعنے: باب دے په بیان دبول کولو کښے په ولاړه او ناسته باندے.

او بیا روسته حدیث راوړی:

عن حذیفه قال: اتی النبی ﷺ سباطه قوم فبال قائما ثم دعا بماء فتوضا.

ترجمه: حذیفهؓ فرمائی: نبی کریم ﷺ دیو قوم د خس وخشاك غورزولو ځائے ته راغے نو په ولاړه ئے متیازے اوکړے.

نو دا حدیث صریح دلیل دے په دے خبره چه په ولاړه متیازے کول جائز دی. اودا کار دالله رسول ﷺ هم کړیدے.

لیکن بعضے مرض والا بیا هم ددے نه انکار کوی چه په ولاړه متیازے نه دی جائز، اودداسے حدیث نه جوابونه کوی.

اول جواب: داکوی چه دا کار رسول الله ﷺ لبیان الجواز کړیدے یعنے ددے دپاره چه دا کار جائز دے. مونږ وایو چه صحیح ده چه کله جائز شو نو بیا په کښے څه پاتے شو. نو انکارولے وریاندے کوئ!

دویم جواب: داکوی چه رسول الله ﷺ دکیناستلو دپاره ځائے نه موندلو نو ځکه ئے په ولاړه اوکړے. لیکن ددے خبرے دغلط کیدو دپاره صرف دا کافی ده چه دا ورته اووایو چه دا درته چا اووئیل چه رسول الله ﷺ دکیناستلو دپاره ځائے مونده نه کړو؟ آیا دا په رسول الله ﷺ باندے دځانه یوه

خبره جوړول نه دي؟

مدینه طیبه خو څه دکراچۍ او پېښور ښار نه وو چه دګند او رش دوجې نه سړې متېازو ته نشي کېناستلے. بلکه دمدینے خو وړوکے کلے وو رش هم نه وو. اونه دومره ګنده ګۍ هرځائے پرتے وے لکه زمونږ اوستاسے ښارونو کښې چه وي. اوکه بالفرض په ولاړه متېازے کول نا جائز وے نو بیا داڅه عذر وو چه دکېناستلو ځائے نشته خو چه یو ځو قدمه اخوا تللے وے دا عذر به لرے شوے وو. ځکه تشے متېازے خو هر ځائے یو کس کولے شي، که ډکے متېازے وے نو بیالا یوه خبره وه. ځکه چه هغه ضرور یو کنډر یا بل محفوظ ځائے کښې کېږي.

دریم جواب: داکوي چه رسول الله ﷺ ځکه تش بول په ولاړه اوکړل چه:

ان جانب سباطه کان مرتفعا فیرجع البول الیه.

یعنې: رسول الله ﷺ چه کوم طرفته متېازے کولے هغه اوچت وو نو هغه متېازے درسول الله ﷺ طرفته بېرته را واپس کېدے، نو رسول الله ﷺ ځکه په ولاړه اوکړے چه وریاندے ګنده نشي.

ددے جواب درد دپاره دا کافي ده چه دے صاحبانو (مقلدینو) ته دومره اووئیلے شي چه الله جل جلاله نه حیاء اوشرم پکار دے دا جواب مه کوئ! دا جواب خو هغه ځوك کولے شي چه دا (سباطه قوم) کنډر لیدلے وي او هغه کنډر په حقیقت کښې هم داسے وو چه اوچت وو. اوکه بالفرض رسول الله ﷺ کېناستلے وے نو هغه ته به بېرته خپل بول راواپس شوے وے.

دا جواب په دے وجه هم غلط دے چه دغه قسم چهړائي کښې خو په ولاړه باندے متېازے کولو سره انسان ته دارے کېږي او که کېني نو دا ځاځکې بیا نه کېږي.

څلورم جواب: یادے حدیث باندے دعمل نه کولو بهانه دا بیانوي چه: دلته رسول الله ﷺ په ولاړه ځکه متېازے اوکړے چه رسول الله ﷺ مریض وو، یا ئے په ملا کښې درد وو. او استدلال په یو ضعیف باندے کوي.

لیکن حقیقت دادے چه دا داحادیثو درسول الله ﷺ سره دومره ظلم کول دي چه انتهاء نه لري. تاویلات فاسده دي. دخپل مذهب طرفداري اود رسول الله ﷺ احادیثو ته جواب کول دي.

زما مسلمانانو رونړو! دا څه ظلم شروع دے، هر حدیث چه ددے صاحبانو (مقلدینو) دمذهب نه خلاف راشي نو شپاړس جوابونه ترے کوي. بلکه ځوك په داسے احادیثو عمل کوي یا داسے احادیثو ته قائل وي په هغوئ باندے لعن طعن کولے شي، هغه ته عمل د انګریزانو عمل وائي. بعضے وخت

دسپو سره مشابهت ورکوی. چه حقیقت کښې دوئ په رسول الله ﷺ باندې دا لعن طعن کوی. ولې چه دا عمل خو هغه کړیدې. دارنګه دا په ابن عمرؓ باندې دې لکه روسته به راشی. چه هغه هم په ولاړه متیازې کړی دی. دغه شان دا لعن طعن په عمر فاروقؓ، زید بن ثابتؓ، سهل بن سعدؓ، انسؓ او ابو هریرهؓ وغیرهم باندې دې ځکه ددې تولو نه په ولاړه باندې متیازې کول نقل دی.

اوګوره المطالب العالیه (۱/۱۷) بیهقی (۱/۱۰۲) طحاوی (۲/۲۸۶).

(۲) - دویم دلیل: په دې چه په ولاړه متیازې کول جائز دی دادې چه عبد الله بن دینارؒ فرمائی:

رأیت عبد الله بن عمر یبول قائما. واسناده صحیح اخرجه مالك في الموطا (۱/۵۰) والطحاوی (۲/۲۹۶) البیهقی (۱/۱۰۲).

ترجمه: ما ابن عمرؓ اولیدلو چه په ولاړه ئې تشې متیازې کولې.

(۳) دریم دلیل: دصحیح بخاری او صحیح مسلم په حدیث کښې دی:

عن انس قال: بینما نحن في المسجد مع رسول الله ﷺ اذ جاء اعرابی فقام یبول في المسجد. الحدیث.

ترجمه: انس رضی الله عنه فرمائی: یو ځل مونږ درسول الله ﷺ سره په جومات کښې ناست وو چه دې کښې یو بانډه چی راغلے او په مسجد کښې ئې په ولاړه متیازې اوکړې ---- ددې حدیث نه دا معلومه شوه چه رسول الله ﷺ په هغه کس باندې په دې خبره خو رد اوکړو چه جومات کښې ئې متیازې اوکړې، لیکن په دې خبره کښې ئې په بانډه چې رد اونه کړو چه هغه په ولاړه متیازې اوکړې. سره ددې نه چه دا دبیان ځائے وو. چه که په ولاړه متیازې ناجائز وې نو لکه څنګه چه رسول الله ﷺ بانډه چی په جومات کښې دمتیازو کولو نه منع کړو نو دغه شان به په ولاړه باندې دمتیازې کولو نه هم منع کړې وو. لیکن په ولاړه باندې دمتیازو کولو نه ئې منع نه کړو.

اودا اصولی قاعده ده چه درسول الله ﷺ په مخ کښې چه یو کس یو کار اوکړی او رسول الله ﷺ په هغه کار باندې رد اونه کړی نو دا ددغه کار په جواز باندې دلالت کوی. امام نووی ؒ په شرح دمسلم (۱/۱۳۳) کښې لیکی دی:

قال ابن المنذر في الاشراف: اختلفوا في البول قائما، فثبت عن عمر بن الخطاب وزید بن ثابت وابن عمر وسهل بن سعد - رضی الله عنهم - انهم بالوا قیاما. قال: وروی ذلك عن انس وعلی وابي هریره - رضی الله عنهم. و فعل ذلك ابن سیرین وعروه بن الزبیر (قلت: انظر لهذا المطالب العالیه:

۱۷/۱، والحاكم : ۱۸۲/۱، والبيهقى : ۱۰۱/۱، وا لطحاوى : ۲۹٦/۲، وعبد الرزاق كما في الكنز : ۱۲٦/٥، ۲٦۱۳) وكرهه ابن مسعود والشعبى وابراهيم بن سعد وكان ابراهيم بن سعد لا يجيز شهاده من بال قائماً .قال : وفيه قول ثالث : انه ان كان في مكان يتطاير اليه من البول شئ فهو مكروه، فان كان لا يتطاير فلاباس به. هذا قول مالك. قال ابن المنذر : البول جالساً أحب الي، و قائماً مباح. وكل ذلك ثابت عن رسول الله ﷺ.

ترجمه : امام ابن المنذر په خپل كتاب الاشراف كښې وئيلى دى چه دعلماؤ په دے كښې اختلاف دے چه په ولاړه باندے دمتيازو څه حكم دے. نو دعمرفاروق، زيد بن ثابت، ابن عمر او سهل بن سعد رضى الله عنهم نه ثابت دى چه دوئ په ولاړه متيازے كړيدى. دغه شان دانس، علی او ابوهريره رضى الله عنهم نه هم نقل دى چه دوئ هم په ولاړه متيازے كړى. ليكن دابن مسعودؓ، شعبیؒ او ابراهيم بن سعدؒ نه ددے كار كراهيت نقل دے چه څوك په ولاړه متيازے كوى. او ابراهيم بن سعدؒ به دهغه چا گواهى نه قبلوله چه هغه به په ولاړه متيازے كولے. او په دے مسئله كښې دريم قول هم شته هغه دادے چه يو كس په داسے ځائے كښې متيازے كوى چه متيازے ورته را اولوځى نو بيا په ولاړه متيازے كول مكروه دى، اوكه چرے يو كس په ولاړه متيازے كوى اود متيازو څاڅكى دده په جامو باندے نه لگى نو بيا په ولاړه متيازے كول څه باك نه لرى. اودا قول دامام مالك هم دے. ابن منذرؒ فرمائى چه په ناسته متيازے كول ماته ډير خوښ دى، ليكن په ولاړه متيازے كول هم جائز دى. اودا دواړه طريقے درسول الله ﷺ نه ثابت دى.

شيخ البانیؒ په ارواء الغليل (۹٥/۱) رقم (٥۷) كښې دحذيفه رضى الله عنه دحديث ذكر كولو نه روسته ليكى :

فائده : مصنفؒ دكتاب دحذيفهؓ په حديث دا دليل نيولے چه په ولاړه متيازے كول مكروهه نه دى. زه (البانیؒ) وايم چه دا خبره حقه ده چه په ولاړه متيازے كول جائز دى ځكه درسول الله ﷺ نه په يو حديث كښ هم منع نه ده راغلے چه په ولاړه متيازے كول منع كړے شى لكه داخبره ابن حجرؒ هم كړے. او مقصود دمتيازو دڅاڅكو نه ځان بچ كول دى په هره طريقه سره چه ځان بچ كيږى، كه په ناسته وى، كه په ولاړه وى هغه واجب ده. ځكه قاعده ده چه : ما لا يتم الواجب الا به فهو واجب.

يعنے : ديو څيز نه بغير واجب نه پوره كيږى نو هغه څيز هم واجب وى.

دارنگه د (السنن و المبتدعات مصنفؒ په ص (۱۹، ۲۰) كښې ددے احاديثو ذكر كولو نه روسته

لیکلی:

فصل: فمن الغباوه والجهاله انکار کثیر من الناس علی من یبول قائماً ویرمونه مره کالیهود، ومره یقولون: انه یرفع رجله ویبول کالکلب، ویحتقرونه وینقصونه بعد ذلك، مع انه علی الحق وهم علی الباطل، وهو علی السنه وهم علی بدعه وجهاله.

ترجمه: ډیر خلق دخپلے ناپوهئ او غباوت په وجه په هغه چا رد کوی چه څوك په ولاړه متیازے کوی. او په بدو نوموټو ئے یادوی کله وائی: دا لکه دیهودو پشان په ولاړه متیازے کوی، کله وائی: دا لکه دسپی غونته خپه پورته کولو سره متیازے کوی اود هغه تحقیر اوسپکاوے کوی. سره ددے نه چه څوك په ولاړه متیازه کوی هغه په حقه دے اوڅوك چه رد وریاندے کوی هغه په باطله دے. څوك چه په ولاړه متیازے کوی هغه په سنت باندے قائم دے او څوك چه رد وریاندے کوی هغه په بدعت او جهالت باندے کلك دے.

بیا لیکی:

نعم یجب علی البائل من قیام ان یستر عورته من عیون الناس وان یختار مکاناً رخواً لئلا یصیبه الرشاش، وان لا یستقبل القبله، وان لا یقابل الریح. فان فعل ذلك وافهم هؤلاء، واصروا علی الانکار علیه فلیبل علیهم.

ترجمه: هاؤ، څوك چه په ولاړه متیازے کوی هغه باندے لازم دی چه خپل عورت دخلقو نه پټ کړی اوداسے ځائے دمتیازو دپاره غوره کړی چه هغه نرم وی، دے دپاره چه دمتیازو څاڅکو نه بچ شی، او پکار دی چه قبلے او باد طرفته مخ نه کړی (ځکه په دے سره بیرته متیازے دے کس ته واپس کیږی) که چرته داکارئے اوکړو اوهغه کسانئے هم پوهه کړل څوك چه په ولاړه متیازے کول بد ګڼړی اوبیا هم په خپله خبره کلك ولاړ وی نو بیا دے دهغوئ دپاسه متیازے اوکړی (چه پته ورته اولګی) !!

دمانعینو دلائل اود هغے تجزیه

څوك چه په ولاړه باندے تشے متیازے کول منع کوی هغوی په بعضے احادیثو باندے استدلال کوی چه دااستدلال ددوئ ضعیف دے.

۱ –اول دلیل: دترمذی (۹/۱) بیهقی (۲۸۵/۲) ابن ابي شیبه (۱۲٤/۱) تاریخ کبیر دامام بخاری (٤٥٤/۲) او طبرانی اوسط په روایت کښے دی:

عن ابن مسعود قال: ان الجفاء ان تبول قائماً.

یعنې : دا ظلم (یا سخت مزاجی) دے چه ته په ولاړه متیازے کوے.

او بعضے روایتونو کښے دی :

اربع من الجفاء : ان یبول الرجل قائماً، وصلاه الرجل والناس یمرونه بین یدیه ولیس بینه شئ یستره، ومسح الرجل التراب عن وجهه وهو في صلاته، وان یسمع المؤذن فلا یجیبه في قوله. وسنده صحیح موقوفاً علیه.

ترجمه : څلور خبرے دظلم نه دی. په ولاړه دسړی متیازے کول. په داسے حالت کښے دیو کس مونځ کول چه خلق دهغه مخے ته تیریږی اودده اودهغوئ ترمینځه ستره نه وی. او دیو کس په مانځه کښے دخپل تندی نه خاوره صفا کول. اودا چه دمؤذن نه آذان واوری اودهغه دوینا جواب نه ورکوی.

دا حدیث صحیح دے موقوفاً یعنے دابن مسعودؓ خپله خبره ده. درسول الله ﷺ نه ئے نه ده اوریدلے.

ددے جواب دادے چه :کله دمرفوع حدیث په مقابله کښے موقوف حدیث راشی نو ترجیح به مرفوع حدیث له وی نه موقوف له. اومونږ مخکښے ذکر کړل چه رسول الله ﷺ په ولاړه متیازے کړی. اوڅوك چه درسول الله ﷺ دعمل تاویلات کوی هغه غلط او ضعیف دی.

دویم جواب : دابن مسعود دحدیث په مقابل کښے دنورو صحابه کرامؓ عمل موجود دے چه هغوئ په ولاړه متیازے کړی دی. او یو دوه کسان هم نه دی بلکه بے شماره کسانو نه نقل دی لکه مخکښے دهغوئ نومونه ذکر شول.

دریم جواب : دلته دجفاء لفظ راغلے دے او جفاء جدا شے دے او تحریم جدا شے دے. نو څنګه دجفاء نه په تحریم باندے استدلال اوکړے شی ؟

او کومه خبره چه دعائشه رضی الله عنه ده چه :

من حدثك ان رسول الله ﷺ بال قائما فلا تصدقه.

یعنے : چاچه درته دا خبره اوکړه چه رسول الله ﷺ په ولاړه متیازے کړی دی نو ددے تصدیق مه کوه.

نودعائشهؓ دا حدیث صحیح دے لیکن دا دعائشهؓ دعمل مطابق ده، چه هغے رسول الله ﷺ په ولاړه باندے په متیازوکولو باندے نه وو لیدلے . او نورو صحابوؓ لیدلے وو. لکه حافظ ابن حجرؒ ددے اثر جواب داسے کوی :

والجواب عن حدیث عائشه انه مستند علمها .

یعنې : دعائشةؓ دحدیث جواب دادې چه داد هغې علم ته مستند ده. (یعنې هغې رسول الله ﷺ په دې باندې نه وو لیدلې، او نورو صحابه کرامؓ لیدلې وو).

بلوغ الامانی من اسرار الفتح الربانی (۲۶۰/۱).

اوددې مثال داسې دې چه یو بل حدیث کښې راځی چه عائشه رضی الله عنها فرمائی چه چا اووئیل چه مړی ته دکور والو په ژړا سره عذاب ورکول کیږی. اوددې خبرې نسبت رسول الله ﷺ ته کوی نو تاسې ددې تصدیق مه کوئ. حال داچه هغې باره کښې صحیح راغلی. احناف او غیر احناف تول دعائشةؓ ددې خبرې دغه توجیه کوی. اوګوره فتح الباری، مرعاه وغیره.

۱۶ – شپاړسم ادب : دچا سره چه قرآن کریم، یا احادیث نبویه یا د ذکر اذکار کتاب وی نو دهغه سره بیت الخلاء ته داخلیدل نه دی جائز، ځکه دې سره دقرآن کریم بې ادبی راځی .دارنګه دهغه پاڼې (کاغذ) بې حرمتی راځی کوم باندې چه دالله دکتاب یو آیت یا ډیر آیتونه لیکلی وی. بلکه صحیح طریقه داده چه کله یو کس دقضائے حاجت اراده اوکړی نو بیت الخلاء ته چه داخل شوې نه وی نو هغه دې دبیت الخلاء نه بهر کیږدی. اودا دکتاب الله اود الله رب العزت دآیتونو ادب او احترام دې. حال داچه په مونږ اوتاسو باندې دقرآن کریم تعظیم او ادب ضروری دې. او الله رب العزت فرمائیلی دی :

ومن یعظم شعائر الله فانها من تقوی القلوب.

یعنې : څوك چه دالله تعالی ددین دعلاماتو تعظیم او ادب کوی نو دا دزړونو تقوی (اخلاص نه راپیدا شوې) دې.

نو کوم شې چه د قرآن کریم دبې ادبئ سبب جوړیږی هغه به حرام وی لکه په قرآن کریم دپاسه کیناستل حرام دی. ولې چه دې کښې هم دقرآن کریم بې تعظیمی او انتهائی بې حرمتی راځی چه دا حرامه ده ---- په یو حدیث کښې راځی :

عن انس رضی الله عنه قال : کان رسول الله ﷺ اذا دخل الخلاء وضع خاتمه.

اخرجه ابوداود (٤/١) والترمذی وصححه.

ترجمه : انسؓ فرمائی : رسول الله ﷺ به کله چه بیت الخلاء ته ننوتلو نو خپله ګوتمه به ئې بهر کیخودله. (ځکه په هغې کښې محمد رسول الله لیکلې شوې وو).

اګرچه دې حدیث ته بعضې علماؤ ضعیف وئیلې دې لیکن نورو محدثینوؒ دې حدیث ته حسن وئیلې دې. لکه توضیح الاحکام شرح بلوغ المرام (۲۵۸/۱) کښې عبد الله بن بسام دې حدیث ته

حسن وئیلی. دارنګه علامه ابن حجرؒ په تلخیص الحبیر کښې ددې حدیث تصحیح دترمذی، ابن حبان، منذری او قشیری وغیره ؤ نه نقل کړیده.

بهر حال داښکاره خبره ده چه دقرآن کریم په داخلولو کښې بیت الخلاء ته دقرآن کریم بے حرمتی ده اودا دقرآن کریم دتعظیم خلاف ده.

لیکن کله چه دیو کس په جیب کښې قرآن کریم وی اود بهر کیخودلو انتظام نه وی یا ئے دغلا کیدونه یریږی، نو بیا ځان سره داخلول رخصت لری. ځکه مشهوره قاعده ده چه: الضرورات تبیح المحظورات. دارنګه بله شرعی قاعده ده:

ان الكراهه تزول مع الحاجه.

یعنے: دحاجت په وجه کراهت، کراهت نه پاتے کیږی.

اوګوره فتاوی اللجنه (٤٠/٤) توضیح الاحکام شرح بلوغ المرام (٢٥٩/١). فتاوی الدین الخالص تفصیلا (٣٨٩/١).

شیخ ابو عمر عبد العزیز النورستانی په نیل المرام شرح بلوغ المرام کښې لیکلی دی چه دے حدیث ته امام منذری او ابو الفتح دشواهدو په بناء صحیح وئیلی دی چه دغه شواهد قویه امام بیهقی او امام حاکم ذکر کړیدی. نو حدیث ددغه شواهدو په بناء حجت دے. نیل المرام (٧٣/١). دارنګه الفقه الاسلامی (٢٠٢/١) بذل المجهود (١٣/١).

١٧ – اوولسم ادب: استنجاء کښې سنت داده چه په کاڼو سره اوکړے شی او یا په اوبو سره اوکړے شی. او جمع بین الحجاره والحجر سنت نه دے. یعنے یو انسان یو ځل په کاڼو سره استنجاء اوکړی او بیا داوداسه په وخت کښې په اوبو سره استنجاء کوی نو دا طریقه درسول الله ﷺ نه په صحیح حدیث کښې نه ده ثابت.

اوکوم حدیث کښې چه راځی چه کله دا آیت نازل شو: فیه رجال یحبون ان یتطهروا.

نو رسول الله ﷺ داهل قباء والا نه تپوس اوکړو چه تاسے څه کوئ نو هغوئ اووئیل: مونږ اول په کاڼو استنجاء اوکړو او بیا په اوبو سره استنجاء کوو.

نو دے حدیث کښے لفظ د(حجاره) یعنی کاڼی نه دے ثابت. بلکه دحجاره لفظ په وجه دا حدیث ضعیف دے. بلکه حدیث صرف په دے الفاظو سره صحیح دے چه: مونږ په اوبو سره استنجاء کوو.

امام نوویؒ، حافظ ابن حجرؒ او امام ابن کثیر په خپل تفسیر سورت توبه (٣٩٠/٢) کښے امام

البانیؒ په ضعیف ابوداود او تمام المنه ص (٦٥) کښې دا حدیث ضعیف کړے . او صحیح داده چه : دا حدیث کښې صرف لفظ (والماء) یعنې اوبو سره ثابت دے . چه اهل قباء والو به په اوبو سره استنجاء کوله نو ځکه ددوئ صفت الله رب العزت اوکړو .

اوکوم چه دعلی رضی الله عنه حدیث دے :

انهم کانوا یبعرون بعرا وانتم تثلطون ثلطا، فاتبعوا لحجاره الماء .

یعنې : علی رضی الله عنه فرمائی چه : صحابه ؤ به پچے کولے او تاسو خو سوتے کوئ نو تاسو دکاڼو نه پس اوبه استعمالوئ .

نو داحدیث دعلیؓ موقوف اومنقطع دے . سره ددے نه یو راوی چه مدلس دے هغه عنعنه هم کړیده . امام بیهقیؒ په دے موضوع ډیر احادیث راوړی لیکن هغه هم منقطع – ضعیف – دی . اوګوره الجوهر النقی (۱۰۵/۱) تمام المنه للالبانیؒ ص (٦٥) فتاوی الدین الخالص تفصیلا (۳۸٦/۱، ۳۸۷) .

حاصل دا چه : په اوبو باندے استنجاء کول سنت کښې شته دے او الله تعالی ددا سے کسانو صفت کړیدے چه په اوبو سره استنجاء کوی . لیکن دانشته چه یو ځل په کاڼو استنجاء اوکړے شی او بیا په اوبو باندے استنجاء کیږی .

البته دا جائزه ده چه اول په کاڼو استنجاء اوکړے شی اوبیا اوبه استعمال کړے شی، خو سنت یا مستحب نه ده .

عوام الناس خو استنجاء په اوبو باندے دمانځه دپاره واجب ګڼړی . مثلاً که یو ځائے دده عورت هم ښکاری خو دوئ خامخاه په اوبو سره استنجاء کولو دپاره عورت هم ښکاره کوی اګرچه مخکښې ئے په کاڼو سره استنجاء کړے وی . اودا سراسر په قرآن او حدیث باندے جهل اوناپوهی ده . فالی الله المشتکی .

۱۸ – اتلسم ادب : کله چه یوکس دډکو متیازونه روسته په اوبو سره استنجاء کوی نو هغه له پکار دی چه داستنجاء نه روسته په زمکه باندے لاس راکاږی .

لکه حدیث دابی هریره رضی الله عنه کښې دی :

کان النبی ﷺ اذا اتی الخلاء اتیته بماء فی تور او رکوه فاستنجی ثم مسح یده علی الارض ثم اتیته باناء آخر فتوضا .

رواه ابوداود (٤/١) والنسائی والدارمی وابن ماجه نحوه.

ترجمه : نبی کریم ﷺ چه به کله بیت الخلاء ته لاړو نو ما به ورته په یو لوښی کښے اوبه راوړے، رسول الله ﷺ به په هغے سره استنجاء اوکړه بیا به ئے په زمکه لاس راښکلو ، بیا به مے ورته بل لوښے راوړو او په هغے به ئے اودس اوکړو.

١٩ – نولس ادب : دا هم علماؤ بیان کړیدی چه کله یوکس بیت الخلاء ته ننوځی نوګسه خپه اوله دننه کول پکار دی اوچه کله بهر راوځی نو اول ښئ خپه بهر راویستل پکار دی. اوددے خبرے دلیل دادے :

عن عائشه رضی الله عنها قالت : کان النبی ﷺ یعجبه التیمن في تنعله وترجله وطهوره وفي شانه کله. متفق علیه.

ترجمه : دعائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ عادت مبارك داوو چه دښی طرفنه شروع کول به خوښ ګڼړل په څپلو پخپو کولو او سرګمنځولو او په اودس کولو کښ او په خپلو تولو کارونو کښے.

نو ددے (في شان کله) نه یوه قاعده معلومه شوه هغه داچه هر نیك کار دښی طرفنه شروع کول پکار دی،او ددے برعکس کار دګس طرفنه شروع کول پکار دی. نو بیت الخلاء ته ننوتل هم دسپك کارونو سره تعلق لری نو اول به ګسه خپه ننویستل پکار وی. اود بیت الخلاء نه وتل دعزت مندو کارونو سره تعلق لری نواول به ښئ خپه راوباسی . اودا مسئله تربنه اجتهاداً معلومه ده.اوس که یو کس ته ددے حدیث نه دامسئله نه معلومیږی اودا کار نه کوی نو په هغه هیڅ ملامتیا نشته. اوخوك چه دے طریقے ته مستحب وائی نو دا هم صحیح ده ځکه ددے حدیث نه دا طریقه معلومه ده. لکه ډیرو علماؤ ددے حدیث نه استدلال کړے اودا طریقه ئے مستحبه ګڼړلے ده.

لکه دا خبره علامه ابن دقیق العیدؒ کړیده اوګوره توضیح الاحکام شرح بلوغ المرام (١٨٤/١) دغه شان امام غزالیؒ په احیاء العلوم (٢٣٢/١) کښے. المجموع شرح المهذب (٧٥/٢) دغه شان دکتور وهبه الزحیلی په الفقه الاسلامی (٢٠٣/١) کښ، دغه په فتاوی هندیه (٥٠/١)، فتاوی حقانیه (٦٠٠/٢) معارف السنن (٧٦/١) دغه شان شیخ عبد القادر جیلانیؒ په الغنیه (/١) کښ کړیده.

په دے کښے نور آداب هم شته لیکن مونږ په دے باندے اکتفاء کوو.

تفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص (٤٠١/١)، احیاء العلوم للغزالی (٢٣٢/١)، الفقه الاسلامی :

۲۰۱/۱ . المجموع للنووی : ۷۲/۲ – ۱۲۷ . السل الجرار للشوکانی : ۶۳ – ۷۲، تفصیلاً . حجه الله البالغه للشاه ولی الله : ۱۸۱/۱، ۱۸۲ . المرعاه شرح المشکاه للمبارکفور تفصیلاً .

لیکن بعض کتابونو کښې دسنت آدابو سره سره بعض بدعات هم ذکر کړے شوی دی چه هغه به زه ان شاء الله روسته ذکر کړم .

تنبیه : ددغه آدابو ذکر کولو نه روسته یو څو فوائد ذکر کولے شی :

اوله فائده : ددے نه معلومه شوه چه رسول الله ﷺ مونږ ته ددین په هره شعبه کښې مکمل احکام بیان کړی دی (علمه من عمله وجهله من جهله) په هیڅ یوه مسئله کښې هم بل چاته ضرورت نشته دے چه هغه دے ددین احکام دځانه جوړ کړی . نو سوچ او فکر کول پکار دی چه رسول الله ﷺ مونږ صرف په متیازو کولو کښې دومره ډیر آداب او سنت طریقے بیان کړی دی – چه مونږ دا یو څو جمع کړی دی ددے نه علاوه نور هم شته – نو آیا رسول الله ﷺ به مونږ ته په اوداسه اومانځه کښې او غم اوښادئ کښې سنت طریقے نه وی بیان کړی ؟

سره ددے چه رسول الله ﷺ ددے خبرے دپاره مونږ ته رالیګلے شوے دے چه دالله رب العزت احکام راته بیان کړی، دالله رب العزت دعبادت طریقه مونږ اوښائی . آیا په عباداتو کښې به زمونږ دپاره درسول الله ﷺ طریقے کافی نه وی ؟ آیا په رشتیا به هم عباداتو کښې اوحلالو حرامو کښې به قیاساتو اودعلماؤ اقوالو ته ضرورت وی ؟

نو ددے تولو خبرو جواب په نه ! سره دے .

ځکه چه مونږ ته رسول الله ﷺ په متیازو کښې هم سنت طریقے ذکر کړی چه مثلاً دا ځائے متیازے کوه دا ځائے ئے مه کوه، وغیره وغیره، لکه ددے ذکر مخکښې اوشو . نو په مانځه، اوداسه، حج، روژے، زکات اونورو عباداتو کښې به ئے په طریقه اولی بیان کړے وی . چه دا کار رسول الله ﷺ کړے اودا ئے نه دے کړے .

اودا نه کول دیو کار هم دلیل دے په سنت والی ددے نه کولو باندے . مثلاً یو کار رسول الله ﷺ نه وی کړے نو ددے کار نه کول هم سنت طریقه ده، او کول ئے بدعت دے . ځکه علماؤ لیکلی دی چه لکه څنګه درسول الله ﷺ تابعداری په فعل – یعنی دیو کار په کولو – کښې ضروری ده نو دغه شان په ترك – یعنی دیو کار نه کولو – کښې هم درسول الله ﷺ تابعداری ضروری ده . چه یو کار رسول الله ﷺ نه وی کړے نو دهغے نه کول ضروری دی . لکه ملا علی قاری لیکی :

والمتابعه کما تکون فی الفعل تکون في الترك ایضا.

یعنی : تابعداری لکه څنګه چه په فعل کښې ضروری ده دغه شان په ترك کښې هم ضروری ده ------ دغه شان شیخ عبد الحق دهلوی فرمائی :

والاتباع کما یکون في الفعل واجب کذا في الترك.

یعنی : تابعداری لکه څنګه چه په فعل کښې واجب ده دغه شان په پرېخودلو کښې هم واجب ده.

(اللمعات : ۳٦/۱) ------ عنایه شرح هدایه (۵۷/۱) کښې دی :

عدم النقل من النبی ﷺ تدل علی عدم فعله.

یعنی : درسول الله ﷺ نه دیوے خبرے نه نقل کېدل دا دلیل دے په دے خبره چه رسول الله ﷺ دا خبره (اودا کار) نه دے کړے ---- ددے مسئلے تفصیل په ضیاء النور ص (۱۲٦) کښې شیخ محمد طاهرصاحبؒ کړیدے .التحقیقات في رد الهفوات.

فائده ثانیه : مخکښې دبیت الخلاء متعلق آداب بیان شو نو په دے باندے عمل کول ډېر ضروری دی : اوسبحان الله ! دتعجب خبره داده چه انسان کله متیازے کوی، دسنت طریقے موافق ئے اوکړی نو صرف په متیازو کولو سره دا کس په (۱۹) بلکه ددے نه هم په زیاتو سنت طریقو باندے عمل کونکے جوړ شو ! والحمد لله علی ذلك.

او په دغه سنت طریقو باندے د عمل کولو اجر او ثواب د شیخ عبد الحق محدث دهلوی نه واوره هغه لیکی :

رعایت آداب خلاء واستنجاء بروجه سنت بهتر از بنائی رباط ومدرسه.

یعنی : ډکو اوتشو متیازو په آدابو باندے دسنت طریقے دوجے نه عمل کول دالله په لاره کښې دڅوکئ کولو اودمدرسے جوړولو نه هم غوره اوبهتر دی. (سره ددے نه چه دالله په لاره کښې څوکئ کول یا مدرسه جوړول په خپله هم ډېر غوره عملونه دی).

اوګوره اللمعات : ددے حدیث په تشریح کښې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه :

ما احدث قوم بدعه الا رفع مثلها من السنه.

بحواله ضیاء النور ص : ۲۳، للشیخ محمد طاهر رحمه الله.

د بیت الخلاء د آدابو خلاصه :

دے دپاره چه دغه آداب په ذهن کښے کېنی اوپاد کړے شی دا بیا اجمالاً ذکر کووم :

۱ – ادب : دمتیازو دپاره لرے تلل سنت طریقه ده .

۲ – ادب : بیت الخلاء ته ننوتلو وخت کښے بسم الله، اللهم انی اعوذ بك من الخبث والخبائث لوستل .

۳ – ادب : کله چه متیازو ته کېنی نو ترڅو پورے چه زمکے ته نزدے شوے نه وی نو خپله جامه دے نه پورته کوی .

٤ – ادب : دمتیازو نه چه پاڅېږی یا دبیت الخلاء نه بهر راوځی نو صرف (غفرانك) لوستل سنت طریقه ده .

۵ – ادب : دمتیازو وخت کښے قبلے ته مخ کول یا شا کول جائز نه دی اوددے نه ځان ساتل سنت دی .

٦ – ادب : دځان سره دے درے کانړی وړل واجب دی، اوکه زیات استعمالوی نو وتر (طاق) کانړی دے استعمال کړی .

۷ – په منهی عنه څیزونو (یعنی کومو څیزونو باندے چه داستنجاء کولو نه منع راغلے ده په هغے) استنجاء کول حرام دی . نو ددے څیزونو نه ځان ساتل سنت طریقه .

۸ – استنجاء په گس لاس سره کول سنت پکار دی .

۹ – دمتیازو نه ځان ساتل ضروری او سنت طریقه ده .

۱۰ –(۱) په گودر (۲) دمیوه دارے اونے لاندے (۳) دهغه سوری دلاندے چه هلته خلق کېنی (٤) په لاره کښے متیازے کول حرام دی .

۱۱ – دمسجد دروازے سره متیازے کول جائز نه دی . ددے نه ځان ساتل ضروری دی .

۱۲ – داوداسه ځائے کښے اود غسل کولو ځائے کښے متیازے کول جائز نه دی .

۱۳ – په سوړو او غارونو کښے دمتیازوکولو نه ځان ساتل پکار دی .

۱٤ – دمتیازو کولو وخت کښے خبرے کول حرام دی اودا دالله تعالی دغضب سبب گرځی .

۱۵ – تشے متیازے په ناسته کول افضل دی او په ولاړه متیازے کول جائز دی دے کښے هیڅ حرج

نشته. دے باره کښے (۱۸) احادیث او آثار راغلی دی چه په ولاړه متیازے جائز دی. اوګوره فتاوی اسلامیه (۲۰۱/۱) لابن باز وابن عثیمین وابن جبرین، کشف النقاب عما یقوله الترمذی وفي الباب (۲۶۰/۱، ۲۶۶) للدکتور حبیب الله مختارؒ تفصیلا.

۱۶ - دمتیازو کولو وخت کښے دځان سره قرآن کریم یا نور ذکر اذکارو کتاب وړل جائز نه دی ځکه دے سره دکتاب الله بے حرمتی راځی.

۱۷ - یو کس چه کله استنجاء کوی نو سنت دادی چه په کاڼو اوکړے شی اویا په اوبو اوکړے شی. او په اوبو باندے استنجاء کول افضل دی. اوځوك چه په کاڼو او اوبو دواړو باندے استنجاء کوی نودا سنت طریقه نه ده، اودیته سنت وئیل پکار نه دی مخکښے تیر شو. البته په کاڼو او اوبو دواړو باندے استنجاء کول صرف جواز لری.

۱۸ - هرکله چه یو کس په اوبو سره استنجاء اوکړی نو داستنجاء نه روسته په زمکه لاس راخکل سنت طریقه ده. دے کښے حکمتونه ډیر دی، چه یو دادے چه دلاس په دے سره بد بوئے لرے کیږی.

۱۹ - ادب: کله چه بیت الخلاء ته ننوځی نو ګسه خپله دننه کول پکار دی او دوتلو په وخت اول ښئ خپے سره راوتل پکار دی.

ددے هرے مسئلے او ادب تفصیل سره ددلائلو نه مخکښے ذکر شوی.

د متیازو کولو وخت کښں بدعات

مخکښے دا ذکر شوه چه متیازو کولو وخت کښے سنت طریقه څه دی؟

اوس دفائدے پوره کولو په خاطر بعض بدعات هم ذکر کوم چه دهغے نه ځان ساتل ضروری دی. په دے کښے بعض اعمال په ضعیفو احادیثو کښے راغلی اوبعض اعمال خو دسره ثبوت هم نه لری. دلته دواړه ذکر کولے شی چه دواړو نه ځان ساتل ضروری دی

۱ - بدعت: دبادو وتلو نه استنجاء کول.

۲ - بدعت: استنجاء کښے ډیرے اوبه استعمالول، اودا د وسواسیانو کار دے.

(تلبیس ابلیس ص: ۱۳۵).

۳ - بعضے خلق دا خیال کوی چه یو کس په کاڼو سره استنجاء اوکړی نو په ده باندے اوبه استعمالول هم ضروری دی. حال دا چه اوبه لازم ګنړل بدعت دے.

(معجم البدع ص : ۳۸۵).
٤ – سلت الذکر بعد البول (یعنې دتشو متیازو نه پس اندام مخصوصه څنډل).
(اصلاح المساجد ص : ۲۱۳ . اغاثه اللهفان ص : ۱۵۱ . مجموعه الفتاوی : ۱۰٦/۲۱).
۵ – دمتیازو کولو نه روسته په دې نیت توخې کول چه په دې سره باقي متیازې بهر راوځي.
(اصلاح المساجد ص : ۲۱٤ . اغاثه اللهفان ص :۱۵۱ . مجموعه الفتاوی : ۱۰٦/۲۱).
٦ – متیازو کولو نه پس دروند ځېز پورته کول چه باقي متیازې خارجې شي.
(اصلاح المساجد ص : ۲۱٤ . اغاثه اللهفان ص : ۱۵۱).
۷ – دډکو متیازو وخت کښې ګسه خپه باندې کېناستل او ښئ خپه اودرول دا یو ضعیف حدیث کښې راغلي چه هغه بیهقي (۹٦/۱) روایت کړیدې. حازمي لیکي چه ددې حدیث په سند کښې داسې راویان دي چه مونږ ئې نه پیژنو. اوطبراني هم یو روایت ذکرکړیدې لیکن هغه هم مجهول دې. نو دا طریقه باندې ناسته سنت ګنړل بدعت دې. البته طبي طور سره داسې کېناستلو کښې فائده ده چه ددغه فضلیاتو په وتو کښې سهولت وي ځکه معده په ګس طرف کښې ده.
۸ – دمتیازو کولو نه روسته خپل اندام مخصوصه ته زور ورکول اودا سنت ګنړل بدعت دې.
اوګوره : اصلاح المساجد ص : ۲۱٤، اغاثه اللهفان ص : ۱۵۱ . مجموعه الفتاوی : ۱۰٦/۲۱).
۹ – دمتیازو کولو نه روسته د (غفرانك) دعاء سره (ولا عذابك) لفظ زیاتول بدعت دې. چه یو کس داسې وائي : غفرانك ولاعذابك.
اوګوره السنن والمبتدعات ص : ۲۱ .
۱۰ – دمتیازو کولو نه روسته په پارسنګ پورته ختل چه دمتیازو څاڅکي خارج شي دا هم بدعت دې. (اغاثه اللهفان ص : ۱۵۱ . فتاوی الدین الخالص : ٤۰۵/۱ . مجموعه فتاوی شیخ الاسلام : ۱۰٦/۲۱ .
۱۱ – څوك چه په ولاړه متیازې کوي هغه ته بد کتل، هغه باندې رد کول بدعت دې.
السنن والمبتدعات ص : ۲۰ .
۱۲ – دمتیازو نه روسته څلویښت قدمه اغستل په دې نیت چه باقي مانده څاڅکي خارج شي.
(معجم البدع ص : ۳۸٤).
۱۳ – بعض خلق وائي چه کله یو کس په کانړو باندې استنجاء کوي نو هغه ته به وائي (اسکت)

يعنې چپ شه ! وائې ځکه چه دا کانړے تسبيح وائي. نو کانړي ته چپ شه وئيل بدعت دے. ځکه مونږ ته دالله رسول ﷺ دانه دي وئيلي چه که استنجاء په کانړو کوئ نو داسے ورته وايئ. وعدم النقل دليل العدم. اوګوره: فتاوى الدين الخالص: ۳۹۵/۱.

۱٤ - بعض کتابونو لکه احياء العلوم (۳۳۲/۱، وغيره کښې دي: باب آداب قضاء الحاجه: چه دمتيازو په وخت کښې به نمر اوسپوږمۍ ته مخامخ نه کيني، دا خبره هم بدعت دے، ځکه ددے نه مونږ په شريعت کښې نه يو منع شوي بلکه دنمر اوسپوګمۍ طرفته مخامخ کيناستل بالکل جائز دي.

۱۵- بعض کتابونو کښې دي چه بيت الخلاء ته سرتور ننوتل نه دي پکار. نودا خبره بدعت ده. بلکه سرتور سر داخليدل جائز دي هيڅ منع نشته.

۱٦ - بيت الخلاء ته دننوتلو وخت کښې دا دعاء وئيل بدعت دے چه:

بسم الله اعوذ بالله من الرجس النجس الخبيث المخبث الشيطان الرجيم.

بلکه سنت دعاء هغه ده کومه چه مخکښې ذکر شوه.

۱۷ - دمتيازو وخت کښې په سر لاس ايخودل اودا طريقه ثواب ګنړل بدعت دے، ځکه دمتيازو وخت کښې په سر لاس ايخودل سنت کښې نه دي راغلي.

اوګوره فتاوى الدين الخالص (٤۰۵/۱).

۱۸ - دا طريقه هم په احاديثو کښې نشته چه: په اوړي کښې به اول کانړے شاطرفته راکاږي او ژمي کښې به اول دمخے طرفته راکاږي، لکه دا طريقه دفقه په کتابونو کښې ذکر ده، چه داوړي ژمے فرق به کوي په راخکلو دکانړو کښې. نودا طريقه لازمه ګنړل يا په دے طريقه کښې ثواب ګنړل بدعت دے.

اوګوره فتاوى الدين (٤۰۵/۱). السيل الجرار للقاضي الشوکاني (٦۳/۱، ۷۲) تفصيلاً. معجم البدع ص (۳۸٤) حرف الطاء ته رجوع اوکړه هلته تفصيلاً بيان شويدے، للعلامه رائد صبري بن ابي علفه. مجموعه الفتاوى لشيخ الاسلام ابن تيميه (۱۰٦/۲۱).

د اوداسه په شروع کښې بسم الله وئيل ضروري دي

سوال: د اوداسه په شروع کښې بسم الله وئيل څه حکم لري؟

جواب : داوداسه په شروع کښې بسم الله وئیل ضروری او واجب دی۔

۱ - اول دلیل : رسول الله فرمائیلی دی :

لا وضوء لمن لم یذکر اسم الله علیه۔

(رواه الترمذ : ۱۰/۱) وابن ماجه (۶۸/۱) واحمد (۴۱۸/۲) . انظر ارواء الغلیل (۸۱) تفصیلا ."

ترجمه : دهغه چا اودس نه کیږی چه څوك بسم الله وریاندے اونه وائی .

بل روایت کښې داسے دی :

لاوضوء لمن لم یسم الله - (صحیح الترغیب والترهیب : ۱۵۹/۱) .

(دهغه چا اودس نشته چاچه ددے په شروع کښې بسم الله اونه وئیله .

۲ - دویم دلیل : عن سعید بن زید قال : قال رسول الله ﷺ : لا صلاه لمن لا وضوء له ، ولا وضوء لمن لم یذکر اسم الله علیه .

رواه الطبرانی والحاکم والمنذری فی الترغیب (۱۵۹/۱) ابوداود (۲۱/۱) وابن ماجه (۶۸/۱) وسنده صحیح .

ترجمه : دهغه چا مونځ نه کیږی چه دچا اودس نه وی، اود هغه چا اودس نه کیږی چاچه داودس په شروع کښې بسم الله اونه وئیله .

دا دواړه حدیثونه په دے خبره دلیل دے چه بسم الله دوئیلو نه بغیر اودس نه کیږی . اوبسم الله وئیل داوداسه په شروع کښې واجب او ضروری ده .

ددے وجے نه شاه ولی الله محدث دهلوی په حجه الله البالغه (۱۷۵/۱) کښې لیکی :

وهو نص علی ان التسمیه رکن او شرط .

یعنې : دا حدیث په دے مسئله کښې نص دے چه بسم الله په اوداسه کښې وئیل رکن یاشرط ده .

علامه ابن الهمام په فتح القدیر کښې دیته ترجیح ورکړیده چه داوداسه په شروع کښې بسم الله وئیل واجب دی . (فتح القدیر : ۲۰/۱) .

دارنګه علامه عبد الحی لکهنوی په عمده الرعایه کښې لیکی :

اختلف اصحابنا فیه علی ثلاثه اقوال : الاول : انه مستحب، وهو قول ضعیف، وان صححه صاحب الهدایه. والثانی : انه سنه مؤکده، وعلیه اکثرهم. والثالث : انه واجب، والیه مال ابن الهمام فی الفتح، وهو الاوفق بالمنقول والاصول. (عمده الرعایه : ۶۳/۱) .

یعنې : زمونږ احنافو علماء په دې کښې اختلاف کړیدې چه بسم الله وئیل په اوداسه کښې څه حکم لري. نو یو قول دادې چه بسم الله وئیل مستحب دي. لیکن دا قول ضعیف دې، اګرچه صاحب هدایه دا قول صحیح کړیدې. دویم قول دادې : چه بسم الله وئیل سنت مؤکد دي، اودا داکثر احنافو مذهب دې. دریم قول دادې : چه داوداسه په شروع کښې بسم الله وئیل واجب دي. اودې قول ته ابن الهمام میلان کړیدې، اوهمدا قول دمنقول (احادیثو) او اصولو سره زیات موافق دې.

دارنګه علامه عبد الحی لکهنوی ؒ په احکام القنطره في احکام البسمله کښې لیکي.

وثالثها : وهو اصحها واحسنها : انها واجبه والیه مال ابن الهمام.

ترجمه : دریم قول چه دا دتولو نه صحیح او ډیر ښه قول دې هغه دا چه داوداسه په شروع کښې بسم الله وئیل واجب دي. اودې قول ته ابن الهمام هم میلان کړیدې.

احکام القنطره في احکام البسمله ص (۳۳) ومجموعه رسائل اللکنوی (۶۵/۱).

تنبیه : ددې نه معلومه شوه چه احناف چه وائي چه په اوداسه کښې واجب نشته دې، دا غلطه خبره ده.

فتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلمیه والافتاء کښې دي :

تجب التسمیه عند الوضوء.

یعنې : داوداسه په شروع کښې بسم الله وئیل واجب دي.

(فتاوی اللجنه الدائمه : ۲۰۳/۵).

د تفصیل دپاره اوګوره : فتاوی الدین الخالص (۴۵۵/۱) (۴۶۵)، السیل الجرار (۷۵/۱، ۷۹) للشوکانی ؒ. تنقیح احادیث التعلیق (۱۰۲/۱) لابن عبد الهادی ؒ.

ناخن پالش سره د اودس کولو حکم

سوال : که یوه ښځه په خپلو نوکونو باندې پینټ (ناخن پالش) استعمال کړي آیا دې سره ددې ښځې اودس او غسل کیږي اوکه نه ؟

جواب : نوکونه دبدن هغه برخه ده چه داودس کولو په وخت ئې وینځل ضروري دي. ځکه چه الله تعالی فرمائیلي دي :

فاغسلوا وجوهکم وایدیکم الی المرافق، الآیه.

ترجمه: خپل مخونه او لاسونه تر څنګلو پورې اووینځئ.

اونوکونه دلاسونو یوه حصه ده. نو چه کله په نوکونو باندې پینټَ پالش (ناخون پالش) اولګوی نو دا معلومه خبره ده چه نوکونو ته اوبه نه وررسیږی، بلکه هغه اوچ پاتې کیږی. لهذا ددې استعمال سره اودس نه کیږی.

اود اوداسه په اندامونو باندې دډیر ضرورت نه بغیر څه داسې څیز لګول چه دهغې په و جه هغې اندام ته اوبه ونه رسیږی داودس په صحیح کیدو کښې مانع جوړیږی.

اوښځو ته په نوکونو پینټَ پالش لګول څه شرعی ضرورت نه دې بلکه دا خو زینت هم نه دې. البته هغې ښځې دپاره ئے لګول جائز دی چه دحیض یا نفاس دوجې نه مونځ نه کوی ----- فتاوی المرأه المسلمه: ۲۲۰/۱ کښې دی:

لا تجوز استعماله للمرأه اذاکانت تصلی لانه یمنع وصول الماء في الطهاره وکل شئ یمنع وصول الماء فانه لایجوز استعماله للمتوضی او المغتسل الخ.

(دناخن پالش استعمال زنانه دپاره جائز نه دې چه کله مونځ کوی، ځکه چه ددې په استعمال سره داوبو رسیدل منع کیږی په اوداسه کښې .او هر هغه څیز چه داوبو رسید دغه اندامونو ته منع کوی داودس کونکی او غسل کونکی دپاره دهغې استعمال جائز نه دې).

۲ - فتاوی الدین الخالص: ۲۸۵/۲: کښې دی:

لا تجوز استعماله للمرأه اذاکانت تصلی لانه یمنع وصول الماء الی البدن الخ.

(ددې استعمال هغه ښځې دپاره جائز نه دې چه هغه مونځ کوی ځکه دا سبب ګرځی دپاره دنه درسیدلو داوبو بدن ته .

۳ - فتاوی برکاتیه ص: ۲۰ کښې مولانا ابو البرکات احمدؔ لیکلی دی چه:

دناخن پالش سره ښځې اودس نه کیږی.

٤ - احسن الفتاوی: ۲٦/۲: کښې مفتی رشید احمدؔ لیکی:

ناخن پالش وضوء اور غسل سے مانع هے

(ناخن پالش داوداسه او غسل نه مانع دې).

بیا لیکی چه: داسې زینت کول حرام دی چه دهغې دشرعی فرائضو په صحت کښې مانع جوړیږی. کوم شے چه بدن ته داوبو رسیدلو نه مانع جوړیږی نو دهغه په موجودګئ کښې اودس او

غسل نه کيږي. كه چرے دوبخته برابر ځائے هم اوچ پاتے شي نو اودس اوغسل نه کيږي الخ.

٥ – جديد فقهي مسائل ص: ۲۳ کښے مولانا خالد سيف الله رحماني ليکي: دناخون پالش په موجودګئ کښے اودس نه کيږي.

٦ – فتاوى حقانيه (۵۰۱/۲) کښے ليکي چه دمحققينو علماؤ په نزد ددے سره اودس او غسل نه کيږي.

۷ – المفصل في احكام المرأه والبيت المسلم (۸۵/۱) کښے دکتور عبد الكريم زيدان ليکي:

هذا الصبغ يعتبر حائلا يمنع وصول الماء الى الظفر الواجب غسله في الوضوء او الغسل، لان ماده هذا الصبغ تمنع نفاذ الماء منها، كما اخبرني بذلك اهل المعرفه بالامور الصيدلانيه والكيمياويه.

يعنے: دا ناخن پالش به رکاټ وي په اوبو رسيدلو ته په هغه اودس او غسل کښے کوم چه فرض وي، ځکه چه دا رنګ بدن ته داوبو رسيدلو نه مانع وي، لکه چه دا خبره ما ته هغه دواخانو والا خلقو اوکړه چه هغه په دے قسم کيماوي ځيزونو باندے پوهه لري.

د اودس کولو نه پس آسمان ته کتل یا ګوته اوچتول

سوال: داودس کولو نه روسته آسمان طرفته کتل او ګوته اوچتول احاديثو کښے ثابت دي اوکه نه ؟

جواب: ولا حول ولا قوه الا بالله.

داوداسه نه روسته په ګوتے سره اشاره کول په هيڅ حديث کښے نه دي راغلي، البته آسمان طرفته کتلو کښے يو حديث راغلے دے چه داميرالمؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دے:

قال: قال رسول الله ﷺ: من توضا فاحسن الوضوء، ثم رفع بصره الى السماء وقال: اشهد ان لا اله الا الله. الحديث.

يعنے: رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: څوك چه اودس اوکړي او ښايسته اودس اوکړي اوبيا داودس نه پس آسمان طرفته اوګوري اودا دعاء اووائي: اشهد ان لا اله الا الله .... تر آخيره پورے.

(رواه ابوداود: ۲۵/۱، ابن السني رقم (۳۱) احمد (۱۵۰/٤) والدارمي (۱٤۸/۱) ضعيف سنن ابي داود (۱٦/۱) رقم (۳۱) ارواء الغليل (۱۳۵/۱) رقم (۹٦).

ليکن دا حديث ضعيف دے په دے کښے يو راوي مجهول دے لکه ددے سند داسے دے:

عن ابي عقيل عن ابن عمه. نو دابن عمه راوی مجهول دے.

بل داچه : دا حدیث په نورو کتابونو دحدیثو کښې هم راغلے لکه صحیح مسلم، نسائی، ترمذی وغیره کښې،حال داچه په دے کتابونو کښې ورسره آسمان طرفته کتل نه دی راغلی. نودا حدیث منکر هم دے.

اوګوره فتاوی الدین الخالص (۱/۴۵۸).

اودس په کوم څیز سره ماتیږي ؟

سوال : اودس په کوم څیزونو باندے ماتیږی، مونږ ته ددے مسئلے تفصیلی جواب دلائلو سره اولیکئ !

جواب : هغه څیزونه چه اودس ماتوی په هغے کښې دعلماؤ اختلاف دے. مالکیان ئے درے قسمه ګنړی. شوافع ئے پنځمه قسمه ګنړی، او حنابله ئے (۸) ګنړی. چه ددے تفصیل په الفقه الاسلامی (۱/۲٦٤، ۲۸۷) کښې تفصیلا کتلے شئ.

لیکن دے کښې بعضے نواقض داوداسه په قیاس سره ثابت شوی دی، بعضے په ضعیف احادیثو سره ثابت شوی. مونږ دلته داوداسه هغه ماتونکی څیزونه لیکو چه په صحیح احادیثو کښې راغلی دی چه هغه :

۱ – الخارج من السبیلین دے. یعنے په هر هغه شی سره اودس ماتیږی چه دانسان دمخے یا شاه دوو لارو کښې دیوے لارے نه اووځی.

۲ – په خوب کولو سره اودس ماتیږی. که لږ خوب وی اوکه ډیر، دارنګه په هرحالت کښې چه وی اودس کول ترینه لازم دی. په دے کښې دډډے وهلو او نه وهلو، دارنګه دمانځه دننه او بهر قیدونه لګول اوددے ترمینځه فرق کول په صحیح احادیثو کښې نشته. اودا فرقو نه کول ضعیف دی.

۳ – داوښ په غوښه خوړلو سره اودس ماتیږی، که خامه وخوړلے شی اوکه پخه.

٤ – خپل عورت له په شهوت سره دڅه حائل (پردے) نه بغیر لاس وروړل او مسح کول. نارینه وی که زنانه ددواړو اودس پرے ماتیږی.

۵ – لیونتوب، بیهوشی اونشه کیدل اودس ماتوی، ددے نه پس اودس کول ضروری دی. ځکه په دے سره اودس ماتیږی.

اوګوره فتاوی الدین الخالص (۳۷۸/۲، ۳۸۳، ۳۸۸، ۴۰۳) تفصیلاً.

په خوب باندے اودس ماتیږي

سوال : آیا په خوب باندے اودس ماتیږی که نه ؟ دارنګه دے کښے د ډیرے وهلو یا نه وهلو، په مانځه کښے دننه اود مانځه نه بهر څه فرق شته اوکه نه ؟ د قرآن اوسنت په رڼا کښے ددے مسئلے وضاحت اوفرمائے !

جواب : دخوب په باره کښے صحیح قول دادے چه هر حالت کښے خوب کولو سره اودس ماتیږی برابره خبره ده که هغه په ناسته خوب وی که په ملاسته، په سجده کښے وی او که په رکوع کښے. په مانځه کښے وی اوکه دمانځه نه بهر وی، که انسان ډیره وهلے وی اوکه نه وی وهلے، په دے تولو صورتونو کښے چه انسان ښه اوده شی نو اودس ئے مات دے. لکه روسته په دے باندے دلا ئل ذکر کیږی. په دے کښے دا قیدونه لګول چه په مانځه کښے په خوب سره اودس نه ماتیږی، په ناسته په خوب سره اودس نه ماتیږی. دارنګه چه چا ډیره نه وی وهلے نو دهغه اودس نه ماتیږی داتول قیدونه لګول ضعیف دی. په هیڅ صحیح حدیث کښے دا قیدونه نه دی راغلی.

هغه دلا ئل چه دلالت کوی په دے چه هر قسم خوب باندے اودس ماتیږی.

۱ - عن علی رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : وکاء السه العینان فمن نام فلیتوضا.

(اخرجه ابو داود : ۴۱/۱) وسنده حسن واخرج الدارقطنی (۵۹/۱) والبیهقی (۱۱۸/۱) وفي المعرفه (۳۰۶/۱) وابن ماجه.

ترجمه : دکناتو تسمه سترګے دی نو څوک چه اوده شو هغه دے اودس اوکړی.

۲ - وعن صفوان بن عسال قال : کان رسول الله ﷺ یامرنا اذا کنا سفرا أن لا ننزع خفافنا ثلاثه ایام ولیالیهن الا من جنابه، ولکن من غائط وبول ونوم.

رواه احمد (۲۴۰/۴) والترمذي (۳۰/۱) والنسائی (۳۵/۱) والشافعی في الام (۲۹/۱) والطیالسي وعبد الرزاق والحمیدي والبغوي والبیهقی وابن خزیمه وغیرهم).

دے دواړو حدیثونو کښے خوب مطلق ذکر شویدے. په دے کښے دا قید نشته چه په ډیره لګولو سره وی یا په سجده کښے وی نو اودس به نه ماتیږی. دغه شان نور احادیث هم شته دمعاویه، ابن عمر او عائشه رضی الله عنهم.

اوګوره السنن الکبری (۱/۱۱۸، ۱۱۹) المعرفه (۱/۳۰۷).

اوکومو احادیثو کښې چه راځی چه لیس علی من نام ساجداً وضوء. اخرجه ابوداود.

یعنې : څوك چه په سجده کښې اوده شو نو په هغه اودس نشته.

دارنګه په کومو احادیثو کښې چه (حتی تضع جنبك) لفظ راغلے نودا احادیث تول ضعیف دی. په ضعیفو احادیثو باندې صحیح احادیث نشی مقید کیدلے.

اوکوم حدیث کښې چه راځی :

کان اصحاب رسول الله ﷺ ینتظرون العشاء الآخره حتی تخفق رؤسهم ثم یصلون ولا یتوضؤن. اخرجه ابوداود (۱/۴۰) ومسلم (۱/۱۵۸) وغیرهما.

یعنې : درسول الله ﷺ صحابهؓ به ماسخوتن مانځه په انتظار کښې ناست وو تردې چه سرونه به ئې زوړند شو بیا به ئې مونځ کولو او اودس به ئې نه کولو.

دا حدیث صحیح دے لیکن بل صحیح روایت کښې دا هم ورسره راغلی دی چه :

فمنهم من یتوضا ومنهم من لا یتوضا. (رواه البزار وسنده صحیح).

یعنې : ځینو به په دوئ کښې اودس کولو او ځینو به اودس نه کولو.

اوګوره مجمع (۱/۳٤۸) تلخیص الحبیر (۱/۱۱۹) فتح الباری (۱/۲۵۱) المطالب العالیه (۱/٤٤) رقم (۱۵۳).

نو چه څوك اوده شوے وی هغه اودس کړیدے اوچه څوك نه وو اوده شوے هغه نه دے کړے.

دریمه خبره داده چه : په دے باندے دعلماؤ اتفاق دے چه درسول الله ﷺ په خوب باندے اودس نه ماتیدو. ځکه درسول الله ﷺ خوب مستغرق (ډوب) نه وو. یعنې داسے خوب ئے نه وو چه په خپل ځانه به نه پو هیدو. ځکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

تنام عینای ولاینام قلبی.

یعنې : زما سترګے اودے کیږی اوزړه مے نه اوده کیږی.

(اخرجه احمد: ۲/۲۵۱) (۶/۳۶) وابن الجارود في المنتقی ص (۱۵) رقم (۱۲) وابن خزیمه رقم (٤۸) وابوداود (۱/۱۸۹) والترمذی (۱/۵۹) والبیهقی (۱/۱۲۱، ۱۲۲). و النسائی (۱/۱۹۱) ومالك في الموطا ص (٤۲) وعبد الرزاق (۳۸۶٤) والبخاری (۱/۱۵٤، ۲۶۸، ۵۰٤) ومسلم (۱/۲۵٤).

دے باره کښے دے لاندېنو علماؤ هم دا وئیلی دی چه په هر قسم خوب اودس ماتېږی.

امام ابن حزم، حسن بصری، امام مزنی، امام اسحق بن راهویه، په یو روایت کښے امام شافعی، ابن منذر او ابوعبېد دا تول په مطلق خوب سره داودس په ماتېدو قائل دی.

علامه ابن عبد البر په شرح دموطا (۱۱۷/۱) کښے دابو عبېدؒ نه عجیبه قیصه نقل کړېده. هغه دا چه ابو عبېده بن سلام وائی چه:

مابه مخکښے دا فتویٰ ورکوله چه په ناسته په خوب سره اودس نه ماتېږی تردے چه زما خواته دجُمعے په ورځ یو کس کېناستلو او اوده شو دهغه نه باد خارج شو، ما هغه کس ته اووئېل چه پاڅه اودس اوکړه. هغه اووئېل: زه اوده شوے نه یم، ما ورته اووئېل: ته اوده شوے وے اوتانه باد هم اووتل چه اودس وربانده ماتېږی. نو هغه کس قسمونه خوړل شروع کړل چه مانه باد نه دی وتلی اوماته ئے اووئېل چه ستا نه به وتی وی.

ددے واقعے نه پس ما دا رائے پرېخوده چه په ناسته خوب کولو سره اودس نه ماتېږی. اوس پرے اودس مات ګنړم. اوګوره تمام المنه ص (۱۰۱) للامام الالبانیؒ.

حاصل: دا چه په خوب باندے اودس ماتېږی، که په هر حالت کښے وی انسان وی اوده شی که ډډه ئے لګولے وی اوکه نه وی، سجده کښے وی اوکه نه وی، که خپو په سر ناست وی اوکه پرلتئ وهلو سره ناست وی. البته دے کښے یوه نعسه دوه نعسے، یا یوه خفقه دوه خفقے معاف دی. یعنے که یوه جتکړه دوه جتکړے اووهی او ډوب خوب نه وی نودا معمولی شان خوب معاف دے، په دے سره اودس نه ماتېږی.

لکه امام بخاری (۲۵۰/۱) کښے فرمائی:

باب الوضوء من النوم، ومن لم یر من النعسه والنعستین او الخفقه وضوء.

مثلاً یو کس ویخ وی خو هسے سترګے وربانده درنے شی، سترګے ئے پټے شی، یامرغئ مرغئ شی، لیکن په زړه کښے بېدار وی. یا ئے سر زوړند شی اوبېرته زر سر اوچت کړی، نو بیا دے قسم خوب باندے اودس نه ماتېږی. ځکه دے باندے د(نوم) یعنے خوب اطلاق نه کېږی. دیته نعاس او خفقه وئیلے شی.

آیا په مانځه کښے په زوره خندا سره اودس ماتېږي که نه

سوال : په مانځه کښې په قهقهه (برق برق) خندا سره اودس ماتیږی اوکه نه ؟

جواب : په زوره خندل (قهقهه) کول ګناه ده خصوصاً په مانځه کښې . امام بغوی ددې آیت په تفسیر کښې چه : ما لهذا الکتاب لا یغادر صغیره ولا کبیره الا احصاها .

دابن عباس رضی الله عنه قول ذکر کوی .

قال ابن عباس : الصغیره التبسم والکبیره القهقهه .

یعنې : وړه ګناه تبسم (مسکے کیدے) دی او غټه ګناه په زور سره خندل دی .

(معالم التنزیل : ۱٦٦/۳، في تفسیر سوره الکهف آیت : ٤۹) .

دارنګه ابن الجوزی ؒ په تنبیه الغافلین کښې لیکلی دی چه :

ایاك والقهقهه فان فیه ثمانیه آفات .

یعنې : په زوره خندا نه ځانه اوساته ځکه په دے کښې آته آفتونه او نقصانات دی . بیا ئے هغه نقصانات په تفصیل سره ذکر کړیدی .

اوس دا خبره چه کله یو کس په مانځه کښې په زوره اوخاندی آیا دده په دے خندا باندے اودس او مونځ دواړه مات شو که صرف مونځ ؟

نو صحیح خبره داده چه په مانځه کښې په قهقهه خندا سره صرف مونځ ماتیږی اودس نه ماتیږی . ځکه اصل برائت دے . یعنې کله چه یو کس اودس اوکړی نو دهغه کس به تر هغه پورے اودس باقی وی ترڅو چه داسے کار اونه کړی چه هغه کار داودس ماتیدو سبب وی . او په مانځه کښې په زوره خاندل داودس ماتیدو سبب نه دے . اودے کښې چه کوم احادیث راغلی دی چه په خندا سره اودس ماتیږی، په هغے کښې هم صحیح نه دے . بلکه دجابر رضی الله عنه نه په صحیح سند سره روایت راغلے دے چه کله دهغه نه تپوس اوشو چه یو کس په مانځه کښې اوخاندی نو څه حکم لری ؟

فقال : یعید الصلاه ولا یعید الوضوء .

یعنې : هغه اوفرمائیل چه مونځ به دوباره کوی او اودس به دوباره نه کوی .

دارقطنی (۱۷۲/۱) ابن ابي شیبه .

امام بخاری ؒ هم په خپل صحیح (۲۹/۱) کښې دجابر رضی الله عنه دا قول ذکر کړیدے چه جابر رضی الله عنه فرمائیلی دی : اعاد الصلاه ولم یعد الوضوء .

یعنې : مونځ به راګرځوی او اودس به نه راګرځوی .

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۲۷۵/۱) کښې لیکی :
وصله سعید بن منصور والدارقطنی وهو صحیح من قول جابر.
یعنې : داحدیث سعید بن منصور اودارقطنی په سند سره ذکر کړیدے اود جابرؓ نه دا حدیث موقوفاً صحیح دے.
دارنګه دارقطنی (۱۷٤/۱) دابو موسیؓ نه روایت کوی. چه دابو موسیؓ نه روسته څه کسانو په مانځه کښې اوخاندل، کله چه ابو موسیؓ دمونځ نه فارغ شو نو هغوئ ته ئے اوفرمائیل : تاسو کښې چه چا خندلی وی، هغه دے مونځ راوګرځوی.
علامه عبد الحی لکهنوی په خپله رساله (الهسهسه بنقض الوضوء بالقهقه ص ۷) کښې لیکی چه : وبه قال ابن مسعود وجابر وعروه بن الزبیر والقاسم بن محمد وسعید بن المسیب وابو بکر بن عبد الرحمن وسلیمان بن یسار ومکحول. والیه ذهب مالك واحمد وابو ثور والشافعی وداود وغیرهم، کذا حکاه العینی في البنایه شرح الهدایه.
یعنې : همدا مذهب دے دابن مسعود، جابر، عروه بن الزبیر، قاسم بن محمد، سعید بن المسیب، ابو بکر بن عبد الرحمن، سلیمان بن یسار اود مکحول. (رضی الله عنهم). اوهمدا مذهب دے دامام مالكؒ، احمدؒ، ابو ثورؒ، شافعیؒ او داودؒ وغیرهم (چه په مانځه کښې په خندا سره اودس نه ماتیږی). لکه چه علامه عینی په بنایه شرح الهدایه کښې دا ددوئ نه ذکر کړیدی.
اوکوم احادیث چه دے باره کښې راغلی چه په هغے کښې دادی چه په مانځه کښې خندلو سره اودس ماتیږی نو هغه یو هم صحیح نه دے بلکه تول ضعیف دی.
لکه ددے تفصیل په نصب الرایه (٤٧/١، ٥٤) بیهقی (٢٥١/٢) دارقطنی (١٦١/١) ارواء الغلیل (١١٤/٢) رقم (٢٩٢) المحلی لابن حزم (٢٤٣/١، ٢٤٤) مجموعه الفتاوی لشیخ الاسلام (٣٦٧/٢٠) تلخیص الحبیر لابن حجر (١١٥/١) مختصر الخلافیات للبیهقی (١٥٦/١، ١٧٠) تفصیلاً. اوګوره فتاوی الدین الخالص (٢٧٧/٢).
نوددے وجے نه دا ضعیف احادیث په دلیل کښې ذکر کول چه په مانځه کښې په خندلو سره اودس ماتیږی صحیح نه دی، خصوصاً احنافو ته خو ځکه صحیح نه دی چه :
دویمه وجه داده : چه داحنافو دپاره دا احادیث په دلیل کښې نیول ځکه صحیح نه دی چه مانځه کښې په خاندلو باندے داودس ماتیدل خلاف القیاس دی، اود احنافو اصول دادی چه کله یو صحابی

خلاف القیاس روایت بیان کړي اوهغه صحابي فقیه نه وي نو قیاس به مقدم کولے شي دهغه په روایت باندے. نو مانځه کښے په خندا سره داودس ماتیدلو روایتونه دابو هریره او انس رضی الله تعالی عنهما نه نقل شویدي. او ابو هریره او انس رضی الله عنهما دواړو ته احناف بے چاره غیر فقیه وائي.

اوګوره نور الانوار (۱۷۹/۱) اصول الشاشي ص (۷۵) التلویح والتوضیح (۷/۱).

نودلته بیا څنګه دهغوي په روایتونو باندے استدلال خلاف القیاس استدلال کوي ؟ سره ددے نه چه دا روایتونه ضعیف هم دي.

دارنګه په مانځه کښے خندلو باندے اودس ماتیدو روایتونه دجابر او ابو موسی رضی الله عنهما نه نقل شویدي. لیکن دے دواړو دخپلو روایتونو خلاف فتوي هم ورکړیده لکه مخکښے ذکر شو. اودا هم داحنافو اصول دي چه کله یو راوي دخپل روایت نه خلاف فتوي ورکړي نو دراوي فتوي' له به اعتبار وي، روایت له به ئے اعتبار نه وي، بلکه هغه به منسوخ حسابیږي. ځکه یو راوي چه یو حدیث روایت کړي او بیا همدغه راوي دخپل روایت خلاف فتوي ورکوي نودا دلیل وي – ددوئ په نیز – په دے خبره چه دا حدیث منسوخ دے یا بله څه وجه ده.

نودے مسئله کښے چه په مانځه کښے په زوره خندلو سره اودس ماتیږي دا روایتونه :

دابو هریرهؓ، انسؓ، جابرؓ او ابو موسی اشعري رضی الله عنهم دي.

اود ابو هریرهؓ او انسؓ احادیث خو دقیاس خلاف دي.

اود جابرؓ او ابو موسی اشعريؓ روایتونه دهغوي دخپلو فتوو خلاف دي.

په هر تقدیر سره ددے صحابه کرامؓ دا روایتونه داحنافو دپاره دلیل نشي جوړیدے.

دا دواړه قاعدے اګرچے غلطے او فاسدے دي لیکن مونږ الزاماً ذکر کړے.

اودا دویمه وجه په دلیل کښے مونږ هغه ذکر کوو چه په مانځه کښے په خندلو باندے داودس ماتیدلو احادیث ضعیف دي. ورنه مونږ الزاماً هم دا فاسدے قاعدے نه لیکو.

ددے وجے نه علامه ابن القیم رحمه الله فرمائي :

قدم ابو حنیفه حدیث القهقهه في الصلاه علی محض القیاس واجمع اهل الحدیث علی ضعفه.

یعنے : امام ابو حنیفهؒ حدیث دقهقهے په مانځه په قیاس باندے مقدم کړو، حال داچه دتولو محدثینوؒ په دے اجماع ده چه دا حدیثونه ضعیف دي.

اعلام الموقعین (۶۳/۱) جامع الفقه (۲۱۱/۱) لابن القیم.

بلکه امام ابن القیمؒ خو مقلدینو ته په خپل دے عبارت سره ډیره زورنه ورکړیده چه:

الوجه السابع والثلاثون: ردکم السنه الثابته عن رسول الله ﷺ بالوضوء من مس الفرج واکل لحوم الابل، وقلتم: ذلك زیاده علی القرآن لان الله تعالی انما ذکر الغائط، ثم اخذتم بحدیث ضعیف فی ایجاب الوضوء من القهقهه وخبر ضعیف فی ایجابه من القیٔ، ولم یکن اذ ذاك زائداً علی مافی القرآن اذ هو قول متبوعکم – فمن العجب: اذا قال من قلدتموه قولاً زائداً علی ما فی القرآن قبلتموه وقلتم: ما قاله الابدلیل، وسهل علیکم مخالفه ظاهر القرآن حینئذ. واذا قال رسول الله ﷺ قولاً زائداً علی ما فی القرآن قلتم: هذا زیاده علی النص وهو نسخ القرآن، والقرآن لا ینسخ بالسنه، فلم تاخذوا به، واستصعبتم خلاف ظاهر القرآن. فهان خلافه اذا وافق قول من قلدتموه، وصعب خلافه اذا وافق قول رسول الله ﷺ !!

اعلام الموقعین (۳۲۴/۲) یا (۲۴۲/۱) باختلاف الطبع. وجامع الفقه (۲۱۱/۱).

ترجمه: اوودیرشمه وجه (درد کولو دمقلدینو صریح سنت لره) داده: چه تاسو (اے مقلدینو) درسول الله ﷺ هغه صحیح ثابت سنت رد کړے کوم چه دعورت مسه کولو په باره کښے راغلے، دغه شان کوم چه داوښانو دغوښے خوړلو نه داودس ماتیدو په باره کښے راغلے. تاسو وئیلی دی چه: دا حدیثونه په قرآن باندے زیادت دے، ولے چه الله تعالی خو داودس ماتیدو دپاره صرف بول او براز ذکر کړیدی چه صرف په دے سره اودس ماتیږی (او په قرآن کښے مس الفرج او اوښانو غوښو خوړلو سره داودس ماتیدلو تذکره نشته، نو که دا حدیثونه مونږ اومنو نو په قرآن به زیادت راشی) بیا خپل تاسو دقهقهے په باره کښے په ضعیف حدیث باندے عمل کړیدے، دغه شان په قئ په باره کښے مو په ضعیف حدیث عمل کړیدے، نو آیا دا په قرآن باندے زیادت نه دے ؟ زیادت ولے نه دے خو چونکه ستاسو دمتبوع امام قول دے نو په قرآن باندے زیادت وی نو هم ئے منئ. نو دتعجب خبره داده چه ستاسو امام چه تاسو ئے تقلید کوئ یو داسے قول اوکړی چه په هغے سره په قرآن باندے زیادت راځی نو تاسو دا قبلوئ اودا وائے چه دا خبره به هغه په دلیل سره کړے وی، اوبیا تاسو دپاره دغه وخت دقرآن دظاهر خلاف کول آسان وی. اوبل طرفته کله چه رسول الله ﷺ یوداسے قول اوکړی چه هغه زائد وی په قرآن باندے نو تاسو (دهغے درد کولو دا بهانه کوئ او) وایئ چه دا خو په قرآن باندے زیادت دے اودا زیادت نسخ وی او قرآن په سنت (یعنے خبر واحد) سره نه منسوخ کیږی. نو تاسو بیا په دے سنت باندے عمل نه کوئ اود قرآن دظاهر مخالفت کول گران گنړئ. نو عجیبه خبره داده چه کله ظاهر

دقرآن ستاسو دامام دخبرے سره موافق وی، نو ددے مخالفت تاسو ته ګران وی، او کله چه ظاهر دقرآن ستاسو دامام دخبره موافق نه وی، نو بیا تاسو ددے ظاهر دقرآن مخالفت کول آسان وی ! (عجیبه ثمره ده د تقلید، چه دقرآن مخالفت هم آسانوی !!) . دارنګ اوګوره :

۱ – تنقیح تحقیق احادیث التعلیق لابن الهادی الحنبلی (۱۶۷/۱) .

۲ – شرح منتهی الارادات (۷۰/۱) .الشرح الکبیر (۹۳/۱) الکشاف (۱۴۹/۱) المغنی لابن قدامه (۲۰۱/۱) یا (۱۱۷/۱، ۱۱۸) باختلاف الطبع. السنن الکبری للبیهقی (۱۴۴/۱) باب ترك الوضوء من القهقهه. المحلی لابن حزم (۲۴۳/۱) .

الفقه الاسلامی لوهبه الزحیلی (۲۸۰/۱) کښے دی :

وارجّح رأی الجمهور لعدم ثبوت حدیث الحنفیه .

یعنے : زه دجمهورو رائے ته ترجیح ورکوم ځکه داحنافو حدیث نه دے ثابت .

دارنګه اوګوره : مجموعه الفتاوی لشیخ الاسلام ابن تیمیهؒ (۳۶۷/۲۰) (۵۲۶) (۲۴۲/۲۱) .

فقه السنه للسید سابق (۵۱/۱) کښے دی : القهقهه في الصلاه لا تنقض الوضوء لعدم صحه ماورد في ذلك (یعنے په مانځه کښے په زوره خندلو سره اودس نه ماتیږی ځکه دے باره کښں چه کوم حدیثونه راغلی هغه صحیح نه دی .

کشاف القناع عن متن الاقناع (۱۳۱/۱) للشیخ منصور البهوتی، مختصر الخلافیات للبیهقی (۱۵۶/۱، ۱۷۰)، المجموع شرح المهذب (۶۰/۲، ۶۱) للنووی .

شاه ولی الله محدث دهلوی صاحبؒ په حجه الله البالغه (۱۷۶/۱) کښے په بحث دموجبات الوضوء کښے لیکی چه : داودس واجبونکی څیزونه زمونږ په شریعت کښے په درے قسمه دی : یو هغه دی چه په هغے باندے بالا تفاق اودس ماتیږی. دویم هغه څیزونه چه هغے کښے دسلفو : صحابه کرامو اوتابعینو اختلاف وی . بیا ددے دویم قسم دتفصیل ذکر کولو نه روسته په (۱۱۷/۱) کښے ددے حکم ذکر کوی :

والاصح في هذا ان من احتاط فقد استبرأ لدینه وعرضه، ومن لا فلا سبیل علیه في صراح الشریعه. یعنے : دے کښے دتولو نه صحیح حکم دادے چه څوك احتیاط کوی نو هغه دخپل دین او عرض حفاظت کوی، او څوك چه (په دے باندے اودس مات) نه ګنړی نو په هغه باندے هم څه ملامتیا په ښکاره شریعت کښے نشته دے .

فتاویٰ الدین الخالص (۲۷۷/۲).

حاصل دمسئلے داشو چه په مانځه کښے خندل ګناه ده لیکن اودس وربانديے نه ماتیږی، اودے باره کښے چه کوم احادیث راغلی دی چه په مانځه کښے په خندلو سره اودس ماتیږی هغه ټول ضعیف دی، یو هم قابل دحجت کیدو نشی جوړیدے.

لکه ددے تفصیل په ارواء الغلیل (۱۱٤/۲) مختصر الخلافیات للبیهقی (۱۵٦/۱، ۱۷۰) نصب الرایه (٤۷/۱، ٥٤) کښے کتلے شی.

اودا دجمهورو علماؤ مذهب هم دے. اوګوره الفقه الاسلامی (۲۸۰/۱) دارنګه هغه کتابونه کوم چه مخکښے اولیکلے شو دے تولو کتابونو کښے دی چه په مانځه کښے په زوره خندا سره اودس نه ماتیږی. فقط.

۱٦/۱۱/۱٤۲٤هـ.

آیا خپل عورت له په لاس وروړلو اودس ماتیږي؟

سوال : خپل عورت له په لاس وروړلو سره اودس ماتیږی که نه؟ دقرآن اوسنت په رڼا کښے جواب راکړئ!

جواب : دے باره کښے دوه قسمه احادیث راغلی دی چه اول دواړه قسمه احادیث ذکر کولے شی او بیا روسته دهغے حکم.

یو قسم احادیثو کښے راځی چه درسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه یو کس اودس اوکړی او بیا خپل عورت له لاس یوسی نو ددے څه حکم دے؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: دا خو اندام دے ستا داندامونو نه. (یعنے لکه چه یو انسان خپلے پوزے یا غوږ وغیره له لاس وروړی نو په دے سره اودس نه ماتیږی دغه شان که عورت له لاس یوسی نو هم اودس نه ماتیږی) ----- اودا حدیث صحیح دے او منسوخ هم نه دے.

اوګوره ابوداود (۲٤/۱) ترمذی (۲٥/۱) نسائی (۲۷/۱) ابن ماجه (۱۳٥/۱) مشکاة (۱۰٤/۱).

اودا قول چه په عورت مسح کولو سره اودس نه ماتیږی دعلی، ابن مسعود، ابن عباس، حذیفه، عمران بن حصین، ابودرداء او سعد بن وقاص – رضی الله عنهم – نه هم روایت دے. او په تابعینو کښے دسعید بن المسیب، یو روایت کښے دسعید بن جبیر، ابراهیم نخعی، ربیعه، سفیان ثوری، ابو

حنيفه او نورو علماؤ – رحمهم الله – هم دا قول دے.

دويم قسم احاديثو كښے راځى. چه چا خپل عورت له لاس وروړو نو په دے سره دده اودس مات شو.

دا احاديث هم صحيح دى، منسوخ نه دى، اود ډيرو صحابه كرامؓ نه روايت دى. چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى. چه په عورت مسح كولو سره اودس ماتيږى. لكه ددے تفصيل داسے دے:

۱ – عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده عن النبى ﷺ قال: ايما رجل مس فرجه فليتوضا، وايما امرأه مست فرجها فليتوضا.

اخرجه احمد (۲/۲۲۳) والدارقطنى. وسنده صحيح. انظر صحيح الجامع للالبانى ؒ (۱/۵۲۹) (۲۷۲۵) الارواء (۱۱۷).

ترجمه: عمرو بن شعيب دخپل پلار نه او هغه دخپل پلار نه روايت كوى. چه ر سول الله ﷺ فرمائيلى دى: كوم سړے چه خپل عورت مسح كړى نو اودس دے اوكړى، اوكومه زنانه چه خپل عورت مسح كړى نو هغه دے اودس اوكړى.

علامه ساعاتى ؒ په بلوغ الامانى شرح فتح الربانى (۲/۸۵) كښے فرمائى:

والحديث صريح في عدم الفرق بين الرجل والمرأه في حكم المسح.

يعنے: دا حديث صريح دليل دے په دے چه دے حكم كښے نارينه اوزنانه يو شان دى.

۲ – عن ام حبيبه قالت: سمعت رسول الله ﷺ يقول: من مس فرجه فليتوضا.

اخرجه ابن ماجه (۱/۱۳۵) وسنده صحيح كما في الارواء (۱/۱۵۱).

ترجمه: دام حبيبهؓ نه روايت دے چه ما درسول الله ﷺ نه اوريدلى دچه څوك خپل عورت له لاس وروړى نو اودس دے اوكړي.

۳ – عن بسره بنت صفوان ان النبى ﷺ قال: من مس ذكره فلا يصلى حتى يتوضا.

ترجمه: بسره بنت صفوانؓ فرمائى: رسول الله اوفرمائيل: څوك چه خپل عورت له لاس وروړى هغه دے هغه وخته پورے مونځ نه كوى چه اودس ئے نه وى كړے.

دا حديث مالك (۱/۲۹) احمد ابوداود (۱/۲٤) ابن ماجه (۱/۱۳۵) ترمذى (۱/۲۵) نسائى (۱/۱۳۷) مشكاه (۱٤۰) كښے روايت كړے شويدے. دے تولو كتابونو كښے ذكر دے.

صحيح ابن حبان (۳/٤۰۰) (۱۱۱٦) كښے دى:

عن بسره قالت: قال رسول الله ﷺ: من مس ذكره فليتوضا وضوئه للصلاه.

یعنے : بسرهؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : چاچه خپل خاص اندام له ګوتے یوړے هغه دے دمانځه پشان اودس اوکړی.

٤ – عن زید بن خالد الجهنی رضی الله عنه قال : سمعت رسول الله ﷺ یقول : من مس فرجه فلیتوضا. ا خرجه احمد. انظر الفتح الربانی (٨٤/٢).

ترجمه : زید بن خالد جهنیؓ وائی : رسول الله ﷺ نه مے واوریدل چه وے فرمائیل : چاچه خپل اندام مخصوصه له ګوتے وروړے هغه له پکار دی چه اودس اوکړی.

دا تول احادیث په دے خبره دلیل دے چه خپل عورت له په لاس وروړلو سره اودس ماتیږی، برابره خبره ده که عورت دناریینه وی که دزنانه.

کوم احناف چه ددے حدیثونو جوابونه کوی چه دا منسوخ دی دهغوی خبره غلطه ده ځکه ناسخ او منسوخ دځانه نه جوړیږی. په نسخ باندے دلیل راوړل پکار دی، اودلته دوئ سره هیڅ دلیل نشته. اوکوم قسم دلا ئل چه دوئ وائی هغه خو مونږ هم دوئ ته وئیلے شو یعنی په عورت مسح کولو باندے داودس دنه ماتیدو والا احادیث منسوخ دی.

دویم جواب دوئ دا کوی چه دا داودس ماتیدو روایت زنانه کړیدے اوزمونږ روایت چه اودس نه ماتیږی هغه دسړی نه روایت دے، نوددے وجے نه زمونږ روایت ته ترجیح ده. نو دا جواب هم د څو وجهونه غلط دے، ځکه :

١ – یو خو په دے وجه چه په روایت کښے ناریینه والے او زنانه والے څه وجه دترجیح نه ده.

٢ – دویم داچه دا روایت خو د (١٩) نولس صحابه کرامؓ نه نقل دے چه دهغے نه څلور روایتونه مونږ ذکر کړل چه دا روایت دڅلور ناریینه صحابوؓ نه روایت وو.

اود نورو صحابه کرامؓ نومونه دادی :

عمر بن الخطاب، سعد بن ابی وقاص، ابن عمر، ابن عباس، ابو هریره، جابر، ابو ایوب، عبد الله بن عمرو، علی بن طلق، نعمان بن بشیر، انس، ابی بن کعب، معاویه بن حیده، قبیصه، اروی بنت انیس، ام حبیبه، بسره او نورو صحابه کرامو – رضی الله عنهم اجمعین – نه روایت کړے شویدے .دتفصیل دپاره اوګوره : التلخیص الحبیر لابن حجرؒ (١٨٦/١، ١٨٧). بلوغ الامانی شرح مسند احمد الشیبانی (٨٨/٢). ارواء الغلیل للامام الا لبانی (١٥٠/١) المجموع شرح المهذب (٥١/٢).

دارنګه په صحابه کرامؓ کښې دعمر بن خطاب، سعد بن ابي وقاص، ابن عمر، ابن عباس، ابو هریره، عائشه او ابو ایوب – رضی الله عنهم – هم دامذهب وو چه عورت له لاس وروړلو سره اودس ماتیږی.

او په تابعینوّ کښې دعروه، سلیمان بن یسار، عطاء، ابان بن عثمان، جابر بن زید، زهری، مصعب بن سعد، یحیی بن ابي کثیر، سعید بن المسیب، هشام، مجاهد، ابو العالیه او ابو ثور – رحمهم الله – دا مذهب وو چه عورت له لاس وررولو سره اودس ماتیږی.

په امامانو کښې دامام شافعیؒ، امام احمدؒ، امام مالکؒ او امام اسحقؒ هم دا مذهب دے چه عورت له لاس وروړلو سره اودس ماتیږی.

اوګوره الطحاوی (۵۷/۱، ۶۱). المجموع شرح المهذب (۵۱/۱). المغنی لابن قدامه (۲۴۰/۱) نیل الاوطار تفصیلاً (۲۴۷/۱، ۲۵۱). مصنف ابن ابي شیبه (۱۶۳/۱، ۱۶٤) تحفه الاحوذي (۸۵/۱) ارواء الغلیل (۱۵۰/۱، ۱۵۱) رقم (۱۱۶) بیهقی (۱۳۰/۱) التحقیقات في رد الهفوات ص (۷۷، ۷۹). فتاوی الدین الخالص (۳۸۳/۲، ۳۸۵).

الفقه الاسلامی (۳۷۷/۱) کښې دی:

وهو مذهب الجمهور. چه دا د جمهورو مذهب دے چه په عورت له لاس وروړلو سره اودس ماتیږی. بیا روسته په (۲۷۹/۱) کښې لیکی:

والراجح عندی مذهب الجمهور غیر الحنفیه.

یعنې: ما ته دجمهورو مذهب راجح دے نه داحنافو.

حاصل : داچه دے باره کښې یو قسم احادیث راغلی چه عورت له لاس وروړلو سره اودس نه ماتیږی، داد احنافو مذهب دے.

بل طرفته نور ډیر احادیث راغلی دی چه عورت مسح کول اودس ماتوی. اودا د (۱۹) صحابه کرامؓ اوبے شماره تابعینوّ او نورو علماؤ نه نقل دے. دارنګه دائمه ثلاثه ؤ او جمهورو علماؤ مذهب دے.

تطبیق ددواړه قسمه احادیثو:

امام ابن القیمؒ خو داثابته کړیده چه دبسره رضی الله عنها حدیث باندے عمل دے، اودا حنافو چه کوم حدیث دے په دے حدیث باندے د (۷) وجوهو نه عمل نشی کیدے. نو موصوف دبسرےؓ حدیث

ته ترجیح ورکړې اود احنافو استدلال ئې ضعیف ګرځولے دے. اودترجیح دپاره موصوف (۷) وجې ذکر کوی چه بعضے دهغے نه دادی:

۱ – یوه وجه داده چه داحنافو کوم حدیث په دلیل کښې ذکر کوی دا ضعیف دے.

۲ – دویمه وجه داده: چه دطلق بن علیؓ نه خپل اختلاف راغلے، یو روایت کښې دی:

هل هو الا بضعه منك. اوپه بل روایت کښې دی: من مس ذکره فلیتوضا.

(رواه الطبرانی: ۴۰۱/۸، ۴۰۲) وذکر الهیثمی فی مجمع الزوائد (۲۵۰/۱).

۳ – دریمه وجه داده: چه که چرته دطلق بن علیؓ حدیث صحیح هم شی (کوم چه احناف په دلیل کښې پیش کوی) بیا به هم دبسرۃؓ حدیث ته ترجیح وی اودا به مقدم وی ځکه دطلقؓ چه کوم روایت دے او هغے کښې چه کومه قیصه ذکر ده دهغے نه شپږ (۶) کاله پس ابوهریرہؓ ایمان راوړیدے، اوابو هریرہؓ نه هم روایت دے چه په مس الذکر سره اودس ماتیږی. نوکوم روایت چه روسته نقل وی په هغے باندے به عمل کولے شی ځکه چه مخکښې کښې احتمال دنسخ وی.

۴ – څلورمه وجه دترجیح داده: چه داحنافو کوم مستدل حدیث دے هغے کښې (هل هو الابضعه منك) دے چه دانه دے مګر ستا یو اندام دے. ذکر دی. نو معلومه خبره ده چه په اندامونو کښې فرق دے لکه دذکر (اندام مخصوصه) او نورو اندامونو کښې ډیر فرق دے، په نظر کښې هم او په حِس کښې هم. اودا په تجربه هم ثابته ده.

اود رسول الله ﷺ نه نقل دی چه: نهی ان یمس الرجل ذکره بیمینه. یعنے: رسول الله ﷺ دمتیازو کولو په وخت ښي لاس خپل عورت له وروړل منع کړیدی. نو ددے نه معلومه شوه چه داندام مخصوصه او نورو اندامونو ترمینځ فرق دے.

۵ – پنځمه وجه داده: چه دا دواړه احادیث یعنی دجمهورو اود احنافو ددلائلو ترمینځه تعارض راشی نو بیا به هم هغه حدیث ته ترجیح وی کوم کښې چه راځی چه په مس الذکر باندے اودس ماتیږی. ځکه دا حدیث دډیرو صحابه کرامؓ نه روایت شویدے.

اوګوره تهذیب السنن (۱۳۳/۱، ۱۳۵) جامع الفقه لابن القیم (۲۰۰/۱).

دتطبیق دویمه وجه:

بعضے علماؤ ددے دواړو حدیثونو په تطبیق کښې دا وئیلی دی چه احناف چه کوم حدیث په استدلال کښې پیش کوی هغه یا ضعیف دے یا منسوخ.

لکه الفقه الاسلامی (۲۷۹/۱) کښې دی :

ضعفه الشافعی، وابو حاتم، وابوزرعه، والدارقطنی، والبیقهی، وابن الجوزی.

یعنې : دا حدیث (چه په مس الذکر سره اودس نه ماتیږی) امام شافعی، ابو حاتم، ابوزرعه، دارقطنی، بیهقی او ابن الجوزی – رحمهم الله – ضعیف کړیدے. بیا لیکی :

وادعی فیه النسخ ابن حبان والطبرانی وابن العربی والحازمی وآخرون.

یعنې : (هل هو الا بضعه منك) والا حدیث ابن حبان، طبرانی، ابن العربی، حازمی او نورو علماؤ دیته منسوخ وئیلی دے.

دتطبیق دریمه وجه :

بعضے علماؤ لکه علامه البانیؒ، حامد الفقیؒ او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او نورو ددے دواړه قسمه حدیثونو ترمینځ تطبیق داسے کړے چه :

حدیث دطلق یعنې (هل هو الا بضعه منك) والا حدیث کوم چه احناف ځان دپاره دلیل پیش کوی هغه محمول دے په بغیر دشهوت نه لاس لګولو سره. ځکه دے صورت کښے چه کله شهوت نه وی نو واقعی هم دذکر اود نورو عامو اندامونو ترمینځه فرق نه وی. اوکوم احادیثو کښے چه راغی چه عورت له لاس وروړلو سره اودس ماتیږی نو هغه محمول دی په حالت دشهوت سره لاس وروړلو باندے.

اودے سره یو بل شرط هم شته او هغه داچه خپل فرج یا ذکر ته په لاس وروړلو سره هغه وخت اودس ماتیږی چه دپردے (حائل) نه بغیر لاس وروړی. ولے که چرے دجامے دپاسه یو کس خپل عورت له لاس وروړی نو بیا ئے هم اودس نه ماتیږی.

اوګوره المفصل في احکام المرأه والبیت المسلم (۸۸/۱) ۔

او په دے شرط باندے حدیث دابو هریرهؓ دلیل دے :

عن ابي هریره – رضی الله عنه – قال : قال رسول الله ﷺ : اذا افضی احدکم بیده الی فرجه ولیس بینهما ستر ولا حجاب، فلیتوضا.

اخرجه ابن حبان. انظر صحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان (۴۰۱/۳) رقم (۱۱۱۸).وقال شعیب الارناووط : وسنده حسن.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی دے : کله چه یو کس

پټاسو کښې خپل لاس خپل عورت ته اورسوی او ددې دواړو ترمېنځ حائل او پرده نه وی نو هغه دے اودس اوکړی.

اوګوره تمام المنه للامام الالبانی ص (۱۰۳) وتوضیح الاحکام (۲۷۷/۱) المفصل في احکام المرأه والبیت المسلم (۸۸/۱) تحفه الاحوذي (۸۵/۱) التحقیقات في رد الهفوات ص (۷۹) نیل المرام شرح بلوغ المرام (۶۲/۱) جامع الفقه لابن القیم (۲۰۰/۱، ۲۰۲). فتاوی الدین الخالص (۳۸۵/۲) کشاف القناع عن متن الاقناع (۱۲۶/۱) للشیخ منصور البهوتیؒ، الانصاف في معرفه الراجح من الخلاف (۲۰۲/۱) للمرداوی، نیل الاوطار (۲۴۷/۱) للقاضی الشوکانی، الفقه الاسلامی (۲۷۹/۱) للدکتور وهبه الزحیلی، ارواء الغلیل (۱۵۰/۱، ۱۵۱) للعلامه الالبانی، المجموع شرح المهذب (۵۱/۱) للنووی، المغنی لابن قدامه (۲۴۰/۱) الروضه الندیه شرح الدرر البهیه (۴۸/۱، ۴۹) للعلامه صدیق حسن خان القنوجی.

آیا د زنانه فرج نه هواء وتلو سره اودس ماتیږي؟

سوال: دزنانه دفرج نه په هوا وتلو سره اودس ماتیږی اوکه نه؟

جواب: په دے کښې صحیح قول دادے چه د زنانه د فرج نه په هوا وتلو سره اودس نه ماتیږی، ځکه داد نجاست ځائے نه نه راوځی. بل دا چه په دے باندے (دفساء او ضراط) تعریف هم نه صادقیږی، او حدیث کښې دی چه په فساء اوضراط (آواز والا او بے آوازه هوا) سره اودس ماتیږی.

علامه ابن حزم په المحلی (۲۱۸/۱) کښې فرمائی:

والریح الخارجه من الدبر خاصه، لامن غیره، بصوت خرجت ام بغیر صوت – هو الناقض. وهذا ایضا اُجماع متیقن ولاخلاف في ان الوضوء من الفسو والضراط، وهذان الاسمان لایقعان علی الریح البته الا اذا خرجت من الدبر والا فانما یسمی جشاء وعطاس فقط.

ترجمه: دغه شان هغه هواء چه صرف ددبر (شا طرفنه) اووځی نه دبل ځائے نه، برابره خبره ده چه په آواز سره اووځی اوکه بے آوازه دے سره اودس ماتیږی. اوپه دے خبره هم یقیني اجماع ده. او په دے کښې هم خلاف نشته چه دبے آوازه هوا او آواز والا هواء وتلو په وجه اودس ماتیږی، اودا دواړه نومونه (فساء او ضراط) نه صادقیږی مګر کله چه ددبر (شا طرفنه) اووځی، ورنه بیا ورته جشاء او عطاء وائی.

فتاوی اللجنه ا لدائمه للبحوث العلمیه والافتاء (۲۵۹/۵) کښې دی:

خروج الهواء من القبل لا ینقض الوضوء.

یعنې : دزنانه دمخکښې اندام نه هوا وتلو سره اودس نه ماتیږي.

فتاوی المرأه المسلمه (۲۲۵/۱) کښې دي :

هذا لا ینقض الوضوء، لانه لایخرج من محل نجس کالریح التي تخرج من الدبر.

یعنې : دزنانه دمخکني اندام نه هوا وتلو سره اودس نه ماتیږي، ځکه چه دا دنجس ځائے نه نه راوځي لکه څنګه هغه هوا دنجس ځائے نه راوځي کومه چه ددبر یعنې شا طرفنه اوځي ----

فتاوی حقانیه (۶۲۳/۲) کښې دي :

جو هواء دبر سے نکلے وه ناقض وضوء هوتی هے، اور جو هوا عورت کی فرج سے یا مرد کے ذکر سے خارج هو وه ناقض الوضوء نهین.

یعنې : کومه هواء چه دشا طرف نه اوځي نه په هغې سره اودس ماتیږي، لیکن کومه هواء چه دزنانه دفرج یا دسړي دذکر نه اوځي هغه اودس نه ماتوي.

در مختار (۱۲۶/۱) کښې دي :

ولا خروج ریح من قبل غیر مفضاه اما هي فیندب لها الوضوء، وقیل : یجب، وقیل : لو منتنه الخ.

یعنې : دزنانه دفرج نه په هواء وتلو سره اودس نه ماتیږي کله چه دهغې مخ او شاطرف سره یو ځائے شوے نه وي، اود کومې زنانه چه مخ اوشا طرف سره یوځائے شوي وي نو دهغې دپاره اودس کول مستحب دي. او بعضې وائي چه په دے صورت کښې اودس واجب دے. او ځینې وائي چه که بدبوپه وي واجب دے.

الجوهره النیره (۸/۱) کښې دي :

والریح الخارجه من الذکر وفرج المرأه لا تنقض الوضوء علی الصحیح الا ان تکون المرأه مفضاه، فانه یستحب لها الوضوء.

ترجمه : اوکوم باد چه دسړي یا دزنانه دمخې طرف نه اووځي اودس نه ماتوي په صحیح قول سره. مګر که دښځې دشا اودمخې لار سره یو ځائے شوے وي بیا هغې دپاره اودس کول مستحب دي.

فتاوی الدین الخالص (۳۹۷/۲) کښې دي :

الظاهر : انه لا ینقض الوضوء لانه لا یخرج من محل نجس، کالریح التی تخرج من الدبر.

ترجمه : ښکاره خبره داده چه دا اودس نه ماتوی ځکه دا داسے ځائے نه نه راوځی کوم چه نجس دے لکه څنګه چه دشا طرفنه راوتونکے هواء دنجس ځائے نه راوځی .

فتاوی عالمګیری (۹/۱) کښے دی :

والریح الخارجه من الذکر وفرج المرأه لا تنقض الوضوء علی الصحیح الا ان تکون المرأه مفضاه فانه یستحب لها الوضوء، کذا في الجوهره النیره .

ترجمه : اوکوم باد چه دسری یا دزنانه دمخے طرف نه اووځی اودس نه ماتوی په صحیح قول سره . مګر که دښځے دشا اودمخے لار سره یو ځائے شوے وی بیا هغے دپاره اودس کول مستحب دی . لکه داخبره په الجوهره النیره کښے ذکر ده .

نفع المفتی والسائل ص (٦) کښے عبد الحی لکهنوی صاحبؒ هم لیکلی چه په دے سره اودس نه ماتیږی .

د اوښ غوښے خوړلو نه پس اودس کول ضروری دی

سوال : داوښ په غوښه خوړلو سره اودس ماتیږی که نه ؟

جواب : داوښ په غوښه خوړلو سره اوس ماتیږی .دے باره کښے صحیح غیر منسوخ احادیث راغلی دی .

د اوښ په غوښه خوړلو سره د اودس ماتیدو دلائل :

۱ – عن جابر بن سمره رضی الله عنه ان رجلا سال رسول الله ﷺ : اتوضا من لحوم الغنم ؟ قال : ان شئت فتوضا، وان شئت فلا تتوضا . قال : اتوضا من لحوم الابل ؟ قال : نعم! فتوضا من لحوم الابل . الحدیث . رواه مسلم (۱۵۸/۱) .

ترجمه : دجابربن سمرهؓ نه روایت دے چه یو سړی درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه : آیا زه به دګډے بیزے دغوښے خوړلو نه پس اودس کووم ؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : که ستا خوښه وی اودس ترے اوکړه اوکه غوښه دے نه وی ترے مه ئے کوه . هغه بیا عرض اوکړو : آیا زه به داوښانو غوښے خوړلو نه پس اودس کووم ؟ رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : آو ! داوښ دغوښے نه اودس کوه !

دا دمسلم شریف صحیح حدیث دلیل دے په دے خبره باندے چه داوښ غوښه خوړلو سره اودس ماتیږی .

۲ – مصنف ابن ابي شیبه (۴۶/۱) کښې دجابر بن سمرةؓ نه په صحیح سند سره روایت دے چه جابر بن سمرةؓ فرمائی :

کنا نتوضا من لحوم الابل ولا نتوضا من لحوم الغنم.

ترجمه : مونږ به داوښ غوښې خوړلو نه پس اودس کولو او دګډې بیزې غوښې خوړلو نه پس به مو اودس نه کولو.

امام بخاریؒ هم په خپل صحیح کښې داسے باب لګولے دے :

باب من لم یتوضا من لحم الشاه والسویق (۳۴/۱).

یعنې : داباب دے په بیان دهغه چا کښې چه دګډے بیزے دغوښې او ستوانو خوړلو نه پس اودس لازم نه ګنړی.

په دے باب کښې امام بخاریؒ دے خبرے ته اشاره کړیده چه داوښ غوښې خوړلو سره اودس ماتیږی

----- امام نوویؒ دمسلم په شرح کښې دجابرؓ دحدیث لاندے لیکی :

وذهب احمد بن حنبل واسحق بن راهویه ویحیی بن یحیی وابن المنذر وابن خزیمه واختاره البیهقی وحکاه عن اصحاب الحدیث مطلقاً وعن جماعه من الصحابه رضی الله عنهم انه ناقض. واحتج هؤلاء بحدیث الباب : نعم فتوضا من لحوم الابل. وعن البراء بن عازب قال : سئل النبی ﷺ من لحوم الابل فامر به. قال احمد بن حنبل واسحق بن راهویه : صح عن النبی ﷺ فیه حدیثان : حدیث جابر، وحدیث البراء.

(رواه احمد : ۴۸۸/۴) وابوداود (۳۷/۱) وابن ماجه (۱۶۶/۱).

دامام نوویؒ دعبارت مطلب دادے چه : دامام احمدؒ،اسحق بن راهویهؒ یحیی بن یحییؒ، ابن منذرؒ، ابن خزیمهؒ مذهب دادے چه داوښ دغوښې خوړلو سره اودس ماتیږی. امام بیهقیؒ هم دا غوره کړیده چه داوښ په غوښه خوړلو سره اودس ماتیږی، او امام بیهقی دتولو محدثینوؒ او یوے غتے ډلے دصحابه کرامؓ نه هم دا نقل کړی دی چه هغوئ هم داوښ په غوښه خوړلو سره اودس مات ګنړلو.

اودے علماؤ په دلیل کښې داحدیث پیش کوی کوم چه په دے باب کښې ذکر دی. هغه دا چه رسول الله ﷺ یو صحابی ته په جواب کښې اووئیل : آو، داوښ دغوښې خوړلو نه پس اودس کوه.

دغه شان دوئ په دلیل کښې دبراء بن عازبؓ حدیث هم نیسی چه دے فرمائی : رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو په باره دغوښے داوښ کښې چه آیا په دے سره اودس ماتیږی اوکه نه ؟ رسول الله ﷺ ورته

په اودس کولو امر اوکړو.

امام احمدؒ بن حنبل او اسحق بن راهويهؒ وئيلی دی چه دے باره کښے (چه داوښ غوښے خوړلو سره اودس ماتېږی) دوه صحيح حديثونه راغلی دی يو دجابر رضی الله عنه حديث، اوبل دبراء بن عازبؓ حديث.

امام نووی ؒ نوره خبره زياتوی ليکی چه:

وهذا المذهب اقوی دليلا، وان کان الجمهور علی خلافه.

يعنے: ددليل په لحاظ دا مذهب ډېر قوی دے (چه داوښ په غوښه خوړلو سره اودس ماتېږی) اګرکه جمهور علماء ددے مذهب خلاف دی --امام نووی ؒ دے پسے داهم ليکی:

وقد اجاب الجمهور عن حديث جابر بحديثه الآخر: کان آخر الامرين من رسول الله ﷺ ترك الوضوء مما مست النار. ولکن هذا الحديث عام، وحديث الوضوء من لحوم الابل خاص، والخاص مقدم علی العام.

ترجمه: اوجمهور علماء دجابرؓ دحديث (کوم کښے چه دادی چه داوښ په غوښه خوړلو سره اودس ماتېږی) جواب دجابرؓ په بل هغه حديث سره کوی چه درسول الله ﷺ روستنے عمل داوو چه هغه د (مامست النار) يعنے دهغه څيز دخوړلو نه روسته چه هغے ته اور رسېدلے وی دهغے نه پس اودس پرېخودل وو. ليکن دا حديث عام دے او حديث داودس کولو دغوښو داوښانو نه دا خاص دے، او خاص مقدم وی په عام باندے.

اوګوره شرح النووی علی صحيح مسلم (۱۵۸/۱).

دامام نووی رحمه الله په دے خبره باندے په فتاوی الدين الخاص کښے داسے تبصره شوېده:

وهذا الذي اختاره علی خلاف مذهبه، وهذا من انصافه رحمه الله ويجب علی کل احد ان يترك اقوال متبوعه کائنا من کان لقول رسول الله ﷺ اذا صح الاسناد اليه وسلم من معارض قوی مثل ما نحن فيه فانه ليس عند الجمهور الا التاويل وهو بعيد ايضا. وعند هؤلاء ادله قويه قوليه صحيحه الاسناد، فهل من معتبر!

ترجمه: دا هغه مسئله ده چه امام نووی ؒ غوره کړېده سره ددے نه چه دا دده دمذهب خلاف ده، اودا دده انصاف دے. او په هرچا باندے واجب دی چه دخپل متبوع خبرے هر څوك چه وی پرېدی دوجے دقول درسول الله ﷺ نه هرکله چه رسول الله ﷺ پورے دېوے مسئلے سند ثابت شی اودمعارض

قوي نه سالم وي. لکه دا زمونږ واله زير بحث مسئله، چه په دے کښے دجمهورو سره دتاويل نه علاوه بل هيڅ دليل نشته اودا تاويل هم بعيد دے. او ددے په مقابله کښے قوي او صحيح قولي صحيح الاسناد دلائل دي، نو آيا ځوك عبرت لرونکے شته دے چه ددے نه عبرت واخلي!

فتاوي اللجنه کښے ددے تفصيل ذکر شويدے چه حاصل ئے دادے:

داوښ غوښه خوړل اودس ماتوي برابره خبره ده که خامه اوخوړل شي اوکه پخه، او په دے باندے دجابر رضي الله عنه اود براء بن عازبؓ حديثونه دليل دے۔

لکه ابوداود (٢٧/١) مسند احمد (٢٨٨/٤) ابن ماجه (١٦٦/١) کښے دي:

چه براء بن عازبؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه داوښ په غوښه خوړلو سره اودس ماتيږي اوکه نه؟ رسول الله ﷺ ورته ارشاد اوفرمايه: ددے دغوښو خوړلو نه اودس کوه!

داسيد بن حضيرؓ نه هم داسے روايت شويدے۔

اوګوره مسند احمد (٣٤٢/٤) ترمذي (٢٦٨/١) ابن ماجه (١٦٦/١).

رسول الله ﷺ چه داوښ دغوښے خوړلو نه پس داودس امر کړيدے نو دا امر دوجوب دپاره دے، اودلته څه قرينه صارفه دوجوب نه هم نشته.

١ – اوګوره فتاوي اللجنه الدائمه للبحوث العلميه والافتاء (٢٧٤/٥).

٢ – علامه ابن القيمؒ خو په دے مسئله کښے ډير تفصيلي ليکل کړيدي، ددے دپاره چه زمونږ مسئله ډيره اوږده نشي زه صرف دهغه په کتابونو حواله ورکوم:

بدائع الفوائد (١٢٥/٤) تهذيب السنن (١٣٦/١، ١٣٨) زاد المعاد (٣٧٥/٤، ٣٧٧)، اعلام الموقعين (٤٨٩/١) (٣٨/٢) (٣٤٧/٤، ٣٤٩) جامع الفقه لابن القيم (٢٠٤/١، ٢١١) تفصيلا.

دغه شان دامسئله په دے لانديښو کتابونو کښے تفصيلا ليکلے شويده:

تمام المنه ص (١٠٥) للشيخ الالباني. القواعد النورانيه ص (٩) لشيخ الاسلام ابن تيميه. المنار في المختار للمقبلي (٨٢/١) کشاف القناع (١٣٠/١)، الروضه النديه للعلامه صديق حسن خان (٤٦/١)، الانصاف في معرفه الراجح من الخلاف للمرداوي (٢١٦/١)، الملخص الفقهي للشيخ صالح الفوزان (٤٥/١)، المختارات الجليه من المسائل الفقهيه للشيخ عبد الرحمن ناصر السعدي ص (٢٩) تنقيح تحقيق احاديث التعليق للامام شمس الدين محمد بن احمد بن الهادي المعروف بابن عبد الهادي (١٧٤/١)، المغني لابن قدامه (٢١١/١، ٢١٥) تفصيلا، المرعاه شرح مشکاه للامام

حسن عبيد الله المباركفورى (٢٤/٢) فتاوى الدين الخالص تفصيلاً (٣٩٧/١)، تحفه الاحوذى شرح الترمذي تفصيلاً للعلامه المباركفورى (٨٣/١، ٨٤) ـ
علامه عبد الحئ لكهنوى هم دېته ترجيح وركړېده چه داوښ په غوښه خوړلو سره اودس ماتېږى ـ اوګوره المرعاه (٢٤/٢).

خلاصه : داچه داوښ په غوښه خوړلو سره اودس ماتېږى، ځكه چه په صحيح او غير منسوخ احاديثو كښې راغلى دى چه : په دے سره اودس ماتېږى، لكه دجابرؓ، براء بن عازبؓ او اسيد بن حضيرؓ صحيح احاديث مونږ مخكښې ذكر كړل. اودا احاديث منسوخ نه دى ځكه ناسخ ئے نشته، كه چاته ناسخ معلوم وى – په دے شرط چه هغه صحيح او صريح وى – نو مونږ دے پيش كړى مونږ به ئے هم ورسره اومنو. حال دا چه داسے چرته هم نشته. نو حق طرفته رجوع پكار ده.

١٤٢٤/١١/٢٥هـ

آيا په مانځه كښې پېنځو خكته كولو سره اودس ماتېږي؟

سوال : زما دنظره يوحديث تېر شو چه رسول الله ﷺ يو كس اوليده چه هغه داسے حالت كښې مونځ كولو چه پېنځے ئے پړكو نه خكته وے، رسول الله ﷺ هغه كس ته اوفرمائيل : اذهب فتوضا – يعنے لاړ شه اودس اوكړه.

سوال دادے چه آيا په مانځه كښې دپړكونه لاندے په پېنځو خكته كولو سره اودس ماتېږى ؟ آيا دا حديث صحيح دے ؟ اودا په كوم كتاب كښې داحاديثو كښې راغلے دے ؟ دمسئلے پوره وضاحت اوفرمايئ ! وجزاكم الله خير الجزاء !

جواب : په مانځه كښې يا دمانځه نه بغير دپړكو نه لاندے پېنځے خكته كول لويه ګناه ده. امام ذهبیؒ په خپل كتاب (الكبائر) كښې ليكلى دى چه پېنځے خكته كول دپړكو نه ګناه كبيره ده. او بيا ئے دا شكايت هم كړے چه نن صبا دجهل اود شيطان ښايسته كولو په وجه په دے ګناه كښې عام خلق اخته دى، اوبعضے خلق دا بهانے كوى چه زه ئے دتكبر په نيت نه خكته كوم ، حال دا چه احاديث دواړو حالتونو ته شامل دى يعنى دتكبر په وجه پېنځے خكته كول هم ګناه ده اود تكبر نه بغير هم ګناه كبيره ده.

(مختصر كتاب الكبائر للامام الذهبى ص : ٥١).

رسول الله ﷺ فرمائېلي دي :

ثلاثه لا يكلمهم الله يوم القيامه ، ولاينظر اليهم ، ولا يزكيهم ، و لهم عذاب اليم : المسبل ازاره، والمنان الذي لا يعطي شيئا الا منه، والمنفق سلعته بالحلف الكاذب) .

رواه مسلم (۵٦۹/۱) واحمد وغيرهما .

ترجمه : درې کسان دي چه الله تعالى به دهغوی سره دقيامت په ورځ خبرې نه کوی اونه به هغوئ ته ګوری اونه به هغوئ لره پاك کړی او تېره به ورله دردناك عذاب هم وی : يو هغه کس دے چه دهغه لنګ (پېنځے) دپړکو نه خکته وی .

دے باره کښے ډېر زيات احاديث راغلي دي چه ددے نه دابو بکرصديقؓ نه سيوا بل هيڅوك مستثنی نه دے، صرف ابو بکر صديقؓ ته رسول الله ﷺ فرمائېلي وو چه ته ئے دتکبر دوجے نه نه خکته کوی لهذا ته معاف ئے . دده نه سيوا يو صحابی هم نه دے مستثنی شوے . دارنګه که تکبر په نيت وی هم حرام دی اوکه دتکبر په وجه نه وی نو بيا هم حرام دی . بلکه دنسائی شريف په حديث کښے راځی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

فانها من المخيله .

يعنے : دا لنګ (اوپېنځے) خکته کول دپړکو نه دا پخپله تکبر دے .

مطلب دا چه که ستا نيت دتکبر وی اوکه نه وی خو چه پېنځے دے دپړکو نه خکته وی نو دا تکبر شو . الغرض : په پېنځو کښے پړکې پټول سخت جرم اوحرام دی .

پاتے شوه داودس ماتېدو مسئله : نو په دے باندے اودس نه ماتيږی، دے وجے نه يو محدث او فقيه هم دا په نواقض الوضوء کښے نه دی ذکر کړی .

اوکوم حديث چه تاسو په سواليه کښے ليکلی دی نودا حديث په سنن ابوداود (۱۰۰/۱) (۲۱۰/۲) رقم (٦۷۸) (۴۰۸٦) او مشکاه کښے راغلے دے . ليکن دا حديث ضعيف دے . ددے په سند کښے ابو جعفر دے او هغه غير معروف دے . امام منذری په مختصر سنن ابي داود (۳۲۴/۱) کښے او علامه شوکانی په نيل الاوطار (۱۱۸/۳) کښے ليکلی دی :

وفي اسناده ابوجعفر رجل من اهل المدينه لا يعرف اسمه .

ددے په سند کښے ابو جعفر نومے يو راوی دے چه دے دمدينے اوسېدونکے دے خو نوم ئے معلوم نه دے .

علامه البانی ؒ دمشکاه المصابیح په تعلیق (۲۳۸/۱) کښ، دارنګه په ضعیف سنن ابي داود (۵۹/۱)، (۴۰۵) رقم (۶۳۸) (۴۰۸۶) کښ دے حدیث ته ضعیف وئیلے دے اولیکی :

من صحح اسناد الحدیث فقد وهم. یعنے چاچه ددے حدیث سند صحیح ګرځولے نو هغه ته وهم لګیدلے دے. (مشکاه : ۲۳۸/۱).

اوګوره : آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن وسنت کے روشنی میں (۸۴/۱، ۸۶) للشیخ مبشر احمد ربانی حفظه الله. فتاوی الدین الخالص (۴۸۴/۳، ۴۸۶). احکام الستر ه (۴۰) لمحمد بن زرق. الفتاوی الاسلامیه (۳۰۰/۱)، احسن الفتاوی (۴۰۴/۳)، الاسبال لغیر الخیلاء للشیخ احمد بن حجر آل بوطامی، دا مستقل رساله ده چه په دے موضوع لیکلے شویده.

۱۴۲۵/۱/۲۱هـ.

په وینے وتلو او قئ کولو سره اودس نه ماتیږی

سوال : په وینے وتلو یا قی کولو سره اودس ماتیږی که نه ؟

جواب : صحیح او راجح قول دادے چه ما خرج من السبیلین (دمخکښے او روستو لارو) نه علاوه چه دانسان نه څه اووځی لکه وینه، قئ وغیره وتل نو په دے باندے اودس نه ماتیږی، ددے دوتلو نه پس اودس کول مستحب دی.

ددے لاندینو دلائلو په وجه :

۱ – عن جابر رضی الله عنه قال : خرجنا مع رسول الله ﷺ في غزوه ذات الرقاع فاصا رجل امرأه رجل من المشرکین فحلف ان لا انتهی حتی اهریق دما فی اصحاب محمد، فخرج یتبع اثر النبی ﷺ فنزل النبی ﷺ منزلاً، فقال : من رجل یکلؤنا ؟ فانتدب رجل من المهاجرین ورجل من الانصار، فقال : کونا فی فم الشعب قال : فلما خرج الرجلان الی فم الشعب اضطجع المهاجری وقام الانصاری یصلی وأتی الرجل فلما رأی شخصه عرف انه ربیئه للقوم، فرماه بسهم فوضعه فیه، فنزعه حتی رماه بثلاثه اسهم، ثم رکع وسجد، ثم انبه صاحبه فلما عرف انهم قد نذروا به هرب فلما رأی المهاجری ما بالانصاری من الدماء، قال : سبحان الله ! الا انبهتنی اول ما رمی ؟ قال : کنت في سوره اقرؤها فلم أحب ان اقطعها.

ترجمه : جابرؓ فرمائی : مونږ درسول الله ﷺ سره دغزوه ذات الرقاع په موقعه روان وو، نو په مونږ

کښې یو سړی دمشرکانو دیو سړی ښځه اونیوله، هغه مشرك قسم اوخوړلو چه تر هغه وخته پورې به نه منع کیږی تر څو ئے چه درسول الله ﷺ په ملګرو کښې دچا نه وینه نه وی توئے کړی. نو دغه سړے درسول الله ﷺ پسے راروان وو. رسول الله ﷺ په یو ځائے کښې پړاؤ واچولو، او ارشادئے اوفرمایه : چه څوك به زمونږ څوکیداری اوکړی ؟ نو یو سړے دمهاجرینو نه او بل سړے دانصارو نه راپورته شول (چه مونږ به څوکیداری اوکړو) رسول الله ﷺ ورته ارشاد اوفرمایه : تاسو دواړه ددرے په خوله کښې دڅوکیدارئ دپاره اودریږئ. جابرؓ فرمائی : کله چه دا دواړه سړی ددرے خولے ته اووتل، نو مهاجر صحابی ډډه اولګوله اوانصاری صحابي پاڅیده مونځ ئے کولو، او یوسړے دمشرکانو نه راغے اودده بدن ئے ولیده نو پوهه شو چه داخو ددے قوم سړے دے نو په غشی باندے ئے وویشتلو، هغه غشے دغه صحابي راوویستلو اوکیښوده تردے چه په درے غشو ئے وویشتلو بیاهغه صحابي رکوع وکړه اوسجده ئے وکړه بیا ئے خپل مهاجر ملګرے راویښ کړو، کله چه هغه مشرك ته پته ولګیده چه مسلمانان خپلو کښې سره پوه شو په دے واقعه نو هغه وتښتیده، کله چه مهاجر صحابي دانصاري وینے ولیدے، وئیل سبحان الله ! ولے دے زه نه خبرولم کله چه دریاندے اولنے غشے ولږیدلو، هغه ووئیل : ماداسے یو سورت لوستلو چه دهغے پرېښودل مے زړه اونه غوښتل (ترڅو مے چه ختم کړے نه وی، خو چه کله پرله پسے راباندے غشي لګیدل شروع شو نو رکوع مے وکړه اوتاته مے خبر درکړو)

رواه ابوداود واللفظ له (۲۹/۱) وابن خزیمه (۲٤/۱) وابن حبان (۲۱۲/۲) والبخاری تعلیقا (۲۹/۱) والبیهقی (۱٤۱/۱) والحاکم فی المستدرك (۱٥٦/۱) وفی سیره ابن هشام (۲۰۸/۲) والحافظ فی التلخیص (۱۱٤/۱) والدارقطنی فی سننه (۲۳۱/۱) رقم (۸٥۸) وابن القیم فی زاد المعاد (۲۲۷/۳).

نودے حدیث کښے دا ذکر دی چه درسول الله ﷺ یو صحابی چه درسول الله ﷺ څوکیداری ئے کوله په مانځه کښے دیو کافر دلاسه په غشی اولګیدلو زخمی شو او وینه وریاندے روانه وه. لیکن هغه خپل مونځ پوره کړو او مات ئے نه کړو.

نوکه په وینه اودس ماتیدلے نو دغه صحابی ؓ چه درسول الله ﷺ ته نزدے ځائے کښے په مانځه ولاړ دے ولے مونځ نه ماتولو ؟

سوال : دا خو عمل دصحابیؓ دے اودا دلیل نشی جوړیدلے.

جواب : دادے چه دا بعیده ده چه داسے غټه واقعه دے کیږی او رسول الله ﷺ دے ترینه نه خبریږی، ځکه رسول الله ﷺ ددے خوا کښې وو او دا صحابی درسول الله ﷺ څوکیدار وو نو دده په

حال به ضرور خبر شوے وی.

۲ - دا چه هغه بل مهاجری صحابی هم وریاندے اعتراض اونه کړو چه څنګه پے اودسه مونځ کوے ؟

۳ - که رسول الله ﷺ بالفرض نه وے خبر شوے نو الله تعالی چه علیم او خبیر ذات دے هغه خو خبر وو، الله جل جلاله به خپل رسول ﷺ ته ددے خبر ورکړے وو چه ستا صحابی په پے اودسه حالت کښے مونځ اوکړو هغه پوهه کړه.

٤ - که دا کار ناجائز وے نو دا زمانه دنزول دوحی وه، خامخا په دے باندے تنبیه ورکړے شوے وه.

٥ - بلکه عینی دهدایه په شرح (۱۲۲/۱) کښے ذکر کړیدی چه :

فبلغ ذلك النبی ﷺ فدعا لهما.

یعنے دمذکوره صحابی رضي الله عنه دا واقعه رسول الله ﷺ ته اورسیدله نو دے دواړو څوکیدارانو ته ئے دعاء اوکړه ----- اوګوره مرعاه (٤٦/٢) للمبارکفوری ؒ.

امام بخاری ؒ هم دا حدیث ددے دپاره راوړے چه په وینه باندے اودس نه ماتیږی او په احنافو باندے ئے رد کول غرض دی. لکه حافظ ابن حجرؒ فرمائی :

واراد المصنف بهذا الحدیث الرد علی الحنفیه في ان الدم السائل ینقض الوضوء.

(فتح الباری : ۲۲٥/۱).

یعنے : په دے حدیث راوړلو سره دامام بخاری ؒ غرض په احنافو باندے رد کول دی په دے خبره ددوئ باندے چه بهیدونکے وینه اودس ماتوی.

۲ - دویم دلیل : حدیث دابو هریرهؓ دے چه امام بخاری (۲۰/۱) او امام مسلم ؒ راوړیدے لکه مشکوه (٤٠/۱) کښں دی چه رسول الله ﷺ فرمائی :

لا وضوء الامن حدث او ریح.

یعنے : اودس نشته مګر دپے اودسئ او هواء وتلو نه .

نودا الفاظ دحصر دی، نو ددے نه ښکاره معلومه شوه چه کوم څیز دسبیلینو (مخکښے روستو دواړو لارو) نه نه وی وتلے هغه سره اودس نه ماتیږی (لکه وینه، قے وغیره شو).

۳ - دریم دلیل : حدیث دابن عمر رضی الله عنه دے چه ابن ابي شیبه (۹۲/۱) او امام بخاری ؒ (۲۹/۱) تعلیقاً ذکر کړیدے چه ابن عمرؓ به دخپل مخ وړے وړے دانے زور کړے اود هغے نه به وینه لاړه او

هغه به ئے دګوتو په مینځ کښې ومښله بیا به ئے مونځ اوکړو او اودس به ئے نه کولو. اوګوره التلخیص الحبیر (۱۱٤/۱) المحلی (۲٦۰/۱).

٤ – څلورم دلیل: حدیث دعبد الله بن ابي اوفی رضی الله عنه دے چه عبد الرزاق په خپل مصنف (۱٤۸/۱) کښې اوامام بخاری معلق راوړیدے چه دعبد الله بن اوفی په خوله کښې به وینه راغله او په مانځه کښې به ئے دخولے نه اوغورزوله اومونځ به ئے جاری ساتلو.

٥ – پنځم دلیل: حدیث دابن عمر رضی الله عنهما دے چه امام بخاری تعلیقاً راوړے او امام بیهقی (۱٤۰/۱) په صحیح سند سره متصل راوړے چه:

ابن عمرؓ به ښکر اولګولو نو صرف هغه ځائے به ئے اووینځلو په کوم ځائے باندے به ئے چه ښکر لګولے وو، او ددے نه به ئے اودس نه کولو.

٦ – شپږم دلیل: حدیث دانس بن مالك دے هغه وائی: رسول الله ﷺ ښکر اولګولو اوصرف دښکر لګولو ځائے ئے اووینځلو، اوددے نه ئے اودس اونه کړو.

حال دا چه په ښکر لګولو سره وینه خارجیږی.

اوګوره: السنن الکبری (۲۲۱/۱) رقم (٦٦٦).

۷ – اووم دلیل: اثر دعمر بن الخطاب رضی الله عنه دے:

عن مسور بن مخرمه قال: ان عمر رضی الله عنه صلی وجرحه یثعب دماً.

یعنې: جناب عمر فاروق رضی الله عنه په داسے حال کښې مونځ اوکړو چه دزخم نه ئے وینه بهیدله ـ اخرجه الدارقطنی (۲۳۱/۱) رقم (۸۵۹).

حافظ ابن حجرؒ دا حدیث صحیح کړیدے. اوګوره فتح الباری (۲۲٦/۱).

۸ – آتم دلیل: حدیث دابو هریره رضی الله عنه دے چه مصنف ابن ابي شیبه او مصنف عبد الرزاق (۱٤٥/۱) کښې راغلے چه میمون بن مهرانؒ فرمائی: مابو هریرهؓ اولیدلو چه خپله ګوته ئے په پوزه کښې ننویستله، وینه ترے راووتله، مونځ ئے اوکړو او ددے نه ئے اودس اونه کړو.

۹ – نهم: اثر دسعید بن المسیبؒ دے چه دهغه پوزے نه وینه اووتله اود لاس تلي ګوتے ئے وربانداے رنګ شوے، لیکن دے حالت کښې ئے مونځ اوکړو او دوینے وتلو دوجے نه ئے اودس اونه کړو. اوګوره موطا امام مالك (۲۷/۱).

۱۰ – لسم: دسعید بن جبیرؒ دے چه مصنف عبد الرزاق (۱٥٥/۱) کښې دے.

۱۱- پولسم : اثر دسالم بن عبد اللهؒ کښې دی چه هغوی هم په وینه اودس مات نه ګنړلو .

۱۲ - عبد الحی لکهنوی حنفی صاحبؒ په التعلیق الممجد (۶۲/۱) کښې لیکلی دی : چه دا مذهب (۱) د طاوس (۲) یحیی بن سعیدالانصاری (۳) ربیعه بن عبد الرحمن (٤) ابوثور (۵) ابن عباس (٦) ابن ابي اوفی (۷) جابر (۸) ابو هریره (۹) عائشه صدیقه ام المؤمنین - رضی الله تعالی عنهم اجمعین - هم دے چه دے تولو په وینه باندے اودس مات نه ګنړلو .

۱۳ - دامام طاؤسؒ نه روایت دے چه :

انه کان لا یری في الدم السائل وضوء، یغسل عنه الدم الخ .

یعنے : امام طاؤس به دوینے وتلو نه اودس ضروری نه ګنړلو هغه به صرف وینه اووینځله (اودس به ئے ترے نه کولو) .

١٤ - امام نوویؒ په المجموع شرح المهذب کښې فرمائی :

ومذهبنا : انه لا ینقض الوضوء بخروج الشئ من غیر السبیلین کدم الفصد والحجامه والقی والرعاف سواء قل ذلك اوکثر. وبهذا قال : ابن عمر، وابن عباس، وابن ابي اوفی ، وجابر، وابو هریره، وعائشه، وابن المسیب، وسالم بن عبد الله بن عمر، والقاسم بن محمد، وطاؤس، وعطاء، ومکحول، وربیعه، ومالك، وابوثور، وداود. قال البغوی : وهو قول اکثر الصحابه والتابعین - رضی الله تعالی عنهم.

ترجمه : زمونږ مذهب دادے چه دسبیلینو (دتشو اوډکو متیازو دځائے) نه علاوه دبل ځائے نه په هیڅ څیز وتلو سره اودس نه ماتیږی . لکه وینه درګ وهلو حجامت (ښکر لګولو ، قے کولو او پوزے نه وینے وتلو سره اودس نه ماتیږی، برابره خبره ده که دا وینه لږه وی اوکه ډیره وی. اودا مذهب دے د ابن عمر،ابن عباس، ابن ابي اوفی ، جابر، ابو هریره، عائشه - رضی الله تعالی عنهم اجمعین - ابن المسیب، سالم بن عبد الله بن عمر، القاسم بن محمد، طاؤس، عطاء، مکحول، ربیعه، مالك، ابوثوراود داود .امام بغوی فرمائی : اودا مذهب دے داکثرو صحابه کرامؓ اود تابعینؒ .

اوګوره المجموع شرح المذهب (٥٤/٢) دامام نووی رحمه الله .

دارنګه خطیب شربینی شافعیؒ په مغنی المحتاج (٥٦/١) کښې فرمائی : چه په وینه وتلو سره اودس نه ماتیږی مثلاً رګ وهلو او ښکر لګولو سره اودس نه ماتیږی. اودلیل ددے حدیث دجابر رضی الله عنه دے چه امام ابوداود په صحیح سند سره ذکر کړیدے .

۱۵ – دابو جعفر الباقرؒ نه امام اعمش تپوس اوکړو چه : دپوزې نه په وینه وتلوسره اودس ماتیږی که نه ؟ هغه ورته جواب ورکړو :

لو سال نهر من دم ما اعدت منه الوضوء.

یعنې : که چرې ددې نه دوینې نهر هم روان شی نو زه به دوباره اودس اونه کړم.

فوائد الحافظ ابو بشر المعروف بسسمویه. اوګوره فتح الباری (۱/ ۲۲٦).

دمدینې دفقهاء سبعهٔ هم دا مذهب وو چه په وینه اودس نه ماتیږی.

(دمدینې فقهاء سبعه په دې راتلونکی شعر کښې راجمع دی)

فخذهم عبید الله عروه قاسم سعید، ابو بکر، سلیمان، خارجه.

★ شیخ الاسلام ابن تیمیهٌ په مجموعه الفتاوی (۲۱/ ۲۲۸) کښې :

★ شیخ عثیمینؒ په خپله فتاوی (۱۹۹/٤) دارنګه المرأه المسلمه (۱/ ۲۱۳) کښې.

★ امام الجرح والتعدیل الفقیه الناقد شیخ البانیؒ په تمام المنه ص (۵۲) او سلسله الاحادیث الضعیفه (۱/ ٤۸۳) کښې :

★ امام قاضی شوکانیؒ په نیل الاوطار (۱/ ۲۳٦) اوالسیل الجرار (۱/ ۹۷، ۹۹) کښې :

★ علامه زرقانیؒ په شرح د موطا (۱/ ۲۷) کښې :

★ امام نوویؒ په المجموع شرح المهذب (۲/ ۵٤) کښې :

★ علامه عبد الله بن عبد الرحمن البسام په توضیح الاحکام (۲۵۱۱) کښې :

★ علامه عبید الله مبارکفوریؒ په مرعاه شرح مشکاه (۲/ ٤۵، ٤٦) کښې :

★ علامه عبد الرحمن المبارکفوریؒ په تحفه الاحوذی شرح الترمذی (۱/ ۲۸۹) کښې

★ امام صنعانیؒ په سبل السلام (۱/ ۱۰۹، ۱۱۰) کښې :

★ شیخ شمس الحق عظیم آبادی په عون المعبود (۱/ ۳۳۱) کښې :

★ علامه ابن حزمؒ په المحلی (۱/ ۲۳۵، ۲٤۱) کښې :

★ علامه ابو الطیب صدیق حسن خان په الروضه الندیه (۱/ ٤۸) کښې :

★ علامه عبد العزیز بن عبد الله بن بازؒ، عبد الرزاق عفیفی، عبد الله بن غدیان، او عبد الله بن قعود په فتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلمیه والافتاء (۵/ ۲٦۱) کښې :

★ علامه سید سابق په فقه السنه (۱/ ۵۰) کښې :

★ حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۲۲٦/۱) کښې :

★ امام بخاری په خپل صحیح (۲۹/۱) کښ : لکه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۲۲٦/۱) کښ فرمائی :

والظاهر : ان البخاری کان یری ان خروج الدم في الصلاه لا یبطلها بدلیل انه ذکر عقب هذا الحدیث اثر الحسن البصری.

یعنې : ظاهره داده چه امام بخاریؒ دا رائے ده چه په مانځه کښ وینه وتلو سره مونځ نه خرابیږی، ځکه امام بخاریؒ ددے حدیث پسے روسته دحسن بصریؒ اثر ذکر کړیدے.

★ علامه ابو الحسن مبشر احمد ربانی په (آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن و سنت کی روشنی میں : ۱۲۸/۲) کښې :

★مولانا ابو یزید عبد القاهر په التحقیقات في رد الهفوات ص (٦۱) کښې

★ شیخ ابو عمر عبد العزیز النورستانی په نیل المرام شرح بلوغ المرام (٦۸/۱) کښې :

★ صالح بن فوزان په الملخص الفقهی (۵۵/۱) کښې :

دا فرمائیلی دی چه په وینه باندے اودس نه ماتیږی، اود وینے وتلو نه پس اودس کول ضروری نه دی، بلکه که څوك اودس کوی نو دا مستحب عمل دے.

★ شاه ولی الله محدث دهلویؒ په حجه الله البالغه (۱۷۷/۱) کښې فرمائی :

والاصح في هذا : ان من احتاط فقد استبرأ لدینه وعرضه، و من لا فلا سبیل علیه في صراح الشریعه الخ.

ترجمه : ډیره صحیح خبره په دے (اودس کولو کښے دمس الذکر، مس المرأه، قهقهه خندا، دوینے وتلو نه اود قی نه اودس کولو) کښې داده چه څوك په دے کښے احتیاط کوی او ددے څیزونو نه اودس کوی نو ده دخپل دین اوآبرو حفاظت اوکړو، اوڅوك چه ددے نه اودس نه کوی نو دے هم ملامته نه دے په خالص شریعت کښ.

★ دارنګه دا مسئله په فتاوی الدین الخالص (۳۸۹/۲، ۳۹۳) کښې تفصیلاً ذکر شویده چه کتل ئے پکار دی.

اودے باره کښې دنورو علماؤ اقوال هم شته چه مونږ مشت نمونه خروار ذکر کړل.

تنبیه : په وینه او قی وغیره باندے داودس ماتیدو په باره کښ چه احناف کوم حدیثونه پیش کوی

نو دهغې باره کښې مختصر دا زده کول پکار دي چه دا تول ضعيف دي، دبو نه هم دا نه ثابتيږي چه انسان نه وينه اوځي نو اودس کول په ده واجب دي.

بلکه صحيح او راجح خبره داده چه په وينه وتلوباندې - دارنګه په هر هغه څيز باندې چه دسبيلينو نه نه وي وتلي - دانسان اودس نه ماتيږي. برابره خبره ده که وينه، زوه وي اوکه قي (اولتئ) وغيره وي.

هاؤ ! دومره مسئله شته چه ددې شيانو وتلو نه پس اودس کول مستحب دي، لازم او واجب نه دي. ولې چه په وجوب باندې هيڅ دليل نشته.

د تفصيل دپاره سلسله الاحاديث الضعيفه (۱۴۳/۱) نصب الرايه (۳۷/۱، ۴۲) کښې تفصيلا اوګوره. ۱۸ - شعبان ۱۴۲۴ هـ.

په جورابو باندې مسح کول جائز دي

سوال: جورابو باندې مسح کول جائز دي اوکه نه؟ دغه شان په جورابو باندې دمسح کولو دپاره دا شرطونه لګول چه دا به (مجلدين، يا ثخينين) وي، درې ميله مزل به په کښې کيدې شي، هغه به په خپو باندې دتړلو نه بغير اودريدلې شي اودا سې نور شرطونه۔

آيا دا شرطونه په جواز المسح على الجوربين کښې دقرآن او سنت نه ثابت دي اوکه نه؟ دامسئله مونږ ته دقرآن او سنت په رڼرا کښې تفصيلا اُوليکئ! وجزاکم الله خيرا !!

جواب: دتفصيل نه مخکښې مختصر ددې مسئلې حکم واوره:

په دې مسئله باندې دتولو فقهاؤ اتفاق دې چه په جورابو باندې مسح کول جائز دي.

دې باره کښې ائمه اربعه: امام ابو حنيفهؒ سره دصاحبينوؒ، امام مالك، امام شافعيؒ، امام احمدؒ، دغه شان اهل ظواهر لکه امام ابن حزم، اهل حديثؒ لکه شيخ الاسلام ابن تيميهؒ، ابن قيمؒ، شيخ احمد شاکرؒ، امام البانيؒ علامه ابن بازؒ، شيخ محمد بن صالح العثيمينؒ وغيرهم - رحم الله الجميع.

ددې تولو فقهاؤ او محدثينو دا مذهب دې چه په جورابو باندې مسح کول جائز دي.

ځکه چه دې باره کښې ډير احاديث راغلي دي چه نبي کريم ﷺ په جورابو باندې مسح کړيده. دغه شان د (۱۶) صحابه کرامؓ اوبې شماره تابعينوؒ نه مسح على الجوربين ثابت ده.

اوګوره: الفقه الاسلامي: ۳۴۳/۱. المحلی لابن حزم: ۳۲۳/۱. المسح على الجوربين

للقاسمیؒ، مستقله رساله. المنخله النونیه وشرحها ص : ۱۹. التحقیقات في رد الهفوات ص : ۷۲۳، ۷٤۲. توضیح الاحکام شرح بلوغ المرام : ۲۵۲/۱. مجموعه الفتاوی لشیخ الاسلام : ۲۱۵/۲۱. تمام النصح في احکام المسح للعلامه ناصر الدین الالبانی مستقله رساله. رد المحتار : ۲٦۹/۱. البحر الرائق : ۱۸۲/۱. المجموع شرح المهذب : ۵۳۹/۱. المغنی : ۲۹۵/۱. فتاوی الدین الخالص : ۳۳٦/۲ – ۳۵۰.

لیکن ددے نه روسته دعلماء کرامو په مینځ کښے اختلاف راغلے چه په کوم قسم جورابو باندے مسح کول جائز دی؟

د **محققینو** علماؤ مذهب دادے چه په هر قسم جورابو بانے مسح کول جائز دی بغیر دڅه قید او شرط نه. اودا مذهب مونږ ته هم ددلائلو په لحاظ سره راجح اوغوره ښکاری ---- احناف علماء (امام ابوحنیفهؒ، امام ابویوسفؒ اوامام محمدؒ) هم په عامو جورابو باندے – که دوړئ اوکپړے نه جوړے وی اوکه دځرمنے نه – مسح کول جائز ګڼړی. لکه فقه اسلامی (۳٤۳/۱) کښے ذکر دی.

البته دے سره دوئ یو څو شرطونه لګوی چه:

۱ – څخښین یعنی دومره ډبلے به وی چه خپه ورنه نه خکاری.

۲ – دموزو نه بغیر به درے میله مزل په کښے کیدے شی.

۳ – اوبه به نه جذب کوی، یعنی هغه اوبه کوم چه دمسح کولو سره په جورابو باندے لګی (کما في تفهیم المسائل).

٤ – په خپه باندے به په څه څیز سره دترلو نه بغیر خپله تینګیدے شی.

اوګوره: رد المحتار : ۲٦۹/۱. خلاصه الفتاوی : ۲۸/۱. الفقه الاسلامی :۳٤۳/۱. البحر الرائق : ۱۸۲/۱. تفهیم المسائل : ۳۲۳/٤.

لیکن داخبره یاد ساتل پکار دی چه دے علماء کرامؒ چه په جورابو کښے دمسح کولو دپاره کوم شرطونه لګولی دی دقرآن او حدیث نه په دے شرطونو باندے هیڅ دلیل نشته دے. لکه ددے تفصیل به روسته راشی ان شاء الله تعالی.

اوس هغه دلائل لیکلے شی چه هغه دمسح علی الجوربین دپاره دلیل دی، برابره خبره ده که هر قسمه جوراپے وی.– یعنی که ډبلے وی اوکه نرئ وی، دځرمنے وی اوکه د نیلون یا دوړئ یا دبل څه جوړے وی، په دے تولو باندے مسح کول مشروع اوجائز دی.

اول حدیث:

۱ – عن المغیرہ بن شعبه قال: ان رسول الله ﷺ توضا ومسح علی الجوربین والنعلین.

رواه احمد: ٢٥٢/٤. وابوداود: ٢٤/١. والترمذی: ١٢/١. وابن حبان: ٥٥٠/٢. ١٣٣٨. وابن ماجه: ١٨٥/١، ١٨٦. ٥٥٩. وابن حزم في المحلی: ٣٢١/١. والبیهقی في السنن الکبری: ٢٨٣/١. وابن خزیمه: ٩٩/١. (١٩٨) والطحاوی: ٧٦/١. وابن ابي شیبه: ١٨٨/١.

ترجمه: دمغیره بن شعبه – رضی الله عنه – نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ اودس اوکړو، او په جورابو اوڅپلو باندے ئے مسح اوکړه.

دا حدیث صحیح دے. او په دے مسئله واضح دلیل دے چه په جورابو باندے مسح کول سنت دی ----- او په دے حدیث کښے چه په (نعلین) یعنی څپلو باندے مسح ذکر شویده نو دا تبعاً شوے ده. اصل کښے مسح علی الجوربین شویده.

(کما في فقه السنه: ٥٦/١. والطحاوی: ٧٦/١).

دے حدیث ته چه کوم علماؤ ضعیف یاشاذ وائی نو دهغوی قول په خپله ضعیف او شاذ دے. ځکه چه یو حدیث ته ضعیف یا شاذ وئیل خو آخر یو څه قاعده اواصول غواړی

دمغیره بن شعبهؓ دے حدیث ته ګڼړو علماؤ صحیح وئیلے دے:

۱ – شعیب الارناووط په صحیح ابن حبان (١٦٧/٤) کښے لیکی:

اسناده صحیح رجاله رجال الصحیح ------- دغه شان په موارد الظمآن في زوائد ابن حبان (١٠٣/١) (١٧٦) کښے ئے هم ورته صحیح وئیلی دی.

۲ – امام البانیؒ ورته هم صحیح وئیلی دی. اوګوره: صحیح سنن الترمذی: ٣١/١. صحیح سنن ابي داود: ٣٣/١. صحیح سنن ابن ماجه: ٩١/١. تمام المنه في التعلیق علی فقه السنه ص: ١١٢. ارواء الغلیل: ١٣٧/١. (١٠١). مشکاه المصابیح بتحقیق الالبانی: ٩٢/١. ٥٢٣.

۳ – امام ترمذیؒ ورته حسن صحیح وئیلی دی (سنن الترمذی: ٢٩/١).

٤ – شیخ احمد شاکرؒ په مقدمه المسح علی الجوربین للقاسمی ص: (٧) کښے ورته صحیح وئیلی دی.

٥ – علامه ابن الجوزیؒ په التحقیق (٢١٦/١) کښے ورته صحیح وئیلی دی.

٦ – سرخیل احناف ملاعلی قاریؒ په مرقات (٢٢٣/٢) کښں صحیح کړیدے.

۷ – امام ابن حزم په المحلی (۳۲۲/۱) کښې ورته صحېح وئېلی .

۸ – دکتور محمد مصطفی الاعظمی په تحقېق دابن خزېمه (۹۹/۱) کښې ورته صحېح وئېلی دی --------- دتفصېل دپاره اوګوره :

التحقېقات فې رد الهفوات ص (۷۲۷) فتاوی الدېن الخالص (۳۳۸/۲) .

۲ – **دوېم حدېث** : وعن ابې موسی الاشعری – رضی الله عنه – ان رسول الله ﷺ توضا ومسح علی الجورېېن والنعلېن .

رواه ابن ماجه : ۱۸۵/۱ . (۵۶۰) وابوداود (۲٤/۱) والطحاوی (۷٦/۱) وسنده صحېح صححه الشېخ الالبانی فې صحېح سنن ابن ماجه (۹۱/۱) وصحېح سنن ابې داود (۳۳/۱) .

ترجمه : دابو موسی اشعری نه رواېت دے چه نبی کرېم ﷺ اودس اوکړو اوپه جورابو اوڅپلو باندے ئے مسح اوکړه .

۳ – **درېم حدېث** : عن ثوبان رضی الله عنه قال : بعث رسول الله ﷺ سرېه فاصابهم البرد فلما قدموا علی النبې ﷺ شکوا الېه ما اصابهم من البرد، فامرهم النبی ﷺ ان ېمسحوا علی العصائب والتساخېن .

(رواه احمد : ۲۷۷/۵) وابوداود (۲۱/۱) (۱٤٦) والحاکم فې المستدرک (۱٦۹/۱) وقال : صحېح علی شرط مسلم ووافقه الذهبی، وصححه الامام الالبانی فې صحېح سنن ابې داود (۳۰/۱) (۱۱٤٦) .

ترجمه : دثوبان رضی الله عنه نه رواېت دے چه رسول الله ﷺ ېو جماعت دجهاد دپاره اولېږلو، هغوی ته ېخنی اورسېده، کله چه هغوی بېرته واپس رسول الله ﷺ ته راغلل، دېخنئ رسېدلو شکاېت ئے اوکړو، نو رسول الله ﷺ هغوی ته امر اوکړو چه په پټکو (عمامو) اوموزو، جورابو باندے مسح اوکړی .

تساخېن : هر هغه څېز ته وئېلے شی چه په هغے سره خپه ګرمېږی . لکه موزے پاجراپے شوے . لکه بلوغ الامانی من اسرار الفتح الربانی (۳۸/۲) کښې دغه شان په عون المعبود (٥٦/۱) کښې دی :

قال ابن رسلان فې شرحه ېقال : اصل ذلك کل ما ېسخن به القدم من خف وجورب ونحو هما .

(ابن رسلانؒ – د لغت ېو عالم – وئېلی دی چه : اصل کښې تساخېن هر هغه څېز ته وئېلے شی چه په هغے سره خپه ګرمېږی . لکه موزه، جورابه پا ددے په شان بل څېز شو .

علامه مبارکفوریؒ، شعیب الارناؤط اوعلامه قاسمیؒ وئیلی چه: ابن الاثیر – چه دا هم یو لغوی عالم دے – دتساخین معنی دابن رسلانؒ په شان ذکرکړیده.

اوګوره تحفه الاحوذی: ۳۳۹/۱. تعلیق شعیب الارناؤط علی صحیح ابن حبان (۱٦٧/٤). المسح علی الجوربین ص (۲۳) لعلامه الشام جمال الدین القاسمی. التحقیقات في رد الهفوات ص (۷۳٤) لأبي یزید عبد القاهر.

الغرض: دا حدیث هم په مسح علی الجوربین باندے دلیل دے.

٤ – **څلورم حدیث:** وعن الازرق قال: رأیت انس بن مالكؓ احدث فغسل وجهه ویدیه ومسح علی جوربین من صوف، فقلت: اتمسح علیهما؟ فقال: انهما خفان، ولکنهما من صوف ---- (اخرجه الدولابی في الکنی والاسماء: ۱۸۱/۱. وسنده صحیح).

ترجمه: ازرقؒ فرمائی: ما انس بن مالك اولیدلو چه اودس ئے مات کړو او بیا ئے مخ لاسونه اووینځل او په جورابو باندے ئے مسح اوکړه. ازرق فرمائی: ما ورته عرض اوکړو چه ته په جورابو مسح کوے؟ نو انس بن مالك اوفرمائیل: دا موزے دی خو دوړیٔ نه جوړے شوی دی.

وجه داستدلال: انس بن مالكؓ چه کله په جورابو مسح اوکړه اودائے اوفرمائیل چه دا موزے دی خودوړیٔ نه جوړے شوے دی: دا صریح دلیل دے په دے خبره چه درسول الله ﷺ په زمانه کښے جورابے هم موزو ته او هم مروجه جورابو ته وئیلے کیدے یعنی موزے عامے دی که دڅرمنے وی – چه دیته موزے وائی – اوکه دکپړے یا وړیٔ وغیر نه وی چه دیته جورابے وائی.

حال داچه انس رضی الله عنه صحابیؓ دے او اهل لغت هم دے.

٥ – **پنځم حدیث:**

قال سعید بن عبد الله: رأیت انس بن مالك أتی الخلاء ثم خرج وعلیه قلنسوه بیضاء مزروره، فمسح علی القلنسوه وعلی جوربین له من خز عربی إسود ثم صلی.

ترجمه: سعید بن عبد الله فرمائی: ما انس بن مالك اولیدلو چه بیت الخلاء ته لاړو بیا راووتلو په داسے حال کښے چه ده دبټونو والا سپینه توپیٔ په سر کړے وه، نو په توپیٔ او په داسے دوه جورابو باندے ئے مسح اوکړه چه هغه دکچه عربی تورو ریښمو نه جوړے شوے وے، بیا ئے مونځ اوکړو.

٦ – وعن حماد بن سلمه عن ثابت البنانی وعبید الله بن ابي بکر بن انس بن مالك قالا جمیعاً: کان انس بن مالك یمسح علی الجوربین والخفین والعمامه.

(ثابت البناني او عبيد الله بن ابي بكر بن انس دواړه فرمائي چه انس رضي الله عنه به په جورابو، موزو او په پټكي باندے مسح كوله.

۷ – وعن عاصم الاحول قال: رأيت انس بن مالك مسح على جوربيه.

(عاصم احول فرمائي: ماانس بن مالك اوليدلو چه په خپلو دواړو جورابو باندے ئے مسح اوكړه.

(اخرج هذه الآثار ابن حزم في المحلى: ۳۲۳/۱: باسانيد صحيحه وعبد الرزاق: ۱۹۹/۱، ۱۲۰، رقم: ۳۷۳: والزيلعي في نصب الرايه: ۱۸٦/۱.

اوگوره فتاوى الدين الخالص: ۳٤۳/۲. التحقيقات ص: ۳۳۷.

۸ – وعن ابن عمر – رضى الله عنهما – انه كان يمسح على جوربيه ونعليه.

(ابن عمرؓ به په خپلو جورابو او څپلو باندے مسح كوله.

بل روايت كښے دى: انه يقول: المسح على الجوربين كالمسح على الخفين.

(ابن عمرؓ به فرمائيل چه: په جورابو باندے مسح كول داسے (جائز) دى لكه په موزو باندے چه مسح (جائز) ده.

اخرجه ابن حزم في المحلى: ۳۲۳/۱. وعبد الرزاق: ۲۰۰/۱. ۷۷٦. والزيلعي في نصب الرايه: ۱۸٦/۱. باسناد صحيح.

٦ – وعن ابن مسعود – رضى الله عنه – انه كان يمسح على خفيه ويمسح على جوربيه.

(ابن مسعودؓ به په موزو مسح كوله او په جورابو به ئے هم مسح كوله).

اخرجه ابن حزم في المحلى: ۳۲٤/۱. وابن ابي شيبه: ۲۱۵/۱. وعبد الرزاق: ۲۰۰/۱. ۷۸۱. والزيلعي في نصب الرايه: ۱۸٦/۱. وسنده صحيح.

۷ – وعن خلاس بن عمرو عن ابن عمر قال: بال عمر بن الخطاب – رضى الله عنه – يوم الجمعه ثم توضا، ومسح على الجوربين والنعلين وصلى بالناس الجمعه.

(عمر فاروقؓ دجُمعے په ورځ تش اودس مات كړو اوبيا ئے اودس اوكړو او جورابو او څپلو باندے ئے مسح اوكړله او خلقو ته ئے دجُمعے مونځ اوكړو.

(مصنف ابن ابي شيبه: ۲۱٦/۱. المحلى لابن حزم: ۳۲۳/۱.

۸ – عن كعب بن عبد الله قال: رأيت عليا بَال فمسح على جوربيه ونعليه، ثم قام يصلى.

(كعب بن عبد اللهؒ فرمائي: ما عليؓ اوليدلو چه تشے متيازے ئے اوكړے او بيا ئے په خپلو جورابو

او څپلو باندے مسح اوکړه، بيا پاڅېده مونځ ئے اوکړو.

اخرجه ابن حزم في المحلى : ۳۲۳/۱ . وعبد الرزاق : ۲۰۰/۱ . والزيلعي في نصب الرايه : ۱۸٦/۱ . وسنده صحيح .

۹ – وعن امامه الباهلي رضي الله عنه انه كان يمسح على الجوربين والخفين والعمامه .

(امامه باهلی رضي الله عنه به په جورابو، موزو او پتکی باندے مسح کوله .

اخرجه ابن ابي شيبه : ۲۱۵/۱ . وابن حزم في المحلى : ۳۳۳/۱ .

۱۰ – قال اسماعيل عن ابيه قال: رأيت البراء بن عازب – رضي الله عنه – يمسح على جوربيه ونعليه . (ما براء بن عازب رضي الله عنه اولیدلو چه په جورابو او څپلو باندے ئے مسح کوله) .

اخرجه ابن ابي شيبه : ۲۱۵/۱ . وعبد الرزاق : ۲۰۰/۱ . وابن حزم في المحلى : ۳۲٤/۱ . وسنده صحيح ----- دغه شان دے باره کښے دنورو صحابه کرامو – رضي الله تعالى عنهم اجمعين – هم روايت شوېدے چه هغوئ به جورابو باندے مسح کوله، لکه دهغوی نومونه دادی :

۱۱ – عبد الله بن عباس رضي الله تعالى عنه .

۱۲ – بلال رضي الله تعالى عنه .

۱۳ – سهل بن سعد رضي الله تعالى عنه .

۱٤ – عبد الله بن ابی اوفی رضي الله تعالى عنه .

۱۵ – ابو مسعود انصاری رضي الله تعالى عنه .

۱٦ – عمرو بن حريث رضي الله تعالى عنه .

۱۷ – عقبه عمرو رضي الله تعالى عنه .

۱۸ – عمار بن ياسر رضي الله تعالى عنه .

(اوګوره : المسح على الجوربين للقاسمي : ۵۲، تفصيلا)[۱].

د تابعینو آثار په جورابو باندے د مسح په باره کښے :

۱ – عن ابراهيم النخعي انه كان لايرى بالمسح على الجوربين باسا[۲].

(ابراهيم نخعی رحمه الله به په جورابو باندے په مسح کولو کښے څه باك نه ګڼړلو .

(اخرجه ابن حزم فی المحلی : ۳۲٤/۱ . وابن ابي شيبه : ۱۸۹/۱ .

٢ – عن ابي نعيم الفضل دكين قال : سمعت الاعمش سئل عن الجوربين أيمسح عليهما من بات فيهما ؟ قال : نعم .

(داعمش نه تپوس اوشو په باره دهغه جورابو کښې چه هغه دشپې انسان اچولې وی چه په دے باندے مسح کولے شی اوکه نه ؟ نو اعمش اوفرمائيل : هاؤ مسح ورباندے کولے شی .(اخرجه ابن حزم في المحلى : ٣٢٤/١) .

٣ – عن ابن جريج قلت لعطاء : نمسح على الجوربين ؟ قال : نعم، امسحوا عليهما مثل الخفين . اخرجه ابن ابي شيبه : ١٨٩/١ . وابن حزم فی المحلى : ٣٢٤/١ .

(ابن جريج فرمائی ما عطاء ته اووئيل : مونږ په جورابو باندے مسح کوو ؟ عطاء اوفرمائيل : هاؤ، داسے مسح ورباندے کوئ لکه څنګه چه په موزو باندے مسح کوئ .

٤ – حسن بصرى رحمه الله . دغه شان :

٥ – خلاس بن عمرو نه روايت دے چه :

انهما كانا يريان الجوربين في المسح بمنزله الخفين .

(دے دواړو به په جورابو باندے مسح کول په موزو باندے دمسح پشان ګڼړل .

اخرجه ابن حزم : ٣٢٤/١ .

دغه شان (٦) دابو ثور (٧) سفيان الثورى (٨) حسن بن حيى نه هم په جورابو باندے دمسح کولو جواز نقل دے . المحلي لابن حزم (٣٢٤/١) المسح علي الجوربين ص (٦٢) .

خلاصه : داچه په جورابو باندے دمسح کولو جواز دصحابه کرامو اود بے شماره تابعينو او نورو علماؤ نه نقل دی . دغه شان درسول الله ﷺ احاديث اود صحابه کرامو آثار په دے مسئله کښے قارئينو اوکتل چه هغوئ تولو به په جورابو باندے مسح کوله .

دهغوئ نه دا نه دی نقل چه هغوئ به په جورابو کښے څه قيدونه او شرطونه لګولی وی اونه ئے دا وئيلی دی چه جورابو باندے به مسح هله جائز وی چه هغه مجلدين، منعلين يا ثخينين وی . يا دومره ډبلے وی چه درے ميله مزل په کښے کيدے شی، يا اوبه نه جذب کوی، يا خپله خپو پورے بغير دڅه څيز نه تړلے کيږی .

بلکه دغه مذکوره آحاديث او آثار دصحابه کرامو مطلق راغلی دی . او عام اصولی قاعده ده چه مطلق به په خپل اطلاق باندے جاری کولے شی ترڅو پورے چه دليل دتخصيص يا دتقييد نه وی

راغلي . اودلته دليل دتقييد او تخصيص قطعا نشته دے . لهذا ددغه شرائطو – کوم چه فقهاؤ په مسح دجورابو کښے لګوي – هيڅ بنياد نشته دے . بلکه ددے په مقابل کښے دصحابه کرامؓ نه نقل دي چه هغوئ په نرو جورابو باندے هم مسح جائز منلے ده۔

لکه امام نوويؒ په المجموع شرح المهذب کښے ددوو جليل القدر صحابه کرامؓ خلفاء راشدينؓ – عمر فاروق او علي رضي الله تعالى عنهما – نه نقل کوي چه :

وحکي اصحابنا عن عمر وعلي رضي الله تعالى عنهما جواز المسح وان کان رقيقا.

(المجموع شرح المهذب : ۵۰۰/۱).

ترجمه : زمونږ اصحابو د (خليفه راشد) عمر فاروق او علي رضي الله تعالى عنهما نه نقل کړي دي چه هغوي به په نرو جورابو باندے هم مسح کوله.

نوځوك چه بيا هم دجورابو سره دڅخينيو، اوبه نه جذب کولو، درے ميله مزل کولو او په خپه باندے دترلو نه بغير دتينګيدلو شرطونه لګوي. نو دداسے شرطونو په باره کښے درسول الله ﷺ حديث واوره ------ رسول الله ﷺ فرمائيلي دي :

ما بال اقوام يشترطون شروطا ليست في کتاب الله، ما کان من شرط – وفي روايه : کل شرط – ليس في کتاب الله فهو باطل، وان کان مائه شرط.

ترجمه : څه وجه ده خلقو لره چه داسے شرطونه لګوي کوم چه دالله په کتاب (قرآن اوحديث) کښے نه وي. هر هغه شرط چه دالله په قانون – قرآن اوسنت – کښے نه وي دا باطل دے، اګرکه سل شرطونه ولے نه وي.

(رواه البخاري : ۲۹۰/۱، ۳۴۸، ۳۷۶، ۳۷۷، ومسلم : ۴۹۳/۱، ۴۹٤. رقم : ۳۷۰۵، ۳۷۰۶، ۳۷۰۷. وابوداود : ۳۳۲۵، ۳۳۲۶. والنسائي : ۳۲۲۸، ٤۳٤۰. والترمذي : ۳۳/۲. ۲۱۲٤. وغيرهم.

امام نوويؒ دصحيح مسلم په شرح کښے ددے حديث دلاندے ليکي :

قوله : کل شرط ليس في کتاب الله فهو باطل : صريح في ابطال کل شرط ليس له اصل في کتاب الله تعالى. ومعنى قوله : وان کان مائه شرط : انه لو شرط مائه مره توکيدا فهو باطل.

يعني : دحديث مطلب دادے چه کوم شرط دکتاب الله (قرآن حديث) نه ماخوذ نه وي نو داشرط باطل دے اودا حديث په دے خبره صريح دليل دے. اوپه دے حديث کښے ددے قول معنى چه : اګرکه

سل ځلې شرط اولګوي : داده چه که چرې سل ځلې تاکیدا ًبو شرط اولګوي نو بیا به هم باطل (او غلط) وي.

(اوګوره صحیح مسلم بشرح النووي : ۴۹۳/۱).

نودجورابو په باره کښې چه کومو علماء کرامو شرطونه لګوي په هغې باندې به دلیل راوړلے شي چه آیا الله تعالی یا دهغه رسول ﷺ فرمائیلی دي چه په هغه جورابو مسح جائز ده چه په هغې کښې دا دا شرطونه اوقیدونه وي ..... لیکن کله به هم ثوك په دې باندې صحیح دلیل رانه وړي (ولن تفعلوا).

حاصل : داچه په هر قسم جورابو باندې مسح کول جائز دي ځکه دې باره کښې درسول الله ﷺ صحیح احادیث بغیر دڅه قید او شرط نه راغلي دي. اوپه دې باندې د صحابه کرامو عمل هم وو، چه دا زمونږ ددې امت فقهاء، محدثین اومعتبر خلق دې.

دغه شان دصحابه کرامو ددور نه تر نن زمانې پورې دجلیل القدر علماؤ فتوی' هم شته چه په هر قسم جورابو مسح کول چائز دي.اود علماؤ فتوې مو ځکه ذکر کړې چه زمونږ فتوې علی فهم السلف الصالح اود غتو غتو علماؤ ددفتوو سره موافق دي. دا صرف یواځې زمونږ فتوی' نه ده.

دتفصیل دپاره اوګوره : المحلی لابن حزم المتوفی سنه : ۴۵۶هـ : ۳۲/۱، ۳۲۴. مجموعه الفتاوی لشیخ الاسلام ابن تیمیهؒ المتوفی : ۲۱۳/۲۱. المسح علی الجوربین، مستقله رساله للعلامه محمد جمال الدین القاسمی. مقدمه المسح علی الجوربین للشیخ احمد شاکرؒ. تمام النصح فی احکام المسح مستقله رساله للامام ناصر الدین الالبانیؒ. سنن ابي داود : ۲۱/۱. مصنف عبد الرزاق : ۱۹۰/۱. رقم : ۷۴۵، ۷۷۳، ۷۷۹، ۷۸۱، ۷۸۲. ابن ابي شیبه : ۱۸۸/۱، ۱۸۹. الجوهر النقی لابن الترکمانی الحنفی : ۲۸۵/۱. سنن الترمذی : ۲۹/۱. مجموعه فتاوی للشیخ صالح العثیمینؒ : ۱۶۶/۴. فتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلمیه والافتاء : ۲۴۴/۵. التحقیقات في رد الهفوات ص : ۷۲۳، ۷۴۲. الملخص الفقهی : ۴۰/۱. للشیخ صالح بن فوزان. اعلام الموقعین : ۳۴۱/۲، ۳۴۲. لشیخ الاسلام ابن القیم. فتاوی الدین الخالص : ۳۳۶/۲، ۳۵۰. فقه السنه : ۵۶/۱، ۵۷. للسید السابق. نیل المرام شرح بلوغ المرام.

د تیمم طریقه

سوال : په تیمم کښې استیعاب شرط دے اوکه نه ؟ دارنګه که دیو سړي یا زنانه په لاس ګینته وي یا دیوے ښځے بنګړے یا لاس بند په لاس وي، دارنګه که دیو کس په ګوته کښې ګوتمه وي آیا ددے تولو ځیزونو ویستل دتیمم دپاره ضروري دي ؟ دقرآن او سنت په رڼړا کښے ددے مسئلے جواب راکړئ !

جواب : په تیمم کښے صحیح طریقه داده صرف په مخ او لاسونو مسح کول ضروري دي، په تیمم کښے په مخ باندے داسے لاس راښکل چه دا کوشش اوشي چه تول مخ باندے مسح اوشي تردے چه سپیږمو په سورو کښے هم لاس (ګوتے) تیروي، یا په لاسونو چه مسح کولے شي نو اول ځل ئے درے ګوتے په لاس ایخودلے وے تردے چه څنګلو ته ورسیږي دهغے نه روسته چه بیرته را اوګرځي نو دلاس دوه نورو ګوتو باندے دلاس بل طرف مسح کړي، او بیا په دے بل لاس باندے هم داشان مسح اوکړي ددے نه روسته دګوتو مینځ کښے خلال هم اوکړي.

نو دا طریقه احادیثو کښے نشته، اونه دارنګه تیمم کول مستحب دي بلکه دا یے ځایه په ځان تکلیف راوستل دي. دا طریقه مونږ ته رسول الله ﷺ نه ده راخودلے، او په دے خبره دلیل چه تیمم کښے استیعاب شرط نه دے دا حدیث دے :

عن عمار بن یاسر : ان النبي ﷺ علمه التیمم فقال : انما یکفیك هکذا، فضرب النبي ﷺ بکفیه الارض ونفخ فیهما ثم مسح بهما وجهه وکفیه. (رواه البخاري : ۴۸/۱).

دعمار رضي الله تعالی عنه نه روایت دے چه :

ده ته رسول الله ﷺ تیمم داسے اوښودلو چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : تادپاره داکافي دي چه لاس داسے کیدے،اونبي ﷺ په لاسونو زمکه اووهله او بیا ئے لاسونو ته پوکے ورکړو، بیا ئے په دواړو لاسونو باندے مخ مسح کړو او کفین (ورغوي) ئے دواړه مسح کړل ----- په دے حدیث شریف کښے دا مسئله بیان شوه چه تیمم کښے په مخ اولاسونو باندے مسح کول ضروري دي. اودے حدیث کښے هغه طریقه نشته کومه چه احناف بیانوي، لکه مخکښے مونږ هغه ذکر کړه.

اوڅوك چه دتیمم قیاس په اوداسه باندے کوي چه اودس کښے خو تول مخ اولاسونه وینځل ضروري دي، اواوداسه کښے استیعاب ضروري دے، نو دوئ وائي چه په تیمم کښے هم دمخ هره حصه باندے مسح کول ضروري دي. دارنګه په لاسونو باندے هم مسح په داسے طریقه ضروري ده چه ددواړو لاسونو په هره حصه مسح اوشي. نوددوئ قیاس، قیاس مع الفارق دے. ځکه اودس جدا شے

دے او تیمم جدا شے دے.

په اوداسه کښې دخپو وینځل، په سر مسح کول وغیره ضروري دي. او په تیمم کښې په خپو او سر مسح نشته. بلکه که یو ځل قیاس صحیح شي. نو قیاس دا تقاضا کوي چه استیعاب ضروري نشي، لکه په موزو اوجرابو مسح کول قائم دي په ځائے دوینځلو باندے، سره ددے چه په موزو او جرابو باندے دمسح کولو استیعاب نشته. بلکه صرف درے ګوتو باندے مسح کول دي.

اود تعجب خبره داده: چه احناف په تول سر مسح فرض نه ګنړي، سره ددے نه چه الله تعالی هغه هم مطلق ذکر کړیدے (وامسحوا برؤسکم) اوددے آیت تفسیر رسول الله ﷺ هم داسے کړیدے چه هغه تول سر مسح کړیدے، لکه بخاري، مسلم کښې دي:

بدأ بمقدم رأسه حتی ذهب بهما الی قفاه، ثم ردهما الی المکان الذی بدأ منه.

(رسول الله ﷺ چه کله دسر مسح کوله نو دسر دمخکینۍ حصے نه به ئے شروع اوکړه تردے چه لاسونه به ئے څټ ته اورسول او بیا ئے دواړه لاسونه واپس کړل تر هغه ځائے پورے دکوم ځائے نه ئے چه شروع کړي وو).

او تیمم کښې دوئ استیعاب شرط او فرض نه ګنړي !!

دارنګه په لغت دعربۍ کښې هم مسح تقاضا داستیعاب نه کوي.

نو څوك چه په مسح کښې استیعاب شرط ګنړي نو دا دنص او لغت دواړو خلاف کوي. لکه داخبره ابن القیمؒ په زاد المعاد (۲۰۰/۱) کښې کړیده. دارنګه اوګوره المحلی لابن حزم (۳۷٦/۱) فتح القدیر (۱۱۱/۱)، فتاوی الدین الخالص (٤۲۲/۲) تفصیلاً.

بلکه دامام ابو حنیفةؒ نه هم یو روایت داسے راغلے دے چه استیعاب په تیمم کښې شرط نه دے. اوګوره عمده الرعایه حاشیه شرح وقایه (۹۷/۱)، حاشیه کنز الدقائق (۱۰/۱) لمحمد احسن نانوتوي.

خلاصه: داچه په تیمم کښې ګینته (ګهړۍ) یا ګوتمه ویستل، خوزول یا بنګړے خوزول ضروري نه دي اونه دګیرے خلال سنت او مستحب دے، ځکه مخکښې ذکر شو چه تیمم کښې دمخ اولاس په هره حصه مسح کول ضروري نه دي، بلکه دلاس بند یا بنګړے خوزولو ته خو دسره ضرورت هم نه راځي ځکه تیمم کښې صحیح او راجحه طریقه داده چه په مخ مسح اوشي او په لاسونو چه مسح کولے شي نو ترمړوندونو پورے مسح کول ضروري دي او په هیڅ مرفوع صحیح حدیث کښې دا

نشته چه مسح ترڅنګلو پورې پکار ده .
نو دلاسونو تر مړوندنو (کفېنو) پورې مسح کول سنت طریقه ده . او په صحیح مرفوع حدیث کښې دانشته چه هغې کښې داوی چه مسح ترڅنګلو پورې ده. دې دپاره چه دا مسئله ښه واضح شوې زه دتیمم طریقه ښایم .

د تیمم کولو غوره طریقه :

په صحیح مرفوع او موقوف احادیثو کښې دا راغلي دي چه :
مسح بهما وجهه وکفیه – بخاري (٤٨/١) مسلم (١٢١/١) .
(رسول الله ﷺ په مخ اودواړو مړوندونو باندې مسح اوکړه) .
٢– دویم حدیث دابن ماجه (٩٣/١) ابوداود رقم (٣٣٥)، (٣٤٢) کښې دعمار بن یاسرؓ نه روایت دے : حین تیمموا مع رسول الله ﷺ فامر المسلمین فضربوا باکفهم التراب ،ولم یقبضوا من التراب شیئا، فمسحوا بوجوههم مسحه واحده، ثم اعادوا فضربوا باکفهم الصعید مره اخرى فمسحوا بایدیهم – وسنده صحیح .
ترجمه : کله چه صحابه کرامؓ درسول الله ﷺ سره تیمم کولو نو مسلمانانو ته رسول الله ﷺ امر اوکړو، نو هغوئ په خپلو ورغوو سره خاوره مسح کړه، اود خاورو نه ئې هیڅ شے راوانه خستلو، نو په هغې سره ئې یو پیره خپل مخونه مسح کړل، بیا دوباره ئې په زمکه لاس راخکلو او خپل لاسونه ئې مسح کړل .
٣ – دریم حدیث : دابن عمر رضی الله عنه نه نقل دے چه هغه دتیمم وخت کښې په مخ اولاسونو باندې تر مړوندونوو (ورغوول پورې مسح اوکړه . دا حدیث امام مالك په الموطا (٤١/١، ٤٢) کښې او حافظ ابن حجرؒ په تلخیص الحبیر (١٤٥/١) کښې ذکر کړے .
ددې احادیثو نه دتیمم طریقه دارنګه معلومه شوه چه تیمم کښې :
(١) اوله طریقه داده، اودا غوره طریقه ده چه :
یوه ضربه یعنې یو ځل زمکے ته لاس کړې او زمکه مسح کړې بیا په مخ اودواړو مړوندونو پورې لاسونه مسح کړې ----- لکه دا طریقه دعمار بن یاسرؓ ته رسول الله ﷺ هغه وخت اوښودله کوم وخت چه رسول الله ﷺ هغه ته دتیمم تعلیم ورکولو . نوکه بله طریقه دتیمم وې نو هغه ته به ئې ورښودلې وې ځکه داد بیان موقع وه .

دارنګه دابن عمرؓ په حدیث کښې هم دا طریقه ذکر شوه.

(۲) دویمه طریقه: داده چه په تیمم کښې دوه ضربې اووهلې شی، یوه ضربه دمخ مسح کولو دپاره، بله ضربه دلاسونو تر مړوندونو پورې مسح کولو دپاره. لکه دا طریقه دابن ماجه اودابوداود په حدیث کښې مخکښې ذکر شوه.

(۳) دریمه طریقه: داده چه تیمم کښې دوه ضربې اوکړې شی، په اوله ضربه کښې مخ مسح کړې شی او په دویمه کښې لاسونه تر څنګلو پورې مسح کړې شی.

لکه دا طریقه دابن عمرؓ او جابرؓ نه موقوفاً په صحیح سند سره نقل ده.

(٤) څلورمه طریقه: دبعضې صحابه کرامؓ نه دا هم نقل ده چه تیمم تر ترخونو او اوګوپورې لاسونه مسح کول دی.

په دې کښې غوره طریقه داده:

چه تیمم یوه ضربه شی او په مخ اولاسونو تر مړوندو پورې مسح اوکړې شی لکه داپه مرفوع صحیح حدیث کښې راغلې ده. اودا قول دجمهورو علماؤ هم دې.

اوګوره سبل السلام (۱/۱۹٦)، ارواء الغلیل (۱/۱۸۵) السنن والمبتدعات (۱/۳۲)، نیل الاوطار ۱/۳۳۳، تحفه الاحوذی ۱/۱۳۲، والتفصیل في فتاوی الدین الخالص ۲/٤۱۸، ٤۲۰).

نوکه څوك په تیمم کښې دوه ضربې اوکړي یوه ضربه دمخ دپاره او بله ضربه لاسونو تر څنګلو دپاره، نودا طریقه هم دصحابه کرامؓ نه نقل ده، نو په دې عمل کول جائز دی. لیکن دا طریقه غوره نه ده، ځکه غوره طریقه داده چه یوه ضربه دمخ اولاسونو تر مړوندونو پورې مسح اوشی، اودا طریقه په مرفوع حدیث کښې درسول الله ﷺ نه نقل شویده. لکه مخکښې ذکر شو. وبالله التوفیق.

۷/شعبان ۱٤۲٤هـ.

❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁ ❁

کتاب الصلوه

د مانځه د احکامو بیان

په اهل حدیثو پسے مونځ کول غوره دی

سوال : په اهل حدیثو - کومو ته چه نن صبا خلق وهابیان او غیر مقلدین وائی - دوئ پسے مونځ کول څنګه دی ؟

جواب : په اهل حدیثو پسے - چه اوس ورته وهابیان وئیلے شی - مونځ کول بالکل جائز بلکه غوره دی. ځکه دوئ مسلمانان دی او په مسلمانانو کښے بیا هغه غوره مسلمانان دی چه هغوئ ته (فرقه ناجیه) او صحیح (اهل السنه والجماعت) وئیلے شی. علماء کرامؒ چه د اهل السنه والجماعه کوم علامات ذکر کړی دی هغه ټول علامات الحمد لله په اهل حدیثو کښے موجود دی.

دغه شان اهل حدیث درسول الله ﷺ ددے مبارکو احادیثو صحیح مصداق دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه :

لا تزال طائفه من امتی ظاهرین علی الحق - متفق علیه.

ترجمه : زما په امت کښے به یوه ډله وی چه په حق باندے به ولاړه وی.

بل حدیث شریف کښے ارشاد فرمائی :

ستفترق امتی علی ثلاث وسبعین فرقه کلهم في النار الا مله واحده. قیل من یا رسول الله ! قال : ما انا علیه واصحابی - رواه الترمذی.

ترجمه : زما په امت کښے به (۷۳) ډلے جوړے شی ټولے به په اور کښے وی مګر یوه ډله به نه وی. چا تپوس اوکړو : دابه څوك وی یا رسول الله ! رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : دا هغه کسان دی چه زما او زما دصحابه ؤ په طریقه روان وی.

طائفه منصوره (نجات موندونکے) ډله کومه یوه ده ؟

اوس زه ددے حدیث په بنیاد باندے چه (انتم شهداء الله في الارض) دعلماؤ او سلف صالحینؒ اقوال ذکرکوم چه ددے احادیثو مصداق اهل حدیث او هغه څوك دی چه د اهل حدیثو په منهج باندے روان وی.

اقوال د علماؤ په تعیین د فرقه ناجیه کښې

۱ - امام اهل السنه والجماعه احمد بن حنبلؒ ددے احادیثو په تشریح کښے چه (الا فرقه واحده) دغه شان د (لا تزال طائفه من امتی ظاهرین علی الحق) په تشریح او تعیین کښې ارشاد فرمائی :

ان لم یکونوا اهل الحدیث فلا ادری من هم ؟

ترجمه : (په دے احادیثو کښے دذکر شوے ډلے نه مراد) که اهل حدیث نشی نو بیا ماته پته نشته چه څوك به مراد وی ؟ (یعنی خامخا ددینه اهل حدیث مرادی دی)۔

(اوګوره : الآداب الشرعیه : ۲۳۷/۱، شرف اصحاب الحدیث : ۳۶) .

۲ - امام شافعیؒ فرمائیلی دی چه :

علیکم باهل الحدیث فانهم اکثر صوابا عن غیرهم .

ترجمه : تاسو داهل حدیثو تابعداری اوکړئ ځکه چه ددوئ حق دنورو نه زیات دے .

بل ځائے ئے فرمائیلی دی چه :

اهل الحدیث في کل زمان کالصحابه .

ترجمه : اهل حدیث په هره زمانه کښے دصحابه کرامؓ پشان (په حقه) دی .

اوګوره میزان الکبری للشعرانی : ٤٩/۱ . الآداب الشرعیه لابن مفلح : ۲۳۸/۱، توالی التانیس لابن حجرؒ.

۳ - پیران پیر شیخ عبد القادر جیلانی صاحبؒ فرمائیلی :

اما الفرقه الناجیه فهی اهل الحدیث .

(نجات بیاموندونکے ډله اهل حدیث دی) . غنیه الطالبین ص : ۵۷/۱ .

٤ - علامه ابن کثیرؒ په خپل تفسیر کښے د دے آیت (یوم ندعو کل اناس بامامهم) لاندے دبعضو سلفوؒ نه نقل کوی لیکی چه :

هذا اکبر شرف لاهل الحدیث، لان امامهم النبی ﷺ .

(دا داهل حدیثو دپاره ډیر زیات قابلِ فخر خبره ده چه ددوئ امام نبی کریم ﷺ دے) .

(تفسیر : ۷۳/۳، سوره اسراء : ۷۱) .

۵ - دعبد الله بن مبارك رحمه الله نه نقل دی چه هغه فرمائی :

لا یزال طائفه من امتی ظاهرین علی الحق . قال : هم اهل الحدیث .

ترجمه : درسول الله ﷺ ددے حدیث نه مراد چه (همیشه به زما په امت کښے یوه ډله په حق باندے کلکه ولاړه وی) ددے ډلے نه مراد اهل حدیث دی.

اوګوره : مفتاح الجنه ص : ٤٨، للسیوطی، وشرف اصحاب الحدیث ص : ٢٦.

الغرض : دے باره کښے دعلماؤ بے شماره اقوال دی چه اهل حدیث په دے امت کښے بهترین خلق دی. لیکن شیطان چونکه زمونږ ازلی دشمن دے او په خپل شیطانت کښے ډیر مهارت لری، هره زمانه کښے انسانان دحق نه منع کوی اود حق دبندولو دپاره قسما قسم تدبیرونه اوحیلے جوړوی چه یو په هغه تدبیرونو اوچلونو کښے (تشویه الحق) یعنی حق او اهل حق خلقو ته په بدرنګ او بدو نومونو سره معرفی کول دی.

اوګوره البیان في مداخل الشیطان تفصیلاً.

پاکستان او هندوستان کښے چه کله متبعینو د سنتو دعوت شروع کړو نو دشیطان بچو (انګریزانو) اود شیطان تابعدارو (اهلِ بدعت) په داسے نومونو سره دغه حق پرست خلق معرفی کړل چه خلقو ته بد ښکاره شی او خلق ترینه نفرت اوکړی. لکه په دغه نومونوکښے یو نوم (وهابی) او (وهابیت) دے. چه چا به په سنتو عمل کولو او په شرك او بدعت باندے به ئے رد کولو او دا به ئے بد ګڼړلو نو هغه ته به وهابی وئیل کیده.

(کفایه المفتی :٢٠٤/١. فتاوی رشیدیه : ١١٠/١).

ورنه دوهابیانو هیڅ داسے معنی نشته چه ددے نه کوم کسان مراد دی اونه یوجدا مذهب دے.

(تفهیم المسائل : ٢٠٣/٦. لمولانا ګوهر رحمٰنؒ).

بلکه اهل بدعت خوهر هغه چاته وهابی وائی چه څوك دسنتو تابعداری کوی.

لکه دا خبره مفتی کفایه الله محدث دهلوی حنفی صاحبؒ په کفایه المفتی کښے لیکلے ده :

وهابیون کے کوئی ایسے معنی نهین جن سے کچھ تعین هوسکے که کون لوك مراد هین کیونکه آجکل هر اس شخص کو وهابی کهدیتے جو کسی بدعت سے منع کرین.

ترجمه : دوهابیانو هیڅ داسے معنی نشته ددے نه څه خاص خلق مراد شی، ځکه نن صبا هر هغه کس ته وهابی وئیلے شی چه څوك دبدعت نه خلق منع کوی.

(کفایه المفتی : ٢٠٤/١).

بل ځائے لیکی :

مگر هندوستان کے بعض مبتدعين نے تو آجکل متبعِ سُنت کانام وهابی رکھدیا هے۔

ترجمه : مگر دهندوستان (او پاکستان) بعض بدعتيانو خلقو نن صبا ځوك چه دسنت تابعداری کوی، هغوی ته دوهابی نوم گدی.

(كفايه المفتى : ۱۹۸/۱، ومثله في : ۲۰٤/۱).

دافغانستان دطالبانو دتحريك سابق مفتى عبد العلى ديوبندى په خپل کتاب بلوغ المرام ص (۲۱۹) کښې ليکی :

وهابی په مذهب دبريلويانو هغه ځوك دے چه : د سامری دغږومبی او غړږی نه انكار كوی اود ضلالت اوبدعت نه بد وړی.

رشيد احمد گنگوهی صاحبؒ ليکی :

سوال : وهابی مذهب يه كون فرقه هے، مردود هے يا مقبول، اور عقائد ان کے مذهب والون کے مطابقِ اهل سنت والجماعت هين يا مخالف، كسى امام كي تقليد كرتے هين يا نهين ؟

جواب : اس وقت اور اطراف مين وهابی متبعِ سنت اور دیندار کو کهتے هين الخ .

ترجمه : په دے وخت کښې او په دے علاقو کښې دسنتو تابعدار او ديندارو خلقو ته وهابيان وئيلے کيږی.

حاصل : داچه وهابيان متبع سنت خلقو ته وئيلے شی. کومو خلقو چه دشر ك او بدعت اوخرافاتو نه انكار كړے وی. نو خلق ددوئ دبدنامولو دپاره ددوئ نوم وهابيان گدی. لكه څنگه چه به دمکے کافرانو او مشرکانو رسول الله ﷺ او دهغه مبارکو صحابه کرامؓ ته دبدنامولو دپاره صابيان وئيل.

دغه شان مونږ مخکښے ذکرکړل چه اهل حديث (غيرمقلدين) اهل سنت والجماعت دی، ددوئ څه بيله عقيده نشته دے. ددے ثبوت هم دعلماء احنافو نه واوره !

مفتى كفايه الله حنفى محدث دهلویؒ په كفايه المفتى کښے ليکی :

هان ! اهل حديث مسلمان هين اور اهل سنت والجماعت مين داخل هين، ان سے شادی بياه كا معامله کرنا درست هے، محض ترك تقليد سے اسلام مين فرق نهين پرتا اور نه اهل سنت والجماعت سے تارکِ تقليد بهر هوتا هے .

ترجمه : هاؤ، اهل حديث مسلمانان دی او په اهل السنه والجماعت کښے داخل دی، ددوئ سره د

نكاح، اود خپلولۍ معامله كول درست دى، صرف په تقليد پرېخودلو سره په اسلام كښې هېڅ فرق نه راځى، اونه تقليد پرېخودونكے داهل السنت والجماعت نه بهر اوځى.

(كفايه المفتى: ۳۲۵/۱، ومثله في: ۳۲٤/۱).

رشيد احمد گنگوهى صاحبؒ په فتاوى رشيديه كښې لېكى:

عقائد مين سب متحد مقلد غير مقلد هين، البته اعمال مين مختلف هوتے هين.

ترجمه: په عقيده كښې تول يو دى مقلد دے كه غير مقلد، البته په اعمالو كښې مختلف دى.

(فتاوى رشيديه ص: ۲۳۹، ومثله في ص: ۲۸۰).

مولانا گوهر رحمٰن صاحبؒ لېكى:

دنجد (حجاز) په علاقه كښې يو عالمِ دين تېر شوے چه دهغه نوم محمد بن عبد الوهاب نجدى وو، ده دشرك اوبدعت ترديد اود توحيد اوسنتو اشاعت كولو. دقبر پرستۍ، رسمونو او بدعاتو خلاف ئے په خپل دور كښې ډېر غټ كاركړيدے. په هغه كښې معمولى شان سختى وه مگر دهغه عقائد داهل سنت والجماعت داصولو مطابق وو، رسمونو اوبدعاتو گډوډ كړى خلقو دتوحيد سنت خوښونكى اود رسمونو اصلاح كونكى خلق ده طرفته منسوب كړل، او وهابيت ئے ديو غلط او باطل مذهب په طور سره مشهور كړو، حالانكه دا څه جدا مذهب نه دے. (تفهيم المسائل: ۲۰۳/٦).

مولا نا مودودى صاحبؒ په رسائل مسائل كښې لېكى:

جواب: وهابى په اصل كښې دهيڅ يوے فرقے نوم نه دے، صرف دطعن او تشنيع په طريقه ددے خلقو دپاره دانوم كېښودلے شوے چه يا اهل حديث دى يا د محمد بن عبد الوهاب تابعدار دى. داهل حديثو مسلك خو پخوانے دے، دائمه اربعو دزمانے نه راروان دے. اودا د هغه كسانو ډله ده چه ديو امام دتقليد اختيارولو په ځائے په خپله داحاديثو او قرآن نه داحكامو تحقيق كوى.

پاتے شو دمحمد بن عبد الوهاب تابعدار خلق، نو دا په اصل كښې دحنبلى طريقے خلق دى، ددوئ فقه اوعقائد هغه دى كوم چه دامام احمدؒ وو.

هندوستان (پاك وهند) كښې غالباً دا روستنۍ ډله (دمحمد بن عبد الوهاب تابعدار) په هيڅ يو ځائے كښې نشته. كومو خلقو ته چه دلته وهابى وئيلے شى، هغه په حقيقت كښې داولنۍ ډلے (اهل حديثو) خلق دى. دے كسانو په اول اول كښې ډېر ښه كار اوكړو، او اوس هم په دوئ كښې ښه كسان پيدا كيږى، مگر په دوئ كښې ډېر جاهله اوجگړه مار كسان هم شامل شوى دى چه خامخا په وړو وړو

معاملاتو ئے دبحث اومناظرے بازار گرم کړے وی.او دغه شان داسے جاهلان کسان چه خپل ځان ته داحنافو ډله وائی هم ډیر موجود دی.

(رسائل مسائل : ۱۹۱/۱، لابی الاعلی مودودی).

داوو ددے علماؤ اودهغوی دکتابونو حوالے چه اهل حدیث کوم چه نن صبا ورته غیر مقلدین او وهابیان وئیلے شي دا کسان اهل سنت والجماعت دی، دوئ څه جدا مذهب نه لری، ددوئ عقائد صحیح دی. دغه شان دوی ته چه څوك وهابیان وائی نودا ددے مقصد دپاره چه ددوئ نه خلق متنفره کړے شي.

اوس دے باره کښے داحنافو علماؤ اقوال واوره چه دوئ پسے مونځ کول جائز دی.

۱ - کفایه المفتی کښے مفتی کفایه الله حنفی لیکی :

سوال : کیا موجوده وهابیون یا غیر مقلدین کے خلف نماز پرهنی جائز هے یا نهین اثبات ونفی کی وجه تحریر فرمائین !

جواب : غیر مقلدون کے پیچهے حنفی کی نماز جائز هے.

(ترجمه : آیا دموجوده وهابیانو یا غیر مقلدینو پسے مونځ کول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : غیر مقلدینو پسے دحنفی مونځ جائز دے.

(کفایه المفتی : ۳۲۷/۱).

دغه شان په بل ځائے کښے دیو سوال په جواب کښے لیکی :

اهل حدیث کے پیچهے نماز جائز هے.

(اهل حدیثو پسے مونځ کول جائز دی). - کفایه المفتی : ۷۵/۳.

فتاوی دیوبند کښے دی :

سوال : دغیر مقلد نه روسته دمقلد مقتدی مونځ کیږی اوکه نه ؟

جواب : غیر مقلد امام که چرے ددے خبرے خیال ساتی چه هغه کار په مانځه کښے نه کوی په کوم چه دحنفی مونځ فاسد یا مکروه گرځی اومتعصب نه وی نو هغه پسے اقتداء کول (مونځ کول) صحیح دی. دفقے په کتابونو کښ. دهغے تفصیل موجود دے.

در مختار کښے دی :

ان تیقین المراعاه لم یکره.(۵۲٦/۱. فتاوی دیوبند : ۳۰۷/۳).

بل ځائے کښې دي :

سوال : کوم کس چه غیر مقلد وي مگر ائمه دین ته بد نه وائي هغوي پسے مونځ کول څه حکم لري ؟

جواب : که چرے عقائد ئے داهل سنت والجماعت وي (یعنی اهل حدیث وي) اوسلفو ته بد نه وائي نو هغه پسے مونځ کول صحیح دي.

ددے په تعلیق کښې ورسره دادي چه :

که چرے سلفو ته بدوائي نو بیا فاسق دے، اوفاسق پسے مونځ کول مکروهه دي.

(فتاوی دیوبند : ۲۱٦/۳).

دغه شان فتوی ئے په (۱٤۳/۳، ۲۱٦، ۲٤۸، ۳۰۸، ۳۱۵، ۲۳٤) کښې هم ورکړیده.

فتاوی رشیدیه ص : ۳٤۸. احسن الفتاوی : ۲۸۲/۳.

دے تولو کښې وئیلی دي چه په غیر مقلد پسے مونځ کول جائز دي.

البته په بعض ځایونو کښې دا خبره هم ورسره اضافه کړیده چه په دے شرط چه ائمه ؤ ددین ته بد نه وائي، سلفو ته بد نه وائي، اود هغه څیزونو خیال ساتي په کومو باندے چه دحنفي مونځ فاسدیږي.

پاتے شوه دا خبره چه (ائمه ؤ ته بد نه وائي).

نو ددے **جواب** دادے چه دا د **اهل حدیثو** په خلاف د دیوبندیانو **غلطه** پروپیگنډه ده چه غیر مقلدینو کښې بعض خلق ائمه ؤ ته بد وائي. ائمه دین زمونږ د سر سترگے دي، مونږ الحمد لله ﷺ هیڅ کله هم امامانو ته کنځل او بد رد نه وئیلي او نه ئے وایو. بلکه مونږ همیشه دپاره وایو چه : ربنا لا تجعل في قلوبنا غلا للذين آمنوا ------ او که چرے په دلیل سره، او سنجیده علمي رد کولو ته طعن، رد بد اوگستاخي اووئیل شي نو بیا خو داحنافو هیڅ کتاب هم دداسے ردو بدو اوگستاخیو نه خالي نه دے.

مثلاً فقه حنفي اوگوره چه هر هغه مسئله چه کومه ددوئ دمذهب خلاف وي په هغے کښې دوئ په امام شافعي، امام احمد، امام مالك اونورو علماؤ باندے رد کوي. بلکه احنافو خو عامه قاعده ایښے ده چه :

مذهبنا صواب يحتمل الخطاء، ومذهب مخالفنا خطاء يحتمل الصواب.

یعني : زمونږ داحنافو مذهب حق دے خو کیدے شي چه خطاء وي، او زمونږ دمخالف مذهب

والو خلقو مذهب خطاء دے خو کېدے شي چه حق وي. (رد المحتار: ۳۳/۱).

حاصل: دا چه ډېر داسے مثالونه دي چه په جانب مقابل ډېر سخت ردونه شوي وي.

مثلاً نُور الانوار ص (۳۰۰) بحث الاهلیه کښے دي:

کجهل الشافعي في حل متروك التسميه – بیا روسته لیکي:

کجهل الشافعي في جواز القضاء بشاهد ويمين الخ.

اوس دا حنافو نه دا تپوس کېدے شي چه دا امام شافعي ته بد رد وئیل دي که نه؟

که دوئ وائي چه په امام شافعي باندے دا رد کول هغه ته کنځل کول نه حسابېږي. نو بیا همدغه خبره اهل حدیث هم کوي چه په امام ابو حنیفه باندے په یوه مسئله کښے رد کول دهغه کنځل نه حسابېږي.

اوکه احناف وائي چه هاؤ دا کنځل دي چه زمونږ احنافو، امام شافعي ته کړي دي. نو بیا سوال دادے چه که احناف امام شافعي ته کنځل کوي نو دوئ پسے دے مونځ کېږي اوکه اهل حدیث امام ابو حنیفه ته کنځل کوي نه دوئ پسے دے مونځ نه کېږي – دا کومه دعقل او سمجھ مسئله شوه؟

هغه ګېدړ حلال وي چه حلال کړے عبد الجلال وي!!

حال دا چه اهل حدیثو هیڅ کله هم امام ابو حنیفهؒ ته بد رد نه دي وئیلي اونه ئے ورته چرے کنځل کړي دي، دا خبره د مقلدینو بالکل بے بنیاده ده– او بل طرفته احناف نور ائمه مجتهدینوؒ ته بد رد وئیلي دي لکه چه مذکوره عبارت دنور الانوار په دے خبره اود احنافو په غلو باندے خکاره دلیل دے. نو خپله ګناه په بل باندے دورتپلو څه معنی ده؟

دغه شان ددوئ مقابل ته اوګوره مثلاً اُمام ابن ابي شیبهؒ په امام ابو حنیفهؒ باندے ردونه کړي دي. امام عجليؒ په امام ابو حنیفهؒ باندے ردونه کړي دي. دامام احمدؒ ځوئے په کتاب السنه کښے په امام ابو حنیفهؒ باندے ردونه کړي. نو آیا احناف دا وئیلے شي چه دے علماؤ امام ابو حنیفهؒ ته کنځلے کړي دي؟ او دوئ پسے مونځ نه کېدلو؟

الغرض: په یو عالم باندے علمي رد کول جدا شے دے اوکنځلے کول جدا شے دے.

اوس که کوم حنفي اووائي چه اهل حدیث په ائمه ؤ پسے بد رد وائي او کنځل کوي نو مونږ دوئ ته وایو چه ددے خبرے ثبوت پیش کړئ!! دا خالصه افتراء او غلطه پروپیګنده ده په اهل حدیثو پورے ددوئ دبدنامولو دپاره. دا دعقل او هوش والو خبره نه ده. بلکه دادا اهل بدعت خبره ده.

هاؤ، اهل حدیث دائمه اربعهؒ ؤ تولو تابعداری کوی، ہو امام پسے نه دی انختی چه د بل امام دخبرو جوابونه دے کوی او هغه دے ددوئ دپاره سردردے گرځی. څنگه چه داحنافو دپاره امام شافعی، امام مالك او امام احمدؒ دردِ سر گرځیدلی دے. اهل حدیث په ائمه اربعهؒ وغیره کښے چه دچا خبره اقرب الی السنه وی هغه اخلی او سره داکرام اواحترام دنورو نه دهغوئ خبره پریدی. (ودونه خرط القتاد).

لکه څنگه چه په دے موضوع باندے شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ یوه مستقله رساله لیکلے ده: (رفع الملام عن الائمه الاعلام).

که څوك په دے باره کښے مونږ ته دیو غیر مقلد عالم څه عبارت پیش کړی نو ددے جواب دمفتی کفایه الله محدث دهلوی حنفیؒ په ژبه سره واوره هغه لیکی:

که چرے په غیر مقلدینو کښے یو کس ائمه مجتهدینو ته رد بد اووائی یا دصحابه کرامؓ بدعات راؤباسی یا سلف صالحینؒ ته بد وائی یا مسلمانان په معمولی کوتاهیانو مشرك اوکافر گرځوی یا دمطلق امامت دعوی' کوی، نو زما عقیده داده چه ددے خبرو ذمه واری په هغه کس ده چه دچا نه دا خبره بیان شویده، نه داچه تول غیر مقلدین موردِ الزام اوگرځولے شی، یا په نفس تقلید پریخودلو سره داهل سنت والجماعت نه دوتلو حکم وربانده اولگولے شی. اوگوره: کفایه المفتی: ۳۲٤/۱.

زه وایم دا یقیناً دانصاف خبره ده اودیو کس په خطائی توله ډله خطاء گڼړل دانصاف نه سراسر خلاف دی. په دے شرط چه دا ډله دهغه دخطاء خبرے تائید نه کوی. گنے نو بیا خو داحنافو علماؤ نه هم ډیر داسے مثالونه پیش کولے شو چه هغوی په رشتیا سره دسلف، صحابه کرامؓ او احادیثو او قرآن سخته بے ادبی کړیده.

لکه یو حنفی لیکی: مرا قول ابو حنیفه باید، قول رسول کافی نیست

ترجمه: ماله د ابو حنیفه خبره پکاره ده، د رسول الله ﷺ خبره کافی نه ده۔

اوس دا کفری خبره ده، خو مونږ په دے سره تولو احنافو ته کافر نه وایو بلکه ددے ذمه واری ددے قول په ویونکی باندے وراچوو۔

مونږ خو دا اعلان کوو چه دهر چا خبره دقرآن حدیث خلاف وی که هغه هرڅوك وی که زمونږ استاذ وی، مشروی، مقلد وی او غیر مقلد وی مونږ دهغه خبره منلو ته هیڅ کله تیار نه یو.

حاصل: داچه ددین ائمه مجتهدینوؒ ته بد رد وئیل جائز نه دی.

لیکن ددے مطلب هرگز داهم نه دے چه مونږ به دهغوی هره خبره – خطاء وی که رسا وی – منو.

عملي او سنجېده رد کول ښېله خبره ده او کنځلې ردې بدې وئېل بېله خبره ده.

دصحابه کرامؓ باره کښې زمونږ عقېده داده چه:

صحابه کرامؓ زمونږ ددین معیار دی' زمونږ دامت بهترین او غوره خلق دی.د رشد او هدایت امامان دي ـ الله تعالی دهغوئ ایمان مونږ دپاره نمونه ګرځولے ده لکه چه فرمائی: ﴿ فان آمنوا بمثل ما آمنتم به فقد اهتدوا ﴾.

دغه شان رسول الله ﷺ فرمائی:

خیر امتی قرنی، ثم الذین یلونهم، ثم الذین یلونهم. متفق علیه.

بل حدیث کښې دی: اکرموا اصحابی فانهم خیارکم.

ترجمه: زما دصحابوؓ عزت او اکرام کوئ. ځکه دوئ په تاسو کښې غوره خلق دے.

رواه احمد والنسائی، انظر مسند الامام احمد بتحقیق احمد شاکرؒ (١٢/١).

د صحابه کرامؓ ترمینځه چه کوم اختلافات راغلی دی نو هغې کښې هم زمونږ عقېده داده چه رسول الله ﷺ فرمائی:

اذا ذکر اصحابی فامسکوا. الحدیث.

ترجمه: کله چه زما دصحابهؤ تذکره کیږی نو چپ شئ.

اخرجه الطبرانی: ٢/٧٨/٢. وابو نعیم في الحلیه: ١٠٨/٤. وفي الامامه من حدیث ابن مسعود، وقواه الالبانی بطرقه وشواهده، السلسله الصحیحه: ٣٤/١. انظر اعتقاد اهل السنه في الصحابه ص: ٧٤. د محمد بن عبد الله الوهیبی.

ابو نعیمؒ ددے حدیث په شرح کښې لیکی:

فالامساك عن ذکر اصحاب رسول الله وذکر زلاتهم ------ بل ځائے لیکی:

لم یامرهم بالامساك عن ذکر محاسنهم وفضائلهم، انما امروا بالامساك عن ذکر افعالهم وما یفرط منهم في ثوره الغضب وعارض الموجده. (الامامه ص: ٣٤٧).

ترجمه: په حدیث کښې ددے نه منع نه ده راغلې ده چه دصحابه کرامؓ نیکیانے او فضائل مه بیانوئ بلکه دصحابه کرامؓ هغه افعال یادولو نه منع شوے ده کوم چه دهغوی نه د عارض په وجه صادر شوی وی یا په حالت دغصے کښې دصحابه کرامؓ نه صادر شوی وی.

دغه شان په کومو کتابونو، تاریخ وغیره کښې چه دصحابه کرامؓ کوم نقصانات وغیره ذکر شوی

دی، هغه دروغ دی، دقرآن او حدیث خلاف دی. هغه قصص تول شیعه گانو، پهودیانو اوددین په جامه کښې دلستونړی مارانو جوړ کړی دی.

الغرض : په اهل حدیثو (وهابیانو) پسے مونځ جائز څه چه هم دوی پسے مونځ کول بهتر دی۔ ځوك چه بیا هم په اهل حدیثو پسے دا وائی چه دوی امامان او نور سلفو ته کنځل کوی، لعن طعن کوی نو دهغوئ خبره غلطه، افتراء او ظلم اوزیاتے دے. او خپل بدعت رائج کول دی.

که چرے بالفرض یو اهل حدیث دیو امام یا ددین دیو مشر په باره کښې څه خطاء خبره کړے وی نو په هغے کښې مونږ ورسره **موافق** نه یو، ځکه په خطاء کښې مونږ دهیچا ملگرتیا نه کوو.

او صرف غیر مقلدین یادول او احناف، شوافع وغیره پریخودل دانصاف خلاف دی.

آیا احنافو لږ خرافات وئیلی دی په باره دائمه ؤ ددین کښې ؟

دوئ ابو هریرةؓ او انس بن مالكؓ ته غیر فقیه وئیلے دے، عقبه بن عامرؓ ته ئے مجهول وئیلی دی، امام شافعیؒ ته ئے دجهل نسبت کړیدے. وغیره وغیره نور داسے بے شماره خرافات ددوئ شته دے – نو آیا دا ددین امامانو ته کنځل کول نه دی ؟

آیا احنافو نه خپل کنځل هیر شو ؟ آیا اوس دا نه دی وئیل پکار دچه کوم حنفی مقلد د دین دامامانوؒ بے ادبی کوی هغه پسے مونځ پکار نه دے ؟

آیا یو ائحے امام ابو حنیفهؒ ددین امام دے اوکه نه نور امامانؒ ددین هم شته دے ؟

ددے جواب په احنافو باندے پاتے شو !!

بلکه عامه خبره کول پکار دی چه ځوك دسلفوؒ، احادیثو او قرآن کریم بے احترامی کوی، یا دسلفو صالحینوؒ باره کښې لعن طعن کوی نو ده پسے مونځ نه دی کول پکار. اوس ځان سپین باز گڼړل، یا خپله بے ادبی پتول او بل ته گوته نیول او په هغه افتراء کول دا سراسر ظلم او زیاتے دے چه الله د مقلدینو په برخه لیکلے دے۔

اودا خبره هم یاد ساتل پکار دی چه کله ائمه کرام یا سلفؒ ذکر شی نو ددے نه صرف امام ابو حنیفهؒ نه دے مراد. بلکه ددین تول ائمه کرام تربینه مراد دی، دا خو الحمد لله بے شماره دی. په دوئ کښې دچا بے ادبی کول او په هغه پورے لعن طعن کول، هسے بیسه دهغه په خبرو کښې عیب راویستل، په هغوئ کښې یو دبل دپاسه کول (څنگه چه داحنافو طریقه ده) او دهغه دخبرے جوابونه کول. دا تول په بے ادبئ کښې راځی.

ربنا لا تجعل في قلوبنا غلا للذين آمنوا.



بدعتې پسې د مونځ کولو حکم

سوال: په بدعتي پسې مونځ کول جائز دي که نه؟ دغه شان بدعتي سړي امام جوړول څه حکم لري؟ دې باره کښې بعض کسان شته چه په بدعتيانو پسې مونځ نه کوي، بلکه هر وخت په خپل کور يا دوکان کښې جمع کوي يا يواځې مونځ کوي. اوبعض خلق بيا داسې دي چه په هر قسم بدعتي مُلا اوامام پسې مونځ کوي. مونږ ته دا مسئله دقرآن اوسنت په رڼا کښې بيان کړئ، دې دپاره چه مونږ دافراط او تفريط نه خلاص شو.

جواب: دامسئله ډېر تفصيل طلب ده، مونږ ئې مختصره ليکو.

بدعت دوه قسمه دې (۱) يو هغه بدعت دې چه دهغې په کولو سره انسان کافر اومشرك جوړيږي او ددين نه پرې خارجيږي. نوداسې مبتدع چه دبدعت په وجه کافر او مشرك جوړ شوې وي دده په اقتداء کښې مونځ نه کيږي. اوپه دې مسئله دامت دعلماؤ اجماع ده.

(۲) دويم قسم هغه مبتدع دې چه موحد وي، مشرك نه وي البته په بعض بدعاتو کښې عملاً مبتلا وي، لکه دعاء بعد الفرض يا بعد السنت کوي، داسقاط مروجه قائل وي، ځلوېښتی، کلېزې (برسپانې) وغيره بدعات کوي. نو مونږ دلته دداسې بدعتي په باره کښې فتوی ليکو. نو دا قسم مبتدع دوه حالته لري.

اول حالت: که چرې دېو کلي يا محلې مشر يا دمسجد انتظاميه ته پته وي چه دا کس بدعتي دې او بيا ئې هم امام جوړوي يا ئې دامامت نه نه لرې کوي نودا کار حرام او سبب دلعنت درسول الله ﷺ دې.

رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: ولعن الله من آوى محدثاً.

ترجمه: الله تعالی دې په هغه چا لعنت اوکړي چه بدعتي ته ځائې ورکوي.

رواه مسلم (۱۹۷۸) واحمد (۱/۱۰۸، ۱۱۸، ۱۵۲) والبغوي في شرح السنه (۶/۲۷) انظر الجامع

الصغیر (۹۹/۲، ۱۰۲٤) وسنده صحیح انظر رسالتنا : اسباب اللعنه تفصیلاً .
دغه شان علماء امت هم دے باره کښے دحرمت فتوی ورکړی .
در مختار (۳۷۷/۱) کښے دی :
ویکره مبتدع ای صاحب بدعه وهی اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول لا بمعانده بل بنوع شبهه وکل من کان قبلتنا ------ دغه شان شامی لیکی :
فهو (الفاسق) کالمبتدع تکره امامته بکل حال (۳۷٦/۱)
شیخ عبد القادر جیلانی په الغنیه ص (٤٨٠) کښے فرمائی :
ویکره تقدیم المبتدع ایضاً لانه فاسق الاعتقاد وهو اشد من الفسق من حیث العمل الخ .
اوګوره المدخل : ۲٥/۱ . مفتاح السعاده : ۲٥/۲ . کبیری ص : ٤٧٩ . ضیاء النور ص : ۱٥ . مجموعه الفتاوی لشیخ الاسلام : ۳٤۲/۲۳ . فتاوی الدین الخالص : ۲/ . المرعاه : ٥۹/٤، ٦۱ . فتاوی دیوبند : ۱٦٥/۳، ۲۳۸، ۲٦٥ . دلیل الطالب ص : ۳۳٥، ۳۳۹ .
دویم حالت : که چرے په یو مسجد کښے بدعتی امام مقرر وی یا په خپل زور اوطاقت باندے امام وی، نو آیا په دے کس پسے مونځ کول جائز دی اوکه نه ؟
نو دے باره کښے شرعی حکم دادے چه که چرے ستاسو دپاره بل مسجد کښے سُنی امام ملاویدے شی نو هغه مسجد ته دمانځه دپاره تلل پکار دی . اوکه چرے بل نزدے مسجد نه وی نو بیا په بدعتی پسے مونځ کول دضرورت په بناء باندے جائز دی .ځکه چه دا قسم بدعتی چه مشرك نه وی یو فاسق اوغټ ګنهګار انسان دے او په ګنهګار او فاسق پسے مونځ کول جائز دی . لیکن دے کښے شرط دادے چه :
(۱) په بدعت کښے به ورسره شرکت نه کوی . مثلاً د فرضو یا سنتو نه پس چه په جمع دعاء کوي .
(۲) امام به مونځ په مکروه وخت کښے نه کوی که چرے امام په وقت مکروهه کښے مونځ کوی نوبیا دے ځانله مونځ کوی، ځکه که چرے یوسنی امام په مکروهه وخت کښے مونځ کوی نو ځانله مونځ کول ضروری دی . او بیا بدعتی امام چه په مکروه وخت کښے مونځ کوی نو ده پسے خو په طریقه اولی مونځ نه دی کول پکار .
(۳) دابدعتی امام به مونځ په قلاره قلاره کوی چه مقتدی هغه پسے سورت فاتحه خلف الامام نیولے شی، رکوع اوسجده کښے به تسبیحات ورپسے وئیلے شی .

که چرې یو بدعتی امام ددې شرطونو خیال ساتی اویو کس بیا هم په کور یا په دوکان کښې یا په بل ځائے یواځے مونځ کوی نو دا کس په خپله بدعتی دے اود سلفو یعنی صحابه کرامؓ دعمل نه خلاف کوی او دیوې غټې فریضې - جماعت - نه محروم دے.

اوګوره فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ (۳۴۲/۲۳، ۳۵۳) المختارات الجلیه ص : ۶۳، شرح العقیده الطحاویه ص (۴۲۰) ----- شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ لیکلی دی :

فاذا لم یمکن منع المظهر للبدعه والفجور الا بضرر زائد علی ضرر امامته لم یجز ذلك بل یصلی خلفه ما لا یمکنه فعلها الا خلفه کالجمع والاعیاد والجماعه اذا لم یکن هناك امام غیره. ولهذا کان الصحابه یصلون خلف الحجاج والمختار بن ابي عبید الثقفی وغیرهما الجمعه والجماعه، فان تفویت الجمعه والجماعه اعظم فسادا ً من الاقتداء فیهما بامام فاجر، لا سیما اذا کان التخلف عنهما لا یدفع فجوره فیبقی ترك المصلحه الشرعیه بدون دفع تلك المفسده. ولهذا کان التارکون للجمعه والجماعات خلف ائمه الفجور مطلقا ً معدودین عند السلف والا ئمه من اهل البدع. (مجموعه الفتاوی : ۳۴۳/۲۳) ----- بل ځائے لیکی :

ومن ترك الجمعه خلف الامام الفاجر فهو مبتدع عند الامام احمد وغیره من ائمه السنه - مجموعه الفتاوی : ۳۵۳/۲۳.

ترجمه : چاچه دګنهګار امام پسے دجُمعے مونځ کول پریخودل نودا دامام احمدؒ او دسنت نورو امامانو په نزد بدعتی دے.

دے باره کښے دنورو علماؤ اقوال :

۱ - امام بخاری په خپل صحیح کښے باب تړلے دے :

باب امامه المفتون والمبتدع

امام بخاریؒ په دے باب سره اشاره کوی دے خبرے ته چه عملی بدعتی پسے مونځ (عند الضروره) جائز دے.

امام بخاریؒ په دے باب کښے دوه حدیثونه ذکر کړی چه هغه دواړه په دے مسئله دلیل دی چه دفاسق او مبتدع پسے اقتداء عند الضروره جائز ده.

۲ - دشیخ الاسلام قول خو مخکښے ذکر شو.

۳ - در مختار کښے دی (۳۷۷/۱) :

صلی خلف فاسق او مبتدع نال فضل الجماعه.
یعنی: یو کس دفاسق یا بدعتی پسے مونځ اوکړو نو ده دجماعت فضیلت حاصل کړو
شامی ددے په شرح کښے لیکی:
افاد ان الصلاه خلفهما اولی من الانفراد لکن لا ینال کما ینال خلف ورع.
ددے عبارت نه معلومه شوه چه فاسق اومبتدع پسے مونځ کول غوره دی دیواځے مونځ کولو نه. لیکن څومره ثواب چه دمتقی امام پسے په اقتداء کښے وی دومره ثواب دفاسق اومبتدع امام په اقتداء کښے نه وی.
٤ – فتاوی هیئه کبار العلماء (١/٣٠١) کښں دی:
س: هل تصح الصلاه وراء المبتدع والمسبل ازراه؟
ج: نعم، تصح الصلاه خلف المبتدع وخلف مسبل ازاره وغیره من العصاه في اصح قولی العلماء مالم تکن البدعه مکفره لصاحبها الخ.
سوال: آیا په بدعتی اوهغه کس پسے مونځ کول جائز دی کوم چه دګیټو نه خکته پینځے راخکاړی؟
جواب: هاؤ، دعلماؤ په دوه قولونو کښے دصحیح قول مطابق ددے بدعتی او پینځے راخکونکی او دغه شان نورو ګنهګارانو پسے مونځ کول صحیح دی، ترڅو پورے چه داسے بدعت اونه کړی چه دهغے په وجه دا بدعتی کافر ګرځی.
دغه عبارت په فتاوی اسلامیه (١/٣٨٥) کښے هم ذکر دے.
٥ – په المختارات الجلیه من المسائل الفقهیه ص (٦٢) کښے شیخ عبد الرحمن ناصر السعدیؒ لیکی:
والصحیح ان امامه الفاسق صحیحه سواء کان فسقه من جهه الاقوال کالبدع او من جهه الافعال لقوله علیه السلام: یصلون لکن فان اصابوا فلکم ولهم وان اخطؤا فلکم وعلیهم.
ترجمه: صحیح خبره داده چه دفاسق شخص امامت صحیح دے، برابره خبره ده که فسق دده دخپلته دافعالو نه وی لکه بدعتونه شول یا په کارونو کښے فسق کوی. ځکه رسول الله ﷺ فرمائی: امامان تاسو دپاره مونځ کوی نو که دوئ حق ته اورسیدل نو ستاسو اوددوئ دواړو فائده ده. اوکه دوئ خطاء شو نو ستاسو مونځ اوشو او ګناه په دوئ ده ------ بل ځائے صفحه: ٦٤ کښے

ليکي:

فالحق الذی لا ريب فيه ان الصلاه کالجهاد تصلی خلف کل بر وفاجر الخ.

ترجمه: هغه حق خبره چه په هغې کښې هيڅ شك نشته داده چه مونځ دجهاد پشان دے چه دهر نيك عمله او بدکاره شخص پسے کيږی.

٦ - فتاوی نذيريه (۳۹۰/۱) کښې دی:

اور بوقت ضرورت اگر بدعتی کے پیچھے نماز پڑھ لے تو جائز ھے.

ترجمه: دضرورت په وخت که په بدعتی پسے مونځ اوکړی نو جائز ده.

٧ - امام بخاریؒ په خپل صحيح کښې دحسن بصریؒ نه نقل کوی:

انه قال: صل وعليه بدعته.

يعنی: بدعتی پسے مونځ کوه اود بدعت گناه په هغه ده.

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۱۵۰/۱) کښې ليکی:

وصله سعيد بن منصور عن هشام بن حسان ان الحسن سئل عن الصلاه خلف صاحب البدعه، فقال: صل خلفه وعليه بدعته.

وانظر ايضاً شرح السنه (۴۰۲/۳).

٨ - قاضی ابن ابي العزؒ په شرح العقيده الطحاويه (۵۳۱/۲) يا (۴۲۰) باختلاف النسخ کښې ليکی:

ومن ترك الجمعه والجماعه خلف الامام الفاجر فهو مبتدع عند اکثر العلماء.

ترجمه: چاچه دجُمعے او جماعت مونځ دگنهگار امام پسے پريخودلو نو دا کس داکثرو علماؤ په نزد بدعتی دے. ---- بيا روسته ليکی:

والفاسق والمبتدع صلاته في نفسها صحيحه، فاذا صلی الماموم خلفه لم تبطل صلاته.

ترجمه: دفاسق اوبدعتی مونځ په اعتبار دذات سره صحيح دے، نو کله چه مقتدی دده پسے مونځ اوکړو نو دا باطل نه دے ----- بيا روسته زياتوی:

واما اذا کان ترك الصلاه خلفه يفوت الماموم الجمعه والجماعه فهنا لا يترك الصلاه خلفه الا مبتدع مخالف للصحابه رضی الله عنهم.

ترجمه: کله چه بدعتی پسے مونځ پريخودل دمقتدی نه دجُمعے اوجماعت مونځ فوت کوی نو

بیا دلته ددې بدعتي پسې مونځ نه پریږدي مګر هغه بدعتي چه دصحابه کرامؓ نه مخالف دې.

۹ - امام ابن حزم په دې مسئله کښې ډېر تحقیق لیکلې دې او هغه دا مسئله ثابته کړېده چه بر او فاجر - نیك عمله او ګنهګار - دواړو پسې مونځ کېږي. لکه بعض دلائل او عبارات دهغه دادي:

۱ - اول دلیل ئې دصحیح بخاري حدیث ذکر کړې چه عثمان رضي الله عنه چه کله تپوس اوکړې شو چه آیا مونږ دې خوراجو پسې مونځ اوکړو؟ نو هغه اوفرمائیل:

ان الصلاه احسن ما یعمل الناس فاذا احسن الناس فاحسن معهم واذا ساؤا فاجتنب اسائتهم.

ترجمه: مونځ دخلقو په عملونو کښې بهترین عمل دې نو کله چه خلقو ښه کار کولو نو ته هم ورسره ښه کار کوه، او کله چه دوئ بدي کوله نو ددوئ دبدئ نه ډډه کوه.

۲ - دویم دلیل: وکان ابن عمر یصلي خلف الحجاج ونجده احدهما خارجي والثاني افسق البریه. وکان ابن عمر یقول: الصلاه حسنه ما ابالي من شرکني فیها.

ترجمه: عبد الله بن عمرؓ به په حجاج او نجده پسې مونځ کولو چه په دوئ کښې یو خارجي (مبتدع) وو او بل دتولو خلقو نه زیات فاسق وو. او ابن عمرؓ به فرمائیل: مونځ نیك کار دې زه باك نه کوم چه څوك ما سره په دې کښې شریکیږي.

۳ - وعن ابي الاشعث قال: ظهرت الخوراج علینا فسالت یحیی بن ابي کثیر فقلت: یا ابا نصر! کیف تری في الصلاه خلف هؤلاء؟ قال: القرآن امامك صل معهم ما صلوها.

ترجمه: ابواشعثؒ فرمائي: زمونږ په وخت کښې دخوراجو غلبه وه نو ما دیحیی بن ابي کثیرؒ ته تپوس اوکړو چه ستا څه رائې ده چه دوئ پسې مونځ اوکړو که نه؟ نو یحییؒ اوفرمائیل: قرآن ستا مخې ته دې، ددوئ سره مونځ کوه ترڅو پورې چه دوئ مونځ کولو.

٤ - وعن ابراهیم النخعي قلت لعلقمه: امامنا لایتم الصلاه؟ قال: علقمه: لکنا نتمها - یعني نصلي معه ونتمها.

ترجمه: ابراهیم نخعيؒ فرمائي: ما علقمةؒ ته عرض اوکړو: زمونږ امام مونځ پوره طریقې سره نه کوي (نو آیا مونږ پسې مونځ کوو؟) علقمةؒ اوفرمائیل: (امام اګرچه مونځ پوره طریقې سره نه کوي) خو مونږ ئې پوره طریقې سره کوو. یعني هغه سره مونږ مونځ کوو او مونږه ئې پوره طریقې سره کوو.

۵ - وعن الحسن: لا تضر المؤمن صلاته خلف المنافق، ولا تنفع المنافق صلاته خلف المؤمن.

یعني: حسن بصريؒ فرمائي: مونځ شخص ته منافق سړي پسې مونځ کول ضرر نه ورکوي،

اونه منافق سړی ته دمؤمن پسے مونځ فائده ورکوی.

٦ – وعن قتاده قالت لسعيد بن المسيب : انصلی خلف الحجاج ؟ قال : انا نصلی خلف من هو شر منه.

ترجمه : قتادهؒ فرمائی : ما سعیدبن المسیبؒ ته عرض اوکړو : آیا مونږ دحجاج (بن یوسف) پسے مونځ کوو ؟ هغه وئیل : مونږ دده نه ډیر بدترین پسے مونځ کوو.

بیا امام ابن حزم فرمائی :

ما نعلم احدا من الصحابه – رضی الله عنهم – امتنع من الصلاه خلف المختار، وعبيد بن زياد، والحجاج، ولا فاسق افسق من هؤلاء.

ترجمه : مونږ ته هیڅ یو صحابیؓ داسے معلوم نه دے چه دمختار بن ابي عبيده، عبيد بن زياد اوحجاج پسے دمانځه کولو نه منع شوے وی، حال داچه ددوئ نه بل څوك غټ فاسقان نه وو -------- امام ابن حزم په آخر دمسئله کښے بیا لیکی :

وكذلك الصيام والحج والجهاد من عمل شيئاً من ذلك عملناه معه ومن دعانا الى اثم لم نجبه ولم نعنه عليه.

ترجمه : دغه شان روژے، حج او جهاد هم دے چه څوك دا کارونه کوی نو مونږ ه ئے هم ورسره کوو، او چا چه مونږ ته دګناه دعوت راکړو مونږ هغه نه قبلوو اونه په هغے دهغه سره مونږ تعاون کوو ------ (اوګوره : المحلی لابن حزم : ۱۲۷/۳، ۱۳۰) تفصیلاً.

۱۰ – علامه صدیق حسن خانؒ په الروضه الندیه (۱۱۸/۱) کښے لیکی : دے کښے هیڅ شك نشته چه هغه امام ډیر غوره دے چه کامل العداله، ډیرعلم والا، تقویٰ والا وی، لیکن سوال دادے چه آیا دا صفاتو والا امام دجماعت دپاره شرط دے که نه ؟ نو صحیح خبره داده چه دجماعت دپاره دا شرطونه معتبر نه دی.

بیا روسته لیکی چه په ډیرو خلقو باندے شیطان لوبے کوی او په متبعینو دسنت پسے هم مونځ نه کوی او شیطان ورته وسوسه اچوی چه دے امام پسے مونځ نه کیږی ځکه چه دا خو داسے داسے دے . او په قلاره قلاره ئے تردے پورے اورسوی چه بیا هیڅوك هم ورته دامامت قابل نه ښکاری ------ دغه شان موصوف بل ځائے کښے لیکی (۱۱۷/۱) :

والاصل ان الصلاه عباده تصح تاديها خلف كل مصل اذا قام باركانها واذكارها على وجه لا تخرج به

الصلاه عن الصوره المجزئه، وان كان الامام غير مجتنب للمعاصي ولا متورع عن كثير مما يتورع عنه غيره. ولهذا ان الشارع انما اعتبر حسن القرائه والعلم والسن ولم يعتبر الورع والعداله فقال: يؤم القوم اقرؤهم لكتاب الله... الحديث.

ترجمه: اصل خبره داده چه مونځ يو داسې عبادت دے چه په هر هغه مونځ ګذار پسې کيږي چه هغه ددے ارکان او اذکارو باندے په داسې طريقه راتګ کوي چه هغې سره مونځ د جائز کيدو نه نه اوځي، اګرکه امام د ګناهونو نه او دهغه څه نه ځان نه ساتي چه د هغې نه نور خلق ځان ساتي. دا وجه ده چه شارع حسن قرأت، علم او عمر له اعتبار ورکړيدے، خو تقوی او عدالت له اعتبار نه دے ورکړے لکه فرمائي: قوم ته به هغه څوك امامت كوي چه په دوئ زيات (ښه) لوستونکے وي د قرآن.

۱۱ – حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری: ۱۵۱/۲: کښې ددے حديث (الصلاه احسن ما يعمل الناس فاذا احسن الناس فاحسن معهم واذا ساؤا فاجتنب) لاندے ليکي:

وفيه: ان الصلاه خلف من تکره الصلاه خلفه اولی من تعطيل الجماعه.

ترجمه: دا حديث دليل دے په دے خبره چه هغه شخص پسې مونځ کول چه دهغه پسې مونځ کول مکروهه وي ددے نه غوره دے چه جماعت پريخودلے شي.

۱۲ – قاضي شوکانیؒ په نيل الاوطار (۲۰۰/۳) کښې ليکي:

ولكنه قد ثبت اجماع اهل العصر الاول من بقيه الصحابه ومن معهم من التابعين اجماعا فعليا ولا يبعد ان يكون قوليا على الصلاه خلف الجائرين لان الامراء في تلك الاعصار كانوا ائمه الصلاه الخمس، فكان الناس لا يؤمهم الا امراؤهم في كل بلده فيهاامير، وكان اذ ذاك لبني اميه وحالهم وحال امرائهم لا يخفى.

ترجمه: ليکن داولنئ پيړئ يعنی پاتے صحابه کرامؓ او ددوئ په زمانه کښې دتابعينؒ فعلي اجماع او لرے نه ده چه قولي اجماع شي دظالمانو پسې په اقتداء باندے ثابت شويده. ولے چه بادشاهان او مشران به په دغه وخت کښې پنځه وخته مونځونه خلقو ته کول. په هره ښاريه کښې به ددغه ښارئيے والو ته امامتي اميرانو کوله. او اميران په دغه وخت کښې دبنو اميه سره تعلق لرو، اوددوئ اوددوئ داميرانو حالت دچا نه پټ نه دے (چه دا ظالمان او فاسقان وو) ----- بيا روسته ليکي: والحاصل: ان الاصل عدم اشتراط العداله، وان كل من صحت صلاته لنفسه صحت لغيره.

ترجمه: لنډه داچه اصل داده چه په امامت کښې عدالت شرط نه دے، بلکه هر هغه څوك چه خپل

ځان دپاره دده مونځ صحیح وي، نو دهغه مونځ دبل دپاره هم صحیح دے.
دتفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص اوګوره.

کوم کسان چه په بدعتې پسے مونځ جائز نه ګنړي نو هغوئ سره څه خاص دلائل نشته، البته د علماؤ اقوال ذکر کوي چه هغوئ وئیلې دي چه جهمي پسے مونځ نه کیږي، لکه د امام احمدؒ، امام بخاریؒ، امام زهیر بن البابيؒ، امام وکیع بن الجراحؒ اومحدث سلام بن مطیعؒ وغیره نه نقل دي چه جهمي پسے مونځ نه کیږي. نو ددے باره کښے خبره داده چه جهمیه خو کافران دي نو ځکه هغوئ پسے مونځ نه کیږي۔

اوګوره کتاب السنه لعبد الله بن احمد بن حنبل (۱/۱۰۳، ۱۱۵) خلق افعال العباد للامام البخاريؒ ص (۲۲) مسائل احمد روایه ابي داود ص (۲٦۸).

دے سره دا خبره هم یاد لرل پکار دي چه بدعت صرف په مانځه کښے نه وي، بلکه زکات، حج، غم، ښادی، مساجد، تالیف او د زندګئ په هره شعبه کښے موجود دے. دے تولو کښے خلق بدعات کوي. که انسان د هر قسم بدعت نه پاك انسان د امامت دپاره غواړي نو نن صبا هغوئ ډیر کم دي.

بله دا خبره هم یاد لرل پکار دي چه د بدعت او اهل بدعت نه ډیره نفرت کول پکار دي، او په بدعتې پسے د مانځه د جائز کیدو نه دا مطلب نه دے چه ګنے بدعتې سره به محبت کوے یابه د هغه بدعت بد نه ګنړے، نه بلکه هغه او د هغه بدعت سره به ډیر نه نفرت لرے خو یو ځائے کښے تاته بل مسجد کښے صالح او د سنت پابند امام نه ملاویږي، یا بدعتې امام دے او هغه ته نشے لرے کولے، نو بیا د ضرورت په بناء په هغه پسے مونځ کول ضروري دي، او ځان له مونځ کول نه دي پکار.

آیا د نارینه او زنانه په مانځه کښے فرق شته؟

سوال: آیا دسړي او ښځے په مانځه کښے فرق شته دے اوکه نه؟ مثلاً:

(۱) سړے به لاسونه تر غوږونو پورے اوچتوي، او ښځه به ئے تر اوګو پورے اوچتوي.

(۲) سړے به سجده کښے څنګلے دزمکے نه جدا ساتي، او خپله خیټه اوپتون به سره جدا ساتي اوښځه به دسړي په شان سجده نه کوي بلکه هغه به په زمکه باندے جوختیږي. (۳) سړے به قعده کښے ګسه خپه څملوي اوښئ خپه به اودروي اوښځه به تورك (په کناتو) کیني. (٤) سړے به لاس دنامه نه لاندے تړي اوښځه به لاسونه په سینه باندے تړي.

آیا دا فرقونه دنارینه او زنانه په مانځه کښې په صحیح احادیثو کښې ثابت دی او که نه ؟ ددې مسئلې پوره وضاحت دقرآن او سنت په رنړا کښې اولیکئ. وجزاکم الله خیرا !

جواب : دمانځه یوقسم خارجي احکام دي لکه جماعت، آذان، ستر العوره، صف کښې ‌یوائې اودریدل، دمانځه دپاره پرده کول اوداسې نور.

نو دې احکامو کښې دنارینه او زنانه دمانځه ترمینځه فرق شته ځکه دې باره کښې صحیح احادیث راغلي دي.

دویم قسم : دمانځه داخلي احکام دي، لکه کوم چه په سوال کښې لیکل شویدي. نو دې باره کښې صحیح او راجح خبره داده چه دنارینه اوزنانه دمانځه په کیفیت او هیئت کښې هیڅ فرق نشته .

ځکه رسول الله ﷺ خپل تول امت ته دا وئیلي دي چه داسې مونځ کوئ څنګه چه زه مونځ کووم. دا خطاب نارینه او زنانه دواړو ته متوجه دې. اود رسول الله ﷺ دمانځه طریقه الحمد لله دحدیثو په کتابونو کښې تفصیلا ذکر ده چه :

★ هغه به دتکبیر تحریمه په وخت کوم ځائې پورې لاسونه اوړل ؟

★ هغه به لاسونه په کوم ځائې باندې تړل ؟

★ هغه به سجده څنګه کوله ؟

★ هغه به قعده څنګه کوله ؟

نو رسول الله ﷺ چه څنګه مونځ کړیدې په نارینه او زنانه دواړو باندې دا لازمه ده چه درسول الله ﷺ دمانځه په شان مونځ اوکړي .

اوس چه څوك وائې چه تهیك ده رسول الله ﷺ سجده اوږده کړیده، خپلې څنګلې ئې دترخونو او زمکې نه اوچت اوجدا ساتلي دي،خپله خیټه مبارکه ئې دپتون نه لرې ساتله – لیکن ښځه به داسې سجده نه کوي. نو دا کس به ضرور بالضرور صحیح حدیث په دلیل کښې په دې فرق باندې پیش کوي.

یا که څوك دا اوائي چه ښځه به دسړي په شان دتکبیر تحریمه په وخت لاسونه غوږونو پورې نه اوړي. یا ښځه به دسړي په شان لاسونه نه تړي. یا ښځه به دسړي په شان قعده کښې نه کیني، نو دا کس به صحیح احادیث په دلیل کښې پیش کوي، ورنه امت دصحیح احادیثو په مقابله کښې په ضعیف اوموضوع روایتونو یا صرف دعلماؤ په بې دلیله اقوالو یا په خپلو قیاسونو باندې عمل نه

شي کولے.

زه دلته په مختصره طریقه باندے هغه دلائل ذکر کوم چه هغے کښے داوی چه دسړی اود ښځے په مونځ کښے دننه په هیئت او کیفیت کښے هیڅ فرق نشته دے.

د نارینه او زنانه په مانځه کښے فرق نشته

۱ – اول دلیل : عن مالك بن الحویرث – رضی الله عنه – قال : أتینا النبی ﷺ ونحن شببه متقاربون فاقمنا عنده عشرین یوما ولیله وکان رسول الله ﷺ رحیما، رفیقا، فلما ظن انا قد اشتهینا اهلنا، وقد اشتقنا سالنا عمن ترکنا بعدنا، فاخبرناه، فقال : ارجعوا الی اهلیکم فاقیموا فیهم، وعلموهم ومروهم، وذکر اشیاء احفظها، اولا احفظها، وصلوا کما رأیتمونی اصلی. الحدیث.

(رواه البخاری : ۸۷/۱، ۸۸، ومسلم : ۲۳٦/۱، وفی الادب المفرد ص : ۹۷. ۱۵٦، والدارمی : ۲۲۹/۱. ۱۲۵٦).

ترجمه : دمالك بن حویرث رضی الله عنه نه روایت دے دا فرمائی : مونږ رسول الله ﷺ ته راغلو اومونږ یو بل ته نزدے نزدے همزولی ځوانان وو. مونږ درسول الله ﷺ سره شل ورځے او شپے تیرے کړے. رسول الله ﷺ ډیر مهربانه اونرم خوئے وو. نوکله چه رسول الله ﷺ دا گمان اوکړو چه زمونږ کور ته زړه شوے، او واقعی هم زمونږ کور ته شوق شوے وو، نو مونږ نه ئے دهغه خلقو په باره کښے تپوس اوکړو کوم چه مونږ په خپل کورونو کښے پریښی وو، نو مونږ ورته خبر ورکړو (چه مونږ دا دا خلق پریښی دی) نو رسول الله ﷺ مونږ ته اوفرمائیل : خپل اهل ته بیرته لاړشئ اوهلته اوسیږئ، او هغوی ته دین ورزده کړئ او هغوئ ته په دے امر کوئ (راوی وائی) او نور ډیر څیزونه هم رسول الله ﷺ ذکر کړل چه بعضے راته یاد دی او بعضے نه دی یاد، او رسول الله ﷺ دا هم اوفرمائیل چه : داسے مونځ کوئ څنگه چه ما په مونځ کولو وینئ.

دا حدیث مبارك په دے مسئله کښے فیصله کن دلیل دے چه دسړی اوښځے په مانځه کښے فرق نشته، ځکه که چرے ددوئ په مانځه کښے فرق وے، نو رسول الله ﷺ به ضرور مالك بن حویرث رضی الله عنه اود هغه ملگرو ته بیان کړے وے، خصوصاً په داسے یوه موقعه باندے چه هغوئ خپلو کورونو ته واپس تلل او خپل کور والو ته ئے دین ورخودلو.

البته دمانځه چه کوم خارجی احکام دی نو په هغے کښے دنارینه او زنانه فرق شته ځکه چه هغه

فرقونه خو په صحیح احادیثو کښې راغلی دی.

لیکن په مانځه کښې دننه دنارینه او زنانه دمونځ ترمینځه فرق کښې صحیح حدیث نه دے راغلے، چه په هغې کښې دے ددے خبرے بیان وی چه زنانه دے دارنګ لاسونه اوچتوی، دارنګه دے لاسونه تړی، اودارنګه دے سجده کوی، اودغه شان دے قعده کوی. اوسړے به ئے دښځے په شان نه کوی. داسے څه حدیث نشته دے.

۲ – دویم دلیل: رسول الله ﷺ خپل امت ددے نه منع کړیدے چه په مانځه کښے دحیواناتو سره مشابهت اوکړی، لکه مونږ ددے نه منع شوی یو چه دسپی اود درنده ګانو پشان دے سجده کښے کینو، لیچے په زمکه کیدو. اوګوره بخاری،اومسلم ترمذی.

دغه شان دنقره الغراب (دکارغه په شان تونګه وهلو) نه منع راغلے ده.داوښ، خره اوګیدړ سره ځان مشابه کولو نه منع راغلے ده.

اوګوره فتاوی الدین الخالص: ٨٦/٤، ٢٩٩.

نو ددے حیواناتو سره دځان مشابه کولو نه منع راغلے ده دسړو اوښځو دواړو دپاره شامل دی. یعنی لکه څنګه چه ددے حیواناتو سره ځان مشابه کول دسړی دپاره منع دی نو دښځے دپاره هم منع دی، اوښکاره خبره ده کله چه ښځه داسے سجده اوکړی چه جوخته وی نو ددے حیواناتو – سپی اودرنده ګانو – سره مشابهت راځی.

۳ – دریم دلیل: عدم نقل دے. یعنی که چرے دسړی او ښځے دمانځه ترمینځه فرق موجود وے نو رسول الله ﷺ به ضرور امت ته ددے بیان کړے وے، حال دا چه په هیڅ صحیح حدیث داسے نشته چه هغه په دے دلالت اوکړی چه ګنے دنارینه او زنانه دمانځه په کیفیت او هیئت کښے فرق شته. رسول الله ﷺ خو ددین ډیرے وړے وړے مسئلے هم بیان کړی دی نو که چرے دښځے اوسړی په مونځ کښے فرق وے نو هغه به هم بیان کړے وے. سره ددے نه چه دا دورځے کم از کم پنځه ځله کیږی.

٤ – څلورم دلیل: امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح (١١٤/١) او تاریخ صغیر ص (٩٠) کښے، او ابن ابي شیبه په خپل مصنف (٢٧٠/١) کښے روایت کوی:

عن مکحول قال: وکانت ام الدرداء تجلس فی صلاتها جلسه الرجل وکانت فقیهه.

ترجمه: دامام مکحول رحمه الله نه نقل دی چه ام درداء رضی الله عنها به په مانځه کښے دسړے دناستے په شان کیناستله او هغه په دین ډیره پوهه زنانه وه.

دامام ابو حنیفهؒ داستاذ استاذ ابراهیم نخعیؒ نه نقل دی هغه فرمائی :
تقعد المرأه فی الصلاه کما یقعد الرجل .
ترجمه : ښځه به په مانځه کښې داسې کېني ځنګه چه سړے کېني .
(ابن ابي شیبه : ۱/۲٤۲، بسند صحیح) .

د نارینه اوزنانه دمانځه ترمینځه په عدم فرق دعلماؤ اقوال :

۱ – دامام بخاریؒ . ۲ – او دغه شان دامام ابراهیم نخعیؒ قول مخکښې ذکر شو چه هغه فرمائی چه ښځه اوسړے به په مانځه کښې یو شان کېني .

۳ – حافظ ابن حجرؒ عسقلانی په فتح الباری (۲/۲۲۲) کښې لیکی :

لم یرد مایدل علی التفرقه فی الرفع بین الرجل والمرأه، وعن الحنفیه : یرفع الرجل الی الاذنین والمرأه الی المنکبین لانه استر لها .

ترجمه : دنارینه اوزنانه دلاس پورته کولو کښې په فرق باندے هیڅ حدیث نه دے راغلے، دا فرق صرف داحنافو علماؤ نه نقل دے چه سړے به تر غوږونو پورے او زنانه به تر اوګو پورے لاسونه اوچتوی (په دے عقلی وجه باندے چه) ځکه دا دښځے دپاره ډیر ستر او پرده ده .

٤ – قاضی شوکانی رحمه الله لیکی :

واعلم ان هذه السنه تشترك فیها الرجال والنساء ولم یرد ما یدل علی الفرق بینهما فیها، وکذا لم یرد ما یدل علی الفرق بین الرجل والمرأه فی مقدار الرفع .

ترجمه : په دے ښه پوهه شه چه دا (رفع الیدین) داسے سنت دے چه نارینه اوزنانه دواړه په کښې شریك دی، ددوئ دواړو په مینځ کښې فرق کول په هیڅ حدیث کښې نشته دے (چه ګنے صرف سړے به ئے کوی اوزنانه به ئے نه کوی) دغه شان هیڅ حدیث کښې دسړی او ښځے دلاس پورته کولو په اندازه کښې فرق نه دے راغلے ----- بیا روسته لیکی :

روی عن الحنفیه ان الرجل یرفع الی الاذنین والمرأه الی المنکبین لانه استر لها، ولا دلیل علی ذلك .

ترجمه : دافرق صرف داحنافو نه نقل دے چه سړے به تر غوږونو پورے لاس اوچتوی او ښځه به تر اوګو پورے، په دے (عقلی) دلیل چه دا ډیر پردناك څیز دے ددے دپاره . مګر په دے فرق باندے هیڅ

(شرعي) دليل نشته دے.

(نيل الاوطار: ۱۹/۳، يا: ۱۹۸/۲، باختلاف الطبع).

۵ – علامه شمس الحق عظيم آبادي ؒ په عون المعبود شرح سنن ابي داود کښې ليکي:

لم يرد ما يدل على التفرقه في الرفع بين الرجل والمرأه، وعن الحنفيه يرفع الرجل الى الاذنين والمرأه الى المنكبين، لانه استر لها، والله اعلم.

ترجمه: دنارينه اوزنانه دلاس پورته کولو کښې په فرق باندے هيڅ حديث نه دے راغلے، دا فرق صرف داحنافو علماؤ نه نقل دے چه سړے به تر غوږونو پورے او زنانه به تر اوګو پورے لاسونه اوچتوي (په دے عقلي وجه باندے چه) ځکه دا دښځے دپاره ډير د ستر او پردے سبب دے. الله تعالى ښه پوهيږي. – عون المعبود: ۲۶۳/۱.

۶ – شيخ ابو الحسن عبد الله مباركفوري ؒ صاحب په مرعاه شرح مشکوه المصابيح کښې ليکي:

واعلم انه لم يرد ما يدل على الفرق بين الرجل والمرأه في محل الوضع، ومذهب الحنفيه ان الرجل يضع اليدين تحت السره، والمرأه تضعها على الصدر، لانه استر لها، ولا دليل على هذا الفرق من السنه، ولا من قول الصحابي.

ترجمه: ښه پوهه شه چه هيڅ داسے دليل نه دے راغلے چه هغه دے فرق اوکړي په مابين دسړي اوښځه کښې په ځائے دکېخودلو دلاسونو کښے. او داحنافو مذهب دادے چه سړے به دواړه لاسونه دنامه لاندے ګدي او ښځه به ئے په سينه باندے ګدي، ځکه په دے کښے ددے دپاره ډيره پرده ده، خو په دے فرق ددوئ باندے نه درسول الله ﷺ دسنت نه دليل شته اونه دکوم صحابي ؓ نه ددے ثبوت شته.

(مرعاه المفاتيح: ۳۰۲/۲).

۷ – محدث العصر امام الباني ؒ ليکي:

كل ما تقدم من صفه صلاه النبي ﷺ يستوي فيه الرجال والنساء، ولم يرد في السنه ما يقتضي استثناء النساء من بعض ذلك، بل ان عموم قوله ﷺ: صلوا كما رأيتموني اصلي يشملهن، وهو قول ابراهيم النخعي، قال: تفعل المرأه في الصلاه كما يفعل الرجل.

ترجمه: دنبي کريم ﷺ دمانځه چه کوم کيفيت بيان شو په دے کښے نارينه او زنانه دواړه برابر دي، او په هيڅ حديث کښے داسے څه نشته چه هغه دے ددے بعضے خبرو نه زنانه ؤ لره مستثني کړي،

بلکه درسول الله ﷺ دددے قول : (چه داسے مونځ کوئ څنګه چه ما ته ګورئ چه زه مونځ کووم) ددے عموم زنانه ۇ ته هم شامل دے. (چه دوئ به هم درسول الله ﷺ په شان مونځ کوی) اودا قول دابراهیم نخعیؒ هم دے، هغه فرمائی : زنانه به په مانځه کښے داسے کارونه کوی څنګه چه سړے کوی.

(صفه صلاه النبیﷺ ص : ۲۰۷).

۸ - امام ابن حزم رحمه الله لیکی :

واما المرأه فلو کان لها حکم بخلاف ذلك لما اغفل رسول الله ﷺ بیان ذلك، آهـ.

ترجمه : او هرچه زنانه ده نو که ددے دپاره ددے نه سیوا (کوم چه درسول الله ﷺ دمانځه طریقه وه) بل شان حکم وے، نو رسول الله ﷺ به هیڅ کله هم ددے دبیان نه غافل نه وے پاتے شوے. (هغه به ئے ضرور بیان کړے وے).

(المحلی : ۳۹/۳، صفه الرکوع والسجود المطلوبه شرعا).

۹ - دامام ابو حنیفهؒ او امام مالك مذهب :

علامه عینی حنفیؒ په عمده القاری شرح صحیح البخاری کښے ددے روایت لاندے چه (ام الدرداءؓ به په مانځه کښے دسړو پشان کیناستله) لیکی :

فدل هذا علی ان المستحب للمرأه ان تجلس فی التشهد کما یجلس الرجل، وهو ان ینصب الیمنی ویفترش الیسری، وبه قال النخعی وابو حنیفه ومالك.

ترجمه : دام درداءؓ عمل په دے خبره دلیل دے چه دښځے دپاره مستحب دادی چه په تشهد (یعنی قعده) کښے داسے کینی څنګه چه سړے کینی، هغه داسے چه ښیٔ خپه اودروی اوګسه خپه خوره کړی، اوهمدا دابراهیم نخعی، امام ابو حنیفه او امام مالك مذهب هم دے ----- (عمده القاری شرح صحیح البخاری للعینی : ۱۰۱/۶ . وحاشیته علی البخاری : ۱۴۴/۱، للشیخ احمد علی السهارنفوری).

۱۰ - دغه شان په فتاوی الدین الخالص : ۸۴/۴، ۸۷، کښے.

۱۱ - شیخ ابو الحسن مبشر احمد ربانی په خپل کتاب (آپ کے مسائل اور ان کا حل : ۱۸۸/۱، ۱۹۵) کښے.

۱۲ - حافظ محمد ابراهیم سلفی رحمه الله په خپل رساله کښے چه په دے موضوع باندے ئے

لیکلې ده دا خبره واضحه ذکر کړېده چه دسړي او ښځې په مانځه کښې هیڅ فرق نشته دے.

داحنافو دموقف تجزیه :

احناف علماء چه په سجده، قعده، تکبیر تحریمه وخت کښې لاس اوچتولو کښې او په سینه باندے لاس تړلو کښې دناریته او زنانه ترمېنځ فرق کوي. نو دوئ په دلیل کښې قیاس پیش کوي چه داد ښځې دپاره ډیره دپردے خبره ده.

ددے **جواب** دادے چه که چرے درسول الله ﷺ مونځ دزنانو دپاره دستر او پردے نه خلاف وے،نو بیا هغوئ (ﷺ) ولے ښځو ته دا نه فرمائیل چه تاسو زما په شان مونځ مه کوئ ؟ ځکه زما په مانځه کښې دښځو دپاره ډیره پرده نشته – والعیاذ بالله !.

سوال : که دوئ اووائي چه رسول الله ﷺ خو ښځو ته وئیلي دي چه تاسو سجده جوخته کوئ اولاسونه تر اوګور پورے پورته کوئ ـ لکه دا روایت : بیهقي : ۲۲۲/۲، مجمع الزوائد : ۱۰۳/۲، مصنف عبد الرزاق : ۱۳۷/۳، ۱۳۸، ابن ابي شیبه : ۲۷۰/۱، کښې ذکر دے. دغه شان بعض نور روایتونه چه احنافو په دے باره کښې پیش کړي دي. ددے تولو :

جواب : دادے چه احنافو چه کوم روایتونه پیش کړي دي هغه تول ضعیف دي په هغې کښې یوهم صحیح حدیث نشته. اوکه چرے دے باره کښې صحیح احادیث او آثار راغلي وے نو اهل الحدیث والسنه خو بیا دهر چا نه په دے باندے په عمل کولو سره ډیر زیات حقدار وو چه اول دوئ په دے باندے عمل کړے وے.

که څوك داحنافو ددلا ئلو دضعف وجه معلومول غواړي نو هغه دے فتاوي الدین الخالص (۸۴/٤، ۸۵)، او التحقیقات في رد الهفوات ص : ۲٦۸، ۲۷٦) ته رجوع اوکړي.

فائده : تاسو اوکتل چه د امام ابو حنیفهؒ مذهب هم دادے چه ښځه به د سړي پشان قعده کوي، لیکن ځان ته د ابو حنیفهؒ مقلدین ویونکي دا نه مني، فالي الله المشتکي.

هذا وبالله التوفیق.

ښځو ته د ښځې د امامت کولو حکم

سوال : دښځو خپل مېنځ کښې جمع او امامت کول څه حکم لري ؟ دفقه حنفي په بعض

کتابونو کښې دی، چه ښځې به یواځې خپل مینځ کښې دجماعت مونځ نه کوی، اودا کار دوئ دپاره مکروهه دے. مونږ دقرآن اوسنت په رنړا کښې جواب راکړئ !

جواب : دښځو خپل مینځ کښې په جماعت سره مونځ کول چه یوه ښځه امامه شی او نورے ښځے دهغې مقتدیانے جورے شی، په دے طریقه دښځو دپاره جماعت کول مستحب دی. اوڅوك چه خپل مینځ کښې دښځو جماعت کولو ته مکروه وائی نو دا خبره ئے خطاء ده. دهغوی سره هیڅ صریح دلیل نشته دے چه په دے باندے دلالت اوکړی. بلکه هغوی دصریح او صحیح روایتونو په مقابله کښې په متشابهاتو باندے استدلال کوی، لکه دا خبره علامه ابن قیمؒ په اعلام الموقعین (۳۷۶/۲) کښې هم بیان کړیده.

په دے خبره چه دښځو دپاره په جماعت سره مونځ کول په غیر دکراهت نه جائز دی بلکه مستحب دی دلائل دادی :

۱ – **اول دلیل** : سنن ابوداود (۸۷/۱، رقم : ۵۹۱، کښې دی :

باب امامه النساء – عن ام ورقه بنت نوفلؓ ان النبی ﷺ لما غزا بدرا قالت : قلت له : یا رسول الله ! ائذن لی فی الغزو معك امرض مرضاكم لعل الله ان یرزقنی الشهاده، قال: قری فی بیتك فان الله عز وجل یرزقك الشهاده، قال : فكانت الشهیده. قال : وكانت قد قرأت القرآن، فاستاذنت النبی ﷺ ان تتخذ فی دارها مؤذنا فَاذن لها. الحدیث.

(وسنده حسن، انظر صحیح ابی داود : ۱۱۸/۱، رقم : ۵۹۱).

ترجمه : دورقه بنت نوفلؓ نه روایت دے دا فرمائی : نبی کریم ﷺ چه کله دبدر غزا اوکړه نو ما ورته عرض اوکړو: یا رسول الله ! ماته تاسو سره دغزا کولو اجازت راکړئ، چه ستاسو دمریضانو (زخمیانو) مرهم پتئ به کووم، شاید چه الله تعالی ماته شهادت رانصیب کړی. رسول الله ﷺ هغے ته اوفرمائیل : خپل کور کښې اوسیږه، الله تعالی به تاته شهادت درنصیب کړی. راوی وائی : ام ورقهؓ ته به ددے نه پس شهیده وئیل کیدله. ددے حدیث راوی دا هم وائی : چه ام ورقهؓ قرآن کریم لوستلے وو، نو هغے درسول الله ﷺ نه اجازت اوغوښتلو چه دابه خپله محله کښې مؤذن اونیسی (اوښځو ته به جماعت کوی) نو رسول الله ﷺ هغے ته اجازت ورکړو.

دابوداود په بل روایت کښې دا هم دی چه :

وكان رسول الله ﷺ یزورها فی بیتها وجعل لها مؤذنا یُؤذن لها، وأمرها ان تؤم اهل دارها. قال

عبد الرحمن بن خلاد : فانا رأیت مؤذنها شیخا کبیرا۔

(وسنده حسن کما فی صحیح ابي داود : ۱۱۸/۱، رقم : ۵۹۲ . وارواء الغلیل : ۳۱/۲، للالبانی)

ترجمه : رسول الله ﷺ به دام ورقهؓ ملاقات دپاره دهغې کور ته ورتللو، او ام ورقهؓ ته رسول الله ﷺ مؤذن مقرر کړے وو چه دے دپاره به ئے آذان کولو، او رسول الله ﷺ ام ورقهؓ ته حکم کړے وو چه دخپل کور (یامحلے) ښځو ته امامتی کوی. عبد الرحمن بن خلادؒ راوی فرمائی : ما دهغې مؤذن اولیدلو چه ډیر زیات بوډا وو.

دا حدیث په نورو کتابونو دحدیث کښے هم شته، اوګوره :

(المنتقی لابن الجارود ص : ۱۲۲، رقم : ۳۳۳، دارقطنی مع التعلیق المغنی : ۴۰۳/۱، السنن الکبری للبیهقی : ۱۳۰/۳، والحاکم : ۲۰۳/۱، واحمد : ۴۰۵/۶، وابو علی الصواف فی حدیثه : ۸۹، ومحمد بن نصر المروزی فی قیام اللیل ص : ۱۶۲، و نصب الرایه : ۳۱/۲، ۳۲، وغیرهم).

علامه شمس الحق عظیم آبادیؒ ددے حدیث په شرح کښے داسے لیکی :

ثبت من هذا االحدیث ان امامه النساء وجماعتهن صحیحه ثابته من أمر رسول الله ﷺ الخ --------- (ددے حدیث نه دا مسئله معلومه شوه چه دښځو امامتی کول (ښځو دپاره) اوددوئ جماعت کول صحیح اوثابت دی په امر درسول الله ﷺ باندے.

اوګوره : عون المعبود شرح سنن ابي داود).

۲ – عن عطاء عن عائشه انها کانت تؤذن وتقیم وتؤم النساء فتقوم وسطهن.

(اخرجه الحاکم : ۲۰۳/۱، وله طریق آخر ر واه عبد الرزاق فی مصنفه : ۱۴۱/۳، وفی المحلی : ۱۳۶/۳، والبیهقی : ۱۳۱/۳).

عن ریطه الحنفیه : ان عائشه أمتهن وقامت بینهم فی صلاه المکتوبه قال النووی : فی الخلاصه : وسنده صحیح. التعلیق المغنی : ۴۰۴/۱ .

وله : کانت تؤم النساء تقوم معهن فی الصف.

وله طریق آخر رواه محمد بن الحسن فی کتاب الآثار ص : ۴۴: عن ابراهیم النخعی ان عائشه کانت تؤم النساء فی شهر رمضان وسطا۔

وله طریق آخر رواه ابن حزم فی المحلی : ۱۳۶/۱ : عن تمیمه بنت سلمه عن عائشه أم المؤمنین انها أمت النساء فی صلاه المغرب فقامت وسطهن وجهرت بالقرائه.

ترجمه ددے روایتونو داده چه : عطاءؒ فرمائی : عائشه رضی الله عنها به دمانځه دپاره اذان او اقامت کولو اوښځو ته به ئے امامتی هم کوله،اودابه دزنانو په مینځ کښے په صف کښے ولاړه وه.

دغه شان دریطه الحنفیه نه روایت دے : چه عائشه رضی الله عنها دوئ ته امامتی کوله په فرض مونځ کښے او عائشه صدیقهؓ به دزنانو په مینځ کښے په صف کښے ولاړه وه. - امام نوویؒ وئیلی دی : ددے حدیث سند صحیح دے.

بل روایت کښ دی کوم چه امام محمدؒ په کتاب الآثار کښے نقل کړیدے چه : دابراهیم نخعیؒ نه روایت دے چه : عائشه رضی الله عنها به ښځو ته امامتی کوله درمضان میاشتے په مینځ کښے.

دغه شان ابن حزم په المحلی کښے ددے حدیث بل سند راوړے اوهغے کښے دی چه :

تمیمه بنت سلمةؒ دعائشةؓ نه روایت کوی چه عائشه ام المؤمنین رضی الله عنها به دماښام په مانځه کښے ښځو ته امامتی اوکړه اوقرأت ئے په کښے په جهر سره اووئیلو.

فائده : دعائشه ام المؤمنین رضی الله عنها په دے حدیث کښے داخبره ښکاره طور سره معلومه شوه چه ښځه دنورو ښځو دپاره امامتی کولے شی اود فرض مونځ امامتی هم کولے شی اوقرأت هم په جهر سره لوستلے شی.

۳ - **دریم حدیث** : دام سلمهؓ نه روایت دے چه دے زنانو ته امامتی اوکړه اودز نانو دصف په مینځ کښے اودریدله.

او په مصنف عبد الرزاق کښے دجمیره بنت حصین نه روایت دے چه دا فرمائی :چه مونږ ته ام سلمةؓ دمازیګر مونځ کښے امامتی اوکړه.

دغه شان دابن ابي شیبه او المحلی په روایت کښے دی چه :

ام حسنؒ فرمائی : چه دے ام سلمةؓ لیدلے ده چه هغے ښځو ته امامتی کوله اود صف په مینځ کښے ولاړه وه.

اوس ددے حواله اوګوره : اخرجه ابن ابي شیبه فی مصنفه :۸۸/۲، وعبد الرزاق : ۱٤۰/۳، وکتاب الام : ١٦٤/١، عن امرأه من قومه یقال لها جمیره بنت حصین عن ام سلمه انها أمتهن فقامت وسطها. وفی لفظ عبد الرزاق : أمتنا أم سلمه فی صلاه العصر فقامت بیننا. التعلیق المغنی : ٤٠٥/١، ومن طریق عبد الرزاق رواه الدارقطنی فی سننه. قال النووی : اسناده صحیح. وله طریق آخر رواه ابن ابي شیبه فی مصنفه : ۸۸/۲، ۸۹، والمحلی لابن حزم : ۱۳٦/۳: عن ام الحسن انها

رأت ام سلمه زوج النبی ﷺ تؤم النساء فتقوم معهن فی صفهن قال ابن حزم : وهذا اسناد کالذهب. المحلی : ۱۳۶/۳.

دأم سلمه رضی الله عنها روایت هم ښکاره دلیل دے چه ښځه دښځو دپاره امامتی کولے شی. او په فرض مونځ کښے هم امامتی کولے شی. صرف دومره خبره ده چه امامه زنانه به دنور زنانو مخے ته نه اودریږی بلکه دصف په مینځ کښے نورو زنانو سره اودریږی.

سوال : که څوك اووائی چه دا حدیث منسوخ دے.

جواب : دادے چه صرف دوئ ته دومره اوواېو چه دالله نه خوف پکار دے هسے بیسه دځانه په احادیثو باندے دنسخ حکم مه لګوئ. دحدیث دمنسوخ کیدلو دپاره خو څلور شرطونه دی :

۱ – وجود الناسخ : چه ناسخ به موجود وی.

۲ – ان یکون الناسخ اقوی من المنسوخ اومساوِ له : یعنی ناسخ به دمنسوخ نه قوی وی یا به ورسره برابر وی په قوت کښے.

۳ – ان لایمکن التطبیق بینهما : یعنی ددواړو دلیلونو ترمینځه به تطبیق او توفیق ممکن نه وی.

٤ – ان یکون الناسخ متاخراً عن المنسوخ : یعنی ناسخ دلیل به روسته وی دمنسوخ نه، اودا په تاریخ سره معلومیږی.

اوس که یوکس راپاڅی اوصرف په دے وجه یو حدیث ته چه دده دمذهب خلاف وی او شرطونه دناسخ منسوخ په هغے کښے نه وی – اود نسخ دعوی اوکړی نو دا دعوی به مردوده وی اوقابل قبول به نه وی. اګرچه سل ځله دا دعوی اوکړی چه داحدیث منسوخ دے. لکه دا شان دعوے احناف حضرات ډیرے کوی، بس چه ددوئ درائے نه کوم حدیث خلاف وی دهغے باره کښے دوئ اکثره دنسخے دعوے کوی ! دروغ گو را بهانیں بسیار.

٤ – څلورم حدیث : دابن زبیر رضی الله عنه :

قال ابن عباس : تؤم المرأه النساء وتقوم وسطهن.

(اخرجه عبد الرزاق فی مصنفه : ۱٤٠/۳ و ابن حزم فی المحلی : ۱۳۷/۳).

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائی : ښځه ښځو ته امامتی کولے شی او دهغوئ په مینځ کښے به اودریږی.

۵ – پنځم حدیث : دابن عمر رضی الله عنه :
عن ابن عمر انه کان یامر جاریه له تؤم نسائه فی رمضان. المحلی لابن حزم : ۱۳۷/۳).
ترجمه : ابن عمرؓ به خپلې بوې وینځې ته حکم کولو چه درمضان په میاشت کښې ښځو ته امامتی اوکړی.
۶ – شپږم دلیل : قال طاووس : کانت عائشه ام المؤمنین تؤذن وتقیم.
ترجمه : عائشه رضی الله عنها به آذان او اقامت دواړه کول (ځکه مونځ به ئې په جماعت سره کولو – المحلی : ۱۳۶/۳).
۷ – اووم حدیث : عن ابن جریج : تؤم المرأه النساء من غیر ان تخرج امامهم ولکن تحاذی بهن المکتوبه والتطوع، قلت: وان کثرن حتی صفین او اکثر ؟ قال : ان تقوم وسطهن. – المصنف لعبد الرزاق : ۱٤۰/۲.
(دابن جریجؒ نه روایت دے دا فرمائی : چه ښځه نورو ښځو ته امامتی کولے شی بغیر ددے نه چه امام ددوئ نه بهر (یعنی مخے ته) اودریږی، لیکن امامه به ددوئ سره برابره اودریږی، فرضو او نفلو دواړو کښے (امامت کولے شی). ما ورته اووئیل : که ډیرے ښځے ترده چه دوه یا زیات صفونه وی بیا هم امامت کولے شی ؟ وے فرمائیل : هاؤ، په دے شرط چه امامه به ددوئ مینځ اودریږی.
۸ – اتم حدیث : عن ابن مجاهد عن ابیه وعطاء قالا : تؤم المرأه النساء فی الفریضه والتطوع، تقوم وسطهن.
(دمجاهدؒ ځوئے دخپل پلار مجاهدؒ او عطاءؒ نه روایت کوی چه دے دواړو وئیلی دی : چه ښځه نورو ښځو ته په فرضو او نفلو دواړو کښے امامتی کولے شی او امامه به دصف په مینځ کښے اودریږی.

---

۹ – نهم حدیث : عن ابراهیم والشعبی قالا : لا باس ان تصلی المرأه بالنساء فی رمضان وتقوم وسطهن.
(اخرجه عبد الرزاق فی مصنفه : ۱٤۰/۳، وابن ابي شیبه فی المصنف : ۸۹/۳، وابن حزم فی المحلی : ۱۳۷/۳).
ترجمه : دابراهیم نخعیؒ او شعبیؒ نه روایت دے چه دے دواړه وائی چه : په دے کښے څه باك نشته دے چه زنانه په رمضان کښے نورو ښځو ته امامتی کوی او دهغوئ په مینځ کښے اودریږی.

دلته لا باس په معنی مستحب سره دے، لکه در مختار :۲۳۹/۳، کښې دی :
کلمه لاباس قد تستعمل فی المندوب.
(لاباس کلمه کله دمستحب کار دپاره هم استعمالیږی).
۱۰ – لسم قول: عن معمر قال: تؤم المرأه النساء فی رمضان وتقوم معهن فی الصف.
(المصنف لابن ابي شيبه : ۸۹/۲).
ترجمه : معمرؒ فرمائی : یوه زنانه نورو زنانو ته په رمضان کښې امامتی کولے شی او هغوئ سره به په صف کښې اودریږی.
۱۱ – امام ابن حزم په المحلی کښې فرمائی :
وقال الاوزاعی وسفیان الثوری واحمد بن حنبل واسحق بن راهویه وابو ثور: یستحب أن تؤم المرأه النساء وتقوم وسطهن.
ترجمه : اوزاعیؒ، سفیان ثوریؒ، احمد بن حنبلؒ، اسحق بن راهویهؒ او ابو ثورؒ – دے تولو علماؤ – فرمائیلی دی چه : مستحب دی چه یوه زنانه نورو زنانو ته امامتی اوکړی او امامه ددوئ ترمینځه اودریږی.
دغه شان په المغنی : ۳۶/۲، کښې دی :
اختلف الروایه هل یستحب ان تصلی المرأه النساء جماعه فروی ان ذلك مستحب وممن روی عنه أن المرأه تؤم النساء : عائشه، وام سلمه، وعطاء، والثوری، والاوزاعی، والشافعی، واسحق، وابو ثور.
ترجمه : دے کښې اختلاف دے چه آیا دا مستحب دی چه یوه زنانه نورو زنانو ته په جمع مونځ ورکړی، نودا روایت شویدے چه دا مستحب دی، اودچا نه چه دزنانه دامامتئ استحباب نقل دے دهغوئ نه عائشهؓ، ام سلمهؓ، عطاءؒ، ثوریؒ، اوزاعیؒ، شافعیؒ، اسحقؒ اوابو ثورؒ هم دی.

دزنانه دامامتئ باره کښې دنورو علماؤ اقوال :

۱ – علامه عظیم آبادیؒ په عون المعبود کښې دام ورقهؓ دحدیث نه پس لیکی :
ثبت من هذا الحدیث ان امامه النساء وجماعتهن صحیح ثابت من امر رسول الله ﷺ.
ترجمه :

۲ – فتاوی المرأه المسلمه : ۳۱۹/۱، کښې دي :

نعم تؤم النساء مثلها لاباس لو امت النساء فهذا لا مانع كما في خبر ام ورقه الخ .

(هاؤ، یوه ښځه داکولے شي چه نورو ښځو ته امامت اوکړي ددے نه هیڅ مانع نشته دے لکه په حدیث دام ورقةؓ کښې راغلي دي) .

بیا روسته (۲۲۰/۱) کښې لیکي :

یجوز للنساء ان یصلین جماعه في التراویح وغیرها من الصلوات الخمس الخ .

(ښځو دپاره داجائز دي چه په جمعے سره په تراویحو یا نورو پنځه مونځونو کښې امامت اوکړي) .

۳ – علامه سید سابقؒ په فقه السنه : ۲۰۹/۱، کښې فرمائي :

دزنانه دپاره نورو زنانو ته په جماعت ورکول مستحب دي . اوددے خبر دلیل ئے درسول الله ﷺ دا حدیث ګرځولے چه رسول الله ﷺ ام ورقةؓ دخپلے محلے امامه جوړه کړیده . دغه شان عائشةؓ او ام سلمةؓ هم ښځو ته امامتي کړیده .

٤ – المفصل في احکام المرأه والبیت المسلم : ۲۵۳/۱، کښې دکتور عبد الکریم زیدان دجانبیو – یعني څوك چه ورته جائز او مستحب وائي او څوك چه ورته مکروهه وائي – دواړو داختلاف ذکر کولو نه روسته لیکي :

والراجح : ان صلاه النساء جماعه وامامه المرأه لهن من الامور الجائزه شرعاً بل المستحبه لهن الخ .

(غوره خبره داده چه په جماعت سره دزنانو مونځ کول اودزنانه امامتي زنانو ته دهغه کارونو نه دي چه په شریعت کښې جائز څه ، چه مستحب دي) .

۵ – علامه ابو الحسن مبشر احمد رباني صاحب لیکي :

ایك عورت دوسری عورتون کی جماعت کراسکتی هے .

(یوه زنانه نورو زنانه ته دجماعت مونځ ورکولے شي . (دام ورقةؓ دحدیث دوجے نه) .

بیا روسته لیکي : مذکوره بالا احادیث سے معلوم هوتاهے که عورت کی درمیان مین کهری هوکر امامت کراسکتی هے .

(دپورتنو ذکر شوو حدیثونو نه معلومه شوه چه زنانه دزنانو په مینځ کښې په اودریدو سره امامتي کولے شي) .

(آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن سنت کی روشنی میں : ۱٤۷/۱ .
٦ - امام صنعانیؒ په سبل السلام شرح بلوغ المرام (۳۱/۲) کښې لیکی :
والحدیث دلیل علی صحه امامه المرأه اهل دارها .
ترجمه : دا حدیث (دام ورقةؓ) دلیل دے چه دښځے امامت دخپلے محلے ښځو ته صحیح دے .
تنبیه : د(دار) اطلاق لکه څنګه چه په کور کیږی دغه شان په لغت کښې ددار اطلاق په محله هم کیږی . دتفصیل دپاره اوګوره : فتاوی الدین الخالص : ۱۷۹/۵ .
۷ - فتاوی هیئه کبار العلماء : (۲٦۰/۱) ،کښې دی :
فاما صلاه النساء فی بینهن جماعه فلا باس بذلك لكن تكون امامتهن في صفهن آهـ
ترجمه : هرچه دزنانو مونځ په کور کښې په جمع سره کول نو داجائز دی لیکن دزنانو امامه به دنورو زنانو سره په صف کښې اودریږی .
۸ - مولانا ګوهر رحمٰنؒ په تفهیم المسائل کښں لیکی :
(عورت نماز میں عورتوں کی امامت کراسکتی ھے) .
ترجمه : زنانه په مانځه کښې نورو زنانو ته امامتی کولے شی ---- بیا روسته لیکی :
نماز تراویح میں یا کبھی کبھار فرض نمازوں میں بھی اکر عورتیں اپنی جماعت میں کسی عورت کو امام بناکر نماز پرھ لیں تو کوئی مضائقه نهیں ھے لیکن عام معمول بنانا مستحسن نهیں ھے .
ترجمه : په تراویحو کښې یا کله کله په فرض مونځ کښې هم که چرے زنانه په خپل مینځ کښې په جمع سره مونځ اوکړی نو هیڅ باك نشته، البته ددے نه عام معمول جوړول ښه کار نه دے . (۳۹۳/۱، ۳۹۵، دغه شان : ۳۲۸/۳) .
۹ - په احنافو کښې محقق ابن الهمام په فتح القدیر : ۳۰۷/۱، کښې لیکی :
وبتقدیر التسلیم فانما یفید نسخ السنیه وهو لایستلزم ثبوت کراهیه التحریم فی الفعل بل التنزیه ومرجعها الی خلاف الاولی، ولا علینا ان نذهب الی ذلك فان المقصود اتباع الحق حیث کان .
ترجمه : که فرض کړه دا هم اومنلے شی (چه دام ورقةؓ، عائشةؓ او ام سلمةؓ حدیثونه منسوخ دی) نو بیا هم ددے نه دا نه لازمیږی چه دا مکروه تحریمی شی، صرف ددے نه مکروه تنزیهی چه ددے رجع خلاف اولي ته کیږی معلومیږی . لیکن په مونږ هیڅ ملامتیا نشته چه مونږ دزنانه امامت بلا

کراهته اومنو) ځکه چه مقصود دحق تابعداری ده هر ځائے کښے چه وی.

شیخ گوهر رحمٰنؒ په تفهیم المسائل (۳۹٤/۱) کښے دابن الهمام باره کښے فرمائی:

(داحنافو نه ابن همام په فتح القدیر کښے دعامو احنافو برعکس لیکلی دی چه دزنانو په جماعت کښے یوه زنانه امامه جوړیدل مکروه هم نه دی بلکه بغیر دکراهت نه جائز دی)۔

۱۰ – علامه عبد الحی لکهنویؒ په دے موضوع باندے یوه ډیره ښه رساله لیکلے ده چه دښځو جمع کول جائز دی او ښځو دپاره دیوے ښځے امامتی کول بلا کراهته جائز دی. دهغے رسالے نوم دے (تحفه النبلاء فی جماعه النساء).

دغه شان په دے رساله کښے ئے دهغه چا دلائل هم نقل کړی دی څوك چه دزنانو جمع ته مکروهه وائی او په هغوئ ئے بیرته ښه ردونه کړی دی.

اوګوره: مجموعه رسائل اللکهنوی: ۲۱۵/۵، ۲۳۷.

دغه شان موصوف په مجموعه الفتاوی: ۲۱٦/۱، مترجم اردو کښے لیکی:

اور اکثر حنفیه کے نزدیك عورتون کی جماعت مکروه هے. مگر کوئی معتد به دلیل کراهت پر پائی نهین جاتی اور جو دلیلین فقهاء نے کراهت پر قائم کی هین وه مخدوش هین، چنانچه فتح القدیر اور بنایه شرح هدایه کے دیکهنے سے معلوم هوتا هے، اوراخبار اور آثارسے اس کے مشروعیت ثابت هو جس مین عورتین هی عورتون هون الخ.

ترجمه: داکثرو احنافو په نزد دښځو جماعت کول مکروهه دی، لیکن په دے باندے هیڅ قابل اعتبار دلیل نه دے موجود چه دښځو امامت مکروهه شی اوکوم دلائل چه فقهاؤ ذکر کړی دی هغه ضعیف دی، لکه دفتح القدیر بنایه شرح هدایه اود احادیثو او آثارو دلیدلو نه دا ثابتیږی چه دښځو جماعت (امامتی) جائز ده چه په هغے کښے صرف او صرف ښځے وی.

تنبیه: په دے باره کښے دعلماؤ نور اقوال هم شته لیکن دفتوی داوګد والی په وجه په دغه اقوالو دعلماؤ اکتفاء کولے شی.

ددے تفصیل دپاره په فتاوی الدین الخالص: ۱۷۲/۵، کښے یوه رساله لیکلے شوېده چه دهغے نوم دے (النور والضیاء فی استحباب جماعه النساء).

او څوك چه وائی چه دا احادیث منسوخ دی نو ددوئ دا خبره بے بنیاده اوغلطه ده، ددے جواب حافظ ابن حجرؒ په الدرایه، علامه عبد الحیؒ په تحفه النبلاء فی جماعه النساء کښے او دغه شان

فتاوی الدین الخالص کښې شوېدې چه هلته کتل پکار دی.
۵/ شعبان: ۱٤۲٤ هـ. الموافق: ۲۰۰۳، اکتوبر: ۱.

کوم جانماز باندې چه تصویروې په هغې د مونځ کولو حکم

سوال: کوم جانماز باندې چه دبیت الله شریف تصویر وی په داسې جانماز مونځ کول څنګه دی؟ دغه شان په بعضې جانمازونو دصلیب تصویر وی آیا په هغې مونځ کول جائز دی اوکه نه؟

جواب: افضله داده چه په زمکه باندې مونځ اوکړې شی بغیر ددې نه چه په زمکه څه فرش وغیره اوغوړولې شی. دې باره کښې ډېر زیات احادیث راغلی دی چه نبی کریم ﷺ، دغه شان صحابه کرامؓ به په زمکه - بغیر دفرش غوړولو نه - مونځ کولو.

دابو سعید الخدری رضی الله عنه نه روایت دې چه:

وکان المسجد علی عریش فوکف المسجد فبصرت عینای رسول الله ﷺ علی جبهته اثر الماء والطین - رواه البخاری: ۲۷۱/۱.

ترجمه: مسجدمنا وه نو هغه راوڅڅېدلو نو زما دواړو سترګو رسول الله ﷺ لره په داسې حال کښې اولیدلو چه دهغه مبارك په تندی باندې داوبو او ختو نشانات وو.

دې نه معلومه شوه چه جانماز وغیره دهغه لاندې نه وو.

۲ - بل حدیث دترمذی (۸۷/۱) کښې دابو ذرؓ نه مرفوعاً روایت دې:

اذا قام احدکم الی الصلاه فلا یمسح الحصی فان الرحمه تواجهه.

ترجمه: کله چه په تاسو کښې څوك مانځه ته اودرېږی نو (په مسجد کښې پرتې) ګیټکۍ دې نه مسح کوی ځکه رحمت ده ته مخامخ وی.

۳ - وعن جابر قال: قال رسول الله ﷺ لان یمسك احدکم یده عن الحصی خیر له من مائه ناقه کلها سود الحدق. (رواه احمد: ۳۲۸/۳).

ترجمه: په تاسو کښې چه څوك خپل لاس ګیټکو نه اوساتی نو داده دپاره دلسو تور سترګو ناقو نه غوره ده.

الغرض: دې دباره کښې ډېراحادیث راغلی دی چه دجانماز نه بغیر مونځ کول غوره عمل دې. البته دا هم جائز دی چه انسان جانماز باندې مونځ اوکړی لکه امام بخاریؒ په خپل صحیح (٥٤/۱)

باب الصلاه فی السطوح والمنبر والخشب کښې دېته اشاره کړېده. اوګوره : فتاوی الدین الخالص : ۳۹٦/۳، نیل الاوطار : ۱۲۷/۲، مجموعه الفتاوی : ۱٦۳/۲۲.

لېکن کله چه په کپړو (جانماز وغیره) مونځ کولے شی نو پکار دادی چه په داسې جانماز دے مونځ اوشی چه دانسان توجه ورسره نه خرابېږی.

لکه حدیث شریف کښې دی :

صلی رسول الله ﷺ في خمیصه لهااعلام فنظر الی اعلامها نظره، فلما انصرف قال : اذهبوا بخمیصتی هذه الی ابی جهم وأتونی بانبجانیه ابی جهم فانها ألهتنی آنفاً عن صلاتی، متفق علیه. وفی روایه للبخاری قال : کنت انظر الی علمها وأنا فی الصلاه فاخاف ان تفتنني.

ترجمه : رسول الله ﷺ په یوه ګلداره شړئ کښې مونځ اوکړو نو دهغې په ګلونو ئے نظر پرېوتلو، نوکله چه دمانځه نه فارغ شه وے فرمائیل : زما دا (ګلداره) شړئ ابو جهمؓ ته یوسئ اودابو جهمؓ (ساده) شړئ ماته راوړئ، ځکه اوس زه دے په خپل مانځه کښې مشغوله کړم. (متفق علیه) اود بخاری په بل روایت کښې داسې دی چه : رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ما دهغې ګلونو ته کتل او زه په مانځه کښې ووم، نوماسره دا وېره پیدا شوه چه دے زه په فتنه کښې واچولم.

داحدیث په دے مسئله دلیل دے چه کوم جانماز انسان مشغوله کوی دهغه لرے کول لازم دی. (فتاوی الدین الخالص : ٤٤٦/۳).

کومه خبره چه په سوال کښې لیکلے شوے - یعنی دبیت الله شریف تصویر والا جانماز باندے مونځ کول څنګه دی ځکه چه دا دخپو لاندے راځی - نو ددے وضاحت دادے چه که چرے دانسان توجه نه خرابوی نو بیا مونځ وریاندے جائز دے. اوهرچه دخپو لاندے کېدلو مسئله ده نو دبیت الله شریف په تصویر والاجانماز دپاسه خپے ایخودل یا کیناستل جائز دی ځکه بعینه دبیت الله دپاسه ګرځېدل یا کیناستل جائز دی نو دبیت الله په تصویر خو په طریقه اولی جائز دی. لکه حدیث شریف کښې دی چه بلالؓ دبیت الله دپاسه اوختلو اوآذان ئے اوکړو.اوبلالؓ بیت الله شریف ته درسول الله ﷺ په حکم سره اوختلو ------- اوګوره : الرحیق المختوم ص : ٤۰٥، واخبار مکه : ۲۷٤/۱، للازرقی. واخبار مکه فی قدیم الدهر وحدیثه للفاکهی : ۲۲۱/٥.

بل حدیث کښ دی چه عبد الله بن زبیرؓ دبیت الله شریف دپاسه اودرېدلو یعنی کله چه هغه بیت الله شریف جوړولو .اود ابن زبیرؓ دختلو نه پس نور کسان هم وراوختل.

اوګوره: اخبارمکه للازرقی: ۲۰۵/۱.

خلاصه: داچه بیت الله شریف ته ختل او په هغے اودریدل پاکښناستل جائز دی، نو په هغه جائے نماز یا کپړه وغیره باندے چه دبیت الله شریف تصویر وی په هغے کښناستل په طریقه اولی جائز دی او په هغے مونځ کول هم جائز دی.

لیکن په کوم ځائے یا جانماز اوکپړه باندے چه دصلیب تصویر وی نو په هغه جانماز باندے مونځ کول ګناه ده، بلکه دا قسم کپړه یا جانماز شلول پکار دی. په اسلام کښے صلیب ته بُت وئیلے شویدے.

رسول الله ﷺ ته چه کله عدی بن حاتم رضی الله عنه راغے نو عدیؓ فرمائی چه زما په غاړه کښے دسروزرو جوړ شوے صلیب وو، نو ماته رسول الله ﷺ اوفرمائیل:

یا عدی! اطرح عنك هذا الوثن – ترمذی: ۱۳۶/۲.

(اے عدی! دځان نه دا بُت ګذار کړه).

دغه شان دنبی کریم ﷺ عادت مبارك داوو چه هغه به په کومه کپړه وغیره کښے دصلیب څه شکل اولیدلو نو هغه به ئے شلوله او ختموله. لکه بخاری شریف کښے دعائشةؓ نه روایت دے چه:

ان النبی ﷺ لم یکن یترك فی بیته شیئا فیه تصالیب الا نقضه. (مشکوه: ۳۸۵/۲).

ترجمه: نبی کریم ﷺ به په خپل کور کښے هیڅ داسے شے نه پریخودلو چه په هغے کښے به صلیبونه وو مګر هغه به ئے ختمولو. (یعنی هغه صلیب به ئے ورنه لرے کولو اویا به ئے اوشلولو).

الغرض: رسول الله ﷺ به صلیب والا څیز شلولو په هغے باندے مونځ کول خو ډیره لرے خبره ده! نو کوم جانماز باندے چه دصلیب تصویر وی په هغے باندے مونځ کول حرام اوګناه ده. کله چه صلیب زائل کړے شی مثلاً په صلیب باندے رنګ راخکل شی یا دصلیب ځائے اوشکوی نو بیا په هغے کپړه وغیره باندے مونځ کول جائز دی.

اوګوره: فتاوی عالمګیری: ۶۳/۱. باب الصلاه فی الکعبه، فتاوی حقانیه: ۲۱۶/۳، فتاوی الدین الخالص: ۴۹۷/۳.

په کوم مسجد کښے چه قبر وی هغے کښے د مونځ کولو حکم

سوال: کوم مسجد کښے چه قبر وی په هغے کښے مونځ کول څنګه دی؟ دقرآن اوسنت په رنړا کښے جواب راکړئ! وجزاکم الله خیرا!!

جواب : کوم ځائے کښې چه یو قبر یا زیات قبرونه وی، هلته مسجد جوړول حرام دی، په قبرونو باندې مسجدونه جوړول دیهودو او نصاریٰ ؤ صفت دے، ځوك چه دقبر خوا کښې مسجد جوړوی رسول الله ﷺ هغوئ ته ښېرې کړی دی او په هغوئ باندې ئے لعنت وئیلے دے .

دغه شان کوم مسجد کښې چه قبر وی، هلته مونځ کول حرام دی، دقبر والا په مسجد کښې مونځ نه کیږی - په دے خبره ډیر دلائل دی لکه حدیث کښې دی :

۱ - الا وان من كان قبلكم كانوا يتخذون قبور ا نبيائهم وصالحيهم مساجد، الا فلا تتخذوا القبور مساجد، انی انهاكم عن ذلك. (رواه مسلم فی صحيحه : ۲۰۱/۱ . ۵۳۲ .

ترجمه : کوم (یهود اونصاریٰ) چه ستاسو نه مخکښې وو هغوی دخپلو پیغمبرانو او نیکانو خلقو قبرونه مسجدونه جوړ کړل. خبردار ! تاسے قبرونه مسجدونه مه جوړوئ، زه تاسو دداسے کار نه منع کووم .

۲ - عن ابي هريره قال : قال رسول الله ﷺ : قاتل الله اليهود اتخذوا قبور انبيائهم مساجد .

ترجمه : ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : چه الله تعالیٰ دے یهودیان تباه کړی ! هغوئ دانبیاؤ دقبرونو نه مسجدونه جوړ کړی وو. (دقبرونو په خوا کښې به ئے مونځونه کول).

(رواه مسلم : ۲۰۱/۱ : ۵۳۰).

۳ - دعائشه رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے چه :

لعن الله اليهود والنصارىٰ اتخذوا قبور انبيائهم مساجد .

ترجمه : الله تعالیٰ دے په یهود او نصاریٰ باندے لعنت اوکړی، هغوئ دخپلو انبیاؤ دقبرونو نه دسجدے ځایونه جوړ کړی وو. ----- (رواه البخاری : ۱۳۹۰، كتاب الجنائز، ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاه : ۵۲۹، ۲۰۱/۱).

٤ - دعائشه صدیقةؓ نه دے روایت دے چه ام حبیبةؓ او ام سلمةؓ نبی کریم ﷺ ته چه کله په حبشه کښې دیوے ګرجے او هلته کښې دلیدلے شوی تصویرونو ذکر اوکړو، نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه :

ان اولئك اذا كان فيهم الرجل الصالح فمات بنوا على قبره مسجداً وصوروا فيه تلك الصور، فاولئك شرار الخلق عند الله يوم القيامه .

ترجمه : بیشکه کله چه په هغوئ کښې یو نیك سړے به مړشو نو دهغه قبر خواته به ئے جومات

جوړ کړو او په هغے کښے به ئے دهغوئ تصويرونه جوړ کړل، دا خلق به دقيامت په ورځ دالله تعالىٰ په نزد بدترين خلق وي. ----- (رواه البخاري كتاب الصلاه : ٤٢٧، ومسلم كتاب المساجد : ٥٢٨، ١/١ ،٢، والنسائى : ٧٠٣، كتاب المساجد).

دا تول **احاديث** دليل دے په دے چه دقبر خوا كښے مسجد جوړول حرام او سبب دلعنت دے، او رسول الله ﷺ چه په هغوئ لعنت وئيلے دے، هغوئ ته ئے ښېرے کړيدى چه الله تعالىٰ دے دوئ تباه کړى، دا ددے دپاره چه مونږ چرے دا سے اونه کړو، زمونږ دمنع کولو او وېرولو دپاره ئے داسے فرمائيلى دى.

ځکه دعائشهؓ او عبد الله بن عباسؓ نه روايت دے چه کله رسول الله ﷺ وفات کېدلو نو مخ مبارك ئے راخکاره کړو او وے فرمائيل :

الله تعالىٰ دے په يهود اونصارى باندے لعنت اوکړى هغوئ دخپلو انبياؤ قبرونو خواته دسجدے ځايونه جوړ کړى وو. عائشه صديقهؓ او ابن عباسؓ فرمائى :

(يحذر ما صنعوا) رواه مسلم : ٢٠١/١.

يعنى : رسول الله ﷺ په دے خبرے سره خپل امت وېروى دهغه کار نه کوم چه يهود او نصارى کړيدے.

اوس **سوال** دادے چه کله په قبرونو باندے مسجد جوړول حرام شو، نو آيا په دغه مسجد کښے مونځ کول هم حرام دى؟ **جواب** دادے چه هاؤ، په داسے مسجد کښے مونځ کول هم حرام دى، ځکه رسول الله ﷺ چه په قبر باندے مسجد منع کړيدے او په دے باندے ئے لعنت وئيلے دے دا په دے وجه چه هلته خلق مونځونه کوى، ځکه مسجد خو يوه وسيله ده اصل مقصد خو مونځ کول دى. شريعت کښے چه دمسجد جوړولو حکم شويدے نو په دے ضمن کښے دمونځ کولو حکم دے ځکه دمسجد جوړولو مقصد مونځ کول دى. نو چه کله مسجد جوړول دقبرونو خواته حرام شوو نو مونځ په طريقه اولىٰ سره حرام دے ---- بلکه په دغه مذکوره حديثونو کښے دمسجد نه مراد لغوى معنىٰ هم ده يعنى ځائے دسجدے کېخودلو.

دے وجے نه امام ابن حزم په المحلىٰ (٣٥٠/٢) کښے دامام احمدؒ نه نقل کړى دى چه امام احمدؒ فرمائيلى دى : من صلى فى مقبره او الى قبر اعاد أبداً.

ترجمه : چا چه دقبرونو په خوا کښے يا دقبرونو طرفته مونځ اوکړو هغه به خامخا مونځ راګرځوى.

ابو مرثد غنوی رض فرمائی چه ما درسول الله ﷺ نه آورېدلی دی چه فرمائېل ئې:
لا تصلوا الی القبور ولا تجلسوا علیها.
ترجمه: قبرونو طرفته مونځ مه کوئ او په هغې دپاسه ناسته هم مه کوئ.
رواه مسلم کتاب الجنائز باب النهی عن الجلوس علی القبر والصلاه علیه: ۹۷۲، مسند ابو یعلی: ۱۵۱٤،۸۳/۳، اسد الغابه: ۲۵۵/٤، مسند احمد: ۱۳۵/٤، ترمذی: ۱۰۵۳، ابوداود کتاب الجنائز: ۳۲۲۹، نسائی کتاب الصلاه باب النهی عن الصلاه الی القبر: ٦۷/۲: ۷۵۹. صحیح ابن خزیمه: ۷۹۳، ۷۹٤، صحیح ابن حبان: ۲۳۱۱.
دابو سعید خدری رض نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائېلی دی:
الارض کلها مسجد الا المقبره والحمام.
ترجمه: توله زمکه دسجدے لګولو ځائے دے سېوا دقبرونو او حمام (والا زمکے) نه.
(اخرجه الترمذی: ۳۱۷، ابوداود: ٤۹۳، سنن دارمی: ۱۳۹۷، مسند احمد: ۸۳/۳، ابن ماجه: ۷٤۵، کتاب الام: ٤۹۲/۱، ابن خزیمه: ۷۹۱، صحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان: ٤۹۸/٤: ۱٦۹۹، صححه الشیخ الالبانی فی صحیح سنن الترمذی: ۱۰۲/۱، وصحیح ابن ماجه: ۱۲۵/۱، وصحیح ابي داود: ۵۰۷، والارواء: ۳۲۰/۱، موارد الضمآن ص: ۱۰۵، وقال شعیب الارناؤوط: اسناده صحیح، انظر تعلیقه علی صحیح ابن حبان: ۵۹۸/٤).
دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے:
ان النبی ﷺ نهی ان یصلی بین القبور.
ترجمه: بېشکه چه نبی کریم ﷺ دقبرونو په مېنځ کښې دمونځ کولو نه منع کړېده.
(موارد الضمآن ص: ۱۰٦: ۳٤۵، مسند بزار: ٤٤۱، ٤٤۲، ٤٤۳، مجمع الزوائد: ۲۷/۲. وقال: رواه البزار ورجاله رجال الصحیح، طبرانی فی الاوسط: ۵٦۲۷، ۲۹۳/٦، کتاب المعجم لابن الاعرابی: ۱۰۸۲/۳: ۲۳۳٤، ۲۳۳۰، التلخیص الحبیر: ۲۷۷/۱، وصحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان: ۵۹٦/٤: ۱٦۹۸).
دا تول حدیثونه په دے خبره دلیل دی چه کوم مسجد کښې قبر وی هلته مونځ کول حرام او باطل دی. برابره خبره ده که مسجد کښې قبر قبلے طرفته وی اوکه شاته وی یابنی او ګس اړخ ته وی.

دقبرونو خوا کښې دمونځ په حرام والی باندے دعلماؤ اقوال:

۱ - د امام احمدبن حنبلؒ مذهب:

من صلی فی مقبره او الی قبر اعاد أبداً.

ترجمه: چاچه دقبرونو په خوا کښې یا دقبرونو طرفته مونځ اوکړو هغه به خامخا مونځ راګرځوی. (المحلی لابن حزم: ۳۵۰/۲).

۲ - د امام مالكؒ مذهب:

امام قرطبیؒ په خپل تفسیر کښې لیکلی دی چه:

قال علماؤنا: وهذا یحرم علی المسلمین ان یتخذوا قبور الانبیاء والعلماء مساجد.

ترجمه: زمونږ مالکی علماؤ وئیلی دی چه دا حراموی په مسلمانانو چه دوئ دانبیاؤ او علماؤ قبرونو خواته جوماتونه جوړ کړی.

(الجامع لاحکام القرآن للامام القرطبی: ۳۸/۱).

۳ - د امام شافعیؒ مذهب:

دشوافعو مذهب خو دادے چه په قبرونو باندے مسجدونه جوړول او په هغے کښے مونځ کول لویه ګناه ده. امام ابن حجرؒ په (الزواجر عن اقتراف الکبائر ص: ۱۲۰) کښے دامسئله په تفصیل سره لیکلے چه په قبرونو باندے یا دهغے خواته سجده ګاه جوړول ګناه کبیره ده. دغه شان امام شافعیؒ خپله په کتاب الام (۱۴۶/۱) کښے لیکلی دی چه دهغے حاصل دادے چه: دقبر دپاسه جومات جوړول یا دقبر خواته مونځ کول یا قبر طرفته مونځ کول دا تول حرام اونااروا دی.

حافظ عراقیؒ فرمائیلی دی چه:

فلو بنی مسجداً بقصد ان یدفن فی بعضه دخل فی اللعنه، بل یحرم الدفن فی المسجد وان شرط ان یدفن فیه لم یصح الشرط لمخالفه الوقف مسجداً.

(فیض القدیر: ۲۷۴/۵).

ترجمه: که مسجدئے په دے اراده باندے جوړ کړو چه دهغے په بعضے حصه کښے مړی ښخ کړی نو دا شخص په لعنت کښے داخل دے، بلکه دمسجد په چاردیوارئ کښے مړی ښخول حرام دی، اوکه څوك دا شرط کړی چه په مسجد کښے به ښخیږی نو دا شرط هم صحیح نه دے، ولے چه دا خو دمسجد دوقف سره مخالفت دے.

٤ - د امام ابو حنیفهؒ مذهب:

امام محمدؒ په کتاب الآثار کښې وئېلی دی :

ولا نری ان یزاد علی ما خرج من القبر، ونکره ان یجصص او یطین اویجعل عنده مسجدا." کتاب الآثار ص : ٤٥ .

ترجمه : مونږ جائز نه ګڼړو چه قبر باندې دخپلې راوېستلې شوې خاورې نه زیاته خاوره واچولې شی، دغه شان مونږ مکروه (یعنی حرام) ګڼړو چه قبر چونه کړې شی یا لېو کړې شی یا دقبر خواته جومات جوړ کړې شی.

تنبېه : مکروه چه مطلق ذکر شی نو داحنافو په مذهب کښې ترېنه مکروه تحریمی مراد وی، لکه دا خبره مخکښې ذِکر شوېده.

٥ – علامه ابن ملك حنفی وئېلی دی :

انما حرم اتخاذ المساجد علیها لان فی الصلاه فیها استنانا بسنه الیهود.

ترجمه : په قبرونو دپاسه جوماتونه جوړل ځکه حرام دی چه په دغه جوماتونوکښې مونځ کول دیهودو په لاره باندې روانېدل دی. (المرقاه لملا علی قاری : ١/٤٧٠).

٦ – شرعه الاسلام ص : ٥٦٩، کښې دی چه دا هم دحنفی مذهب کتاب دې :

ویکره ان یبنی علی القبر مسجد یصلی فیه.

ترجمه : دا حرام دی چه دقبر دپاسه مسجد جوړ کړې شی اوهغې کښې مونځ اوکړې شی.

٧ – رشېد احمد ګنګوهی صاحبؒ په الکوکب الدری کښې فرمائی :

واما اتخاذ المساجد علیها فلما فیه من الشبه بالیهود فی اتخاذهم مساجد علی قبور انبیائهم وکبرائهم، ولما فیه من تعظیم المیت وشبهه بعبده الاوثان لوکان القبر فی جانب القبله ، وکراهه کونه فی جانب القبله اکثرمن کراهه کونه یمینا اَویسارا،" وان کان خلف المصلی فهو اخف کراهه من کل ذلك لکن لا یخلو عن کراهه.

ترجمه : او په قبرونو دپاسه مسجدونه جوړولو باندې ځکه لعنت راغلې چه دې سره دیهودو سره مشابهت راځی چه هغوئ دانبیاؤ اومشرانو قبرونو نه مسجدونه جوړ کړی وو، دغه شان په دې سره دمړی (ممنوع) تعظیم راځی اود بُت پرستو سره مشابهت راځی داهله که قبر قبلې طرفته وی. اوکله چه قبر مخې طرفته وی نو دا ډېر سخت مکروهه دې ددې نه چه ښی یا ګس طرفته وی. اوکه چرې قبر شا طرفته وی نو بیائې کراهېت ددې تولو نه سپك دې، لېکن بیا هم دکراهت نه خالی کېږی نه.

(الكوكب الدرى على جامع الترمذى : ۱۵۳/۱).

۸ – مولوى محمد ابو الحسن په تنظيم الاشتات كښې ليكى :

ليكن بعض نے بطورِ سدِ باب مطلقاً وهان نماز پڑهنے سے منع كرديا جو دور حاضر كى بدعات ورسوم كے لحاظ سے زياده مناسب ولائق هے، كما فى فتح الملهم والتعليق.

ترجمه : ليكن بعض علماؤ مطلقاً منع كړېدے (يعنى كه دبهودو پشان عقيده اوعمل دقبر باره كښې لرى اوكه نه) چه دا قول داوسنى دور دبدعاتو او رسمونو په لحاظ سره ډېر زيات مناسب او لائق دے. (تنظيم الاشتات : ۲۶۸/۱).

۹ – كفايه المفتى كښې مفتى كفايه الله محدث دهلوى ليكى :

جواب : جو زمين مسجد كے لئے وقف هے اس پر سوائے مصالح مساجد كے اور كوئى تصرف جائز نهين پس اس قطعه زمين مين جو مسجد كا اموات كو دفن كرنا ناجائز تها اور اس حكم مين نيك بد كا كوئى فرق نهين.

ترجمه : كومه زمكه چه دمسجد دپاره وقف شوېده په هغے كښې دمسجد دمصالحو نه علاوه بل هر قسم تصرف كول جائز نه دى، پس كومه زمكه چه دمسجد ده په هغے كښې مړى ښخول ناجائز وو او په دے باره كښې چه كومه زمكه دمسجد دپاره وى مړى ښخول حرام دى، نيك اوبد انسان دواړه (په مسجد كښې په ښخولو كښې)يوشان حكم لرى. يعنى په مسجد كښې نيك انسان ښخول هم حرام دى اوبد هم.

(كفايه المفتى : ۱۰۸/۳).

دغه شان اوګوره الطحطاوى على مراقى الفلاح ص : ۲۰۸، عينى شرح بخارى :۱۴۹/۴، رد المحتار : ۲۵۴/۱، تفسير روح المعانى للآلوسى : ۳۱/۱۵، بدائع الصنائع :۱۱۵/۱، المرقات لملا على قارى : ۴۷۰/۱، فيض القدير : ۳۹۰/۶، يا : ۲۷۴/۵).

د اهل حديث علماؤ مذهب :

شيخ الاسلام ابن تيميهؒ خو په مجموعه الفتاوى : ۱۴۰/۲۷، ۱۴۱، اوخپل فتوى : ۱۰۷/۱، ۱۹۲/۲، كښې دا مسئله ډېر په تفصيل او ناشنا انداز سره ليكلے ده چه حاصل ئے دادے چه : كوم مسجد كښې قبر وى په هغے كښې مونځ كول بے شكه حرام اوباطل دي او په داسے مسجد كښې فرض اونفل دواړه نه كيږى.

دغه شان شیخ الاسلام ابن القیمؒ هم په دے مسئله کښے ښه تفصیلي خبره لیکلې :

وعلی هذا فیهدم المسجد اذا بنی علی قبر کما ینبش القبر اذا دفن فی المسجد، نص علی ذلك احمد رحمه الله وغیره، فلا یجتمع فی دین الاسلام مسجد وقبر، بل ایهما طرأ علی الآخر منع، وکان الحکم للسابق فلو وضعا معا لَم یجز ولا یصح هذا الوقف ولا یجوز ولا تصح الصلاه فی هذا المسجد لنهی رسول الله ﷺ ولعنه من فعل ذلك. فهذا دین الاسلام الذی بعث الله به رسوله ونبیه وغربته بین الناس کما تری !

ترجمه : نو بناء په دے باندے هغه مسجد به نړولے شی کوم چه په قبرباندے جوړ کړے شوے وی لکه څنګه چه کله قبر په جومات کښے جوړ کړے شوے وی نو هغه قبر به اوکنستلے شی (او مړے به ترے بل ځائے ښخ کړے شی) په دے باندے امام احمدؒوغیره تصریح کړیده. نو په اسلامی دین کښے مسجد او قبر دواړه نشی راجمع کیدے، بلکه په دے کښے چه کوم یو په بل باندے راغلے نو هغه به بندولے شی، اوحکم به مخکنی لره وی (یعنی که قبر مخکښے جوړ شوے وی نو مسجد جوړول به بندولے شی او که مسجد مخکښے جوړ شوے وی نو مړے به په کښے دښخولو نه بندولے شی) اوکه چرے دواړه یو ځائے جوړ کړے شی نو داکار هم جائز نه دے، اوداسے وقف هم صحیح نه دے اونه جائز دے. او په دغه مسجد کښے مونځ هم صحیح نه دے ځکه چه رسول الله ﷺ ددے کار نه منع فرمائیلے ده او ددے په کوونکی باندے ئے لعنت وئیلے دے. اودا هغه اسلامی دین دے چه الله تعالی په دے باندے خپل رسول اونبی ﷺ رالیږلے دے، اوس اوګوره چه په خلقو کښ دا دین څومره ناشنا شویدے !! (زاد المعاد :۳/۲۲).

فتاوی اسلامیه کښ فضیله العلماء : الشیخ العلامه ابن باز، ابن عثیمین او ابن جبرین – رحمهم الله – فرمائیلی دی :

اولاً: لا تجوز الصلاه فی مسجد بنی علی قبر اوقبور، لما ثبت عن عائشه رضی الله عنها. الحدیث.

ثانیا : اذا بنی المسجد علی قبر اوقبور وجب هدمه آه.

ترجمه : اولاً: په هغه مسجد کښے مونځ نه کیږی کوم کښے چه قبر یا قبرونه وی، دوجے دحدیث دعائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها. (چه په هغے کښے په دے کار باندے لعنت راغلے دے).

دویم : کله چه په یو قبر یا ډیرو قبرونو دپاسه مسجد جوړ شی نو داسے مسجد ورانول واجب دی.

(ځکه دا مسجد نه دے بلکه بُت خانه اود شرك اډه ده).

اوګوره: فتاوی اسلامیه: ۳۱/۱، ۳٤، ٤٦، ۸۰، ۸۵.

علامه ابن حزم په المحلی کښے لیکی:

ولا فی مقبره مقبره المسلمین کانت او مقبره کفار.

ترجمه: دقبرونو په ځائے کښے مونځ نه دے جائز برابره خبره ده چه که دا قبرونه دمسلمانانو مقبره وی اوکه دکفارو ------- بیا روسته لیکی:

ولا الی قبر ولا علیه وانه قبر نبی او غیره.

ترجمه: اونه قبر طرفته مونځ کیږی اونه په قبر باندے دپاسه، اګرکه هغه دنبی یا دبل یو (نیك انسان) قبر ولے نه وی ----- (المحلی لابن حزم: ۳٤۵/۲).

★ په فتاوی الدین الخالص کښے ددے مسئلے پوره وضاحت کړے شویدے چه کوم مسجد کښں قبر وی هلته مونځ کول حرام اوباطل دی. برابره خبره ده که قبر مخکښے (قبلے) طرفته وی اوکه ښی یا ګس یا شا طرفته وی په هر حالت کښے دے مسجد کښے مونځ نه کیږی. اوګوره: فتاوی الدین الخالص: ۲۱۱/۱، ۱۵٤، ۳۸۰/۳، ٤۱۸، ٤٤۵).

★ شیخ ابو الحسن مبشر احمد ربانی حفظه الله په خپل کتاب (آپ کے مسائل اور ان کاحل قرآن سنت کی روشنی میں) کښے دا مسئله په ډیر تفصیل سره لیکلے چه کوم مسجد کښے یو قبر وی یا ډیر قبرونه وی هلته مونځ کول حرام اوباطل دی.

(آپ کے مسائل اور ان کا حل: ۲۱۹/۱، ۲۵۷، ۱۵۰/۲).

★ مولانا ابو الوفاء ثناء الله امرتسری ؒ هم په فتاوی ثنائیه کښے لیکلی چه دهغے حاصل دادے چه قبرستان کښے مسجد جوړول دلعنت سبب دے. (فتاوی ثنائیه: ۵۱۵/۱).

★ مولانا ابوالحسن عبید الله مبارکفوری ؒ په المرعاه شرح المشکوه کښے لیکی:

والحدیث دلیل علی ان الارض کلها تصح فیها الصلاه ما عدا المقبره. وهی التی یدفن فیها الموتی فلا تصح الصلاه فیها، وظاهره سواء کان علی القبر اوبین القبور اوفی مکان منفرد منها، کالبیت اعد للصلاه، وسواء کانت القبور منبوشه اوغیر منبوشه، وسواء فرش علیها شئ یقیه من النجاسه اولم یفرش، وسواء کان قبر مؤمن اوکافر، والی ذلك ذهب احمد والظاهریه وهو الراجح عندی.

ترجمه : دا حدېث دلېل دے په دے مسئله چه توله زمکه کښے مونځ صحېح دے سېوا دمقبرے نه، اومقبره دېته وائی چه هغے کښے مړی ښخولے شی نو هغے کښے مونځ صحېح نه دے، اود حدېث ښکاره مفهوم دادے (چه داسے ځائے کښے مونځ نه کېږی) برابره خبره ده که مسجد په قبر باندے جوړ وی اوکه دډېرو قبرونو په مېنځ کښے وی . دغه شان که ېواځے ځائے کښ قبر وی چه هغه دمانځه دپاره تېار شوے وی لکه کور (اوکه په نورو قبرونو سره وی) او برابره خبره ده که قبرونه کهلاؤ ښکاری او که نه ښکاری،او برابره خبره ده که په قبرستان کښے څه فرش غوړېدلے وی چه دنجاست نه انسان اوساتی اوکه نه وی غوړېدلے، اوبرابره خبره ده دغه قبر دمؤمن وی اوکه دکافر (په دے تولو صورتونو کښے مونځ صحېح نه دے) اوهمدا مذهب دامام احمدؒ اود اهل ظواهرو دے او دا زما په نزد هم غوره مذهب دے. (المرعاه : ٢/٤٤٩).

★ دکتور شمس الدېن سلفیؒ هم په خپل مشهور کتاب (جهود العلماء الحنفېه فی ابطال عقائد القبورېه : ٣/١٦١٣، ١٦١٨) کښے ددے مسئلے مکمل تفصېل لېکلے دے .

ېوم عېد الاضحی : ١٤٢٤/١٢هـ.

په مانځه کښے د نستونړو بډے کولو حکم

سوال : په مانځه کښے دنستونړو بډے وهلو حالت کښے اودرېدل څه حکم لری ؟ بعض کسان داسے حالت کښے مونځ کوی چه نستونړی ئے رابډے کړی وی، دقرآن او سنت په رنړا کښے ددے مسئلے تفصېل اوکړئ ! وجزاکم الله خېراً !

جواب : په مانځه کښے خپلے لېچے ښکاره کول دوه صورتونه لری :

١ – دېو کس لېچے (څنګلے) ددے وجے نه بربنډے وی چه جامه نه لری نو په دے صورت کښے بغېر د کراهت نه ددے شخص مونځ صحېح او جائز دے .

٢ – دوېم صورت دادے : چه دېو کس قمېص شته لېکن نستونړی ئے رابډے کړی وی نو دے کار کولو نه احادېثو کښے منع راغلے ده .

عن ابن عباس رضی الله عنهما قال : امر النبی ﷺ ان ېسجد علی سبع ونهی ان ېکف الشعر والثېاب .

ترجمه : رسول الله ﷺ ته حکم شوېدے په دے باندے چه په اووه اندامونو باندے سجده اوکړی . او

ددې نه منع شوېدې چه وېښته او جامې دې راغونډې نکړم.

وفي روايه : قال : قال رسول الله ﷺ :

امرت ان اسجد على سبعه اعظم ولا اكف ثوبا ولا شعرا.

اخرجه البخاري (۱۲/۱) و مسلم (۱۹۳/۱) واللفظ له كما في المشكاه (۸۳/۱).

ترجمه : دابن عباسؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائي : ماته امر شوېدې چه په اووه (۷) اندامونو باندې سجده اوکړم، او جامه یا وېښته دې راغونډ کړم.

په مذکوره حدیث کښې د (کف) معنی ده : جمع کول او راغونډول.

امام نووي فرمائي: ولا نكف الثياب ولا الشعر : اى لا نضمها ولانجمعها والكف الجمع، ومنه قوله تعالى : الم نجعل الارض كفاتا . اى تجمع الناس احياء واموا تا.

دامام نووي ددې کلام پشان کلام حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري (۲۳۵/۲) کښې، ابن الاثير په النهايه (۱۸٤/٤) کښې او علامه مبارکفوري په المرعاه (۲۰٦/۳) کښې هم ذکر کړېده.

د مذکوره احادیثو نه دا **مسئله** ثابته شوه چه دمانځه په حالت کښې خپلې لیچې برېنډول منع اوخلاف سنت دي. ځکه دا کار هم په کف الثوب (جامې راغونډولو) کښې داخل دي ----- دغه شان دا کار ددې وجې نه هم نه دې جائز چه دې سره دمتکبرېنو سره تشبیه راځي.

دتفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص : ٤۹۸/۳ . ۳۲۲/٤ . اوګوره. دغه شان فتح الباري : ۲۳۵/۲. النووي على مسلم : ۱۹۳/۱ .مرعاه المفاتيح للمباركفوري : ۲۰٦/۳. رد المحتار : ٦٤۰/۱ . البحر الرائق : ۲٤/۲ . فتاوى هنديه : ۱۵۰/۱ . فتاوى ديوبند : ۱۰۰/٤ . تفهيم المسائل : ۳۳۱/٤، للشيخ ګوهر رحمٰن. الملتقط للسمرقندي : ۵۲/۱ .

۱۳/ رمضان المبارك ۱٤۲٤ هـ.

په مانځه کښې د صف جوړولو سنت طریقه

سوال : دمانځه صف په داسې طریقه جوړول چه مقتدیان په خپل مېنځ کښې خپه دخپې سره او اوګه داوګې سره اولګوي، آیا دا طریقه احادیثو کښې راغلې ده ؟ دا مسئله قرآن اوسنت په رڼا کښې تفصیلا اوليکئ ! وجزاكم الله خيرا !

جواب: دا دعلماؤ په مېنځ کښې اتفاقي مسئله ده چه په صف کښې جوخت اودرېدل پکار دي، چه

اوګه داوګې سره اوخپه دخپې سره جوخته شي. اختلاف صرف په دې کښې دې چه نزدې اوخوخت اودرېدل په صف کښې واجب دي اوکه سنت؟ نو دبعض علماؤ رائے داده چه صف کښې جوخت اودرېدل سنت دي، اود محققینو علماؤ قول دادې چه صف کښې جوخت اودرېدل واجب دي. اودا قول راجح دې.او په دې مسئله دلائل دادي:

١ - **اول دلیل**: أمیر المؤمنین فی الحدیث رئیس المحدثین امام بخاری په خپل صحیح کښې باب راوړیدې: (باب الزاق المنکب بالمنکب والقدم بالقدم).

(باب دې په بیان دجوختولو داوګې داوګې سره اود قدم دقدم سره).

بیا ئے روسته دجناب انسؓ حدیث راوړیدې چه هغه فرمائي:

عن النبي ﷺ قال: أقیموا صفوفکم وتراصوا، فاني أراکم من وراء ظهري، وکان أحدنا یلزق منکبه بمنکب صاحبه وقدمه بقدمه. - بخاري: ١/١٠٠.

ترجمه: نبي کریم ﷺ فرمائي: صفونه برابر کړئ او یو بل ته د یو مضبوط دیوال په شان جوخت اودریږئ، ځکه چه زه تاسو په مانځه کښې دشانه روسته وینم (داد رسول الله ﷺ معجزه وه) انسؓ فرمائي: مونږ کښې هر یو کس به خپله اوګه دخپل ملګري داوګې سره او خپله خپه دخپل ملګري دخپې سره لګوله.

امام ابن حزم په المحلی (٢/٣٧٥) کښې فرمائي:

(دا دصحابه کرامؓ دطرفه اجماع ده).

٢ - **دویم دلیل**: وقال نعمان بن بشیر: رأیت الرجل منا یلزق کعبه بکعب صاحبه.

(رواه البخاري: ١/١٠٠، وابوداود: ١/١٠٤، و: ١٩٧).

ترجمه: نعمان بن بشیرؓ فرمائي: ما به هر سړې لیدلو چه خپل پړکې به ئے دخپل ملګري دپړکي سره جوخت لګولو.

دا حدیث امام ابوداود په صحیح سند سره داسې نقل کړیدې:

سمعت نعمان بن بشیر یقول: اقبل رسول الله ﷺ علی الناس بوجهه فقال: اقیموا صفوفکم ثلاثاً، والله لتقیمن صفوفکم او لیخالفن الله بین قلوبکم. قال: فرأیت الرجل یلزق منکبه بمنکب صاحبه ورکبته برکبه صاحبه، وکعبه بکعبه.

(رواه ابوداود: ١/١٣٠، رقم: ٦٦٢).

ترجمه : دنعمان بن بشیرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ صحابه کرامؓ طرفته مخ راؤګرځولو او ارشاد ئے اوفرمایه : خپل صفونه برابر کړئ. دا خبره ئے درے ځله اوفرمائیله. قسم په الله یا خوبه تاسو خپل صفونه برابروئ اویا به الله تعالی ستاسو دزړونو ترمینځه اختلاف (اوپریشانی) راولی. نعمان بن بشیرؓ فرمائی : مابه صحابه کرام لیدل چه خپله اوګه به ئے دبل ملګری داوګے سره او خپله ګوډه به ئے دملګری ګوډے سره اوخپل پړکے به ئے دملګری دپړکی سره جوخته لګوله.

دا حدیث دلیل دے په وجوب ددے عمل باندے ځکه درسول الله ﷺ په امر سره شویدے او دهغه په مخامخ تولو حاضرینو صحابه کرامؓ داعمل په نهایت اهتمام سره کولو. دحدیث الفاظو ته په تدبر اوانصاف سره سوچ اوکړه !

بله دا چه دا مذکوره عمل صحابه کرامؓ، درسول الله ﷺ دامر (أقیموا صفوفکم) نه فهم کړیدے او رسول الله ﷺ پرے تقریر فرمائیلے دے.

۳ — **دریم دلیل** : عن جابر بن سمره قال : قال رسول الله ﷺ : الا تصفون کما تصف الملائکه عند ربهم . قلنا : کیف تصف الملئکه عند ربهم. قال : یتمون الصفوف المقدمه ویتراصون فی الصف. (رواه ابوداود : ۹۷/۱، و : ۱۰۴/۱، بسند صحیح).

ترجمه : نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : دملائکو دصفونو پشان صفونه ولے نه جوړوئ ! مونږ عرض اوکړو : ملائك دالله په دربار کښے څنګه صف جوړوی ؟ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : اولنی صفونه پوره کوی او په صف کښے دقلعی ددیوال پشان جوخت اودریږی.

د (تراصی) معنی ده تلاصق اویو بل سره داسے جوخت لګیدل لکه دیوال پورے چه قلعی ولګیږی. (اوګوره : النهایه لابن الاثیر : ۲۲۷/۲).

٤ — **څلورم دلیل** : عن عبد الله بن عمر – رضی الله عنهما – قال : قال رسول الله ﷺ : اقیموا الصفوف وحاذوا بین المناکب وسدوا الخلل، ولینوا بایدی اخوانکم، ولا تذروا فرجات للشیطان، ومن وصل صفاً وصله الله، ومن قطعه قطعه الله.

(رواه ابوداود بسند صحیح : ۹۷/۱، رقم : ٦٦٦).

ترجمه : دعبد الله بن عمرؓ نه روایت دیچه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه صفونه برابر کړئ او اوګے دیو بل سره برابرے کړئ، اوخپل مینځ خالی ځایونه بند کړئ، اودخپلو ورونو په لاسونو کښے نرم شئ کله چه تاسے په صف کښے برابروی، او په خپل مینځ کښے خالی ځایونه دشیطان دپاره مه پریدئ،

اوچاچه صف ښو ځائے کړو، الله تعالیٰ به ئے دخپل رحمت سره ښوځائے کړی، اوڅوك چه صف پرېکړی الله تعالیٰ دے هغه دخپل رحمت نه جدا کړی.

په دے حدېث شرېف باندے سوچ کول پکار دی چه د(وصل صف) او (قطع صف) څه حقېقت دے ! او بیا درسول الله ﷺ په ښېرو باندے هم سوچ اوکړئ چه (الله تعالیٰ به ده لره پرېکړی) نو تاته به پته اولګی چه صف کښے جوخت اودرېدل واجب دی. ځکه دا قسم وعېدونه عموماً په ترك دواجبو باندے راځی.

دا تول احادېث په دے مسئله باندے دلېل دی چه په مانځه کښے صف په داسے طرېقه جوړول واجب دی چه دمقتدېانو به دېو بل سره اوګے اوخپے لګېدلے وی. څوك چه په مانځه کښے خپے او اوګے نه لګوی دهغوی نه واجب پاتے دی. اوددے خلاف هېڅ ښو داسے صحېح حدېث یا دېو صحابی عمل نه دے راغلے چه مقتدېان به خپے او اوګے نه لګوی. بلکه دامام ابن حزم خو په صف کښے په جوخت اودرېدلو باندے دصحابه کرامؓ اجماع نقل کړېده.

ددے مسئلے تفصېل په المحلیٰ : ۳۷۹/۱، مصنف عبد الرزاق : ۵۷/۲، عون المعبود : ۲۵۰/۱، سلسله الاحادېث الصحېحه : ۳۸/۱، رقم : ۳۲، فتح الباری : ۱۶۷/۲، التحقېقات فی رد الهفوات ص : ۲۹٤، فتاوی الدېن الخالص (۲٤۹/۵) المجموع شرح المهذب : ۲۲۵/٤، ۲۲٦ . الدر المختار : ۳۸۲/۱ . کښې اوګوره۔

علامه ابن حجر مکیؒ په کتاب الزواجر : ۱٤٦/۱، کښے لېکی چه : صف نه برابرول او جوخت نزدے نزدے نه اودرېدل ګناه کبېره ده. ځکه ډېر زېات وعېدونه په کښے راغلی دی. لهذا تولو مسلمانانو لره په دے باندے دعمل کولو کوشش پکار دے.



د مانځه دپاره په ژبه نېت وئېل نشته

سوال : مانځه دپاره په ژبه نېت کول څه حکم لری ؟ بعضے کتابونو کښے دی چه په ژبه نېت دمانځه دپاره مستحب دے. او نورو کتابونو کښے دی چه په ژبه دمانځه دپاره نېت وئېل بدعت دے.

مونږ ته دقرآن او سنت په رڼا کښې جواب راکړئ !
وجزاکم الله خیراً !

جواب : دمانځه دپاره نیت کول فرض دی. مطلب دا چه مونځ کونکے به ضرور دخپل ځان سره دا په ذهن او فکر کښې لری چه زه اوس مونځ کوم.

دلیل په دے خبره باندے دا حدیث دے :

انما الاعمال بالنیات – وسنده صحیح، المشکاه : ۲/۱ .

یعنی : داعمالو دارو مدار په نیتونو باندے دے.

لیکن دمانځه دپاره په ژبه سره دا وئیل چه : نیت کوم یا نیت مے کړے چه دومره دومره مونځ اوکړم. په دے طریقه باندے نیت کول بدعت دے. په دے خبره دلیل دادے چه داد رسول الله ﷺ نه نه دے نقل شویدے.

ځکه رسول الله ﷺ ډیر زیات مونځونه کړی دی اود هیڅ مونځ دپاره ئے په ژبه سره هیڅ قسم الفاظ نه دی وئیلی. بلکه په زړه سره به ئے دمانځه دپاره نیت کولو.

دغه شان دصحابه کرامؓ نه هم نقل نه دی اونه ددے امت دسلفوؒ علماؤ چرته نقل دی چه هغوی په ژبه سره دمانځه دپاره دنیت الفاظ وئیلی وی.

که چرے په ژبه سره نیت کول مستحب یا غوره عمل وے نو رسول الله ﷺ دغه شان صحابه کرامؓ اوددین مشرانو نورو سلفو علماؤ ولے په دے مستحب باندے عمل نه کولو.

لکه فتح القدیر شرح الهدایه (۲۳۲/۱)، مرقات دملاعلی قاری (۹۵/۱) کښې دی :

قال بعض الحفاظ : لم یثبت عن رسول الله ﷺ بطریق صحیح، و لا ضعیف انه کان علیه الصلاه والسلام یقول عند الافتتاح : اصلی کذا. ولا أحد من الصحابه والتابعین، بل المنقول انه کان علیه الصلاه والسلام اذاقام الی الصلاه کبر، وهذه بدعه.

ترجمه : درسول الله ﷺ نه نه په صحیح سند سره اونه په ضعیف سند سره دا خبره ثابته ده چه رسول الله ﷺ دے دمانځه شروع کولو په وخت کښې دا وئیلی وی چه زه فلانے مونځ کوم. دغه شان دا دیو صحابی یا تابعی نه هم نه دی نقل شوی. بلکه درسول الله ﷺ نه دا نقل دی چه کله به مانځه ته اودریدلو نو الله اکبر به ئے وئیلو، او په ژبه نیت کول بدعت دے. (اوګوره فتح القدر : ۲۳۲/۱، مرقات : ۹۵/۱).

هرکله چه دا معلومه شوه چه په ژبه سره نیت کول نه درسول الله ﷺ نه نقل دی اونه هغه وئیلی او نه ئے پرے حکم کړیدے. دغه شان نه دصحابه کرامؓ نه اونه دتابعینؒ نه ددے ثبوت شته، نو بیا چا دپاره څه حق حاصل دے چه دا اووائی چه دا مستحب دے، یا غوره عمل دے ؟

په دے خبره دټولو علماؤ اتفاق دے چه : لکه څنګه چه په مونږ باندے درسول الله ﷺ تابعداری په فعل (کولو) کښے تابعداری فرض ده. نو دغه شان په مونږ باندے درسول الله ﷺ تابعداری په ترک (نه کولو) کښے هم فرض ده.

ددے دپاره چه داخبره ښه واضحه شی دعلماؤ عبارتونه اوګوره :

امام ابن قیمؒ په اعلام الموقعین : ۳۹۰/۲ کښے لیکلی :

والثانی : عدم نقلهم لما لو فعله لتوفرت هممهم ودواعیهم او اکثرهم او واحد منهم علی نقله فحیث لم ینقله واحد منهم البته ولا حدث به في مجمع ابد علم انه لم یکن وهذا کترکه التلفظ بالنیه عند دخوله في الصلاه. آه.

مطلب دا چه : عدم نقل دلیل دے ځکه چه که دا کار رسول الله ﷺ کړے وے نو مونږ ته به دهغه نه نقل شوے وے. سره ددے نه چه صحابه کرامؓ درسول الله ﷺ هر فعل او قول ته ښه متوجه وو اودسنتو به ئے زیات اهتمام کولو.

ملا علی قاریؒ په مرقات (۹۵/۱) کښے فرمائیلی :

وقیل : لا یجوز التلفظ بالنیه فانه بدعه والمتابعه کما تکون في الفعل تکون في الترک ایضا" -------- (نیت په ژبه وئیل نه دی جائز ځکه چه دا بدعت دے، اود رسول الله ﷺ تابعداری لکه څنګه چه په کولو (فعل) کښے شته دے دغه شان درسول الله ﷺ تابعداری په (ترک) نه کولو کښے هم ده.

شیخ عبد الحق دهلویؒ فرمائی : والاتباع کما یکون فی الفعل واجب کذافي الترک.

یعنی : درسول الله ﷺ تابعداری لکه څنګه چه دیو کار په کولو کښے لازم ده، دغه شان دهغه تابعداری دیو کار په پریخودلو کښے هم واجب ده.

مطلب دا چه رسول الله ﷺ یو کار (تعبدا) نه وی کړے نو په مونږ هم دا فرض دی چه هغه کار به نه کوو. اوګوره اللمعات : ۳۶/۱ -------- رد المحتار (۲۷۹/۱) کښے هم دی :

تلفظ بالنیه باره کښے محدثین وائی چه دا نه دی ثابت.

يعنې د رسول الله ﷺ نه نه په صحيح سند او نه په ضعيف سند سره.

سوچ او فکر کول پکار دي، چه کله ديو شئ نقل د رسول الله ﷺ نه په صحيح سند سره اونه په ضعيف سند سره ثابت وي، دغه شان دا کار نه د صحابه کرامؓ نه اونه د تابعينؒ نه ثابت وي نو داسې بيا څنګه مستحب کيدې شي ؟

بلکه حقيقت دادې : چه دا کار به يقيني طور سره بدعت وي.

په ژبه نيت وئيل بدعت دې د مانځه د پاره. د تفصيل د پاره ددې کتابونو مطالعه کول پکار دي: الدر السنيه :۲۷۵/٤ کښې دي چه څوك تلفظ بالنيه مستحب ګڼړي ددوئ قول خطاء او په جهالت باندې بناء دې.

دغه شان : اغاثه اللهفان للامام ابن القيم (۱۳٦/۱) يا (۵۱۰/۱) باختلاف الطبع. زاد المعاد (۱۹٤/۱) يا (٦۹/۱) اعلام الموقعين (۳۹۰/۲) يا (۳۷۱/۲). فتاوی ثنائيه لمولانا ابوالوفاء ثناء الله امرتسری (۱۷۸/۱)، تلبيس ابليس ص (۱۳۸، ۲۵۳) السنن والمبتدعات ص (۵۳) للشقيري، فتح القدير شرح الهدايه (۲۳۲/۱) او (۱۸٦/۱) مرقات شرح مشکوه (۹٤/۱، ۹٦)، الامر بالاتباع والنهی عن الابتداع ص (۲۹۵) للسيوطي، فتاوی الدين الخالص (٤۵۹/۱) تفصيلاً. مجموعه الفتاوی لشيخ الاسلام (۲٦۲/۱۸) (۲٦۳/۲۲، ۲۳۷)، عمده الرعايه حاشيه شرح الوقايه (۱۵۹/۱) معجم البدع ص (۳۱۳) للشيخ رائد صبری بن ابي علفه.

دغه ټول کتابونو کښې دي چه په خله باندې د مانځه د پاره نيت وئيل نشته. اودا د رسول الله ﷺ او د صحابه کرامؓ او تابعينؒ نه ثابت نه دې.

دغه شان مولوی محمد احسن الصديقي النانوتوی حنفي په حاشيه کنز (۲۱/۱) کښې ليکلي دي چه : بل هی بدعه. (يعني دا بدعت دې).

اوڅوك چه په ژبه وئيل لازم ګڼړي نو د هغوی خبره مردوده ده.

دغه شان مجدد الف ثاني صاحب هم وئيلي دي چه نيت په ژبه وئيل نه د رسول الله ﷺ نه ثابت دي اونه د صحابه کرامؓ اونه د تابعينؒ نه نقل دې اودا بدعت دې.

(مکتوبات ص : ۷۳، مکتوب نمبر : ۱۸٦، حصه سوم.

دغه شان علامه ابو الحسن مبشر احمد رباني حفظه الله هم دېته بدعت وئيلي دي.

اوګوره آپ کی مسائل اور ان کا حل قرآن اور سنت کی روشنی میں ص (۱۱۲).

۲۹/رجب ۱۴۲۴ ھ.

په مانځه کښې به لاس په سینه ګدی اوکه نامه لاندے ؟

سوال : په مانځه کښې لاس په سینه ایخودل سنت دی یا دنامه نه لاندے ؟ ددے مسئلے پوره وضاحت دقرآن اوسنت په رنړا کښې بیان کړئ !!

جواب : په مانځه کښې په سینه باندے لاس ایخودل (تړل) سنت طریقه ده، اودے باره کښې صحیح احادیث راغلی دی – اود نامه لاندے لاس کیخودلو باره کښې چه کوم احادیث راغلی دی هغه تول ضعیف دی. اودا خبره مونږ په تحقیق سره کوو، دے کښې مونږ هیڅ تعصب نه کوو، اونه دچا دمذهب قوی کولو کوشش کوو، صرف دیو مذهب او یو امام تابعداری کوو، دهغه دپاره تعصب کوو، مذهب زمونږ اسلام دے او امام زمونږ امام اعظم محمد رسول الله ﷺ دے.

اوس زه اول هغه احادیث ذکر کووم چه هغے کښې دادی چه لاسونه په سینه تړل سنت طریقه ده –او بیا هغه احادیث ذکر کووم چه هغے کښې دادی چه لاسونه دنامه نه لاندے تړل پکار دی او دهغے درجه هم بیانوم.

په سینه باندے دلاس تړلو احادیث

۱ – **اول حدیث :** عن وائل بن حجر قال : صلیت مع رسول الله ﷺ فوضع یده الیمنی علی یده الیسری علی صدره.

ترجمه : وائل بن حجرؓ فرمائی : ما درسول الله ﷺ سره مونځ اوکړو نو رسول الله ﷺ خپل ښے لاس په ګس لاس باندے په سینه باندے کیخودلو.

(اخرجه ابن خزیمه في صحیحه : ۲٤۳/۱ . والزیلعی في نصب الرایه : ۳۱٤/۱ . والبیهقی فی سننه : ۳۰/۲، من طریقین عنه یقوی احد هما الآخر، کما قال الالبانی في کتاب الجنائز ص : ۱۱۸).

دے حدیث شریف کښې دا مسئله معلومه شوه چه په مانځه کښې لاسونه په سینه باندے تړل سنت طریقه ده. اودا صحیح حدیث دے. امام البانیؒ په صفه صلاه النبی ﷺ ص : ۸۸، کښې دا حدیث صحیح کړیدے. دغه شان په کتاب الجنائز : ۱۱۸، کښې ددے حدیث دپاره نور شواهد هم ذکر کړی. چه یو شاهد په بیهقی (۳۰/۲) کښې په دوو طریقو سره راغلے. البانی صاحبؒ فرمائی : یقوی

احدهما الآخر چه ہو بل قوی کوی. دویم شاهد امام احمدؒ په خپل مسند (۲۲٦/۵) کښې مرفوع حدیث راوړیدے چه هغے کښې هم دا ذکر دی چه نبی کریم ﷺ به په مانځه کښې په سینه باندے لاس کیخودلو. اود مسند احمد رجال تول ثقه دی، صرف قبیصه راوی دے اود هغه باره کښې اختلاف دے چه ابن حبان اوعجلی دواړو ثقه کړیدے، او ابن حجرؒ ورته په التقریب کښې مقبول وئیلے دے. او ابن المدینیؒ او نسائیؒ ورته مجهول وئیلے. امام البانیؒ فرمائی:

فمثله حدیثه حسن فی الشواهد.

یعنی: دده په شان حدیث به په شواهدو کښې دحسن درجه لری، کتاب الجنائز: ۱۸۸. دغه شان دوائل بن حجرؓ نه په بل سند سره هم نقل دی لکه دا حدیث طبرانی (۲۲/۵۰) ابن عدی (۲۱٦٦/٦) بزار رقم (۲٦۸) راوړیدے. نو دا حدیث دوائل بن حجرؓ ددے شواهدو په بناء باندے صحیح دے.

اود وائل بن حجرؓ روایت ته نورو محدثینوؒ هم صحیح وئیلے دے.

لکه دهغوی حوالے دادی:

۱ - امام البانیؒ، لکه دده عبارت مخکښې ذکر شو.

۲ - القول المقبول فی شرح وتعلیق صلاه الرسول ص (۳۳۹) کښې شیخ ابو عبد السلام عبد الرؤف لیکلی دی: چه دا حدیث د وائل بن حجرؓ صحیح حدیث دے.

۳ - په تسهیل الوصول الی تخریج صلوه الرسول ص (۲۰۰) کښې شیخ ابو طاهر حافظ زبیر علی زئی حفظه الله - چه دا په جرح اوتعدیل کښې مهارت لری - لیکلی دی چه دوائل بن حجرؓ حدیث صحیح دے.

دغه شان حافظ زبیر علی زئی لیکی:

دهلب روایت هم صحیح دے، هغه روایت دادے:

رأیت النبی ﷺ یضع هذه علی صدره - رواه احمد.

دغه شان وائل بن حجرؓ حدیث چه طبرانی روایت کړیدے هغه هم صحیح دے. دهلب روایت دآثار السنن مصنف هم حسن کړے سره ددے نه چه هغه متعصب حنفی دے.

٤ - نیل المرام کښې شیخ ابو عمر نور ستانیؒ لیکی:

دا حدیث (حدیث دوائل بن حجرؓ) صحیح لغیره دے دشواهدو دوجے نه.

(نیل المرام شرح بلوغ المرام: ۲۱۷/۱).

۵ - په توضيح الاحکام من بلوغ المرام : ۳۰/۲، کښې عبد الله بن عبد الرحمن البسام لیکلي دي چه دوائل بن حجرؓ حديث صحيح دے . او لیکي چه دا حديث :

۶ - ابن خزيمه هم صحيح کړے .

۷ - امام ابن حِبان هم صحيح کړے .

۸ - امام نوويؒ په المجموع کښې صحيح کړے .

۹ - ابن القيمؒ په زاد المعاد کښې صحيح کړے .

۱۰ - شيخ مبارکفوريؒ په تحفه الاحوذي (۲۱۵/۱) کښې فرمائي : دا حديث صحيح دے .

۱۱ - ابن حجرؒ هم صحيح کړے . اوګوره تحفه الاحوذي : ۲۱۶/۱ .

۱۲ - شيخ محمد حيات سندي حنفيؒ هم ورته صحيح وئيلي دي .

اوګوره : دره في اظهار غش نقد الصره ص : ۶۷ .

دغه شان ابن امير الحاج چه احناف ورته ابن الهمام ثاني وائي : او صاحب دبحر الرائق دخبرو نه دا معلوميږي چه هغوي هم ديته صحيح وئيلي دي .

اوګوره تحفه الاحوذي (۲۱۵/۱) ابکار المنن ص (۱۰۷) .

۱۳ - مولانا ابو الوفاء ثناء الله امرتسريؒ ليکلي چه په سينه باندے دلاس ترلو حديث ابن خزيمهؒ په خپل صحيح کښې راوړے اوهغه ورته صحيح وئيلي دغه شان مسند احمدؒ کښې دقبيصه بن هلب روايت هم شته چه هغه حسن حديث دے . فتاوي ثنائيه (۴۵۷/۱) .

۱۴ - په عين الهدايه شرح هدايه کښې دي (۴۵۰/۱) چه په سينه باندے دلاس ترلو حديث قوي دے .

۲ - **دويم حديث** : عن وائل بن حجر قال : قلت : لانظرن الى صلاه رسول الله ﷺ كيف يصلى، فنظرت اليه فقام فكبر، ورفع يديه، حتى حاذتا باذنيه، ثم وضع يده اليمنى على كفه اليسرى والرسغ والساعد .الحديث ------ (رواه ابو اود، والنسائى، وسنده صحيح. انظر صحيح ابي داود : ۱۴۰/۱، والنسائى : ۱۹۴/۱) .

ترجمه : وائل بن حجرؓ فرمائي : ما اووئيل چه زه به خامخواه درسول الله ﷺ مونځ ګورم چه څنګه مونځ کوي . نو رسول الله ﷺ مانځه ته پاڅيده او الله اکبر ئے اووئيلو اولاسونه ئے پورته کړل تردے چه دغوږونو سره ئے برابر کړل، بيا ئے خپل ښے لاس دخپل ګس په ورغوي، مړوند او څنګل

باندے کېښودلو .

ددے حدیث نه ښکاره معلومېږی چه لاسونه په سینه باندے اېښودل سنت طریقه ده،ځکه هر کس دے بغیر دتعصب او ضد کولو نه تجربه اوکړی چه یو کس دګس لاس په ورغوی، مړوند او څنګل باندے لاس کیدی نو دهغه لاسونه په کوم ځائے راځی !

ددے حدیث په شان حدیث په صحیح بخاری (۱۰۲/۱) اوموطا (۱۴۳/۱) کښے هم راغلے دے .دابوداود، نسائی، بخاری اوموطا په احادیثو کښے اګرکه د سینے لفظ نشته لیکن دا خو ضرور شته چه دګس لاس ورغوے، مړوند اوڅنګل ئے ښے لاس کېښودل . نو چه په صحیح طریقه دګس لاس په ورغوی اومړوند او څنګل ښے لاس کېښودل شی نو لاسونه په سینه او په زړه باندے راځی . اومخکنی حدیث کښے هم دا ذکر شو چه رسول الله ﷺ به په سینه باندے لاسونه کېښودل .

۳ – **دریم حدیث** : په ابوداود کښے دطاؤسؒ نه په صحیح سند سره نقل دی چه:

كان النبی ﷺ یضع یده الیمنی علی یده الیسری ثم یشد بینهما علی صدره وهو فی الصلاه .

ترجمه : نبی کریم ﷺ به په مانځه کښے ښے لاس په ګس لاس په سینه باندے اېښودلو .

دا حدیث امام ابوداود رقم (۷۵۹) (۱۴۴/۱) صحیح ابي داود للالبانی کښے، دغه شان ابوداود نسخه الاعرابی کښے دے . دغه‌شان امام بیهقی په کتاب المعرفه والآثار کښے هم دی . -- دا حدیث اګرچه مرسل دے لیکن دلته دتولو علماؤ په نزد دلیل اوحجت دے . ځکه دا حدیث په بل سند سره متصل هم راغلے دے، لکه ارواء الغلیل (۷۰/۲) کښے ذکر دے --- اود احنافو په مذهب کښے خو مرسل حدیث حجت دے، فلا مفر لهم عن هذا الحدیث. --- اوګوره تحفه الاحوذی (۲۱۶/۲) التحقیقات في رد الهفوات .فتاوی الدین الخالص (۹۴/۴، ۱۰۱) تفصیلاً .

حاصل : دمسئله دا چه په مانځه کښے په سینه باندے لاسونه تړل په صحیح احادیثو کښے ثابت دی لکه ددے تفصیل ذکر شو .

په سینه باندے دلاس تړلو متعلق دعلماؤ اقوال

۱ – دپیران پیر شیخ عبد القادر جیلانیؒ قول : وضعوا الیمین علی الشمال فوق السره. (اے زما مریدانو ! ښے لاس په ګس لاس باندے دنامه دپاسه (په سینه) کیږدئ .

(غنیه الطالبین : ۴/۱) .

۲ – علامه صنعانیؒ په سبل السلام (۲۵۹/۱) کښې فرمائی :

والحدیث (حدیث وائل بن حجر) دلیل علی مشروعیه الوضع فی الصلاه ومحله علی الصدر، کما افاد هذا الحدیث.

ترجمه : دوائل بن حجرؓ حدیث دلیل دے په دے چه په مانځه کښې لاسونه تړل کیږی اود تړلو ځائے سنه ده لکه څنګه چه ددے حدیث نه معلومه شوه.

۳ – مولانا ګوهر رحمٰن په تفهیم المسائل (۲۹۷/٤) کښې لیکی :

په سینه باندے لاس تړل دسینے نه لاندے لاس تړل اود نامه لاندے لاس تړل درے واړه په روایتونوکښې موجود دی. لیکن بهتره داده چه په مانځه کښې دنامه نه پورته اود سینے نه لاندے اوتړلے شی، مګر په سینه باندے لاس تړل یا دنامه نه لاندے لاس تړل هم ګناه نه ده.

٤ – مولانا ابو الحسن مبشر احمد ربانی لیکی :

په مانځه کښې لاسونه دسینے دپاسه تړل پکار دی چه دصحیح ا حادیثو نه (دا طریقه) ثابته ده اود سینے نه لاندے لاس تړلو والا احادیث انتهائی ضعیف دی.

اوګوره (آپ کی مسائل کا حل قرآن وسنت کی روشنی میں : ۱۲۵/۱، ۱۲٦).

٥ – علامه ابو الوفاء ثناء الله امرتسریؒ په فتاوی ثنائیه (٤٤٣/۱، ٤٥۷) کښې لیکی چه په سینه باندے دلاس تړلو احادیث په بخاری اومسلم او دهغوی په شروحو کښې ډیر زیات دی. او په سینه باندے دلاس تړلو احادیث په صحیح ابن خزیمه کښې هم شته چه ابن خزیمہؒ صحیح کړی، دغه شان په مسند احمد کښې دقبیصه روایت هم شته چه هغے کښې هم دا شته چه نبی کریم ﷺ په مانځه کښې په سینه باندے لاسونه تړل اود مسند احمد روایت هم حسن دے.

تنبیه : که څوك اووائی چه په بخاری اومسلم کښې خو دسینے لفظ نشته دے نو څنګه مولانا ابو الوفاء صاحبؒ وائی چه دا په بخاری اومسلم کښې دی. جواب : دادے چه په بخاری او مسلم کښې اګرکه دسینے لفظ نشته لیکن په هغے کښې دادی چه په څنګل باندے لاس تړل سنت دی او په دے طریقه باندے چه کله لاسونه اوتړلے شی نو په سینه باندے راځی، فلا اشکال.

٦ – مشهور صوفی میرزا مظهر جان جانان شهید حنفیؒ په معمولاتو کښې دی چه :

ودست را برابر سینه می بستند وفرمودند که روایت ارجح است از روایت زیر ناف.

یعنی : هغه به په مانځه کښې لاسونه دسینے په برابر تړل او هغه به فرمائیل چه په سینه باندے

دتړلوباره کښې چه کوم رواېتونه راغلی دی دا راجح دی دهغه رواېتونو نه کوم چه دنامه نه لاندے تړلو باندے راغلی دی ---بحواله فتاوی رشیدیه ص (۳۰۹).

دغه شان عین الهدایه اردو (۴۵۰/۱) کښې هم دی چه شیخ (مظهر جان) به هم په سینه باندے لاسونه تړل اودا به ئے وئیل چه دا حدیثونه قوی دی.

۷ - دغه شان په دستور المتقی ص (۹۷) للشیخ یونس دهلویؒ.

۸ - شیخ خالد گرجاکهی په صلوه النبی ﷺ ص (۱۵۷).

۹ - علامه البانیؒ په ارواء الغلیل (۲/) هم وئیلی چه په سینه باندے لاس تړل پکار دی.

د احنافو دلائل او دهغے تجزیه

احناف یو استدلال په حدیث دوائل بن حجرؓ کوی چه مصنف ابن ابي شیبه (۳۹۰/۱) کښې دی --- قال رأیت النبی ﷺ یضع یمینه علی شماله فی الصلاه تحت السره.

ددے **حدیث** درجه (۱) دمولانا تقی عثمانی نه واوره:

هغه په درس ترمذی (۲۳/۲) کښې وائی: چه داحنافو دتولو نه روښے دلیل دوائل بن حجرؓ روایت دے چه ابن ابي شیبه راوړے هغه وائی: لیکن داحقر (تقي عثماني) په نظر ددے روایت نه استدلال کمزورے (ضعیف) دے. ځکه اول خو د (تحت السره) الفاظ دابن ابي شیبه په مطبوعه نسخو کښې نشته دے، اوکه چرے څوك د بعض نسخو حواله ورکوی چه دابن ابي شیبه په بعضو نسخو کښې دا لفظ شته، نو بیا هم چه دغه زیادت په بعضو نسخو کښې نشته نودا (لفظ تحت السره) ضرور مشکوك جوړوی. دغه شان دوائل بن حجرؓ نه روایت مضطرب المتن دے ځکه بعضو کښې (علی صدره) بعضو کښې (عند صدره) په بعضو کښې د (تحت السره) الفاظ روایت دی. نوددغه سخت اضطراب په وخت کښې هیڅ دپاره هم ددے حدیث نه استدلال کول مناسب نه دی.

۲ - دغه شان ددے حدیث درجه شیخ محمد حیات سندی حنفیؒ داسے لیکی:

چه زمونږ احناف په دے حدیث دوائل بن حجرؓ باندے استدلال کوی لیکن دے حدیث کښې ډیر کلام دے، او بیا ئے ددے ډیرے وجے بیان کړیدی. چه دهغے حاصل دادے چه دے کښې د (تحت السره - یعنے نامه لاندے لاس کیخودلو) لفظ نشته دے ځکه که چرے دا لفظ په دے حدیث کښې موجود وے نو بیا پخوانو احنافو ددے حدیث نه ولے استدلال نه کولو ؟ --- دغه شان حدیث دوائل بن حجرؓ ډیرو

کتابونو کښې ذکر شوې دې او په یو کښې هم د (تحت السره) لفظ نشته.

اوګوره: دره فی اظهار غش نقد الصره ص (۶۷، ۹۹) دمحمد حیات سندی حنفی.

خلاصه: داچه دوائل بن حجرؓ په حدیث کښې د (تحت السره) لفظ نه دې ثابت، او په دې باندې خپله احناف علماء هم اقرار کوی. چه ددې روایت نور تفصیل په ابکار المنن للمبارکفوری ص (۱۱۷) دغه شان تعلیق آثار السنن ص (۹۰) وغیره کښې تفصیلاً کتلې شی. **۲ - داحنافو دویم دلیل:**

عن علی بن ابي طالب قال: من السنه وضع الاكف على الاكف تحت السره.

(اخرجه ابوداود: ۱۱۷/۱، والبیهقی: ۳۱/۲، وابن ابي شیبه: ۳۹۱/۱، والدارقطنی: ۲۸۶/۱).

درجه الحدیث: دا حدیث ضعیف جداً (سخت ضعیف) دې، اوددې حدیث دسخت ضعیف کیدو څلور وجې دی:

۱ - اوله وجه: دې کښې عبد الرحمن بن اسحق الواسطی راوی دې اودا په اتفاق محدثینو سره ضعیف دې. امام احمدؒ او امام ابو حاتمؒ فرمائی: دې منکر الحدیث دې. امام ابن معینؒ فرمائی: لیس بشئ (هیڅ شے نه دې) امام بخاریؒ فرمائی: فیه نظر. (په ده کښې خبرې اترې دی). امام بیهقیؒ فرمائی: هومتروك (دې متروك راوی دې).

۲ - دویمه وجه دضعف داده: چه ددې حدیث په سند کښې (زیاد بن زید السوائی) راوی دې، اودده په باره کښې راځی:

هو لا یعرف - یعنی دې نامعلوم راوی دې --- اوګوره: التعلیق المغنی علی سنن الدارقطنی (۲۸۶/۱) الدرایه علی هامش الهدایه (۱۰۱/۱) والارواء (۹۲/۲) رقم (۳۵۳).

۳ - دریمه وجه دضعف: داده چه ددې حدیث په سند کښې اضطراب (پریشانی) دې ځکه عبد الرحمن کله دزیاد نه او هغه دابو حجیفه نه روایت کوی.

اوکله دنعمان بن سعد نه اوهغه دعلیؓ نه روایت کوی.

اوکله دسیار ابی الحکم نه او هغه دابو وائل نه روایت کوی.

اوګوره: ابوداود (۱۱۷/۱) ارواء الغلیل تفصیلاً (۶۹/۲، ۷۰) للشیخ الالبانیؒ.

٤ - څلورمه وجه دضعف: داده چه دعلی رضی الله عنه نه ددې روایت په خلاف بل روایت هم راغلې دې او هغه داسې چه:

دعلیؓ نه روایت دے چه هغه به دنامه نه پورته لاسونه تړل.

لکه دا حدیث امام بیهقی (۳۲/۲/۱، کښے راوړے او حسن کړے ئے دے. امام بخاری (۱۵۹/۱)
معلق راوړے. دغه شان امام ابوداود (۱۱۷/۱) نسخه ابن الاعرابی.

امام نووی په شرح دمسلم (۱۷۳/۱) کښے ددے حدیث په باره کښے فرمائی:

وهو حدیث متفق علی تضعیفه.

(دا داسے حدیث دے چه ددے په ضعیف کیدو باندے اتفاق دے).

اودا خبره ئے په المجموع (۳۱۳/۳) کښے هم لیکلی دی.

دغه شان امام بیهقی وئیلی دی چه:

لا یثبت اسناده، تفرد به عبد الرحمن بن اسحق الواسطی وهو متروك.

(ددے حدیث سند نه دے ثابت، دا یواځے عبد الرحمن بن اسحق واسطی روایت کړیدے او دا متروك راوی دے). اوګوره: نصب الرایه للزیلعی: ۳۱٤/۱.

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری (۱۸٦/۲) کښے فرمائی:

وهو حدیث ضعیف. - (دا حدیث دعلیؓ ضعیف حدیث دے).

امام البانی هم لیکلی دی چه دعلیؓ روایت ضعیف دے. اوګوره: ارواء الغلیل: ٦۹/۲).

۳ - د احنافو دریم دلیل:

اثر دابو مجلز او ابراهیم نخعی ذکرکوی چه هغوی به دنامه نه لاندے لاسونه تړل. لکه ابن ابی شیبه (۳۹۱/۱) کښے دا روایتونه دی.

ددے استدلال درجه اوجواب:

اول: داچه دا دعلماؤ عمل دے او دعلماؤ عمل څوك په دلیل کښے نه پیش کوی اونه دهغوی عمل دلیل وی.

دویم: داچه دابو مجلزؒ نه خو (وضع الیدین علی الصدر) یعنی په سینه باندے لاس تړل هم ثابت دی. نو دنامه والا اثر باندے استدلال کوے نو بیا په سینے والا اثر باندے ولے استدلال نه کوے. لهذا ددے اثر نه داحنافو استدلال صحیح نه دے.

لان تلك بتلك. اوګوره ابکار المنن ص (۱۲۳).

دغه شان دابراهیم نخعی نه چه کوم سند باندے دا عمل نقل دے نو په هغه کښے ربیع بن صبیح

دے او هغه سئ الحفظ (بېکاره حافظے والا) دے او هغه ضعیف دے.

اوګوره التقریب لابن حجر، وابکار المنن ص (۱۲۳) ---- امام ابن حِبانؒ فرمائی:

کان ربیع بن صبیح من عباد اهل البصره وزهادهم، وکان یشبه بیته باللیل ببیت النحل بکثره التهجد الا ان الحدیث لم یکن من صناعته، فکان یهم فیما یروی کثیراً حتی وقع فی حدیثه مناکیر من حیث لا یشعر، لا یعجبنی الاحتجاج به اذا انفرد.

ترجمه: ربیع بن صبیح داهل بصره په عابدانو او زاهدانو کښے شمار وو، اودده کور به دشپے دشاتومچو دکور پشانته وو دوجے دکثرت تهجد نه، مګر حدیث دده فن نه وو (په دے کښے ئے مهارت نه وو) نو دے وجے نه به دده ته په خپل ډېرو روایاتو کښے وهم (غلطی) لګېدله، تردے چه غیر شعوری طور سره دده په حدیث کښے منکر روایتونه واقع شول، کله چه دے یوائے روایت اوکړی نو ماته په ده باندے دلیل نیول خوښ نه دی.

اوګوره: الثقات لابن حبان: ۲۹۹/۶ ---- امام یحیی بن معینؒ اوامام نسائیؒ دے ضعیف کړیدے ---- المغنی فی الضعفاء: ۳٤۷/۱، رقم (۲۰۹٦).

نو ثابته شوه چه دابراهیم نخعیؒ تابعی داثر نه هم داحنافو استدلال ضعیف دے.

دغه شان دوئ نور هم څه آثار ذکر کوی چه هغه تول ضعیف دی. او بعض خو دسره اصل هم نه لری. چه ددے خبرے تفصیل دامام البانیؒ په ژبه واورئ، هغه فرمائی:

تنبیه: وضعهما علی الصدر هو الذی ثبت فی السنه.

ترجمه: په مانځه کښے دواړه لاسونه په سینه باندے تړل همدا په سنت کښے ثابت دی.

بیا لیکی: وخلافه اما ضعیف او لا اصل له.

(اوددے طریقے خلاف یا ضعیف دی اویا بے بنیاده دی).

اوګوره صفه صلاه النبی ﷺ ص: ۸۸.

علامه بدر الدین عینی حنفیؒ شارح دصحیح البخاری لیکی:

ویستدل علماؤنا الحنفیه بدلائل غیر وثیقه.

(زمونږ حنفی علماء (نامه لاندے لاسونو کېخودلو کښے) په غیر معتمد روایاتو باندے استدلال کوی. (اوګوره: ابکار المنن ص (۱۱۸).

دغه شان ابن امیر الحاج شارح منیه المصلی اوابن نجیم صاحب البحر الرائق فرمائی

ان الثابت من السنه وضع اليمين على الشمال، ولم يثبت حديث يوجب تعين المحل الذی يكون الوضع فيه من البدن الا حديث وائل المذكور.
ترجمه : دسنتو نه دا ثابت ده چه ښی لاس دے په ګس لاس باندے کېښودلے شی. او هيڅ حديث داسے نه دے ثابت چه په هغے کښے دے تعين دمحل دکېښودلو راغلے وی دبدن نه سيوا دمذکوره حديث دوائل نه.
اوګوره : البحر الرائق : ٣٠٣/١، ابكار المنن ص (١١٩) دپيغمبر ﷺ مونځ (١٩٥).
دے باره کښے نور تفصيل په فتاوی الدين الخالص (٩٤/٤، ١٠١) کښے کتل پکار دی.
دغه شان التحقيقات في رد الهفوات ص (١٥٥، ١٦٢)، ابكار المنن للمباركفوری تفصيلا، ارواء الغليل (٦٩/٢) احکام الجنائز للشيخ الالبانی ص (١١٧) وصفه صلاه النبی ﷺ ص (٨٨). آپ کی مسائل کاحل قرآن وسنت کی روشنی ميں (١٢٥/١) لمولانا ابو الحسن مبشر احمد ربانی حفظه الله . ١١/ شعبان ١٤٢٤ هـ.

٥

مسئله د قرات خلف الامام

سوال : فاتحه خلف الامام څه حکم لری؟ سورت فاتحه لوستل په امام، مقتدی اوپوائحے مونځ کونکی تولو باندے فرض اوضروری ده؟ اوکه صرف دامام او يوائحے مونځ کونکی دپاره ئے لوستل فرض دی، اومقتدی به فاتحه خلف الامام نه وائی؟ ددے مسئلے تفصيل دقرآن اوسنت په رڼا کښے اوکړئ! بارك الله فی عمرکم وعلمکم!
جواب : قرائه الفاتحه خلف الامام (امام پسے سورت فاتحه لوستلو) کښے دعلماؤ اختلاف دے او په دے باندے ډيرکتابونه ليکلے شوی دی، دجانبينو دلا ئل اوپه هغے کښے صحيح اوضعيف احاديث او راجح مرجوح اقوال ذکر کول او وجه دترجيح ذکر کول ډير تفصيل غواړی، که څوك ددے مسئلے تفصيل غواړی نو هغه دے دغه کتابونه چه په دے موضوع باندے ليکلے شوی دی اوګوری، چه زه به ان شاء الله دهغه کتابونو نومونه روسته ذکرکړم ---- مونږ دلته مختصر طور سره دقرائه الفاتحه خلف الامام حکم او په هغے باندے يو څو دلا ئل ذکر کوو.

په امام پسے دسورت فاتحه وئيلو حکم

په امام پسې دمقتدی دپاره په سری اوجهری مونځونو کښې فاتحه لوستل فرض دی. په دې خبره دلائل دادی:

۱ – **حدیث**: عن عباده بن الصامت رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قا ل: لا صلاه لمن لم یقرأ بفاتحه الکتاب. وفی روایه: لا صلاه لمن یقرأ بام القرآن.

(اخرجه البخاری: ۱۰۴/۱، ومع الفتح: ۲۳۶/۲، ومسلم: ۱۶۹/۱: ۳۹٤، وابوداود رقم: ۸۲۲، والنسائی: ۱۳۷/۲، ۱۳۸، وابن خزیمه: ٤۸۸، والترمذی: ۲٤۷، وابن ماجه: ۸۳۷، واحمد: ۳۱٤/٥، والحمیدی: ۳۸٦، والبیهقی: ۳۸/۲، ۱٦٤، وابن ابي شیبه: ۳٦۰/۱، والشافعی فی المسند: ٥۷/۱) والبغوی فی شرح السنه: ۲۰۰/۲).

ترجمه: دعباده بن صامتؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: چاچه سورت فاتحه اونه لوستله نو دده مونځ نه کیږی.

دا حدیث عام دې په دې کښې دهیچا دمانځه تخصیص نشته دې، امام وی که مقتدی وی اوکه یواځې مونځ کونکې وی دا ټول په دې حدیث کښې داخل دی. البته که چرې صحیح او صریح حدیث راشی چه مقتدی به فاتحه خلف الامام نه وائی نو بیا به مقتدی ددې نه مستثنی وی – خو لیکن داسې هیڅ صحیح او صریح حدیث نشته دې چه هغې کښې داوی چه مقتدی به سورت فاتحه خلف الامام نه لولی!

دې وجې نه چه دا حدیث عام دې په دې کښې امام او مقتدی دواړه داخل دی، ګڼړو علماؤ دا حدیث ددې دپاره ذکر کړیدې چه مقتدی به هم قرأت خلف الامام کوی لکه ددې تفصیل دادې چه:

۱ – امام الفقهاء والمحدثین أمیر المؤمنین فی الحدیث امام بخاریؒ په خپل الجامع الصحیح (۱۰٤/۱) کښې په دې حدیث باندې داسې باب لګولې دې:

باب وجوب القرائه للامام والماموم فی الصلوات کلها، فی الحضر والسفر، وما یجهر فیها وما یخافت --- یعنی: داباب دې په بیان ددې کښې چه فاتحه وئیل په امام اومقتدی دواړو باندې په ټولو مونځونو کښې سفروی که حضروی، جهری مونځونه وی که خفیه په ټولو کښې فرض ده --- ددې باب نه روسته امام بخاریؒ دا حدیث ذکر کړیدې چه:

لا صلاه لمن لم یقرأ بفاتحه الکتاب.

(دهغه چا مونځ نه کیږی چه په مانځه کښې سورت فاتحه اونه لولی).

۲ - امام ترمذیؒ په دې حدیث داسې باب لګولې دې : باب ما جاء فی القرائه خلف الامام.
(باب دې په بیان دې دهغه احادیثو کښې چه دامام پسې روستو دمقتدی دقرأت لوستلو په باره کښې راغلی دی).
۳ - ابن ماجه : ۱۴۰/۱، کښې هم دا باب تړلې دې : باب القرائه خلف الامام.
ددې باب تړلو نه روسته ئې دا حدیث ذکر کړېدې چه :
لا صلاه لمن لم یقرأ فیها بفاتحه الکتاب.
دغه شان نورو محدثینوؒ هم دا حدیث ددې دپاره ذکر کړېدې چه مقتدی به امام پسې سورت فاتحه ضرور لولی.
دغه شان علامه قسطلانیؒ دمذکوره حدیث په شرح کښې لیکی :
ای فی کل رکعه منفردا أو اماما، اوماموما، سواء أسر الامام أو جهر.
ترجمه : ددې حدیث مقصد دادې چه هر رکعت کښې به قرأت لولی برابره خبره ده که یوائې مونځ کونکې وی اوکه امام وی اوکه مقتدی وی، برابره خبره ده که امام په کښې په پټه سره قرأت لولی اوکه په جهر سره ئې لولی. په تولو کښې به مقتدی امام پسې سورت فاتحه لولی --- (قسطلانی شرح بخاری : ۴۳۹/۲)
دغه شان علامه کرمانیؒ دبخاری په شرح (۱۲۴/۵) کښې لیکی :
وفی الحدیث دلیل علی ان قرائه الفاتحه واجبه علی الامام والماموم فی الصلاه کلها.
ترجمه : دا حدیث (لا صلاه لمن لم یقرأ بفاتحه الکتاب) دلیل دې په دې خبره چه سورت فاتحه وئیل په امام اومقتدی دواړو باندې په هر مانځه کښې لوستل ضروری او واجب دی.
دمحدثینوؒ اودهغوی دشارحینو داقوالو نه معلومه شوه چه دا حدیث (لا صلاه لمن لم یقرأ بفاتحه الکتاب) امام او مقتدی دواړو ته شامل دې.
نو یو کس دې دانه وائی چه دې حدیث کښې خو دمقتدی ذکر نشته، نو تاسې دا حدیث څنګه ددې دپاره په دلیل کښې پیش کوئ چه امام پسې به مقتدی هم قرأت لولی. ځکه بل روایت کښې تصریح راغلې ده په دې باندې.
عن عباده بن الصامت قال : قال رسول الله ﷺ : لا صلاه لمن لم یقرأ بفاتحه الکتاب خلف الامام --- (اخرجه البیهقی فی کتاب القرائه خلف الامام ص : ۵۶، رقم : ۱۳۵، واسناده صحیح کما قاله

انور شاه الکشمیری فی فص الختام ص : ۱٤۷).

ترجمه : دهغه چا مونځ نه کیږی چه دامام پسے روسته سورت فاتحه اونه لولی.

نو دے حدیث کښے د ا مسئله ښکاره معلومه شوه چه مقتدی به امام پسے سورت فاتحه ضرور لولی، ورنه دده مونځ بیا نه کیږی.

۲ – دویم دلیل : عن انس ان النبی ﷺ صلی باصحابه فلما قضی صلاته اقبل علیهم بوجهه فقال: اتقرؤن فی صلاتکم خلف الامام والامام یقرأ ! فسکتوا فقالها ثلاث مرات. فقال قائل او قائلون: انا لنفعل. قال : فلا تفعلوا، ولیقرأ احدکم بفاتحه الکتاب فی نفسه.

(اخرجه البخاری فی جزء القرائه ص : ٥٥، والبیهقی فی کتاب القرائه ص : ٥٨، وفی السنن : ١٦٦/٢، قال الهیثمی فی المجمع : ١١٠/٣: رواه الطبرانی وابویعلی ورواه ابن حبان فی صحیحه : ١٥٢/٥، ١٦٢، رقم : ١١٤٤، و١٨٥٢، والطبرانی فی الاوسط :٢٦٨٠، واخرجه الدارقطنی : ٣٣٣/١، رقم : ١٢٧٣، والخطیب فی تاریخه : ١٥٧/١٣، ١٧٦، وقال الهیثمی : رجاله ثقات، وصححه الشیخ شعیب الارناؤط فی صحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان :١٥٣/٥ .

ترجمه : دجناب انسؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ خپلو صحابوؓ ته دجمع مونځ اوکړو، نو کله چه دمانځه فارغ شه خپلو صحابوؓ ته ئے مخ رااوګرځولو او ورته اوفرمائیل : آیا تاسے دامام نه روسته قرأت کوئ هرکله چه امام قرأت کوی ؟ صحابه کرام خاموش شول، رسول الله ﷺ درے ځلے دا خبره اوفرمائیله. نویو کس یا ډیرو کسانو اووئیل : هاؤ، مونږ قرأت کوو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دا مه کوئ،بلکه تاسو صرف ځان سره (په پټه سره) سورت فاتحه لولئ.

تنبیه : د (فی نفسه) معنی ملا علی قاریؒ کوی : چه

سراً غیر جهر – (یعنی په پټه نه په تیزه).

دغه شان امام بیهقیؒ په کتاب القرائت ص (۱۷) کښے لیکی :

ان یتلفظ بها سراً دون الجهر بها.

(یعنی چه په پټه سره په هغے باندے خله اوخوزول شی او په زوره اونه وئیلے شی).

اوګوره : المرعات : ۱۱۲/۳) تفصیلاً.

۳ – عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال : قال رسول الله ﷺ : تقرؤن خلفی ؟ قالوا : نعم، انا لنهذ هذاً، قال : فلا تفعلوا الا بام القرآن.

ترجمه : عمرو بن شعیب دخپل نیکه په واسطه سره درسول الله ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : آیا تاسو ما پسے روسته قرأت کوئ ؟ صحابه کرامؓ اوفرمائیل : آو، مونږ په تلوار تلوار قرأت کوو، رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دسورت فاتحے نه سیوا نور قرأت مه لولئ.

(اخرجه البخاری فی جزء القرائه ص : ۱۸، رقم : ۳٤، ورواه البیهقی فی کتاب القرائه خلف الامام ص : ۷۹، ٥٤، ۱٦۷، باختلاف الطبع، والسیوطی فی الجامع الکبیر : ٥۲۱/۲، ونحوه فی المستدرك للحاکم : ۲۳۸/۱، والدارقطنی :۳۱۸/۱، والبغوی فی شرح السنه : ۸۲/۳).

دانسؓ دروایت پشان دارنګ دعمرو بن شعیب دروایت په شان روایت دابو قتاده او نورو صحابه کرامؓ نه هم روایت شویدے. اوګوره : (کتاب القرائه لبیهقی ص : ٦۲، مسند احمد : ۸۱/٥، کنز العمال رقم : ۲۲۹٦۸،مجمع الزوائد : ۱۱۱/۲).

تنبیه : دجناب انسؓ، عمرو بن شعیبؒ او ابو قتادهؓ دروایت نه دا مسئله معلومه شوه چه کوم احادیثو کښے دقرأت نه منع راغلے ده هغے نه مراد سورت فاتحه علاوه بل سورت وئیل دی، او هرچه سورت فاتحه ده نو ددے لوستل په امام پسے په تولو مونځونو کښے ضروری دی جهری مونځ وی که سری، صرف په جهری مونځ کښے دسورت فاتحه نه علاوه بل سورت لوستل منع دی، لیکن سورت فاتحه به په جهری کښے هم لولی.

٤ - **څلورم دلیل** : عن عباده بن الصامت قال : صلی بنا رسول الله ﷺ صلاه الصبح فثقلت علیه القرائه فلماانصرف قال : انی لااراکم تقرؤن وراء امامکم اذا جهر ؟ قال : قلنا : اجل، یا رسول الله هذاً ! قال : فلا تفعلوا، الابام الکتاب، فانه لا صلاه لمن یقرأ بها.

(اخرجه احمد : ۳۱۲/٥، ۳۲۲، والبیهقی فی کتاب القرائه ص : ٤٤، وابن حبان فی صحیحه : ۸٦/٥، ۹٥، ۱٥٦، رقم : ۱۷۸٥، ۱۷۹۲، ۱۸٤۸، والحاکم فی المستدرك : ۲۳۸/۱، والبخاری فی جزء القرائه ص : ٦٤، ۲٥۸، وابوداود : ۱۲۷/۱، ۸۲۳، والترمذی : ٦۹/۱، رقم :۳۱۱، وابن حزم فی المحلی : ۲۳٦/۳، وقال الشیخ شعیب الارناؤوط فی تعلیقه وتحقیقه علی ابن حبان : ۸٦/٥، ۹٥، ۱٥٦ : اسناده قوی. وقال الدارقطنی والترمذی : اسناده حسن، وصححه ابن خزیمه وابن حبان).

ترجمه : دعباده بن صامتؓ نه روایت دے چه مونږ ته رسول الله ﷺ دسحر مونځ اوکړو، نو په رسول الله ﷺ باندے قرأت دروند شو، نوکله چه دمانځه نه راؤګرځیدلو نو وے فرمائیل : زه تاسو وینم چه دامام نه روسته قرأت کوئ هرکله چه هغه په زوره قرأت کوی ؟ مونږ ورته عرض اوکړو : آو،

قسم دے یا رسول الله ! نو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : تاسو قرأت مه کوئ سیوا دسورت فاتحے نه ځکه دفاتحے نه بغیر خو مونځ نه کیږی ----- دا حدیث صحیح دے اوشیخ شعیب الارناؤط هم ورته قوی وئیلی دی چه ددے تفصیل په صحیح ابن حبان (۸٦/۵) کښے اوګوره .

دغه شان داحدیث امام نسائی ؒ په (السنن الکبری رقم : ۹۰۲، سنن النسائی : ۱٤۱/۲، امام بخاری ؒ په خلق افعال العباد ص : ٦٧، جزاء القرائه ص : ٦٥، دارقطنی : ۳۱۸/۱، رقم : ۱۲۰۷، المسند الجامع : ٦۱/۸، رقم : ۵۵٤٤، طحاوی په معانی الآثار : ۲۱۵/۱، ابن خزیمه په خپل صحیح : ۱۵۸۱، کښے راوړیدے . اوګوره امام الکلام لعبد الحی لکهنوی ؒ تفصیلا).

دے حدیث نه دا مسئله معلومه شوه چه مقتدی به په جهری مونځ کښے هم امام پسے سورت فاتحه لولی . دعباده بن صامت ؓ حدیث په باره کښے امام خطابی ؒ فرمائی :

هذا الحدیث صریح بان قرأه الفاتحه واجبه علی من خلف الامام سواء جهر بالقرائه اوخافت بها، واسناده جید لا طعن فیه - (عون المعبود : ۳۲/۳) .

ترجمه : دے حدیث کښے په ډاګه دا خبره ذکر شویده چه سورت فاتحه لوستل امام پسے واجب دی، برابره خبره ده که امام په جهر سره قرأت کوی اوکه په پټه سره، اوددے حدیث سند کره دے ، هیڅ قسم عیب په کښے نشته دے .

دعباده بن صامت ؓ دحدیث په باره کښے علامه عبد الحی لکهنوی ؒ حنفي لیکی :

ان حدیث عباده صحیح او حسن عند جماعه من المحدثین الخ .

ترجمه : دعباده بن صامت ؓ حدیث دمحدثینو دیو (لوئے) جماعت په نزد صحیح یا حسن دے آهـ ---- اوګوره : غیث الغمام حاشیه امام الکلام للعلامه عبد الحی لکنهوی ؒ ورسائل اللکهنوی : ۲۲۲/۳، وعمده الرعایه : ۱۷٤/۱ .

اوځوك چه وائی چه دعباده رضی الله عنه حدیث منسوخ دے دهغوی قول خطاء دے لکه علامه عبد الحی صاحبؒ دملا علی قاری ؒ نه نقل کوی :

قال القاری : ولعل هذا هو الناسخ لما تقدم الخ .

ددے نه روسته علامه عبد الحی صاحبؒ لیکی :

وفیه وهن ظاهر اما اولاً فلان النسخ لا یثبت بالاحتمال .

ترجمه : په دے خبره کښے ښکاره ضعف دے هرچه اوله وجه ده نو هغه داچه په احتمال سره

منسوخ کېدل نه ثابتېږي. ---- بل ځائے لیکي:

ان دعوی کون حدیث عباده منسوخا بحدیث (واذا قرأ فانصتوا) مردوده لعدم علم التاریخ وللخصم ان یدعی العکس فصار دعوی منعکسه.

ترجمه: ددے خبره دعوی کول چه حدیث دعبادةؓ په (واذا قرأ انصتوا) حدیث سره منسوخ دے، نو دا مردوده دعوی ده، ولے چه تاریخ معلوم نه دے، بلکه دجانب مقابل والو دپاره داجائز دی چه ددے برعکس دعوی اوکړي (واذا قرأ فانصتوا حدیث په حدیث دعبادةؓ سره منسوخ دے) نو داولنے فرقے دغه دعوی اولته کړے شوه.

اوګوره: امام الکلام، مجموعه رسائل اللکهنوی: ۲۲۲/۳.

۵ – **پنځم دلیل**: عن ابي هریره عن النبی ﷺ قال: من صلی صلاه لم یقرأ فیها بام القرآن فهی خداج – ثلاثا – غیر تمام. فقیل لابی هریره: انا نکون وراء الامام! فقال: اقرأ بها فی نفسك، فانی سمعت رسول الله ﷺ قال الله تعالی: قسمت الصلاه بینی وبین عبدی. الحدیث ---- (رواه مسلم: ۱۷۰، کما فی المشکاه: ۸۷/۱).

ترجمه: دجناب ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه: څوك چه مونځ اوکړو او سورت فاتحه ئے په کښے اونه لوستله نو هغه نیم ګړے (او باطل) مونځ دے، پوره نه دے – دا خبره ئے درے ځله اوفرمائیله – جناب ابو هریرهؓ نه چا تپوس اوکړو: چه مونږ کله امام پسے ولاړ یو (نو بیا به څنګه کوو)؟ جناب ابو هریرهؓ ورته اوفرمائیل: په قلاره ئے دځان سره وایه، ځکه ما درسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه هغه فرمائیلی دی چه الله تعالی فرمائی: سورت فاتحه زما اود بنده ترمینځه تقسیم ده... تر آخر دحدیث پورے.

حافظ ابن عبد البرؒ په خپل کتاب الاستذکار کښے لیکي:

وفی حدیث ابي هریره هذا من الفقه: ایجاب القرائه بالفاتحه فی کل صلاه وان الصلاه اذا لم یقرأ بفاتحه الکتاب فهی خداج، والخداج النقصان والفساد، ومن ذلك قولهم: اخدجت الناقه اذا ولدت قبل تمام وقتها وقبل تمام الخلقه، وذلك نتاج فاسد آه.

(انظر امام الکلام ص: ۲۵۲، ومثله فی التمهید لابن عبد البر: ۱۶۷/۶، ۱۶۸، کما فی فتح المالك).

ترجمه: دجناب ابو هریرهؓ په دے حدیث کښے دفقهی مسائلو نه یوه مسئله داده چه: په هر مانځه

کښې دسورت فاتحې لوستل واجب دی، اوکله چه سورت فاتحه اونه لوستلې شی نو مونځ بېکاره دے. او خِداج نقصان او فساد ته وئیلې شی، لکه عرب وائی : اخدجت الناقه هرکله چه يې مودے نېمګړے بېکاره بچے اوزېږوی، چه دا بېکاره زېږون دے آه. ----- امام زرقانی په شرح دالموطا (۱۵۹/۱) کښې لیکی :

فهو حجه قویه علی وجوب قرائتها فی کل صلاه.

ترجمه : دجناب ابو هریرهؓ حدیث په هر مانځه کښې دسورت فاتحې دلوستلو په فرضیت باندے مضبوط دلیل دے

دغه شان دجناب ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

لا تجزئ صلاه لا یقرأ فیها بفاتحه الکتاب، قلت : فان کنت خلف الامام ؟ قال : فاخذ بیدی فقال : اقرأ بها فی نفسك یا فارسی ! ------- (اخرجه ابن خزیمه : ۲٤۸/۱، رقم : ٤۹۰، وابن حبان کما فی الموارد : ۱۲٦، رقم : ٤٥۷، قال الاعظمی : واسناده صحیح وصححه النووی فی شرح مسلم :۱۷۰/۱، وهو فی ابن حبان :۱۳۹/۳) .

ترجمه : هغه مونځ نه کافی کېږی په کوم کښې چه سورت فاتحه اونه لوستلې شی. (دابو هریرهؓ یو شاګرد وائی) ما عرض اوکړو : که زه دامام نه روسته ولاړ یم (نو بیا به هم سورت فاتحه ورپسے وایم ؟) نو جناب ابو هریرهؓ زه دلاسه اونیولم اوراته ئے اووئیل : دځان سره ئے په قلاره وایه اے فارسی (دفارس یعنی ایران اوسېدونکیه) !

امام نووی ؒ په شرح مسلم : ۱۷۰/۱، کښې لیکی :

اقرأ ها فی نفسك : معناه : اقرأ ها سراً بحیث تسمع نفسك . واما ما حمله علیه بعض المالکیه وغیرهم ان المراد تدبر بذلك فلا یقبل، لان القرائه لا تطلق الا علی حرکه اللسان بحیث یسمع، ولهذا اتفقوا علی ان الجنب لو تدبر القرآن بقلبه من غیر حرکه لسانه لا یکون قارئاً مرتکباً لقرائه الجنب المحرمه.

ترجمه : په حدیث کښې د(اقرأ ها فی نفسك – یعنی ځان سره ئے اولوله) معنی داده : چه ځان سره ئے په قلاره قلاره په داسے طریقه وایه چه خپل ځانته ئے اوروے ! اوپاتے شو دبعض مالکیانو وغیره ؤ دا خبره چه ددے نه مراد دادے چه ځان سره پرے سوچ کوه، نو دا تاویل قبول نه دے. ځکه دقرأت اطلاق نه کېږی مګر دژبے په حرکت باندے په دے شان سره چه واورېدلې شی. دا وجه ده چه دعلماؤ په دے خبره

اتفاق دے چه که چرے جنب په خپل زړه سره په غیر دحرکت دژبے نه په قرآن کښے سوچ اوکړو نو دے دجنب دحرام قرأت دقرآن مرتکب نه دے.

ملا علی قاریؒ په المرقات (۵۴۹/۲) کښے لیکی:

اقرأ ها فی نفسك: أی اقرأ ها فی نفسك سراً غیر جهر.

ترجمه: داقرأ ها فی نفسك معنی ده: ځان سره ئے په قلاره قلاره په غیر دجهر نه وایه.

د قرأت خلف الامام په باره کښے د صحابه کرامؓ آثار

۱ – عن یزید بن شریك انه سال عمر بن الخطاب عن القرائه خلف الامام، فقال: اقرأ بفاتحه الکتاب، قلت: وان کنت انت؟ قال: وان کنت أنا. قلت: وان جهرت؟ قال: وان جهرتُ.

(اخرجه البیهقی فی کتاب القرائه ص: ۱۷، وفی السنن الکبری: ۱٦۷/۲، وفی مختصر الخلافیات: ٤۰۵/۱، والدارقطنی: ۳۱۷/۱، قال الدارقطنی: رواته کلهم ثقات. وصححه معلقه ایضاً رقم: ۱۱۹۸، والصغانی فی مصنفه: ۱۳۱/۲، واخرجه البخاری فی جزئه ص: ۱۸، ثم رواه الدارقطنی باسناد آخر وقال: صحیح، واخرجه ابن ابی شیبه: ۳۷۳/۱، وابن حزم فی المحلی: ۲٦٦/۲، والحاکم فی المستدرك: ۲۳۹/۱: ۹۰۸، وصححه ووافقه الذهبی).

ترجمه: دیزید بن شریك نه روایت دے چه ده دعمر فاروقؓ نه تپوس اوکړو په باره دقرأتِ خلف الامام کښے، نو جناب عمر رضی الله عنه ورته اوفرمائیل: سورت فاتحه وایه! یزید بن شریك وائی: ما عرض اوکړو: اګرکه تاسو مونځ کوئ! جناب عمر فاروقؓ اوفرمائیل: اګرکه زه مونځ ورکوم. یزید بن شریك وائی: ما بیا عرض اوکړو: اګرکه تاسو په زوره قرأت کوئ! وے فرمائیل: اګرکه زه په زوره قرأت کووم (خو ته سورت فاتحه لوله).

۲ – وعن حسان بن عطیه ان أبا الدرداء قال: لا تترك الفاتحه خلف الامام جهر اولم یجهر – اخرجه البیهقی فی السنن الکبری: ۱۷۰/۲، وکتاب القرائه ص: ۱۰۱، رقم: ۲۲۹.

ترجمه: ابودرداءؓ فرمائی: فاتحه مه پریده اګرکه امام په جهر سره قرأت کوی یا په جهر سره قرأت نه کوی.

۳ – عن ثابت عن انس قال: کان یامرنا بالقرائه خلف الامام، قال: وکنت اقوم الی جنب انس فیقرأ بفاتحه الکتاب وسوره من المفصل ویسمعنا قرائته لناخذ عنه.

ترجمه : جناب انس بن مالك به مونږ ته په امام پسې روسته دقرأت کولو حکم کولو . ثابتؒ وائی : زه به دجناب انسؓ خواته اودرېدم نو هغه به سورت فاتحه او يو بل سورت دمفصل نه لوستلو او مونږ ته به ئې هم قرأت را اورولو دې دپاره چه مونږ دهغه قرأت زده کړو . ---- (کتاب القرائه خلف الامام ص : ۱۰۱ ، رقم : ۲۳۱) .

٤ – عن عطاء عن ابن عباس قال : اقرأ خلف الامام جهر اولم يجهر .

ترجمه : جناب ابن عباسؓ فرمائی : امام پسې روسته قرأت کوه ، برابره خبره ده که امام په جهر سره قرأت لولی او که په پټه سره . --- اوګوره : کتاب القرائه للبيهقی ص : ۹٦ ، رقم : ۲۱۰ ، ومثله فی ابن ابي شيبه : ۳۷٤/۱ ، والطحاوی : ۲۰٦/۱ .

بل روايت کښې دی کوم چه حافظ ابن عبد البرّ راوړېدې (۱۳۱/۲) :

عن عطاء قال : لا بد ان يقرأ بفاتحه الکتاب فيما يجهر فيه الامام وفيما لا يجهر .

ترجمه : سورت فاتحه لوستل دامام پسې ضروری ده ، برابره خبره ده که هغه مونځونه وی چه امام په کښې په زوره قرأت لولی اوکه هغه وی چه هغه په کښې په پټه قرأت لولی – اوګوره : تحقيق الکلام : ۱۰٦/۱ .

دې باره کښې نور احاديث هم شته او دصحابه کرامؓ آثار هم په کښې ډېر زيات دی لکه د بعضو نومونه دادی :

۱۱ – دابن عمرؓ نه روايت دې چه هغه به دامام نه روسته قرأت کولو .

(اوګوره : جزء القرائه للبخاری ص : ۳۵ ، رقم : ٦۰ ، کتاب القرائه للبيهقی ص : ۹۷) .

۱۲ – وعن امير المؤمنين علی بن ابي طالب –رضی الله عنه – انه کان يامر ان يقرأ خلف الامام فی الرکعتين الاوليين بفاتحه الکتاب وسوره ، وفی الاخريين بفاتحه الکتاب .

ترجمه: دأمير المؤمنين علی بن ابي طالب رضی الله عنه نه روايت دې چه دوئ به حکم کولو په لوستلو دقرأت باندې روسته دامام نه ، په اولنو دوه رکعتونو کښې په سورت فاتحه او يو بل سورت لوستلو باندې ، او په روستنو دوه رکعتونو کښې په صرف سورت فاتحه لوستلو باندې .

(اخرجه البيهقی فی السنن الکبری : ۱٦۸/۲ ، وفی القرائه خلف الامام ص : ۹۳ ، مختصر الخلافيات : ٤۰۵/۱ ، والدارقطنی : ۳۲۲/۱ ، رقم : ۱۲۱٦ ، ۱۲۱۷ ، ۱۲۱۸ ، ۱۲۱۹ ، وقال هذا اسناد صحيح ، والحاکم فی المستدرك : ۳٦۵/۱ ، ۳٦٦ ، وصححه ووافقه الذهبی .

١٣ – وعن ابن ابي الهذيل قال : سئلت ابي بن كعب : اقرأ خلف الامام ؟ قال : نعم .
(اخرجه البیهقی فی مختصر الخلافیات : ٤٠٦/١ ، وفی کتاب القرائه خلف الامام ص : ٩٣، ٩٤، والدارقطنی : ١١٩٩) .
ترجمه : ابن ابي الهذيل ؒ وائی : ما دابیٔ بن کعبؓ نه تپوس اوکړو چه آیا زه امام پسے قرأت کووم ؟ هغه وئیل : آو . ---- بل روایت کښے دی :
عن حسان بن عطیه ان ابا الدرداء قال : لا تترك فاتحه الكتاب خلف الامام جهر اولم یجهر .
(رواه البیهقی فی السنن الکبری : ١٧٠/٢ ، وکتاب القرائه خلف الامام ص : ١٠١) .
١٤ – جناب ابو هریرهؓ هم دقرأت خلف الامام قائل او فاعل وو، لکه دهغه روایت مخکښے ذکر شو .
١٥ – معاذ بن جبل رضی الله عنه .
١٦ – عبد الله بن مغفل رضی الله عنه .
١٧ – جابر بن عبد الله رضی الله عنه .
١٨ – عباده بن صامت رضی الله عنه .
١٩ – ابو سعید الخدری رضی الله عنه .
٢٠ – عائشه أم المؤمنین رضی الله عنها .
٢١ – عبد الله بن مسعود رضی الله عنه .
٢٢ – عمران بن حصین رضی الله عنه .
٢٣ – عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما .
٢٤ – هشام بن عامر رضی الله عنه .
٢٥ – عبد الله بن عمر رضی الله عنهما .
ددے تولو صحابهٔ رضي الله عنهم نه روایت دے چه دوئ په امام پسے قرأت کولو .

د قرأت خلف الامام باره کښے د تابعینوؒ آثار

دغه شان دیے شماره تابعینوؒ نه نقل دی چه دوئ به امام پسے قرأت کولو .
لکه امام بخاریؒ فرمائی :
وقال الحسن، وسعید بن جبیر، ومیمون بن مهران، وما لا احصی من التابعین وأ هل العلم : انه

يقرأ خلف الامام وان جهر، وكانت عائشه تامر بالقرائه خلف الامام.

ترجمه: حسن بصری، سعید بن جبیرؒ، میمون بن مهرانؒ او بې شماره نورو تابعینو او اهل علمو نه نقل دی چه: امام پسے به قرأت کولے شی اګرکه امام په زوره قرأت کوی. او عائشه رضی الله عنها به په قرأت خلف الامام باندے حکم کولو.

اوګوره: جزء القرائه ص: ۲۸، رقم: ۳۰، وکتاب القرائه خلف الامام للبیهقی ص: ۹۹، رقم: ۲۲۲، والمجموع للنووی: ۳۶۵/۳. نو دا د بې شماره تابعینو او نورو علماؤ مذهب دے.

او څوك چه دصحابه کرامؓ او دتابعینو دآثارو تفصیل په دے مسئله کښے غواړی نو هغه دپاره دا کتابونه کتل پکار دی:

۱ – جزء القرائه خلف الامام للامام البخاری. ۲ – کتاب القرائه للبیهقی. ۳ – خیر الکلام فی وجوب الفاتحه خلف الامام، للعلامه مولنا حافظ محمد صاحب ګوندلوی. ٤ – الکواکب الدریه فی وجوب الفاتحه خلف الامام فی الجهریه. للشیخ ابو طاهر زبیر علیزئی. ٥ – امام الکلام مع غیث الغمام للعلامه عبد الحی لکهنوی. ٦ – تحقیق الکلام للعلامه المحدث المبارکفوری. ۷ – السنن الکبری للبیهقی: ۱٦۸/۲، ۱٦۹. مختصر الخلافیات: ۴۰۲/۱، ۲۳۱.

دامذکوره کتابونه مستقل په دے موضوع باندے لیکلے شویدی او په دے تولو کتابونو کښے دا ذکر کړے شوی دی چه مقتدی به په جهری او سری دواړو مونځونو کښے فرض وی که نفل وی امام پسے قرأت کوی.

دقرأت خلف الامام باره کښے دعلماؤ اقوال:

۱ – دتابعینو اقوال خو مخکښے ذکر کړے شول چه بې شماره تابعینؒ دقرأت خلف الامام قائل وو. اوحواله هم ورکړے شوه.

۲ – امام بخاری لکه دوئ په خپل صحیح کښے باب لګولے دے: باب وجوب القرائه فی الصلوات کلها فی الحضر والسفر وما یجهر فیها وما یخافت. دغه شان په دے موضوع باندے ئے مستقل کتاب هم لیکلے دے چه دهغے نوم: جزء القرائه خلف الامام دے.

۳ – امام بیهقی، ده هم په دے باره کښ مستقل کتاب لیکلے: کتاب القرائه.

٤ – امام نووی په المجموع (۳٦٤/۲، وشرح مسلم: ۱٦۹/۱، کښ.

۵ – مولنا نذیر حسین محدث دهلویؒ، فتاوی نذیریه: ۳۹۲/۱، کښې.

٦ – علامه ابو طیب صدیق حسن خانؒ، په الروضۀ الندیه: ۸۸/۱، کښې.

۷ – فتاوی اللجنه – چه دا د سعودي عرب د اوو غټو علماؤ فتاوی ده: ۳۸٤/٦، کښې دی:

الصحیح من اقوال العلماء وجوب قرائه الفاتحه فی الصلاه علی المنفرد والماموم والامام فی الصلاه الجهریه والسریه لصحه الادله الداله علی ذلك وخصوصها.

ترجمه: دعلماؤ په اقوالو کښې صحیح قول دادے چه امام او مقتدی او یواځے مونځ کونکی تولو باندے فاتحه وئیل واجب دی. برابره خبره ده که جهری مونځ وی اوکه سری. دوجے دصحت دهغه دلا ئلو نه چه په دے باندے دلالت کوی اود وجے دتخصیص ددے نه (دمنع دا حادیثو) نه.

۸ – امام ابن حزمؒ په المحلی: ۲٦٥/۲، کښې.

۹ – مولانا حافظ محمد صاحب گوندلویؒ په خیر الکلام فی وجوب الفاتحه خلف الامام کښې.

۱۰ – شیخ ابو طاهر زبیر علیزئی په الکواکب الدریه فی وجوب الفاتحه خلف الامام فی الجهریه کښې.

۱۱ – فتاوی الدین الخالص: ۱۲٤/٤، ۱٤۲) کښې یوه قیمتی رساله لیکلے شویده: مسك الختام فی القرائه خلف الامام.

۱۲ – مولانا ابو یزید عبد القاهر په التحقیقات فی رد الهفوات ص: ۱۷۷، ۲۰۰).

۱۳ –الشیخ ابو الحسن مبشر احمدربانی په (آپ کے مسائل اور ان کاحل: ۱۲۷/۱).

۱٤ – علامه ابن بازؒ په فتاوی هیئه کبار العلماء: ۲۰۰/۱، اوفتاوی اسلامیه: ۲٦۰/۱.

۱۵ – مولانا ابوالوفاء ثناء الله امرتسریؒ په فتاوی ثنائیه: ۵۵۵/۱.

۱٦ – شیخ صالح الفوزان په الملخص الفقهی: ۹۰/۱، کښې.

۱۷ – ابو عبد السلام عبد الرؤف په القول المقبول فی شرح وتعلیق صلاه الرسول ﷺ ص: (۳۷۰) کښې.

۱۸ – قاضی شوکانیؒ په نیل الاوطار: ۲۳۹/۲، کښې.

۱۹ – الشیخ عبید الله مبارکفوریؒ په المرعاه: ۱۰۳/۳، ۱۱۳، کښې.

۲۰ – علامه صنعانیؒ په سبل السلام: ۲٦۱/۱، کښې.

۲۱ – علامه عبد الحی لکهنویؒ په امام الکلام مع غیث الغمام ص: ۲٦۷، مجموعه رسائل

اللکهنوی : ۲٦٧/۳، التعلیق الممجد ص : ۱۰۱، کښې.

۲۲ – علامه ابو طیب محمد شمس الحق عظیم آبادیؒ په عون المعبود شرح سنن ابي داود : ۳۲/۳، کښې لیکی :

قلت : القرائه خلف الامام فیما أسر وفیما جهر هذا هو الحق، والیه ذهب الشافعی واسحق والاوزاعی واللیث بن سعد وابوثور، وبه قال عروه بن الزبیر وسعید بن جبیر والحسن البصری ومکحول.

ترجمه : زه وایم دمقتدی قرائت کول په جهری اوسری دواړو مونځونو کښې همدا حقه خبره ده. اوهمدا مذهب دے دامام شافعیؒ، اسحقؒ، اوزاعیؒ، لیث بن سعدؒ او ابو ثورؒ. دغه شان همدا قول دے دعروه بن الزبیرؓ، سعید بن جبیرؒ، حسن بصریؒ او مکحولؒ (دا تول علماء وائی چه مقتدی به دامام پسے په سری اوجهری تولو مونځونو کښې قرأت لولی) – عون المعبود : ۳۲/۳، للعظیم آبادیؒ.

۲۳ – الامام الجلیل المحقق محمود محمد خطاب السبکی په المنهل العذب المورود شرح سنن ابي داود : ۲٥٤/٥، کښې.

۲٤ – حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری : ۱۹۲/۱، کښې.

۲٥ – علامه ابن قدامهؒ په المغنی : ٥٦٧/۱، کښې.

۲٦ – امام احمد بن عبد الرحمن البناءؒ په بلوغ الامانی شرح الفتح الربانی : ۲۰۰/۳.

۲٧ – شاه ولی الله محدث دهلویؒ په حجه الله البالغه : ۹/۲، کښې.

۲۸ – شیخ ابو عمر عبد العزیز نورستانی دپیغمبر مونځ ص : ۲۰٧، کښې.

۲۹ – شیخ حبیب الله سلفیؒ په هدایه الصلاه ص : ٥۳، کښې.

۳۰ – امام زید الدین ابو الفضل عبد الرحیم بن الحسین العراقی اود هغه ځوئے ابو زرعه په کتاب طرح التثریب فی شرح التقریب : ۲٦۹/۲، کښې.

۳۱ – شیخ ابو عبد الاحد عبد الرحیم مسلم دوست په کشف الابهام عن حقیقه قرائه الفاتحه خلف الامام کښې.

۳۲ – شیخنا العلامه ابو زکریا **عبد السلام** حفظه الله په خپل کتاب (مونځ په رنړا د احادیثو کښې) – دے تولو علماؤ په دغه مذکوره کتابونو کښې لیکلی دی چه مقتدی به په امام پسے جهری اوسری دواړو مونځونو کښې سورت فاتحه وائی.

محققین احناف او فاتحه خلف الامام

محققین احناف هم په سری مونځونو کښې دفاتحه خلف الامام قائل دی :

۱ –لکه علامه عبد الحی صاحبؒ په دې باندې مستقل کتاب لیکلے دے : امام الکلام. اودې په جهري مونځ کښې هم د فاتحے په لوستلو قائل دے لکه مخکښې ذکر شو .

۲ –امام محمدؒ

۳ – امام ابوحنیفهٔ نه هم روایت دے چه مقتدی په سری مونځونو کښې امام پسے قرأت کولے شی. اوګوره : عمده الرعایه : ۱۷۳/۱، غیث الغمام ص : ۱۵۶، ۲۱٦ .

٤ – ابو حفص کبیرؒ.

٥ – شیخ التسلیم هرویؒ .

٦ – ملاعلی قاریؒ .

۷ – شاه عبد العزیز صاحبؒ. اوګوره امام الکلام لمولانا عبد الحي تفصیلاً .

۸ – شیخ ګوهر رحمنؒ. اوګوره تفهیم المسائل : ۲۹۳/٤ .

۹ – شاه اسماعیل شهید صاحبؒ په تنویر العینین ص : ٥٤، کښې .

۱۱ – شاه ولی الله صاحبؒ په حجه الله البالغه : ۹/۲)، کښې .

۱۲ – علامه ابن ابي العز حنفیؒ په التنبیه علی مشکلات الهدایه : ۵۹٦/۲، کښې .

۱۳ – علامه عینیؒ، کما قال العلامه عبد الحی فی غیث الغمام ص : ۱۵٦ .

۱٤ – شاه عبد الرحیم صاحبؒ والد شاه ولی الله دهلوی صاحبؒ، کما فی غیث الغمام ۱۵
– ملا جیون حنفی صاحب : التفسیرات الاحمدیه ص : ۲۲۷ .

د مخالفینو دلائل او دهغے تجزیه

کوم خلق چه امام پسے دسورت فاتحے قائل نه دی، نو صحیح اوحقه خبره داده چه : ددوئ دپاره هیڅ داسے دلیل نشته دے چه هغه دے دسورت فاتحے دلوستلو په منع باندے دلالت اوکړی. اوکوم ته چه دوئ دلائل وائی نو هغه تول عمومات دی، چه څه خو په کښې غیر صحیح دی او څه چه صحیح دی نو هغه غیر صریح دی. او هیڅ داسے صحیح او صریح دلیل دوئ سره نشته دے چه هغه دسورت

فاتحے دلوستلو په ممانعت باندے دلیل جوړ شی. مثلاً یو دلیل ددوئ دادے چه:
۱ – قرآن کریم کښے دی: واذا قرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون.
(کله چه قرآن لوستلے شی نو غوږ کېدئ اوخاموش شئ، دے دپاره چه رحم دربانده اوشی).
۲ – په حدیث کښے دی: من کان له امام فقرائه الامام له قرائه.
(دچا دپاره چه امام وی نو دامام قرأت دده قرأت دے).
۳ – حدیث کښے دی: واذا قرأ فانصتوا.
(کله چه امام قرأت کوی نو تاسو خاموش شئ).
٤ – فانتهی الناس عن القرائه.
(خلق دقرأت کولو نه منع شو).
اودغه شان نور احادیث ذکر کوی – نو داتول مزعومه دلائل یوهم په منع دقرأت خلف الامام باندے دلیل نشی جوړیدے. بلکه ثوك چه دا په دلیل کښے ذکر کوی دهغوی استدلال خطاء دے. لکه دے باره کښے ډیرو علماؤ داخبره کړیده.
مونږ صرف دعلامه عبد الحی لکهنوی حنفی ؒ قول د (گواه از خانه) په بناء باندے ذکرکووم ---- علامه عبد الحی صاحبؒ په التعلیق الممجد علی موطا محمد ص: ۱۰۱، کښے داسے لیکی:
لم یرد فی حدیث مرفوع صحیح: النهی عن قرائه الفاتحه خلف الامام. وکل ما ذکروا فیه: اِما لا اصل له، واِما لا یصح.
ترجمه: امام پسے دسورت فاتحے دلوستلو نه په هیڅ یو صحیح مرفوع حدیث کښے نه ده راغلے، اوتول هغه دلائل چه مانعینو دقرأت ذکر کړیدی نو یا خو بے اصله بے بنیاده دی، اویا صحیح نه دی.
خلاصه: ★ په صحیح اوصریح احادیثو سره سورت فاتحه دقرأت نه مستثنی ده
★ او په جهری مونځونو کښے امام پسے دسورت فاتحے نه علاوه بل سورت لوستل منع دی، ★ اوپه امام پسے دسورت فاتحے په لوستلو باندے امر راغلے دے.
لکه دعباده بن صامتؓ په حدیث کښے دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل:
۱ – فلا تقرؤا بشئ من القرآن اذا جهرتُ، الا بام القرآن.
(کله چه زه قرأت کوم نو تاسو ما پسے قرأت مه کوئ مگر سورت فاتحه لولئ).

بل روایت کښې دي :

۲ – فلا تفعلوا، الا بام القرآن، فانه لا صلاه لمن لم یقرأ بها .

(کله چه زه په زوره قرأت کووم نو ما پسې قرأت مه کوئ، سېوا دسورت فاتحې نه ځکه چه ددې نه بغېر خو مونځ نه کېږي) .

بل روایت کښې دي :

۳ – لا صلاه لمن لم یقرأ بفاتحه الکتاب خلف الامام .

(دامام نه روسته چه څوك سورت فاتحه نه وائي دهغه مونځ نه کېږي) .

٤ – دابو هرېره – رضي الله عنه – قول دې چه : اقرأ بها في نفسك ـ

(ځان سره سورت فاتحه په قلاره واېه) .

٥ – دعمر فاروق – رضي الله تعالي عنه – ارشاد دې :

وان جهرتُ – (اګرکه زه په جهر سره قرأت کووم خو ته ماپسې سورت فاتحه واېه) .

چه ددې تولو احادېثو حوالې سره دتفصېل نه مخکښې ذکر شوې .

نو څوك چه په دې احادېثو عمل نه کوي اوددې په خلاف دقرأت خلف الامام دمنع دپاره دلائل ذکر کوي او په هغې باندې استدلال کوي – نو دهغوئ خبره خطاء ده. لکه مخکښې ذکر شو چه په کومو احادېثو کښې چه دقرأت نه منع راغلې ده هغه عام دي او په هغې کښې دنفس قرأت نه منع راغلې ده – اود قرأت الفاتحه خلف الامام احادېث خاص دي، او په سورت فاتحه وئېلو باندې روستو دامام نه امر راغلې دې. اودا عامه اصوله قاعده ده چه : الخاص یقضي علی العام .

(خاص دلېل عام دلېل لره ختموي) .

یعني : کله چه په مسئله کښې خاص دلېل راشي نو بیا په عام دلېل باندې استدلال کول غلط وي .

نو د قرأت نه دمنع والا احادېثو کښې لفظ د (قرأت) راغلې دې اودا عام لفظ دې. سورت فاتحې او ددې نه علاوه بل یو سورت ته هم شامل دې. لېکن رسول الله ﷺ دا تخصېص اوفرمائېلو چه سورت فاتحه امام پسې لولئ او ددې نه علاوه بل یو سورت – کله چه امام په جهر سره قرأت کوي – مه لولئ .

اودې مسئله کښې هم صحېح اوصرېح احادېث اود صحابه کرامؓ راغلي چه دمقتدي دپاره قرأت

الفاتحه خلف الامام ضروري ده. لکه بعض دهغې نه مخکښې ذکر شول. نو اوس هم چه څوك ددې په مقابله کښې په عموماتو او متشابهاتو باندې استدلال کوي او دسورت فاتحې قرأت دامام پسې منع کوي - نو یقیناً چه ددې خلقو استدلال ضعیف او خطاء دې.

بعض احناف صاحبان په دې مسئله کښې دکذب او غلط بیانۍ نه کار اخلي اوددې په ذریعه امام پسې دسورت فاتحې دلوستلو نه دخلقو منع کولو کوشش کوي لکه:

۱ - یو حنفي مقلد لیکي:

اکثرو صحابه کرامؓ به په امام پسې فاتحه نه لوستله، لکه فقه علی المذاهب الاربعه کښې (۸۰) صحابه کرام ذکر کړي دي چه هغوئ به فاتحه نه وئیله).

۲ - بیا په رسول الله ﷺ باندې دروغ تړي او لیکي:

رسول الله ﷺ امر کړې چه مقتدي دې امام پسې فاتحه پریدي.

۳ - بیا لیکي: دا داکثرو صحابه کرامؓ نه نقل دي، اود ډیرو تابعینوؒ قول دې چه امام پسې به فاتحه نه وائي.

٤ - بیا لیکي: چه دغیر مقلدینو په نزد ددغه صحابه کرامؓ مونځ اونشو الخ.

د مذکوره حنفي د دروغو جواب

۱ - دټولو نه اول خو ده د (الفقه علی المذاهب الاربعه: ۲۳۰/۱) په مصنفؒ باندې دروغ، افتراء او غلط بیاني اوکړه، ځکه چه په دې کښې د (فاتحې) لفظ نشته دې دا سو چه دروغ دي. لکه (الفقه علی المذاهب الاربعه: ۲۳۰/۱) کښې دي:

وقد نقل منع الماموم من القرائه عن ثمانین نفراً من کبار الصحابه الخ.

ترجمه: دمقتدي دقرأت نه منع د اتیا صحابه کرامؓ نه نقل کړې شویده).

نو دلته د(قرأت) لفظ راغلې، نه د (فاتحې). اومونږ مخکښې ذکر کړل چه دقرأت نه دمنع په احادیثو کښې د (قرأت) نه مراد، دسورت فاتحې نه علاوه په جهري مونځ کښې بل سورت لوستل مراد دي. دفاتحې نه منع نه ده راغلې.

بلکه دصحابه کرامؓ نه خو په صحیح اوصریح احادیثو کښې نقل دي چه هغوي به فاتحه لوستله او په دې باندې به ئې حکم کولو، چه ددې تفصیل مخکښې تیر شو. چه مونږ ددغه صحابه کرامؓ

صرف نومونه ذکرکوم او تفصیل به ئې مخکښې کتلے شي :

۱ – عمر فاروق رضی الله عنه.

۲ – علی بن ابی طالب رضی الله عنه.

۳ – ابیٔ بن کعب رضی الله عنه.

٤ – معاذ بن جبل رضی الله عنه.

۵ – عبد الله بن مغفل رضی الله عنه.

٦ – جابر بن عبد الله رضی الله عنه.

۷ – عباده بن صامت رضی الله عنه.

۸ – ابو سعید الخدری رضی الله عنه.

۹ – عائشه أم المؤمنین رضی الله عنها.

۱۰ – عبد الله بن مسعود رضی الله عنه.

۱۱ – عمران بن حصین رضی الله عنه.

۱۲ – عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما.

۱۳ – هشام بن عامر رضی الله عنه.

۱٤ – عبد الله بن عمر رضی الله عنهما.

۱۵ – ابو درداء رضی الله عنه.

۱٦ – عبد الله بن عباس رضی الله عنهما.

۱۷ – انس رضی الله عنه.

ددے تولو صحابه کرامؓ نه په صحیح او صریح الفاظو کښې دا نقل دی چه دوئ به سورت فاتحه لوستله یا به ئې په سورت فاتحه لوستلو باندے امر کولو.

ددے نه علاوه نور صحابه کرام هم شته چه هغه په (جزء القرائه للامام البخاریؒ، کتاب القرائه للبیهقی) کښې تفصیلا ذکر دی.

نو اوس چه څوك چه ددے صحابه کرامؓ په دغه صریح اوخاص او محکم عمل باندے عمل نه کوی اوددے په مقابله کښې په عموماتو او متشابهاتو باندے عمل کوی او دقرأت خلف الامام نه خپله منع کیږی یا نور خلق منع کوی نو آیا دا دعلم اود عقل تقاضا ده ؟ آیا دا په زیغ کښې داخل نه ده ؟

اوکه بالفرض د يو صحابي اثر دے باره کښے راشي چه فاتحه د مقتدي دپاره وئيل نشته، نو بيا ب‌يرته خپل اصل او عامه اتفاقي قاعده باندے به عمل کولے شي چه (قول الصحابي حجه، اذا لم ينفه شئ آخر من السنه) يعنے قول د صحابي په هغه ځائے کښے دليل دے چه کله ددے په مقابله کښے څه مرفوع حديث رانشي.

اوګوره : امام الکلام طبع قديم ص (۲۲۲) طبع جديد (۲۳۵) احياء السنن ص (۳۹) لاشرف علي التهانوي، مرقاه شرح مشکوه (۲۳٤/۲) اعلاء السنن (۱۱٦/۱، ۱۳٤، ۵۰۹) حکم الذکر بالجهر ص (۱۰۵) سرفراز خان صفدر، رد المحتار (۵۵۰/۱).

دے تولو کتابونو کښے دي چه کله مثلاً د يو صحابي قول د رسول الله ﷺ د قول خلاف راشي نو د صحابي قول حجت نه وي، د رسول الله ﷺ د حديث په مقابله کښے به دده قول نه اخستلے کيږي.

نو تاسو اوکتل چه دلته خلاف راځي که نه ؟ ځکه رسول الله ﷺ فرمائي : د مقتدي دپاره د فاتحے نه بغير مونځ نه کيږي، بل حديث کښے دي چه امام پسے فاتحه وائے، د فاتحے نه سيوا قرأت مه کوئ، اوس مثلاً يو صحابي رضی اللہ عنہ نه په صحيح صريح سند سره نقل شو چه فاتحه مه وائے، نو د ايمان اود مخکنئ قاعدے تقاضا څه ده ؟

بل دا چه څه صحيح شو چه ددے صحابي نه نقل شو چه فاتحه مه وائے، او د نورو بے شماره صحابه کرامو رضی اللہ عنہم نه نقل دي چه فاتحه وايئ – نو چه کله ددوو صحابو رضی اللہ عنہم، يا دوه علماؤ يا دوه عوامو اختلاف راشي نو الله تعالي مونږ ته قرآن کښے په څه خبره امر کوي ؟ ﴿ فردوه الي الله والرسول ﴾ . نو رسول الله ﷺ خو فرمائي چه بغير فاتحے نه مونځ نه کيږي .نو په همدے خبره به عمل وي.

۲ – د دغه حنفي **مقلد** دويمه خبره داوه چه :

رسول الله ﷺ وئيلي دي چه مقتدي به امام پسے فاتحه نه وائي.

جواب : مقلد صاحب ! دا حديث چرته دے او سند ئے څنګه دے ؟ دا په رسول الله ﷺ باندے دمقلدينو دروغ تړل دي.

هاؤ، داشته دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي چه دهغه کس مونځ نه کيږي چه امام پسے روستو سورت فاتحه اونه لولي. (لکه مخکښے ذکر شول).

دغه شان رسول الله ﷺ دا فرمائيلي دي چه : ما پسے روستو قرأت مه کوئ ، البته سورت فاتحه لولئ ځکه دسورت فاتحے نه بغير مونځ نه کيږي.

نو ددغه حنفی مقلد نه **سوال** دادے چه څنګه رسول الله ﷺ دفاتحے نه منع کوی او بل په مقام کښے په همدغه فاتحے لوستلو باندے حکم کوی ؟

حقیقت دادے چه داسے هیڅ صحیح او صریح حدیث نشته دے چه هغے کښے امام پسے د فاتحے وئیلو نه منع راغلے وی .لکه مخکښے دعلامه عبد الحی صاحبؒ نه همدا خبره نقل کړے شوه .

نو محکم پریخودل او متشابهو پسے ورپسے کیدل دا هل زیغ کار وی !

۳ – ددغه **مقلد** دریمه خبره داوه : چه اکثر صحابه کرامو او تابعینو امام پسے فاتحه پریخے وه .

جواب : دصحابه کرامؓ متعلق خو مخکښے ذکر شو چه دهیڅ یو صحابی نه دا روایت نشته دے چه هغه بعینه سورت فاتحه پریخی وی .

اود تابعینوؒ په باره کښے دا وئیل چه اکثر تابعینوؒ به فاتحه خلف الامام نه وئیله – دا هم سوچه او ښکاره دروغ دی !

ځکه امام بخاریؒ په خپل کتاب جزء القرائه کښے داسے لیکی :

وقال الحسن، وسعید بن جبیر، ومیمون بن مهران، وما لا احصی من التابعین وأهل العلم : انه یقرأ خلف الامام وان جهر، وکانت عائشه تامر بالقرائه خلف الامام .

ترجمه : حسن بصریؒ، سعید بن جبیرؒ، میمون بن مهرانؒ او بے شماره نورو تابعینوؒ او اهل علمو نه نقل دی چه : امام پسے به قرأت کولے شی اګرکه امام په زوره قرأت کوی . او عائشه رضی الله عنها به په قرأت خلف الامام باندے حکم کولو .

اوګوره : جزء القرائه ص : ۲۸، رقم : ۳۰، وکتاب القرائه خلف الامام للبیهقی ص : ۹۹، رقم : ۲۲۲، والمجموع للنووی :۳/۳۶۵ .

هاؤ ! دګنړو تابعینوؒ نه به دا قول نقل وی چه قرأت مه کوئ !

لیکن مونږ بار بار اووئیل چه دفاتحه دقرأت نه مستثنی اوخاصه شویده په نص درسول الله ﷺ سره .

٤ – دحنفی **مقلد** دڅلورمے خبرے **جواب** دادے چه دا خالص دروغ او افتراء ده چه بعضے نا اهله احناف ئے په غیر مقلدینو پسے کوی .

بلکه دے باره کښے زمونږ فتوی داوره :

څوك چه امام پسے فاتحه نه وائی هغه درے (۳) قسمه خلق دی

۱ – اول : هغه خلق دي چه دلا ئل ئے کتلے وي اودده ذهن دېته رسېدلے وي چه امام پسے فاتحه وئېل نه دي پکار، يعنې ددلا ئلو نه متاثره وي . نو دده مونځ صحيح کېدل لا څه کوے چه دے ماجور هم دے .

۲ – دوېم : هغه کس دے چه (دده په نېز) يو معتمد عالم نه ئے تپوس اوکړو او هغه ورته اووئېل چه امام پسے فاتحه وئېل نشته دے، ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائېلي دي چه : من کان له امام فقرائه الامام له قرائه . دارنگه : لا تقرؤا بشئ من القرآن . وغېره . نودا تپوس کونکے هم ددے احادېثو نه متاثر شو اوامام پسے فاتحه نه وائي نو ددے کس هم مونځ کېږي .(وانما اثمه علي من افتاه) .

۳ – درېم : هغه کس دے چه دلا ئل ئے دسورت فاتحے دوجوب اومشروعېت اوکتل چه امام پسے سورت فاتحه وئېل فرض دي لېکن دے وائي چه (مرا قول ابو حنېفه درکار است – ما را قال قال چه به کار است) يعنې مادپاره دابو حنېفةؒ خبره کافي ده، زما دحدېثو سره څه کار دے ! يا وائي چه : دا دلا ئل دفرضېت دسورت فاتحے اگرکه صحيح او قوي دي لېکن مونږ دابو حنېفه مقلدين يو، نو ځکه دغه احادېث مونږ نشو منلے .

يا وائي چه که په دغه مسائلو کښے اگرکه دامام شافعیؒ وغېره دلا ئل قوي دي خو لېکن که مونږ دامام شافعیؒ وغېره اومنو نو بيا رانه دامام ابو حنېفه تقلېد پاتے کېږي ـ

نو ددے کس حکم دادے چه دا بے ايمانه دے ! داکس دے اول دخپل ايمان غم اوکړي، بيا روسته دے دسورت فاتحے او مونځ غم کوي . دتولو نه اول دده دپاره دخپل ايمان تجدېد پکار دے، په دے خبرے سره دے دايمان نه خلاصېږي . چه درسول الله ﷺ وحي ئے ديو امتي دقول دوجے نه بغېر دڅه وجے پرېخودله، او د رسول الله ﷺ په فېصله باندے راضي نشو --- الله رب العزت فرمائي :

فلا وربك لا يؤمنون حتى يحكموك فيما شجر بينهم ثم لا يجدوا في انفسهم حرجا مما قضيت ويسلموا تسليما .

ترجمه : داسے نه ده ! (بلکه) ستا په رب مے دے قسم وي ! دا خلق تر هغه وخته پورے مؤمنان کېدے نشي ترڅو چه تا فېصله کن اونه گرځوي په هغه اختلافو کښے چه ددوئ ترمېنځه پېدا شوېدي، بيا دوئ په خپلو زړونو کښے ستا دفېصلے نه هېڅ قسم تنگسيا بيا نه مومي بلکه (ستا دفېصلے) ته پوره طريقے سره غاړه کېږدي .

ددے آيت کريمه نه معلومه شوه چه څوك درسول ﷺ سنت په خپلو اختلافاتو کښے فېصله کن

نه جوړوي هغه مؤمن نه دے .

او الله تعالى په يهودو او نصاراؤ باندے رد کوي فرمائي :

اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله الآيه . [التوبه] .

ترجمه : دوئ خپل مُلبان او پيران دالله نه سيوا حلالونکي او حرامونکي جوړکړل .

ددے آيت کريمه نه څرګنده شوه چه څوك دقرآن او حديث په خلاف کښے دچا خبره اومني - سره ددے نه چه دليل ورته اورسيدلو - نو ده ددغه خپل متبوع نه رب جوړ کړو. ځکه اطاعتِ مطلق دا دالله تعالى حق دے .او الله تعالى دخپل رسول ﷺ په اطاعت باندے حکم فرمائيلے دے .

باقي څوك چه دتقليد حکم اود مقلدينو اقسام معلومول غواړي هغه دے زمونږ کتاب اوګوري چه دهغے نوم دے [دتقليد حکم اود مقلدينو اقسام] په خپله موضوع کښے ښه کافي کتاب دے .

هذا وبالله تعالى التوفيق. وصلى الله وسلم على خير خلقه محمد وآله وصحبه واتباعه اجمعين. ۱٦/ رمضان المبارك : ۱٤۲٤ هـ.

په خفيه مونځونو کښے د مقتدي دپاره د فاتحے نه علاوه د نور قرأت کولو حکم

سوال : په هغه مونځونوکښے چه امام په کښے په پټه سره قرأت لولي (يعني سري مونځونوکښے) په مقتدي صرف فاتحه وائي، اوکه سورت هم وئيلے شي ؟

جواب : د مقتدي دپاره امام پسے په جهري مونځونو کښے دفاتحے نه سيوا بل سورت وئيل نه دي جائز، بلکه مقتدي په جهري مونځ کښے امام پسے صرف سورت فاتحه وائي .

اوکله چه امام په قلاره قرأت کوي يا په جهر سره قرأت کوي ليکن مقتدي دامام نه لرے وي اود امام آواز نه آوري، نو په دے دواړو صورتونو کښے دمقتدي دپاره دسورت فاتحے نه علاوه بل يو سورت وئيل افضل اومستحب دي .

په دے خبره دليل دادے :

۱ - عن علي بن ابي طالب - رضي الله عنه - انه كان يامر ويحب ان يقرأ خلف الامام في الظهر والعصر بفاتحه الكتاب وسوره، وفي الاخريين بفاتحه الكتاب .

(اخرجه الدارقطني : ۳۲۳/۱، وقال اسناده : صحيح، واخرجه البخاري، ونحوه في كتاب القرائه

للبیهقی ص : ۹۳، رقم : ۱۹۵، ۱۹۶).
ترجمه : دعلی بن ابي طالب - رضی الله عنه - نه روایت دے چه دوئ به دامام پسے دماسپخین اومازیگر مونځونو په اولنو دوه رکعتونوکښے سورت فاتحه او یو بل سورت لوستلو باندے حکم کولو - اوپا به ئے دا خوښ گنړلو - او په روستنو دوه رکعتونو کښے به ئے صرف سورت فاتحه (لوستل خوښ گنړل).
دغه شان د خلیفه راشد علی رضی الله عنه نه بل روایت کښے نقل دی چه هغه فرمائی :
اذا لم یجهر الامام فی الصلاه فاقرأ بام الکتاب وسوره فی الاولیین من الظهر والعصر بفاتحه الکتاب. وفی الاخریین من الظهر والعصر، وفی الآخره من المغرب وفی الاخریین من العشاء ----
(اخرجه الدارقطنی : ۳۲۲/۱، وهذا اسناد صحیح).
ترجمه : کله چه امام په مانځه کښے جهری قرأت نه کوی نو بیا ته سورت فاتحه او یو بل سورت په اولنو دوه رکعتونو دماسپخین او مازیگر کښے وایه ! دغه شان په روستنی رکعت دماښام او په روستنو دوه رکعتونودماسخوتن مونځ کښے (سورت فاتحه او یوبل سورت وایه !).
۲ - وعن جابر بن عبد الله - رضی الله عنه - قال : کنا نقرأ فی الظهر والعصر خلف الامام فی الرکعتین الاولیین بفاتحه الکتاب وسوره، وفی الاخریین بفاتحه الکتاب.
(رواه ابن ماجه : ۱۴۰/۱، رقم : ۸۴۳، کما فی الارواء، رقم : ۲۸۸/۲، رقم : ۵۰۶، وصفه الصلاه للالبانی ص : ۱۰۰، وصححه الشیخ فی صحیح ابن ماجه والارواء.
ترجمه : جناب جابر بن عبد الله رض فرمائی : مونږ به دماسپخین اومازیگر مونځونو په اولنو دوه رکعتونو کښے دامام پسے روستو سورت فاتحه او یو بل سورت لوستلو، او په روستنو دوه رکعتونو کښے به مونږ صرف سورت فاتحه لوستله.
۳ - وعن عمر بن ابي سحیم قال : کان عبد الله بن مغفل المزنی صاحب رسول الله ﷺ یعلمنا : ان نقرأ خلف الامام فی الظهر والعصر فی الرکعتین الاولیین بفاتحه الکتاب وسوره، وفی الاخریین بفاتحه الکتاب.
(اخرجه البیهقی فی کتاب القرائه خلف الامام ص : ۱۰۲، رقم : ۲۳۵، والبخاری فی جزء القرائه ص : ۳۵، رقم : ۶۱.
ترجمه : عمر بن ابي سحیم رح فرمائی : مونږ ته درسول الله ﷺ صحابی عبد الله بن مغفل رض ددے

تعلیم راکولو چه امام پسے دماسپخین او مازیګر مونځونو په اولنو دوه رکعتونو کښیے سورت فاتحه او یو بل سورت لولو، او په روستنو دوه رکعتونو کښیے دے سورت فاتحه لولو.

٤ –وعن ثابت عن انس قال: كان يامرنا بالقرائه خلف الامام قال: وكنت اقوم الى جنب انس فيقرأ بفاتحه الكتاب وسوره من المفصل ويسمعنا قرائته لناخذ عنه. (كتاب القرائه ص: ١٠١، رقم (٢٣١).

ترجمه: ثابت بنانيؒ نه روایت دے چه انس بن مالكؓ به مونږ ته امام پسے د قرأت کولو حکم کولو، ثابت فرمائي: زه به د انسؓ خواته اودریدم، نو انسؓ به سورت فاتحه او د مفصل نه یو بل سورت هم لوستلو، او مونږ ته به غلے شان خپل قرائت را آورولو دے دپاره چه مونږ دده نه دا واخلو.

٥ – وعن عباده بن الصامت ان رسول الله ﷺ قال: لاصلاه لمن لم يقرأ بام القرآن وفي روايه فصاعداً. – رواه مسلم: ١٦٩/١.

وفي روايه: فما زاد، كما رواه البيهقى: ٥٩/٢، انظر صفه الصلاه للالبانى ص: ٧٣).

ترجمه: دعباده بن صامتؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دهغه چا مونځ نه کیږی چه فاتحه اوددے نه زیات اونه وائی.

(فصاعداً) او (فما زاد) ته بعض علماء شاذ وائی او وائی چه دا متکلم فیه دی. خو راجح داده چه دا صحیح روایت دے خو (فصاعداً) دلته صرف په جواز دلالت کوی، لکه ددے تفصیل په المرعاه للمبارکفوریؒ او درس ترمذی وغیره کښیے کتلے شئ.

ددے ذکر شوو روایاتو نه خو یوه دا مسئله معلومه شوه چه: مقتدی دپاره په امام پسے دسورت فاتحے سره سره یو بل سورت وئیل مستحب دی. بله مسئله تردنه دا هم ثابته شوه چه سورت فاتحه لوستل منسوخ نه دی، لکه څنګه چه بعض خلقو یو لنډ شان جواب زده کړیدے چه کله دده دمذهب یا رائے نه خلاف یو حدیث راشی نو دے فوراً وائی چه دا منسوخ دے. نو دلته څه ناسخ نشته دے. بل دا چه عمر بن ابي سحیمؒ دغه شان ثابتؒ وغیره تابعین دی، او دوئ ته عبد الله بن مغفلؓ دا درسول الله ﷺ دوفات نه پس اوښودله. ثابتؒ دانسؓ نه فاتحه خلف الامام سوره دسورت نه اوریدلے ده.

اوګوره: فتاوى الدين الخالص: ١٨٦/٤. هذا وبالله تعالى التوفيق.

١٩/ رمضان ١٤٢٤هـ.

آمین په زوره وئیل سنت دی

سوال : کله چه امام او مقتدیان مونځ کوی، آیا دوی به آمین په جهر (یعنی په زوره) وائی اوکه په پټه باندے ؟ زمونږ په مسجد کښے بعض کسان په امام پسے آمین په جهر سره وائی او نور کسان ددے سخت مخالفت کوی . او په پټه باندے دآمین وئیلو باره کښے څه فتوی هم راوړی چه بعض دلا ئل ئے دادی :

۱ – ادعوا ربکم تضرعا وخفیه .

۲ – واذکر ربك فی نفسك تضرعا ودون الجهر من القول .

۳ – قال قد اجیبت دعوتکما . وقال عطاء : آمین دعاء (بخاری شریف : ۱۰۷/۱) .

٤ – عن علقمه بن وائل عن ابیه ان النبی ﷺ قرأ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین فقال آمین، وخفض بها صوته – رواه الترمذی : ۵۸/۱، والبیهقی : ۵۷/۲ .

٥ – عن ابي وائل قال : کان عمر وعلی لا یجهران ببسم الله الرحمن الرحیم ولابالتعوذ ولا بتامین . رواه الطحاوی : ۱۵۰/۱، وابن جریر .

٦ – ~~روینا عن عبد الرحمن بن ابي لیلی ان عمر بن الخطاب قال~~ : یخفی الامام اربعا : التعوذ، وبسم الله الرحمن الرحیم، وآمین، وربنا لك الحمد – المحلی لابن حزم .

۷ – عن علقمه والاسود عن ابن مسعود قال : یخفی الامام ثلاثا : بسم الله الرحمن الرحیم وآمین . – المحلی لابن حزم : ۲۰٦/۲ .

۸ – عن الحسن ان سمره بن جندب وعمران بن حصین تذاکرا فحدث سمره بن جندب انه حفظ عن رسول الله ﷺ سکتتین، سکته اذا کبر وسکته اذا فرغ من قرائه غیر المغضوب علیهم ولا الضالین، فحفظ سمره وانکر علیه عمران بن حصین، فکتبا فی ذلك الی ابي بن کعب، وکان في کتابه الیهما اوفی رده علیهما ان سمره قد حفظ، رواه ابوداود : ۱۲۰/۱، والترمذی : ۵۹/۱ .

دا دلا ئل ئے په آمین بالسر (په پټه باندے دآمین) وئیلو ذکر کړی .

اوس **سوال** دادے چه آیا آمین په جهر سره شته دے اوکه نه ؟ که وی نو دلا ئل ئے کوم دی ؟ او آیا په پټه باندے دآمین وئیلو دلا ئل قوی دی او که ضعیف ؟

مونږ ته ددے مسئلے تفصیلی وضاحت اوکړئ دقرآن او سنت په رنړا کښے . اوکه دآمین بالجهر په باره کښے دعلماؤ اقوال ذکر شی نو دا به هم ډیر ښه وی، ځکه زمونږ دمسجد امام وائی چه آمین بالجهر نشته، اودا دوهابیانو کار دے .

بارك الله في علمكم وعمركم!

جواب : الحمد لله رب العالمين والصلاه والسلام على سيد الانبياء والمرسلين محمد وآله واصحابه واتباعه اجمعين الى يوم الدين.

اما بعد : په آمین باندے خو دعلماؤ مستقل کتابونه لیکلی دی چه دهغے کتل پکار دی، لیکن زه دلته ستاسو دسوال مختصر جواب اود هغه دلائلو مختصره تجزیه ذکر کوم چه دلته دآمین بالسر دپاره لیکلے شویدی.

نو اجمالاً په دے خبره ځان پو هه کړئ چه په هیڅ صحیح حدیث کښے دا نشته چه رسول الله ﷺ آمین بالسِر (په قلاره آمین) وئیلے وی، او نه ئے دا وئیلی دی چه آمین په قلاره باندے وایئ! اونه دیو صحابی نه په صحیح سند سره دا ثابت دی چه هغه آمین په پټه باندے وئیلے دے.

لکه علامه عبد الرحمن مبارکفوری ؒ په تحفه الاحوذی: (۲۰۹/۱) کښے لیکی:

ولم يثبت عن احد من الصحابه الاسرار بالتامين بالسند الصحيح، ولم يثبت عن احد الانكار على من جهر بالتامين.

ترجمه: دهیڅ یو صحابی ؓ نه په پټه باندے آمین په صحیح سند سره نه دے نقل، اونه دهیڅ یو صحابی نه په آمین بالجهر کونکو باندے رد ثابت دے.

مونږ اول هغه دلائل ذکر کوو چه آمین بالجهر دپاره دلیل دی، او روسته به دهغه دلائلو حال اودرجه ذکر شی کوم چه دآمین بالاخفاء دپاره دلیل دی.

په جهر سره د آمین وئیلو دلائل

۱ – **اول دلیل :** عن سلمه بن کهیل عن حجر بن عنبس عن وائل – رضی الله عنه – قال : كان رسول الله ﷺ اذا قال : ولا الضالين قال : آمين، ورفع بها صوته. وفي لفظ : ومد بها صوته. وفي روايه : فجهر بآمين. وفي روايه : فسمعناها.

(رواه الترمذي : ۵۸/۱، وابوداود : ۱۳۴/۱، رقم : ۹۳۲، وابن ماجه : ۱۴۲/۱، رقم : ۶۹۶، واحمد : ۲۰۵/۲، والدارقطني : ۳۳۴/۱، والبيهقي : ۵۷/۲، والبخاري في جزء القرائه ص : ۲۳۴، ۲۳۵، وابن المنذر في الاوسط : ۳۸۱/۳، والطبراني في الكبير : ۴۴/۲۲، وابن عبد البر في التمهيد : ۱۴/۷، وابن ابي شيبه : ۴۲۵/۲، والبغوي : ۵۸۶).

ترجمه: دوائل بن حجر – رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به چه کله ولا الضالین

اووئیلو نو آمین به ئے وئیلو او آواز به ئے وربانده اوچت کړو.

په بل روایت کښې دی: او آواز به ئے وربانده اوګد کړو. او په بل روایت کښې دی: چه آمین به ئے په زوره اووئیلو. او په بل روایت کښې دی چه: آمین به ئے اووئیلو او مونږ به واورېدلو.

دا صحیح حدیث دے او په دے خبره دلیل دے چه آمین په زوره وئیل پکار دی.

اود وائل بن حجرؓ نه چه په پټه باندے دآمین وئیلو کوم روایت راغلے هغه ضعیف دے، لکه ددے تحقیق به ان شاء الله روستو راشی.

دوائل بن حجرؓ دآمین بالجهر دے روایت ته ګڼرو محدثینوؒ صحیح وئیلی دی لکه دهغوی نو مونه دادی:

۱- امام بخاری. ۲- او امام ابو زرعه رازیؒ دواړو وئیلی دی چه دآمین بالجهر دا حدیث دشعبه دحدیث نه کوم چه داخفاء بالتامین باره کښې راغلے زیات صحیح دے (ترمذی: ۵۸/۱).

۳- امام ترمذیؒ وائی: داحدیث حسن دے (ترمذی: ۵۷/۱).

٤- حافظ ابن حجرؒ فرمائی: ددے حدیث سند صحیح دے (التلخیص الحبیر: ۲۳٦/۱).

٥- محدث العصر علامه البانیؒ دے حدیث ته صحیح وئیلی دی۔

اوګوره: صحیح الترمذی، صحیح ابی داود، مشکوه الالبانی، صحیح ابن ماجه، سلسله الاحادیث الصحیحه، رقم: ٤٦٥، او صفه صلاه النبی ﷺ للالبانی ص: ۱۰۱.

٦- علامه عبید الله رحمانیؒ فرمائی: دا حدیث صحیح دے. مرعاه المفاتیح: ۱۱۹/۳).

۷- شیخ عبد الحق محدث دهلویؒ کما فی تحفه الاحوذی: ۲۰۹/۱.

۸- علامه عبد الحی لکهنویؒ. التعلیق الممجد ص: ۱۰۱.

۹- علامه مبارکفوریؒ: تحفه الاحوذی: ۲۰۹/۱، ابکار المنن ص: ۱۷۹.

۱۰- فتاوی الدین الخالص: ۱٥٦/٤.

۱۱- شیخ شعیب الارناؤوط: دصحیح ابن حبان په تحقیق: ۱۰۹/٥، کښې لیکی: اسناده قوی.

--- دغه شان ددے نه علاوه نورو بے شماره محدثینو دے حدیث دوائل بن حجرؓ ته صحیح وئیلی دی.

۲- **دویم دلیل**: عن ابی هریره قال: قال رسول الله ﷺ: اذا أمن الامام فامنوا، فانه من وافق تامینه تامین الملائکه غفر له ما تقدم من ذنبه.

(اخرجه البخاری : ۱۰۸/۱، ومسلم : ۱۷٦/۱، والترمذی : ۳۰/۱، رقم : ۲۵۰، والنسائی : ۱٤۷/۱، رقم : ۹۲۵، ۹۲۷، وابن ماجه رقم : ۸۵۱، ومالك : ٦۹/۱، واحمد : ٤۵۹/۲).

ترجمه : دابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : کله چه امام آمین اووائی نو تاسے هم آمین وایئ، ځکه چه دچا آمین دملائکو دآمین سره برابر شی نو ده ته مخکینی تول گناهونه بخښلے کیږی.

دا حدیث دلیل دے په دے چه آمین په جهر سره دے، ځکه که چرے دامام جهر په آمین سرۀ نه وی، نو مقتدی به دامام آمین څنگه واوری، او هغه سره څنگه موافقت اوکړی ! اوکه امام په پټه آمین اووائی نو مقتدی به څنگه دهغه سره آمین اووائی ؟

اودے حدیث باندے امام بخاریؒ، امام نسائیؒ، امام ابن ماجهؒ او نورو گڼرو علماؤ په آمین بالجهر سره استدلال کړیدے (صحیح ابن ماجه : ۲۸٦/۱).

لکه علامه سندی حنفي دنسائی او ابن ماجه په حاشیه لیکی :

اخذ منه المصنف الجهر بآمین، اذ لو اسر الامام بآمین، لما علم القوم بتامین الامام، فلا یحسن الامر اياهم بالتامین عند تامینه، وهذا استنباط دقیق، مرجعه ما جاء من التصریح بالجهر، وهذا هو الظاهر المتبادر آهـ.

اوگوره : حاشیه السندی : ۱٤۷/۱، علی النسائی. والمرعاه للعلامه المبارکفوری : ۱۱۹/۳).

ترجمه : مصنفؒ ددے حدیث نه جهر په آمین سره اخستے دے، ځکه که چرے امام په قلاره آمین اووائی نو مقتدیان به دامام په آمین باندے خبر نه شی، نو بیا مقتدیانو ته دا امر مناسب نه دے چه کله امام آمین وائی نو تاسو دغه وخت آمین وائے. اودا باریك استنباط دے چه ددے مرجع هغه تصریح ده چه په آمین بالجهر باندے راغلے ده. او همدا خبره ښکاره او ذهن ته زر راتلونکے ده.

علامه خطابیؒ په معالم السنن : ۲۲۳/۱، کښے لیکی :

وفیه دلیل علی ان رسول الله ﷺ کان یجهر بآمین، ولولا جهره به لم یکن لمن یتحری متابعه فی التامین علی سبیل المدراکه طریق الی معرفته، فدل انه کان یجهر به جهراً یسمعه من ورائه.

ترجمه : او په دے حدیث کښے دلیل دے په دے خبره چه رسول الله ﷺ به آمین په زوره وئیلو، ځکه که په چرے په زوره ئے نه وئیلے نو هغه مقتدیانوچه په آمین وئیلو کښے درسول الله ﷺ متابعت کوی هغوئ به دهغه آمین وئیل نه پیژندلے، نو په دے حدیث کښے راهنمائی ده دے خبرے ته

چه رسول الله ﷺ به داسې په زوره آمېن وئېلو چه دهغه نه روستو خلقو به اورېدلو .

حافظ ابن القيمؒ په اعلام الموقعېن (۳۵۷/۲) کښې فرمائی :

ولولا جهر بالتامېن لما امکن الماموم ان ېؤمن معه وېوافقه فی التامېن .

ترجمه : که چرې امام په زوره آمېن نه وئېلې نو بیا دمقتدی دپاره دا ممکنه نه ده چه دامام سره شرېك آمېن اووائی او دهغه سره په آمېن وئېلو کښې موافقت اوکړی .

علامه عبد الرؤف مناویؒ فرمائی :

وفېه ندب التامېن للامام خلافا لمالك، ورفع صوته به اذ لو لم ېجهر لما علم تامېنه الماموم .

ترجمه : په دې حدېث کښې دامام دپاره آمېن وئېل مستحب دی . په دې کښې صرف امام مالك خلاف کړېدې . دغه شان دا حدېث دلېل دې په دې چه آمېن به امام په جهر سره وائی ځکه که امام آمېن په زوره اونه وائی، نو مقتدی ته دده آمېن وئېل نه معلومېږی . دا تول اقوال د علماؤ مو ځکه ذکر کړل چه څوك اونه وائي چه دلته جهر نشته .

۳ - درېم دلېل :

عن ابي هرېره قال : قال رسول الله ﷺ : اذا فرغ من قرائه أم القرآن رفع صوته وقال آمېن .

ترجمه : دابو هرېرهؓ نه رواېت دې چه رسول الله ﷺ به چه کله دسورت فاتحې وئېلو نه فارغ شو نو آواز به ئې اوچت کړو او آمېن به ئې اووئېلو .

(اخرجه الدارقطنی : ۳۲۹/۱، رقم : ۱۲۵۹، وقال : هذا اسناد حسن، والحاکم : ۲۲۳/۱، وقال : صحېح علی شرط الشېخېن، ولم ېخرجاه بهذا اللفظ، وصححه الذهبی فی تلخېصه اېضا، ومثله فی ابي داود : ۱۳۵/۱، رقم : ۹۳٤، وابن ماجه رقم : ۸۵۳، وابن حبان :۱٤۷/۳، وابن خزېمه : ۲۸۷/۱ . ٤۹۹، والبخاری : ۱۰۸/۱) .

٤ - **څلورم دلېل** : وعن عائشه - رضی الله عنها - انهم (الېهود) لا ېحسدوننا علی شئ کما ېحسدوننا علی ېوم الجمعه التی هدانا الله وضلوا عنها، وعلی القبله التی هدانا الله لها وضلوا عنها، وعلی قولنا خلف الامام آمېن .

(ېعنی : رسول الله ﷺ فرمائی : ېهودېان په هېڅ ېو څېز باندې مونږ سره دومره زېات حسد اوکېنه نه کوی لکه څومره چه دجُمعې په ورځ، بېت الله ته مخامخ کېدلو او په امام پسې روستو په آمېن وئېلو باندې مونږ سره حسد کوی) .

(اخرجه احمد : ۱۳٤/٦، ۱۳۵، مصباح الزجاجه : ۲۹۷/۱، وابن ماجه : ۸۵٦، وابن خزیمه : ۲۸۸/۱، رقم : ۵۷٤، والبیهقی : ۵٦/۲، وفی مجمع الزوائد للهیثمی : ۱۵/۲، والبخاری فی التاریخ الکبیر : ۲۲/۱، والادب المفرد : ۹۹۱، کنز العمال : ۹۷/٤، رقم : ۲۰۳۵، و ۲۰٤۲، والطبرانی فی الاوسط، والمنذری فی الترغیب : ۱۹۲/۱، وصفه الصلاه للالبانی ص : ۱۰۲، وصححه فی صحیح ابن ماجه وصفه صلاه النبی ﷺ والصحیحه : ٦۹۱. ومثله عن ابن عباس ومعاذ وانس وابی هریره - رضی الله تعالی عنهم اجمعین).

دا حدیث ښکاره دلیل دے په دے خبره چه په مانځه کښے آمین په جهر سره وئیل سنت طریقه ده، ځکه که آمین په زوره سره اونه وئیلے شی او یهودیان ئے وانه وری نو هغوئ به بیا مونږ مسلمانانو سره په آمین وئیلو باندے څنګه حسد اوکړی ؟

بلکه ددے نه هم ډیر صریح روایت حافظ ابن حجرؒ په خپل کتاب : المطالب العالیه : ۱۲۳/۱، کښے ذکر کړیدے چه :

ان یهودیاً مر باهل مسجد وهم یقولون : آمین. قال الیهودی : والذی علمکم آمین انکم لعلیٰ حق.

ترجمه : یو یهودی په یو مسجد والو باندے په داسے وخت کښے تیر شو چه هغوئ آمین وئیلو. نو هغه یهودی اووئیل : قسم دے په هغه ذات چه تاسو ته ئے آمین درخودلے دے چه تاسو خامخا په حق باندے یئ.

فائده : حافظ ابن عبد البرؒ لیکلی دی چه امام احمد بن حنبلؒ به دهغه کس نه ډیر سخت خفه کیدو چه چا به آمین بالجهر بد ګڼړلو، او دا به ئے وئیل چه درسول الله ﷺ فرمان دے : چه یهودیان تاسو سره په بل هیڅ څیز دومره زیات بغض اوحسد نه کوی څومره چه په آمین باندے کوی.

اوګوره : تمهید دابن عبد البر : ۱۵/۷، والقول المقبول فی شرح وتعلیق صلاه الرسول ص : ۳٦٦، لابی عبد السلام عبد الرؤف.

مطلب : داچه دیهودیانو صفت دادے چه په آمین بالجهر باندے غصه کیږی او خفه کیږی. نو څوک چه په دے خفه کیږی په هغه کښے دیهودیانو صفت دے.

اودا حدیث بالکل صحیح دے امام البانیؒ په صحیح ابن ماجه : ۱٤۲/۱، رقم : ٦۹۷، تعلیق الرغیب : ۹۷۸/۱، او الصحیحه : ٦۹۱، کښے صحیح کړیدے. امام بوصیریؒ فرمائی : چه دا حدیث

صحیح دے .

٥ – پنځم دلیل : عن عطاء قال : امن ابن الزبیر ومن ورائه حتی ان للمسجد للجه .

ترجمه : امام عطاءؒ نه روایت چه عبد الله بن زبیر – رضی الله عنه – اوهغه نه روستو ولاړ مقتدیانو آمین دومره په زور سره اووئیلو چه مسجداوکړنګیدو .

دا حدیث امام بخاریؒ په خپل صحیح : ۱۰۷/۱، کښے تعلیقاً راوړیدے . دغه شان اوګوره مسند شافعی : ۱٥، ۲۱۲، البیهقی : ٥۹/۲، عبد الرزاق : ۹٦/۲، ۹۷، ابن منذر : ۱۳۲/۳، محلی ابن حزم : ۲٦٤/۳، ابن ابي شیبه : ۱۸۸/۲، درر التاج . ومثله عن عکرمه التابعی، انظر مصنف ابن ابي شیبه : ۱۸۷/۲ .

٦ – شپږم دلیل : وعن عطاء بن ابي رباح قال : ادرکت مائتین من اصحاب النبی ﷺ فی هذا المسجد – المسجد الحرام – اذا قال الامام : ولا الضالین، رفعوا أصواتهم بآمین .

(رواه البیهقی : ٥۹/۲، وابن حبان فی الثقات : ۲٦٥/٦، المرعاه : ۳/ ۱۲) .

ترجمه : عطاء بن ابي رباحؒ فرمائی : ما دوه سوه (۲۰۰) صحابه کرام په دے مسجد حرام کښے موندلی دی چه کله به امام ولا الضالین اووئیلو نو دوئ به په اوچت آواز سره آمین وئیلو .

امام عطاءؒ دامام ابوحنیفهؒ استاذ دے . امام ابوحنیفهؒ دخپل استاذ عطاء بن ابي رباحؒ په باره کښے داسے فرمائی :

ما رأیت مثله – میزان الاعتدال : ۷۰/۳، رقم : ٥٦٤۰ .

ما دده پشان کس نه دے لیدلے .

فائده : درسول الله ﷺ نه ددغه دور نه را واخله تراوسه پورے مسجد حرام او مسجد نبوی په آمین بالجهر باندے کړنکیږی . دحاجیانو نه تپوس اوکړئ !

نو چه مسجد حرام او مسجد نبوی دڅوارلس سوه کالونه راپه دیخوا په آمین بالجهر باندے کړنګیږی ، نو بیا داحنافو مسجدونه ولے دآمین ددے خوږ آواز نه چپ او خاموشه دی ؟

زما محترمو مسلمانانو رونړو ! دا سنت ژوندی کړئ او دخپلو مسجدونو نه د **حرمینو شریفینو** پشان مسجدونه جوړ کړئ ـ

(صلاه الرسول ص : ۲۱۰، للسیالکوتیؒ) .

فائده ثانیه : ددے نه دا هم معلومه شوه چه آمین بالجهر منسوخ نه دے او ابن زبیرؓ چه په

مسجد حرام کښې آمېن بالجهر وئېلو نودا درسول الله ﷺ دوفات نه پس ئے وئېلے دے، ځکه عطاء بن ابي رباحؒ تابعی دے او هغه آمېن په جهر سره اورېدلو .نو آیا درسول الله ﷺ دوفات نه پس هم ګنے یو حکم شرعی منسوخ کېدے شی ؟

په آمېن بالجهر وئېلو باندے دصحابه کرامؓ اجماع ده

علامه مبارکفوریؒ په تحفه الاحوذی (۲۰۹/۱) کښې لیکی :

ولم یثبت من احد من الصحابه الاسرار بالتامین بالسند الصحیح ولم یثبت عن احد منهم الانکار علی من جهر بالتامین.

فقد ثبت اجماع الصحابه – رضی الله عنهم – علی الجهر بالتامین علی طریق الحنفیه. فانهم قالوا : ان ابن الزبیر افتی فی زنجی وقع فی بئر زمزم بنزح مائها، وذلك بمحضر من الصحابه ولم ینکر علیه احد فکان اجماعاً. فکذلك یقال : ان ابن الزبیر امن بالجهر فی المسجد بمحضر من الصحابه ولم ینکر علیه احد، بل وافقوه وجهروا معه بآمین حتی کان للمسجد للجه فکان اجماع الصحابه علی الجهر بالتامین.

ترجمه : دهېڅ یو صحابیؓ نه په پټه باندے آمېن په صحیح سند سره نه دے نقل، اونه دهېڅ یو صحابی نه په آمېن بالجهر کونکو باندے رد ثابت دے. یقیناً په آمېن بالجهر باندے داحنافو داصول مطابق دصحابه کرامؓ اجماع شوېده (ددے دلیل دادے) چه احناف وائی : چه کله زنجی دزمزم په کوهی کښې اوغورزېدلو نو عبد الله بن الزبیرؓ فتوی ورکړله چه دمزم دکوهی اوبه اوباسئ، نو دابن الزبیرؓ دا خبره هېڅ یو صحابیؓ رد نه کړله نو دا اجماع شوه. نو دغه شان (داحنافو ددے قاعدے مطابق) چه کله عبد الله بن زبیرؓ دصحابه کرامؓ په حضور کښې آمېن بالجهر اوکړ، او هېڅ یو صحابیؓ په ده باندے رد اونه کړو، بلکه دغه صحابؓو دده سره موافقت اوکړو او په جهرئے ورسره آمېن اووئېلو تردے چه مسجد اوکړنګېدلو، نو په آمېن بالجهر وئېلو باندے هم دصحابه کرامؓ اجماع راغله.

د آمېن بالجهر باره کښې دعلماؤ اقوال

۱ – علامه عبد الحی لکهنویؒ فرمائی :

والانصاف ان الجهر قوی من حیث الدلیل.

ترجمه : انصاف دادے چه دآمېن بالجهر دلائل قوی دی. التعلیق الممجد ص : ۱۰۱ .

سعایه شرح شرح الوقایه (۱/۱۳۶) یا (۲/۱۷٦) کښې فرمائی:

لقد طفنا سنینا بهذا البیت طرا أجمعین، فوجدنا بعد التامل والامعان: ان القول بالجهر بآمین هو الاصح، لکونه مطابقا لما روی عن سید بنی عدنان وروایه الخفض عنه ﷺ ضعیفه، لا توازی روایات الجهر آه. وأی ضروره داعیه الی حمل روایات الجهر علی بعض الاحیان او الجهر للتعلیم، مع عدم ورود شئ من ذلك فی روایه. والقول: بانه کان فی ابتداء الامر أضعف لان الحاکم قد صححه من روایه وائل بن حجر - رضی الله عنه - وهو انما اسلم فی اواخر الامر کما ذکره ابن حجر فی فتح الباری.

ترجمه: مونږ ډیر اوګرځیدلو لکه چه تاسو اوګرځیدلے ډیرکلونه، لیکن پس دغور او فکر نه دا خبره مونږ ته ثابته شوه چه په زوره آمین وئیل ډیر زیات صحیح یعنی بهتر دی، ځکه چه درسول الله ﷺ دقول او فعل سره مطابق دی، اوپه پټه سره دآمین وئیلو چه کوم روایتونه راغلی دی هغه ضعیف دی. اودے خبرے ته هیڅ ضرورت نشته چه (احناف وائی:) آمین ئے کله کله وئیلے دے، او یا ئے آمین دتعلیم دپاره په زوره وئیلے دے. ځکه دا دواړه خبرے په هیڅ روایت کښے نه دی راغلی. اوداخبره خو ډیره ضعیفه ده چه څوك وائی چه دا آمین بالجهر په ابتداء داسلام کښے وو (او بیا منسوخ شو) ځکه چه امام حاکمؒ په صحیح سند سره دآمین بالجهر روایت دوائل بن حجرؓ نه راوړیدے او وائل بن حجرؓ دنبی کریم ﷺ دزندګئ په آخر کښے ایمان راوړیدے. لکه څنګه چه حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښے ذکر کړی دی.

اوکوم اثر چه دابراهیم نخعیؒ وغیره نه ذکر کولے شی په باره دآمین بالاخفاء کښے نو هغه دغه اثر دجهری روایتونو مقابله نشی کولے.

اوګوره: التحقیقات فی رد الهفوات ص: ۲۱۷. آمین بالجهر لمولانا محمد یحیی ګوندلویؒ ص: ۱۷٤.

۲ - شاه اسمعیل شهیدؒ په خپل کتاب: تنویر العینین ص: ۷۱، کښے لیکی:

ان الجهر بالتامین اولی من خفضه.

ترجمه: په زوره آمین وئیل دپټ وئیلو نه غوره دی.

۳ - شیخ عبد الحق محدث دهلویؒ په اشعه اللمعات شرح مشکوه کښے لیکی:

درباره آمین بالجهر احادیث اکثر واصح آمده است.

ترجمه : دآمین بالجهر په باره کښې ډیر او زیات صحیح حدیثونه راغلی دی.
دغه شان همدا شیخ عبد الحق دهلوی ؒ په مدارج النبوه (۴۰۱/۱) کښې لیکی :
ودر آخر فاتحه آمین میگفت در نماز جهری به جهر ودر سرّی بخفیه ومقتدیان بموافقت آمین کفتند ودرجهر بتامین در نماز جهر احادیث واقع شده.
ترجمه : رسول الله ﷺ به دسورت فاتحې په آخر کښې آمین وئیلو په جهری مانځه کښې به ئې چه جهر سره وئیلو او په خفیه مونځونو کښې به ئې په قلاره آمین وئیلو. او مقتدیانو به هم درسول الله ﷺ موافقت کولو، اوپه جهری مونځونو کښې په جهر سره آمین وئیلو کښې احادیث راغلی دی.
--- (مدارج النبوه مترجم اردو : ۵۹۶/۱).
۴ – مولانا محمد احمد حنفی ؒ دترمذی په فارسی شرح کښې څلور واړه مذاهب بیانوی لیکی :
دآمین بالجهر روایات زیات او ډیر صحیح دی.
(ابکار المنن ص : ۱۱۹، آمین بالجهر للشیخ محمد یحی گوندلوی ص : ۱۷۴).
۵ – علامه ابن الهمام حنفی ؒ دهدایه په شرح فتح القدیر (۲۵۷/۱) طبع باکستان (۱۰۷/۱) طبع مصر کښې لیکی :
ولو کان الی فی هذا شئ لوافقت بان روایه الخفض یراد بها عدم القرع العنیف وروایه الجهر بمعنی قولها فی زیر الصوت وذیله یدل علی هذا ما فی ابن ماجه : کان ﷺ اذا تلی غیر المغضوب علیهم ولا الضالین قال : آمین، حتی یسمع من فی الصف الاول فیرتج بها المسجد.
ترجمه : که په دې معامله کښې ماځه اختیار لرلے نو ما به داسې تطبیق کړے وو چه کوم روایت کښې چه په رو وئیل ذکر دی دهغې مطلب ډیر په تیزه او په زوره نه وئیل دی، اود جهر دروایت مطلب لږ اوچتول او په نرم آواز وئیل دی، او په دې خبره باندې دابن ماجه روایت دلالت کوی چه رسول الله ﷺ به چه کله غیر المغضوب علیهم ولا الضالین اووئیلو نو آمین به ئې وئیلو تردې چه اول صف والو به واوریدلو، نو دآمین وئیلے دوجې نه به مسجد اوکړنګیدو. -- دپیغمبر مونځ ص : ۲۰۴) للشیخ ابو عمر عبد العزیز.
۶ – پیران پیر شاه عبد القادر جیلانی ؒ په خپل کتاب غنیه الطالبین کښې لیکی :
والجهر بالقرائه وآمین.
ترجمه : دماښام، ماسخوتن او سحر مونځونو کښې به په قرأت او آمین په جهر سره وئیلے شی –

(غنیه الطالبین : ۱/ ۱۰)۔

۷ – اشرف علی تهانوی صاحبؒ په امداد الفتاوی کښے دیو سوال په جواب کښے لیکی : **سوال** : آمین بالجهر کهنا جائز هے یا نهین ؟

جواب : جائز هے جیسا که عدم رفع بهی جائز هے اور مرجح احد الشقین کا تحقیق هے یا تقلید .

ترجمه : سوال : آمین په زوره وئیل جائز دی اوکه نه ؟

جواب : جائز دی لکه څنګه چه په پټه وئیل جائز دی،په دے دواړو جانبینو کښے ترجیح ورکول دتحقیق دوجے نه دی یا دتقلید دوجے نه . اوګوره : امداد الفتاوی : ۱/ ۱٤۸ .

مطلب دا چه چه څوك ئے په جهر وائی اوکه په پټه خو دیو وجے نه خالی نه دی یا خو دتقلید په وجه لکه چه مقلدین ئے کوی که احناف وی که شوافع، اویا دتحقیق په وجه لکه اهل حدیث یا محققین مقلدین ئے چه کوی . اوګوره دپیغمبر مونځ ص : ۲۰۶ .

۸ – دغه شان علامه صنعانیؒ په سبل السلام : ۱/ ۲٦۵، کښے :

۹ – شیخ الاسلام ابن القیمؒ په اعلام الموقعین : ۲/ ٤۳۰، ٤۳۲، کښے په آمین بالجهر باندے ډیر زیات دلا ئل ذکر کړی دی . اوګوره : جامع الفقه لابن القیم : ۲/ ۸۲، ۸٦ .

۱۰ – فتاوی نذیریه : ۱/ ٤۳٤، ٤۵۱، تفصیلا لسید نذیر حسین محدث دهلوی صاحبؒ

۱۱ – فتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلمیه والافتاء : ٦/ ٤۲۰، ٤۲٤ .

۱۲ – مغنی المحتاج للخطیب الشربینی الشافعی : ۱/ ۲۷٤ .

۱۳ – التحقیقات فی رد الهفوات ص : ۲۱۲، ۲۱۸ .

۱٤ – دپیغمبر مونځ ص : ۲۰۱، ۲۰۷، اونیل المرام شرح بلوغ المرام : ۱/ ۲۲۲ .

۱۵ – آمین بالجهر مسلك احناف کا مدلل جواب قرآن حدیث کی روشنی مین .

دآمین باره کښے مستقل کتاب دے . للشیخ محمد یحیی ګوندلویؒ

۱٦ – فتاوی الدین الخالص : ٤/ ۱۵٦ .

۱۷ – صحیح البخاری : ۱/ ۱۰۷ : امام المحدثین أمیر المؤمنین فی الحدیث، محمد بن اسماعیل البخاری رحمه الله .

۱۸ – آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن وحدیث کے روشنی مین : ۱/ ۱۱۵ .

۱۹ – السنن الکبری : ۲/ ۵٦، ۵۹، طبع بیروت .

۲۰ – المغنی لابن قدامه : ۵٦٥/۱ . ٦٧٧ .
۲۱ – فتح الباری :۲۰۸/۲ .
۲۲ – فتاوی ثنائیه : ٤٥٤/۱، ٤٨٤، للامرتسری ؒ
۲۳ – فقه السنه : ۱۲۳/۱، للسید سابق ؒ.
۲٤ – صفه صلاه النبی ﷺ ص : ۱۰۲، سلسله الاحادیث الصحیحه : ٨١/٦، رقم الحدیث :۲۵۳٤ . کلاهما للشیخ الالبانی ؒ.
۲۵ – تنقیح تحقیق احادیث التعلیق : ۳٦٧/۱، للحافظ ابن عبد الهادی .
۲٦ – احیاء علوم الدین : ۲٧٥/۱ . دویم جزء ص : ۸۳ . للغزالی .
۲٧ – نیل الاوطار : ۲٤٤/۲، للشوکانی ؒ.
۲۸ – الانصاف فی معرفه الراجح من الخلاف : ۵۱/۲، لعلاء الدین المرداوی ؒ.
۲۹ – الروضه الندیه شرح الدرر البهیه : ۱۰۱/۱، طبع بیروت لصدیق خانؒ.
۳۰ – القول المتین فی الجهر بالتامین . مستقل رساله . للشیخ زبیر علی زئی .
۳۱ – تیسیر الرحمن لبیان القرآن : ۱٤/۱، للدکتور محمد لقمان السلفی حفظه الله .
۳۲ – مرعاه المفاتیح شرح مشکوه المصابیح : ۱۱۹/۳، للشیخ عبد الله رحمانی ؒ.
۳۳ – تحفه الاحوذی شرح سنن الترمذی : ۲۰۹/۱ .
۳٤ – فتاوی برکاتیه ص : ٤۲، للشیخ ابو البرکات احمدؒ .
۳۵ – صلوه الرسول ﷺ ص : ۲۰٧، ۲۱۳ ، لمولانا محمد صادق سیالکوتی .
۳٦ – تفسیر احسن الکلام : ۳٤/۱، ۳٦، لشیخنا العلامه ابو زکریا السید عبد السلام حفظه الله ورعاه .
۳٧ – بلوغ الامانی من اسرار الفتح الربانی لترتیب مسند الامام احمد بن حنبل الشیبانی : ۲۰۵/۳، طبع بیروت للشیخ احمد بن عبد الرحمن البناء .
۳۸ – المجموع شرح المهذب : ۳٧۲/۳، ۳٧۳، اوشرح مسلم : ۱٧٦/۱، کښې امام نووی ؒ
فرمائی : ویسن للامام والمنفرد الجهر بالتامین وکذا للماموم علی المذهب الصحیح .
ترجمه : دامام او یوائې مونځ کونکی دواړو دپاره په زوره آمین وئیل سنت دی دغه شان دصحیح مذهب مطابق مقتدی دپاره هم مسنون دی .

۳۹ – هدایه الصلاه ص : ۸۱، ۸۲، للشیخ حبیب الله السلفی ؒ.

۴۰ – کتاب طرح التثریب فی شرح التقریب للعراقی : ۲۶۷/۲، ۲۶۸.

په پټه باندے دآمین وئیلو دلائل او دهغے تجزیه

۱ – قال الله تعالی : ادعوا ربکم تضرعا وخفیه، الآیه.

۲ – واذکر ربك تضرعا وخیفه ودون الجهر من القول، الآیه.

۳ – قال قد أجیبت دعوتکما الآیه.

موجوده احناف په آمین بالاخفاء باندے دصحیح او واضح دلائلو دنشتوالی په وجه دے نظرئیے ته زبردست شهرت ورکړیدے چه آمین دعاء ده اودعاء په پټه ئیل پکار دی. اودغه ذکر شوی آیتونه په دلیل کښے پیش کوی.

لیکن دغه آیتونه حق دی – خو ددے نه دآمین په قلاره وئیلو باندے استدلال کول باطل اوغلط دی. اوددے ډیر وجوه دی :

۱ – اوله وجه : کله چه دآمین بالجهر په باره کښے صحیح، محکم او غیر منسوخ احادیث موجود دی. نو ددے په مقابل کښے په دغه ذکر شوو آیتونو باندے دآمین بالاخفاء دپاره استدلال کول جهالت، حماقت او په دین کښے تناقض راؤخکل دی. ځکه که دا اومنل شی چه آمین دعاء ده، نو په کوم پیغمبر ﷺ چه دغه ذکر شوی آیتونه نازل شوی دی همدغه پیغمبر ﷺ مونږ ته دا وئیلی دی چه آمین په جهر او زوره سره وایئ ! او هغه په خپله هم آمین په جهر او زوره سره وئیلو. اود رسول الله ﷺ دوفات نه پس صحابه کرامؓ هم آمین په جهر سره وئیلے دے لکه مخکښے دصحیح بخاری (۱۰۷/۱) روایت کښے، اود امام عطاءؒ په قول کښے تیر شو.

دغه شان دابو هریرهؓ عمل په دے خبره گواه دے چه هغه به په مروان خلیفه باندے دا شرط لګولے وو چه مانه به آمین مخکښے نه وائے، او ابو هریرهؓ به آمین په زوره وئیلو.

اوګوره : مصنف عبد الرزاق (۹۶/۲) ابن ابي شیبه : ۴۲۵/۲، وتعلیق التعلیق : ۳۱۸/۲، الکبری للبیهقی : ۵۹/۲.

اود امام عطاءؒ روایت – چه صحابه کرامؓ به په مانځه کښے په زوره سره آمین وئیلو – په صحیح بخاری : ۱۰۷/۱، السنن الکبری للبیهقی : ۸۵/۱، ۸۶، رقم : ۲۴۵۴، ۲۴۵۵، کښے ذکر دے، یا

۵۶/۳، ۵۹، باختلاف الطبع.

۲ – دوېمه وجه: دصحېح احادېثو په مقابله کښې دقرآن کرېم په عموماتو باندې استدلال کول اوصحېح احادېث په دې آېتونو سره رد کول داهلِ زېغو او مبتدعېنو اود دمنکرېنِ حدېث طرېقه ده.

★ اودا داسې مثال لرې لکه ېو کس اووائې چه:

په مزدلفه اوعرفات کښې جمع بېن الصلاتېن نشته. او په دلېل کښې دا آېت پېش کړې چه: ان الصلاه کانت علی المؤمنېن کتابا موقوتا، الآېه.

(بېشکه مونځ په مؤمنانو باندې په خپل خپل وخت فرض دې).

نو په دې آېت کرېمه باندې دجمع بېن الصلاتېن نه کولو دپاره استدلال کول غلط او باطل دې. ځکه چه په مزدلفه اوعرفات کښې دجمع بېن الصلاتېن دپاره صحېح احادېث راغلې دې. نو لکه څنګه چه دا استدلال باطل دې دغه شان دآمېن بالجهر په باره کښې دراغلو صحېح احادېثو په مقابله کښې په عام آېتونو باندې استدلال کول باطل دې.

★ يا لکه ېو کس اووائې چه دپړانګ، لېوه، خر، سپې، پېشو وغېره ددې تولو خوړل جائز دې، ځکه چه قرآن کرېم کښې راځې: ﴿ واحل لکم بهېمه الانعام الا ما ېتلی علېکم ﴾. (مائده: ۱).

ترجمه: حلال شوې دې تاسو دپاره څاروې مګر هغه چه پتاسو باندې لوستلې کېږې.

نوددې کس استدلال به هم په جواز ددغه حېواناتو باندې په دغه آېت کرېمه باندې خطاء او باطل وې، ځکه چه په صحېح احادېثو سره ددې حېواناتو خوړل حرام دې.

بعېنه دآمېن بالجهر مثال هم داسې دې چه په صحېح احادېثو کښې راغلې دې چه رسول الله ﷺ به آمېن په **جهر** اوزوره سره لوستلو اوصحابه کرامؓ به هم په جهر سره لوستلو، اود رسول الله ﷺ دوفات نه پس به ئې هم آمېن په جهر لوستلو.

اوس چه څوك بيا هم دا وائې چه آمېن دعاء ده اوقرآن کرېم کښې الله تعالی فرمائې: چه دعاء په پته وئېل پکار دې، نو لهذا آمېن هم په پته وئېل پکار دې. نوددې کس دا استدلال به داسې خطاء او غلط وې لکه ددغه مخکنو استدلال چه غلط او خطاء وو. چاچه دجمع بېن الصلاتېن درد کولو دپاره په آېت: ﴿ ان الصلاه کانت علی المؤمنېن کتابا موقوتا ﴾ سره استدلال کړے وو. دغه شان چاچه دپړانګ، ګېدړ، لېوه، خر او سپې خوړلو دجواز دپاره په ﴿ الا ما ېتلی علېکم ﴾ باندې استدلال کول غلط دې. نو دا تول په دلېل کښې دقرآن کرېم آېتونه پېش کوې. لېکن استدلال ئې ترېنه غلط او

ګمراه کن دے. چه د (کلمه حق یرید بها الباطل) مصداق ګرځیدلے دے.

نواحناف به دے کسانو ته څه جواب کوی چه وائی حج کښے جمع بین الصلاتین نشته، یا وائی چه لیوه، ګیدړ، پړانګ وغیره جائز دی. او استدلال په قرآن کریم باندے کوی؟ ښکاره خبره ده چه احناف به هغوی ته وائی چه ولے تاسو درسول الله ﷺ احادیث نه منئ!! ولے دا نه دی راغلی په احادیثو کښے چه پړانګ، لیوه سپے وغیره حرام دی؟ ولے دا نه دی راغلی چه په حج کښے جمع بین الصلاتین شته دے. اوتهیك ده چه په آیت کریمه کښے کتاباً موقوتاً راغلے دے لیکن مونږ دلته په حدیث باندے عمل کوو،او دحج موقع کښے جمع بین الصلاتین ددے نه خاص او مستثنی دی.

(اوګوره معارف القرآن: ۵۷۹/۳) لمفتی محمد شفیع صاحبؒ.

فما هو جوابكم عن تلك الاعتراضات فهو جوابنا عن اعتراضكم.

نو مونږ احنافو ته بعینه داسے جواب کوو کوم چه دوئ مثلاً منکرین احادیثو ته کوی. مونږ وایو چه تهیك ده آیت کښے خو دا راغلی دی چه دعاء په پټه وئیل پکار دی لیکن مونږ دصحیح احادیثو په بناء باندے په جهر سره آمین وایو، او دا ددغه آیت نه خاص او مستثنی دے.

۳ – دریمه وجه: کله چه ددے آیتونو معنی – داحنافو دخیال مطابق – داشوه چه هر قسم دعاء په پټه باندے کول پکار دی. نو اوس زمونږ سوال دادے چه بیا ولے رسول الله ﷺ په جهر سره دعاګانے کولے؟ دغه شان ولے صحابه کرامؓ اوتابعینؒ په جهر سره دعاء کوله؟ مثلاً درسول الله ﷺ ددعاء طریقه: داوه چه رسول الله ﷺ دزندګئ په هره شعبه کښے دعاء کریده، دکور نه واخله تر میدان جنګ پورے دعاګانے ترینه ثابتے دی. صحابه کرامؓ درسول الله ﷺ نه په مختلفو ځایونو کښے دعاګانے یادے کړی دی، په دے کښے اکثره داسے دعاګانے دی چه رسول الله ﷺ دومره په جهر سره کړی دی چه صحابه کرامؓ اوریدلی دی او هغه ئے مونږ ته رانقل کړی دی. داسے قسم دعاګانے دومره دی چه تواتر ته رسیدلی دی.

که چرے هغه دعاګانے تولے څوك اولیکی کومے به چه رسول الله ﷺ په جهر سره کولے نو یقیناً چه په دے باندے به یو غټ کتاب اولیکلے شی.

لیکن زه دلته یو څو دعاګانے دمشت نمونه خروار په طور لیکم

۱ – دقرض نه پناه غوښتلو دعاء. دانسؓ نه روایت دے چه مابه درسول الله ﷺ نه اکثر وخت دا دعاء اوریدله چه:

اللهم انی اعوذ بك من الهم والحزن، والعجز والكسل،والبخل، والجبن، وضلع الدين، وغلبه الرجال. بخاری مع الفتح : ٨٦/٦.

٢ – قنوت نازله : انه سمع النبی ﷺ اذا رفع رأسه من الركعه الآخره من الفجر يقول : اللهم العن فلاناً وفلاناً.

چه ددے تفصيل په فتاوی الدين الخالص : ٥٨٧/٥، ٦٠١، کښے کتلے شئ.

٣ – دانصارو په باره کښے دعاء : وعن ابن عمر رضی الله عنهما انه سمع النبی ﷺ يقول : اللهم اغفر للانصار ولابناء الانصار. بخاری مع الفتح : ٣٦٥/٧. ٦٥٠/٨.

٤ – دقبر دعذاب نه پناه : عائشه صديقهؓ فرمائی : ما درسول الله ﷺ نه واورېدلو چه هغه دعذاب قبر نه پناه غوښتله. بخاری مع الفتح : ١٧٤/١١.

٥ – دفرض مانځه نه روسته دعاء : وعن المغيره بن شعبه انه قال : سمعت رسول الله ﷺ يقول خلف الصلاه : لا اله الا الله وحده لا شريك له، اللهم لامانع لما اعطيت ولا معطی لما منعت ولا ينفع ذا الجد منك الجد. – بخاری.

٦ – درسول الله ﷺ آخری دعاء :

اللهم اغفر لی وارحمنی والحقنی بالرفيق الاعلی. بخاری مع الفتح : ١٢٧/١٠.

عائشه رضی الله عنها فرمائی : رسول الله ﷺ دخپل وفات نه مخکښے دا دعاء وئيله تردے چه روح مبارك ئے دبدن نه اووتلو.

سنت تقريری :

١– فضاله بن عبيدؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ديوکس نه واورېدل چه په مانځه کښے ئے دا دعاء کوله ..... الحديث. ترمذی مع التحفه : ٢٥٣/٤.

٢ – عن مسلم بن ابي بكره قال : سمعنی ابی وانا اقول : اللهم انی اعوذ بك من الهم والكسل وعذاب القبر،قال : يا بنی ممن سمعت هذا ؟ قال : قلت : سمعتك تقول هذا، قال : الزمهن فانی سمعت رسول الله ﷺ يقولهن. رواه الترمذی : ١٦٨/٣، رقم : ٢٧٨٤. وسنده صحيح.

ترجمه : مسلم بن ابي بكرهؓ فرمائی : ما نه زما پلار دا دعاء واورېدله : اللهم انی اعوذ بك من الهم والكسل وعذاب القبر. نو زما پلار مانه تپوس اوکړو چه ځويه ! دادے دچانه اورېدلے ده ؟ ما ورت اووئېل : تاسو نه مے اورېدلے ده چه تاسو وئېله. نو زما پلار ماته اووئېل چه دا ضرور وايه ځکه چه ما

درسول الله ﷺ نه اورېدلی دی چه دا دعائے وېله

دا حدېث او مخکنے حدېث دواړه په دے دلېل دی چه په دعاء کښے جهر مشروع اوجائز دے. او هره دعاء په پټه کول ضروری نه دی.

دغه شان مخکنی حدېث کښے رسول الله ﷺ ددغه صحابی نه دعاء اورېدلے ده لېکن رسول الله ﷺ هغه ته دا نه وئېلی چه دعاء به په پټه کوے او تا دقرآن خلاف کړېدے. دغه شان درېم حدېث کښے دی چه دصحابی ځوئے هم دعاء په زوره وئېله ځکه ئے پلار ترېنه واو رېدله، دغه شان پلار ئے چه صحابی هم دے په جهر سره دعاء کړېده ځکه چه ځوئے ورته اووئېل چه ما تانه اورېدلے ده. دغه شان رسول الله ﷺ هم په جهر سره دعاء کړېده ځکه چه دغه صحابیؓ وائی چه ما درسول الله ﷺ نه اورېدلے ده.

۳ – وعن سعېد بن المسېب قال : صلېت وراء ابی هرېره علی صبی لم ېعمل خطېئه قط، فسمعته ېقول : اللهم اعذ من عذاب القبر.

ترجمه : سعېد بن المسېبؒ فرمائی : ما دابو هرېرةؓ پسے دجنازے مونځ اوکړو په ېو ماشوم باندے چه لا تراوسه پورے ئے هېڅ ګناه نه وه کړے نو ماد ابو هرېرةؓ نه دا دعاء واورېدله : اللهم اعذه من عذاب القبر. (ېا الله ! دے عذاب قبر نه اوساته).

اوګوره : مشکاه : ١٤٧/١).

٤ – وروی البخاریؒ تعلېقاً قال : ېقرأ الحسن علی الطفل فاتحه الکتاب وېقول : اللهم اجعله لنا سلفاً وفرطاً وذخراً واجراً. مشکاه : ١٤٧/١، ١٤٨.

الغرض : درسول الله ﷺ نه، اود صحابهؓ او تابعېنؒ نه نېولے تر ننه پورے دعاء بالجهر ثابته ده.

ددے نه ښکاره او صفا طور سره دا خبره معلومېږی چه که چرے په جهر سره دعاء کول دقرآن کرېم خلاف وے نو رسول الله ﷺ اودهغه صحابه کرامؓ به هېڅ کله هم په جهر سره دعاء نه کولے، بلکه ددے نه به ئے سخته منع کولے.

مګر رسول الله ﷺ داسے نه دی کړی بلکه دهغه په خپله عملی نمونه پېش کړه، چه دعاء په اوچت آواز اوصوت مسموع سره بلا شبه جائز ده.

(اوګوره : آمېن بالجهر للشېخ محمد ېحېی ګوندلویؒ).

ددے نه په مطلق دعاء کښے دجهر جواز معلومېږی. اوآمېن بالجهر کښے خواحادېث اوآثار

دصحابه کرامؓ هم بے شماره راغلی چه آمین په زوره وئیل سنت دی.

(٤) – **څلورمه وجه**: په دے آیت کریمه باندے دآمین بالاخفاء دپاره استدلال کول ځکه غلط او خطاء دی چه: مخالفین هم بعضے دعاګانے په جهر سره کوی، لکه دوئ هم په جهری مانځه کښے اهدنا الصراط المستقیم، صراط الذین انعمت علیهم غیر المغضوب علیهم ولا الضالین، په جهر سره وائی کله چه په جهری مونځ کښے امامتی کوی. دغه شان په مانځه په قرآن کریم بے شماره دعاګانے دوئ هم په جهر سره وائی.

بلکه عجیبه خولا داده چه بعضے مبتدعینو کښے خو دیهودو صفت دے آمین بالجهر وریاندے ډیر زیات بے اندازے بد لګی، او آمین بالجهر پسے توقے کوی، دیته رمبارے وائی اود امین بالجهر ښکاره دشمنان دی، حال داچه دوئ خو دسنتو، فرضو نه روسته په عامو اوقاتو کښے دعاګانے په جهر سره کوی. سره ددے نه چه دا قسم دعاګانے ثابتے هم نه دی. او بل طرفته چه کومه دعاء (آمین بالجهر) په صحیح احادیثو سره ثابت دی هغه نه کوی – ان هی الا فتنك تضل بها من تشاء!

نو مونږ ددے قسم احنافو نه تپوس کوو چه آیا سورت فاتحه دعاء ده که ښیرے دی؟

که چرے دعاء وی نو بیا ولے تاسو په جهری مونځونو کښے دامامتئ کولو په وخت دا په جهر سره وائے؟ آیا دا دعاء نه ده؟ که چرے دعاء وی او تاسو ئے په جهر سره وائے نو آیا دا د (ادعوا ربکم تضرعاً وخفیه) نه مخالفت دے اوکه نه؟ که چرے مخالفت نه وی نو بیا دآمین بالجهر باره کښے ولے دیته مخالفت وایئ!

معلومه شوه چه دا استدلال ہو غلط او بے بنیاده استدلال دے۔

۲ – داحنافو دویم دلیل:

واذکر ربك تضرعاً وخیفه ودون الجهر من القول، الآیه.

ترجمه: یادوه خپل رب په عاجزئ اویته سره اوخکته دزوره وینا نه.

بعض متعصب مقلدینو په دے آیت کریمه باندے هم دآمین بالاخفاء دپاره استدلال کوی. **جواب**: په دے آیت کریمه باندے دآمین بالسر دپاره استدلال کول غلط او باطل دی، چه ددے دابطال ډیرے وجے دی:

۱ – کله چه دآمین بالجهر باره کښے صحیح احادیث راغلل نو بیا ددے په مقابله کښے په عموماتو باندے استدلال کول دتعصب اوجهالت نه سیوا هیڅ نه دی.

۲ – ډېر داسې اذکار شته چه هغه په جهر سره کول بالا تفاق ضروري دي، اوډېر داسې دي چه په هغې باندې جهر کول بالا تفاق جائز دې. لکه آذان، اقامت، دحج تلبيه، تکبيرات العيدين، سلام اوډهغې جواب، دقرآن کريم تلاوت، دمانځه نه روسته الله اکبر وئيل، دوترونه روسته تسبيحات وئيل اوداسې نور!

نو آمين هم ددغه اذکارو نه يو ذکر دې چه دا په جهر سره مشروع شوېدې.

ددې تفصيل دپاره دعلامه عبد الحي لکهنوی ؒ رساله اوګوره: سباحه الفکر في الجهر بالذکر. او مجموعه رسائل اللکهنوي: ۴۵۹/۳. علامه عبد الحي ؒ په دې رساله کښې دا ثابته کړېده چه په ذکر سره جهر غير مفرط جائز دې. او په دې باندې ئې (۴۹) احاديث په دليل کښې ذکرکړي دي.

حاصل دا چه: تاسو آذان، اقامت، تلبيه الحج، تکبيرات العيدين او نور اذکارو باندې جهر کول چه په کوم دليل باندې جائز ګنړئ بالکل په هم هغه دليل باندې مونږ هم آمين بالجهر جائز ګنړو. فما هو جوابکم فهو جوابنا.

۳ – دآمين بالاخفاء دقائلينو دريم دليل:

احناف په دليل کښې دامام عطاءؒ دا قول هم پيش کوي:

قال عطاء: آمين دعاء. – صحيح بخاري: ۱۰۷/۱.

۱ – **جواب**: داخبره مونږ مخکښې ذکر کړه چه هره دعاء په پټه باندې نه وي، بلکه ډېرې داسې دعاګانې دي چه درسول الله ﷺ اود هغه صحابه کرامؓ نه په جهر سره ثابت دي، اوددې مثالونه ذکر شو.

۲ – دا په دليل کښې احناف هله پيش کولې شي کله چه دې باره کښې څه احاديث او آثار نه وې راغلي، نو بيا احنافو وئيلې شو چه آمين په قلاره وئيل پکار دي ځکه آمين دعاء ده. حال دا چه دلته خو الحمد لله مونږ سره صحيح احاديث شته دې لکه بعضې دهغې نه مخکښې ذکر شو.

۳ – لکه څنګه چه امام عطاءؒ دا وئيلي دي چه آمين دعاء ده، نو ورسره همدغه امام عطاءؒ دا هم وئيلي دي چه: آمين به صحابه کرامؓ په جهر اوزوره سره وئيلو تردې چه مسجد به اوکړنګېدلو. اوګوره: صحيح بخاري: ۱۰۷/۱.

دغه شان امام عطاءؒ دا هم وئيلي دي چه ما دوه سوه (۲۰۰) صحابه کرامؓ موندلي دي چه هغوی به آمين په جهر سره وئيلو، لکه مخکښې دالبيهقي اوابن حبان روايتونه ذکر کړې شول. بلکه

مصنف عبد الرزاق : ۹۷/۲، کښې داسې ذکر دی :

ابن جریجؒ فرمائی : قال : قلت لعطاء : آمین ؟ قال : لا أدعها أبداً، قال اثر أمّ القرآن في المکتوبه والتطوع ؟ قال : ولقد کنت اسمع الائمه یقول علي اثر ام القرآن : آمین، هم انفسهم ومن ورائهم حتی ان للمسجد للجه.

ترجمه : ما عطاءؒ ته عرض اوکړو : آمین وئیل پکار دي ؟ هغه وئیل : زه هیڅکله دا نه پریدم، هغه بیا عرض اوکړو : په فرضو او نفلو دواړو کښې به د سورت فاتحې نه پس آمین (په زوره) لولي ؟ عطاءؒ اوفرمائیل : مابه د امامانو نه آوریدل چه د سورت فاتحې نه پس به ئې دوئ په خپله او ددوئ مقتدیانو داسې په زوره آمین وئیلو چه د مسجد به کړنګار اوکړو.

٤ - څلورم دا چه : آمین مستقله دعاء نه ده، بلکه دا ختم الدعاء دے. ددے وجې نه که یو کس صرف آمین، آمین وائی نودابه دعاء نه وی. نو هرکله چه آمین مستقله دعاء نه ده بلکه ختم الدعاء یا متعلق ددعاء دے، نو چه دعاء په زوره وی نو ختم الدعاء - آمین - به هم په زوره وی، اوچه دعاء په پته وی نو آمین به هم په پته وی. نو ددے عقلی تقاضا نه ولے احناف حضرات سرغړو نه کوی !!

٤ - داحنافو څلورم دلیل :

عن علقمه بن وائل عن ابیه ان النبی ﷺ قرأ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین فقال : آمین، وخفض بها صوته. - رواه الترمذی : ۵۸/۱.

ترجمه : دعلقمه بن وائل دخپل پلار نه درسول الله ﷺ دا ارشاد نقل کوی چه کله نبی ﷺ غیر المغضوب علیهم ولا الضالین اولوستلو نو آمین ئې اووئیلو او آواز ئې وریاندے خکته کړو.

سوال : احناف وائی دا حدیث دلیل دے په دے چه آمین په پته وئیل پکار دی. دغه شان دوی وائی چه دوائل بن حجرؓ حدیث مسند احمد، حاکم مسند ابو یعلی وغیره کښې هم راغلے او هلته هم دادی چه : رسول الله ﷺ آمین په پته اووئیلو.

(مسند احمد : ۱۱۱/۳، حاکم : ۲۳۲/۲، مسند ابو یعلی، دارقطنی : ۳۲۸/۱، نصب الرایه : ۲۸۹/۱، بیهقی : ۵۷/۲.

جواب : دا هغه بنیادی روایت دے چه په دے باندے داحنافو داستدلال مدار دے.

نواول : دلته مونږ ددے روایت په سند بحث کوو، څکه دسند صحت او ضعف چه کله اوپیژندلے شی بیا فیصله کول آسان دی. دویم : دروایت په معنی باندے بحث کوو.

اول : دآمېن بالاخفاء دروايت دسند حال :

نو ياد ساته چه ددے روايت چه څومره طرق داسناد دی دا مختلف فېه الفاظ دی، ددے تولو دارو مدار او انحصار صرف په امام شعبهؒ باندے دے . اود امام شعبهؒ نه لکه څنګه چه په پته باندے دآمېن وئېلو روايت نقل دے نو دغه شان دهمدے امام شعبهؒ نه دآمېن بالجهر روايت هم نقل دے، لکه ابن حبان په خپل صحېح : ١٤٦/٤ ، کښے او امام بېهقی په خپل سنن : ٥٨/٢، کښے روايت کړی دی چه : رافعاً بها صوته. چه په آمېن به ئے آواز اوچتولو .

اودے تائېد ډېرو محدثېنو هم کړے، مګر د(خفض اواخفاء) روايت چه امام شعبهؒ نقل کړے په دے کښے امام شعبهؒ يواځے دے، دخفض او اخفاء دروايت تائېد يو محدث هم نه دے کړے، اودغه شان نه دآمېن بالسر وئېلو روايت تائېد په بل موقوف يا مرفوع روايت باندے شوے . بلکه محدثېنو خو په واضحو او ښکاره الفاظو سره دا خبره کړېده چه دآمېن بالاخفاء په روايت کښے امام شعبهؒ خطاء شوېدے .

په خپله امام ترمذیؒ په خپل جامع (٥٨/١) کښے وئېلی دی چه امام شعبهؒ دآمېن په پټ وئېلو روايت کښے درے ځائے خطاء شوېدے . چه يو په هغه ځايونوکښے دادے چه امام شعبهؒ د(رفع بها صوته) په ځائے (خفض بها صوته) وئېلے دے . بيا امام ترمذیؒ دامام المحدثېن اوأمېر المؤمنېن فی الحدېث امام بخاریؒ قول را نقل کړېدے چه فرمائی :

سمعت محمدا يقول : حدېث سفېان اصح من حدېث شعبه واخطأ .

ترجمه : ما دامام بخاریؒ نه واورېدل چه هغه وئېلے : دسفېان ثوریؒ حدېث – چه په هغے کښے آمېن بالجهر دے – غوره دے دحدېث شعبهؒ نه، او شعبهؒ په دے کښے خطاء دے .

اودا فېصله صرف دامام بخاریؒ نه بلکه دا فېصله امام ابو زرعهؒ هم کړېده لکه هغه هم امام ترمذیؒ په سنن الترمذی (٥٨/١) کښے نقل کړېده . دغه شان دا فېصله امام دارقطنیؒ هم کړېده لکه هغه فرمائی :

وېقال : انه وهم فېه لان سفېان الثوری ومحمد بن سلمه بن کهېل وغېرهما رووه عن سلمه فقالوا : ورفع صوته بآمېن، وهو الصواب .

ترجمه : وئېلے شی چه امام شعبهؒ په دے کښے په وهم (غلطئ) کښے پرېوتے دے . ځکه چه سفېانؒ او محمد بن سلمهؒ او نورو محدثېنوؒ دا روايت دسلمه بن کهېلؒ نه نقل کړېدے او هغوئ تولو وئېلی دی

چه آمين ئې په اوچت آواز اووئيلو، او همدا صحيح خبره ده.
(دارقطنى: ۳۳٤/۱، تحفه الاحوذى: ۲۱۱/۱.
امام بيهقىؒ خو دا خبره نوره هم واضحه کړېده لکه ليکى:
قد اجمع البخارى وغيره من الحفاظ على ان شعبه اخطا فى هذا الحديث فقد روى عنه فجهر بها.
ترجمه: امام بخارىؒ اونور حفاظِ حديث په دې باندې اجماع کړېده چه شعبهؒ په دې روايت کښې غلط شوېدې، ځکه چه دسلمهؒ نه خو دا روايت داسې راغلې دې چه په آمين ئې په اوچت آواز اووئيلو. - (بحواله: آمين بالجهر ص: ۱۲۳).
حافظ ابن حجرؒ خپله فيصله په دې الفاظو سره کوى:
وقد رجحت روايه سفيان بمتابعه اثنين له، بخلاف شعبه فلذلك جزم النقاد بان روايته اصح.
ترجمه: دسفيانؒ حديث ته (چه آمين بالجهر سره دې) ددوو تائيدونو په وجه سره دشعبهؒ په روايت باندې ترجيح ورکړې شوېده، (اود شعبهؒ يو متابع هم نشته) دې وجې نه داحاديثو ناقدينو امامانو مضبوطه فيصله کړېده چه دسفيانؒ حديث ډير زيات صحيح دې. - اوګوره: التلخيص الحبير: ۳۳۸/۱، يا: ۲۳۷/۱، آمين بالجهر مسلك احناف کا مدلل جواب: ۱۲۳، ۱۲۵، تفصيلاً، لمولانا محمد يحيى ګوندلوىؒ.
دا خو ددې بيان وو چه امام شعبهؒ په دې روايت کښې خطاء شوېدې، او قارئينو دشعبهؒ په روايت باندې دمحدثينوؒ جرح اوکتلې.
محدثينو چه د سفيانؒ روايت ته ترجيح ورکړېده چه هغه آمين بالجهر وئيل دى اود شعبهؒ روايت ته ئې ضعيف وئيلې چه هغه آمين په پټه وئيل دى - نو دا ئې بغير ددليل نه نه ده ورکړې، بلکه دمحدثينوؒ په دې **فيصله** باندې ډير دلائل موجود دى:
(۱) - دترجيح دپاره يو غټ دليل دادې چه امام سفيانؒ چه دوائل بن حجرؓ نه روايت دجهر نقل کړې نو دامام سفيانؒ سره متابع (تائيد) موجود دې، چه ددې تائيد ډيرو محدثينوؒ هم کړېدې، او نور مرفوع احاديث ئې هم کوى، لکه مخکښې په آمين بالجهر باندې ډير دلائل ذکر شول.
(۲) - دويمه وجه داده: چه دامام شعبهؒ نه هم دآمين بالجهر روايت نقل دې، لکه مخکښې دابن حبان او بيهقى په حواله د شعبهؒ روايت کښې هم آمين بالجهر ذکر شو.

(۳) – درېمه وجه : دامام شعبهٌ وهم دے، اوهغه ده ته به په خپل روايت کښے شك پرېوتلو، كله (خفض) روايت كوى، اوكله (اخفى) روايت كوى، لهذا دشعبهٌ روايت مضطرب شو، اوگوره : بلوغ الامانى شرح مسند احمد الشيبانى : ۲۰۵/۳ .

(٤) – څلورمه وجه داده : چه په دے باندے دعلماؤ اتفاق دے چه كله دامام سفيانٌ او شعبهٌ ترمېنځه اختلاف راشى نودامام سفيانٌ روايت ته به ترجيح وركولے شى او صرف د هغه روايت به قابل قبول وى، اوددے په مقابل كښے به دامام شعبهٌ روايت ناقابل قبول وى، لكه ددے تفصيل په دے طور سره دے :

۱ – امام ابن عيينهٌ فرمائى :

ما بالعراق احد يحفظ الحديث الا سفيان .

ترجمه : په عراق كښے دسفيانؒ نه علاوه بل هېڅوك هم داحاديثو حافظ (يادونكے) نشته . (شرح علل الترمذى ص : ۱۲۵) .

۲ – امام احمد بن حنبلؒ فرمائى :

سفيان احفظ للاسناد واسماء الرجال من شعبه وبقول سفيان آخذ .

ترجمه : سفيانٌ ډېر زيات ښه يادونكے دے دسندونو او اسماء الرجال دپاره دشعبهٌ نه، نوددے وجے زه (احمدٌ) دسفيانٌ خبره اخلم .

اسحق بن هانئؒ فرمائى : ما دامام احمدٌ نه تپوس اوكړو چه كه چرے په يو حديث كښے دسفيانٌ او شعبهٌ اختلاف راشى نو دچا په حديث به عمل كولے شى ؟ نو امام احمدٌ اوفرمائيل : دسفيانٌ په حديث به عمل كوم ! (اوگوره : شرح علل ترمذى ص : ۱۲۵) .

۳ – امام يحيى بن سعيدٌ فرمائى :

ما رأيت احدا احفظ من سفيان، ثم شعبه، ثم هشيم، وذكر شعبه وسفيان، فقال : سفيان اقل خطا،لانه يرجع الى كتاب وقال : سفيان اثبت من شعبه واعلم بالرجال .

ترجمه : ما دسفيانٌ نه غټ حافظ بل څوك نه دے ليدلے، دهغه نه روسته بيا شعبهٌ، دهغه نه روسته دهشيم درجه ده . سفيانٌ ډېره كمه غلطى كوى، (ځكه هغه به خپل كتاب ته رجوع كوله) دغه شان سفيان دشعبه نه زيات قوى او عالم بالرجال وو .

(شرح علل الترمذى ص : ۱۲۵) .

٤ – امام ابن معینؒ فرمائی : اذا خالف شعبهُ سفیان فالقول قول سفیان .
ترجمه : کله چه شعبهؒ دسفیانؒ خلاف اوکړی نو خبره به دسفیانؒ معتبره وی .
(اوګوره : نصب الرایه : ۳٦۹/۱) .
٥ – دامام صالح جزرهؒ تحقیق : سفیان احفظ من شعبه .
(سفیانؒ دشعبهؒ نه زیات حافظ دے . (تذکره الحفاظ ص : ۲۰٦) .
٦ – دامام ابوداودؒ رائے :
ولیس یختلف سفیان وشعبه فی شئ الا یظفر به سفیان وخالفه فی اکثر من خمسین حدیثا ، القول فیها قول سفیان .
ترجمه : په هیڅ څیز کښے دسفیانؒ اود شعبهؒ اختلاف نه دے راغلے مګر په هغے کښے سفیانؒ وریاندے کامیاب شویدے، او امام شعبهؒ په پنځوس (٥٠) حدیثونوکښے دسفیانؒ نه خلاف کړیدے چه په هغے کښے خبره دسفیانؒ معتبره ده .
(سیر اعلام النبلاء :۲٤۰/۷، وشرح علل ص : ۱۲٥) .
۷ – امام ابو زرعهؒ فرمائی :
کان الثوری احفظ من شعبه فی اسناد الحدیث ومتنه .
ترجمه : سفیان ثوریؒ دشعبهؒ نه دحدیث په سند او متن دواړو کښے زیات حافظ وو .
(مقدمه الجرح والتعدیل ص : ٦٦) .
۸ – دامام ابو حاتمؒ فیصله :
هو احفظ من شعبه، واذا اختلف شعبه والثوری فالثوری .
ترجمه : امام سفیانؒ دشعبهؒ نه ښه حافظ دے، اوکله چه شعبه اوثوری سره مختلف شی نو امام سفیانؒ به مقدم وی . (مقدمه الجرح والتعدیل ص : ٦٦) .
۹ – دامام ابن حجرؒ محققانه تبصره : هو اتقن واحفظ من شعبه .
(سفیانؒ دشعبهؒ نه زیات معتمد او ډیر حافظ وو . (فتح الباری : ٤٦۸/۹) .
۱۰ – دامام شعبهؒ خپله فیصله دسفیانؒ په حق کښے :
سفیان مانه زیات حافظ (اویادونکے دحدیثو) دے . (تذکره الحفاظ) .
۱۱ – دامام ابو حنیفهؒ فیصله :

لوکان سفیان الثوری فی التابعین لکان فیهم له شان.... فقال : یا ابا حنیفه ! ما تقول فی الاخذ عن الثوری ؟ فقال : اکتب عنه فانه ثقه، ما خلا احادیث ابی اسحق عن الحارث وحدیث جابر الجعفی.

ترجمه : که چرے سفیانؒ په تابعینوؒ کښے وے نو دده به په هغوئ کښے ډیر غټ مقام وو. بیا دامام ابوحنیفهؒ نه تپوس اوشو، چه دسفیان ثوریؒ نه روایت نقل کول څنګه دی ؟ نو امام ابوحنیفهؒ ورته اوفرمائیل : دسفیانؒ نه احادیث لیکه، ځکه هغه ثقه دے، البته کله چه هغه داسحق روایت دحارث نه، یا دجابر جعفی نه نقل کوی نو هغه مه لیکه.

(دلائل النبوه للامام البیهقی : ۱/٤٥).

(ددے دواړو نه درروایت نه لیکلو وجه داده چه دا دواړه رافضی او کذاب وو).

اودیادونے وړده چه دامام سفیانؒ نه چه دآمین بالجهر روایات راغلی دی نو په هغے کښے نه جابر جعفی شته او نه حارث اعور.

محترمو لوستونکو !

دائمه جرح اوتعدیل اود احادیثو داامانو اقوال مونږ ستاسے مخکښے پیش کړل، چه دے تولو وئیلی دی چه امام سفیانؒ نه زیات بل څوك حافظ نشته، دے احفظ او ډیر زیات ثقه اومعتمد دے. دغه شان کله چه دسفیانؒ او شعبهؒ ترمینځه دروایت په نقل کولو کښے اختلاف راشی نو دامام سفیانؒ روایت ته به ترجیح وی، اودده روایت به قابل عمل اوقابل قبول وی. اود امام شعبهؒ روایت به پریخودلے شی.

اوس بیرته خپلے مسئلے ته راځو : چه دوائل بن حجرؓ نه امام سفیانؒ داسے روایت نقل کړیدے چه : (رسول الله ﷺ به آمین په زوره لوستلو).

او امام شعبهؒ دوائل بن حجرؓ نه روایت کوی چه (رسول الله ﷺ به آمین په قلاره وئیلو) اوس دامام سفیانؒ متابع (اوتائید) هم شته یعنی دوائل بن حجرؓ نور شاګردان هم وائی چه وائل بن حجرؓ درسول الله ﷺ نه روایت کوی چه (رسول الله ﷺ به آمین په جهر (اوزوره سره وئیلو). اود جهر روایت تائید نور ډیر روایتونه هم کوی.

اود امام سفیانؒ په مقابله کښے صرف امام شعبهؒ دوائل بن حجرؓ نه دا روایت کوی چه رسول الله ﷺ به آمین په قلاره وئیلو.

نو چه کله دسفیانؒ اوشعبهؒ اختلاف راغلو ، نو دے باره کښے دجرح اوتعدیل امامان څه وئیلی دی ؟
نو تاسو دهغوی خبرے اوکتلے چه هغوئ تولو دسفیان – دآمین بالجهر – روایت مقدم ګڼری،
اودسفیانؒ دے روایت ته ترجیح ورکوی. او دامام شعبهؒ – دآمین بالاخفاء – روایت ضعیف او ناقابل
عمل ګڼری.
دا وو ددے روایت په صحت اوضعف باندے خبرے اترے.
(۲) – اوس به راشو ددے **روایت معنی** ته.
نودامام شعبهؒ روایت باوجود ددے چه ضعیف دے، بیا هم داحنافو دپاره دلیل نشی کیدلے، ځکه
چه داحنافو مذهب اوعمل دادے چه آمین به دومره اندازه وئیلے شی چه ډیر نزدے نزدے کس ئے هم
وانه وری، حالانکه په دغه روایت کښے د (خفض) دامعنی کول دخفض دمفهوم اومعنی نه خلاف دے.
دصحیح بخاری په یو روایت کښے د (خفض) معنی ډیر په ښه انداز کښے معلومیږی.
او هغه داچه عروه الثقفی چه کله دصلح حدیبیه په موقع دصحابه کرامؓ حال احوال اولیدل او بیا
قریشو ته واپس راغلے، نو هغه په خپلو تاثراتو کښے یو تاثیر دا بیانوی چه : صحابه کرامؓ به درسول
الله ﷺ ډیر زیات ادب کولو، او :
اذا تکلموا خفضوا اصواتهم عنده.
(کله به چه صحابهؓ ؤ درسول الله ﷺ په حضور کښ خبرے اترے کولے نو په قلاره (او تیټَ آواز)
سره به ئے خبرے کولے) – صحیح البخاری : ۳۷۷/۱، ۳۷۹ . باب الشروط فی الجهاد، رقم الحدیث :
۲۷۳۱ .
اود (خفض) دامعنی صاحب الهدایه هم په مسئله دآذان کښے بیان کړیده. لکه موصوف دآذان
دترجیع په باره کښے لیکی :
وهو ان یرجع فیرفع صوته بالشهادتین بعدما خفض بهما . – هدایه : ۸۷/۱ .
(هغه داچه شهادتین به یو ځل په قلاره آواز سره اووائی او بیا به وریاندے آواز اوچت کړی) ---
ظاهره خبره ده چه په آذان کښے دمؤذن اول ځل شهادتین هم آوریدلے شی. لیکن ددویم ځل په نسبت
باندے لږ په تیټَ او خکته آواز سره وی.
اودے معنی ته داحنافو غټَ محقق عالم علامه ابن الهمام هم اشاره کړیده، هغه لیکی:
لوکان الی فی هذا شئ لوافقت بان روایه الخفض یراد بها عدم القرع العنیف الخ .

(یعنی : که دامعامله ماته را اوسپارلے شي نو زه به داسے تطبیق اوکړم چه د (خفض) دروایت نه مراد ډیر په تیزه او ډیر په زوره نه وئیل دي . (لهذا د (جهر) او د (خفض) ترمینځه هیڅ منافات نشته دے) .

(فتح القدیر شرح الهدایه : ۲۵۷/۱، طبع باکستان، و : ۱۰۷/۱، طبع مصر) .

ددے تولو شواهدو نه معلومه شوه چه (خفض) آواز هم اوریدلے شي . حال دا چه دا داحنافو دمذهب سره منافي اومخالف ده . نوددے نه داحنافو استدلال صحیح نه دے .

اوګوره : آمین بالجهر مسلك احناف کا مدلل جواب قرآن سنت کي روشني میں ص : (۱۲۳، ۱۳۰) للشیخ ګوندلوی ؒ . واعلام الموقعین : ۳۵۷/۲، ۳۵۸، ابکار المنن ص: ۱۹۰، ۲۰۱، فتاوی الدین الخالص : ۱۵۹/٤، تحفه الاحوذي : ۱۲۰/۱ .

دغه شان کوم روایت کښے چه راغی چه :

فسمعته حین قال : ولا الضالین، قال : آمین واخفی بها صوته .

(ما درسول الله ﷺ نه واوریدل کله چه هغه ولا الضالین اووئیلو : نو آمین ئے اووئیلو او آواز ئے پرے خکته کړو) .

دا روایت هم دآمین بالاخفاء دپاره ذکر کول صحیح نه دي، ځکه :

اولا : مخکښے مونږ ذکر کړل چه دآمین بالاخفاء په روایتونو کښے شعبهؒ راغلے دے چه ده دسفیانؒ خلاف کړیدے، نوددے وجے نه دده دا روایت دسفیانؒ په مقابله کښے ضعیف اومضطرب دے .

ثانیا : ددے روایت په دے وجه هم داحنافو دپاره استدلال صحیح نه دے چه په دے کښے دادي چه : ما درسول الله ﷺ نه دولا الضالین وئیلو نه پس آمین وئیل واوریدل . نو چه آمین ترینه صحابي ؓ واوریدلو نو دا په پته شو اوکه په خکاره ؟ دا خو په خکاره شو . ولے که په پته شي نو بیا دغه صحابي ؓ ځنګه واوریده ؟ دغه شان په دے روایت کښے (قال) یعني رسول الله ﷺ اووئیلو - راغلے دے نو چه آمین په پته باندے اووئیلو شو نو دغه صحابي ؓ ته څه پته اولګیده ؟

۵ - داحنافو پنځم دلیل :

عن ابي وائل قال : کان عمر وعلي رضي الله عنهما لا یجهران ببسم الله الرحمن الرحیم، ولا بالتعوذ، ولا بتامین. (رواه الطحاوي :۱۵۰/۱، وابن جریر، کما في آثار السنن ص : ۱۲۵) .

ترجمه : دابو وائل نه روایت دے چه عمر او علي - رضي الله عنهما - به بسم الله الرحمن الرحیم، اعوذ بالله او آمین په جهر سره نه وئیل .

جواب : دا روایت ضعیف جداً (بیخي ضعیف) دے، چه په پته سره دآمین دپاره دلیل نشي جوړیدلے، ځکه چه ددے سند کښې سعید بن المرزبان دے، چه دا ضعیف راوي دے.

دویم دا چه : دے روایت کښې عنعنه هم شویده.

اول دابو سعید سعید بن المرزبان حال دائمه الجرح والتعدیل او محدثینو نه واوره

۱ – امام بخاري ؒ فرمائي : چه ابو سعید منکر الحدیث دے (میزان الاعتدال : ٧١/٤)۔

۲ – امام دارقطني ؒ فرمائي : متروك الحدیث : (الکامل الکاشف : ۲۹۵/۱).

۳ – امام یحیی بن قطان ؒ فرمائي : زه دابو سعید نه روایت اغستل حلال نه ګنړم.

٤ – امام ابن الجوزي ؒ فرمائي : دے مجروح دے. (نصب الرایه : ٤٤۹/۳).

٥ – امام عجلي ؒ فرمائي : دے ضعیف دے (تهذیب : ٧١/٤).

٦ – امام ابن حِبانؒ فرمائي : دا ډیر زیات وهمي اوفاحش غلطي کونکے دے، چه ده ته امام یحیی بن سعیدؒ ضعیف وئیلي دي. (کتاب المجروحین : ۳۱٧/۱).

٧ – امام ابن حجرؒ فرمائي : ضعیف اومدلس دے (تقریب ص: ۱۲۵).

۸ – امام مبارکفوري ؒ فرمائي : ډیر ضعیف دے. (ابکار المنن ص : ۲۰۱).

۹ – امام فلاس ؒ فرمائي : متروك الحدیث دے. (نصب الرایه : ٤٤۹/۳).

۱۰ – امام ابن معینؒ فرمائي: دا هیڅ شے هم نه دے، ضعیف دے، اودده حدیث لیکل پکار نه دي. (الکامل الکاشف : ۲۹۵/۱).

۱۱ – امام ابو حاتمؒ فرمائي : دده حدیث قابل دحجت نه دے. (کتاب الضعفاء دامام نسائي والتهذیب : ٧١/٤).

۱۲ – امام ذهبي ؒ فرمائي : لیس بحجه – یعني په ده سره دلیل نه نیولے کیږي. (المغني في الضعفاء : ۲۳٦/۱).

۱۳ – امام احمدؒ فرمائي : دا منکر الحدیث دے (الکاشف : ۲۹۵/۱).

۱٤ – امام نسائي فرمائي : دا ضعیف دے، اوثقه (معتمد) نه دے. (کتاب الضعفاء للامام النسائي).

(۲) – ددے حدیث دضعف دویمه وجه دا هم ده چه دمذکوره دغه ضعف سره سره همدغه (ضعیف جداً) راوي عنعنه هم کړیده، او په اصول الحدیث کښې قانون دادے چه کله یو راوي عنعنه اوکړي

اوهغه بذاتِ خود ضعیف نه وی نو دهغه روایت قبول وی،مګر تاسو اولیدل چه ابو سعید ځومره پرېوتے اوضعیف راوی دے، نوکه چرے ابو سعید په تحدیث اوسماع سره روایت هم نقل کړی او عنعنه هم اونه کړی نو بیا هم قابل قبول نه دے. چه ځائیکه هغه په (عن) سره روایت کړے اوبیا هغه حجت او قابل قبول شی ! کلا وحاشا !

دلته ابو سعید په (عن) سره روایت کړے او په یو سند کښے هم دسماع ذکر نشته.

حافظ ابن حجرؒ دده شماره په پنځمه طبقه مدلسینو کښے کړے، او په خپله ددے طبقے دمدلسینو حکم واضح کوی فرمائی :

من ضعف بامر آخر سوی التدلیس فحدیثهم مردود ولو صرحوا بالسماع، الا ان یوثق من کان ضعفه یسیرا.

(پنځمه طبقه هغه مدلسین دی چه دتدلیس نه علاوه ضعیف هم وی، نودداسے مدلسینو روایت به مردود وی اګرکه دسماع صراحت هم اوکړی، البته که په دوئ کښے دچا ضعف کم وی او دهغه توثیق اوشی). اوګوره : طبقات المدلسین ص : ۱٤.

په پنځمه طبقه کښے دابو سعید ذکر کوی لیکی :

ضعیف مشهور بالتدلیس وصفه احمد وابو حاتم والدارقطنی وغیرهم.

(ابو سعید ضعیف دے، مشهور مدلس دے، امام احمدؒ، ابو حاتمؒ، دارقطنیؒ وغیره ۇ دده تدلیس بیان کړیدے. - (طبقات المدلسین ص : ٥٤).

امام ابوزرعهؒ هم ده ته مدلس وئیلی دی. نصب الرایه : ۳/٤٤۹.

په دے حدیث کښے بل روای ابو بکر بن عیاش دے چه دده متعلق امام حاکم فرمائی :

وکان ابو بکربن عیاش من الحفاظ المتقنین ثم اختلط حین نسی حفظه، وقال الامام البخاری : اختلط بآخره.

(ابو بکر بن عیاش ثقه وو لیکن کله چه بوډا شو نو ګډوډی پرے راغله نو څه چه ورته یاد وو هغه ترینه هیر شو، امام بخاریؒ فرمائیلی دی چه په ده باندے په آخر عمر کښے اختلاط (ګډوډی) راغلے وو. نصب الرایه : ۱/٤۰۹.

حافظ ابن حجرؒ فرمائی : ثقه عابد الا انه لما کبر ساء حفظه.

(دا معتمد اوعابد وو لیکن کله چه بوډا شو نو حافظه ئے خرابه شوه.

(تقریب ص: ۳۹٦).

٦ – د احنافو شپږم دلیل: احنافو دعمر رضی الله عنه همدغه اثر بیا هم په دلیل کښې پیش کړیدے په بل سند سره.

قال ابن حزمؒ: روینا عن عبد الرحمن بن ابي لیلی ان عمر بن الخطاب قال: یخفی الامام اربعاً: التعوذ، وبسم الله الرحمن الرحیم، وآمین، وربنا لك الحمد – المحلی لابن حزم.

(ابن حزم فرمائی: مونږ ته دعبد الرحمن بن ابي لیلی نه روایت کړے شویدے چه عمر رضی الله عنه فرمائیلی دی چه: څلور څېزونه به په پته باندے وئیلے شی: اعوذ بالله، بسم الله، آمین او ربنا لك الحمد.

جواب: دلته دوئ صاحبان ځکه په ابن حزمؒ باندې حواله ورکوی چه بل ځائے دا روایت نه دے موندلے، ورنه کِله چه داحنافو مشران په علامه ابن حزم باندے رد کوی نو څه څه القاب نه ورکوی !!

امام ابن حزم دا روایت ذکر کړیدے لیکن سند ئے نه دے ذکر کړے. اودا خو متفق علیه مسئله ده چه بلا سنده روایت له هیڅ اعتبار نشته . اودے سره سره امام ابن حزم دا اثر به مرفوع حدیث سره رد کوی لیکی:

دا آثار دهغه مرفوع حدیث – کوم چه د آمین بالجهر په باره کښے راغلے – مقابله نشی کولے.

دامام ابن حزم دا الفاظ ښکاره دلالت کوی په دے خبره چه دا اثر دامام ابن حزم په نزد هم ضعیف دے. مونږ هم ددے روایت سند حتی الوسع تلاش کړو، لیکن چرے هم ددے روایت سند راته معلوم نشو، او نه احنافو چرته ددے روایت سند پیش کړے !

اوددے نه صفا معلومیږی چه ددے روایت سند نشته، لیکن که بالفرض ددے سند هم چرته ملاؤ شی بیا هم دقبلیدو قابل نه دے، ځکه چه دابن ابی لیلیؒ سماع دعمر فاروقؓ نه نه ده ثابته. امام نسائیؒ فرمائی: ابن ابي لیلی لم یسمع من عمر.

(یعنی: ابن ابی لیلیؒ دعمر رضی الله عنه اوریدل نه دی کړی. نسائی: ۱۵۹/۱.

ابن ابي حاتمؒ فرمائی: ما دخپل پلار ابو حاتمؒ نه تپوس اوکړو:

یصح لابن لیلی سماع من عمر؟ قال: لا.

(آیا دابن ابی لیلی آوریدل دعمر رضی الله عنه نه ثابت دی؟ هغه وئیل نه.

امام علی بن مدینیؒ فرمائی:

كان شعبه ينكر ان يكون سمع من عمر.
(شعبهؒ به دابن ابي ليلىؒ سماع دعمر رضي الله عنه نه انكار كولو.
امام خليلىؒ فرمائي: الحفاظ لا يثبتون سماعه من عمر.
(حفاظِ حديث دده آوريدل دعمرؓ نه ثابت نه ګڼري) ---امام ابن ابي خيثمهؒ فرمائي:
قد روى سماعه من طريق ليست بصحيح.
(دابن ابي ليلى آوريدل دعمرؓ نه په داسې طريقې سره راغلي ده چه صحيح نه ده).
اوګوره: تهذيب: ۲۳۵/۶.
تنبيه: دابن ابي ليلىؒ دسماع بعض روايت شته اوبعض احنافو ذكر كړي هم دي، ليكن تاسې اوليدل چه داطريقه صحيح نه ده.
نو ددې اثر نه هم داحنافو استدلال صحيح نه دے.
(اوګوره: آمين بالجهر احناف كا مدلل جواب، للشيخ محمد يحيى ګوندلوىؒ).

۷ - داحنافو اووم دليل:

عن علقمه والاسود كليهما عن ابن مسعود قال: يخفي الامام ثلاثاً: التعوذ، وبسم الله الرحمن الرحيم، وآمين. (المحلى لابن حزم: ۲۰۶/۲).
(علقمه اواسود دواړه دابن مسعودؓ نه روايت كوي چه هغه اوفرمائيل: درې څيزونه به امام په پټه وائي: اعوذ بالله، بسم الله او آمين.
جواب: ۱ - دا روايت بې سنده دے. اودا مسئله زمونږ اود احنافو دواړو ترمينځه منلې شوې قاعده ده چه بلا سنده روايت لره هيڅ اعتبار نشته. نو دابن مسعودؓ دا روايت خو بلا سنده دے، ځكه داروايت دعلقمه او اسود نه نقل شويدے چه دا دواړه بالترتيب په سنه (۶۱)هـ او سنه (۷۴) هـ كښې وفات شويدي. او امام ابن حزم په سنه (۴۵۶) هـ كښې وفات شويدے. نو ددوئ په مينځ كښې څلور سوه كاله فاصله ده.
۲ - **جواب:** مونږ مخكښې دامام ابو حنيفهؒ داستاد (عطاء بن ابي رباحؒ) روايت پيش كړو چه په مسجد حرام كښې دوه سوه (۲۰۰) صحابه كرامؓ آمين په جهر سره وئيلې دے. نو هغه روايت سره به څه كوې؟

۸ - داحنافو آتم دليل: عن الحسن ان سمره بن جندب وعمران بن حصين تذاكرا فحدث

سمره بن جندب انه حفظ عن رسول الله ﷺ سکتتېن سکته اذاکبر، وسکته اذا فرغ من قرائه غېر المغضوب علېهم ولا الضالېن، فحفظ سمره وانکر علېه عمران بن حصېن فکتبا فی ذلك الی ابی بن کعب وکان فی کتابه الېهما – او فی رده علېها – ان سمره قد حفظ.

(رواه ابوداود: ۱۲۰/۱، والترمذی: ۵۹/۱).

(دحسنؒ نه روایت دے چه سمره بن جندبؓ او عمران بن حصېنؓ خپلو کښې مذاکره اوکړه، نو سمره بن جندبؓ حدېث بېان کړو چه ما درسول الله ﷺ نه په مانځه کښې دوه سکتے (خاموشئ) یادے کړی دی، یوه کله چه به هغه الله اکبر اووئېلو (نو خاموش به شو) اوبله کله چه به هغه غېر المغضوب علېهم ولا الضالېن اوئېلو نو خاموش به شو. عمران بن حصېنؓ ددے نه انکار اوکړو، بیا دے دواړو ددے مسئلے دتحقېق دپاره ابی بن کعبؓ ته خط اولېکلو، ابی بن کعبؓ په خپل جوابی خط کښې اولېکل چه سمرهؓ خبره صحېح یاده کړېده.

دے حدېث نه احناف استدلال کوی چه دلته رسول الله ﷺ دولا الضالېن نه پس خاموش پاتے شوېدے دادا آمېن وئېلو په پټه باندے دوئېلو دپاره وو.

جواب: په دے حدېث باندے دآمېن بالاخفاء (په پټه وئېلو) دپاره استدلال کول دېو څو جوهو نه صحېح نه دی.

اوله وجه: دے حدېث کښې دسره دا خبره نشته چه آمېن به په پټه وئېل کېږی که په جهر سره. نوکه څوك وائی چه رسول الله ﷺ دلته سکته کړے اوسکته ئے ددے دپاره کړېده چه آمېن په قلاره اووائی نو دا خبره غلطه ده ځکه چه دلته که سکته شوېده نو دا ددے دپاره شوېده چه ساه واخلی. لکه ترمذی: ۵۹/۱، او ابن ماجه: ۲۷۵/۱، کښې دی:

وکان یعجبه اذا فرغ من القرائه ان یسکت حتی یتراد الېه نفسه.

(رسول الله ﷺ به دا خوښه ګڼړله چه کله به دقرأت نه فارغ شو نو دومره به خاموش شو تردے پورے چه ساه به ورته راواپس شوه). ----- نو رسول الله ﷺ سکته دځه دپاره کړېده او احناف صاحبان دځه استدلال ترېنه کوی.

دوېمه وجه: دا حدېث ضعېف دے چه زه دلته ددے ضعف بېان ته مختصره اشاره کوم او په ارواء الغلېل: ۲۸۴/۲، ۲۸۸، کښې کتلے شئ.

دا حدېث په دے وجه ضعېف دے چه ددے حدېث دارو مدار په حسنؒ دے او په دے کښې حسنؒ

دسمره بن جندبؓ نه روایت کوی او حسنؒ دسمرۃؓ نه دا روایت نه دے آوریدلے. ددے حدیث چه څومره طرق دی په یو کښے هم دسماع وضاحت نشته، بلکه په تولو روایاتو کښے عنعنه شویده، نو چه کله دلته روایت په (عن) سره نقل شویدے په دے وجه دا روایت ضعیف دے ---- امام ذهبیؒ فرمائی:

کان الحسن کثیر التدلیس فاذا قال فی حدیث عن فلان ضعف احتجاجه.

(حسن بصریؒ به ډیر تدلیس کولو کله چه هغه په عن سره روایت بیان کړی نو په هغه روایت باندے استدلال کولو ضعیف دی.

اوګوره: تعلیق علی خلاصه التهذیب: ۲۱۱/۱ ----- حافظ ابن حجرؒ فرمائی:

کان یدلس – تهذیب: ۲۷۰/۲.

بل ځائے فرمائی: کان یرسل عمن یلقم بصیغه عن فلا تحمل عنعنته علی السماع.

(حسن بصریؒ به دهغه روایاتو نه هم ډیر زیات په عن سره مرسل روایت کولو دکومو سره چه دسره ملاقات هم اونه کړی. دحسن بصریؒ هغه روایتونه چه په عن سره ئے روایت کړی وی هغه به په سماع باندے نشی حمل کیدلے. (فتح الباری: ۱۰۹/۱۳، پا ٦٦)۔

علامه ناصر الدین البانیؒ دسکتاتو په حدیث باندے داسے بحث کوی:

ان الحسن مع جلاله قدره کان یدلس وقال: فلا یحمل روایته بهذا الحدیث او غیره علی الا تصال الا ذا صرح بالسماع، وهذا مفقود فی هذا الحدیث بل في بعض الروایات عنه ما یشیر الی الانقطاع.

وقال ایضاً: ولم نجد تصریحه بسماعه بهذا الحدیث بعد مزید البحث والتفتیش عن طرقه الیه.

(حسن بصریؒ دخپل اوچت شان باوجودمدلس وو، دده دا حدیث یا ددے نه علاوه بل حدیث به په سماع باندے نشی حمل کولے البته کله چه هغه دسماع وضاحت اوکړی، خو دسکتاتو والا حدیث کښے سماع مفقوده (ورکه) ده بلکه بعض روایاتو دده کښے دے خبرے ته اشاره ده چه دا حدیث منقطع دے. او مونږ پس دډیر تفتیش اوتالاش نه په دے حدیث باندے دده دسماع تصریح اونه موندله.

اوګوره: ارواء الغلیل: ۲۸۸/۲. سلسله الاحادیث الضعیفه: ۲۵/۲.

دریمه وجه: په دے حدیث استدلال کول ځکه باطل دی چه دا روایت مضطرب دے، ځکه په دے روایت کښے دامام حسن بصریؒ شپږ شاګردان دی: یو راوی په یو ځائے کښے سکته بیانوی، اوبل راوی په بل ځائے کښے سکته بیانوی. چه ددے تفصیل په:

(آمین بالجهر مسلك احناف کا مدلل جواب ص: ۱۶۹، ۱۷۱) للشیخ محمد یحیی ګوندلویؒ

کښې کتلے شي.

څلورمه وجه : په دے حدیث دسکتاتو باندے استدلال کول داحنافو دپاره ځکه خطاء دی چه دوئ خو ځان دامام ابو حنیفهؒ مقلدین ګنړی حال داچه امام ابوحنیفهؒ د سره د سکتاتو قائل نه دے.

امام ابن عبد البر اندلسیؒ فرمائی :

قال ابو حنیفه واصحابه : لیس علی الامام ان یسکت اذا کبر ولا اذا فرغ من قرائه أم القرآن، ولا اذا فرغ من القرائه.

ترجمه : دامام ابو حنیفهؒ اودده دملګرو دا مذهب دے چه دامام دپاره دا نشته چه هغه دتکبیر تحریمه نه روسته سکته اوکړی، او یا کله چه دسورت فاتحے دقرأت نه فارغ شی او یا دسورت لوستلو نه فارغ شی نو هم سکته به نه کوی.--- اوګوره : الاستذکار : ۱۹۱/۲.

نو څنګه امام ابوحنیفهؒ اودهغه شاګردان دسره دامام دپاره سکته نه منی، او مقلدین صاحبان ئے دآمین بالاخفاء مسائل ورنه په اجتهاد راؤباسی !!

داوو داحنافو دمزعومه دلائلو حال.

اوداخبره مونږ ځکه په **تفصیل** سره اولیکله چه نن صبا په اکثرو خلقو کښے - والعیاذ بالله - د **یهودیانو** صفت پیدا شویدے چه آمین وریاندے ډیر زیات بدلګی، تردے چه ځوك آمین په زوره وائی هغه دمسجد نه شړل کیږی هغه ته بے مذهبه وئیل کیږی، آمین ته نعوذ بالله رمباړے وائی .اوداسے نور خرافات بکواسات داحنافو نه هر وخت آوریدل کیږی - سره ددے نه چه ګرانو لوستونکو اوکتل چه په آمین بالجهر باندے ځومره دلائل دی !!

او عجیبه خولا داده چه په هر کلی، محله اوعلاقه داسے کسان وی چه زنا کار وی، چرسیان بنګیان وی، سخت فاسقان وی بلکه دکافرانو ملګری شوی نصاری او خلقیان اومرتد، غرض هر قسمه عظیم ګناهونه اوګمراهانے او خلاف شرع کارونه کونکی شته، لیکن ځوك هم دانه وائی چه دا خلق بے دینه اوبے مذهب شول، دا نه وائی چه چا ګیره اوخرئیله هغه دامام ابوحنیفهؒ دمذهبه اووتلو، چاچه زنا اوکړه هغه دحنفی مذهب نه اووتلو ، چاچه سودخوری اوکړه هغه بے مذهبه شو، لیکن دغه تول خلاف شرع کارونه کولو سره بیا هم انسان حنفی وی. لیکن که ځوك په سنتو عمل کونکے جوړ شی نو بیا هر قسم تشدد، عیب جوئی اولعن طعن په هغه باندے کولے شی. عجیب انصاف دے ددے خلقو !!

هم آه بهی کرتے هیں تو هوجاتے هیں بدنام وه قتل بهی کرتے هیں تو چرچا نهیں هوتا
۱۴۲۴/۱۱/۱۲ هـ.

رکوع موندلو سره رکعت موندلے کیږي

سوال: مدرك الرکوع مدرك الرکعه دے اوکه نه ؟ یعنی یو کس چه کله امام په رکوع کښے لاندے کړی اود امام سره رکوع اوکړی آیا ددے کس دغه رکعت اوشو اوکه نه

سره ددے نه چه دمقتدی نه فاتحه وئیل فوت شو، او فاتحه وئیل خو دمقتدی دپاره فرض دی. نو زمونږ سوال دادے چه که چرے صرف په رکوع نیول سره مقتدی رکعت نیولے شی نو دلته خو دمقتدی نه فاتحه لوستل فوت شو. اوکه چرے په رکوع نیولو سره رکعت نه نیول کیږی نوددے څه دلیل دے ؟ دا مسئله دقرآن او سنت په رنړا کښے واضحه بیان کړئ !

جواب: ددے مسئلے دحکم ذکر کولو نه مخکښے په دے خبره ځان پوهه کول پکار دی چه زمونږ ددین بناء په قرآن او سنت باندے ده. په آراؤ او قیاساتو باندے نه ده. هر مسلمان له پکار دی چه په هره مسئله کښے قرآن او سنت ته ځان تسلیم کړی اګرکه هغه مسئله په ظاهره هر څومره دده دقیاس او عقل نه خلاف معلومیږی.

نو دے مسئله کښے راجح اوصحیح حکم دادے چه کله یو کس امام په رکوع کښے لاندے کړی نو په رکوع نیولو سره دے کس دا رکعت اونیولو. اګرکه دلته دمقتدی نه فاتحه وئیل فوت شو. دمقتدی په باره کښی حکم دادے چه مقتدی به په امام پسے ضرور فاتحه وائی، لیکن کله چه امام په رکوع کښے وی اومقتدی دامام سره رکوع ته لاړ شی، نو په دے وخت کښے شریعت دمقتدی نه دفاتحے فرضیت ختم کړیدے. اود شارع نه به دا تپوس نه کیږی چه څنګه یو ځل په مقتدی باندے فاتحه خلف الامام فرض ګڼړئ اودلته چه امام په رکوع کښے وی اومقتدی راشی نو دمقتدی نه دفاتحے فرضیت ساقط ګڼړئ !

الله رب العالمین فرمائیلی دی:

لا یسئل عما یفعل وهم یسئلون. الانبیاء: ۲۳.

ترجمه: تپوس نه شی کیدے دالله تعالی نه دهغه کار په باره کښے چه الله تعالی ئے کوی اوددے مخلوق نه به تپوس کیدلے شی. (احسن الکلام: ۶۵/۶).

اوزمونږ په دین کښې ډېر داسې احکام شته چه یو حالت کښې فرض وي لیکن بل حالت کښې دهغې فرضیت ساقط شوے وي. مثلاً په مانځه کښې قیام (اودریدل) فرض دی لیکن کله چه امام (راتب) مریض وي او په اودریدلو قادر نه وي نو په ناسته به مونځ کوي. نو دغه امام پسے به تول مقتدیان چه په بدن ښه روغ جوړ وي هم په ناسته مونځ کوي ځکه چه صحیح حدیث کښې راځي:

عن انس وابي هريره رضي الله عنهما قالا: قال رسول الله ﷺ: ...... واذا صلى جالسا فصلوا جلوسا اجمعون.

ترجمه: اوکله چه امام په ناسته مونځ کوي نو تاسو تول هم په ناسته مونځ کوئ.

اخرجه البخاري (۱۰۱/۱) ومسلم (۷۷/۱).

ومثله في النسائي: ۱۳۳/۱. وابوداود: ۹٦/۱. وابن حبان في صحيحه: ۲۷۲/۳. ومصنف عبد الرزاق: ۴۵۸/۲، ۴٦۲. وفتح الباري: ۱۳۷/۲. والمحلى: ۱۰۳/۳، ۱۰۹، تفصيلاً.

اوس به دلته دا سوال نه کیږي چه قیام خو په مانځه کښې فرض دے، نو دلته څنګه دامام دتابعدارئ په وجه فرض عمل (قیام) پریخودلے کیږي؟

دفاتحے هم بعینه دا شان مثال دے، چه فاتحه په مقتدي باندے په سري اوجهري تولو مونځونو کښې فرض ده لیکن کله چه امام په رکوع کښې وي نو دامام دتابعدارئ په وجه دمقتدي نه د فاتحے فرضیت ختم اوساقط شو.

دے مسئله باندے په فتاوي الدین الخالص: ۲۱۷/۴- ۲۲٦، کښې تفصیلاً ډیر ښه بحث شویدے چه ددے مسئلے عنوان دے (الالهام في اعتداد الركعه اذا ادرك الركوع مع الامام).

دلته مختصرا په دے مسئله یو څو دلائلو ذکر کولے شي چه کله مقتدي دامام سره رکوع اونیسي نو دمقتدي رکعت اونیولو. او تفصیل ئے په فتاوي الدین الخالص: ۲۱۷/۴، ۲۲٦. ۲۲۴/۵، ۲۲۹، ۲۴٦، کښې اوګوره.

۱- **اول دلیل**: عن ابي هريره - رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: اذا جئتم الى الصلاه ونحن سجود فاسجدوا ولا تعدوها شيئا، ومن ادرك ركعه فقد ادرك الصلاه.

ترجمه: ابوهریرهؓ فرمائي: رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه: کله چه تاسو راشئ اومونږ په سجده کښې وو، نو سجده راسره اوکړئ اوسجده هیڅ مه شمارئ، اوچاچه دامام سره رکوع اونیوله نو یقینا چه ده رکعت اونیولو.

(رواه ابوداود : ۱۳٦/۱ . ۸۹۳ . وابن خزیمه : ۵۷/۳ . والدارقطنی : ۳٤٦/۱ . والحاکم : ۲۱٦/۱ . والبیهقی : ۸۹/۲ . وسنده صحیح . انظر الارواء : ۲٦۰/۲، ۲٦۲) .

په دے حدیث کښے درکعت نه مراد رکوع ده، ځکه ددے په مقابله کښے سجده ذکر شویده. او احادیثو کښے ډیر ځله داسے راغلی دی چه رکوع ته رکعت وئیلے شویدے. لکه صحیح مسلم () کښے دی :

دبراء بن عازبؓ نه روایت دے دا فرمائی :

رمقتُ محمدا ﷺ فی الصلاه فوجدت قیامه کرکعته وسجدته واعتداله فی رکعه کسجدته، وجلسته بین السجدتین وسجدته ما بین التسلیم والا نصراف قریبا من السواء .

ترجمه : ما محمد ﷺ په مانځه کښے اولیدلو چه دهغه قیام درکوع اوسجدے هومره اوګد وو. او بیا په رکوع کښے برابروالے ئے دسجدے هومره (اوګد) وو، او کیناستل دهغه ددواړو سجدو ترمینځه اود سلام او ګرځیدلو ترمینځه سجده دهغه دا تول تقریبا سره برابر وو.

دعائشے رضی الله عنها نه رایت دے چه کله رسول الله ﷺ صلاه کسوف کولو نو :

فرکع رکعتین فی کل رکعه رکعات یرکع الثالثه ثم یسجد . . . الحدیث .

ترجمه : نوداسے دوه رکعته ئے اوکړل چه په هر رکعت کښے ئے ډیرے رکوعاګانے ا وکړے، دریمے رکوع نه پس ئے بیا سجده اوکړه .

دغه شان دجابرؓ دصلاه کسوف روایت کوی فرمائی :

صلی بنا ست رکعات فی اربع سجدات . . . الحدیث . رواه :

ترجمه : مونږ ته ئے شپږ رکوع ګانے او څلور سجدے اوکړے .

اود جابرؓ په دغه روایت کښں دا هم دی چه :

ثم قام – ای النبی ﷺ – الی الرکعه الثانیه فرکع ثلاث رکعات قبل ان یسجد .

ترجمه : بیا نبی کریم ﷺ دویم رکعته ته پاڅیده نودرے رکوع ګانے ئے اوکړے مخکښے دسجدے کولو نه ---- دغه شان دعائشهؓ په روایت کښے دی چه :

فاستکمل اربع رکعات واربع سجدات .

ترجمه : رسول الله ﷺ پوره څلور رکوع ګانے اوڅلور سجدے ئے اوکړے .

ددے تولو روایاتو تفصیل په فتاوی الدین الخالص (۵٤۳/٦) : کیفیه صلاه الکسوف فی السنه

المطهره کښې اوګوره.

دغه شان علامه عبد الحی لکهنوی ؒ په غیث الغمام ص: ٦٦، کښې تفصیلاً ذکر کړی.

نو ددې تولو رواياتو دتفصيل نه دا مسئله ښکاره معلومه شوه چه په دې حديث (من ادرك الركعه فقد الصلاه) کښې درکعت نه مراد رکوع ده، ځکه چه په ګڼړو احاديثو کښې رکوع ته رکعت وئيلے شويدے ---- بل روايت کښې صريح الفاظ ذکر شوی چه:

من ادرك الركوع، فقد ادرك الركعه.

ترجمه: چا چه رکوع اونيوله نو يقينا دّه رکعت اونيولو.

(ارواء الغليل: ۲٦٠/۲، رقم الحديث: ٤۹٦).

۲ – **دويم دليل**: عن عبد العزيز بن رفيع عن رجل عن النبی ﷺ قال: اذا جئتم والامام راكع فاركعوا، وان كان ساجدا فاسجدوا، ولا تعتدوا بالسجود اذا لم يكن معه ركوع. – اخرجه البيهقی: ۸۹/۲. ورجاله ثقات.

ترجمه: دعبد العزيز بن رفيع ديو سړی (عبد الله بن مغفل ؓ) په واسطه سره دنبی کريم ﷺ نه دا ارشاد مبارك نقل کوی چه: کله تاسو په داسے حال کښې راشئ چه امام په رکوع کښې وی نو تاسو هم ورسره رکوع کوئ اوکه چرے امام په سجده کښې وی نو بيا هم ورسره سجده کوئ او پوائځے سجدے نيولو لره اعتبار مه ورکوئ هرکله چه ورسره رکوع نه وی.

په دے حديث کښې هم دا مسئله معلومه شوه چه کله امام سره رکوع رالاندے شی نو دمقتدی رکعت اوشو، اودغه حديث په سند کښې چه (رجل) راغلے نودا کس (صحابی) دے ځکه دے دبيهقی په روايت کښې راغلے دے:

عن عبد العزيز بن رفيع عن شيخ من الانصار (۲۹٦/۱).

ترجمه: دعبد العزيز بن رفيع دانصارو ؓ ديو شيخ نه روايت کوی.

بلکه ددے نه زيات صريح اوصحيح روايت شيخ البانی ؒ په الصحيحه (۱۸۵/۳) رقم (۱۱۸۸) کښې داسحق بن منصور المروزی ؒ نه نقل کړيدے چه دهغه روايت سند داسے دے

حدثنا محمد بن رافع قال حدثنا حسين بن علی عن زائده قال حدثنا عبد العزيز بن رفيع عن ابن المغفل المزنی قال: قال رسول الله ﷺ فذكره.

ددے سند ذکر کولو نه روسته علامه البانی ؒ ليکی:

قلت : وهذا اسناد صحیح، رجاله ثقات، رجال الشیخین .

ترجمه : زه وایم چه ددے حدیث اسناد صحیح دے، تول راویان ئے ثقه اود بخاری او مسلم راویان دی .

۳ – دریم دلیل : عن ابي بکره – رضی الله عنه – انه دخل المسجد والنبی ﷺ راکع فرکع دون الصف، ثم مشی الی الصف فلما قضی النبی ﷺ قال : ایکم الذی رکع دون الصف ثم مشی الی الصف ؟ فقال ابوبکره : أنا، فقال النبی ﷺ : زادك الله حرصا ولا تعد !

ترجمه : ابو بکرهؓ نه روایت دے چه دے جومات ته په داسے وخت کښے داخل شو چه رسول الله ﷺ په رکوع کښے وو، نو ده صف ته درسیدلو نه مخکښے دامام سره رکوع اوکړه، او بیا په رکوع کښے صف ته اورسیدلو . نو کله چه رسول الله ﷺ مونځ پوره کړو، نو وے فرمائیل : په تاسو کښے کوم کس صف ته درسیدلو نه مخکښے رکوع اورکړه، او بیا په رکوع کښے صفت ته اورسیدلو ؟ ابو بکرهؓ عرض اوکړو : دا کار ما اوکړو . نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : الله دے ستا حرص نور هم زیات کړی، بیا داسے کار مه کوه .

دا حدیث دلیل دے په دے خبره چه مدرك درکوع مدرك درکعت دے . که چرے نه وے نو رسول الله ﷺ به ابو بکرؓ ته دا وئیلی وے چه ستا رکعت نه دے شوے۔

(الصحیحه : ۴۰۴/۱، تفصیلا) .

البته رسول الله ﷺ ابو بکرهؓ ته دا ادب اوخودلو چه بیا دپاره دومره په منډه او تیزئ سره مه راځه چه صف ته درسیدلو نه مخکښے رکوع اوکړے . لکه مسند احمد (۴۲/۵) کښے دی چه ابو بکرهؓ منډه وهلے (وسنده حسن بشواهده) .

او طحاوی په صحیح سند سره روایت کړی دی چه ابو بکرهؓ فرمائی :

جئتُ ورسول الله ﷺ راکع وقد حفزنی النفس فرکعت دون الصف .

ترجمه : زه په داسے وخت کښے راغلم چه رسول الله ﷺ په رکوع کښں وو او زه ساه تیګاه ووم، نو ما دصف نه دیخوا رکوع اوکړه .

دتفصیل دپاره الصحیحه : ۴۰۸،۴۰۱/۱ . رقم : ۴۲۹ . ۴۳۰ . ۱۸۵/۳ (۱۱۸۸) اوګوره .

۴ – څلورم دلیل : عن زید بن وهب قال : خرجتُ مع عبد الله بن مسعود من داره الی المسجد فلما توسطنا المسجد رکع الامام فکبر عبد الله ثم رکع ورکعت معه ثم مشینا راکعین حتی انتهینا الی الصف حتی رفع القوم رؤوسهم قال : فلما قضی الامام الصلاه قمتُ، وانا أری انی لم

ادرك، فاخذني بيدي عبد الله فاجلسني وقال : انك قد ادركت.

ترجمه : زيد بن وهبؒ فرمائي : زه دعبد الله بن مسعودؓ سره دهغه دكور نه مسجد ته اووتلم، كله چه مونږ دمسجد منځ ته اورسېدو نو امام ركوع ته لاړو، عبد الله بن مسعودؓ الله اكبر اووئېلو او په ركوع خكته شو، زه هم ورسره په ركوع كښې خكته شوم، بيا مونږ په ركوع كښې صف اورسېدلو او خلقو خپل سرونه راؤچت كړل. كله چه امام مونځ پوره كړو نو زه په دې خيال پاڅېدم چه ما ركعت نه دې نيولې، نو عبد الله بن مسعودؓ زما لاس اونيولو او زه ئې كېنولم او وئې فرمائېل چه : تا خو ركعت لاندې كړو.

رواه البيهقي : ۹۰/۲، والطحاوي : ۲۲۳/۱، وابن ابي شيبه : ۹۹/۱، والطبراني في الكبير، وقال الهيثمي : ورجاله ثقات، مجمع الزوائد : ۷۷/۲.

شيخ الباني په ارواء الغليل كښې فرمائي : وسنده صحيح، وله فى الطبراني طرق أخر.

يعني ددې روايت سند صحيح دې او په طبراني كښې ددې حديث ګڼږ سندونه ذكر شوي دي.

دعبد الله بن مسعودؓ دا فتوى او عمل هم په دې خبره دليل دې چه كله مقتدي امام په ركوع كښې لاندې كړي اود امام سره ركوع اوكړي نو دمقتدي ركعت هم اوشو. اودا حديث بيهقي، طحاوي، ابن ابي شيبه او طبراني روايت كړيدې او سند ئې بالكل صحيح دې، لكه مخكښې ذكر شو.

۵ - **پنځم دليل** : وعن عبد الله بن عمر قال : اذا جئت والامام راكع فوضعت يديك على ركبتيك قبل ان يرفع فقد ادركت. (اخرجه ابن ابي شيبه : ۲۴۳/۱).

ترجمه : عبد الله بن عمرؓ فرمائي : كله چه ته راشې او امام په ركوع كښې وي اوتا دواړه لاسونه په زنګنونو باندې كېخودل مخكښې ددې نه چه امام دركوع نه سر پورته كړي، نو تا دا ركعت اونيولو

--- بل روايت كښې ترينه داسې الفاظ نقل دي :

من ادرك الامام راكعا فركع قبل ان يرفع الامام رأسه فقد ادرك تلك الركعه.

(اخرجه البيهقي : ۹۰/۲).

ترجمه : چاچه په ركوع كښې امام اونيولو مخكښې ددې نه چه امام سر راووچت كړي نو يقيناً دغه كس دا ركعت اونيولو.

۶ - شپږم دليل : عمل دابو بكر صديق رضي الله عنه دې.

۷ - اووم دليل : عمل دزيد بن ثابت رضي الله عنه دې.

۸ – اتم دليل : عمل دابو عبيده رضى الله عنه دے .

۹ – نهم دليل : عمل دعبد الله بن زبير رضى الله عنه دے .

ددے تولو صحابه كرامؓ نه نقل دى چه څوك امام سره ركوع اونيسى نو دغه كس دا ركعت اونيولو.

اودا مذهب دائمه اربعه : امام احمدؒ، امام مالكؒ، امام ابو حنيفةؒ اوامام شافعىؒ هم دے. اودغه شان دا مذهب دعروةؒ، سعيد بن المسيبؒ، ميمونؒ، شعبىؒ، سعيد بن جبيرؒ، ابن سيرينؒ، ابو سلمةؒ، عطاءؒ، مجاهدؒ، حسن بصرىؒ او عمرو بن تميمؒ هم دے.

شيخ إلبانىؒ هم دا فرمائى چه : كله يو كس دامام سره ركوع اونيوله نو ده ركعت اونيولو. دمذكوره تولو آثارو او اقوال دعلماؤ تفصيل په دے لاندينو كتابونو كښے كتلے شئ :

۱ – سلسله الاحاديث الصحيحه : ۴۰۱/۱، ۴۰۸ . رقم الحديث : ۲۹۹، ۲۳۰ . ۱۸۶/۳ . رقم الحديث : ۱۱۸۸ .

۲ – ارواء الغليل : ۲۶۰/۲، ۲۶۶، رقم الحديث : ۴۹۶ . كلاهما للشيخ الالبانى .

۳ – المجموع شرح المهذب للامام النووى : ۱۱۳/۴ .

۴ – المغنى لابن قدامه : ۵۰۸/۱ .

۵ – الانصاف للمرداوى : ۲۲۳/۲ .

۶ – المدونه الكبرى : ۶۹/۱ .

۷ – ابن ابي شيبه : ۹۹/۱، ۲۴۲، ۲۴۳، ۲۵۵ .

۸ – عون المعبود شرح سنن ابي داود للعظيم ابادىؒ : ۳۳۶/۱ .

۹ – مجموعه الفتاوى لشيخ الاسلام ابن تيميةؒ : ۲۹۰/۲۳ .

۱۰ – فتاوى السعديه : ۱۷۱/۱ .

۱۱ – فتاوى اللجنه الدائمه للبحوث العلميه والا فتاء : ۴۰۴/۶، لاصحاب فضيله العلماء : ا لشيخ عبد الله بن قعود، عبد الله بن غديان، وعبد العزيز بن عبد الله بن باز .

۱۲ – المنقى شرح الموطا للباجى : ۲۰/۱، ۲۹۴ .

۱۳ – فتح البارى : ۲۶۸/۲ .

۱۴ – الفقه الاسلامى : ۲۱۰/۲ .

۱۵ – السنن الکبری للبیهقی : ۸۹/۲، ۹۰ .
۱٦ – اعلاء السنن : ۳۱۲/٤، ۲۳۲، للشیخ ظفر احمد .
۱۷ – فتاوی اسلامیه : ۲۸۳/۱، ۲۸٤ .
۱۸ –امام ا لکلام مع غیث الغمام کلاهما للعلامه عبد الحی اللکهنوی ص : ۵۱،
۱۰۰ . ومجموعه رسائل اللکهنوی : ۵۱/۳، ۱۰۰، تفصیلاً .
۱۹ – التحقیقات فی رد الهفوات ص : ۲۰۱، ۲۰۸، تفصیلاً .
۲۰ – فتاوی الدین الخالص : ۲۱۷/٤، ۲۲۷ . ۲۲٤/۵، ۲۲۹، ۲٤٦، تفصیلاً .
۲۱ – الملخص الفقهی للشیخ صالح الفوزان : ۱٤۱/۱ .
۲۲ – حجه الله البالغه : ۲۸/۱ .

۱٤۲٤/۱۲/۲۲ هـ .

په قعده کښې د شهادت په ګوته اشاره کول سنت دی

سوال : اشاره بالسبابه (مسواکۍ ګوته پورته کول) دقعدے (تشهد) په وخت درسول الله ﷺ نه ثابت ده که نه ؟ بعض خلق وائی چه دا سنت کښې نشته، او بعض نور خلق وائی چه دا زمونږ په مذهب کښې نشته. مونږ ته ددے مسئلے تفصیل او وضاحت دقرآن اوسنت په رنړا کښے اوکړئ ! وجزاکم الله خیرا !

جواب : په مانځه کښے په مسواکۍ ګوتے سره اشاره کول دتشهد(قعدے) په وخت سنت طریقه ده، دیته حرام یا مکروه وئیل جهل اوګمراهی ده. ځکه دے کښے ډیر زیات احادیث راغلی دی. دغه شان په تشهد کښے په ګوتے سره اشاره کولو باندے دعلماؤ اجماع ده، لکه دا خبره ملا علی قاری ؒ په خپل کتاب تزیین العباره لتحسین الاشاره ص (٦۰، ٦۱) کښے لیکلے ده. په دے باندے مسئله باندے ښه تحقیقی کتاب مولانا ابو مسلم عبد القدوس صاحب په پښتو ژبه کښے لیکلے چه دهغے نوم دے (رفع العجاجه عن الاشاره بالسبابه). موصوف په دے کښے (۱۳) آیتونه او (۳۸) احادیث ذکر کړی دی چه ددے تولو نه اثبات او سنیت داشارے معلومیږی.

داشارے کولو په جواز او استحباب باندے ئے دعلماؤ اجماع نقل کړیده، اود څلور واړو مذاهبو امامانو په مذهب ئے دا ثابته کړیده چه ګوتے سره اشاره کول په تشهد کښے سنت طریقه ده. دارنګه یو

بل کتاب (البشاره لاهل الاشاره) کښې تقریباً د څلور سوه علماؤ اقوال ذکر کړې دي. دلته مختصراً یو څو دلائل لیکلې شي چه په هغې کښې داشارې دسنت طریقه کېدلو اثبات دې. هغه دلائل دادي:

۱ – عن عبد الله بن عمر – رضی الله عنهما – قال: ان رسول الله ﷺ کان اذا قعد فی التشهد وضع یده الیسری علی رکبته الیسری ووضع یده الیمنی علی رکبته الیمنی وعقد ثلاثاً وخمسین واشار بالسبابه.

رواه مسلم: ۲۱٦/۱، والبیهقی: ٤۸۰، رقم: ۲۸۳۹.

ترجمه: دابن عمرؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ به چه کله دالتحیات دپاره کېناستلو نو خپل ګس لاس به ئې په خپل ګس زنګون او خپل ښې لاس به ئې په خپل ښی زنګون باندې کېخودلو اوددرې پنځوسو نښه به ئې اوتړله او په مسواکئ ګوتې سره به ئې اشاره اوکړله. اوګوره المشکاه: ۸۵/۱.

دې حدیث شریف کښې په التحیات کښې دلاسونو ایخودلو طریقه او دغه شان په التحیات کښې په مسواکئ ګوتې سره داشارې دلیل ذکر دې. اود اشارې کیفیت او طریقه هم ذکر شوه چه ددرې پنځوسو طریقه داده: چه دلاس تولې ګوتې به راغونډې کړی اود غټې ګوتې سره به دمسواکئ ګوتې په درمیانه بند باندې کېخودلې شی، او په مسواکئ ګوتې سره به اشاره کوی.

۲ – عن علی بن عبد الرحمن المعاوی انه قال: رآنی عبد الله بن عمر وانا اعبث بالحصی فی الصلاه، فلما انصرف نهانی فقال: اصنع کما کان رسول الله ﷺ یصنع، قلت: وکیف کان رسول الله ﷺ یصنع؟ قال: کان اذا جلس فی الصلاه وضع کفه الیمنی علی فخذه الیمنی وقبض اصابعه کلها، واشاره باصبعه التی تلی الابهام ووضع کفه الیسری علی فخذه الیسری.

ترجمه: دعلی بن عبد الرحمن المعاویؒ نه روایت دې چه زه دعبد الله بن عمرؓ اولیدلم چه ما دکانړو سره لوبې کولې په مانځه کښې، کله چه فارغ شو دمانځه نه نو زه ئې دلوبو نه منع کړم او راته ئې اوفرمائیل: په مانځه کښې هغه څه کوه کوم چه به رسول الله ﷺ کول. ما عرض اوکړو چه رسول الله ﷺ به څه کول؟ ابن عمرؓ راته اوفرمائیل: رسول الله ﷺ به چه کله په مانځه کښې کېناستلو نو ښې ورغوې به ئې په ښی پتون باندې کېږودلو اوخپلې تولې ګوتې به ئې راغونډې کړلې او اشاره به ئې اوکړه په هغه ګوته باندې چه نزدې ده غټې ګوتې ته، او خپل ګس ورغوې به ئې په خپل ګس پتون باندې ایخې وو.

اود نسائی په روایت کښې دادی چه :

خپل ګوته به ئے په په خپل نظر سره وېشتله - (یعنی ګوتے طرفته به ئے کتل).

رواه مسلم : ۲۱٦/۱، والبیهقی رقم : ۲۸۳۷، ٤٧٩/٢، ومالك فی الموطا : ۷۱/۱. ومحمد فی الموطا : ۱۰۸، والنسائی : ۱۸۷/۱. وابوداود : ۱٤۹/۱، والحمیدی فی مسنده : ۲٦۷/۲، واحمد : ۷٥/۲، وکذا انظر صحیح النسائی : ۲٥۰/۱، رقم : ۱۱۱۱، وصحیح سنن ابی داود : ۹۰۷/۱. وفی روایه للنسائی : ۱۷۳/۱ : ورمی ببصره الیها او نحوها.

په دے حدیث کښې هم داشارے کولو ذکر اوشو اوداشارے طریقه هم بیان شوه چه خپلے تولے ګوتے به ئے راغونډے کړے، او په مسواکئ ګوته باندے به اشاره کوی، اومونږ کونکے هغه ګوتے ته ګوری په کومے ګوتے سره چه اشاره کوی.

۳ - عن عبد الله بن زبیر - رضی الله عنهما - قال : کان رسول الله ﷺ اذا قعد یدعو وضع یده الیمنی علی فخذه الیمنی ویده الیسری علی فخذه الیسری واشاره باصبعه السبابه، ووضع ابهامه علی اصبعه الوسطی ویلقم کفه الیسری رکبتیه.

(رواه مسلم : ۲۱٦/۱، والدارقطنی : ۳٤۹/۱، وانظر المشکاه : ۸٥/۱).

ترجمه : دعبد الله بن زبیرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به چه کله ددعاء دپاره کېناستلو نو خپل ښے لاس به ئے په خپل ښی پتون او خپل ګس لاس به ئے په خپل ګس پتون باندے کېخودلو او په مسواکئ ګوتے سره به ئے اشاره کوله، او خپله غټه ګوته به ئے په خپله مېنځنئ ګوتے باندے کېخودله، او خپل ګس ورغوی ته به ئے دخپل زنګون سر داخل کړو.

په دے حدیث کښې : التحیات لله ته دعاء وئیلے شویده اودا هم ذکر دی چه دکېناستلو سره سمدست به ئے اشاره کوله. دغه شان دے حدیث کښې داشارے کیفیت ذکر شویدے چه هغه دادے چه غټه ګوته به په مېنځنئ ګوته کېدے اوپه مسواکه ګوته باندے به اشاره اوکړی. اود نورو ګوتو راتولو څه ذکر نشته، لیکن دنورو احادیثو نه معلومیږی چه نورے ګوتے به ئے راغونډے کړے وے.

٤ - عن عبد الله بن زبیر - رضی الله عنهما - قال : کان رسول الله ﷺ اذا قعد فی الصلاه جعل قدمه الیسری بین فخذه وساقه وفرش قدمه الیمنی علی فخذه الیمنی واشار باصبعه.

رواه مسلم : ۲۱٦/۱، وابوداود : ۱٤۹/۱، وابن ابی شیبه : ۳٦۹/۲، رقم : ۱٦، والبیهقی : ٤۸۰/۲، رقم : ۲۸٤۰.

(ترجمه : دعبد الله بن زبیرؓ نه روایت دے دا فرمائی چه : کله به رسول الله ﷺ په مانځه کښے کیناستلو نو خپله ګسه خپه به ئے دخپل پتون او پنډئ په مینځ کښے اوګرځوله او خپله ښئ خپه به ئے اوغوړوله او ګس لاس به ئے په خپل ګس پتون باندے کیخودلو اوښے لاس به ئے په ښی زنګون باندے کیخودلو او په خپله ګوته باندے به ئے اشاره کوله).

په دے حدیث شریف کښے دقعدے یعنی دالتحیات دپاره دکیناستلو طریقه ذکر ده چه قعده کښے په تورك کیناستل سنت طریقه ده. دغه شان اشاره ذکر شوه چه رسول الله ﷺ به اشاره کوله اودا حدیث مطلق اومجمل دے چه داشارے کیفیت ئے نه دے بیان کړے او نورو احادیث مقید او مفسر دی نو دابه په هغوی باندے حمل وی.

۵ – عن وائل بن حجر قال : قلت : لانظرن الی صلاه رسول الله ﷺ کیف یصلی، فنظرت الیه فوصف قال : ثم قعد وافترش رجله الیسری، ووضع کفه الیسری علی فخذه ورکبته الیسری ، وجعل حد مرفقه الایمن علی فخذه الیمنی، ثم قبض اثنتین من اصابعه وحلق حلقه ثم رفع اصبعه فرأیته یحرکها، یدعو بها.

ترجمه : دوائل بن حجرؓ نه روایت دے دا فرمائی : ما اووئیل چه زه به خامخا درسول الله ﷺ مانځه ته ګورم چه څنګه مونځ کوی، نو ما دهغه مانځه ته اوکتل، بیا وائلؓ درسول الله ﷺ دمانځه طریقه بیان کړه، او وے فرمائیل : چه بیا کیناستلو او وے غوړوله خپله ګسه خپه او خپل ګس ورغوے ئے په ګس پتون او زنګون باندے کیخودلو، اود خپلے ښئ څنګلے آخره برخه ئے دښی پتون دپاسه اوچته اوګرځوله. بیا ئے دخپلو ګوتو نه دوه ګوتے راغونډے کړے اوحلقه ئے جوړه کړه په حلقے جوړولو سره، بیائے خپله ګوته پورته کړه. نو ما رسول الله ﷺ اولیده چه دغه ګوته ئے خوزوله، چه دعاء ئے غوښتله په هغے سره.

رواه النسائی : ۱۸۶/۱، ۱۸۷، ۱۴۱، وابوداود : ۱۱۲/۱، ۱۴۵ . وابن ماجه : ۱۵۱/۱، رقم : ۹۱۲، والطحاوی : ۱۴۸/۱، والبیهقی : ۴۸۲/۲، رقم : ۲۸۴۳ . وابن الجارودفی المنتقی : ۱۰۹/۱، رقم : ۲۰۸ . وابن ابي شیبه : ۳۶۹/۲، واحمد . وقال الالبانی : وسنده صحیح،انظر صحیح سنن النسائی : ۲۷۱/۱، رقم : ۱۲۰۳ . وصحیح سنن ابي داود : ۱۳۹/۱، ۱۸۰ . رقم : ۷۲۶، ۹۵۷، وصحیح سنن ابن ماجه : ۱۵۱/۱، رقم : ۹۱۲. وقال الترمذی : هذا حدیث حسن صحیح کما فی المرعاه : ۲۴۰/۳، وصححه صاحب اتحاف اهل التقی بتخریج احادیث المنتقی : ۱۰۹ .

په دے حدیث کښے هم ډاشارے کیفیت بیان شویدے چه کچه ګوته او وړیسے وړیره ګوته به غونډوی، اود مینځنۍ او غټے ګوتے نه به ئے حلقه (کړئ) جوړه کړے وه، بیا ئے مسواکۍ ګوته پورته کړه او هغه به ئے خوزوله.

دغه شان دے حدیث کښے په قعده کښے دلاس کیخودلو طریقه بیان شوه.

دے کښے نور ډیر احادیث هم شته، دتفصیل دپاره اوګوره :

۱ – مسلم : ۲۱٦/۱ .

۲ – ابوداود : ۱٤۹/۱، ۱۱٤، ۱۱۲، ۱٤٥ .

۳ – البیهقی : ٤۸۰/۲ . ٤۷۹، ٤۷۸، ٤۸۲ . ٤۸٥، ٤۸۱، ٤۸۹ .

٤ – ابن ابي شیبه : ۳٦۹/۲، ۳۸٦، ۳٦۸ .

٥ – الدارقطنی : ۳٤۹/۱ .

٦ – النسائی : ۱۸۷/۱، ۱۷۳، ۱۸٦، ۱٤۱، ۲۷۲ .

۷ – الترمذی : ٦٥/۱، ۱۹٦ .

۸ – ابن ماجه : ٦٥/۱ .

۹ – موطا مالك : ۷۱/۱ .

۱۰ – موطا محمد ص : ۱۰۸ .

۱۱ – مسند الحمیدی : ۲۸۷/۲، ٦٤۸، ۲۸۸، ٦٤۸ .

۱۲ – الطحاوی : ۱۸٥/۱، ۱٤۸ .

۱۳ – مجمع الزوائد : ۳۳۳/۲، ۲۳۲، ۳۱۹، ۳۳٤ . ۲۱۰/۷ .

۱٤ – مسند احمد : ۲٦۸/۲ .

۱٥ – ابن خزیمه : ۳٥٤/۱، ۳٥٥ .

۱٦ – ابو یعلی : ۲۷٥/۲ .

۱۷ – المشکاه : ۸٥/۱ .

دے کتابونو کښے دغه شان نورو ډیرو کتابونو داحادیثو کښے په مانځه کښے په مسواکۍ ګوتے سره په اشاره کولو باندے ډیر احادیث موجود دی. چه په (رفع العجاجه عن الاشاره بالسبابه) کښے تفصیلا ذکر دی.

داشارې په باره کښې دعلماؤ اقوال :

۱ – امام محمدؒ په موطا کښې دابن عمرؓ حدیث ذکر کړې چه هغه دادې چه :

واشار باصبعه التی تلی الابهام .

(په هغه ګوته ئې اشاره اوکړه کومه چه غټې ګوتې ته نزدې ده) .

ددې حدیث ذکر کولو نه روسته موصوف لیکی :

وبصنع رسول الله ﷺ ناخذ وهو قول ابي حنیفه .

(او په کار درسول الله ﷺ باندې مونږ عمل کوو،اوهمدا قول دامام ابو حنیفةؒ هم دې)

اوګوره : موطا امام محمد ص : ۱۰۸، ۱۹) .

اودا قول دامام ابو یوسفؒ هم دې . اوګوره الامالی دغه شان التعلیق الممجد ص (۱۰۹) حاشیه : ۱، السعایه : ۲۱۷/۲ .

۲ – شاه ولی الله دهلوی صاحبؒ لیکی :

واشار بالسبابه : (مونځ کونکې به په مسواکئ ګوته اشاره کوی) -- بیا روسته لیکی :

ومن قال : ان مذهب ابي حنیفه رحمه الله ترك الاشاره بالمسبحه فقد اخطأ ولا یعضده روایه ولا درایه، قاله ابن الهمام .

ترجمه : او څوك چه وائی چه دامام ابو حنیفةؒ مذهب دادې چه په مسواکئ ګوته به اشاره نه کوی نو دا خطاء خبره ده، ولې چه ددې خبرې تائید نه عقل کوی نه نقل، دا خبره ابن الهمام وئیلې ده . – حجه الله البالغه : ۱۱/۲ .

۳ – علامه عبد الحی لکهنویؒ لیکی :

فظهر ان اصحابنا الثلاثه اتفقوا علی تجویز الاشاره لثبوتها عن النبی ﷺ واصحابه بروایات متعدده وطرق متکثره، لا سبیل لانکارها، ولا الی ردها .

ترجمه : نو څرګنده شوه چه زمونږ درې واړه امامان متفق دی په جواز داشارې کولو باندې دوچې دثبوت ددې دنبی کریم ﷺ اود صحابه کرامؓ دهغه نه په مختلفو روایاتو اوګڼړو طریقو سره، چه ددې رد او انکار ته هیڅ لاره نشته دې .

بیا روسته دهغه چا باره کښې چه ددې قائل نه دی یا ورته مکروه وائی، لیکی :

فالحذر والحذر من الاعتماد علی قولهم فی هذه المسئله، مع کونه مخالفاً لما ثبت عن النبی ﷺ واصحابه بل وعن أئمتنا ایضاً. بل لو ثبت عن أئمتنا التصریح بالنفی وثبت عن رسول الله ﷺ واصحابه الاثبات، لکان فعل رسول الله ﷺ واصحابه احق والزم بالقبول، فکیف وقد قال به أئمتنا ایضاً.

ترجمه : په دے مسئله کښے ددوئ (یعنی داشارے دمخالفینو) په قول باندے داعتماد کولو نه ځان په کلکه باندے اوساته، سره ددے نه چه دا مخالف دے دهغه طریقے نه کومه چه درسول الله ﷺ اود هغه دصحابه کرامو نه ثابت ده، بلکه زمونږ دامامانو نه هم ثابت ده. دا لا څه کوے که چرے زمونږ د (حنفی) امامانو نه ښکاره انکار راغلے وے، او بل طرفته درسول الله ﷺ او دهغه دصحابه کرامو نه ددے اثبات راشی نو درسول الله ﷺ او دهغه دصحابه کرامو فعل به ډیر زیات لائق وی او ډیر زیات به په قبلولو سره لازم وی، او ولے به نه وی حال داچه په دے باندے خو زمونږ امامانو هم قول کړیدے.

دارنګ په السعایه : ۲۱۷/۲، کښے لیکی :

فاعلم ان الائمه الثلاثه واتباعهم اتفقوا علی کونها سنه، کما حکاه العینی في شرح الهدایه، وکذا اتفق علیه ائمتنا الثلاثه وقدماء اتباعهم، والخلاف انما جاء من متاخریهم، فلا اعتداد بخلافهم.

ترجمه : پوهه شه چه درے واړه امامان اودهغوئ متبعین په دے متفق دی چه اشاره سنت طریقه ده. لکه دا خبره عینی دهدایه په شرح کښے نقل کړیده. اودغه شان زمونږ درے واړه امامانو (ابو حنیفه، ابو یوسف، محمد) اومتقدمینو ملګرو ددوئ په همدے خبره باندے اتفاق کړیدے. او په دے کښے خلاف صرف متاخرینو کړیدے چه ددوئ (متاخرینو) خلاف کولو لره هیڅ اعتبار نشته. اوګوره : السعایه : ۲۱۷/۲.

٤ – شاه انور شاه کشمیری لیکی : والاشاره سنه باتفاق أئمتنا الثلاثه.

(اشاره زمونږ ددرے واړو امامانو په اتفاق سره سنت ده). اوګوره : العرف الشذی : ۷۰/۱.

٥ –ملا علی قاری لیکی :

وبالجمله فهو مذکور فی الصحاح الست وغیرها، لما کاد ان یکون متواتراً، بل یصح ان یقال : انه متواتر معنی، فکیف یجوز للمؤمن بالله ورسوله ان یعدل عن العمل عنه.

(تزیین العباره لتحسین الاشاره).

ترجمه : خلاصه داچه اشاره په صحاح سته او نورو کتابونو کښے ذکر شویده چه نزدے ده چه

متواترو حدیثونو ته اورسی، بلکه دیته متواتر معنوی وئیل صحیح دی.نو څوك چه په الله او دهغه په رسول (ﷺ) باندے ایمان لری نو هغه لره به څنګه دا خبره جائز شی چه په اشاره باندے دعمل کولونه (دمذهب دوجے نه) اعراض اوکړی.

ددے دپاره چه فتوی ډیره اوګده نشی زه په اختصار سره صرف دهغه کتابونو نومونه لیکم کومو کښے چه مسواکئ ګوتے سره اشارے کولو ته سنت وئیلے شوی دی، اوګوره:

٦ – مراقی الفلاح: ٥٠/١.

٧ – مجموعه الفتاوی لعبد الحی لکهنوی: ٢٤٧/١، عمده الرعایه: ١٧٠/١.

٨ – فتاوی دار العلوم دیوبند: ١٨١/٢.

٩ – احسن الفتاوی: ٣٠/٣.

١٠ – تنظیم الاشتات: ٦٥/٢.

---

١١ – کفایه المفتی: ٣٨١/٣.

١٢ – فتاوی رشیدیه ص: ٢٩٩.

١٣ – معارف السنن: ٩٧/٣.

١٤ – انوار المحمود علی سنن ابي داود: ٣٣٣/١.

١٥ – بذل المجهود: ٣١٧/٥.

١٦ – مدارج النبوه: ٣٦٥/١.

١٧ – فتح الملهم: ١٦٨/٢.

١٨ – نور الایضاح ص: ٧٠، ٧٥.

١٩ – فتاوی برهنه: ٢٣٤/١.

٢٠ – السعایه: ٢١٧/٢.

٢١ – رد المحتار حاشیه الدر المختار: ١٩٣/٢، یا: ٩٠٨/١.

٢٢ – بدائع الصنائع: ٥٠١/١.

٢٣ – البحر الرائق: ٣٢٤/١.

٢٤ – شرح الوقایه: ١٧٠/١.

٢٥ – شرح کبیری لمنیه المصلی ص: ٣٢٨.

۲٦ – مرقات شرح مشکوه لملا علی قاری : ٦٢٤/٢ .

۲۷ – رفع التردد عن عقد الاصابع عند التشهد ص : ۱۰۳ .

۲۸ – فتح القدیر : ۲۸۲/۱ .

۲۹ – فتاوی حقانیه : ۹۷/۳، ۹۸ .

دے تولو حنفی فقه کتابونو کښے دی چه په قعده کښے په مسواکئ ګوتے سره اشاره کول سنت دی .

۳۰ – دغه شان اوګوره : فتح المالك علی موطا الامام مالك : ١٤٨/٢ .

۳۱ – بدایه المجتهد : ۱/ ۱۵۳ . لابن رشد المالکی .

۳۲ – المهذب : ٢٦٥/١ . ۳۳ – الحاوی الکبیر : ۱۳۵/۲ .

۳٤ – النووی شرح مسلم : ٣١٦/١ . ۳۵ – المجموع شرح المهذب : ٤٣٤/٣ .

۳٦ – مغنی المحتاج : ۱۷۳/۱ . ۳۷ – زاد المعاد : ٦٥/١ .

۳۸ – المعتمد : ۱۳۸/۱ . ۳۹ – المغنی لابن قدامه : ٥٣٤/١ .

٤٠ – الفقه علی المذاهب الاربعه : ٢٦٥/١ . ٤١ – الفقه الاسلامی : ٧١٥/١ .

٤٢ – نیل الاوطار : ١٤٤/١ . ٤٣ – المحلی لابن حزم : ١٥١/٤) .

٤٤ – المرعاه شرح المشکاه : ٢٢٧/٣ . ٤٥ – فقه السنه : ١٤٤/١ .

٤٦ – الکافی في فقه اهل المدینه المالکی : ٤٢/١ .

٤٧ – سبل السلام : ٣٨٤/١ . ٤٨ – صفه الصلاه للالبانی ص :

٤٩ – تمام المنه ص : ۲۲۳ .

٥٠ – فتاوی الدین الخالص : ٣٤١/٤ .

٥١ – آپ کی مسائل اور ان کاحل قرآن وسنت کی روشنی میں : ١٤٢/١ .

٥٢ – شرح الزرقانی : ٢٨٥/١ . ٥٣ – مسائل ابن هانی عن الامام احمد : ٨٠/١ .

٥٤ – رفع العجاجه عن الاشاره بالسبابه تفصیلا .

٥٥ – فتاوی اسلامیه : ۱/ ۲۹۰ . للشیخ ابن عثمین .

٥٦ – الغنیه للجیلانی : ١١٤/٢ . ٥٧ – الملتقط للسمرقندی : ٥٣/١ .

٥٨ – احیاء العلوم للغزالی . ٥٩ – هدایه الصلاه للشیخ حبیب الله السلفی : ۱۰۲ .

۶۰ - البشاره لاهل الاشاره.

دغه شان دے باره کښې دنورو علماؤ اقوال هم شته چه دذکر شوو کتابونو نه علاوه نورو کتابونو کښې هم دا ذکر دی چه: په قعده کښې په ګوتے سره اشاره کول سنت طریقه ده. او په دے باندے دعلماؤ اجماع ده.

ملا علی قاریؒ په تزیین العباره لتحسین الاشاره کښې لیکلی دی:

لم یعلم من الصحابه ولامن علماء السلف خلاف فی هذه المسئله، ولا فی جواز الاشاره ولا في تصحیح العباره، بل قال به امامنا الاعظم وصاحباه وکذا مالك والشافعی واحمد وسائر علماء الامصار والاعصار رضی الله عنهم، علی ما وردت به صحاح الاخبار والآ ثار، وقد نص علیه مشائخنا المتقدمون والمتاخرون، فلا اعتداد مما علیه المخالفون، ولا عبره بما ترك هذه السنه الاکثرون من سکان ماوراء النهر واهل خراسان، والعراق، والروم، وبلاد الهند، ممن غلب علیهم التقلیدُ وفاتهم التحقیقُ والتایید من التعلیق بالقول السدید.

(تزیین العباره لتحسین الاشاره ص: ۶۰، ۶۱) وکذا فی طبقات الفقهاء ص: ۱۷، والنافع الکبیر لمن یطالع الجامع الصغیر ص: ۲۱، کلاهما للعلامه عبد الحی اللکهنویؒ. ورفع العجاجه عن الاشاره بالسبابه ص: ۷۸.

ترجمه: په دے مسئله کښې نه دصحابه کرامؓ نه او نه دسلفو علماؤ اختلاف شته، اونه په جواز داشارے کښې اونه په تصحیح ددے عبارت کښې (خلاف شته) بلکه ددے په جواز باندے امام ابو حنیفهؒ او دهغه شاګردانو هم قول کړے، دغه شان امام مالك، امام شافعی، امام احمد او دهر ښار او هرے زمانے علماؤ - رضی الله عنهم - قول کړے. ځکه چه په دے باندے صحیح احادیث او آثار راغلی دی، او په همدے باندے زمونږ متقدمینو اومتاخرینو مشائخو تصریح کړیده. نو هغه قول له هیڅ اعتبار نشته په کوم باندے چه مخالفین (داشارے) ولاړ دی، دغه شان هغه خلقو لره هم څه اعتبار نشته کوم چه دا سنت طریقه پرینږی ده چه هغه اکثره دماوراء النهر، خراسان،عراق، روم او دهندوستان اوسیدونکی دی چه په دے خلقو تقلید غالب شویدے او تحقیق او تائید ترینه ختم شویدے (په دے خبره کښې) چه دوئ ځان اونښلوی په صحیح اودرست قول پورے.

دغه شان علامه عبد الحی لکهنویؒ په التعلیق الممجد ص: ۱۰۹، کښې لیکی:

قال ابن عبد البر: انه لا خلاف في ذلك.

ترجمه : علامه ابن عبد البرّ فرمائی چه : په دے مسئله کښے (چه اشاره سنت طریقه ده) دهیڅا اختلاف نشته.

اوکومه خبره چه دخلاصه کیدانی مصنف لیکلی ده چه : اشاره بالسبابه حرام ده. نو دهغه باره کښے مُلا علی قاری داسے لیکی :

وقد اغرب الکیدانی حیث قال : والعاشر من المحرمات الاشاره بالسبابه : کاهل الحدیث،ای مثل اشاره جماعه یجمعهم العلم بحدیث رسول الله ﷺ، وهذا خطاء منه عظیم، وجرم جسیم منشؤه الجهل عن قواعد الاصول ومراتب الفروع من النقول، ولولا حسن الظن به، وتاویل کلامه : لکان **کفره** صحیحا وارتداده صریحا، فهل یحل للمؤمن ان یحرم ما ثبت عن رسول الله ﷺ ما کاد ان یکون متواترا في نقله ویمنع جواز ما علیه عامه العلماء کابرا عن کابر ؟

ترجمه : دکیدانی مصنف ډیره ناشنا (بے قرطه) خبره کړیده هغه داسے چه ده وئیلی دی چه : لسم حرام څیز اشاره کول دی په شان داهل حدیثو. یعنی لکه اشاره دهغه کسانو چه په احادیثو درسول الله ﷺ پوهه دی. داخبره دکیدانی لویه غلطی ده اوعظیم جُرم دے، چه ددے منشاء ناپوهی ده داصولو په قواعدو او په مراتبو دفروعو باندے. اوکه چرے په ده باندے حُسن ظن (ښه گمان) کول نه وے او دده دکلام تاویل نه وے نو خامخا دده کفر به صحیح او مرتد کیدل به ښکاره وے ! آیا دیو مؤمن دپاره دا حلال دی چه هغه څیز حرام کړی کوم چه درسول الله ﷺ نه په تواتر سره ثابت دے او دهغے په جواز باندے عام علماؤ دیو بل نه په نقل کولو سره روان دی !!

اوگوره تزیین العباره لتحسین الاشاره ص : ٦٦، ٦٧ .

په النافع الکبیر لمن یطالع الجامع الصغیر مقدمه الجامع الصغیر ص : ۲۱، کښے دملا علی قاری عبارت علامه عبد الحی لکهنوی هم نقل کړیدے. طبقات الفقهاء ص : ۱۷، کښې هم دا خبره لیکلے، دغه شان مجموعه رسائل اللکهنوی : ۲۸۳/۳ .

دغه شان دا خبره په فتح الملهم : ۱٦۸/۳، عرف الشذی لانور شاه الکشمیری : ۷۰/۱، انوار المحمود : ۳۳۳/۱، کښے هم ذکر ده.

دارنگ علامه عبد الحی لکهنوی په غیث الغمام حاشیه امام الکلام کښے لیکلی :

قوله من المحرمات : هذا القول هو من الاقوال الخبیثه المردوده لمخالفته لما ثبت ان من ائمتنا الثلاثه من سنیته الاشاره الخ .

ترجمه : دخلاصه کېدانی دمُلا خبره چه اشاره په ګوتې سره حرام کار دے، دا خبره خبیثه او مردوده ده. اوګوره : مجموعه رسائل اللکنهوی : ۵۰/۳ .

علامه ابن القیمؒ په اعلام الموقعین : ۳۹۹/۲، کښې فرمائی :

المثال الستون : رد السنه الصحیحه المحکمه في اشاره المصلی باصبعه الخ .

ترجمه : شپېتم مثال دادے چه (مقلدینو) صحیح او محکم سنت طریقه رد کړیده چه هغه په ګوتې سره دمونځ ګذار اشاره کول دی الخ .

٤/ رمضان ١٤٢٤ هـ.

اشاره به څه وخت کوي ؟

سوال : په تشهد کښې به څه وخت ګوته باندې اشاره کولے شی ؟

جواب : صحیح او راجح خبره داده چه کله مونځ کونکے په قعده کښېنی نو په ګوته سره به اشاره کوی. او څوك چه وائی چه دنفی په وخت کښې به ګوته پورته کوی او داثبات په وخت کښې به ئے ښکته کوی - یا - داثبات په وخت کښې به ئے پورته کوی اود نفی په وخت کښې به ئے ښکته کوی په دے اقوالو هیڅ دلیل نشته دے. لکه شیخ البانیؒ په صفه صلاه النبی ﷺ ص : ٤٤، کښې لیکی :

واما وضع الاصبع بعد الاشاره او تقییدها بوقت النفی والاثبات فکل ذلك مما لا اصل له في السنه.

ترجمه : اېخودل دګوتې پس داشارے کولونه، یا مقید کول ددے په وخت دنفی او دا اثبات پورے نو په دے ټولو خبرو باندې داحادیثو نه هیڅ دلیل نشته .

دغه شان خبره په تمام المنه ص (۲۲۳) ' تحفه الاحوذی : ۱۵۹/۲ کښې هم کړیده ۔

بلکه په دے کښې صحیح طریقه داده چه مونځ کونکے کله په قعده باندې کښېنی دالتحیات وئیلو سره سم به اشاره کوی تردے چه سلام اوګرځوی . څکه عامو احادیثو کښې دادی چه کله به رسول الله ﷺ په قعده کښېناستلو نو سمدست به ئے اشاره کوله. لکه په مسلم : ۲۱٦/۱، ابوداود : ۱٤۹/۱، بیهقی : ٤۸۰/۲، ابن ابي شیبه : ۳٦۹/۲، کښې دعبد الله بن زبیر - رضی الله عنهما - په حدیث کښې دی :

کان اذا قعد في الصلاه ..... واشار باصبعه.

یعنی: کله چه به رسول الله ﷺ په مانځه کښې کېناستلو نو.... په ګوتې سره به ئے اشاره کوله.
----- دغه شان دابن عمر – رضی الله عنهما – په روایت کښې راځی:
کان اذا جلس في الصلاه وضع یده علی رکبتیه، ورفع اصبعه الیمنی التی تلی الابهام.
(رواه مسلم: ۲۱۶/۱، والنسائی: ۱۸۷/۱، والترمذی: ۶۵/۱، وابن ماجه: ۶۵/۱، والبیهقی: ۴۸۰/۲، رقم: ۲۸۳۸، کما فی المشکاه: ۸۵/۱).
ترجمه: ابن عمرؓ فرمائی: رسول الله ﷺ به چه کله په مانځه کښې په قعده کېناستلو نو لاسونه به ئے په زنګنونو باندے کېخودل اوهغه ګوته به ئے اوچته کړه کومه چه غټے ګوتے ته نزدے ده – یعنی مسواکۍ ګوته.
دغه شان نور روایات هم راغلی دی چه تولو دادی چه کله به رسول الله ﷺ په قعده کېناستلو نواشاره به ئے کوله. دحدیث په تولو کتابونو کښې چه کله داشارے ذکر کېږی نو په یو کتاب کښې هم د انشته چه دنفی (لا اله) په وخت کښ به ګوته اوچتوی، اود اثبات (الا الله) په وخت به ئے خکته کوی! دا هسے چا عقلی دنیا جنګولے ده!
دے وجے نه محققینو علماؤ هم دا خبره کړی چه دالتحیات وئیلو سره سم به اشاره کولے شی. لکه:
۱ – شیخ محمد عبد الرحمن المبارکفوریؒ په تحفه الاحوذی (۱۵۹/۲) کښې لیکی:
قلت: ظاهر الاحادیث یدل علی ان الاشاره من ابتداء الجلوس ولم أر حدیثاً یدل علی ما قال الشافعیه والحنفیه.
ترجمه: زه وایم ظاهر داحادیثو دلیل دے په دے خبره چه دکېناستلو سره سم به اشاره کوی، او ما هیڅ (صحیح) حدیث نه دے لیدلے چه هغه دلالت اوکړی په هغه خبره باندے کومه چه شوافعو او احنافو وئیلے ده.
۲ – شیخ ابو الحسن عبید الله المبارکفوریؒ په المرعاه کښې فرمائی:
ظاهر الاحادیث الوارده في هذه المسئله یدل علی ان الاشاره من ابتداء الجلوس، فالراجح عندنا: ان یعقد من اول القعود مشیراً بالمسبحه مستمراً علی ذلك الی ان یسلم.
ترجمه: ظاهر دهغه احادیثو چه راغلی دی په دے مسئله کښې دلالت کوی په دے باندے چه اشاره دقعدے دشروع کول پکار دی. نو غوره خبره داده زمونږ په نزد چه قعده کښ کېناستلو سره سم دے

مسواکۍ ګوته پورته کړي اودادے تر سلام ګرځولو پورے به دغه شان ګوته اوچته ساتي.

۳ – ملا علی قاری حنفیؒ په المرقاه شرح مشکوه کښے لیکي:

وقال ابن حجر: ای من اول جلوسه للتشهد، کما دلت علیه الروایات الاخر.

ترجمه: ابن حجرؒ فرمائي: یعنی اشاره به کوي دالتحیات شروع کولو سره سم، لکه چه دے خبره باندے نور روایتونه دلالت کوي.

اوګوره: المرقاه: ۶۲۵/۱. دملا علی قاریؒ.

٤ – رشید احمد ګنګوهي صاحبؒ فتاوی رشیدیه کښے لیکي:

اور ملا علی قاری نے لکھاهے که اول سے هي عقد کرکے هاتھ رکھے یه بھی درست معلوم هوتاهے.

ترجمه: ملا علی قاریؒ لیکلی دي چه دشروع نه دے دلاس ګوتے راغونډے کړي اودا هم صحیح معلومیږي. – فتاوی رشیدیه: ۲۹۸/۱.

۵ – پیران پیر شیخ عبد القادر جیلانیؒ په الغنیه: ۱۱٤/۲، کښے فرمائي:

ویشیر باصبعه التی تلی الابهام... ویکون ناظرا الی اصبعه من اول التشهد الی آخره.

ترجمه: او په خپله هغه ګوتے سره به اشاره کوي کومه چه غټے ګوتے ته نزدے ده، اوخپلے ګوتے ته به داول دتشهد نه آخره پورے ګوري.

٦ – دے مسئله دپاره فتاوی الدین الخالص: ۳٤۱/٤، ۳٤۵ تفصیلاً کتل پکار دي.

۷ – دغه شان رفع العجاجه عن الاشاره بالسبابه ص: ۱٦۰، ۱۷۱، تفصیلاً.

۸ – الحاوی الکبیر للسیوطي: ۱۳۵/۲.

۹ – الشرح الصغیر: ۳۳۰/۱. المغني: ۵۳٤/۱.

۱۰ – مغني المحتاج: ۱۷۳/۱.

۱۱ – آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن وسنت کے روشنی میں

مونځ کونکې باندے د سلام اچولو حکم

سوال: یوکس چه په مانځه کښے وي آیا په ده باندے سلام اچول شته دے اوکه نه؟ اوکه په مونځ کونکي باندے سلام اچول په سنت کښے ثابت وي او په ده باندے سلام واچولے شي نو دے به دسلام

جواب څنګه ورکوي؟

بعض خلق وائي: سلام اچول نشته، اودې باره کښې چه کوم احادیث راغلي دي هغه منسوخ دي. مونږ ته ددې مسئلې وضاحت دقرآن اوحدیث په رنړا کښې اوکړئ! وجزاکم الله خیرا!

جواب: سلام اچول یو سنت عمل دې، رسول الله ﷺ په سلام اچولو باندې امر کړیدې لکه ترمذي: ۹۸/۲، کښې دي:

افشوا السلام - یعني سلام خوروئ!

بل په حدیث دبخاري: ۹۲۱/۲، اومسلم: ۲۱۳/۲ کښې دي:

عن البراء قال: امرنا النبي ﷺ بسبع (وفیه) وافشاء السلام.

ترجمه: براء بن عازبؓ فرمائي: نبي کریم ﷺ مونږ ته داوو خبرو حکم کړیدې (اوپه دې کښې دې یو) سلام خورول (عام کول) دي.

یو بل حدیث کښې دي:

(که څوك پیژنې یا ئې نه پیژنې په دواړو سلام اچوه).

ددې احادیثو نه دا مسئله معلومه شوه چه سلام به په هرکس باندې اچولې شي.

اوس چه څوك وائي چه په فلاني به سلام اچوې او په فلاني به ئې نه اچوې، نو دده نه به ددلیل مطالبه کولې شي.

او په مونځ کونکي باندې دسلام اچولو دلائل دادي

۱ - **اول حدیث:** امام ابوداود په سنن ابي داود (۱۴۰/۱) کښې باب راوړیدې:

باب رد السلام في الصلاه.

یعني باب دې په بیان ددې کښې چه په مانځه کښې به دسلام جواب ورکوي.

دغه شان ابن ماجه د (۱۰۱۷) حدیث نمبر لاندې باب راوړي:

باب المصلي یسلم علیه کیف یرد؟

یعني: باب دې په بیان ددې کښې چه په مانځه کونکي باندې سلام واچولې شي نو هغه به څنګه جواب ورکوي؟ ---- اوروسته دا حدیث راوړي:

عن عبد الله بن عمر قال: خرج رسول الله ﷺ الی قباء، قال: فجائته الانصار، فسلموا علیه وهو

یصلی، قال : فقلت لبلال : کیف رأیت رسول الله ﷺ یرد علیهم حین کانوا یسلمون علیه وهو یصلی ؟ قال : یقول هکذا، وبسط کفه، وبسط جعفر بن عون کفه وجعل بطنه اسفل وجعل ظهره الی فوق.

ترجمه : ابن عمرؓ فرمائی : رسول الله ﷺ مسجد قباء ته اووتلو اوهلته ئے مونځ کولو، نوانصارؓ راغلل او په رسول الله ﷺ باندے ئے سلام واچولو او رسول الله ﷺ مونځ کولو. ابن عمرؓ فرمائی : ما بلالؓ ته اووئیل : کله چه انصارو په رسول الله ﷺ باندے سلام اچولو نو رسول الله ﷺ څنګه جواب ورکړو په مانځه کښے ؟ نو بلالؓ راته اووئیل : رسول الله ﷺ دارنګ اشاره اوکړه – او ورغوی ئے خور کړو. جعفر بن عونؒ چه ددے حدیث راوی دے هغه په داسے طریقه ورغوئے خور کړو چه دننه طرف ئے خکته کړو او شا طرف ئے بره طرفته کړو.

ددے حدیث نه دا مسئله ښکاره معلومه شوه چه په مونځ کونکی باندے سلام شته دے، دغه شان مونځ کونکے به هم جواب په اشارے سره ورکوی او په خله به څه نه وائی.

سوال : که څوک اووائی چه دا حدیث منسوخ دے، او وجه دنسخ ئے داده چه په اول داسلام کښے په مانځه کښے خبرے جائز وے اوروسته بیا منسوخ شوے.

ددے **جواب** دادے چه : دا خبره صحیح ده چه په مانځه کښے خبرے کول منسوخ دی او خبرو نسخه په مانځه کښے په مکه مکرمه کښے شویده. اودغه مذکوره حدیث دمدینے طیبے واقعه ده، ځکه مسجد قباء او انصارؓ په مدینه طیبه کښے وو.

دویم دا چه : په خله باندے دسلام جواب نه ورکول په خپله ددے خبرے دلیل دے چه سره ددے نه چه خبرے په مانځه کښے منسوخ دی، لیکن دسلام جواب به بغیر دخبرو نه په اشارے سره ورکولے شی.

۲ – **دویم حدیث :** عن جابر – رضی الله عنه – قال : بعثنی النبی ﷺ لحاجه ثم ادرکته وهو یصلی ، فسلمت علیه فاشار الی ، فلما فرغ دعانی فقال : انك سلمت علی آنفاً وانا اصلی. (رواه مسلم : ۲۰٤/۱، ابوداود رقم : ۹۲٦، ابن ماجه : ۱۰۱۸).

ترجمه : جابرؓ فرمائی : زه رسول الله ﷺ په څه کار پسے اولیږلم، نو چه کله بیرته واپس راغلم، نو رسول الله ﷺ ما په مانځه کښے بیاموندلو، ماورباندے سلام واچولو نو رسول الله ﷺ ماته په اشارے سره دسلام جواب راکړو. بیا کله چه رسول الله ﷺ دمانځه نه فارغ شو، زه ئے راؤغوښتم او راته ئے اوفرمائیل : تا مخکښے په ما باندے سلام واچولو خو زه په مانځه کښے ووم (نو ځکه مے په خله

جواب در نه کړو، بلکه لاس سره مے جواب درکړو).
ددے حدیث کښے هم دا مسئله ذکر شوه چه په مانځه کونکی باندے سلام اچول شته دے، دغه شان مونځ کونکے به هم جواب ورکوی دلاس په اشارے سره.
۳ - **دریم حدیث**: عن صهیب انه قال: مررت برسول الله ﷺ وهو یصلی فسلمت علیه، فرد اشاره. قال الراوی: ولا اعلمه الا قال: اشاره باصبعیه. - انظر المشکاه: ۹۱/۱.
ترجمه: دصهیب رضی الله عنه نه روایت دے چه دا فرمائی: زه درسول الله ﷺ خواته تیر شوم اوهغه مونځ کولو نو ما وربانده سلام واچولو نوهغه ماته دسلام جواب په اشارے سره راکړو. (رواه ابوداود والترمذی وابن ابی شیبه).
٤ - **څلورم حدیث**: عن نافع ان عبد الله بن عمر مر علی رجل وهو یصلی فسلم علیه، فرد الرجل کلاما، فرجع الیه عبد الله بن عمر فقال له: اذا سلم علی احدکم وهو یصلی فلا یتکلم ولیشر بیده.
(رواه مالك فی الموطا: ۱۵٤/۱، وابن ابی شیبه: ۷٤/۲، المشکاه: ۹۲/۱).
ترجمه: نافع رحمه الله فرمائی: ابن عمر رضی الله عنه په یو سړی باندے ورتیرپدلو اوهغه سړی مونځ کولو، نو ابن عمر رضی الله عنه په هغه باندے سلام اوکړو، نوهغه کس دسلام جواب په کلام (خبرو) سره ورکړو (یعنی وعلیکم السلام ئے ورته اووئیلو) ابن عمر رضی الله عنه بیرته هغه کس ته واپس شو اوورته ئے اووئیل: کله چه په تاسو کښے په یو کس باندے (په مانځه کښے) سلام واچولے شی، نو هغه دے خبرے نه کوی بلکه دسلام جواب دے په اشاره سره ورکړی.
یعنی په خوله دے وعلیکم السلام نه وائی بلکه په لاس دے اشاره ورکړی.
ددے حدیث نه هم دا مسئله معلومه شوه چه: په مونځ کونکی باندے سلام اچول شته دے،لیکن مونځ کونکے به جواب په خله نه ورکوی بلکه په لاس به اشاره کوی.
دا کار درسول الله ﷺ دوفات نه روسته شوے دے، ځکه چه نافع چه دابن عمر رضی الله عنه نه دا عمل لیدلے نوهغه درسول الله ﷺ نه روسته لیدلے. ځکه نافع تابعی دے.
محترمو قارئینو! آیا داهم منسوخ حدیث دے؟ آیا ابن عمر رضی الله عنه په منسوخ حدیث عمل کولو؟ آیا هر حدیث چه داحنافو درائے خلاف وی هغه به منسوخ وی؟
دالله نه ویره پکار ده، که څوك رسول الله ﷺ خپل رسول اونبی گنړی! که څوك درسول الله

ﷺ دشفاعت امید لري نو هغه له پکار دي چه هغه درسول الله ﷺ قول اوفعل بغیر د چون وچرا نه اومني. هر کس دے خپل رسم، رواج، مذهب او رائے اوخواهش روسته کړي او درسول الله ﷺ (فداه ابي وامي) سنت عمل که قولاً وي اوکه عملاً وي مخے ته کړي. اود رسول الله ﷺ سنت دے په ځان بوج نه ګڼړي، ګڼے نو دداسے کسانو په ډله کښے به داخل شي کومو خلقو باره کښے چه الله رب العزت فرمائیلي دي:

فلا وربك لا يؤمنون حتى يحكموك فيما شجر بينهم ثم لا يجدوا في انفسهم حرجاً مما قضيت ويسلموا تسليما. (النساء: ٦٥).

٥ - پنځم حدیث:

عن ابن مسعود - رضي الله عنه - قال: مررت برسول الله ﷺ (فرد اشاره) فاشار الي.

اخرجه الطبراني في الاوسط والصغير ورجاله رجال الصحيح، كما في المجمع: ٨٢/٢.

ترجمه: دابن مسعودؓ نه روایت دے چه دا فرمائي: زه درسول الله ﷺ خواته تیر شوم او په هغے مے سلام واچولو نو هغه په اشارے سره جواب راکړو.

دابن مسعودؓ نه بل روایت راغلے نو په هغے کښے منع دخبرو نه ده لکه دا حدیث دمنع په صحیح بخاري اومسلم کښے دے. هغه حدیث کښے منع داشارے نشته. سره ددے نه چه ابن مسعودؓ نه چه کومه منع نقل ده هغه دمکے مکرمے دوخت واقعه ده. اومخکښے مونږ احادیث ذکر کړل چه په رسول الله ﷺ باندے په مدینه طیبه کښے هم سلام اچول شوے او هغه جواب په اشارے سره ورکړیدے.

دغه شان ابن عمرؓ هم درسول الله ﷺ دوفات نه روسته دا عمل کړیدے.

ددے مسئلے زیات تفصیل په فتاوی الدین الخالص: ٢٢٤/١، ٢٢٩) کښے اوګوره. او هلته ددے مسئلے نوم دے: (الحوار التام في مسئله افشاء السلام).

علامه عبد الحي لکهنویؒ په التعلیق الممجد علی موطا امام محمد ص: ١٢٣، کښے لیکي:

واختلف اصحابنا فمنهم من كرهه ومنهم من قال: لا باس به.

(داحنافو په دے کښے اختلاف دے نو بعضو دا مکروه ګڼړلے، او بعضو وئیلي دي چه دے کښے څه حرج نشته).

او په کوم حدیث دابو داود باب الاشاره في الصلاه (١٤٣/١) کښے راغلي:

من اشار في صلواته تفهم عنه فليعد لها يعني الصلاه.

ترجمه : چاچه په خپل مانځه کښې داسې اشاره اوکړه چه هغه نه فهم کېدلې شوه، نو هغه دې مونځ را اوګرځوی.

نودا حدیث ضعیف دې. اوګوره : ضعیف ابي داود ص : ۹۲، للامام الالبانیؒ. او امام ابوداود فرمائی: هذا الحدیث وهم. (یعنی دا حدیث وهم دې).

او ددې حدیث چه کوم مصداق په بذل المجهود (۱۰۷/۲) او فتاوی حقانیه (۲۰۸/۲) کښې ښودلې شوېدې هغه غلط اوخطاء دې. ځکه دا غریبانان خو دحدیث دصحت او ضعف نه عاری دی، ددې فرق نه کوی چه آیا دا حدیث ضعیف دې اوکه صحیح خو دخپل مذهب دپاره په خپلو کتابونو کښې اوچ اولامده هر څه را جمع کوی.

۲/ رجب ١٤٢٤ هـ. الموافق : ۳۰/ اګست ۲۰۰۳م.

صلاه الاوابین کوم مونځ ته وئیلې شي؟

سوال : صلوه الاوابین دکوم وخت مونځ ته وئیلې شی؟

جواب : په صحیح احادیثو کښې [صلاه الاوابین] دصلاه الضحی یعنی دچاشت مانځه ته وئیلې شی. لیکن په یو ضعیف حدیث کښې دغه شان په یو موقوف حدیث کښې دصلاه الاوابین اطلاق دماښام دمانځه نه روسته چه کوم نوافل کولې شی په هغې هم شوېدې.او دې مسئله کښې راجح اوغوره خبره داده چه صلوه الاوابین دچاشت مونځ ته وئیلې شی.

ځکه په صحیح احادیثو کښې دادی چه : صلاه الاوابین صلوه الضحی دې :

۱ - لکه امام مسلم په خپل صحیح (۲٤۸/۱) کښې دزید بن ارقمؓ نه روایت کوی :

انه رأی قوماً یصلون من الضحی فقال : لقد علموا ان الصلاه في غیر هذه الساعه افضل، ان رسول الله ﷺ قال : صلاه الاوابین حین ترمض الفصال.

اخرجه احمد : ٣٦٦/٤، ٣٧٥، وابو عوانه : ٢٧٠/٢، وابن خزیمه رقم : ١١٢٧، وابن ابي شیبه : ٤٠٦/٢، کما فی الصحیحه : ١٥٣/٣، رقم : ١١٦٤.

ترجمه : زیدبن ارقمؓ څه خلق اولیدل چه دچاشت مونځ ئې کولو، نو وې فرمائیل : بې شکه دوئ ته معلومه ده چه دا مونځ ددې وخت نه په بل وخت کښې غوره دې، ولې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه : دصلاه الاوابین هله وی کله چه داوښانو دبچو (جونګیانو) خپې په زمکه سوزی.

اود اوښانو دبچو خپې هغه وخت سوزوی چه دسهار وخت ختم شی اود غرمی وخت لا نه وی راغلے.

۲ – **دویم حدیث**: دابو هریرةؓ نه روایت دے دا فرمائی:

قال رسول الله ﷺ: لا یحافظ علی صلاه الاوابین الا اواب، قال: وهی صلاه الاوابین

(اخرجه ابن خزیمه، رقم: ۱۲۲٤، والحاکم: ۳۱٤/۱، انظر الصحیحه، رقم: ۱۹۹٤، ٦٤۸/٤، صحیح الجامع الصغیر وزیادته رقم: ۳۸۲۷، ۷۱۲/۱، صحیح الترغیب والترهیب: ۳۵۲/۱، رقم: ٦۷۳).

ترجمه: دچاشت دمانځه اهتمام نه کوی مگر هغه څوك چه الله ته ډیر زیات رجوع کونکے وی، او همدا (دچاشت مونځ) صلاه الاوابین دے.

۳ – **دریم حدیث**: عن ابی هریره – رضی الله عنه قال: اوصانی خلیلی ان اصلی صلاه الضحی فانها صلاه الاوابین. – اخرجه ابن ابی شیبه: ٤۰۸/۲.

ترجمه: ابو هریرةؓ فرمائی: ما ته مے خپل محبوب ﷺ وصیت کړے چه دڅاښت مونځ دے کوم ځکه دا صلاه الاوابین دے.(یعنی دهغه چا مونځ دے چه الله تعالی ډیر زیات ورگرځیدونکے وی).

٤ – **څلورم حدیث**: عن علی – رضی الله عنه – انه رآهم یصلون الضحی عند طلوع الشمس، فقال: هلا ترکوها حتی اذا کانت الشمس قدر رمح او رمحین صلوها فذلك صلاه الاوابین – اخرجه ابن ابی شیبه: ٤۰۷/۲.

ترجمه: علیؓ څه خلق اولیدل چه دڅاښت مونځ ئے دنمر خاته سره کولو نوعلیؓ اوفرمائیل: دا مونځ دوئ هغه وخته پورے ولے نه روستو کوی چه کله نمر دیوے یا دوه نیزو په اندازه شی؟ ځکه چه ددے وخت مونځ صلاه الاوابین دے.

۵ –**پنځم حدیث**: عن عبد الله بن ابی اوفی مرفوعاً: صلاه الاوابین اذا رمضت الفصال – اخرجه عبد بن حمید کما فی الحاوی مفصلاً.

ترجمه: عبد الله بن ابی اوفی درسول الله ﷺ نه روایت کوی چه دصلاه الاوابین هغه وخت دے کله چه داوښانو دبچو (جونگیانو) خپے گرمے شی.

خلاصه: ددغه احادیثو نه دا مسئله معلومه شوه چه صلاه الاوابین دڅاښت مونځ (صلاه الضحی) ته وئیلے شی.

دے وجے نه شیخ عبد القادر جیلانیؒ وئیلی دی :
صلاه الضحی وهی صلاه الاوابین – الغنیه : ۹۵/۲ .
ترجمه : دڅاښت مونځ دأوابینو مونځ دے .
لیکن دما ښام مانځه نه روسته چه کوم نوافل کولے شی هغے ته هم (صلاه الاوابین) وئیلے شویدی لکه : یو حدیث کښے دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :
من صلی ما بین المغرب والعشاء فانها صلاه الاوابین . کما فی احیاء العلوم : ۱۶۳/۱)
ترجمه : چاچه دماښام او ماسخوتن ترمنځه مونځ اوکړو نو دا داوابینو مونځ دے .
دا حدیث ضعیف دے، اوګوره : ضعیف الجامع : ۵۶۷۶، والضعیفه رقم : ٤٦١٧ .
دغه شان دابن عباسؓ نه هم نقل دی چه هغه وئیلی دی چه : دما ښام او ماسخوتن دمانځه په مینځ کښے نفل مونځ صلاه الاوابین دی .
لکه کنز العمال : ۱۹۳/٤، اوحیاه الصحابه : ۱٤۸/۳، کښے دا روایت مذکور دے .
لیکن ددے موقوف حدیث سند مونږ ته معلوم نه شو چه سند ئے صحیح دے اوکه ضعیف .
دغه شان دابن المنکدر، ابو حازم او بعض نورو علماؤ نه نقل دی چه هغوی هم دماښام او ماسخوتن مانځه ترمینځه نفل مونځ ته صلاه الاوابین وئیلو، لکه دا خبره علامه ابن کثیرؒ ددے آیت لاندے لیکلے : [فانه کان للاوابین غفورا]. دغه شان داخبره زاد المسیر : ۲٦/۵، او بیهقی : ۱۹/۳، کښے ذکر شویده .
خلاصه : صلاه الاوابین په صحیح احادیثو کښے صلاه الضحی ته وئیلے شویدی، لهذا صلاه الاوابین صلاه الضحی ته وئیل پکار دی . لیکن که څوك صلاه الاوابین دماښام نه روسته نفلو ته اووائی نو دابه هم ان شاء الله بدعت نه وی، ځکه ددے اصل هم ثابت دے . ولا مشاحه فی الاصطلاح .
ددے مسئلے دتفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص : ۳۳۵/۵، اوګوره .

د یو رکعت وتر کولو حکم

سوال : یو رکعت وتر کولو څه حکم دے ؟
جواب : یو رکعت وتر کول درسول الله ﷺ سنت دی .او په دے ډیر دلا ئل دی چه بعض دهغے نه دلته ذکرکیږی :

۱ – عن ابن عمر ان رجلاً سال النبی ﷺ عن صلاه اللیل، فقال رسول الله ﷺ : صلاه اللیل مثنی مثنی، فاذا خشی احدکم الصبح صلی رکعه واحده توتر له ما قد صلی.

ترجمه : ابن عمرؓ فرمائی : یو سړی رسول الله ﷺ نه دشپې دمانځه باره کښې تپوس اوکړو، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : دشپې مونځ دوه دوه رکعته دے، نو کله چه په تاسو کښې څوك دصبا راختلو نه یریږی هغه له پکار دی چه یو رکعت اوکړی چه په دے سره به دده مخکښے مونځ وتر اوګرځی.

بخاری : ۱۳۵/۱، مسلم : ۲۵۷/۱، موطا : ۱۱۷، مسند احمد : ۵/۱. ۹/۲، ۱۰، ۳۰، ٤٤.

۲ – عن عائشه قالت : ان النبی ﷺ اوتر برکعه.

ترجمه : عائشهؓ فرمائی : نبی کریم ﷺ یو رکعت وتر اوکړو.

(اخرجه الدارقطنی : ۳۳/۲).

۳ – عن ابن عمر ان النبی ﷺ قال : الوتر رکعه من آخر اللیل.

(اخرجه مسلم في صحیحه وفي المشکاه : ۱۱۱/۱.

ترجمه : ابن عمرؓ فرمائی : رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : وتر په آخره حصه دشپه کښې یو رکعت دے.

٤ – عن ابي ایوب ان النبی ﷺ قال : الوتر حق، فمن شاء اوتر بسبع، ومن شاء اوتر بخمس، ومن شاء اوتر بثلاث، ومن شاء اوتر بواحده.

(اخرجه النسائی : ۲٤۹/۱، وصحیح النسائی : ۳۷۳/۱، ۳۷٤، وهو فی صحیح ابن ماجه رقم : ۱۱۹۰، وصحیح الجامع).

ترجمه : ابو ایوبؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : وتر حق دی، نوڅوك چه غواړی اووه رکعته دے اوکړی، او څوك چه غواړی پنځه رکعته دے اوکړی، اوڅوك چه غواړی درے رکعته دے اوکړی او څوك چه غواړی یو رکعت دے اوکړی.

۵ – وعن قیس بن حازم قال : رأیت سعداً صلی بعد العشاء رکعه، قلت : ما هذه ؟ فقال : رأیت رسول الله ﷺ یوتر برکعه. (رواه الدارقطنی : ۲۳/۲، طبع قاهره).

ترجمه : قیس بن حازم فرمائی : ما سعد بن ابي وقاصؓ اولیدلو چه دماسخوتن مونځ نه پس ئے یو رکعت اوکړو، ما ورته اووئیل : دا څه وو ؟ هغه وئیل : ما رسول الله ﷺ لیدلے دے چه یو رکعت وترئے کولو.

٦ – وعن ابي مجلز ان ابا موسى الاشعري كان بين مكه والمدينه فصلى العشاء ركعتين، ثم قام فصلى ركعه اوتر بها، فقرأ فيها بمائه آيه من النساء، ثم قال : ما الوتُ ان اضع قدمي حيث وضع رسول الله ﷺ قدميه وان اقرأ به بما قرأ به رسول الله ﷺ.

(رواه النسائي : ٢٥١/١، وسنده صحيح).

ترجمه : ابو مجلز ؒ فرمائی : ابو موسی اشعری ؓ دمکے اومدینے ترمینځه روان وو، نو دما سخوتن مونځ ئے دوه رکعته اوکړو، بیا پاڅیدلو او یو رکعت وترئے اوکړو، په هغے کښے ئے دسورت نساء سل آیتونه اولوستل، بیا ئے اوفرمائیل : ما کوتاهی نه ده کړے په هغه ځائے کښے په خپل دواړو قدمونو کیخودلو کښے کوم ځائے کښے چه رسول الله ﷺ دواړه قدمونه ایخی وو، او په دے کښے هم کوتاهی نه کوم چه هغه قرأت اوکړم کوم چه رسول الله لوستلے دے.

٧ – وعن ليث ان ابا بكر اوتر بركعه. – مصنف ابن ابي شيبه : ١٩٢/٢.

ترجمه : دلیث ؒ نه نقل دی چه ابو بکر صدیق ؓ یو رکعت وتر اوکړو.

٨ – وعن سائب بن يزيد ان عثمان بن عفان قرأ القرآن في ركعه اوتر بها.

ترجمه : سائب بن یزید فرمائی : عثمان بن عفان ؓ تول قرآن کریم دوترو په یو رکعت کښے ختم کړو. (مختصر قيام الليل ص : ٢٠٥. والدارقطني : ٣٤/٢. ابن ابي شيبه : ٢٩٣/٢).

٩ – وعن مالك بن دينار عن مولى لعلي بن ابي طالب ان علي بن ابي طالب أوتر بركعه.

(مختصر قيام الليل ص : ٢٠٥.

ترجمه : مالك بن دینار ؒ فرمائی چه علی رضی الله عنه یو رکعت وتر اوکړو.

١٠ – وعن محمد بن شرحبيل انه رأى سعدا دخل المسجد فصلى ركعه ثم خرج.

ترجمه : محمد بن شرحبیل سعد ؓ اولیدلو چه جومات ته ننوتلو او یو رکعت (وتر) ئے اوکړو او بیا راؤوتلو. (مختصر قيام الليل ص : ٢٥).

دا لس (١٠) احادیث او آثار دصحابه کرامو ؓ بطور نمونه ذکر کړے شو، ګنے په دے کښے د (٢٧) صحابه کرامو ؓ نه یو رکعت وتر نقل دی. دغه شان د (٤٠) څلویښتو تابعینو ؒ او محدثینو ؒ نه یو رکعت وتر نقل دی.

خلاصه : داچه علامه ابو طیب شمس الحق عظیم آبادی فرمائی چه :

والاحاديث في الايتار بواحده متواتره. – (التعليق المغني على الدارقطني : ٢٧/٢).

ترجمه : په یو رکعت وتر کولو کښې متواتر احادیث راغلي دي.

اوعلامه عبد الحی لکهنوی ؒ په التعلیق الممجد ص (۱۲۰) کښې وائي :

والکل ثابتٌ : ای الوتر بثلاث رکعات، ورکعه.

ترجمه : دا ټول ثابت دي یعنې درې رکعته وتر او یو رکعت وتر.

اوکوم حدیث چه په منع دبتیراء کښې راغلے نو اول خو هغه باالا تفاق ضعیف دے. دویم دا چه : بتیراء دیته وائي چه رکوع او سجده په صحیح طریقے سره اونه شي. لکه دبتیراء دا معنی ابن عمرؓ کړیده. اوګوره مختصر قیام اللیل ص : ۲۰۵.

د تفصیل دپاره د شیخ ابو عمر عبد العزیز کتاب (الدلیل الواضح) او فتاوی الدین الخالص (۵۴۴/۵) کتل پکار دي. ۱/ رمضان ۱۴۲۳ هـ.

د قنوت نازله احکام

سوال : دقنوتِ نازله احکام څه دي، یعني قنوتِ نازله به په کومو مونځونو کښې ویلے شي ؟ او قنوتِ نازله کښې به ددعاء دپاره لاس اوچتولے شي که نه ؟ او مقتدیان به آمین په زوره وائي اوکه په قلاره ؟ ددے تولو مسائلو جواب دقرآن او سنت په رنړا کښې راکړئ !

جواب : ۱ – دقنوتِ نازله معنی ده : هغه دعاء چه دیو مصیبت اوحادثے په وخت ویل کیږي. په دے دعاء کښې کله کفارو ته بد دعائي (ښیرے) کولے شي اوکله داسلام او مسلمانانو دپاره دعاء کولے شي. دغه شان کله قحط یا وباء یا بل سخت مصیبت کښې هم ویلے شي.

۲ – دقنوتِ نازله حکم دادے چه دا سنت دے.

۳ – قنوتِ نازله په هر مانځه کښې ویل جائز دي، که هغه سري مونځونه وي اوکه جهري. لیکن رسول الله ﷺ به اکثره په جهري مونځونو کښې قنوتِ نازله لوستلو، کله کله ئے په سري مونځونو کښې هم ویلے دے.

په دے خبره چه قنوتِ نازله هرمونځ کښې ویل جائز دي دلیل دادے :

۱ – **اول حدیث :** ابوداود : ۲۷۰/۱، رقم : ۱۴۴۳، کښې دي :

عن ابن عباس قال : قنت رسول الله ﷺ شهرا مُتتابعا فِي الظهر والعصر والمغرب والعشاء وصلاه الصبح فی دبر کل صلاه، اذا قال : سمع الله لمن حمده، من الرکعه الآخره الحدیث.

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائی : رسول الله ﷺ قنوتِ نازله پرله پسے یو میاشت اووئیلو په ماسپخین، مازیگر، ماښام، ما سخوتن اود سهر دمونځونو کښے دهر مونځ په روستنئ حصه کښے هرکله به ئے چه دروستنی رکعت سمع الله لمن حمده اووئیله.

۲ - دویم حدیث : صحیح مسلم : ۲۳۷/۱، کښے دبراء بن عازبؓ نه روایت دے اوصحیح بخاری کښے دانسؓ نه روایت دے :

ان النبی ﷺ قنت فی الفجر والمغرب.

(چه نبی کریم ﷺ د سحر اود ماښام په مونځ کښے قنوتِ نازله اووئیلو.

دا حدیث ابواود کښے هم شته، اوګوره : صحیح ابي داود : ۲۷۰/۱، رقم : ۱۴٤۱.

۳ - صحیح مسلم : ۲۳۷/۱، او ابوداود کښے دابو هریرهؓ نه روایت دے چه ر سول الله ﷺ به دماسخوتن په مانځه کښے قنوتِ نازله وئیلو.

امام نووی ؒ په صحیح مسلم کښے باب تړلے :

باب استحباب القنوت في جميع الصلوات اذا نزلت بالمسلمين نازله - والعياذ بالله الخ.

یعنی دا باب دے په بیان دمستحب والی دقنوت نازله کښے په تولو مونځونو کښے هرکله چه په مسلمانانو باندے (الله دے نه کړی) څه مصیبت نازل شی.

ددے مذکوره احادیثو نه ثابته شوه چه قنوتِ نازله په تولو مونځونو کښے جائز او مستحب ده، اودا درسول الله ﷺ نه نقل ده.

دغه شان قنوتِ نازله دجُمعے په مانځه کښے هم وئیلے شی.

فتاوی دار العلوم دیوبند : ۱۹۵/٤، کښے دی :

سوال : قنوت نازله دجُمعے په مانځه کښے وئیل جائز دی که نه ؟

جواب : دبعض روایاتو موافق چه په هغے کښے په تمامو جهری مونځونو کښے قنوتِ نازله لوستل جائز لیکلی شویدی دجُمعے په مانځه کښے هم درست دے.

٤ - قنوتِ نازله کښے لاس پورته کول ددعاء دپاره او قنوتِ نازله به په زوره وئیلے شی برابره خبره ده که جهری مونځ وی اوکه سری وی. مقتدیان به هم لاسونه ددعاء دپاره اوچتوی او امام پسے به آمین وائی.

په دے مسئله دلیل دادے : چه صحابه کرامؓ درسول الله ﷺ قنوتِ نازله یاد کړیدے اوصحابه

کرامؓ وائی، چه رسول الله ﷺ به قنوتِ نازله کښې دا دا دعا ګانې وئیلې. نوددې نه معلومه شوه چه قنوتِ نازله به رسول الله ﷺ په جهر سره (په زوره) وئیلو.

دغه شان کنز العمال : ۱۹۸/٤، کښې دی : چه عمر بن الخطاب – رضی الله عنه – دسحر په مونځ کښې قنوت نازله اووئیله، اودعاء کښې ئې لاسونه اوچت کړل، او قنوتِ نازله ئې په زوره اووئیله.

دارنګ مسند احمد : ۱۳۷/۳، او بیهقی : ۲۱۱/۲، کښې دانسؓ نه روایت دے :

فلقد رأیت رسول الله ﷺ فی صلاه الغداه رفع یدیه فدعا علیهم.

ترجمه : بیشکه ما رسول الله ﷺ دصبا په مانځه کښې اولیدلو چه دواړه لاسونه ئې پورته کړی وو، کافرانو ته ئې ښیرے کولے.

او آمین به هم په زوره وائی، لکه دابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ قنوتِ نازله په مانځه کښې اووئیله او مقتدیانو به وروسته روستو آمین وئیلو.

(ویؤمن من خلفه) – رواه ابوداود : ۲۷۰/۱، رقم : ۱٤٤۳، وحسنه الالبانی، وحسنه الحازمی فی الاعتبار : ۸٦، وصححه ابن القیم فی زاد المعاد : ۱۷۳/۱.

فتاوی دار العلوم دیوبند : ۱۹۹/٤، کښې دی :

سوال : یو اهل حدیث مولوی صاحب په پنځه وخته فرض مونځونو کښې په اخیرنی رکعت کښې لاس اوچتوی او دعاء کوی اومقتدیان هم لاسونه اوچتوی ددعاء په طور آمین وائی، آیا دا دعاء په دغه شکل سره وئیل جائز دی اوکه نه؟

جواب : په دے طریقه (قنوتِ نازله) هم ثابت دی، لهذا په دے کښې هیڅ باك نشته، احنافو هم ددے اجازت ورکړیدے، اګرکه زیات روایتونه دسحر په مانځه کښې راغلی دی.

۵ – قنوتِ نازله کښې سنت طریقه داده چه درکوع نه روسته اوشی، لکه چه په بخاری : ۱۳٦/۱، مسلم : ۱۳۷/۱، کښې دی. اود رکوع نه مخکښې هم صرف جائز دی، ځکه درکوع نه مخکښې دصحابهؓ کرامو نه روایت دے چه هغوی به درکوع نه مخکښې وئیلو لکه دا احادیث په ابن ماجه رقم : ۱۱۸۳، قیام اللیل لابن نصر ص : ۱۳۲، ارواء الغلیل : ۱٦۱/۲، نیل الاوطار : ۲۹۱/۲، کښې راغلی.

٦ – قنوتِ نازله کښې داشخاصو نومونه هم اخستلے شی، یعنی دچا دپاره چه دعاء کوی نو دهغوئ نومونه اخستل جائز دی، دغه شان چاته چه بددعائی (ښیرے) کوی دهغوی نومونه په دعاء

کښې اغستل جائز دی. ځکه رسول الله ﷺ چه دمسلمانانو دپاره دعاء کوله نو دهغوئ نومونه ئے هم په دعاء کښې یاد کړل.

لکه صحیح مسلم: ۲۳۷/۱، کښې دی:

ان النبی ﷺ قنت بعد الرکعه فی صلاته شهرا اذا قال: سمع الله لمن حمده، یقول فی دعائه: اللهم نج الولید بن الولید اللهم نج سلمه بن هشام، اللهم نج عیاش بن ابي ربیعه. الحدیث.

ترجمه: نبی کریم ﷺ یو میاشت په خپل مانځه کښې د (آخیری) رکوع نه پس قنوت نازله لوستله، کله به چه دسمع الله لمن حمده وئیلو نه فارغ شو نو دا دعاء به ئے وئیله: اے الله! ولید بن ولید را اخلاص کړے! اے الله! سلم بن هشام له نجات ورکړے! اے الله! عیاش بن ابی ربیعه له نجات ورکړے - (یعنی دوی دکفارو دپنجونه راخلاص کړے).

دغه شان رسول الله ﷺ چه به کله چاته ښیرے کولے نو دهغوی نومونه به ئے اغستل لکه حدیث کښې دی:

یدعو علی احیاء من بنی سلیم علی رعل وذکوان وعصیه.

رواه ابوداود بسند صحیح: ۲۷۰/۱، ۲۷۱، رقم: ۱٤٤۳.

ترجمه: رسول الله ﷺ دبنو سلیم قبیلو یعنی رعل، ذکوان اوعصیه ته ښیرے کولے.

نو داهم سنت طریقه ده چه دچا دپاره دعاء کولے شی یا ورته ښیرے کولے شی نو دهغوی نومونه دے په دغه دعاء یا ښیرو کښې واغستلے شی.

۷ - قنوتِ نازله دپاره څه مخصوص دعاء نشته چه صرف یوه معلومه دعاء دے اووئیلے شی، بلکه قنوت نازله کښې هره دعاء وئیل جائز دی. چه څه مطلوب وی هغه شان دعاء وئیل پکار دی.

امام نووی ؒ د صحیح مسلم په شرح (۱۳۷/۱) کښې لیکی:

والصحیح انه لا یتعین فیه دعاء مخصوص، بل یحصل بکل دعاء.

ترجمه: صحیح خبره داده چه په قنوتِ نازله کښې څه خاص دعاء نه ده مقرر، بلکه هرے دعاء سره داحاصلیږی.

د قنوتِ نازله د مسائلو خلاصه

۱ -قنوت نازله سنت دے په هر سخت مصیبت کښې ئے وئیل پکار دی.

۲ – قنوت نازله په هر مونځ کښې وئیلے جائز دی، لیکن رسول الله ﷺ به عام طور سره په جهری مونځونو کښې وئیلو، نو مونږ له هم پکار دی چه اکثرئے په جهری مونځونو کښې اووایو.

۳ – قنوتِ نازله به په جهری او سری تولو مونځونو کښې په جهر سره وئیلے شی.

٤ – قنوتِ نازله کښې لاس اوچتول ددعاء دپاره سنت دی.

۵ – قنوتِ نازله کښې به مقتدیان په امام پسے آمین وائی.

٦ – سنت دادی چه قنوتِ نازله درکوع نه روستو اووئیلے شی لیکن که چا درکوع نه مخکښې اووئیلو، نو دا هم جائز دی، ځکه دا دصحابه کرامؓ نه ثابت دی.

۷ – قنوتِ نازله کښې داشخاصو نومونه اغستل هم جائز دی.

۸ – قنوتِ نازله کښې هر قسم دعاء لوستل جائز دی، لیکن غوره اوافضله داده چه دقرآن کریم یا دصحیح احادیثو نه چه کومې دعاګانې ثابتې دی هغه دې اووائی. ولے چه په دې دواړو کښې ډیرې زیاتې دعاګانې راغلې دی،اودا دوحی الفاظ دی.

لکه دا دعاء ګانې په صحیح مسلم : ۲۷۰/۱، صحیح البخاری : ۱۱۰/۱، ابن خزیمه : ۱۵۵/۲، ۱۵٦، رقم : ۱۱۰۰، مصنف عبد الرزاق : ۱۱۱/۳، رقم : ٤۹۲۹، مصنف ابن ابی شیبه : ۲۱٤/۲، ۳۱۵، سنن الترمذی رقم : ۳۷٤۹، ۳۸۳٦، سنن ابی داود رقم : ۲۳٦٦، کښې کتل پکار دی.

دغه شان دقنوتِ نازله متعلق احکام په آپ کی مسائل اور ان کا حل : ۱۷۱/۱، ۱۸۷، لمبشر احمد ربانی حفظه الله، او فتاوی الدین الخالص تفصیلاً : ۵۸۸/۵، ۵۹۰، کښې کتل پکار دی۔

۸ – شعبان ۱٤۲٤ هـ.

په مانځه کښې د ښېرو کولو حکم

سوال : یو امام دڅلور رکعتی مونځ په دویم رکعت باندې سلام واړولو، بیا مقتدیانو ته اووائی چه دوه رکعته نور کوو، تاسو خاموشئ سره اودریږئ، او بیائے مونځ پوره کړو، نو آیا په دې صورت کښې به مونځ اوشی اوکه نه ؟ او امام دې باره کښې حدیث دذو الیدین ذکر کړلو چه مونځ شویدې، لیکن بل طرفته څه خلق ددې مخالف دی، دوئ وائی چه په مانځه کښې خبرې اترې اوشوې او په خبرو سره مونځ فاسدیږی، نو ددې مسئلے څه حکم دے ؟

جواب : په مانځه کښې کلام اوخبرې کول په دوه قسمه دی (۱) قصداً خبرې کول، نو دا په اتفاق

دعلماؤ سره مونځ خرابوي، دے کښے اختلاف نشته . اود زید بن ارقمؓ حدیث چه په صحیح بخاری : ۱۶۰/۱، کښے دے :

انا کنا نتکلم فی الصلاه علی عهد النبی ﷺ یکلم احدنا صاحبه بحاجته حتی نزلت حافظوا علی الصلوات والصلوه الوسطی وقوموا لله قانتین، فامرنا بالسکوت.

ددے محمل هم دا قسم قصداً خبرے دی، په دے حدیث کښے (یکلم احدنا صاحبه) دے چه دا دلیل دے په قصداً خبرو باندے. دغه شان عام احادیثو کښے چه دخبرو اترو نه منع راغلے ده نو دهغے نه مراد هم دا قصداً خبرے دی، لکه دمعاویه بن حکم السلمیؓ په حدیث کښے دی : ان هذه الصلاه لا یصلح فیها شیٔ من کلام الناس.

رواه مسلم، کما فی المشکاه : ۹۰/۱ .

ترجمه : دا مونځونه چه دی په دیے کښے دخلقو هیڅ خبرے کول مناسب نه دی.

دے وجے نه دغه صحابی مبارك دناخبرتیا دوجے نه خبرے کړے وے او رسول الله ﷺ هغه ته دمانځه دوباره کولو حکم اونه فرمایه.که چرے دناخبرتیا دوجے نه خبرے کولو باندے مونځ فاسدیدلے نو دغه صحابیؓ ته به رسول الله ﷺ دمانځه راګرځولو حکم فرمائیلے وے، حال داچه هغه اعاده دمانځه نه ده کړے.

۲ – دویم قسم دسهوے یا دجهالت یا داصلاح دمانځه دوجے نه خبرے کول دی په مانځه کښ، نو په دے کښے اختلاف دے چه دا مفسد دمانځه دی اوکه نه ؟

راجح خبره داده چه دے خبرو سره مونځ نه خرابیږی دوجے ددے دلائلو نه :

۱ – اخرج البخاری : ۱۶۳/۱ : عن ابي هریره قال : صلی بنا النبی ﷺ الظهر او العصر فسلم فقال له ذو الیدین : الصلاه یا رسول الله انقصت، فقال النبی ﷺ لاصحابه : احق ما یقول ؟ قالوا : نعم، فصلی رکعتین أخراوین ثم سجد سجدتین.

دا حدیث نص صریح دے په دے مسئله باندے، اوددے حدیث دنسخ هم څه وجه نشته دے.

(۱) ځکه چه صحابه کرامؓ دنبی کریم ﷺ دوفات نه پس په دے حدیث باندے عمل کړیدے او دغه شان تابعینوؒ هم پرے عمل کړیدے. لکه صحیح بخاری : ۱۶۳/۱: کښے دی :

قال سعد : ورأیت عروه بن الزبیر صلی من المغرب رکعتین فسلم وتکلم ثم صلی ما بقی وسجد سجدتین وقال : هکذا فعل النبی ﷺ.

په دے حدیث کښے سوچ اوکړئ (عروۃ) د مدینے د فقهاء سبعه ؤ نه یو لوئے فقیه دے، چه دده ډیرو صحابو سره ملاقات شویدے هغه دا عمل کړیدے.

---

۲ – په صحیح مسلم: ۲۱۲/۱ کښے دی:

عن عبد الله ان النبی ﷺ صلی الظهر خمسا فلما سلم قیل له: ازید فی الصلاه قال: وماذاك؟ قالوا: صلیت خمسا، فسجد سجدتین.

دا حدیث دذو الیدین والا حدیث نه بالکل جدا حدیث دے اودا د عبد الله بن مسعودؓ نه روایت دے، چه دده په باره کښے احناف دعوی کوی چه زمونږ فقه ابن مسعودؓ کرلے ده (زرعه ابن مسعود).

۳ – صحیح مسلم: ۲۱۲/۱، کښے دی:

عن ابراهیم (بن سوید) عن علقمه قال: صلی بنا علقمه الظهرخمسا فلما سلم قال القوم: یا ابا شِبل! قدصلیت خمسا قال: کلا، ما فعلت، قالوا: بلی، قال: وکنت في ناحیه القوم وأنا غلام فقلت: بلی قد صلیت خمسا قال لی: وأنت ایضا یا اعور تقول ذلك؟ قال: قلت: نعم، قال: فانفتل، فسجد سجدتین ثم سلم ثم قال: قال عبدالله (بن مسعود): صلی بنا رسول الله ﷺ خمسا فلما انفتل توشوش القوم بینهم فقال: ما شانکم قالوا: یا رسول الله! هل زید فی الصلاه؟ قال: لا، قالوا: فانك قد صلیت خمسا فانفتل ثم سجد سجدتین ثم سلم قال: انما انا بشر مثلکم أنسی کما تنسون، فاذا نسی احدکم فلیسجد سجدتین.

په دے حدیث کښے علقمه او دهغه مقتدیانو ډیرے خبرے کړی دی او بیا ئے دابن مسعودؓ په دغه حدیث سره استدلال کړیدے، ابن مسعودؓ دا نه دی فرمائیلی چه دا حدیث منسوخ دے.

٤ – واخرج مسلم: ۲۱٤/۱، عن عمران بن حصین قال: سلم رسول الله ﷺ في ثلاث رکعات من العصر ثم قام فدخل الحجره فقام رجل بسیط الیدین فقال: اقصرت الصلاره یا رسول الله! فخرج مغضبا فصلی الرکعه التی کان ترك ثم سلم ثم سجد سجدتي السهو ثم سلم.

دا بل حدیث دے، دابو هریرهؓ دحدیث نه جدا حدیث دے.

۵ – امام بیهقی (۳٦۰/۲) دعبد الله بن عباسؓ نه نقل کړی دی چه هغه په دے مسئله کښے دعبد الله بن الزبیرؓ تائید کړیدے.

عن عطاء بن ابي رباح قال: صلی ابن الزبیر المغرب بالناس فسلم في الرکعتین ثم قام الی الحجر الاسود لیستلمه فنظر، فرأی القوم جلوسا قال: فجاء حتی صلی لنا الرکعه الباقیه، ثم سجد

سجدتین، قال : فانطلقت فی فورتی الی ابن عباس فسالته، فقال : ایها ٗلله ابوك ! کیف صنع، فاعدتُ علیه، فقال : ما اماط عن سنه نبیه ﷺ .

په دے حدیث کښے ابن الزبیرؓ نه مراد عبد الله بن الزبیرؓ دے، او عبد الله بن عباسؓ دده تائید اوکړو. او په دے حدیث کښے دا هم دی چه :

فقال : ما اتممنا فقلنا برؤسنا سبحان الله الخ، انظر البیهقی : ۳٦۰/۱ . اودا مونځ په مسجد حرام کښے وو.

٦ – په صحیح مسلم (۲۰۳/۱) کښے دی :

عن معاویه بن الحکم السلمی قال : بینما نحن نصلی مع رسول الله ﷺ اذ عطس رجل من القوم فقلت : یرحمك الله ! فرمانی القوم بابصارهم فقلت : واثکل امیاه ! ماشانکم تنظرون الی ؟ فجعلوا یضربون بایدیهم علی افخاذهم، فلما رأیتهم یصمتوننی لکنی سکت. الحدیث.

په دے حدیث کښے دناپوهئ دوجے نه خبرے شوی دی او صحابه کرامؓ عمل کثیر هم کړیدے لیکن ددے هر څه باوجود رسول الله ﷺ دمونځ راګرځولو حکم اونه فرمایه.

امام بیهقیؒ (۳٦۵/۲) فرمائی :

کان اسلام معاویه بن الحکم فی آخر الامر فلم یامره النبی ﷺ باعاده الصلاه، فمن تکلم فی صلاته ساهیا أو جاهلا مُضت صلاته، ومن تکلم متعمدا اُستانف الصلاه.

ترجمه : اسلام دمعاویه بن حکم سلمیؓ په آخره کښے وو، نو ده ته نبی کریم ﷺ دمانځه راګرځولو حکم اونه فرمایه، نو څوك چه خپل مانځه په سهو یا په جهالت سره خبرے اوکړی نو دهغه مونځ شویدے، اوڅوك چه قصدا ًخبرے اوکړی نو مونځ به دوباره کوی. ---- او همدا مذهب امام شافعیؒ اختیار کړیدے. کما فی الجوهر النقی : ۳۵۷/۲ . والترمذی : ۹۱/۱ .اود امام مالك په نزد په مانځه کښے هغه خبرے چه دمانځه داصلاح دپاره اوکړے شی هغے سره مونځ نه فاسدیږی.

علامه عینیؒ په عمده القاری : ۳۰۹/۷ : کښے فرمائی :

ذهب مالك والشافعی واحمد واسحق : الی ان کلام القوم فی الصلاه لامامهم لاصلاح الصلاه مباح، وکذا الکلام من الامام لاجل السهو لا یفسدها.

ترجمه : دامام مالك، شافعیؒ، احمدؒ او اسحقؒ مذهب دادے چه په مانځه دقوم خبرے دامام سره دمانځه داصلاح دپاره مباح دی، دغه شان دامام سهوا ًخبرے مونځ نه خرابوی.

تحفه الاحوذی (۲/٤٤١) کښے علامه مبارکفوری ؒ فرمائی :

قال الحافظ فی الفتح : اجمعوا علی ان الکلام فی الصلاه من عالم بالتحریم عامدا لغیر مصلحتها او انقاذ مسلم مبطل لها. واختلفوا فی الساهی والجاهل فلا یبطلها القلیل منه عند الجمهور وأبطلها الحنیفه.

ترجمه : حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری کښے فرمائی : دعلماؤ په دے باندے اجماع ده چه په مانځه کښے قصداً دهغه چا خبرے چه هغه ددے په حراموالی باندے عالم وی او دا خبرے ئے دمانځه دمصلحت دپاره نه وی کړی یا ئے دیو مسلمان دخلاصولو دپاره نه وی کړی نو دا قسمه خبرو سره مونځ فاسدیږی. لیکن اختلاف په دے کښے دے چه سهوے سره یا جهالت سره خبرے کول مونځ خرابوی که نه ؟ نو دجمهورو علماؤ په نزد په جهالت یا سهوے سره لږے خبرو سره مونځ نه خرابیږی، اود احنافو په نزد خرابیږی.

علامه ابن قدامه په المغنی (۱/۷۳۵) کښے ددے مسئلے ښه تفصیل کړیدے او دکلام تقسیم ئے کړیدے پنځه اقسامو ته چه په اکثرو صورتونو کښے مونځ نه فاسدیږی. اوهغه صورتونه دادی :

(۱) – چه په مانځه کښے دخبرو کولو په تحریم باندے ناخبره وی،نو راجح داده چه مونځ ئے نه باطلیږی، دوجے دحدیث دمعاویه بن حکم سلمیؓ نه.

(۲) – چه په هیره باندے خبرے اوکړی، راجح داده چه مونځ ئے نه فاسدیږی. او دا قول دے دامام مالك او شافعیؒ. ددے دلیل حدیث دذی الیدینؓ دے.

(۳)– چه دا گمان اوکړی چه دده مونځ پوره شویدے نو خبرے اوکړی. نو که دا خبرے دمانځه سره متعلق وے نو بیا هم مونځ باطل نه دے. اوکه دنیوی خبرے وے نو بیا باطل دے. ددے دلیل حدیث دزبیرؓ، ابن زبیرؓ، عروهؓ او ابن عباسؓ نه .

(٤) – چه غیر اختیاری طور سره ترے خبرے اوشی، مثلاً غیر اختیاری طور سره ترے حروف دخلے نه اووځی، اویا دا چه په مانځه کښے اوده شی اوخبرے اوکړی، اویا پرے ځوك زبردستی سره خبرے اوکړی، نو په دے تولو صورتونو کښے مونځ نه فاسدیږی.

(٥) – دمسلمان دتباهئ او هلاکت نه خلاصولو دپاره په مانځه کښے خبرو کولو سره مونځ نه خرابیږی، هرکله چه دغه مسلمان په تسبیح سره ده ته خبردارے نشي ورکولے.

(٦) – اوکله چه دمانځه داصلاح دپاره خبرے اوکړی نودامام خبرے مونځ نه خرابوی البته

دمقتدیانو خبرے ئے خرابوی. ملخصاً جداً.

امام نووی ؒ په شرح دمسلم (۲۱٤/۱) کښے فرمائی:

ومنها: ان کلام الناسی للصلاه والذی یظن انه لیس فیها لا یبطلها، وبهذا قال جمهور العلماء من السلف والخلف وهو قول ابن عباس وعبد الله بن الزبیر واخیه عروه وعطاء والحسن والشعبی وقتاده والاوزاعی ومالك والشافعی واحمد وجمیع المحدثین الخ.

ترجمه: بل داچه کلام دهغه شخص چه مونځ ورته یاد نه دے اود هغه شخص چه دا ګمان کوی چه زه په مانځه کښے نه یم ددوئ خبرو سره مونځ نه باطلیږی. اوهمدا د جمهورو سلفو قول دے، اوهمدا دابن عباسؓ، عبد الله بن زبیرؓ اودده دورور عروةؒ قول دے، دغه شان دا دعطاء، حسن، شعبی، قتاده، اوزاعی، مالك، شافعی، احمد اود تمامو محدثینو – رحمهم الله – قول دے.

اوس دهغه فتوی خطائی اوګوره کومه چه دعثمانیه مدرسے نه صادره شویده، هغه وائی:

(۱) – په مانځه کښے مطلقاً خبرے کول خواه عمداً وی اوکه سهواً وی اوکه دجهالت په وجه سره وی دا مفسد دصلاه دی اودا داکثر اهل علمو رائے ده.

دا خبره غلطه ده، بلکه دا صرف داحنافو رائے ده، په نورو مذاهبو کښے په دے کښے ډیر تفصیل دے. لکه چه مخکښے مونږ پیش کړو.

(۲) – بیا دغه حنفي مفتی صاحب دذو الیدین دحدیث نه جواب کوی چه دا په حدیث دابن مسعودؓ او حدیث دزید بن ارقمؓ سره منسوخ دے.

جواب: د اخبره صحیح نه ده، ولے چه حدیث دابن مسعودؓ اوحدیث دزید بن ارقمؓ په عمداً کلام کولو باندے محمول دے، اوددے خبرے ډیر قرائن دی:

۱ – په حدیث کښے صراحه داختیاری خبرو ذکر دے.

۲ – صحابه کرامؓ بلکه ابن مسعودؓ دمانځه داصلاح دپاره خبرو ته جائز وئیلی دی، کما یشیر الیه حدیث مسلم.

۳ – تابعینوؒ هم دمانځه داصلاح دپاره خبرے کړی دی لکه چه مخکښے د عروةؒ، علقمهؒ، ابراهیم نخعیؒ وغیره ؤ نه نقل کړے شول.

٤ – په حدیث دابن مسعودؓ کښے کوم چه مونږ نقل کړو په دے کښے د سره ذو الیدینؓ والا خبره شته دے نه.

(۳) - بیا هغه دوه قرینے دمنسوخیت دپاره ذکر کړی دی :

۱- اوله قرینه داده : چه ذو الیدینؓ په بدر کښے شهید شویدے .

جواب : دا خبره صحیح نه ده، ځکه په بدر کښے ذو الشمالین شهید شویدے چه دده نوم دے عمیر بن حبیب الخزاعی،او ذو الیدینؓ نوم دے خرباق اودا سلمیؓ دے .اودواړو ته ذو الیدین وئیلے کیږی. لهذا په بدر کښے ذو الیدینؓ نه دے شهید شوے بلکه ذو الشمالینؓ شهید شویدے . کما فی فتح الباری : ۴۳۰/۳ .

اود ذو الیدینؓ دحدیث هیڅ ناسخ نشته دے، ولے چه په دغه حدیث کښے کلام عمدا نَه دے، او نسخ هله کیږی چه کله تطبیق ممکن نه وی.

۲ - دویمه قرینه ئے دا لیکلے ده چه ابو بکر صدیقؓ او عمر فاروقؓ قصداً خبرے کړے وے اوددے باوجود رسول الله ﷺ دے دواړو ته داعادے حکم اونه فرمائیلو . حالانکه په مانځه کښں قصداً خبرے کول بالاجماع مفسد صلاه دی الخ .

جواب : دا خبره بالکل په جهالت باندے بناء ده. ولے چه دابو بکر او عمر - رضی الله تعالی عنهما - خبرے هم دمانځه داصلاح دپاره وے، عمداً بَلا ضرورت نه وے. نو دا مصادره علی المطلوب ده.

او زمونږ قرائن دادی چه :

(۱) - دذو الیدینؓ والا حدیث بخاری، مسلم، اصحاب السنن والمسانید، بیهقی او تمامو علماء کرامو صحیح ګرځولے دے او په دے باندے ئے دلیل نیولے دے. صرف احنافو دیته بغیر دڅه دلیل نه منسوخ وئیلے دے. والراوی اعلم بمرویه.

په دے حدیث باندے علامه علائی کتاب لیکلے دے (نظم الفرائد لما تضمنه حدیث ذي الیدین من الفوائد).

---

(۲) - بله داچه دذو الیدینؓ نه علاوه نور هم احادیث شته دے په دے موضوع باندے لکه چه مخکښے تیر شو.

او هرچه په طحاوی (۲۹٤/۱) کښے حدیث دعمرؓ دے :

سمعت عطاء یقول : صلی عمر بن الخطاب باصحابه فسلم فی رکعتین ثم انصرف فقیل له فی ذلك، فقال : انی جهزت عیرا مًن العراق باحمالها واحقابها حتی وردت المدینه فصلی بهم اربع

رکعات.

نو اولاً : دا حدیث زمونږ دمدعا خلاف نه دے ځکه په دے کښے ددے خبرے تصریح نشته چه دسره ئے مونځ راګرځولے دے، بلکه په دے کښے دا ذکر دی چه څلور رکعته ئے اوکړل، نو آیا دسره ئے راؤګرځول او که دوه ئے پسے نور اوکړل، دواړه احتماله شته دے.

ثانیاً : په خپل پریخی مونځ باندے بناء کول واجب نه دی، ولے انسان دپاره دا جائز دی چه په مذکوره صورت کښے دسره مونځ راؤګرځوی.

وبالله عز وجل التوفیق.

یوم الخمیس : ۱۴۲۱/۱ هـ الموافق : ۲۰۰۰/۸/۳ء.

چه د سحر جمعه ولاړه وي نو د سحر سنت نه کیږي

سوال : د سحر جماعت چه کله ولاړ وی او یوکس دسحر دوه رکعته سنت نه وی کړی نو آیا په دغه وخت کښے سنت کولے شی اوکه نه ؟ زمونږ دمسجد امام صاحب دا مسئله کړیده چه کله جمع اودریږی نو سنت نه کیږی. که هغه دسحر سنت وی یا دبل وخت سنت وی، لیکن یو عالم اووئیل چه دسحر سنت چه کله جمع ولاړه هم وی نو بیا ئے هم کول ضروری دی، ځکه که دے کښے ډیر احادیث راغلی چه دسحر سنت ډیر ضروری دی. دا خبره دے هم ستاسو مخے ته وی چه بعضے علماؤ داهم وئیلی دی چه دصف خوا کښے نه کیږی بلکه دمسجد په ګوټ کښے کول پکار دی. نو ددے خبرے څه حقیقت دے ؟ تفصیلاً جواب راکړئ. جزاکم الله خیرا !

جواب : په هر مسلمان باندے لازم دی چه دسنتو ډیر اهتمام اوکړی دجماعت دمانځه ډیر اهتمام اوکړی، مسجد ته وختی تلل پکار دی، دے کښے ډیر خیرونه دی. دجماعت نه روسته روسته کیدل دغتَ تاوان سبب دے. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

ولا یزال قوم یتاخرون حتی یؤخرهم الله عز وجل.

(رواه مسلم وابوداود والنسائی واحمد، و سنده صحیح، المشکاه : ۹۸/۱).

ترجمه بعض خلق به دصف او مانځه نه روسته روسته کیږی تردے چه الله تعالی به ئے دخپل فضل او رحمت نه اوجنت ته ددخول نه هم روسته کړی.

نو دے حدیث شریف کښے سخت وعید او زورنه ده دهغه چا دپاره چه څوك داول صف یا مانځه نه

روسته کېږي. پکار خودادي چه مؤمن سړے وختي مسجد ته راشي اول صف ته ځان اورسوي اود تکبير اولي فضائل حاصل کړي.

دغه شان مانځه ته سست اوکسالي' کېدل دمنافق صفت دے. الله تعالى مونږ ته دمنافقينو صفت داسے بيانوي: واذا قاموا الى الصلاه قاموا كسالى. الآيه.

(اوکله چه دوئ مانځه ته اودرېږي نو سست پاځي.

ددے آيت او حديث نه دا مسئله معلومه شوه چه مانځه ته روسته تلل اودمانځه باره کښے سستي اختيارول غټ تاوان اونقصان دے.

ليکن بيا هم انسان عاجز اوکمزورے دے، کله کله دڅه ضرورت په وجه روسته پاتے شي لکه دسحر وخت کښے يو کس ناوخته راشي او دجمعے مونځ ولاړ وي - نو دا کس به په جماعت کښے شريکېږي او سنت به نه کوي، بلکه دمانځه روسته يا دنمر ختلو نه پس دے ددغه سنتو قضائي اوکړي.

اوځوك چه دا خبره کوي چه سنت به کوي ځکه چه دسحر دسنتو باره کښے ډېرتاکيد راغلے نو دوئ ته جواب دادے چه دا خبره بالکل صحيح ده چه دسحر دسنتو باره کښے تاکيد راغلے چه دا مه پرېدئ اودا اداکوئ - ليکن کوم رسول الله ﷺ چه ددے سنتو تاکيد بيان کړيدے، هم هغه رسول الله ﷺ مونږ منع کړي هم يو. او همدغه رسول الله ﷺ مونږ ته وئيلي دي چه: کله فرض مونځ په جماعت سره اودرېږي نو بل مونځ - سنت وي اوکه بل مونځ وي - نه کېږي. او رسول الله ﷺ په دے خبره غصه ښکاره کړېده چه کله دسحر مونځ په جماعت سره شروع وو او يو کس دسحر سنت مؤکده کول. اود مسجد په ګوټ کښے ئے کول. دغه شان دغه کس دسنت کولو نه پس تول فرض مونځ هم په جماعت سره ادا کړو، ليکن بيا هم هغه ته رسول الله ﷺ په قهراو غصه شو چه دا کار دے ولے اوکړو؟ نو ښکاره خبره ده چه کله دسحر جماعت اودرېدلو نو سنت به پرېخودلے شي. برابره خبره ده که دجماعت دفوت کېدلو وېره وي اوکه نه وي.

زه اوس هغه احاديث ذکر کوم په کومو کښے چه ددے نه منع راغلے وي چه کله فرض مونځ په جماعت سره شروع شي نو سنت نه کېږي، که هغه دسحر سنت وي اوکه بل وخت

۱ - **اول دليل**: عن ابي هريره رضي الله عنه عن النبي ﷺ انه قال: اذا أقيمت الصلاه فلا صلاه الا المكتوبه.

ترجمه: کله چه دمانځه دپاره اقامت اوشي (او مونځ اودرېږي) نو (ددغه) فرض مانځه نه علاوه بل

مونځ نه کېږي.

دے حدیث شریف نه صفا معلومه شوه چه دکوم مانځه دپاره اقامت اوشي نو ددغه فرض مونځ نه علاوه بل مونځ – سنت وي اوکه فرض وي – نه کېږي.

دا حدیث مسلم: ۲٤۷/۱، ابوداود، ترمذي، نسائي او ابن ماجه وغیره روایت کړیدے. علامه نووي ددے حدیث په شرح کښے لیکي:

فیه دلیل علی انه لا یصلي بعد الاقامه نافله وان کان یدرك الصلاه مع الامام.

(داحدیث دلیل دے په دے خبره چه داقامت نه پس به بل مونځ نه کېږي اګرکه دامام سره دغه فرض مونځ نیولے هم شي).

۲ – **دویم دلیل**: عن عبد الله بن مالك ابن بحینه ان رسول الله ﷺ مر برجل یصلي وقد اقیمت صلاه الصبح فکلمه بشئ لاندري ما هو، فلما انصرف أحطنا به، نقول: ماذا قال لك رسول الله ﷺ؟ قال: قال لي: یوشك ان یصلي احدکم الصبح اربعاً. وفي روایه: قال: اقیمت صلاه الصبح فرأی رسول الله ﷺ رجلا یصلي والمؤذن یقیم فقال: اتصلي الصبح اربعاً! (رواه مسلم في صحیحه: ۲٤۷/۱، ونحوه في النسائي واحمد: ۲۳۸/۱، والبیهقي: ٤۸۲/۲، والحاکم: ۳۰۷/۱).

ترجمه: دعبد الله بن مالك بن بحینهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په یو سړي باندے تیر شو چه هغه مونځ کولو او د سحر دمانځه دپاره اقامت شوے وو، نو رسول الله ﷺ ددغه کس سره څه خبرے اوکړے، خو مونږ ته ددے معلومات اونشو (چه څه ئے ورته اووئیل) نوکله چه مونږ دمانځه نه فارغ شو نو هغه نه راتاؤ شو، او ورته مو اووئیل چه تاته رسول الله ﷺ څه اوفرمائیل؟ هغه وئیل: ماته ئے دا اووئیل چه: نزدے ده چه یو کس پتاسو کښے دسحر (فرض) مونځ څلور رکعته اوکړي!

او په یو بل روایت کښے دادي چه: دسحر مونځ اودریدلو نو رسول الله ﷺ یو سړے اولیدلو چه په داسے وخت کښے ئے مونځ کولو چه مؤذن اقامت شروع کړے وو، نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل: آیا ته دسحر فرض مونځ څلور رکعته کوے؟

مطلب داچه: داقامت کیدلو نه خو روسته فرض مونځ وي نو ته چه سنت کوے آیا دا هم فرض دي؟ نه بلکه دمؤذن داقامت کولو نه به روستو ددغه فرض نه علاوه نه سنت کولے شي اونه به دبل فرض مونځ قضائي راوړلے شي.

۳ – **دریم دلیل**: امام مسلم په خپل صحیح (۲٤۷/۱) کښے دعبد الله بن سرجسؓ نه روایت

کوی هغه فرمائی :

دخل رجل المسجد ورسول الله ﷺ فی صلاه الغداء ، فصلی رکعتین فی جانب المسجد ثم دخل مع رسول الله ﷺ، فلما سلم رسول الله ﷺ قال : یافلان ! بای الصلاتین اعتددت ! ابصلاتك وحدك ام بصلاتك معنا ؟

ترجمه : یو کس مسجد ته په داسے حال کښے داخل شو چه رسول الله ﷺ دسحر مونځ کولو، دغه کس دمسجد په یو ګوټ کښے دوه رکعت سنت اوکړل او بیا درسول الله ﷺ سره په فرض مانځه کښے شریك شو، کله چه رسول الله ﷺ سلام اوګرځولو نو هغه ته ئے اوفرمائیل : اے فلانیه ! تا کوم مونځ دسحر مونځ اوشمارلو ! هغه مونځ کوم چه دے یوائے اوکړلو او که نه هغه مونځ کوم چه دے مونږ سره اوکړو ؟

ددے حدیث شریف نه صفا معلومه شوه چه کله چه دسهار جمع ولاړه وی نو دسهار سنت دمسجد په ګوټ کښے هم نه کیږی، اګرکه پوره جماعت هم رالاندے کړی .

٤ – **څلورم دلیل** : حافظ ابن حجرؒ په فتح الباری : ۱۱۸/۲، کښے دکامل دابن عدی نه نقل کوی :

(قیل : یا رسول الله ﷺ ! ولا رکعتی الفجر ؟ قال : ولا رکعتی الفجر) ! واسناده حسن .

ترجمه : (کله چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کله فرض مونځ اودریږی نو بیا ددغه فرض مونځ نه علاوه بل مونځ نه کیږی) عرض اوکړے شو : یا رسول الله ! دسهر دوه رکعته سنت هم نه کیږی ؟ رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : دسهر سنت هم نه کیږی !

نودا دواړه (۳، ٤) حدیثونه صریح دلائل دی په دے خبره باندے چه کله دفرض مونځ دپاره اقامت اوشی نو سنت نه کیږی اګرکه دسهر سنت وی، اوداخبره دالله رسول ﷺ کړیده چه دسهار سنت هم نه کیږی .

٥ – **پنځم دلیل** : عن ابن عباس قال : اقیمت الصلاه فقام رجل یصلی رکعتین فجذب رسول الله ﷺ بثوبه ،وقال : اتصلی الصبح اربعا ؟.

قال الهیثمی : ورجاله رجال الصحیح، اخرجه احمد کما فی المجمع : ۵/۲، رقم : ۱۹۲۵، وابن خزیمه : ۱۱۱٤).

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے دا فرمائی : یو ځل دمانځه دپاره اقامت اوشو نو

یو سړی پاڅیدلو دوه رکعته ئے کول غوختل، لیکن رسول الله ﷺ دهغه جامه راښکله او ورته ئے اوفرمائیل: آیا ته دسهر څلور رکعته کوې؟

فائده: ددې حدیث نه دا معلومه شوه چه کله دسهار جماعت اودریږی او څوك دسهر سنت کوی نو هغه منع کول پکار دی، لکه په دې باندې راتلونکی احادیث هم دلالت کوی. او ورسره دا خبره هم معلومه شوه چه څوك دفرض مونځ داودریدلو باوجود سنت کوی نو ګویا دې دغه سنت مونځ فرض ګنړی. او دا غلطه خبره ده، ځکه سنت چه هر څومره قوی سنت ولې نه شی خو هغه بیا هم سنت وی.

٦ – **شپږم دلیل:** عن ابی موسی الاشعری رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ رأی رجلا یصلی رکعتی الغداه حین اخذ المؤذن یقیم، فغمز النبی منکبه، وقال: الا کان قبل ذا؟

(رواه الطبرانی فی الکبیر ورجاله موثقون کما فی المجمع: ۷۵/۲، وقال العراقی: اسناده جید، انظر تحفه الاحوذی: ۲۹۷/۲).

ترجمه: دابو موسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ یوکس اولیدلو چه دسهر سنت ئے په داسې وخت کول اوغوښتل چه کله مؤذن اقامت شروع کړو، نو رسول الله ﷺ ددغه شخص اوګه اوسکونډله او ورته ئے اوویئیل: دا دې مخکښې ولې نه کول

۷ – **اووم دلیل:** وعن ابن عباس قال: اقیمت صلاه الغداه فنهضت اصلی رکعتین قبل صلاه الغداه، فاخذرسول الله ﷺ بیدی فجبذنی وقال: اتصلی الصبح اربعا؟.

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه دا فرمائی چه: دسهر جمع اودریدله نو زه پاڅیدلم چه دسهر فرضو نه مخکښې دوه رکعت سنت اوکړم، نو رسول الله ﷺ زما لاس اونیولو اورائے ښکلو او راته ئے اوفرمائیل: آیا دسهر څلور رکعته مونځ کوې!

د صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله آثار

۸ – **اتم دلیل:** عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه انه کان اذا رأی رجلا یصلی وهو یسمع الاقامه ضربه.

(اخرجه البیهقی: ۴۸۳/۲، وهو فی المصنف لعبد الرزاق: ۴۳۶/۲، والمحلی: ۱۵۳/۲).

ترجمه: خلیفه راشد عمر فاروق رضی الله عنه به چه کله یو سړی اولیدلو چه هغه به داقامت

اوریدلو په وخت مونځ کولو نو هغه به ئے وهلو .

۹ – نهم دلیل : وعن نافع عن ابن عمر انه رأى رجلا يصلي ركعتين والمؤذن يقيم فحصبه وقال : اتصلي الصبح اربعا ؟ انظر المصنف لعبد الرزاق : ۴۳۶/۲) .

ترجمه : عبد الله بن عمر – رضي الله عنهما – یو سړے اولیدلو چه دمؤذن داقامت کولو په وخت ئے دوه رکعته کول، نو هغه ئے په ګیټکئ باندے ویشتلو او ورته ئے اوفرمائیل : ولے دسهر څلور رکعته (فرض) مونځ کوے ؟

۱۰ – امام ابن حزم په المحلى : ۱۵۳/۲، کښے دابن عمر رضي الله عنهما عمل داسے نقل کوی :

انه جاء الى القوم وهم في صلاه الغداه، ولم يصل ركعتي الفجر، فدخل معهم فلما ضحى قام فصلاهما . ونحوه اخرجه البيهقي : ۴۸۴/۲ .

ترجمه : ابن عمرؓ خلقو ته په داسے وخت راغے چه هغوئ دسهر مونځ کښے کولو او ابن عمرؓ دسهر دوه رکعت سنت نه وو کړی، نو اول دخلقو سره په فرض مونځ کښے شریك شو او بیا چه کله دڅاښت وخت شو نو پاڅیدلو او دوه رکعت سنت ئے او کړل .

۱۱ – د عروه رحمه الله اثر :

هشام بن عروهٌ وائی : دعروهٌ ورور راغے او اقامت وئیلے شوے وو نو دعروهٌ ورور اوغوښتل چه دسهار سنت اوکړی، نو عروهٌ خپل ورور ته غصه شو او هغه ئے اورټلو .

(اوګوره : المحلى : ۱۵۲/۲، ۱۵۳) .

۱۲ – د طاووس رحمه الله نه نقل دی :

انه كان اذا اقيمت الصلاه ولم يركع ركعتي الفجر صلى مع الامام فاذا فرغ ركعهما بعد الصبح . – المحلى لابن حزم : ۱۵۳/۲ .

ترجمه : طاوسؒ به چه کله دسهر سنت نه وو کړی او اقامت به دفرض مانځه دپاره اوشو نوطاوسؒ به دامام سره شریك شو، اوکله به چه فارغ شو نو دسهر دفرض مونځ روستو به ئے هغه سنت اوکړل .

۱۳ – د ایوب سختیانیؒ نه نقل دی چه :

كان محمد بن سيرين يكره ان تصلي ركعه الفجر عنداقامه صلاه الصبح، وقال : اتصليهما وقد فرضت الصلاه . – المحلى لابن حزم : ۱۵۲/۲ .

ترجمه : محمد بن سیرینؒ به دا مکروه ګڼړله چه دسهار سنت داقامت کولو په وخت کښے اوکړے

شي، اودا به ئے فرمائېل : آیا ته دسهار سنت په داسے وخت کښے کوے چه دسهار جمع فرض شوه.

۱٤ – د سعيد بن جبيرؒ نه روايت دے چه :

انه قال :اقطع صلاتك عند الاقامه. - المحلى لابن حزمؒ : ۱۵۲/۲ .

ترجمه : هغه فرمائي : داقامت شروع کېدلو سره مونځ مات کړه يعني سنت او نوافل پرېږده.

۱۵ – د مسلم بن عقيل نه نقل دي :

انه كان يقول للناس وهم يصلون وقد اقيمت الصلاه : ويلكم لا صلاه اذا اقيمت الصلاه.

ترجمه : چه ده به هغه خلقو ته چه دمانځه داقامت په وخت کښے به ئے مونځ کولو وئيلے چه : تعجب دے پتاسو باندے ! کله چه مونځ دپاره اقامت اوشي نو بيا بل مونځ نشته دے.

۱٦ – **د ابراهيم نخعيؒ نه نقل دي** چه : يو کس امام په داسے حالت کښے مونده کړي چه هغه په جمع ولاړ وي اودغه کس دسهار سنت نه وي کړي : نو دا کس به په فرض مانځه کښے خلقو سره شريکيږي .يعني سنت به نه شروع کوي. اوګوره المحلى .

په دے موضوع باندے ډېر **آثار** شته دے چه دکتاب داوږدوالي دخوف په وجه زه نور آثار او دعلماء اقوال نه ذکر کووم بلکه په همدے کفايت کووم. اودا مشت نمونه خروار په مصداق باندے ما ذکر کړل. دغه شان دا آثار مونږ ددے دپاره ذکر کړل چه کوم کسان دا خبره کوي چه دسهار سنت چه جمع ولاړه وي کول ئے پکار دي او په دے رائے باندے آثار پيش کوي. ورنه دالله درسول ﷺ دقول او فعل په مقابله کښے دهيچا خبرے ته اعتبار نشته، او نه قابل حجت دي.

محترمو لوستونکو ! تاسو اوکتل چه په دے موضوع باندے څومره ډېر صحيح احاديث قولي او فعلي راغلي دي چه کله دسهر جمع شروع شي نو سنت نه کيږي. اود رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه دسهر سنت هم نه کيږي نو وے فرمائېل چه آو، دسهر سنت هم نه کيږي لکه دفتح الباري په حواله مخکښے دا روايت په (٤) دليل کښے مونږ ذکر کړو.

دغه شان په صحيح مسلم په روايت کښے دا خبره ثابت کړے شوه چه مسجد په ګوټ کښے هم سنت نه کيږي اګرکه پوره دوه رکعته فرض دامام سره انسان هم را لاندے کولے شي. ځکه که مخکښے ذکر شو چه يو صحابيؓ راغے اود سهر جماعت دپاره اقامت شوے وواوهغه دمسجد په ګوټ کښے سنت اوکړل او بيا راغے او په جماعت کښے شريك شو، نو رسول الله ﷺ هغه صحابيؓ ته په دے کار باندے غصه شو !

غور اوکړئ : ددے نه صریح روایت بل کوم یو کیدے شی ؟ رسول الله ﷺ په قول سره هم منع کړو، او په خپله په لاس سره ئے هم منع کړو، لکه په دلیلونو کښے ذکر شو .لیکن ددے باوجود ډیر داسے خلق شته چه ځانته اهل السنت وائی اودے سنتو منلو ته تیار نه دی . ددے حدیثونو بے ځایه تاویلونه کوی اوددے احادیثو په مقابله کښے په داسے روایاتو باندے استدلال کوی چه ددے باب سره هیڅ تعلق نه لری .

د تفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص : ۱۶۲/۵، ۱۶۹، التحقیقات فی رد الهفوات ص : ۳۸۱، او تفهیم المسائل : ۴۱۰/۶، ۴۲۰، ته رجوع پکار ده..

ددے نه روسته دهغه دلائلو حال واوره کوم چه احناف په استدلال کښے پیش کوی :

د احنافو د دلائلو تجزیه

اولاً : داخبره یاد ساتل پکار دی چه احنافو سره په دے باره کښے هیڅ صحیح حدیث نشته چه دسهار جماعت اودریدلو باوجود دے دسنتو په ادا کولو باندے دلالت اوکړی .

ثانیاً : دوئ چه کوم آثار په دے باره کښے پیش کوی نو اول خو هغه اکثره ضعیف دی لکه ددے تحقیق په (التحقیقات فی رد الهفوات ص : ۳۸۸، ۳۹۸) کښے تفصیلاً اوګوره

ثالثاً : که دا آثار (اقوال دعلماؤ) صحیح هم شی نو دمرفوع احادیثو په مقابله کښے ددے پیش کول درست نه دی، ځکه چه کله موقوف روایت دمرفوع حدیث په مقابله کښے راشی نو په اتفاق داهل علمو سره به مرفوع حدیث مقدم کولے شی په موقوف باندے .

رابعاً : مونږ هم په دے مسئله باندے ډیر آثار پیش کړل چه دسهر جمع ولاړه وی نوسنت نه کیږی . مونږ سره صحیح مرفوع احادیث او صحیح آثار دواړه شته دے .اود احنافو سره هیڅ مرفوع حدیث نشته دے .

اوګوره : فتاوی الدین الخالص : ۱۶۶/۵، ۱۶۹ .

اودوئ چه کوم احادیث دبخاری او نورو کتابونو نه پیش کوی نو ددے جواب دادے چه په دغه روایاتو کښے خو د سهر د سنتو فضائل ذکر دی ، چه ددے نه انکار نشته دے لیکن دا فضائل په دے باندے دلالت نه کوی چه دفرض مونځ اودریدلو باوجود دے دغه سنت کول جائز شی، ځکه فرض فرض وی او سنت سنت وی .

ددے **مثال** دادے چه ته ہو کس ته اووائے چه دزوال یا نمرخاته یا نمر پراته (په اوقات ثلثه مکروهه ؤ) کښے نفل مونځ مه کوه، اودے تاته دنوافلو فضیلت شروع کړی چه الله تعالی دپاره دوه رکعته مونځ کول دومره فضیلت لری، الله تعالی ته سجده کېخودل دومره فضیلت لری. نودا استدلال ددے کس به په بیوقوفئ باندے بناء وی. نو دغه شان کوم خلق چه په دے باره کښے په هغه فضائلو باندے استدلال کوی کوم چه په صحیح احادیثو کښ راغلی دی نو ددوئ هم دغه شان حالت دے.

په دے کښے هیڅ شك نشته چه دسهر سنت ډیر تاکید لری او رسول الله ﷺ سفراً وحضراً نه دي پریښی، لیکن ددے دا معنی نه ده چه کله فرض اودرېږی نو بیا دے هم دغه اداء کولے شی. لکه په اوقاتو مکروهه ؤ کښے نفل کول هیڅ ثواب نه لری، اګرکه فی نفسه نوافل ډیر زیات ثواب لری. دغه شان کله چه دسهر فرض مونځ اودرېږی نو بیا نفل کول هیڅ ثواب نه لری بلکه سبب جوړېږی دپاره دمخالفت درسول الله ﷺ، ځکه په دے وخت کښے رسول الله ﷺ ددغه سنتو نه منع فرمائیلے دے، نودا وخت سنت کول اصل کښے په وقت مکروهه کښے نفل کول دی چه ګناه ده.

۲۶/ رجب ۱٤۲٤هـ.

سحر مونځ نه پس د سحر د سنتو قضائی راوړل جائز دي

سوال: که دچا نه دسهر سنت فوت شی آیا دسهر مانځه نه پس ئے قضاء راوړلے شی اوکه نه؟ بینوا توجروا!

جواب: د سهر دسنتو اهتمام کول ضروری دی حتی الوسع ددے پریښودل نه دی پکار، رسول الله ﷺ به دسهر سنت په سفر او حضر دواړو کښے کول، اودائے هم فرمائیلی دی چه: دسهر دا دوه رکعته ددنیا وما فیها نه غوره دی (ترمذی وغیره، وسنده صحیح) لیکن کله چه دیو کس نه دڅه عذر په وجه باندے پاتے شی نو بیا ددے قضائی دسهر مانځه نه روسته - دنمرخاته نه مخکښے - هم جائز دی، اودغه شان دنمر ختلو نه روسته ئے کول هم جائز دی.

اوله مسئله: ددے خبرے دلائل چه د سحر د سنتو قضائی د سحر مونځ نه پس او دنمر ختلو نه مخکښے کول جائز دی:

۱ - عن قیس بن عمرو رضی الله عنه قال: خرج رسول الله ﷺ فاقیمت الصلاه فصلیت معه الصبح ثم انصرف النبی ﷺ فوجدنی اصلی فقال: مهلاً یا قیس أصلاتان معاً؟ قلت: یا رسول الله

! انی لم اکن رکعت رکعتی الفجر، قال : فلا اذن .

(رواه الترمذی والحدیث صحیح صححه الشیخ الالبانی فی صحیح الترمذی : ۱۳۳/۱) .

ترجمه : دقیس بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے دا فرمائی : رسول الله ﷺ مانځه دپاره راووتلو او اقامت وئیلے شوے وو، نو ما درسول الله ﷺ سره د سهر فرض مونځ اوکړو، بیا رسول الله ﷺ واپس شو اوزه ئے بیاموندلم چه ما مونځ کولو، رسول الله ﷺ راته اوفرمائیل : پریده اے قیسه دا څه کوے آیا دواړه مونځونه یو ځائے کوے ؟ ما ورته اووئیل : یا رسول الله ! ما دسهر سنت نه وو کړی، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : څه بیا باك نه لری .

امام ترمذی چه دا وئیلی دی چه ددے سند منقطع دے، ددے باره کښے امام شوکانی ؒ فرمائیلی دی چه :

وقول الترمذی : انه مرسل ومنقطع : لیس بجید، فقد جاء متصلاً من روایه یحیی بن سعید عن ابیه عن جده . رواه ابن خزیمه في صحیحه وابن حبان من طریقه وطریق غیره . (نیل الاوطار : ۲۹/۳) .

ترجمه : امام ترمذی ؒ دا خبره چه دا روایت مرسل او منقطع دے : دا کره خبره نه ده، ځکه دا حدیث په روایت دیحیی بن سعید عن ابیه عن جده قیس سره متصل هم راغلے دے چه دا ابن خزیمه په خپل صحیح (۱٦٤/۲) کښے او ابن حبان دقیس په سند سره اودده نه علاوه دبل چا په سند سره هم راوړیدے .

ومثله اخرجه الحاکم فی المستدرك : ۲۷۵/۱، وقال : صحیح علی شرطهما وأقره الذهبی وابن عبد الرزاق (٤۰۲٦) ومن طریه احمد : ٤٤۷/۵، واخرج البیهقی فی السنن : ٤۸۳/۲، والدارقطنی : ۳۸۳/۱، ۳۸٤، والشافعی : ۵۲/۱، والحمیدی : ۸٦۸، والطبرانی : ۱۸/رقم : ۹۳۷، ۹۳۸، ۹۳۹، وابن ابي شیبه : ۲۵٤/۲) .

دے تولو کتابونو کښے په مختلفو سندونو سره دا حدیث روایت شویدے .

۲ - دقیس بن عمرو رضی الله عنه حدیث په ابوداود او ابن ماجه کښے هم راغلے دے چه دهغے الفاظ دادی :

قال : رأی النبی ﷺ رجلاً یصلی بعد صلاه الصبح رکعتین، فقال النبی ﷺ : اصلاه الصبح ؟ فقال له الرجل : انی لم اکن صلیت الرکعتین اللتین قبلها فصلیتهما قال : فسکت النبی صلی الله علیه وسلم ـ

ترجمه : نبی کریم ﷺ یو سړے په داسے حال کښے اولیدلو چه دسهر فرض مونځ نه پس ئے دوه رکعته کول، نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل : آیا دا دسهر (فرض) مونځ کوے ؟ هغه سړی عرض اوکړو : ما دسهر مانځه نه مخکښے دوه رکعته سنت مونځ نه وو کړی نو دا دے اوس مے اوکړل. راوی وائی : نبی کریم ﷺ خاموش شو !

دا حدیث صحیح دے اوګوره :

صحیح ابي داود : ۲۳٦/۱، رقم : ۱۲٦۷، صحیح ابن ماجه : ۱۹۰/۱، رقم : ۱۱٥٤.

فائده : درسول الله ﷺ په دے عمل باندے خاموشی اختیارول دلیل درضا دے.

۳ - دغه شان په بل روایت کښے دی چه قیس رضی الله عنه دسهر مانځه نه روسته پاڅیده اود سهر مانځه نه مخکښے چه کوم سنت دی هغه ئے اوکړل :

ورسول الله ﷺ ینظر الیه فلم ینکر ذلك علیه.

(اور سول الله ﷺ ورته کتل اورد ئے ورباندے اونه کړو).

(اخرجه ابن خزیمه : ۱٦٤/۲، واللفظ له والحاکم : ۲۷٤/۱، ۲۷٥، والدارقطنی : ۲۷۲/۱، والبیهقی : ٤۸۳/۲، وابن حزم فی المحلی : ۱۱۲/۳، نیل المقصود : ۱۲٦۸، موارد الظمآن : ٦۲٤، وسنده صحیح).

ددے حدیث په شرح کښے علام ابو الحسن سندهی حنفیؒ لیکی :

یدل علی الاذن فی الرکعتین بعد صلاه الفجر لمن فاتهما قبل ذلك.

(داحدیث دلیل دے په دے خبره چه دچا نه دسهر سنت پاتے شوی وی نو هغه دپاره چه دا اجازه شته دے چه دفرض مانځه نه پس ددے قضائی راوګرځوی).

اوګوره : حاشیه السندی علی ابن ماجه : ۳٥۲/۱.

٤ - ابن ابي شیبه (۲٥٥/۲) ابن حزم په المحلی : ۱٥٥/۲، کښے روایت کوی :

عن عطیه قال : رأیت ابن عمر قضا هما حین سلم الامام.

(ما ابن عمرؓ ولیدلو چه دسلام نه روسته ئے دسهر دسنتو قضائی راوړله).

٥ - دعطاء او طاووس رحمهما الله نه نقل دی چه دویٔ به فرمائیل : چه دسهر دسنتو قضائی راوړل دسهر دفرض مانځه نه روسته جائز ده.

(المحلی : ۱٥٥/۲، وعبد الرزاق : ۲۳۲/۲).

٦ – دابن جریجؒ نه نقل دی چه هغه دسهر دسنتو قضائی دسهر دمانځه نه روسته اوکړله. اوګوره : مصنف عبد الرزاق : ٤٤٢/٢، فتاوی الدین الخالص : ١٨٠/٣ .

په دے مسئله باندے زیات تفصیل په فتاوی الدین الخالص : ١٧٨/٣، کښے ددے عنوان لاندے اوګوره : (القبح لمن لم یجوز قضاء الرکعتین بعد الصبح).

دغه شان (المرعاه : ٤٦٥/٣، نیل الاوطار : ٢٩/٣، تحفه الاحوذی : ٣٢٥/١، ٣٢٦، التحقیقات فی رد الهفوات تفصیلاً ص : ٤٠٢ – ٤٠٧، آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن سنت کی روشنی میں : ١٤٧/١، ١٥٠) کښے اوګوره.

شیخ ګوهر رحمٰن صاحبؒ په تفهیم المسائل : ٣٦٩/٤، کښے لیکی :

لیکن نماز فجر کے فوراً بعد پڑهنا بهی جائز هے اس لئے که رسول الله ﷺ نے اس کی اجازت دی هے.

ترجمه : لیکن دسهر دمانځه نه فوراً روسته اداء کول ئے هم جائز دی ځکه چه رسول الله ﷺ په دے کښے اجازت ورکړیدے.

تنبیه : بعض خلق د (فلا اذن) حدیث دا کوی چه : سنت دی نه مه ئے کوه. لیکن دا معنی غلطه ده، بلکه دا په دے حدیث کښے تحریف کول دی ددوه وجهو نه :

اولاً : کومو محدثینوؒ چه دا حدیث راوړیدے هغوی دا حدیث ددے دپاره راوړیدے چه دسهر مانځه نه روسته دسهر سنت کول جائز دی.

لکه امام ابن خزیمهؒ باب راوړیدے : باب الرخصه فی ان یصلی رکعتی الفجر بعد صلاه الصبح وقبل طلوع الشمس، اذا فاتتا قبل صلاه الصبح. (١٦٤/٢).

یعنی باب دے په بیان ددے کښے چه دسهر مانځه نه مخکښے چه کوم سنت دانسان نه فوت شی نو دهغے قضائی دفرض مانځه نه روسته اود نمر خاته مخکښے راوړلو کښے رخصت دے. ---- امام ترمذیؒ باب ایښے دے :

باب ما جاء فیمن تفوت الرکعتان قبل الفجر یصلیهما بعد صلاه الصبح.

(داباب دے په بیان دهغه چا کښے چه دهغه نه دسهر نه مخکښے سنت فوت شی اود سهر دمانځه نه پس ئے قضائی راوړی).

امام ابن حبان په خپل صحیح : ٤٢٩/٤، رقم : ١٥٦٣، کښے هم دا حدیث ددے دپاره راوړیدے چه

دسهار دمانځه نه پس دسنتو قضائی راوړل جائز دی.

ثانیاً: دویمه وجه ددے معنی دغلطئ داده: چه دا حدیث خو په نورو الفاظو سره هم راغلے دے، لکه په صحیح ابن حبان: ٤/٤٢٩، ابن خزیمه: ٢/١٦٤، المحلی: ٢/١٥٥، مستدرك: ٢/٢٧٤، ٢٧٥، کښے دی:

(ورسول الله ﷺ ینظر الیه فلم ینکر علیه).

چه رسول الله ﷺ هغه ته کتل اوردئے ورباندے اونه کړو.

دغه شان ابن ماجه رقم: ١١٥٤، ابوداود رقم: ١٢٦٧، ابن خزیمه: ٢/١٦٤، رقم: ١١٦، وغیره کښے دی: (فسکت عنه النبی ﷺ).

یعنی: رسول الله ﷺ په دے عمل باندے خاموشی اوفرمائیله.

او په یو عمل باندے درسول الله ﷺ خاموشی اختیارول - په ځائے دبیان کښے - دا دلیل درضا اوجواز ددغه عمل وی، اودیته سنت تقریری وئیلے شی.

ثالثاً: ابن ابي شیبه (٢/٢٥٤) کښے دی: (فضحك النبی ﷺ ولم یامره ولم ینهه).

ترجمه: رسول الله ﷺ ورته اوخندل، نه ئے ورته امر اوکړو اونه ئے منع کړو.

دغه شان په المحلی (٢/١٥٤) کښے دی چه: یو انصاری ؓ دسهر مانځه نه روسته دسهر دسنتو قضائی راوړله نو:

فلم یقل له شیئاً - رسول الله ﷺ هغه ته هیڅ هم اونه وئیل.

وسنده صحیح صححه البنداری فی تعلیق المحلی وحسنه العراقی ایضاً.

ددے تولو مختلف روایتونو نه معلومه شوه چه په مذکوره حدیث کښے د (فلا اذن) الفاظو دا معنی کول چه سنت دی نو مه ئے کوه، څنګه چه بعض مقلدینو صاحبانو کړیده دا معنی غلطه او تحریف دحدیث دے. لکه دے خبرے ته شیخ ګوهر رحمٰن صاحبؒ هم اشاره کړیده. اوګوره: تفهیم المسائل: ٤/٣٦٨.

دویمه مسئله: ددے خبرے دلائل چه د:

سحر سنت نمر ختلو نه روسته اداکول هم جائز دی:

١- عن ابي هریره رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: من لم یصل رکعتی الفجر فلیصلهما بعدما تطلع الشمس.

(اخرجه الترمذی واللفظ له (۳۲٦/۱) وابن خزیمه (۱٦٥/۲) رقم (۱۱۱۷).

ترجمه : چاچه دسهار سنت نه وی ادا کړی (دڅه عذر دوجې نه) نو هغه دے دنمر خاته نه پس ادا کړی.

داحدیث صحیح دے اوګوره : صحیح ابن خزیمه : ۱٦٥/۲، وصححه معلقه، وصححه الشیخ الالبانی فی صحیح الترمذی : ۱۳۳/۱، ٤۲٤، والصحیحه : ۲۳٦۱.

۲ – المصنف لابن ابي شیبه : ۲٥٥/۲، کښې دی :

ان عبد الله بن عمر فاتته رکعتا الفجر فقضا هما بعد ان طلعت الشمس.

(اخرجه مالك فی الموطا).

ترجمه : دابن عمر رضی الله عنه نه دسهار سنت فوت شو نو دنمر خاته نه پس دهغې قضائی راوړله.

اوګوره : فتاوی الدین الخالص تفصیلاً : ۱۸۱/۳، آپ کے مسائل اور ان کا حل للشیخ مبشر احمد ربانی حفظه الله : ۱٤۷/۱، ۱٥۰، تفهیم المسائل : ۳٦۸/٤، ٤۲۱/٦، للشیخ ګوهر رحمٰن رحمه الله.

۲۹/ شعبان ۱٤۲٤هـ.



د سفر احکام

په سفر کښې د جمع بین الصلاتین حکم

سوال : په سفر کښې جمع بین الصلاتین ثابت ده که نه ؟ په دے طریقه چه مثلاً دمازیگر مونځ دماسپخین مانځه سره اوکړے شی یا دماسخپین مونځ دمازیگر په وخت کښې اوشی. دغه شان دماښام مونځ دماسخوتن مانځه په وخت اوشی، یا دماسخوتن مونځ دماښام په وخت اوشی. آیا دا شان جمع بین الصلاتین درسول الله ﷺ نه ثابت ده اوکه نه ؟ دقرآن او سنت په رنړا کښې تفصیلاً مدلل جواب راکړئ!

جواب : ددے مسئلے تفصیل په فتاوی الدین الخالص (۹۸/۳) (۱۱٦/٦) کښې لیکلے شویدے. دلته مختصر طور سره یو څو دلائل ددے دپاره ذکر کیږی چه په سفر کښې جمع بین الصلاتین حقیقه جائز ده. برابره خبره ده که جمع تقدیمی وی اوکه جمع تاخیری (یعنی دا هم جائز دی چه مثلاً دمازیگر مونځ دماسپخین په وخت کښې، اود ماسخوتن مونځ دماښام په وخت اوکړے شی، لکه څنگه چه دا جائز دی چه دماسپخین مونځ دمازیگر دمانځه په وخت کښې اود ماښام مونځ دماسخوتن په وخت کښې اوکړے شی.

۱ - اول دلیل : عن انس بن مالك رضی الله عنه قال : كان رسول الله ﷺ اذا ارتحل قبل ان تزیغ الشمس أخر الظهر الی وقت العصر ثم نزل فجمع بینهما، فان زاغت الشمس قبل ان یرتحل صلی الظهر ثم ركب.

(رواه البخاری : ۱٤۹/۱، ومسلم : ۲٤٥/۱).

وفي روایه لمسلم : یؤ خر الظهر الی اول وقت العصر فجمع بینهما ویؤخر المغرب حتی یجمع بینها وبین العشاء حین یغیب الشفق.

ترجمه : دانسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به چه کله دنمر دزوال نه مخکښې په سفر باندے

روانېدلو نو دما سپخېن مونځ به ئے دمازېگر وخت ته روسته کړو بيا به راکوز شو اوددواړو وختونو مونځونه به ئے په يوځائے اوکړل. اوکه چرے دنمر دزوال نه روستو به په سفر باندے روانېدلو نو دماسپخېن مونځ به ئے اوکړو او بيا به سور شو. دصحيح مسلم په بل روايت کښے داسے دی چه: دما سپخېن مونځ به ئے دمازېگر اولنی وخت ته روستو کړو بيا به ئے دواړه وخته مونځونه يوځائے اوکړل، او دما ښام مونځ به ئے روستوکړو تردے چه کله به شفق (سُرخی) غائب شو نو دما ښام او ماسخوتن مونځ به ئے يو ځائے اوکړو.

دا حديث صريح او واضح دليل دے په دے خبره چه حقيقی جمع بين الصلاتين جائز ده، په دے کښے د (الی وقت العصر) اود (حتی غاب الشفق) الفاظو ته دانصاف په نظر سره کتل پکار دی. يعنی دماسپخېن وخت به اووتلو اود ما زېگر وخت به داخل شو نو دواړه مونځونه به ئے اوکړل. دغه شان دماښام وخت به دشفق په پرېوتلو سره خارج شو او دماسخوتن وخت کښے به ئے دواړه مونځونه اوکړل.

۲ – دويم دليل: عن معاذ بن جبل رضی الله عنه قال: جمع رسول الله ﷺ في غزوه تبوك بين الظهر والعصر، وبين المغرب والعشاء قال: فقلت: ما حمله على ذلك ؟ قال: فقال: اراد ان لايحرج امته.

(اخرجه مسلم: ۱/۱٤۹).

ترجمه: دمعاذ بن جبلؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ په غزوه تبوك کښے دماسپخېن او مازېگر دواړه مونځونه په يوځائے اوکړل، او دماښام او ماسخوتن دواړه مونځونه ئے په يو ځائے اوکړل. دجناب معاذ رضی الله عنه شاگرد وائی: ما دمعاذ نه تپوس اوکړو چه دا مونځونه ئے ولے يو ځائے اوکړل؟ نومعاذ رضی الله عنه راته اوفرمائيل: رسول الله ﷺ دا غوښتل چه امت ئے په تکليف کښے اونه غورزيږی.

داحديث هم دليل دے چه په سفر کښے دوه مونځونه په يو وخت کښے ادا کول جائز دی.

۳ – دريم دليل: عن ابن عمر رضی الله عنهما انه استغيث على بعض اهله فجد به السير واخر المغرب حتى غاب الشفق، ثم نزل فجمع بينهما، ثم اخبرهم ان رسول الله ﷺ كان يفعل ذلك اذا جد به السير.

(اخرجه الترمذی: ۱/۱۲٤، واحمد: ۲/٤، ۵۱، ۵٤، ۸۰، ۱۰٦، ۱٤۸، ۱۵۰– وسنده صحيح).

ترجمه: ابن عمرؓ ته دځينے خپل کور والو دمرگ خبر ملاؤ شو نو هغه مزل تيز کړو، اود ماښام

مونځ ئے روسته کړو تردے چه شفق غائب شو بیا راکوز شو او د ماښام او ماسخوتن دواړه مونځونه ئے (دماسخوتن په وخت کښې) یو ځائے اوکړل. بیا ابن عمرؓ خپلو ملګرو ته خبر ورکړو چه رسول الله ﷺ به چه کله تیز مزل کولو نو دا شان مونځ به ئے کولو.

داحدیث هم واضح دلیل دے په دے چه په سفر کښې دوه مونځونه په یو وخت کښې کول جائز او مشروع دی، لکه دلته چه دماښام مونځ دماسخوتن په وخت کښې شویدے ځکه چه حدیث کښې صراحه ذکر شو چه (حتی غاب الشفق) یعنی چه کله شفق غائب شو نو دماښام اوماسخوتن مونځ ئے اوکړو. او شفق چه کله غائب شی نودماښام وخت ختم شی.

الغرض: دے باره کښې ډیر زیات احادیث راغلی دی چه په سفر کښې دوه مونځونه جمع کول جائز دی، لکه ماسپخین مونځ ما زیګر مونځ سره یو ځائے کول - او ددے برعکس - او دماښام مونځ دما سخوتن مونځ سره یو ځائے کول - اوددے برعکس - دا تول جائز او مشروع دی.

اوخوك چه وائی چه دا جمع صوری ده حقیقی نه ده، نو ددوئ قول خطاء دے،ځکه په احادیثو کښې په صراحت سره ذکر دی چه دماښام مونځ ئے دماسخوتن په وخت کښې اوکړو، او دماسپخین مونځ ئے دمازیګر په وخت کښې اوکړو. اودیته حقیقی جمع وائی، صوری ورته نه وائی.

لکه علامه عبد الحی لکهنویؒ هم په التعلیق الممجد کښې فرمائی:

لکن لا ادری ما ذا یفعل بالروایات التی وردت صریحا ًبان الجمع کان بعد ذهاب الوقت، وهی مرویه فی صحیح البخاری وسنن ابی داود وصحیح مسلم وغیرها من الکتب المعتمده علی ما لا یخفی علی من نظر فیها. فان حمل علی ان الرواه لم یحصل التمیز لهم فظنوا قرب خروج الوقت خروج الوقت، فهذا امر بعید عن الصحابه والتابعین علی ذلك. وان اختیر ترك تلك الروایات بابداء الخلل فی الاسناد فهو ابعد وابعد، مع اخراج الا ئمه لها وشهادتهم بتصحیحها، وان عورض بالاحادیث التی صرحت بان الجمع کان بالتاخیر الی آخر الوقت والتقدیم فی اول الوقت فهو اعجب: فان الجمع بینهما بحملها علی اختلاف الاحوال ممکن بل هو الظاهر. وبالجمله: فالامر مشکل لعل الله یحدث بعد ذلك امراً.

(التعلیق الممجد علی موطا امام محمدص: ۱۳۱).

ترجمه: (بعض احناف دجمع بین الصلاتین دا مطلب بیانوی چه دا جمع صوری ده) لیکن زه نه پوهیږم چه دهغو روایتونو سره به څه کوی چه هغے کښې په ښکاره طور سره راغلی دی چه رسول

الله ﷺ دوه مونځونه یوځائے اوکړل روسته ددے نه چه دیو وخت مونځ وخت به ختم شو. اودا روایتونه په صحیح بخاری، سنن ابی داود، صحیح مسلم او نورو معتمدو کتابونوکښے راغلی دی.
اوس که چرے ددے روایتونو نه دا مراد کړے شی چه دخروج الوقت نه مراد قرب خروج الوقت دے خو هسے راوی دقرب خروج الوقت نه خروج الوقت اخستے دے نو دا خبره کول هم دصحابوؓ اود تابعینوؒ دشان نه لرے ده، اوکه چرے دا روایتونه په دے وجه پریخودلے شی چه ددے روایتونو په سند کښے ګډوډی او اضطراب دے نو داخبره کول ددغے مخکښنۍ خبرے نه هم ډیره زیاته لرے ده. ځکه دا روایتونه داحادیثو امامانو راوړی او هغوی صحیح کړی دی، اوکه چرے دا احادیث دهغه احادیثو سره تکراؤ کړے شی چه هغے کښے دجمع صوری کیفیت ذکردے نو دا دهغے نه هم زیاته عجیبه خبره ده، ځکه دلته که ددے احادیثو تطبیق په دے طریقه سره اوشی چه دا احادیث په اختلاف الاحوال باندے حمل شی یعنی کله رسول الله ﷺ جمع صوری کړے اوکله ئے جمع حقیقی کړے، اودا تطبیق ممکن څه چه ښکاره دے. الغرض : خبره مشکله ده شاید چه الله تعالی ددے نه پس ددے څه حل ر اؤباسی !

دغه شان موصوف په التعلیق الممجد کښے زیاتوی :

ومن طریق عبد الله بن نافع عن ابن عمر : بعد ان یغیب الشفق، ولعبد الرزاق عن معمر عن ایوب عن موسی بن عقبه عن نافع : فاخر المغرب بعد ذهاب الشفق حتی ذهب هوی من اللیل، وللبخاری فی الجهاد من طریق اسلم عنه حتی اذا کان بعد غروب الشفق نزل فصلی المغرب والعشاء. ولابی داود عن عبد الله بن دینار عنه : فصار حتی غاب الشفق وتصوبت النجوم.

ترجمه : دعبد الله عن نافع عن ابن عمرؓ په سند کښے دی : پس دشفق پریوتلو نه. اود عبد الرزاق په سند کښے دی : عن معمر عن ایوب عن موسی بن عقبه عن نافع : چه ماښام مونځ ئے تر شفق پریوتلو پورے روسته کړو تردے چه دشپے څه حصه هم تیره شوه. اود بخاری دکتاب الجهاد په روایت کښے اسلم دنافع نه نقل کوی چه کله شفق پریوتلو نو دهغے نه روستو کوز شو او دما ښام اوماسخوتن مونځونه ئے اوکړل. اود ابو داود په روایت کښے عبد الله بن دینار دنافع نه نقل کوی چه : تردے چه سُرخی غائب شوه او ستوری ښه ښکاره شو.

(التعلیق الممجدعلی موطا محمد ص : ۱۳۱).

دا تول روایتونه په دے خبره دلیل دے چه دماښام مونځ په داسے وخت کښے شویدے چه دماسخوتن

وخت داخل شوے وو. لکه په دے حدیث کښے د (حتی ذهب هوی من اللیل) لفظ اود (حتی غاب الشفق وتصویت النجوم) الفاظ صریح دی په دے خبره کښے چه دماښام وخت خارج شوے وو.

دا ټول روایتونه په هغه ټولو تاویلونو باندے رد کوی چه بعض خلق (احناف وغیره) وائی چه داجمع حقیقی نه ده بلکه جمع صوری ده. دغه شان دعلامه عبد الحی دمذکوره عبارتونو نه هم نه دهغه چا خطائی معلومه شوه چه دا روایتونه مضطرب ګڼړی. او دابن عمرؓ دفعل نه معلومه شوه چه دا روایتونه منسوخ هم نه دی.

جمع بین الصلاتین باره کښے دعلماؤ اقوال :

۱ – دامام مالكؒ، امام احمدؒ، امام شافعیؒ او نورو جمهورو علماؤ مذهب دادے چه په سفر کښے دوه مونځونه (ماسپخین مازیګر، او ماښام اوماسخوتن) یو ځائے کول او په یو وخت کښے جمع کول جائز دی.

اوګوره : الفقه الاسلامی : ۳٤۹/۱، الفقه علی المذاهب الاربعه : ٤۸۳/۱، المرعاه : ٤۹٦/٤).

۲ – اود احنافو رائے داده چه په سفر کښے دوه مونځونه یو ځائے کول په جمع حقیقی سره نه دی جائز، لیکن په احنافو کښے هم **محققین علماء** د جمع حقیقي د جواز قائل دی ـ لکه مولانا عبد الحی لکهنویؒ دحق نعره وهی اولیکی :

وفیه خلاف الشافعی فانه یجوز الجمع في السفر بین الظهر والعصر تقدیما وتاخیرا، وبین العشاء والمغرب کذلك : لورود اخبار صحیحه داله علی ان النبی ﷺ فعله فی السفر غیر مره، اخرجها الشیخان واصحاب السنن وغیرهم کما بسطه الحافظ ابن حجر فی تلخیص الحبیر : وهذا هو الحق !

ترجمه : اوپه دے مسئله کښے دامام شافعیؒ خلاف دے ځکه دهغه په نزد په سفر کښے دوه مونځونه په یوځائے کول جائز دی : دماسپخین اومازیګر مونځونه دماسپخین په وخت کښے کول یا دا دواړه مونځونه دمازیګر په وخت کښے کول، دغه شان دماښام اوماسخوتن مونځ دماسخوتن په وخت کښے کول، یا دا دواړه مونځونه دماښام په وخت کښے کول جائز دی. (اول ته جمع تقدیم وائی او دویم ته جمع تاخیر) ځکه دے کښے صریح احادیث راغلی دی کوم چه بخاری، مسلم، او اصحاب السنن (ابوداود، ترمذی، نسائی او ابن ماجه) راوړیدی چه نبی کریم ﷺ بے شماره کرته دوه مونځونه په سفر کښے یو ځائے په یو وخت کښے کړیدی، لکه دا احادیث حافظ ابن حجرؒ په تلخیص الحبیر کښے ښه

فراخه ذکرکړیدی، اوهمدا دامام شافعی ؒ مذهب حق دے !!
(اوګوره : عمده الرعایه : ۱۵۱/۱) حاشیه شرح الوقایه.
۲ – مولوی محمد احسن صدیقی نانوتوی حنفی په حاشیه دکنز کښے لیکی :
ولا باس بتقلید الشافعی للمسافر لاسیما لِلحاج بشرط ان یلتزم جمیع ما یوجبه الامام آه.
ترجمه : دحنفی مسافر دپاره دجمع بین الصلاتین باره کښے دامام شافعی ؒ دمذهب په اختیارولو کښے څه باك نشته دے خاصکر دحاجی دپاره په دے شرط چه دهغه خبرو خیال به ساتی کوم چه امام شافعی ؒ ضرور ګڼړی.
(حاشیه کنز الدقائق : ۱۸/۱، دمولوی محمد احسن صدیقی حنفی).
۳ – در مختار (۲۵٦/۱) کښے دی :
ولا باس بالتقلید عند الضروره بشرط ان یلتزم جمیع ما یوجبه ذلك الامام.
ترجمه : دضرورت په وخت دبل امام په تقلید کښے څه باك نشته په دے شرط چه دهغه خبرو خیال به ساتی کوم چه دغه امام ضروری ګڼړی.
ابن عابدین شامی ددے په شرح کښے لیکی :
لکن الظاهر انه اراد بالضروره ما فیه نوع مشقه.
(خو ښکاره خبره داده چه دماتن په نزد دضرورت نه مراد هغه وخت دے چه په هغے کښے څه نا څه مشقت وی). رد المحتار : ۲۵٦/۱.
مطلب دا چه دضرورت نه مراد اضطرار (مجبورتیا) نه ده ځکه په حالت داضطرار کښے خو هر څه جائز کیږی، بلکه دلته دضرورت نه مراد دادے چه انسان ته څه نا څه تکلیف وی.
٤ – شاه ولی الله محدث دهلوی ؒ دجمهور علماؤ قول غوره کوی لیکی :
من رخص السفر الجمع بین الظهر والعصر والمغرب والعشاء.
(دسفر درخصتونو نه یو رخصت دماسپخین او مازیګر مونځونه او دما ښام اوماسخوتن مونځ ترمینځه یو ځائے راوستل دی).
اوګوره : حجه الله البالغه : ۱۸/۲، المرعاه : ۳۹٦/٤).
۵ – دغه شان علامه ابن قدامهؒ په المغنی (۱۱۳/۲، ۱۱۵) کښے لیکی :
جمع بین الصلاتین په یو وخت کښے کول مثلاً دمازیګر مونځ دماسپخین په وخت کښے اوشی یا

ددې برعکس، دغه شان دماښام مونځ دماسخوتن په وخت کښې اوشي. يا ددې برعکس- دا ټول جائز دي.

بيا ليکي:

وهو قول اكثر اهل العلم، وممن روي عنه ذلك: سعيد بن زيد، وسعد،واسامه، ومعاذ بن جبل، وابو موسي،وابن عباس، وابن عمر. وبه قال: طاوس ، ومجاهد، وعكرمه، ومالك، والثوري، والشافعي، واسحق، وابوثور، وابن المنذر.

ترجمه: په سفر کښې دوه مونځونه په يو وخت کښې کول داکثرو علماؤ مذهب دے، لکه سعيد بن زيد، سعد، اسامه، معاذ بن جبل، ابو موسي، ابن عباس او ابن عمر - رضي الله تعالى عنهم - اوهمدا قول د طاوس، مجاهد، عکرمه، مالك، ثوري، شافعي، اسحق، ابو ثوراو ابن المنذر - رحمهم الله - هم دے.

ددے دپاره چه فتوي اوګډه نشي دغه علماؤ صرف نومونه او مختصره حواله ذکر کوو، کوم چه په سفر کښې دوه مونځونو په يو وخت کښې دجمع کولو قائل وي.

٦ - شيخ الباني په سلسله الاحاديث الصحيحه: ٢٦٢/١ - ٢٦٧، کښې.

٧ - قاضي شوكاني په نيل الاوطار: ٢٦٠/٣ - ٢٦٣، السيل الجرار: ١٩٣/١، کښې.

٨ - علامه ابوالحسن عبيد الله مباركفوري په مرعاه المفاتيح: ٣٩٦/٤ - ٤٠٤).

٩ - امام نووي په شرح مسلم: ٢٤٥/١)، المجموع شرح المهذب: ٣٧٠/٤ - ٣٧٣.

١٠ - علامه صديق حسن خان صاحبؒ په الروضه النديه: ١٥٢/١، کښې.

١١ - شيخ محمد بن محمد الشربيني په مغني المحتاج: ٤٦٤/١، کښې.

١٢ - علامه ابو البركات احمدصاحبؒ په فتاوي بركاتيه ص :٥٣، کښې.

١٣ - علامه صالح الفوزان صاحبؒ په الملخص الفقهي: ١٦٤/١، کښې.

١٤ - شيخ عبد الرحمن بن ناصر السعدي په المختارات الجليه من المسائل الفقهيه ص: ٧٣، ٧٤، الفتاوي السعديه ص: ١٨٩، کښې.

١٥ - فتاوي اللجنه الدائمه للبحوث العلميه والافتاء: ٩٨/٨.

١٦ - شيخ ابن باز صاحبؒ په فتاوي هيئه كبار العلماء: ٣٧٣/١، ٣١٥، کښې.

١٧ - علامه سيد سابق صاحبؒ په فقه السنه: ٢٥٣/١، کښې.

۱۸ – امام زید الدین ابي الفضل عبد الرحیم العراقی ؒ په طرح التثریب في شرح التقریب : ۱۲۱/۳ – ۱۳۰، کښی.

۱۹ – شیخ ابراهیم بن محمد بن سالم ضویان په منار السبیل : ۱۳٦/۱، کښی.

۲۰ – دکتور وهبه الزحیلیؒ په الفقه الاسلامی : ۳۵۱/۲، کښی.

۲۱ – علامه عبد الرحمن بن محمد بن قاسم النجدی صاحبؒ په الدرر السنیه في الاجوبه النجدیه : ٤۳۲/٤، کښی.

۲۲ – شیخ احمد بن عبد الرحمن البناءؒ په بلوغ الامانی من اسرار الفتح الربانی : ۱۱۸/۵، ۱۲۷، ۱۲۸، کښی.

۲۳ – حافظ ابن حجرعسقلانیؒ په فتح الباری : ٤٦۳/۲، تلخیص الحبیر : ٤۸/۲ . کښی.

۲٤ – علامه شیخ مبارکفوری صاحبؒ په تحفه الاحوذی شرح ترمذی : ۳۸۷/۱، کښی.

۲۵ – علامه ابو طیب شمس الحق عظیم آبادیؒ په عون المعبود شرح سنن ابي داود : ۵۲/٤، کښی.

۲٦ – شیخ عبد الله بن عبد الرحمن البسام صاحبؒ په : توضیح الاحکام من بلوغ المرام : ۳۰۸/۲، تیسیر العلام شرح عمده الاحکام : ۲۹٦/۱ – ۳۰۱، کښی.

۲۷ – امام ابن عبد البرّ په التمهید کښی، انظر فتح المالك بتبویب التمهید لابن عبد البر علی موطا امام مالك :۱۰۰/۳، ۱۱٦ .

۲۸ – امام حافظ شمس الدین محمد بن احمد بن عبد الهادیؒ په تنقیح تحقیق احادیث التعلیق : ۵۷/۲، کښی.

۲۹ – امام بیهقیؒ په مختصر الخلافیات : ۱۷۵/۲، کښی.

۳۰ – شیخ ابو عمر عبد العزیز نورستانی صاحب په : الجمع بین الصلاتین رخصه لیس بحتم : رساله مستقله کښی.

۳۱ – فتاوی الدین الخالص : ۹۸/۳، ۱۱٦/٦) کښی.

کومه ښځه چه واده شي

نو دا چه دپلار کور ته راشي څنګه مونځ به کوی ؟

سوال: کله چه ښځه خپل کلی نه واده شی مثلاً پېښور نه سوات ته، اوس چه کله دپلار کورته راشی دابه دسفر مونځ کوی اوکه پوره مونځ به کوی؟

جواب: کله چه یوه ښځه دخاوند دکور نه دپلار کورته لاړه شی اود پلار کورئے دومره لرے وی چه په هغے باندے دسفر اطلاق کیږی، نو دا ښځه به سفرانه مونځ کوی. په دے شرط چه دڅلورو ورځو نه زیات وخت دپلار کور کښے نه تیروی.

په دے مسئله باندے دلیل دادے چه اصل داده چه هر مسافر به دسفر مونځ کوی، اوکله چه یوه ښځه دپلار کورنه واده شی نو ددے اصلی کور دخاوند کور شی، دپلار کورته چه کله راشی نو دا ښځه ځان میلمنه ګنړی اود سفر احساس کوی. اودواده نه روسته دخپل پلار کور ته خپل کور نه وائی بلکه دخاوند کورته خپل کور وائی، اوعام قانون دادے چه:

الوطن الاصلی یبطل بمثله.

یعنی: وطن اصلی په اصلی وطن سره باطلیږی.

رسول الله ﷺ چه کله دمدینے طیبے نه مکے مکرمے ته راغے نو یو صحابی ته ئے دا نه دی وئیلی چه دچا پلار په مکه کښے هغوی دے دسفر مونځ – قصر – نه کوی. اودا ښکاره خبره ده چه ډیرو مسلمانانو نارینه او زنانه ؤ پلاران په مکه کښے اوسیدل.

فتاوی حقانیه: ۳۵۲/۳، کښے دی:

ترجمه: دمور پلار کور اګرکه ددے ښځے دپاره وطن اصلی وو لیکن کله چه دواده نه روسته دخاوند سره مستقل اوسیدل اختیار کړی نوددے قاعدے په بناء چه وطن اصلی په وطن اصلی سره باطلیږی اوس دپلار کور وطن اصلی نه پاتے کیږی. نو ځکه دپلار کور کښے داقامت نیت نه کولو په صورت کښے به دقصر مونځ کوی.

دارنګ اوګوره: کشاف القناع: ۵۰۹/۱، مغنی المحتاج: ۲٦٤/۱، رد المحتار: ۵۳۲/۱. اود تفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص (۱۰۹/٦) کتل پکار دی.

۱۲/ ۱/۱٤۲۵هـ.

جمع بین الصلاتین رخصت دے

سوال: په سفر کښے جمع بین الصلاتین رخصت دے که سنت؟

جواب: جمع بین الصلاتین په سفر کښې رخصت دے، سنت دادے چه هر مونځ په خپل وخت کښې اوشی. لکه په حدیث کښې دی:

عن ابن مسعود قال: سالت النبی ﷺ ای الاعمال احب الی الله؟ قال: الصلاه علی وقتها. الحدیث. متفق علیه، انظر المشکاه: ۵۸/۱.

ترجمه: دابن مسعودؓ نه روایت دے دا فرمائی: ما دنبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو: په تولو اعمالو کښې الله تعالی کوم یو عمل ډیر خوښ دے؟ ارشاد ئے اوفرمایه: په خپل باندے مونځ کول.

دا حدیث عام دے که په سفر کښې وی اوکه په حضر کښې. دغه شان رسول الله ﷺ نه همیشه جمع بین الصلاتین نه دی نقل شوی. که چرے جمع بین الصلاتین په خپل خپل وخت کښې دمونځ کولو نه غوره وے نو رسول الله ﷺ به همیشه والے وریاندے کړے وو.

(المغنی: ۱۱۲/۲).

بلکه رسول الله ﷺ په منی کښې درے ورځے دسفر په حالت کښې وو هرمونځ ئے په خپل وخت کښې کولو.

لیکن ددے دا مطلب هم نه دے چه په سفر کښې جمع بین الصلاتین نشته دے، ځکه چه مخکښے مونږ تفصیلاً ذکر کړیدی چه رسول الله ﷺ اوصحابه کرامؓ به جمع بین الصلاتین هم کول. دغه شان دا مطلب هم نه دے چه په سفر کښې جمع بین الصلاتین نه دی کول پکار، بلکه مقصد دادے چه سفر کښې جمع بین الصلاتین په خپل خپل وخت کښې دمونځ کولو نه غوره نه دی ګڼړل پکار، کنه نو په دے رخصت باندے خوعمل کول پکار دی. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

ان الله یحب ان یؤتی رخصه کما یکره ان تؤتی معصیته.

وفي روایه: کما یحب ان یؤتی عزائمه.

ترجمه: بیشکه الله تعالی ته دا خبره خوښه ده چه دهغه په رخصتونو باندے دے عمل اوشی لکه څنګه چه هغه دا نه خوښوی چه دهغه نافرمانۍ ته دے راتګ اوکړے شی. اوپه بل روایت کښې دی: الله تعالی په خپلو ورکړو رخصتونو باندے عمل کول داسے خوښوی لکه څنګه چه په عزیمتونو (اصلی اووجوبی احکامو) باندے عمل کول خوښوی.

(اخرجه احمد: ۱۰۸/۲، وعبد الرزاق: ۲۹۱/۱۱، رقم: ۲۰۵۶۹، والطبرانی: ۳۲۳/۱۱، رقم: ۱۱۸۸۰، وابن حبان: ۶۹/۲، ۴۵۱/۶، ۳۳۳/۸، رقم: ۳۵۴، ۲۷۴۲، ۲۵۶۸، وابو نعیم فی الحلیه:

۱۰۱/۲، انظر فتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلمیه والافتاء : ۱٤۳/۸).

دغه شان په بل حدیث شریف کښې دی :

عن ابن عمر قال : سمعت رسول الله ﷺ یقول : من لم یقبل رخصه الله کان علیه من الاثم مثل جبال عرفه. ----- (رواه احمد : ۷۱/۲، وسنده صحیح کما فی المجمع : ۱٦۳/۳، انظر فتاوی الدین الخالص : ۱۰۷/۳).

ترجمه : دابن عمرؓ نه روایت دے دا فرمائی : ما درسول الله ﷺ نه دا ارشاد واورېدلو چه : څوك دالله تعالی رخصتونه نه قبلوی نو په ده باندے به دعرفات دغرونو په شان ګناه وی.

خلاصه : داچه جمع بین الصلاتین په سفر کښې کول رخصت دی اودا مطلب ئے نه دے چه په دے باندے عمل کول نه دی پکار، یا چه څوك ئے کوی نو هغه ښه کار نه کوی، بلکه په احادیثو کښې ذکر دی چه الله تعالی ته په رخصتونو باندے عمل کول هم خوښ دی. لکه مخکښې ذکر شو.

اوګوره : فتاوی الدین الخالص : ۱۰٦/۳، فتاوی اللجنه الدائمه : ۱٤۳، المرعاه : ۳۹٦/٤، الدرر السنیه : ٤/، المغنی : ۱۱۲/۲، الملخص الفقهی : ۱٦٤/۱، تحفه الاحوذی : ۳۸۸/۱، المجموع : ۳۷۱/٤.

مقیم به په مسافر امام پسے څنګه مونځ کوی ؟

سوال : (۱) کله چه مسافر په مقیم امام پسے مونځ کوی نو آیا مسافر به پوره مونځ کوی اوکه قصر به کوی ؟ زمونږ ځائے ته یو مولانا صاحب راغلے وو نو هغه به په مقیم امام پسے هم دوه رکعته قصر مونځ کولو.

(۲) کله چه مسافر راشی او مقیم امام دوه رکعته مونځ کړے وی اودوه رکعته ورته پاتے وی نو په دے دوه رکعته مونځ کښې مسافر هم ورسره شریك شو، په دے صورت کښې به مسافر دوه رکعته (قصر) مونځ کوی اوکه څلور رکعته (پوره مونځ) به کوی. ؟ دا مسئله دقرآن اوسنت په رڼا کښې اولیکئ ! وجزاکم الله خیراً !

جواب : په دے صحیح قول دادے چه کله مسافر په مقیم امام پسے مونځ کوی نو مسافر به پوره مونځ کوی. اوهمدا دجمهورو علماؤ مذهب هم دے. په دے کښې صرف امام ابن حزم خلاف کړیدے ځکه هغه ته په دے باره کښې احادیث ضعیف ښکاره شوی دی، لیکن مونږ ته الحمد لله دے باره

کښې صحیح احادیث معلوم دی، چه کله مسافر په مقیم امام پسې مونځ کوی، نو مسافر به هم پوره مونځ کوی.

دغه شان کله چه مسافر دوه رکعته مونځ دمقیم امام سره اونیسی، نو بیا به هم پوره مونځ کوی.

په دے خبره باندے دلائل دادی:

۱- **اول دلیل**: عن موسی بن سلمه قال: کنا مع ابن عباس بمکه فقلت: انا اذا کنا معکم صلینا اربعاً واذا رجعنا صلینا رکعتین، فقال: تلك سنه ابي القاسم ﷺ.

(رواه احمد: ۲۱٦/۱، ونحوه فی مسلم: ۲٤۱/۱).

ترجمه: دموسی بن سلمهؒ نه روایت دے دا فرمائی: مونږ دابن عباسؓ سره په مکه کښې وو، نو ما ابن عباسؓ ته عرض اوکړو: چه مونږ کله تاسو سره مونځ کوو نو څلور رکعته (پوره مونځ) کوو، اوکله چه ستاسو نه واپس لاړشو نو بیا دوه رکعته (قصر) مونځ کوو، ددے څه وجه ده؟ جناب ابن عباسؓ ورته اوفرمائیل: همدا درسول الله ﷺ سنت دی.

امام نوویؒ په صحیح مسلم کښې په دے باندے داسے باب تړلے:

اذا صلی المسافر مع الامام المقیم فلیصل اربعاً.

(کله چه مسافر مقتدی دمقیم امام پسے مونځ کوی نو پوره مونځ به کوی).

۲- **دویم دلیل**: صحیح مسلم (۲٤۳/۱) کښې دی:

فکان ابن عمر اذا صلی مع الامام صلی اربعاً، واذا صلاها وحده صلی رکعتین.

ترجمه: جناب ابن عمرؓ به چه کله دامام سره مونځ کولو نو څلور رکعته به ئے کول، اوکه ځان به ئے مونځ کولو نو دوه رکعته به ئے کول.

۳- **دریم دلیل**: کله چه خلیفه راشد جناب عثمان رضی الله تعالی عنه په منی کښې څلور رکعته مونځ کولو نو تولو صحابه کرامؓ به په هغه پسے څلور رکعته مونځ کولو. نو دا اجماع شوه. ځکه که چرے مسافر دپاره په مقیم پسے قصر جائز وے نو بیا ولے صحابه کرامؓ قصر نه کولو!

٤- **څلورم دلیل**: امام بیهقیؒ په خپل صحیح سند سره دابو مجلزؒ نه روایت کوی دا فرمائی چه:

قلت لابن عمر: المسافر یدرك رکعتین من صلاه القوم - یعنی المقیمین - اتجزیه الرکعتان او یصلی بصلاتهم؟ قال: فضحك وقال: یصلی بصلاتهم.

(رواه البیهقی :۱۵۷/۳، کما فی الارواء : ۲۲/۳ ، و سنده صحیح).

ترجمه : ابومجلز فرمائی : ما دابن عمرؓ نه تپوس اوکړو : کله چه مسافر دمقیم امام سره دوه رکعته لاندے کړی نو آیا دده دپاره دغه دوه رکعته کافی شو ؟ اوکه نه دے به ددوئ په شان پوره مونځ کوی ؟ نو ابن عمرؓ اوخاندل او وے فرمائیل : مسافر به هم (مقیم امام پسے) پوره مونځ کوی

دا حدیث په دے مسئله کښے (نص) دے چه کله مسافر دمقیم امام سره دوه رکعته مونځ اونیسی نو باقی دوه رکعته به هم کوی. اودا دابن عباسؓ او ډیرو تابعینوؒ، امام احمدؒ، شافعیؒ، ابو حنیفهؒ، ثوریؒ اوزاعیؒ وغیرهم رائے هم ده.

دتفصیل دپاره : فتاوی الدین الخالص (۱۰۸/۶). دارنګ المغنی لابن قدامه (۱۲۹/۲) التمهید لابن عبد البر (۱۸۶/۱۱) اوګوره. فقط. والله الموفق.

د سفر حد زمانی

سوال : دقصر الصلاه موده څومره ده ؟

یعنے : یو کس چه کله یو ځائے ته په سفر لاړ شی نو هلته دڅومره ورځو په تیرولو سره دمسافر حکم، او په څومره ورځو تیرولو سره د مقیم حکم لری ؟ ددے مسئلے پوره تحقیق او وضاحت مونږ ه دقرآن او سنت په رڼړا کښے وکړئ.

وجزاکم الله خیراً.

جواب : الحمد لله رب العالمین، والصلاه والسلام علی رسوله الکریم وعلی آله واصحابه واتباعه اجمعین.

اما بعد : دامسئله دعلمائے کرامو ترمینځه ډیره اختلافي مسئله ده، دے کښے دعلماؤ لس (۱۰) اقوال دی.

ددے مسئلے پوره تحقیق په فتاوی الدین الخالص (٦٤/٦) کښے لیکلے شویدے چه دهغے په کتلو سره دانسان زړه مطئمن کیږی. نوددے مسئلے تفصیل اوتحقیق هلته کتل پکاردی.

دلته مونږ صرف دوه قوله ذکر کوو، ځکه دے کښے نور اقوالو باندے چه پنځلس یا نو لس (۱۹) ورځے اندازه ده دلائل نشته، او هغه ډیر ضعیف دی.

۱ – یو قول دادے : چه کله مسافر په یو ځائے کښے په خپله خوښه دڅلورو ورځو تیرولو اراده

وکړي، نو داکس به پوره مونځ کوي.

۲ – **دوېم قول دادے** : چه کله ېوکس دکور نه مسافر شي، نو داکس به دسفر مونځ کوي، تردے چه بېرته کورته راواپس شي، اګرکه دده سفر ېوه مپاشت، ېو کال، لس او شل کاله ولے نه وي !

په دے دوه قولونو کښے دا دوېم قول هم ضعېف دے، اوددے قول والا چه کوم دلا ئل ذکر کوي هغه دلا ئل ددوي په دعوی باندے دلېل نشي کېدے.

په دے کښے اول **قول راجح** او غوره دے. او هغه دا چه دسفر حدِ زماني (٤) ورځے دے.

اودا مذهب دامام مالك، امام شافعي، امام احمد، امام ابو ثور او عثمان رضي الله عنهم دے. دغه شان دهغه علماؤ هم دا مذهب دے چه دهغوي تذکره به روسته وکړے شي.

اوګوره : سنن الترمذي مع التحفه (۳۸٥/۱) المغني لابن قدامه (۱۳۳/۱) اضواء البېان للشنقېطي (۲۷٤/۲) عون المعبودللعظېم آبادي (٦٩/٤).

ددوي دپاره دلا ئل دادي :

۱ – ددوي دپاره **اول دلېل** دادے چه داکس (مسافر) چه کوم ځائے ته ورسېدلو، نو هغه ځائے دده دپاره دار الاقامه دے – اوڅوك چه دار الاقامت کښے وسېږي هغه به پوره مونځ کوي.

۲ – **دوېم دلېل** : دادے چه رسول الله ﷺ نه دڅلورو ورځونه زېات دا نه دي نقل چه هغه په خپل اختېار سره دڅلورو ورځونه زېات په ېو ځائے کښے پاتے شوے وي او هغه دسفر مونځ کړے وي.

۳ – **درېم دلېل** : دادے چه الله رب العزت قرآن کرېم کښے دقصر الصلاه اجازت هغه چاته ورکړېدے چه هغه داسے مسافر وي چه الله تعالي په خپله دهغوي حال بېان کړېدے، الله تعالی فرمائي : ﴿ واذا ضربتم في الارض فلېس علېکم جناح ان تقصروا من الصلاه، الآېه ﴾ ېعنے کله چه تاسو په سفر روان يئ نو نشته په تاسو ګناه په دے کښے چه کموئ تاسو دمانځه نه.

ددے آېت دمفهوم نه دا معلومېږي چه کله په سفر روان نه ئے، او چرته پړاؤ واچوئ اودېره شئ نو قصرالصلاه مه کوئ.

ځکه روسته د : ﴿ فاذا اطماننتم ﴾ قېد ورسره راغلے دے.

اوګوره المحلی للامام ابن حزم رحمه الله (۲۱۹/۳) ونېل الاوطار والسېل الجرار.

اوس چه څوك هغه مسافر ته چه هغه ېو ځائے اوسېږي شپے او ورځے بلکے مپاشتے او کلونه تېروي دا اجازه ورکوي چه ته قصر الصلاه کوه، نودده به دلېل غوښتل کېږي، چه داکس به ولے قصر

الصلاه کوي ؟

سوال : که دوي وائي چه داکس به ځکه قصر الصلاه کوي چه دا مسافر دے اود مسافر دپاره الله تعالی دقصر الصلاه اجازه ورکړېده .

جواب دادے چه : داخبره صحيح ده چه الله تعالی مسافر ته دقصر الصلاه اجازه ورکړېده، لېکن داخبره زده کول ضروري دي چه کوم قسم مسافر ته الله تعالی دقصر الصلاه اجازه ورکړېده ؟

نو الله تعالی خو هغه مسافر ته دقصر الصلاه اجازه ورکړېده چه هغه (ضرب في الارض) کوي، يعنے : په سفر روان وي او متصف بالسفر وي . او تاسو هر مسافر ته اجازه دقصر الصلاه ورکوئ.

هاؤ ! مونږ دا څلور ورځے ځکه خاص کړے چه رسول الله ﷺ په خپل فعل سره داڅلور ورځے خاص کړېدي . اګرکه ددے آيت نه خو صرف دا معلومه شوه چه هغه مسافر به دسفر مونځ کوي چه په سفر روان وي . اوس که څوك يوه مياشت يا ددے نه زيات وخت هم دقصر الصلاه اجازه ورکوي، نو هغه به يا قول درسول الله ﷺ په دليل کښے پيش کوي چه رسول الله ﷺ وئيلي دي چه مسافر يوه مياشت يا ددے نه کم و زيات هم قصر الصلاه کولے شي .

که دوي سره قول درسول الله ﷺ نه وي، نو بيا به فعل درسول الله ﷺ په دليل کښے پيش کوي، چه رسول الله ﷺ يوه مياشت يا ددے نه کم وزيات وخت قصر الصلاه کړېدے .

سوال : که څوك مونږ ته په دليل کښے دا وائي چه رسول الله ﷺ خو مثلاً په يو ځائے د (۲۰) يا (٤) ورځو نه زياتے نه دي تېرے کړے . که چرے ددے نه زياتے ورځے تېرے کړے وے نو کېدے شي بيا هم رسول الله ﷺ قصر الصلاه کولے .

ددے **جواب** دادے چه په (کېدے شي) باندے کار نه کېږي، داخو احتمال دے صحيح دليل راوړه ! واذا جاء الاحتمال بطل الا ستدلال .

که څوك **سوال** اوکړي :

چه تاسے څلور ورځے قصر الصلاه باندے يئ اوددے نه زيات په اتمام قائل ئے، حال داچه رسول الله ﷺ خو په غزوه تبوك کښے شل (۲۰) ورځے تېر کړېدي، دغه شان دمکے دفتح په موقعه ئے (۱۹) ورځے قصر الصلاه کړېدے .

دغه شان صحابه کرامو رضي الله عنهم لکه ابن عمر، انس بن مالك، سعد بن ابي وقاص، او نورو سلفو ډېر زيات وختونه لکه (٦) مياشتے (۲) کاله قصر الصلاه کړېدے . که چرے دڅلورو ورځونه

زیات قصر الصلاه نه وي نو بیا ولې رسول الله ﷺ (۲۰) ورځې او (۱۹) ورځې قصر الصلاه کولو ؟
دارنګه دهغه صحابه کرامو ددې نه زیات ورځې ولې قصر الصلاه کولو ؟

جواب : اول دا چه : رسول الله ﷺ چه په غزوه تبوك او فتح مکه کښې (۲۰) او (۱۹) ورځې قصر الصلاه کړېدې نو هغه جنګي سفرونه وو، اود جنګ په وخت کښې نیت او اراده داقامت نه وي، کېدې شي زر فتحه وشي او کېدې زر ونشي، رسو ل الله ﷺ چه غزوه تبوك کښې شل ورځې تېرې کړې دهغه نیت او اراده نه چه زه به شل ورځې تېروم. بلکه که کله فتح شوې وې ، هغه به واپس کېدلو، که هغه په (۲) ورځو کښې وې او که په (۵) کښې اوکه (۱۰) کښې او که په (۲۰) ورځو کښې.

دارنګه حال ئې په فتح دمکه کښې هم وو.

اودا خو مونږ هم واېو چه کله دمسافر نیت او اراده نه وي چه دهغه پته نه لګي چه دده کار به یوه ورځ پس خلاص شي او که یو میاشت پس خلاص شي اوکه به زیات وکم وخت پس. نو داکس به په اتفاق دعلماؤ سره قصر الصلاه کوي، اګرکه ډېرې ورځې او میاشتې هم تېرې کړي.

اوکوم چه دصحابه کرامو رضي الله عنهم آثار دي نو دهغې جواب دادې چه : هغه هم محمول دي په دې باندې چه دهغوي دپاتې کېدو اراده نه وه، بلکه مجبوراً هغوي هلته حصار وو.

لکه ابن عمر رضی الله عنه په آذربیجان کښې شپږ میاشتې دسفر مونځ کړېدې. ابن عمر رضی الله عنه چه کله آذربیجان ته راغې نو چه کله واپس کېدو ډېرې واورې وشوې، تردې چه لارې بندې شوې.

لکه مصنف عبد الرزاق (۵۳۵/۲) کښې دي :

احال الثلج بینه وبین ا لدخول. وسنده صحیح.

یعنې : دده بېرته واپس کېدو کښې واوره رکاوټ واقع شوه.

نود ابن عمر رضی الله عنه نیت او اراده نه وه چه آذربیجان کښې پاتې شي. لکه تهذیب الآثار للطبري (۲٤۹/۱) کښې دي .

ولم یستطع ان یخرج من البرد ولم یرد الاقامه .

یعنې : دابن عمر رضی الله عنه داقامت اراده نه وه خو دیخنۍ په وجه ددغه ځائې نه دوتلو طاقت ئې نه وو.

دوېم جواب : دې صاحبانو ته بل جواب دا کوو، چه څنګه تاسې دابن عمر رضی الله عنه عمل

په دلیل کښې پیش کوئ، نودابن عمر رضي الله عنه عمل خو دا هم وو، چه هغه به چرته پنځلس ورځې تېرولے نو هغه به پوره مونځ کولو.

لکه مصنف عبد الرزاق (٥٣٤/٢) کښې دي :

عن مجاهد قال : كان ابن عمر اذا قدم مكه فاراد ان يقيم خمس عشره ليله فاتم الصلاه. واسناده صحيح.

يعنې : ابن عمر رضى الله عنه به چه کله مکے ته راغے اود پنځلس ورځو داقامت نيت ئے وکړو، نو مونځ به ئے پوره کولو.

دارنګه دابن عمر رضى الله عنه عمل او فتوى دا هم ده چه :

١ – دابن عمر رضى الله عنه نه نقل دی چه کله د (١٢) ورځو داقامت نيت وکړے نو اتمام کوه.

اوګوره مصنف عبد الرزاق (٥٣٤/٢) وسنده حسن لشواهده.

٢ – عن ابن ابي نجيح قال : اتيت سالما اُساله وهو عند باب المسجد فقلت : كيف كان ابوك يصنع ؟ قال : كان اذا صدّر الظهر وقال : نحن ماكثون اتم الصلاه واذا قال : اليوم وغداً قَصر وان مكث عشرين يوما. (٢٤٩/١) باسناد صحيح.

ترجمه : دابن ابي نجيح نه روايت دے چه دا وائى : زه سالم ته راغلم ما ورته عرض وکړو، او هغه دمسجد ددروازے خواته وو، چه ستا پلار (ابن عمر) به څه کول (کله به چه مسافر وو) ؟ هغه وفرمائيل : زما پلار به چه کله اوښه څملوله اودابه ئے ووئيل چه مونږ پاتے کېدونکی يو، نو مونځ به ئے پوره کولو.

اوکله چه به ئے ووئيل چه نن به ځو او صبا به ځو (يعنے دپاتے کېدو اراده به ئے نه وه) نو قصر به ئے کولو، اګرکه شل ورځے به هم پاتے وو.-- ددے حديث سند هم صحيح دے.

٣ – مصنف عبد الرزقاق (٥٣٤/٢) کښې دمجاهد نه روايت دے :

كان ابن عمر اذاقدم مكه فاراد ان يقيم خمس عشره ليله سرح ظهر فاتم الصلاه. وسنده صحيح.

ترجمه : ابن عمر رضى الله عنه چه به کله مکے مکرمے ته راغے اود (١٥) ورځو اراده به ئے وکړه، نو خپله سورلئ به ئے پرېښودله او مونځ به ئے پوره کولو.

ددے حديث سند هم صحيح دے.

دابن عمر رضى الله عنه نه نور روايات هم شته چه فتاوى الدين الخالص (٦٤/٦) او قصر الصلاه

للمغتربین ص (۵۳) کښې هغه کتلې شئ!

حاصل دجواب داچه : دا بن عمر رضی الله عنه نه لکه څنګه چه دا روایت دے چه هغه شپږ میاشتې قصر الصلاه کړیدے، سره ددے نه چه مونږ دهغه عذر هم ذکر کړو.

نود ابن عمر رضی الله عنه نه خو داهم نقل دی چه (۱۲) ورځې بل روایت کښې (۱۵) ورځې پو ځائے داقامت نیت وکړے شی نو پوره مونځ به کولے شی.

دارنګه دهغه خپل عمل هم داسے وو چه کله به هغه (۱۵) ورځې نیت داقامت وکړو نو پوره مونځ به ئے کولو. اودا روایتونه هم په صحیح سندونو سره دابن عمر رضی الله عنه نه نقل دی.

د مجوزینو دویم استدلال : مجوزین یعنے هغه څوك چه دمسافر دپاره همیشه قصر الصلاه قائل دی هغوی په دلیل کښې دانس بن مالك رضی الله عنه اثر هم پیش کوی چه انس بن مالك دوه کاله قصر الصلاه کړیدے.

ددے هم پو څو جوابه دی :

۱ – دانس بن مالك رضی الله عنه داعمل هم په عذر بنا دے – دهغه عذر داوو چه هغه په شام کښې خوښه نه وه چه پاتے شی، لیکن مجبوراً هغه په شام کښې اوسیدلو.

۲ – دویم داچه : لکه څنګه چه دانس بن مالك نه دا روایت دے چه هغه (۲) کاله قصر الصلاه کړیدے نو ددے په مقابل کښې درے صحابه کرامو قصر الصلاه نه دے کړے، لکه دابن محیریز نه روایت دے :

ان ابا ایوب وابا صرمه الانصاري وعقبه بن عامر شتوا بارض الروم فصاموا رمضان وقاموه واتموا الصلاه. کذا في مجموعه الفتاوی لشیخ الاسلام (۱۴۳/۲٤).

یعنے : ابو ایوب انصاری، ابو صرمه الانصاري او عقبه بن عامر رضی الله عنهم په روم کښې ژمے تیر کړو، نو هغوی درمضان روژه هم ونیوله او تراویح ئے هم وکړے او مونځ به ئے هم پوره کولو.

طریقه داستدلال ددے نه داسے ده : چه دغه درے واړه جلیل القدر صحابه کرام رضی الله عنهم دی ، اودو په اوږد سفر کښې اتمام (پوره مونځ) کړیدے. لکه چه درے میاشتے ----- نو څوك چه دانس بن مالك اثر په استدلال کښې پیش کوی او هغه ته ګوری هغه دے ددے درے واړو صحابه کرامو عمل ته هم وګوری.

دصحابه کرامو ددے عمل نه معلومه شوه چه دسفر حد زمانی شته دے. دارنګه مونږ دپاره من

وجه دلیل دابن عباس رضی الله عنه قول هم دے هغه فرمائی :

فنحن نصلي فيما بين مكه تسعه عشره ركعتين ركعتين، فاذا أقمنا اكثر من ذلك صلينا اربعاً.
رواه البخاري. انظر المشكاة (۱۱۸/۱).

یعنے : مونږ دمکے په حدودو کښے د (۱۹) ورځو داقامت په موده کښے دوه دوه رکعته کوو، او کله چه ددے نه ډیرے مودے دپاره پاتے شو نو بیا به څلور رکعاته کوو.

دابن عباس رضی الله عنه داثر نه طریقه داستدلال داده :

چه ګوره ابن عباس رضی الله عنه ډیر جلیل القدر صحابي دے، ترجمان القرآن اوحبر الامه دے، او هغه هم په تحدید الزمان باندے قائل دے.

دابن عباس رضی الله عنه دا اثر زمونږ دپاره دلیل دے په هغه چا باندے چه هغوی په سفر کښے تحدید زمانی نه منی.

د مجوزینو دریم دلیل اود هغے جواب :

هغه څوک چه په سفر کښے تحدید زماني نه منی دشیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله قول هم ذکر کوی چه ابن تیمیهؒ په خپله فتاوی (۲٤) کښے دا خبره تفصیلاً ذکر کړیده چه دسفر حد زماني نشته.

۱ - **جواب** : هاؤ، شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله داخبره خپله فتاوی کښے لیکلے، لیکن ددے په مقابل کښے په دے باندے تقریباً دعلماؤ اجماع ده چه دسفر حد زماني شته دے، چه دے علماؤ کښے ائمه اربعه، امام بخاری، اهل ظواهر، او ابن حزم وغیرهم رحمهم الله تول شامل دی، البته ددوی په مینځ کښے اګرچه څه نا څه اختلاف شته خو په مجموعي طور سره هغوی تول دسفر د تحدید زماني قائل دی.

۲ - **جواب** : دشیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله نه لکه څنګه چه دا نقل دی چه دسفر حد زمانی نشته، نو دهغه نه خو داهم نقل دی چه دسفر حد زماني څلور ورځے دی، لکه الفتاوی المصریه ص (۷۳) کښے شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لیکلی دی :

ومن نو الاقامه اربعه ايام فما دونها قصر.

یعنے : څوک چه دڅلورو ورځو یا دهغے نه دکمو ورځو دپاتے کیدو اراده وکړی نو هغه به قصر کوی.

دارنګه شیخ الاسلام په خپله فتاوی (۱۷/۲٤) کښے فرمائی :

اذا نوی بالبلده اربعه ایام فما دونها قصر الصلاه، کما فعل النبي ﷺ وان کان اکثر ففیه النزاع، والاحوط ان یتم.

یعنې : که چرته یو کس په یو ښار کښې دڅلورو ورځو یا دهغې نه دکمو ورځو دپاتې کېدو اراده وکړه نو هغه به قصر کوی، لکه چه رسول الله ﷺ قصر کړې وو.

اوکه ددې نه دزیاتو ورځو پاتې کېدو اراده لری نو دې کښې دعلماؤ اختلاف دې، خو احتیاط دادې چه پوره مونځ به کوی. ---- اودا واقعي احتیاط دې.

حاصل د مسئلې دا چه :

۱ - په سفر کښې غوره او راجح قول دادې چه کله یو مسافر په یو ځائے کښې دڅلورو (٤) ورځو تېرولو اراده لری نو هغه به پوره مونځ کوی، اوکه ددې نه دکمو ورځو اراده لری بیا به دسفر مونځ کوی.

دلیل ددې دادې چه دا کس خو اوس مقیم دې، پکار خو داوو چه درسېدو سره سم ده پوره مونځ کولې، لیکن څلور ورځې اجازت مونږ ځکه ورکړو چه رسول الله ﷺ په خپله خوښه یو ځائے کښې دڅلورو ورځو اراده وکړه، او بیائے هم دسفر مونځ کړېدې.

باقي ورځې په منی، مزدلفه کښې دسفر مونځ کولو.

۲ - دهغه چا قول ضعیف دې چه وائی په سفر کښې تحدید زمانی نشته، ځکه چه دابن عمر او دصحابه کرامو رضی الله عنهم مذهب دادې چه دسفر حد زمانی شته دې.

۳ - په سفر کښې چه څوك (۱۵) ورځې قصر الصلاه ګڼړی دهغوی قول ډېر ضعیف دې، ځکه دهغوی دلائل ډېر ضعیف دی (چه دا داحنافو قول دې).

دا مسائل اجتهادی دی، په دې مسئلو کښې یو بل سره جګړې او اختلاف کول نه دی پکار، په دې مسئله کښې دصحابه کرامو هم بېلې بېلې رائے دی، چا (۱۲) ورځې روسته، چا (۱۰) ورځې روسته، چا (۱۹) ورځې روسته، چا (٤) ورځې روسته، چا درسېدو سره سم دمسافر دپاره دمقیم حکم ورکړېدې.

نودې مسئله کښې که یو کس دتقلېد په بنا نه، بلکه ددلائلو په بنا دڅلورو ورځو نه سېوا دسفر حد زمانی بل څه ګڼړی، نو په هغه باندې هېڅ قسم ملامتیا او لعن طعن کول جائز نه دی. لکه څنګه چه زمونږ دسلفو دا عادت وو، چه اجتهادی مسائلو کښې به ئې داختلاف سره سره په یو بل باندې ملامتیا نه وئېله.

البته دومره به ضرور واېو چه مونږ ته ددلائلو په بناء باندے دسفر حد زمانی څلور ورځے ښکاری.
والله اعلم.

اود څلورو ورځو حدزمانی قول دے راتلونکو **علماؤ** هم غوره کړېدے:

۱ – الشيخ الشنقيطي في تفسير اضواء البيان (۲۷٤/۱).

۲ – الشيخ ابو الحسن عبيد الله المباركفوري في المرعاه (۳۸۲/٤).

۳ – الشيخ ابو عبد الله محمد بن احمد الانصاري القرطبي في تفسيره: الجامع لاحكام القرآن (۳۵۷/۵).

٤ – الامام علاء الدين ابو الحسن علي بن سليمان المرداوي في الانصاف (۳۳۰/۲).

۵ – الشيخ عبد الله بن قعود.

٦ – الشيخ عبد الله بن غديان.

۷ – الشيخ عبد العزيز بن عبد الله بن باز رحمه الله.

۸ – الشيخ عبد الرزاق عفيفي كلهم في فتاوى اللجنه الدائمه (۹۵/۸، ۱۰۹، ۱٤۹).

۹ – الشيخ احمد عبد الرحمن البناء في بلوغ الاماني شرح الفتح الرباني (۱۰۹/۵).

۱۰ – الامام ابو زكريا محي الدين بن شرف النووي في المجموع شرح المهذب (۳۵۹/٤) وفي شرحه لصحيح مسلم (۲٤۳/۱).

۱۱ – الشيخ محمد بن محمد الشربيني الخطيب في مغني المحتاج (٤۵۳/۱).

۱۲ – الامامين موفق الدين وشمس الدين ابني قدامه في المغني (۱۳۳/۲).

۱۳ – الامام الحافظ ابو العباس شهاب الدين احمد بن الفرج الاشبيلي في مختصر الخلافيات للامام البيهقي (۱٦۸/۲).

۱٤ – الامام ابن تيميه في مجموع الفتاوى (۱۷/۲٤) وفتاوى مصريه له، ص (۷۳).

ليکن دامام ابن تيميه نه داهم نقل دی چه دسفر حد زماني نشته.

۱۷ – الدکتور ابراهيم بن محمد الصبيحي په دے مستقل کتاب ليکلے دے او هغے کښے ئے دا ثابته کړېده چه دسفر حد زماني (٤) ورځے ده.

۱٦ – القاضي الشوكاني في نيل الاوطار (۲۵٦/۳) والسيل الجرار (۳۰۸/۱).

۱۷ – اودا مذهب دامام مالك، شافعي، احمد، ابو ثور، سعيد بن المسيب رحمهم الله،

الخلیفه الراشد عثمان رضی الله عنه هم دے.
اوګوره: الترمذي مع التحفه (۳۸۵/۱) والمغني لابن قدامه (۱۳۳/۲) المحلی لابن حزم (۲۱۹/۳) عون المعبود (٦۹/٤).



د سفر حد مکاني

سوال: دسفر حد مکانی څومره دے؟

یعنے: یو کس چه دخپل کلی او کور نه څومره اندازه کښے لرے لاړشی، نو په ده باندے دسفر احکام جاري کیږی، لکه قصر الصلاه، روژه ماتول وغیره شو.

دمسئلے وضاحت دقرآن سنت په رنړا کښے ولیکئ! واجرکم علی الله!

جواب: ولا حول ولا قوه الا بالله.

دے مسئلے کښے دعلماؤ اختلاف دے، علامه صنعاني په سبل السلام (۳۸/۲) کښے او حافظ ابن حجر په فتح الباری (۷۲۰/۲) کښے لیکلي دی چه امام ابن المنذر رحمه الله دسفر په حد مکاني کښے دعلماؤ (۲۰) اقوال ذکر کړیدی، دارنګه ددے تفصیل په المحلی (۱۹۲/۳) او فتاوی الدین الخا لص (۹۷/٦) کښے کتلے شئ.

دے کښے غوره او راجح قول دادے چه دسفر حدِ مکاني نشته، بلکه کوم سفر ته چه په عرف کښے سفر وئیلے شی اود سفر نوم وریاندے صادقیږی هغه سفر کښے قصر الصلاه او روژه ماتول جائز دی.

دسفر دحدِ مکاني په تعین کښے دنبي کریم ﷺ نه هیڅ صحیح او صریح حدیث ثابت نه دے، چه رسول الله ﷺ مثلاً دافرمائیلي وی چه یو کس دومره اندازه لاړ شی نو هغه مسافر دے او چه ددے نه

کم لاړ شي، هغه مسافر نه دے.

او کوم حديث چه په مسلم (۱٤٥/۲) کښې دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دے چه هغه فرمائيلي دي:

(كان رسول الله ﷺ اذا خرج مسيره ثلاثه اميال او ثلاثه فراسخ - شك شعبه - صلى ركعتين) وايضا أخرجه ابوداود رقم (۱۲۰۱) واحمد (۱۲۹/۳).

يعنې: رسول الله ﷺ به چه کله دمدينې طيبې نه ددرے ميلونو په اندازه يا ددرے فرسخونو (۹ ميلونو) په اندازه بهر ووتلو نو دوه رکعته مونځ (قصر) به ئے کولو.

نودا حديث په تحديد مکاني کښې (نص) نه دے.

دے وجې نه په دے حديث کښې چه کومه اندازه دقصر الصلاه دپاره راغلې ده، نو په دے باندے ائمه اربعه وو، امام بخاري، ابن حزم او اکثرو علماؤ استدلال نه دے کړے.

ځکه دے کښې چه کوم قيد ددرے ميلو يا درے فرسخو راغلے دے داشرط نه دے، چه ددے نه به په کمه اندازه کښې قصر الصلاه نه شي کولے.

دے وجې نه صحابه کرامو رضي الله عنهم نه نقل دي چه هغوي ددرے ميلو نه په کمه اندازه کښې هم قصر الصلاه کړيدے، لکه دابن عمر رضي الله عنه نه په صحيح سند سره نقل دي چه هغه په يو ميل کښې قصر الصلاه کړيدے.

(رواه ابن ابي شيبه، واورده ابن حزم في المحلي: ۱۹٦/۳).

دارنګه دابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دے چه په (٤٨) ميله کښې قصر الصلاه اوروژه ماتول دي لکه دا په صحيح بخاري کښې دي.

اود ابن عباس رضي الله عنه په موقوف سند هم روايت دي چه هغه فرمائيلي: چه څلور بريدو (٤٨ ميلو) نه په کمه اندازه کښې قصر الصلاه مه کوئ!

نود صحابه کرامو رضي الله عنهم او علماؤ نه چه مختلف اقوال نقل دي دا دليل دے په دے خبره چه دانس رضي الله عنه دحديث نه تحديد مکاني صريح نه معلوميږي.

او صحابه کرام په دين ډير ښه پوهيدل، درسول الله ﷺ داحاديثو په مقصد ښه پوهيدل.

------ دارنګه دابن عمر رضي الله عنه نه شپږ (٦) مختلف اقوال په صحيح سند سره نقل دي

------ دے وجې نه چه دابن عمر رضي الله عنه نه دے باره کښې مختلف راغلي دي دهغه نه يو

مېل قول اخستل یا (٤٨) مېله اخستل اونور اقوال صحیحه پرېښودل داستدلال طریقه نه ده.

دارنګه دنورو صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو ؒ نه مختلف اقوال راغلي دي چه ددے تفصیل په المحلی لابن حزم (۳/۱۹۲- ۲۱٦) کښے تفصیلاً کُتلے شئ.

نو دے وجے نه مونږ ته داخبره راجحه ښکاري چه په هر هغه سفر کښے قصر الصلاه وکړے شي چه په عرف کښے هغے ته سفر وئیلے شي.

دارنګه کوم سفر کښے چه انسان ته دسفر او مسافرئ احساس کېږي، نو هغه سفر کښے به قصر الصلاه، او افطار الصوم کوي. قال الله تعالی: ﴿ بل الانسان علی نفسه بصیره ﴾ اوګوره: رسائل مسائل دابو الاعلی المودودي رحمه الله ص (۱۷۳).

او شریعت کښے داسے نورے مسئلے هم شته چه هغه ئے دانسان اختیار او رائے او عرف ته پرېښے وي، لکه: مونږ ته شریعت کښے وئیل شوي دي چه یو کس مریض شي نو هغه روژه ماتولے شي، نو دلته دمریض تعین نه دے شوے، چه یو کس دومره اندازه مریض شي نو روژه به ماتوي، او چه ددے نه کم وي نو هغه روژه نشي ماتولے، ځکه انسانانو کښے فرق دے بعضے کسان چه لږ مریضان شي نو هغه روژه وغیره نشي نیولے، اوبعض نور کسان بیا داسے وي چه ډیر مرض کښے هم روژه نیولے شي، او وریاندے نه په تکلیف کېږي. دے باره کښے دمحققینو علماؤ اقوال وګوره:

د محققینو علماؤ اقوال:

۱ - شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله په مجموعه الفتاوی (۲٤/۳۸- ٦۰) کښے لیکلی دي ------ الفرق بین السفر الطویل والقصیر لا اصل له في کتاب الله تعالی ولا في سنه رسول الله ﷺ، بل الاحکام التي علقها الله بالسفر علقها مطلقاً فالمرجع في السفر الی العرف، فما کان سفراً في عرف الناس فهو السفر الذي علق به الشارع الحکیم.

یعنے: داوګد او لنډ سفر ترمینځه فرق کولو دلیل نه په کتاب الله کښے شته او نه په سنت رسول کښے، بلکه هغه احکام چه الله رب العزت په سفر پورے تړلی دي نو هغه ئے په مطلقاً سفر پورے تړلی دي، اوددے سفر په باره کښے به اوس رجوع عرف طرف ته کولے شي، نو څه ته چه په عرف کښے سفر وئیلے شي، نو دابه بعینه هغه سفر وي چه شارع دے پورے احکام تړلی دي.

۲ - دارنګه ابن القیم رحمه الله په زاد المعادفي هدی خیر العباد (۱/۱۸۹)، کښے فرمائي

لم يحد رسول الله ﷺ لامته مسافه محدوده للقصر والفطر، بل اطلق لهم في مطلق السفر والضرب في الارض.

يعنې : رسول الله ﷺ خپل امت ته دسفر حدِ مکانې نه دے متعين کړے دقصر او روژے ماتولو دپاره، بلکه په مطلق سفر کښے ئے دوی ته رخصت ورکړے.

۳ – دارنګه داقول علامه شنقيطی په اضواء البيان (۲۷۳/۱) کښے.

٤ – شيخ البانې رحمه الله په سلسله الاحاديث الصحيحه (۲٦۱/۱) اوتمام المنه ص (۳۱۹) کښے.

٥ – ابو حيان رحمه الله په البحر المحيط (٤٧/٤) کښ.

٦ – ابن قدامه په المغني (۹٥/۲) کښ.

٧ – شيخ عبد الله بن عبد الرحمن البسام په توضيح الاحکام (۳۰۰/۱) او تيسير العلام شرح عمده الاحکام (۳۱٤/۱) کښ

٨ – علامه صديق حسن خان رحمه الله په الروضه النديه (۱٤٨/۱) کښ

٩ – علامه ابو الاعلیٰ المودودي رحمه الله په رسائل مسائل ص (۱۷۳) کښ

۱۰ – مولانا ابو يزيد عبد القاهر حفظه الله په التحقيقات في رد الهفوات ص (٤٨۱) کښ

۱۱ – شيخ عبد الله بن الشيخ محمد رحمه الله او شيخ حمد بن ناصر بن معمر رحمه الله په الدرر السنيه (٤۲۱/٤) کښ – اختيار کړيدے.

۱۲ – فتاویٰ اسلاميه (٤۰٥/۱) کښ دی :

والاظهر: القول الاول وهو عدم التحديد بمسافه معينه بل بما يسمیٰ سفراً عُرفاً.

يعنې : دتولونه ظاهره خبره داده چه دسفر څه خاص معلومه اندازه نشته، بلکه څه ته چه په عرف کښے سفر وئيلے شی، نو هغه سفر کښے قصر کولے شی.

۱۳ – قاضي شوکانې رحمه الله په السيل الجرار (۳۰۸/۱) کښ.

۱٤ – علامه الصنعاني په سبل السلام (۳۹/۲) کښ.

۱٥ – الشيخ عبد الرحمن بن ناصر السعدي په فتاویٰ السعديه ص (۱۸۸) کښ.

۱٦ – امام محمد رشيد رضا په تفسير المنار (۱٥۱/۲) کښ.

۱٧ – فتاویٰ الدين الخالص شپږم جلد کښے ددے مسئلے ډير ښه تفصيل ليکلے شويدے چه هلته ددے کتل پکار دی.

خلاصه دا چه :

دسفر حدِ مکاني نشته بلکه څه ته چه په عرف او لغت کښې سفر وئیلے شی نو په هغه سفر کښې دمانځه قصر اود روژے افطار جائز دے .

کله کله یو کس درے ځلور مېله لاړشی بیا هم هغه ته مسافر نه وائی، لکه غرته لاړشی بوټی او لرګی راوړی، یا یوکس مثلاً سحر خپل پټی ته لاړشی په (۷) یا (۸) مېله لرے وی او غرمے ته بېرته خپل کور ته راځي نو دے کس ته مسافر نه وائی، اونه داکس ځان مسافر ګڼړی، اونه دمسافرئ احساس ورته کېږی، اونه دکور کسان ده ته دمسافر په سترګه ګوری. ---- نو عرف کښې چه څه ته سفر وئېل کېده، او یو کس ته مسافر وئېل کېده، نو داکس به دسفر مونځ کوی، او یو کس ته چه مسافر نه وئېل کېده، اونه دے کس دسفر احساس کولو، اونه ځان ته مسافر وائی نو دابه دسفر مونځ نه کوی اونه به روژه ماتوی. لکه درسول الله ﷺ مانځه ته به بعضے صحابه کرام راتلل، اودهغوي کورونه به په (٤) یا (٥) مېلو کښې دمسجدنبوی نه لرے وو. بیا به هم هغوي قصر الصلاه نه کولو اونه به ئے روژه ماتوله ---- ځکه هغوی ته مسافر نه وئېل کېده، اونه هغوی دسفر احساس کولو، اونه هغوی ځان ته مسافر وئېل .

اوګوره السیل الجرار (۳۰۸/۱) الدرر السنیه (٤۲۱/٤) مجموعه الفتاوی لشیخ الاسلام (۳۸/۲٤ - ٦۰) الروضه الندیه (۱٤۸/۱) لصدیق حسن خان. توضیح الاحکام (۳۰۰/۱) فتاوي الدین الخالص شپږم جلد .

دے مسئله باندے که دیو کس فکر او ذهن نه رسی یعنے :

۱ – په دے باندے نه پو هېږی چه آیا دومره اندازه دکورنه لرے تلل عرف سفر شماري، او که نه ؟

۲ – دارنګه په دے نه پو هېږی چه آیا زه کله دمسافرئ احساس کوم او کله نه ؟

۳ – آیا زه چه دکور نه ووتلم نو څومره اندازه کښې به ماته مسافر وئیلے شی، او څومره اندازه کښے به ماته مسافر نشی وئیلے .

نو هغه له بیا پکار دی چه په (٤٨) مېله کښې دے بیا قصر او افطار کوی، چه د (٤٨) مېلو نه تقریباً (۷۰) یا (۸۰) کلو متره جوړېږی .

لکه دابن عباس رضی الله عنه اود ابن عمر رضي الله عنه نه دا روایت شوېدی، او د جمهورو علماؤ مذهب هم دے .

اوګوره : فتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلمیه والافتاء (۸/ ۹۰) .
۲۶ شعبان ۱٤۲٤هـ .



د جُمعې د مانځه احکام

د جُمعې په ورځ بعضې سنت عملونه :

سوال : دجُمعې ورځ په اسلام کښې ډیره بهترینه ورځ ده، په دې ورځ کوم کوم اعمال سنت دی چه باید اوکړې شی! دا مسئله دقرآن او سنت په رڼړا کښې تفصیلاً واضحه کړئ. جزاکم الله خیرا !

جواب : دې کښې هیڅ شك نشته چه دجُمعې ورځې له الله تعالی ډیر خصوصیات اوفضائل ورکړی دی (وربك یخلق ما یشاء ویختار) .

دې ورځ باندې بعض داسې کارونه دی چه دهغې کول پکار دی ، ددې په کولو ډیر اجر او ثوابونه دی، او بعض داسې کارونه دی چه دهغې کول بدعت او حرام دی .

هغه اعمال چه دجُمعې په ورځ کول پکار دی

۱- دجُمعې په ورځ دتولو نه ضروری اوپه هر مسلمان باندې فرض عمل دجُمعې مونځ کول دی، دجُمعې مونځ په هر مسلمان باندې فرض دې. په دې باره کښې مخکښې سوال او جواب تیر شویدې. دجُمعې مونځ په نه کولو باندې ډیر سخت وعیدونه راغلی دی، لکه حدیث شریف کښې دی :

عن ابن عمر وابي هریره – رضی الله عنهما – قالا : قال رسول الله ﷺ : لینتهین اقوام عن ودعهم الجمعات، او لیختمن الله علی قلوبهم ثم لیکونن من الغافلین.

(رواه مسلم : ۱/، وابوداود : ۱۰۵۲، والترمذی : (۵۰۰) .

ترجمه : رسول الله ﷺ فرمائی : دجُمعې پریخودلو نه دې خامخا څه خلق منع شی، اویا به دهغوئ په زړونو باندې الله تعالی مهر اولګوی او بیا به دوئ دغفلت کونکو نه جوړ شی.

۲ – عن ابي الجعد الضمری – رضی الله عنه – قال : قا ل رسول الله ﷺ : من ترك ثلاث جمعات تهاونا بها طبع الله علی قلبه. (ابن ماجه : ۱۱۲۵).

ترجمه : څوك چه دجُمعې دورځې درې مونځونه په دې وجه پرېږدی چه سپك ورته ښكاری نو الله تعالی به دهغه په زړه باندې مهر اولګوی.

۳ – دجابر رضی الله عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه :

من ترك الجمعه ثلاثاً من غیر ضروره طبع الله علی قلبه.

ترجمه : څوك چه په غیر دعذر نه درې جُمعې مونځونه پرېږدی نو الله تعالی به دهغه په زړه باندې مهر اولګوی. (اخرجه ابن ماجه : ۱۱۲۶، والحاكم : ۲۸۰/۱).

٤ – وعن سمره قال : قال رسول الله ﷺ : احضروا الجمعه وادنوا من الامام فان الرجل یتخلف عن الجمعه فیتخلف عن الجنه وانه لمن اهلها.

(اخرجه البیهقی : ۲۳۸/۳، والحاكم فی المستدرك : ۲۸۹/۱، كما فی المجمع : ۱۷۷/۲، وصححه الالبانی فی الصحیحه : ۳۶۵).

ترجمه : سمرهؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : دجُمعې مانځه ته ځان حاضر كړئ او امام ته نزدې كېنئ ځكه یو كس به دجُمعې دمانځه نه روستو روستو كېږی تردې چه الله تعالی به ئې دجنت نه روستو كړی حال دا چه دې به دجنت والو نه وی.

۵ – وعن ابن مسعود ان النبی ﷺ قال لقوم یتخلفون عن الجمعه : لقد هممت ان آمر رجلا یصلی بالناس ثم احرق علی قوم یتخلفون عن الجمعه بیوتهم.

(رواه مسلم : ۱/، ۲۵٤، والحاكم : ۳۹۲/۱، والبیهقی : ۳(۱۷۳، وغیرهم).

ترجمه : ابن مسعودؓ نه روایت دې چه نبی كریم ﷺ دهغه خلقو په باره كښې چه دجُمعې دمانځه نه روستو پاتې كېږی اوفرمائیل : ما داقصد اوكړو چه زما په ځائې یو بل كس مونځ اوكړی او زه دهغه كسانو كورونه اوسېزم كوم چه دجُمعې دمانځه نه روستو پاتې كېږی.

٦ – رسول الله ﷺ فرمائی : من ترك ثلاث جمعات من غیر عذر كتب من المنافقین.

(رواه الطبرانی فی الكبیر ونحوه ابن خزیمه وابن حبان كما فی صحیح الترغیب : ۳۰۷/۱).

ترجمه : چاچه درې جُمعې په غیر دعذر نه پرېخودلې نو دې به دمنافقانو نه اولیكلې شی ----- دا ټول احادیث په دې خبره دلیل دې چه دجُمعې په ورځ دمانځه ډېر اهتمام كول پكار دی هسې نه چه الله

مه کړه انسان دجنت نه محروم نشی او په منافقانو کښې اونه لیکلے شی . (والعیاذ بالله) .

۲ – دجُمعے خطبے ته چپ کیناستل او هغه په غور سره اوریدل پکار دی :

لکه صحیح بخاری او مسلم کښې دابو هریرة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی : اذا قلت لصاحبك یوم الجمعه والامام یخطب فقدلغوت – فتح الباری : ۴۱۴/۲ .

یعنی : کله چه ته دجُمعے په ورځ خپل ناست ملګری سره خبرے اوکړے نو تا لغوه او بے فائدے کار اوکړو .

امام مسلمؒ په خپل صحیح (۵۱۰/۲) کښې دابو هریرةؓ نه درسول الله ﷺ دا ارشاد مبارك نقل کوی چه رسول الله ﷺ فرمائی :

من توضا یوم الجمعه فاحسن الوضوء ثم اتی الجمعه فاستمع وانصت غفر له ما بینه وبین الجمعه وزیاده ثلاثه ایام ومن مس الحصا فقد لغی .

ترجمه : څوك چه دجُمعے په ورځ ښائسته (دسنت موافق)اودس اوکړی بیا جُمعے مانځه دپاره راشی اوغلے (چپ چاپ) کښنی نو الله به ده ته ددے جُمعے نه تر بلے جُمعے ورځے پورے اودرے ورځے اضافه مغفرت اوکړی، اوچا چه (دمسجد) کانړو له ګوتے وروړے نو ده لغوه (بے فائدے) کار اوکړو .

۳ – دجُمعے دسهار په مانځه کښں (الم تنزیل السجده) او (هل اتی علی الانسان) سورتونه لوستل سنت دی .

عن ابي هریره – رضی الله عنه – قال : کان رسول الله ﷺ یقرأ یوم الجمعه فی صلاه الفجر : الم تنزیل السجده، وهل اتی علی الانسان حین من الدهر .

(رواه البخاری : ۱۲۵/۲، ومسلم : ۲۸۸/۱، ۲۰۰۲) .

ترجمه : ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به دجُمعے په ورځ دسهر په مانځه کښے (سورت سجده) او (سورت دهر) لوستلو .

۴ – دجُمعے په ورځ سورت کهف لوستل مستحب دی .

دجُمعے په ورځ دسورت کهف لوستلو ډیر فضائل راغلی دی .

عن ابي سعید الخدری عن النبی ﷺ قال : من قرأ سوره الکهف یوم الجمعه اضاء له من النور فیما بینه وبین البیت العتیق .

(رواه احمد والبیهقی کما فی الترغیب والترهیب : ۵۱۳/۱) .

(ځوك چه دجُمعې په ورځ سورت كهف اولولي نو ده ته به الله تعالی دده دځائے نه تر بیت الله شریفه پورې رنړا وركړي).

بل حدیث شریف كښې دي :

من قرأ سوره الكهف قبل ان یخرج الامام كانت له كفاره فیما بینه وبین الجمعه وبلغ نورها الي البیت العتیق.

(ځوك چه دجُمعې په ورځ خطبې ته دامام دراوتلو نه مخكښې سورت كهف اولولي نو ددې وخت نه واخله تر راتلونكې جُمعې پورې به الله تعالی دده ګناهونه معاف كړي اوددې رنړا به تر بیت الله پورې اورسي).

لیكن په دې حدیث كښې د – قبل ان یخرج الامام – یعنې دامام راوتلو نه مخكښې وئیلو قید ثابت نه دې . لهذا دامام دراوتلو نه ئے كه مخكښې لولي او كه روسته دواړه طریقې جائز دي. اوګوره فتاوی الدین الخالص : ۲٦۷/٦ .

۵ – دجُمعې په مانځه كولو سره دانسان تول ګناهونه معاف كیږي :

حدیث شریف كښې دي :

عن ابي هریره قال : قال رسول الله ﷺ : الجمعه الی الجمعه كفاره مالم تغش الكبائر. – رواه ابن ماجه : ۱/، رقم : ۱۰۸٦ .

(دیوې جُمعې نه تر بلې جُمعې پورې دګناهونو كفاره ده تر څو پورې چه غټ ګناهونو ته راتګ اونه كړے شي).

٦ – دجُمعې په ورځ كښې یو ساعت دې چه په هغې كښې دانسان دعاء قبلیږي .

لكه حدیث كښې دي :

عن ابي هریره ان رسول الله ﷺ ذكر یوم الجمعه فقال : فیه ساعه لا یوافقها عبد مسلم وهو قائم یصلي یسال الله شیئا اَلا اعطاه ایاه، واشار بیده یقللها . متفق علیه .

(ابو هریرهؓ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ دجُمعې دورځې تذكره اوفرمائیله او ارشاد ئے اوفرمایه چه په دې كښې یو ساعت دې چه ددې سره هیڅ مسلمان بنده سمون نه خوري چه دالله نه څه شے غواړي مګر خامخا ئے هغه ته وركوي، او رسول الله ﷺ لاس سره اشاره اوفرمائیله چه دا لګ شان ساعت دې.

بل حدیث دمسلم کښې دی :

ان فی الجمعه لساعه لا یوافقها مسلم یسال الله فیها الا اعطاه ایاه، هی ساعه خفیفه.

(بېشکه په جُمعه کښې یو ساعت دے چه دهغې سره مسلمان سمون نه خوری چه په هغې کښې دالله نه څه شے غواړی مگر ضرور الله تعالی هغه ته هغه ورکوی، اودا ډېر کم ساعت دے).

اوس دا ساعت کوم وخت دے ؟ نو دا یقینی طور سره معلوم نه دے البته غالباً داد مازیگر دمانځه نه پس وخت دے. لکه دابوداود(١٠٤٨) په روایت کښی دی :

فالتمسو ها آخر ساعه بعد العصر – وسنده صحیح.

(نو تاسو دا ساعت دمازیگر مانځه نه پس په آخرنی وخت کښې تالاش کړی).

٧ – دجُمعې په شپه او ورځ کښې درود وئیل ډېر ثواب او فضیلت لری :

داوس بن اوس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

ان من افضل ایامکم یوم الجمعه، فیه خلق آدم وفیه قبض وفیه النفخه وفیه الصعقه فاکثروا من الصلاه علی فیه ، فان صلاتکم معروضه علی .

ترجمه : بېشکه ستاسو په تولو ورځو کښې غوره ورځ دجُمعې ورځ ده، په دے ورځ کښې آدم – علیه السلام – پیدا شو، او په دے ورځ کښې وفات شو، او په دے ورځ کښې به په شپیلئ کښې پوك وهلے شی او په دے ورځ به قیامت قائمیږی.

(ابوداود : ١٠٤٧، ابن ماجه : ١٠٨٥، ابن خزیمه : ١٧٣٣، وسنده صحیح صححه الامام الالبانی فی الارواء : ٣٤/١، وهو فی المشکاه رقم : ١٣٨١).

وضاحت : په کوم حدیث کښې چه دے سره دا راغلی دی چه دجُمعې په ورځ زه په خپله درود آورم – نو دا موضوعی (جوړ کړے شوے) روایت دے.

امام عراقیؒ په القول البدیع فی الصلاه علی الحبیب الشفیع ص : ١٥٩، کښې لیکی :

اسناده لا یصح.

یعنی ددے حدیث سند صحیح نه دے.

٨ – دجُمعې په ورځ دسهر مونځ خصوصی طور سره په جمعه کول ډېر فضیلت لری :

دابن عمر – رضی الله عنهما – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

ان افضل الصلاه عند الله صلاه الصبح یوم الجمعه فی جماعه.

(بېشکه الله تعالی ته په تولو مونځونو کښې غوره مونځ دجُمعې په ورځ دسهر مونځ په جماعت سره کول دی).

(رواه البیهقی فی شعب الایمان وسنده صحیح کما فی الصحیحه : ۹۱/٤، ۱۵٦٦، وصحیح الجامع : ۱۱۱۹، کما فی اللمعه رقم : ۱۷، ومجمع الزوائد : ۱٦۸/۲، وکنز العمال : ۳٦۸/۷، ۱۹۳۰۷ . وروی موقوفا أیضا کما فی سنن سعید بن منصور).

۹ – دجُمعې په شپه یا ورځ چه څوك مړ شی نو دده نه په قبر کښې تپوس نه کیږی :

عن عبد الله بن عمرو قال: قال رسول الله ﷺ : ما من مسلم یموت یوم الجمعه اولیله الجمعه الا وقاه الله فتنه القبر. (رواه احمد : ۲۷٦/۱، ۲۲۰، والترمذی وسنده صحیح).

ترجمه : عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمایه : کوم مسلمان چه دجُمعې په ورځ یا شپه مړ شی نو الله تعالی هغه دقبر دفتنې نه خامخا ساتی.

بل روایت کښې دی :

الا برئ من فتنه القبر – او بل روایت کښې دی : الا وقی الفتان.

یعنی : دقبر دعذاب اوددے دفتنې اود تپوس نه په امن کښې کیږی.

اوګوره الفقه الاسلامی : ٤۵۳/۲.

۱۰ – دجمعې په ورځ چه انسان مړ شي نو الله پاك به ئے دقبر دعذاب نه اوساتي.

لکه حدیث شریف کښې دي :

عن انس قال: قال رسول الله ﷺ : من مات یوم الجمعه وقي من عذاب القبر.

(رواه ابو یعلی والبیهقي).

۱۱ – دجُمعې مانځه ته په وختي تلو کښې ډیر اجر او فضیلت دے :

لکه حدیث شریف کښې دابو هریره رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي :

اذاکان یوم الجمعه کان علی باب المسجد ملائکه یکتبون الاول فالاول فاذا جلس الامام طووا الصحف، وجاؤا یستمعون الذکر. رواه البخاري : (۱۲۷/۱).

ترجمه : کله چه دجُمعې ورځ شي نود هر مسجد په دروازه ملائك ولاړوي چه دتولو اول بیا وروسته چه څوك راشي دهغوئ نوم لیکی، اوکله چه امام په منبر باندے کېنی ملائك خپل دفتر راغونډ کړي او هغوی هم راشي او ذکر آوریدو ته کېنی.

بل حدیث کښې دابو هریرهؓ نه روایت دے :

ان رسول الله ﷺ قال : من اغتسل یوم الجمعه ثم راح في الساعه الاولیٰ فکانما قرب بدنه، ومن راح في الساعه الثانیه فکانما قرب بقره، ومن راح في الساعه الثالثه فکانما قرب کبشا اَقرن، ومن راح في الساعه الرابعه فکانما قرب دجاجه، ومن راح في الساعه الخامسه فکانما قرب بیضه، فاذاخرج الامام حضرت الملائکه یستمعون الذکر.

(روه البخاري : ۱۲۱/۱).

ترجمه : څوك چه دجمعې په ورځ غسل اوکړي بیا په اولنۍ ساعت کښې راشي نوده ته دومره اجر ملاو شو لکه چه یوه اوښه خیرات کړي، اوڅوك چه په دویم ساعت کښې راشي نوګویا ده یوه غوا خیرات کړه، اوڅوك چه په دریم ساعت کښې راشۍ نوګویا چه ده یو ښکرور ګډ خیرات کړو، اوڅوك چه په څلورم ساعت کښې راشي نوګویا ده چرګه خیرات کړه، اوڅوك چه په پنځم ساعت کښې راشي نوګویا ده یوه هګۍ خیرات کړه، اوکله چه امام راوځی نو ملائك ذکر - خطبې - آوریدو ته حاضر شی .

دصحابه کرامؓ هم دا عادت وو چه جُمعې مانځه ته به وختی تلل، لکه حدیث کښې دي : (کنا نبکر بالجمعه ونقیل بعد الجمعه) . متفق علیه.

(مونږ به دجُمعې مانځه دپاره وختي تلو اود جُمعې مانځه نه پس به اوده کېدو).

۱۲ - دجُمعې په ورځ دجُمعې دمانځه نه پس روټۍ خوړل او خوب کول سنت طریقه ده

لکه حدیث شریف کښې دي :

عن سهل بن سعد قال : ما کنا نقیل ولا نتغدیٰ الا بعد الجمعه .

(رواه البخاري : ۱۲۸/۱، ومسلم).

یعني : مونږ به قیلوله اوخوراك دواړه دجُمعې مانځه نه پس کول .

بل حدیث کښې دي :

عن سهل بن سعد : کنا نصلي مع النبي ﷺ ثم تکون القائله .

(مونږ به دنبي کریم ﷺ سره دجُمعې مونځ اوکړو بیا به مو قیلوله کوله).

۱۳ - دجُمعې په ورځ مسواك وهل، خوشبوئې او تیل لګول، دغه شان زیر ناف او دترخونو ویخته صفاء کول اونوکونه پریکول اجر او فضیلت لري :

لکه حديث کښې دي :

عن سلمان قال : قال رسول الله ﷺ : لا يغتسل رجل يوم الجمعه ويتطهر ما استطاع من طهر ويتدهن من دهنه ويمس من طيب بيته، ثم يخرج الي الصلاه فلا يفرق بين اثنين ثم يصلي ما كتب له ، ثم ينصت اذا تکلم الامام الا غفر له ما بينها وبين الجمعه الاخرى - رواه البخاري : (١٢١/١، ١٢٤).

ترجمه : سلمانؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو : څوك چه دجُمعے په ورځ غسل اوکړی، او څومره چه ځان پاکولے شي پاك ئے کړی، تيل استعمال کړی، اود خپل کور خوشبوئے اولګوي، بيا دکوره اوځي چه ددوه کسانو ترمينځه جدا والے نه راولي، بيا چه څومره مونځ دده دپاره مقدر وي هغه اوکړی، بيا چه کله امام وعظ شروع کړی نو دے خاموشه کېنی، نو دے شخص ته به ددے جُمعے اود راتلونکے جُمعے ترمينځه شوي ګناهونه اوبخلے شي .(رواه البخاري) .

١٤ - دجُمعے په ورځ دجُمعے مانځه دپاره غسل کول سنت طريقه ده :

لکه حديث شريف کښې دي :

عن ابن عمر قال : قال رسول الله ﷺ : من جاء منکم الجمعه فليغتسل .

ترجمه : څوك چه تاسو کښې جُمعے مانځه دپاره راځي نو هغه دے غسل اوکړي .

بل حديث کښې دي :

عن ابي سعيد الخدري عن النبي ﷺ قال : غسل الجمعه واجب على کل محتلم .

(رواه البخاري) .

ترجمه : دجُمعے غسل په هر بالغ شخص باندے ضروري دے -- بل حديث کښې دي :

ثلاث حق على کل مسلم : الغسل يوم الجمعه، والسواك، ويمس من طيب ان کانه .

(رواه احمد : ٣٤/٤) .

ترجمه : درے کارونه په هر مسلمان باندے ضروري دي : دجمعے په ورځ غسل کول، مسواك وهل، اوخوشبوئے لګول که ورسره وي .

پاتے شوه دا مسئله چه آيا دجُمعے دا غسل فرض دے که سنت ؟ نودا مسئله به ان شاء الله روسته راشي .

١٥ - دجُمعے په ورځ داستواء (غرمے) په وخت کښې هم نوافل کول جائز دي :

دابو قتادةؓ نه روايت دے :

عن النبي ﷺ انه كره الصلاه نصف النهار الا يوم الجمعه، وقال : ان جهنم تسجر الا يوم الجمعه .

----- (ابوداود ۱/ رقم : ۱۰۸۳، كنز العمال رقم : ۲۱۰۳۶).

ترجمه : نبي كريم ﷺ داستواء په وخت مونځ مكروه ګنړلو مګر دجُمعے په ورځ (به ئے مكروه نه ګنړلو) او وئيل به ئے چه دے وخت كښے جهنم ګرمولے شي سيوا دجُمعے دورځے نه .

داحديث دسند په لحاظ اګرچه ضعيف دے ليكن دبخاري او مسلم احاديث ئے تائيد كوي، ځكه چه هغے كښے دادي چه فصلي ما كتب له .

يعني : دے دومره مونځ ئے اوكړو څومره چه ده دپاره ليكلے شوي وي .

رد المحتار (۲٤۸/۱) كښے دي :

وكره - اى الصلاه - مع شروع واستواء النهار، الا يوم الجمعه، لما رواه الشافعي في مسنده : نهي النبي ﷺ الصلاه نصف النهار حتى تزول الشمس، الا يوم الجمعه.

قال الحافظ ابن حجر : في اسناده انقطاع وذكر البيهقي له شواهد ضعيفه اذا ضمت قوي .

(يعني : دنمر ختو وخت كښے مونځ كول مكروه دي دغه شان داستواء وخت كښے هم مكروه دي مګر دجُمعے په ورځ مكروه نه دي، ځكه چه امام شافعیؒ په خپل مسند كښے حديث روايت كړے دے چه نبي كريم ﷺ دنصف النهار (غرمے) په وخت مونځ كولو نه منع فرمائيلے ده مګر دجمعے په ورځ .حافظ ابن حجر وئيلي دي چه : ددے حديث په سند كښے انقطاع ده، امام بيهقي ددے حديث دپاره نور ضعيف شواهد هم ذكر كړي دي چه تول سره يوځائے كړے شي نو قوي كيږي .

۱٦ - دجُمعے مانځه ته په تللو كښے الله پاك انسان ته په هر قدم ديوكال عبادت ثواب وركوي

----- لكه داوس بن اوس الثقفي - رضي الله عنه - نه روايت دے :

قال : سمعت رسول الله ﷺ يقول : من غسل يوم الجمعه واغتسل، ثم بكر وابتكر ومشى ولم يركب ودنا من الامام واستمع ولم يلغ، كان له بكل خطوه عمل سنه : اجر صيامها وقيامها .

(الحاكم : ۲۸۲/۱، البيهقي : ۲۲۹/۳، شرح السنه : ۲۳٦/٤، مسند احمد : ۹/٤، ابوداود : ۱/، رقم : ۳٤۵).

ترجمه : څوك چه دجُمعے په ورځ غسل اوكړي اوښه غسل اوكړي، او وختي لاړ شي اوښه وختي لاړ شي، او پيدل لاړ شي، سور نه شي، اوامام ته نزدے كښني اوغوږ كيدي، لغو كار اونه كړي، نو ده ته

به په هر قدم باندے دېو کال دروژے او مانځه ثواب ورکړے شي .

۱۷ – داذان نه پس دجُمعے مانځه ته سعی کول فرض دي، دآذان نه پس دنړوي کارونه کول حرام دي :

ځکه چه الله تعالی فرمائېلي دي :

﴿يا ايها الذين آمنوا اذا نودي للصلاه من يوم الجمعه فاسعو الی ذکر الله وذروا البيع، الآيه﴾

ترجمه : اے ايمان والو ! کله چه دجُمعے په ورځ دمانځه دپاره آذان اوکړے شي نو دالله ذکر (خطبے ته په تادئ باندے لاړ شئ او اخستل خرخول پرېدئ .

۱۸ – د جُمعے مانځه دپاره غوره اوښائسته جامے اغوستلو کښے ثواب دے :

لکه حديث کښے راځي : ولبس من احسن ثيابه (ابوداود واحمد) .

(يعني : ښائسته جامے واغوندی) ----- دغه شان بل حديث کښے دي :

عن عبد الله بن عمر ان عمر بن الخطاب – ر ضي الله عنه – رأی حله سيراء – يعنی تباع عند باب المسجد، فقال : يا رسول الله ! لو اشتريت هذه فلبستها يوم الجمعه وللوفد اذا قدموا عليك ... الحديث . ----- (رواه البخاري ومسلم وابوداود : ۱۰۷٦) في باب اللبس للجمعه .

ترجمه : دعمر بن خطاب – رضي الله عنه – يوه جوړه اولېده چه دمسجد ددروازے خواته خرڅېدله، نو عرض ئے اوکړو : يا رسول الله ! که تاسو دا واخلئ او دجمعے اود وفدونو راتلو دپاره ئے اغوندئ نو دابه ښه وی . ----- بل حديث کښے دي :

ما علی احدکم ان وجد – او ما علی احدکم ان وجدتم – ان يتخذ ثوبين ليوم الجمعه سوی ثوبي مهنته . ---- (رواه ابوداود وسنده صحيح : ۱/، ۱۰۷۸) .

ترجمه : په تاسو باندے څه ملامتيا نشته چه په تاسو کښے څوك دخپل کاروبار دجامو نه سيوا دوه جامے دجُمعے دورځے دپاره جوړے کړي .

۱۹ – دجُمعے په ورځ مسجدخوشبويه کول پکار دي :

لکه حديث دعمر – رضي الله عنه – کښے راځي :

انه کان يجمر المسجد في کل جمعه . (رواه ابن ابي شيبه وابو يعلی) .

ترجمه : عمر – رضی الله عنه – به دهرے جُمعے په ورځ مسجد خوشبويه کولو .

۲۰ – دجُمعے په ورځ خپل اهل سره جماع (کوروالے) کولو کښے دوه اجره دي :

حديث کښې دي :

يعجز احدكم ان يجامع اهله في كل يوم الجمعه ؟ فان له اجرين اثنين : اجر غسله واجر غسل امرأته . ----- (اخرجه البيهقي في شعب الايمان : ٣/٩٨، ٢٩٩١).

ترجمه : آيا په تاسو کښې يو کس ددے نه عاجز دے چه خپل کور والو سره دهرے جُمعے په ورځ کوروالے اوکړي ؟ ولے چه دده دپاره دوه اجره دي، يو اجر دده دغسل کولو، او بل اجر دده دبي بي دغسل کولو .

داحديث اګرچه ضعيف دے ليکن نورو احاديثو کښې هم داشان مطلب راغلے دے .

لکه په صحيح حديث دمستدرك (١/٢٨٢، بيهقي : ٣/٢٢٩، شرح السنه : ٤/٢٣٦، مسند احمد : ٤/٩، وغيره کښې دی :

عن اوس بن اوس الثقفي قال : سمعت رسول الله ﷺ يقول :

من غسل يوم الجمعه واغتسل .... الحديث .

يعني : چاچه خپله غسل اوکړو او په خپل کور والائے (په جماع سره) غسل لازم کړو

دا معنیٰ امام قرطبي،امام احمد اونورو علماؤ غوره کړيده .

اوګوره فتاوی الدين الخالص : ٦/٢٠٣، تفصيلاً .

٢١ – دماسپخين دمانځه په شان که چرے ډيره ګرمي وي نودجُمعے مونځ هم په ابراد کښې کول افضل دي ---- لکه په صحيح البخاري کښې دي :

كان النبي ﷺ اذا اشتد البر بكر واذا اشتد الحر ابرد بالصلاه – يعني الجمعه .

ترجمه : دنبي کريم ﷺ عادت مبارك وو چه کله به ګرمی سخته شوه نو مونځ به ئے وختي کولو، اوچه کله به ګرمي سخته شوه نو بيا به ئے په تاخير سره مونځ کولو . يعني دجُمعے مونځ .

دغه شان روايت په البيهقي (٣/١٩١) کښې دانس رضي الله عنه نه هم نقل شويدے .

ددے مسئلے تفصيل په فتاوی الدين الخالص : ٦/٢٦٣، کښې تفصيلاً اُوګورۍ .

په کلو او بانډو کښې د جُمعے مونځ

سوال : آيا په کلو او بانډو کښې دجُمعے مونځ کيږی ؟ بعض خلق وائی چه په کلو اوبانډو کښې دجُمعے مونځ نه کيږی نو ددے شرعی حيثيت څه دے ؟

جواب : دجُمعې مونځ په هر ځائې کښې کېږی برابره خبره ده که ښار وی، که کلې او بانډه وی، لکه دا خبره دقرآن اوسنت نه معلومه ده. دجُمعې په مانځه کښې ډېر زیات فوائد دی اودېته فوائدو ته ښاریان او بانډه چیان دواړه محتاجه دی.

په کلو او بانډو کښې د جُمعې د مانځه د فرضیت دلا ئل

۱ – اول دلیل : الله تعالی فرمائی :

یا ایها الذین آمنوا اذا نودی للصلوه من یوم الجمعه فاسعوا الی ذکر الله وذروا البیع الآیه. (سوره الجمعه : ۹).

ترجمه : اې ایمان والو ! کوم وخت چه دجُمعې په ورځ دمانځه دپاره آذان اوکړې شی نو زر ځان اورسوئ دالله تعالی ذکر ته او اخستل خرڅول پرېدئ.

په دې آیت کریمه کښې الله تعالی تولو مؤمناتو ته ډېر په شفقت سره فرمائیلی دی چه کله دجُمعې په ورځ دمانځه دپاره آذان اوشی نو دالله تعالی ذکر ته زر ځان اورسوئ او اخستل خرڅول بیع او شراء پرېدئ. په دې آیت کریمه کښې عام خطاب دې تولو مؤمناتو ته که هغه دښار اوسېدونکی وی اوکه په کلو او بانډو کښې اوسېږی.

۲ – دویم دلیل : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

الجمعه حق واجب علی کل مسلم فی جماعه الا علی اربعه : عبد مملوك او امرأه او صبی او مریض.

ترجمه : دجُمعې مونځ حق او واجب دې په هر مسلمان باندې په جماعت سره، مګر په څلورو کسانو باندې (فرض نه دې) : غلام، ښځه، ماشوم اومریض.

او په یو بل روایت کښې مسافر هم مستثنی شوېدې.

دا حدیث صحیح دې اودې لاندینو کتابونو روایت کړېدې :

(ابوداود : ۲۸۰/۱، ۱۰٦۷، حاکم فی المستدرك : ۲۸۸/۱، البیهقی فی السنن الکبری : ۱۸۳/۳، ۱۸٤، وفی معرفه السنن والآ ثار : ٤۷۱/۲، ۱٦۷۸، ابن حجر فی التلخیص : ٦٥/۲، الزبیدی فی اتحاف الساده المتقین : ۲۱۷/۳، الزیلعی فی نصب الرایه : ۱۹۸/۲، وصححه، والطبرانی فی الاوسط والهیثمی فی المجمع : ۱۷۰/۲، وصححه النووی فی المجموع : ٤۸۳/٤،

والبیهقی فی السنن : ۱۸۳/۳، والحافظ فی الفتح : ۳۵۷/۲، والعظیم آبادی فی التحقیقات العلی ص : ۲۳، والامام الالبانی فی الارواء : ۵٤/۳، ۵۹۲).

۳ – دریم دلیل : عن حفصه زوج النبی ﷺ ان النبی ﷺ قال : رواح الجمعه واجب علی کل محتلم.

(رواه النسائی : ۲۹۷/۱، ۱۲۹۹، وابن خزیمه : ۱۱۰/۳، ۱۷۲۱، والحدیث صحیح).

ترجمه : جُمعې مونځ دپاره تلل په هر بالغ باندې فرض دی.

دقرآن کریم دغه آیت اود رسول الله ﷺ دغه مذکوره حدیثونه ، واضح او ښکاره دلیل دې په دې خبره چه دجُمعې مونځ په هر عاقل بالغ مسلمان باندې فرض دې، برابره خبره ده که هغه ښارې وی اوکه بانډه چی او کلي وال وی، ځکه چه آیت کریمه کښې الله تعالی تولو مؤمنانو ته خطاب فرمائیلې دې، هیڅوك ئې ترې مستثنی کړې نه دې، دغه شان رسول الله ﷺ هم اوفرمائیل چه : دجُمعې مونځ په هر بالغ مسلمان باندې فرض دې ، الله تعالی او دهغه رسول ﷺ هیچرې دا نه دی فرمائیلی چه دجُمعې مونځ دښار په خلقو فرض دې اود کلو او بانډو په خلقو باندې فرض نه دې. که چرې دکلو او بانډو په خلقو باندې فرض نه وې نو الله تعالی اود هغه رسول ﷺ ولې دبانډې والو استثناء نه فرمائیله ؟ داسې به ئې فرمائیلی وې چه دکلو اوبانډو په خلقو باندې دجُمعې مونځ کول حرام دی ! آیا دکلو او بانډو خلق مسلمانان نه دی ! آیا هغوئ ته د (یا ایها الذین آمنوا) خطاب متوجه نه دې ؟ آیا هغوئ په (کل مسلم) او (کل محتلم) کښې داخل نه دی ؟ آیا دجُمعې په مانځه کښې چه کوم تعلیم او تربیتِ دې نو د کلی خلق دهغې محتاج نه دی ! آیا هغوئ دخطیب وعظ او تقریر ته حاجت نه لری ؟ ددې تولو خبرو جواب په هاؤ سره دې

بلکه ددې برعکس دالله رسول ﷺ فرمائیلی دی چه دجُمعې مونځ په هر عاقل بالغ مسلمان باندې فرض دې، سیوا دهغه پنځو کسانو نه چه هغوئ په حدیث سره مستثنی شویدی لکه هغه مخکښې په حدیث کښې ذکر شو.

اوس چه څوك چه وائی چه دجُمعې دمانځه دپاره ښار ضروری دې چه هغې کښې خیاطان، نانبایان، نجاران، موچیان، قاضی، مفتی، مسلمان بادشاه وغیره شرط دی، نو ددې خلقو نه به ضرور ددلیل مطالبه کولې شی چه په دې شرطونو باندې څه دلیل دې ؟ او آیت کریمه مطلق دې دغه شان احادیث مطلق دی نو ددې تقیید ولې کوئ ؟ آیا دالله رسول ﷺ دا نه دی وئیلی چه : کل شرط لیس فی

كتاب الله فهو باطل (متفق عليه).

آيا په دے شرطونو سره كتاب الله نه مقيد كيږى ؟ آيا په دے شرطونو سره كتاب الله باندے زيادت نه راځى ؟ چه ددوئ په نزد ناجائز دے ! حال داچه په دے مسئله ضعيف مرفوع حديث هم نشته، صحيح او مشهور حديث خو لاپريږده !

اوس دے باره كښے يو څو **خصوصي** دلائل ذكر كولے شى چه درسول الله ﷺ په زمانه كښے اود خلفاء راشدينو رضى الله عنهم په زمانه كښے په كلو او باندو كښے دجُمعے مونځ شويدے.

د رسول الله ﷺ په زمانه كښے په كلو اوباندو كښے دجُمعے مونځ

١ – **اول دليل**: عن عبد الرحمن بن كعب بن مالك قال: كنتُ قائد أبي حين ذهب بصره فكنت اذاخرجت به الى الجمعه فسمع الاذان استغفر لابى امامه اسعد بن زراره، ودعا له. فمكثت حينا اسمع ذلك منه، ثم قلت فى نفسى: والله ان ذا لعجز، انى اسمعه كلما سمع اذان الجمعه يستغفر لابى امامه ويصلى عليه، ولا اساله عن ذلك لِم هو ؟ فخرجت به كما كنت اخرج به الى الجمعه، فلما سمع الاذان استغفر كما كان يفعل فقلت له: يا أبتاه ! ارأيتك صلاتك على اسعد بن زراره كلما سمعت النداء بالجمعه لم هو ؟ قال: اى بنى ! كان اول من صلى بنا صلاه الجمعه قبل مقدم رسول الله ﷺ من مكه، فى نقيع الخصمات، فى هزم من حره بنى بياضه. قلت: كم كنتم يومئذ ؟ قال: اربعون رجلا.

ترجمه: عبد الرحمن بن كعب فرمائى: څه وخت چه زما پلار روند شو نو ما به هغه بوتلو رابوتلو، ما به چه كله دجُمعے مانځه دپاره اوويستلو او آذان به ئے واوريدلو نو دابو امامه اسعد بن زرارهؓ دپاره به ئے استغفار او دعاء غوښتله. ما څه وخت دده نه دا اوريدله، بيا مے په خپل زړه كښے اووئيلے: والله ! دا كمزورى ده ! چه كله دے دجُمعے آذان واورى دابو امامهؓ دپاره استغفار اودعاء كوى او زه دده نه دے باره كښے تپوس قدرے هم نه كوم چه ته ولے دابو امامهؓ دپاره دعاء او استغفار غواړے ! نو يو ځل دمعمول مطابق ما دے دجُمعے مانځه دپاره اوويستلو، كله چه ده آذان واوريدلو نو هغه دپاره ئے دمخكښے پشان بخښنه اوغوښتله، نوما ورته اووئيل: اے باباجى ! ته چه كله دجُمعے آذان واورے نو اسعد بن زرارهؓ ته دعاء كوے دا ولے ؟ هغه وئيل: اے ځويه ! هغه دتولو نه اول هغه كس دے چه درسول الله ﷺ دمكے نه دراتللو نه مخكښے هغه مونږ ته په نقيع الخصمات (نومے ځائے) كښے دجُمعے مونځ كړيدے. ما ورته

اووئیل : تاسو دغه وخت څومره کسان وئ ؟ وئیل : څلوېښت سړی .
(رواه ابن ماجه واللفظ له : ۳٤٤/۱، والالبانی فی صحیح سنن ابن ماجه : ۱۷۸/۱، ۱۰۸۲، وابوداود : ۱۶۰/۱، طبع باکستان، وصحیح سنن ابي داود : ۱۹۹/۱، ۱۰۶۹، وابن حبان فی صحیحه : ۴۷۷/۱۵، ۷۰۱۳، والبیهقی في السنن الکبری : ۱۷۶/۳، والحاکم فی المستدرك : ۲۸۱/۱، ۱۰۷۸، وابن خزیمه : ۱۱۲/۳، ۱۷۲٤، والمروزی، والطبرانی : ۹۰۰، والزیلعی فی نصب الرایه : ۱۹۸/۲) ------ اودا حدیث صحیح دے .

۱ - حاکمؒ ورته صحیح وئیلی دی او ذهبیؒ وررسره موافقت کړیدے (۲۸۱/۱) .

۲ - امام بیهقیؒ فرمائی : حسن الاسناد صحیح (۱۷۷/۳) .

۳ - علامه زیلعیؒ ورته صحیح وئیلی دی (نصب الرایه : ۱۹۸/۲) .

٤ - شعیب الارناووط دابن حِبان په تعلیق (۴۷۷/۱۵) کښے ورته قوی وئیلے دے .

۵ - شیخ البانیؒ په صحیح سنن ابن ماجه (۱۸۷/۱) او صحیح سنن ابي داود (۱۹۹/۱) کښے ورته حسن وئیلے دے .

۶ - دکتور مصطفی اعظمی په تعلیق دابن خزیمه (۱۱۲/۳) کښے ورته حسن وئیلے .

۷ - حافظ ابن حجرؒ لیکی : اسناده حسن . (التلخیص الحبیر: ۵۶/۲) .

فائده : دمذکوره حدیث نه دوه مسائل معلوم شو :

(۱) - دجُمعے دمانځه دپاره چه څوك کوم شرطونه لازموی نو دا شرطونه پوهم لازم نه دے . ځکه چه دغه صحابه کرامؓ چه دجُمعے مونځ کولو نو نه ښار وو اونه نور هغه شرطونه وو کوم چه احناف لازم ګنړی .

(۲) - دتولو نه لویه فائده او مسئله چه په دے کښے ذکر ده هغه داده چه دجُمعے مونځ په کلی اوبانډه کښے جائز دے،ځکه خپله مدینه طیبه درسول الله ﷺ دراتګ نه مخکښے یوه قریه (کلے او بانډه) وه . لکه حدیث کښے دی :

عن ابي هریره رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : امرتُ بقریه تاکل القری یقولون : یثرب وهی المدینه . الحدیث . (رواه البخاری باب فضل المدینه) .

ترجمه : ماته داسے کلی ته دهجرت کولو حکم شویدے چه هغه نور کلی خوری، خلق ورته یثرب وائی خو دا مدینه ده .

او نقیع الخصمات دبنو سلمه دکورونو نه یو میل کښې لرې کلې دے (وفاء الوفاء : ١٣٢٤/٤). او مدینې طیبې نه څلور میله لرې کلې دے. (فتاوی الدین الخالص : ١٥٢/٦).

خلاصه : دا حدیث ډیر واضح اوښکاره دلیل دے چه په کلو اوباندو کښې دجُمعې مونځ کیږی. او دے حدیث کښې چه څلوېښت کسان ذکرشوی دی نوداقید اتفاقی دے، احترازی نه دے. یعنی ددے نه دا نه لازمیږی چه کنې دڅلوېښت کسانو نه کم وی نو هغوئ به دجُمعې مونځ نه کوی.

لکه علامه علاء الدین ابن الترکمانی حنفی په الجوهر النقی : ١٧٧/١، کښې لیکی :

ثم انه لیس فی حدیث اسعد اشتراط الاربعین وان الجمعه لا تجوز باقل منهم، وانما وقع الاربعون اتفاقا.

(بیا په حدیث داسعدؓ کښې دڅلوېښتو کسانو شرط کول نشته، چه کنې ددے نه کمو خلقو ته به دجُمعې مونځ نه کیږی، بلکه څلوېښت اتفاقی طور سره واقع شویدی.

ومثله فی اعلاء السنن (٥٦/٨) للشیخ ظفر احمد العثمانی.

بلکه احناف خو دجُمعې دمانځه دانعقاد دپاره صرف درے کسان شرط ګنړی، لکه درمختار کښې دی : والسادس : الجماعه واقلها ثلاثه رجال (٥٤٥/١).

(شپږم شرط : جماعت دے اودا کم از کم درے سړی دی). ومثله فی الاعلاء (٥٣/٨).

فتاوی دیوبند (٩١/٥) کښې دی :

(دجُمعې دجماعت دپاره درے مقتدیان موجودیدل ضروری دی).

شاه ولی الله محدث دهلویؒ لیکی : ولا یشترط اربعون – حجه الله البالغه : ٣٠/١).

(څلوېښت کسان شرط نه دی).

٣ – **دریم دلیل :** عن ابن عباس قال : ان اول جمعه جمعت فی الاسلام بعد جمعه جمعت فی مسجد رسول الله ﷺ بالمدینه لجمعه جمعت بجواثی قریه من قری البحرین – قال عثمان : قریه من قری عبد القیس.

(رواه البخاری : ١٢٢/١، وابوداود : ١٦٠/١، واللفظ له، وفی صحیح سنن ابی داو د : ١٩٩/١، ١٠٦٨، والبیهقی فی السنن الکبری : ١٧٦/٣، وفی المعرفه : ٤٦٣/٢.

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائیلی دی چه په اسلام کښې اولنۍ جُمعه چه درسول الله ﷺ دمسجد (نبوی) نه پس شویده هغه، هغه جُمعه ده چه په جواثی کښې شویده چه دبحرین دکلو نه یو کلے دے.

ددې حدیث ېو راوي عثمان فرمائي : چه دا دعبد القیس قبیلې دکلو نه ېو کلے دے .
امام بخاري او امام ابوداوړ په دې حدیث باندې داسې باب تړلے دے :
باب الجمعه في القري والمدن
(دا باب دے په بیان دجُمعې مونځ کښې په کلو او ښارونو کښې) .
دا بن عباسؓ دحدیث نه دا خبره معلومه شوه چه په کلي کښې دجُمعې مونځ کول مشروع او جائز دي .
امیر المؤمنین في الحدیث امام بخاري دغه شان امام ابو داوړ دیته ترجیح ورکړیده نو ځکه دے دواړه امامانو دا باب تړلے دے چه باب الجمعه في القري والمدن. حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري (۴۰۳/۲) کښې هم دیته ترجیح ورکړیده چه دا (جواثي) په بحرین کښې ېو کلے وو. لکه هغه فرمائي :
وحکي الجوهري والزمخشري وابن الاثیر ان جواثي اسم حصن بالبحرین وهذا لا ینافي کونها قریه.
(جوهري، زمخشري او ابن اثیر نقل کړي دي چه جواثي په بحرین کښې دیوې قلعې نوم دے، خو دا ددې سره دکلي کیدو سره څه منافي نه دے) ---- بیا روسته لیکي :
وحکي ابن التین عن ابي الحسن اللخمي انها مدینه.
(او ابن تین دابو حسن لخمي نه نقل کړي دي چه دا ښار وو) .
بیا امام ابن حجرؒ په دې باندې خپله فیصله کوي لیکي :
وما ثبت في نفس الحدیث من کونها قریه اصح، مع احتمال ان تکون في الاول قریه ثم صارت مدینه.
ترجمه : اوکومه خبره چه په خودې حدیث کښې ده چه دا کلے وو نو داد تولو نه صحیح خبره ده، اودا احتمال هم لري نه چه دا په اول کښې کلے وو بیا روسته ښار په شوے وي. (فتح الباري : ۳۰۴/۲، طبع دار احیاء التراث العربي) .
۴ - دریم دلیل : علامه ابن حجرؒ په فتح الباري (۳۰۳/۲، تلخیص الحبیر : ۵۴/۲، عبد الرزاق په خپل مصنف (۱۷۰/۳) کښې دابن عمرؓ نه روایت کوي :
انه یري اهل المیاه بین مکه والمدینه یجمعون فلا یعیب علیهم .
یعني : ابن عمرؓ به دمکے او مدینې ترمینځه چشمو (اوچینو) والا لیدل چه دوئ به دجُمعې مونځ

کولو، اودا خبره به ابن عمرؓ بده نه ګڼړله.

دا حدیث هم واضح دلیل دے په دے چه په کلو او بانډو کښے دجُمعے مونځ کیږی، ځکه چه ابن عمرؓ چه دا کسان لیدل نو هیڅ عیب ئے وربانده نه دے وئیلے. نو که چرے دښار نه بغیر دجُمعے مونځ جائز نه وے - څنګه چه احناف وائی - نو ابن عمرؓ ولے په دے خلقو باندے رد نه کولو ؟

بلکه ابن ابي شیبه کښے دامام مالك نه په صحیح سند سره نقل دی چه :

کان اصحاب محمد ﷺ فی هذه المیاه بین مکه والمدینه یجمعون.

ترجمه : درسول الله ﷺ صحابؓ به دمکے اومدینے ترمینځه په دے چینو (اوګودرونو) کښے دجُمعے مونځ کولو.

ددے روایت سند تر امام مالك پورے صحیح دے، لیکن دامام اوصحابه کرامؓ ترمینځه روایت اګرچه منقطع دے. لیکن مخکښے روایت ئے تائید کوی، نو ځکه مونږ هم دهغه لاندے ذکر کړو. (ابن ابي شیبه : ۱۰۲/۲).

٤ - څلورم دلیل : رسول الله ﷺ چه کله مدینے طیبے ته هجرت اوکړو نو اولنۍ دجُمعے مونځ ئے په بنو سلمه کښے اوکړو، چه هغے ته وادی بنی سالم وئیلے شی. وادی بنی سالم یوخوړ دے چه دسیلاب اوبه په هغے کښے راتلے، او نن صبا هغه ځائے ته مسجد جُمعه وئیلے شی. چه دا دمدینے طیبے نه دوه نیم میله لری واقع دے.

اوګوره : وفاء الوفاء : ۳۵۸/۲ ------ فتاوی حقانیه (۳۹۲/۳) کښے دی :

(دجُمعے په ورځ رسول الله ﷺ دقباء نه مدینے منورے ته تشریف راوړو چه دغه وخت هیڅ مسجد آباد نه وو، دے وجے نه رسول الله ﷺ په وادی بنی سالم بن عمرو (نومے علاقه) کښے دجُمعے خطبه ورکړه، دا دجُمعے اولنۍ خطبه وه چه دهغوئ نه واوریدلے شوه).

دا حدیث هم په دے واضح دلیل دے چه دجُمعے مونځ په کلو کښے بالکل صحیح دے. رسول الله ﷺ چه مدینے طیبے ته راتلو نو مدینه هم یوکلے وو، او بنو سالم هم یو کلے وو، او رسول الله ﷺ ددے دوو کلو په مینځ کښے مونځ اوکړو. دغه شان مسجد هم نه وو هسے یو خوړ (میدان) کښے ئے مونځ اوکړو.

دتفصیل دپاره اوګوره :

(تاریخ المدینه لابن شبه : ٦٨/١، معرفه السنن والآثار : ٤٦٥/٢، رقم : ١٦٦٩، وفاء الوفاء : ٣٢/٢،

البدایه والنهایه : ۲۱۳/۳) الدر الثمین فی معالم دار الرسول الامین ﷺ للشنقیطی ص : ۱۱۹، ۱۲۹، الدر المنثور : ۲۱۸/٦، سوره الجمعه. فتاوی الدین الخالص : ۱٤۱/٦، التحقیقات العلی في اثبات الجمعه في القري ص : ۳۰).

تنبیه : مفتي رشید احمد صاحب چه احسن الفتاوي (۱٤۲/٤) کښې د (بني سالم مین اداء جمعه کې تحقیق) لاندې لیکلي چه رسول الله ﷺ په بنو سالم کښې مونځ نه دے کړے، نو دا تحقیق نه دے بلکه بې تحقیقي ده.

ابن ابي شیبهؒ باب لګولے دے :

باب من کان یری الجمعه فی القری وغیرها.

(دا باب دے په بیان دهغه چا کښې چه هغوئ دجُمعے مونځ په کلو بانډو وغیره هرځائے کښې جائز ګنړلو).

عن ابي هریره رضی الله عنه انهم کتبوا الی عمر یسالونه عن الجمعه فکتب الیه : جمعوا حیث کنتم.

ترجمه : ابو هریرهؓ نه روایت دے چه ده اوده ملګرو خلیفه راشد عمر فاروقؓ ته اولیکل چه دجُمعے دمانځه په باره کښې ئے ترے تپوس کولو، نو عمر فاروق رضی الله عنه ورته اولیکل : دجُمعے مونځ کوم ځائے کښې چه تاسو یئ هلته ئے کوئ.

(ابن ابي شیبه : ۱۰۱/۲، معرفه السنن والآثار : ٤٦۷/۲، المحلی لابن حزم : ۲۵۳/۳).

امام بیهقیؒ فرمائی : قال احمد : وهذا الا ثر اسناده حسن.

(امام احمدؒ وئیلی دی چه ددے اثر سند حسن دے).

امام البانیؒ په سلسله الاحادیث الضعیفه : ۳۱۸/۲، رقم : ۹۱۷، کښې فرمائی :

قلت : واسناده صحیح علی شرط الشیخین.

(زه وایم : ددے سند دبخاری اومسلم په شرطونو باندے صحیح دے).

امام شافعیؒ فرمائی :

د (جمعوا حیثما کنتم) معنی داده :

ای فی قریه کنتم لان مقامهم من البحرین انما کان یکون فی القری.

(چه په کوم کلی کښې تاسو یئ، ولے چه ددوئ په بحرین کښې پاتے کیدل دا په کلو کښې پاتے کیدل

وو). (معرفه السنن والآثار : ۹۱۷، ٤٦٧/٢).

دخلیفه راشد جناب عمر فاروقؓ دا اثر دلیل دے په دے خبره چه دجُمعے مونځ په هر ځائے کښے فرض دے. نوځوك چه دعلی رضی الله عنه اثر په دلیل کښے په دے خبره پیش کوي چه دجُمعے مونځ صرف په مصر جامع (ښار) کښے فرض دے او په کلو او بانډو کښے نه صحیح کیږی، نو دوئ به دعمر فاروقؓ ددے اثر سره څه کوی ؟

سره ددے نه چه دعلی رضی الله عنه په اثر سره داحنافو په مذکوره مدعا باندے استدلال کول دشلو (۲۰) وجهو نه خطاء دے، لکه چه ددے خبرے اقرار د(مطلع الانوار) مصنف کړیدے.

علامه حافظ ابن حجرؒ ددواړو اثرونو داختلاف نتیجه ذکر کولو نه پس فرمائی :

فلما اختلف الصحابه وجب الرجوع الی المرفوع - فتح الباری : ٣٠٣/٢).

ترجمه : هر کله چه دصحابه کرامو ترمینځه اختلاف واقع شو نو اوس مرفوع حدیث ته رجوع واجب ده.(او په مرفوع حدیث کښے په هر عاقل بالغ باندے دجُمعے مونځ فرض دے، که هغه کلی وال وی که بانډه چی).

او په همدے خبره باندے مونږ ته الله تعالی حکم فرمائیلے دے چه :

فان تنازعتم فی شئ فردوه الی الله والرسول الآیه.

(که ستاسو په څه خبره کښے اختلاف شو نو الله او رسول ﷺ ته ئے واپس کړئ).

دتفصیل دپاره اوګوره :

۱ - فتاوی الدین الخالص (١٤١/٦) اوګوره چه په دے مسئله (۳۵) دلائل ذکر کړے شوی دی چه دجُمعے مونځ په هر ځائے کښے فرض دے. اودے مسئلے ته د (اقامه البرهان علی جواز الجمعه فی کل مکان) نوم ورکړے شویدے.

۲ -التحقیقات العلی باثبات فرضیه الجمعه فی القری، مستقله رساله .لعظیم آبادی

۳ - مطلع الانوار، دا هم یو مستقله رساله ده چه یو حنفی مصنف لیکلے ده په دے کښے دی چه دجُمعے مونځ هر ځائے فرض دے کلے وی که بانډه اوکه ښاریه.

٤ - التحقیقات فی رد الهفوات ص : ٥٠٩، ٥٢٦.

٥ - سلسله الاحادیث الضعیفه : ٩١٧،٣١٧/١.

٦ - المحلی لابن حزم : ٢٤٨/٣، ٢٥٩، تفصیلاً.

۷ – شاه ولی الله محدث دهلوی صاحبؒ لیکی :
والاصح عندی انه یکفی اقل ما یقال فیه قریه .
ترجمه : زما په نزد دتولو نه صحیح خبره داده چه دجُمعې دمانځه دپاره دومره ځائے کافی دے چه هغے ته کلے اووئیلے شی . (حجه الله البالغه : ۳۰/۲) .
۸ – فتاوی نذیریه : للشیخ سید نذیر حسین محدث دهلویؒ (۵۷۷/۱، ۶۰۹) .
۹ – فتاوی هیئه کبار العلماء (۳۲۳/۱) .
۱۰ – نیل الاوطار (۲۸۷/۳) .
۱۱ – رسائل مسائل للاستاذ المودودی .
فقط . وبالله تعالی التوفیق . ۱۴۲۴/۱۲/۲۷ هـ .

د لا جمعه ولا تشریق نه استدلال کول

سوال : احناف وائی چه په کلو او بانډو کښے دجُمعے مونځ نشته او په دلیل کښے دعلی رضی الله عنه اثر پیش کوی چه هغه فرمائی :
(لا جمعه ولا تشریق الا في مصر جامع)۔
یعنے : دجُمعے اود اختر مونځ نشته مګر په غټ ښار کښ .
آیا ددوئ استدلال ددے اثر نه په حُرمت دجُمعے په کلو او بانډو باندے صحیح دے ؟ بینوا تؤجروا ۔
جواب : احناف چه وائی چه په کلو او بانډو کښے دجُمعے مونځ نشته بلکه په کلو اوبانډو کښے دجمُعے کول حرام دی . نوددوئ دا خبره دډیرو وجهونه خطاء او غلطه ده . په خپله یو حنفی عالم په دے موضوع یو کتاب لیکلے چه دجُمعے مونځ هر ځائے کښے فرض دے . او هغه لیکلی چه زمونږ داحناف علماؤ دعلیؓ داثر نه استدلال کول دشلو (۲۰) وجهونه غلط او خطاء دی . اوګوره مطلع الانوار .
دغه شان په فتاوی الدین الخالص کښے ددے ډیر وجو هات ذکر کړے شویدی چه دعلی رضی الله عنه په اثر باندے په کلی اوبانډو کښے دجمعے مونځ حرام ګنړل دډیرو وجو هو په بناء خطاء او غلط دی .
چه مونږ دلته یو څو وجے ذکر کوو :
۱– **اوله وجه** : دعلی رضی الله عنه اثر به داحنافو علماؤ دپاره هله دلیل ګرځیدلے چه ددے اثر په مقابله کښے صحیح او مرفوع احادیث نه وے راغلے . اودلته خو صحیح اومرفوع روایتونه ددے اثر

په مقابله کښې راغلي دي. لکه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي:

الجمعه حق واجب على كل مسلم في جماعه. الحديث.

ترجمه: دجُمعې مونځ په هر مسلمان باندې حق او فرض دې په جماعت سره.

دا حديث بالكل صحيح دې. اخرجه الحاكم في المستدرك (٢٨٨/١) والبيهقي في معرفه السنن والآثار (٤٧١/٢) (١٦٧٨) والسنن الكبرى (١٨٣/٣، ١٨٤) وابوداود (٢٨٠/١) (١٠٦٧) والطبراني في الاوسط، وابن حجر في التلخيص (٦٥/٢) والزيلعي في نصب الرايه (١٩٨/٢) والهيثمي في المجمع (١٧٠/٢) والزبيدي في اتحاف الساده المتقين (٢١٧/٣).

او لاندينو علماؤ ورته صحيح وئيلي دي:

امام نووي ؒ په المجموع شرح المهذب (٤٨٣/٤) كښ، امام زيلعي ؒ په نصب الرايه (١٩٩/٢) كښ، علامه بيهقي ؒ په السنن الكبرى (١٨٨/٣) كښ، حافظ ابن حجرؒ په فتح البارى (٣٥٧/٢) كښ، علامه شمس الحق العظيم آبادي ؒ په التحقيقات العلى باثبات فرضيه الجمعه في القرى (٢٣) كښ، امام الباني ؒ په ارواء الغليل (٥٤/٣) (٥٩٢) او صحيح سنن ابي داود (٢٨٠/١) كښ.

بل حديث كښې دي چه: رواح الجمعه واجب على كل محتلم.

ترجمه: دجُمعې دمانځه دپاره تلل په هر بالغ باندې فرض دي.

رواه النسائي (٢٩٧/١) (١٢٩٩) وابن خزيمه (١١٠/٣) (١٧٢١) وصححه الشيخ الالباني رحمه الله.

ددې احاديثو نه **معلومه** شوه چه دجُمعې مونځ لکه دعام پنځو فرض مونځونو غونته په هر چا فرض دې. ددې نه صرف دا لاندينې کسان خپله رسول الله ﷺ مستثنى كړيدي: غلام، ښځه، ماشوم، مريض او مسافر. لکه دا احاديث مخکښې ذکر شو.

ددې کسانو نه بغير هيڅوك هم ددې نه مستثنى' نه دې چه دكلو او بانډو وغيره خلق شو. كه چرې دكلو اوبانډو په خلقو باندې دجُمعې مونځ فرض نه وې نو ولې مونږ ته الله تعالى او دهغه رسول ﷺ دا اونه فرمائيل: چه د (على كل مسلم) او (على كل محتلم) نه دكلو او بانډو خلق مستثنى دي ؟

كه چرې دكلو او بانډو په خلقو دجُمعې مونځ حرام وې - لکه چه احنافو ليکلي - نو مونږ ته به الله تعالى اود هغه رسول ﷺ خبر راكړې وې چه دكلو اوبانډو خلق دې دجُمعې مونځ نه كوي. الله

فرمائی :

وما کان ربك نسيا – یعنے ستا رب هیرونکے نه دے .

اوس که څوك بیا هم وائی چه نه، دکلی اوبانډو خلق به دجُمعے مونځ نه کوی نو هغه به په دے خبره صحیح حدیث دلیل راوړی، کنه نو دهغه قول به مردود اونامنظور وی .

اود صحابیؓ قول مونږ ته ډیر محترم دے لیکن کله چه دصحیح احادیثو خلاف راشی نو مونږ به په صحیح حدیث عمل کوو،اود صحابیؓ قول به سره داحترامه پریږدو، او په دے مسئله دتولو مسلمانانو اتفاق دے، دے کښے دهیچا اختلاف نشته. ددے وجے نه سرخیل احناف علامه ابن الهمام حنفی لیکی :

قول الصحابی حجه فیجب تقلیده عندنا اذا لم ینفه شئ آخر من السنه .

زمونږ داحنافو په نزد دصحابی قول حجت دے دصحابی تقلید واجب دے لیکن کله چه په دے سره سنت نفي کیږي نو بیا حجت نه دے .

داشان خبره شامی په رد المحتار (۵۵۰/۱) باب الجمعه کښ، عبد الحي لکهنويؒ په امام الکلام ص (۲۲۲)، شیخ اشرف علي تهانوي په احیاء السنن ص (۳۹) کښ، ظفر احمد عثماني په اعلاء السنن (۱۱٦/۱، ۱۳٤، ۵۰۹) کښ، ملاعلي قاريؒ په مرقاه (۲۳٤/۲) کښ، سرفراز خان صفدر صاحب په حکم الذکر بالجهر ص (۱۰۵) کښ لیکلے اوادائے منلے ده .

اوکوم احناف صاحبان لکه طحاوی وغیره چه وائی چه دعلی رضی الله عنه اثر موقوف دے لیکن په منزله دمرفوع دے . نو ددوئ قول خطاء او غلط دے .

شیخ البانیؒ فرمائیلی دی :

وفیه نظر واضح، فان القلب یشهد ان ذلك یقال بالرأی والاجتهاد ، ولذلك ظلت المسئله من موارد النزاع، وقد صح خلافه عن عمر بن الخطاب أفیقال : انه توقیف ایضاً مع انه هو الصواب .

ترجمه : څوك چه وائی چه دعلی رضی الله عنه اثر موقوف دے خو په منزله دمرفوع دے نوددوئ قول ښکاره خطاء اوغلط دے، ځکه زړه ددے خبرے ګواهی کوی چه دا مسئله په اجتهاد اوخپلے رائے سره وئیلے شویده، ددے وجے نه په دے مسئله کښے دعلماؤ اختلاف دے، دعمر رضی الله عنه نه په صحیح سند سره ددے خلاف ثابت دی، نو آیا دهغه په باره کښے به هم دا وئیلے کیږی چه دعمر الله عنه قول هم توقیفی دے ؟ سره ددے نه چه دعمر فاروقؓ قول صحیح اود حق سره برابر دے .

سلسله الاحادیث الضعیفه (۳۱۸/۲) تحت رقم (۹۱۷).

قاضی شوکانی رحمه الله لیکلی دی:

وللاجتهاد فیه مسرح، فلاینتقض للاحتجاج به.

نیل الاوطار (۲۸۷/۳).

یعنې: داجتهاد دپاره په دې کښې دخل شته دې نو دا ددلیل نیولو دپاره جوګه نه دې.

۲ – **دویمه وجه**: داحنافو دپاره دعلی رضی الله عنه اثر هله دلیل ګرځیدلې چه نورو صحابه کرامو په کلو اوبانډو کښې دجُمعې مونځ نه وې کړې، یا دهغوئ نه منع نقل وې. حال داچه دې باره کښې خودصحابه کرامو نه په صراحت سره ثابت دی چه هغوئ په کلو کښې دجُمعې مونځ کړیدې لکه مخکښې مونږ دهغې تفصیل ذکر کړو.

دارنګه صحابه کرامو داسې کسان لیدلی چه په کلو کښې دجُمعې مونځ کولو او یوصحابی هغه کسان نه دی منع کړی. لکه مخکښې مونږ دابن عمرؓ نه په صحیح سند روایت نقل کړو چه هغه به داسې کسان لیدل چه دچینو په غاړه به هغوئ دجُمعې مونځ کولو او ابن عمرؓ به په هغوئ باندې هیڅ رد نه دې کړې.

دارنګه امیر المؤمنین عمر بن الخطاب رضی الله عنه، ابو هریرهؓ او نورو صحابه کرامو ته لیکلی وو چه:

جمعوا حثیما کنتم. – یعنې په هرځائے کښې دجُمعې مونځ کولے شئ.

رواه البیهقی في المعرفه (۴۶۷/۲) وابن ابي شیبه (۱۰۱/۲) وفي المحلی (۲۵۳/۳) وسنده صحیح علی شرط الشیخین: البخاری ومسلم، کما قال الشیخ الالبانی في الضعیفه (۳۱۸/۲) (۹۱۷).

دغه شان مخکښې ذکر شو چه صحابه کرامو درسول الله ﷺ دراتګ نه مخکښې هم په نقیع الخصمات مقام کښې چه دا دمدینې طیبې سره یوه بانډه وه دجُمعې مونځ کولو. انس رضی الله عنه به کله کله په خپل کور کښې چه دادبصرې نه دوه فرسخه (۶،میله) لرې ځائے وو دجُمعې مونځ کولو، اوکله به بصرې ته راتلو لکه صحیح بخاری (۱۲۳/۱) او مصنف ابن ابي شیبه کښې دی. اود انسؓ کور په یوه بانډه کښې وو، لیکن کله چه به انسؓ بصرې ته نه تلو نو په خپل قصر کښې به ئې دجُمعې مونځ کولو.

(فتح الباری : ۲/۲۹۰).

نو کچرې په کلی اوبانده کښې دجُمعې مونځ جائز نه وې بلکه حرام وې نو بیا انسؓ ولې په خپل قصر کښې دجمُعې مونځ کولو ؟ او بیا ددې کله څه مطلب شو ؟

الغرض : دذکر شوو صحابه کرامؓو آثار، دعلی داثر سره واضح اوښکاره خلاف دي او کله چه یوصحابی یوه خبره اوکړی اودهغه نه بل صحابیؓ خلاف اوکړی نو دا اتفاقی قاعده ده چه : دهغه صحابیؓ قول حجت نه پاتے کیږی.

لکه علامه ابن حجرؒ فرمائیلی دی :

الصحابی اذا قال قولاً وخالفه غیره منهم لم یکن ذلك القول حجه اتفاقاً.

(کله چه یو صحابی یوه خبره اوکړی اود هغه نه بل صحابی خلاف اوکړی نو ددغه صحابی خبره په اتفاق سره حجت نشی ګرځیدلے – فتح الباری :۸/۶۰۷.

لهذا کله چه په دلائلو سره دا ثابته شوه چه دعلی رضی الله عنه دقول نه چه (لا جمعه ولا تشریق) دې نورو صحابه کرامؓو لکه عمرفاروقؓ، ابو هریرهؓ، انسؓ او ابن عمرؓوغیره خلاف کړیدې نو بیا دکوم قانون اوقاعدې په بنیاد احناف دعلی رضی الله عنه دا اثر حجت اودلیل ګنړی ؟!!

دارنګه حافظ ابن حجرؒ دا خبره نوره هم واضحه کوی لیکی :

فلما اختلف الصحابه وجب الرجوع الی المرفرع.

یعنې : کله چه دې مسئله کښې دصحابه کرامؓو اختلاف واقع شو نو اوس درسول الله ﷺ مرفوع حدیث ته رجوع کول واجب شو . فتح الباری (۲/۳۰۳).

نودې مسئله کښې چه کله مونږ درسول الله ﷺ احادیثو ته رجوع اوکړو نو رسول الله ﷺ دا فرمائیلی دی چه : په هر مسلمان باندې دجُمعې مونځ په جماعت سره فرض دې، سیوا دڅلورو کسانونه.

بل ځائے کښې ارشاد دې : (دجُمعې مانځه دپاره تلل په هر بالغ باندې فرض دی).

لکه دا روایتونه مخکښې تفصیلاً ذکر شول.

نو په مرفوع احادیثو کښې هیڅکله دا خبره نشته چه دجُمعې مونځ په ښارېانو فرض دې او دکلی اوبانډې والا به ئے نه کوی ! ځکه ددوئ دپاره حرام دې !!

۳ – **دریمه وجه** : دعلی رضی الله عنه اثر داحنافو دپاره دلیل ځکه نشی کیدې چه دوئ وائی

چه په کلو اوبانډو کښې دجُمعې مونځ کول حرام دی. (اوګوره رد المحتار : ۷۷۵/۱، باب العیدین)
اواستدلال کښې دعلی رضی الله عنه دا اثر ذکر کوی.

حال دا چه دعلیؓ اثر ددوئ په دعوی' باندې یعنې دجُمعې په حرمت باندې په کلو اوبانډو کښې نص نه دې. ځکه دعلیؓ اثر کښې ددوو معناګانو احتمال د. یوه معنی هغه ده کوم چه احناف مراد کوی.
اوبله معنی داده چه (لا جمعه) کښې د (لا) نه نفی دوجوب مراد شی او نفی دصحت مراد نشی. نو په دې وخت کښې به ددې اثر معنی داشی چه : (دجُمعې او اختر مونځ دکلو اوبانډو په خلقو واجب نه دې) اوس که هغوئ دجُمعې مونځ اوکړو نو آیا دوئ به حرام کار کړې وی ؟

لکه دجُمعې مونځ په مسافر او مریض باندې نشته خو که سره ددې نه ئې اوکړو نو آیا دوئ حرام کار اوکړو ؟ ------ نو دا دعلیؓ په اثر کښې نشته !

پخپله یو حنفی عالم، مفتی کفایت الله صاحبؒ دا اقرار کوی چه په (لاجمعه) کښې احتمال شته چه د (لا) نه نفی دوجوب واخستې شی ، نه نفی دصحت. لکه لیکی :

لاجمعه ولا تشریق الخ حنفیه نے اس مین لا سے نفي صحت مراد لي هے مکر محتمل هے که نفی وجوب مراد هو.

یعنې : لاجمعه ولا تشریق الخ کښې احنافو د (لا) نه نفی دصحت مراد کړیده خو احتمال شته چه ددې نه نفی دوجوب مراد شی. کفایه المفتی (۱۹۶/۳).

و اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال. کله چه احتمال راغې استدلال باطل شو.

٤ – **څلورمه وجه** : د احنافو دپاره دعلی رضی الله عنه په اثر (لا جمعه ولا تشریق الا في مصر جامع) باندې دجمعې او اختر دمانځه په حرمت په کلو او بانډو کښې دلیل نیول ځکه صحیح نه دی چه خپله ددوئ په مینځ کښې د(مصر جامع) په تعریف کښې سخت اختلاف دې. لکه دې باره کښې چه (مصر جامع) څه تعریف لری امام شافعیؒ فرمائي : (لا یدری ما هو التفسیر لمصر جامع).

یعنې : پته نشته چه دمصر جامع څه تفسیر دې. (معرفه السنن والآثار : ۲۹۲/۲).

داحنافو خپل مینځ کښې په دې خبره کښې ډیر زیات اختلاف دې.

دې باره کښې ګنړ اقوال ذکر کولې شی :

۱ – قاضی ابو یوسفؒ وائی چه مصر هغه ځائے دې چه هلته دهر قسم کار کسب خلق موندے شی، دعامو انسانی ضروریاتو تول څیزونه ترلاسه کیږی. اوقاضی هم هلته موجود وی چه

اسلامي حدود او سزاګانې په خلقو جاري کوي.

۲ – چه توله آبادي ئې دلسو زرو کسانو وي.

۳ – چه جنګ کښې په کار راتلونکي لس زره کسان هلته موجود وي.

٤ – چه دشمن پرې حمله اوکړي نودغه خلق په خپله دخپلو ځانونو بچ کولو انتظام کولے شي.

۵ – چرته چه قاضي اوامير موجود وي.

٦ – ددې آبادئ تول خلق په يو لوئے مسجد کښې راتول شي نو په دغه مسجد کښې نه ځائيږي.

۷ – داسې يو مرکزي ځائے وي چه هر قسم کسب ګرديو بل کسب اختيارولو بغير ترېو کال پورے يو ائحے په خپل کسب ژوندولے شي.

۸ – دامام محمدؒ نه روايت دے چه امير کومې آبادئ ته ښار اووائي هغه ښار دے.

۹ – دامام ابو حنيفةؒ نه روايت شوېدے چه هغه ځائے چرته چه مفتي، امير اوقاضي موجود وي چه احکام او حدود قائموي يا کم ازکم ددے دقائميدلو صورت په کښې جوړيدے شي اومکانات ئې دمنیٰ دمکاناتو برابر وي.

۱۰ – درسول الله ﷺ په زمانه کښې دمکې مکرمې اودمدينې طيبې کيفيت لرونکے مقام ښار دے.

۱۱ – دکوم ځائے استوګن خلق چه څلور زره وي.

۱۲ – کوم ځائے استوګن چه يو زر کسان وي.

۱۳ – دخلقو په عرف کښې چه کوم ځائے په کومه زمانه کښې ښار بللے شي اود حکومت داړخه کوم ځائے ته دښار حيثيت ورکړے شي نو هغه ښار وي.

اوګوره : جديد فقهي مسائل تفصيلاً : ۶۱/۱، لمولانا سيف الله خالد رحماني. عمده القاري : ۱۸۷/٦. طحاوي على مراقي الفلاح ص : ۲۳۲. الکوکب الدري : ۱۹۹/۱. کفايه المفتي : ۲۰۰/۳، ۲۰۱، ۱۹٦، ۱۸۲. درمختار على هامش رد المحتار : ۵۸۹/۱. حاشيه کوکب عن جامع الرموز : ۱۹۹/۱. شرح وقايه : ۲٤۰/۱.

داوو داحنافو علماؤ نه د مصر تعريف.

نو ددے **تعريفونو** خپل مينځ کښې ډير لوے فرق دے. بعضے علماء احناف يو تعريف اخلي بعض بل تعريف. نوددے اختلاف په بنياد باندے احنافو دپاره دعلي رضي الله عنه ددے اثر نه دليل نيول درست نه دي. ځکه چه دوئ په کلو او بانډو کښې دجُمعې مونځ جائز نه ګڼړي، او حال داچه دمصر

بعضے تعریفات کوم چه داحنافو نه نقل دی، په ډیرو کلو صادقیږی. لکه دمصر په تعریف کښے یو تعریف دا هم ذکر شو چه :

مصر دیته وائی چه : ما لایسع اکبر مساجد هم المکلفین بها.

یعنی : دیو آبادئ مکلف کسان چه تول په لوئے مسجد کښے دراجمع کیدو اراده اوکړی نو په هغے کښے نه ځائیږی.

اومفتی کفایه الله محدث دهلوی حنفی په کفایه المفتی کښے لیکی :

هان ! یه تعریف بهی ما لا یسع اکبر مساجده اهله المکلفین بها بهت سے فقهاء عظام کے نزدیك معتبر اورمفتی به هے اس لئے اس کے موافق عمل کرنے مین بهی کوئی مضائقه نهین هے.

ترجمه : هاؤ، داتعریف هم چه ما لا یسع اکبر مساجده اهله المکلفین بها ډیرو فقهاؤ په نزد معتبر او مفتی به دے نو ځکه په دے تعریف باندے عمل کولو کښے څه حرج نشته دے. - بل ځائے لیکی :

حد مصر مین ما لایسع اکبر مساجده الخ پر بهت سے فقهاء حنفیه نے فتوی' دیا هوا هے.

(دمصر په تعریف کښے : ما لا یسع کبر مساجده الخ تعریف باندے ډیرو فقهاء احنافو فتوی ورکړیده). اوګوره کفایه المفتی : ۳/۲۱۰، ۲۱۲.

نوکله چه دا تعریف دډیرو اوغتو فقهاؤ احنافو دفتوی مطابق شو نو اوس دے باره کښے دفقهاء احنافو اقرار واوره :

رد المحتار (۱/۵۳٦) کښ دی : وهذا یصدق علی کثیر من القری'.

(اود مصر دا تعریف په ډیرو کلو بانډو باندے صادقیږی).

یعنے دا تعریف چه معتبر شی (لکه څنګه چه دا معتبر او مفتی به دے) نو بیا خو په ډیرو کلو کښے دجُمعے مونځ فرض دے خصوصاً نن صبا خو اکثر کلی دومره غټ دی چه تول مکلف یعنی په چاچه مونځ فرض دے دخپل کلی په یو غټ مسجد ته راشی نو په هغے کښے نه ځائیږی. فتدبر !

بلکه داحنافو علماؤ ددے نه په وړو وړو کلو کښے هم دجُمعے دمانځه جواز نقل دے. لکه کفایه المفتی کښے دی :

سوال : اعظم پور کښے تقریباً (۲۰، ۲۵) مسلمانه کورونه آباد دی، قربانی هرکال کیږی، وړوکے شان مسجد دے، په پنځه وخته مانځه دوه درے کسان وی او دجُمعے په مانځه کښے لس، دولس کسان شرکت کوی، اخترونه هم هلته کولے شی ؟

جواب : اعظم پور وړوکے شان کلے دے په هغے کښے دجُمعے مونځ نه دی کول پکار، اوکه چرے دینی مصلحت وی چه هلته دجُمعے مونځ کول مناسب وی نو بیا داحنافو په نزد خو دجُمعے مونځ کول نه دی جائز. که دنورو امامانو دقول موافق دجُمعے مونځ (داعظم پور خلق) اوکړی نو بیا گنجائش شته دے. - (کفایه المفتی : ۲۰۷/۳).

بل ځائے لیکی :

که چرے په یو ځائے دمصر یو تعریف هم صادق نشی بیا هم په دے مسئله کښے احنافو ته دمصالح عامه اسلامیهٔ په لحاظ دشوافعو په مسلك عمل کول جائز دی.

(کفایه المفتی : ۱۹۵/۳، ۱۹٦ .ومثله فی : ۱۹۲/۳، ۱۹۳، ۲۰۲، ۲۰۷).

دغه شان یوبل حنفی عالم مستقل کتاب په دے موضوع باندے لیکلے دے چه دجُمعے مونځ په هرکلی کښے کول جائز دی چه مطلع الانوارئے نوم دے.

الغرض : دمصر جامع په تعریف کښے داحنافو خپلو کښے غټ اختلاف دغه شان دمصر جامع یوتعریف چه معتبر اومفتی به دعلماؤ احنافو دے چه ډیرو کلو ته مصر جامع وئیل کیدے شی دغه شان دا تول تعریفات شاته کول اودا فتوی ورکول چه په دے کښے دشافعی صاحبؒ په مذهب باندے دمصلحت په بناء عمل جائز دے دے تولو خبرو ته په کتلو سره دا خبره واضحه معلومیږی چه داحنافو دپاره په (لا جُمعه ولا تشریق الا فی مصر جامع) اثر باندے استدلال کول خطاء دی. ځکه چه یوخو دمصر جامع (۱۳) تعریفونه ددوی نه نقل دی چه اکثره یو دبل سره مخالف تعریفونه دی نو په دے کښے یو تعریف اخستل اونور پریخودل هم ترجیح بلا مرجح ده.

بله داچه : که په رشتیا هم دعلی رضی الله عنه اثر په حرمت دلیل شی نوبیا دمصالح عامه په بناء باندے دجواز او گنجائش ورکولو څه مطلب دے !!؟

دمسلك شافعیؒ اومالکیؒ باندے دعمل کولو دگنجائش څه مطلب دے ؟

لکه مخکښے دکفایه المفتی اونورو کتابونو عبارتونه ذکر شو.

مولانا مودودی صاحبؒ په رسائل مسائل کښے لیکی :

دجُمعے په مانځه کښے دمصر شرط کولو متعلق زما داحنافو سره **اختلاف** دے. زما تحقیق دادے چه روستنی خلقو په خپله دامام ابو حنیفهؒ په استدلال او استنباط باندے نه دی پوهه شوی، دامام صاحب مدعی داوه چه دجُمعے مونځ باید داسے ځائے کښے اوشی چه دخپلے علاقے په مینځ کښے

مرکزی حیثیت لری، اودا دحدیث عین مطابق دے. لیکن روستنی خلقو (متاخرینو) دمصر په تعریف کښے تغیر او تبدیل اوکړو اوډیر داسے شرطونه ئے ورسره زیات کړل چه دهغے هیڅ ثبوت نشته.
(رسائل مسائل: ۱۹٤/۱، لمولانا ابو الاعلی مودودیؒ).
۱٤۲٥/۱/۲هـ

جُمعے مانځه دپاره د څو کسانو ضرورت دے؟ او آیا جامع مسجد شرط دے؟

سوال: آیا دجُمعے دمانځه دپاره جامع مسجد شرط دے اوکه نه هر ځائے جائز دے؟ دغه شان دجُمعے دپاره دڅومره کسانو ضرورت دے، یعنی چه څومره مقتدیان راجمع شی نو په هغوئ دجُمعے مونځ فرض وی؟

جواب: دجُمعے دمانځه دپاره مسجد جامع شرط نه دے بلکه هر مسجد او هرځائے کښے جائز دے.
دجُمعے دمانځه دپاره دمسجد جامع شرط ګنړل صحیح نه دی. ځکه الله تعالی اود هغه رسول ﷺ مونږ ته دا نه دی وئیلی چه دجُمعے مونځ به صرف په مسجدجامع کښے کولے شی، اوبل ځائے جائز نه دے!

بلکه رسول الله ﷺ چه په اول ځل مدینے طیبے ته هجرت اوفرمایه نوکله چه (وادی بنی سالم) ته اورسیدلو نو هلته ئے دجُمعے مونځ اوکړو، چه په هغه وخت کښے هلته جامع مسجد لا څه کوے چه هیڅ مسجد هم نه وو!

دغه شان صحابه کرامؓ نه هم ثابت دی چه هغوئ دمسجد نه بغیر په چشمو او ګودرونو کښے دمکے او مدینے ترمینځه دجُمعے مونځ کړے دے.

فتاوی دیوبند (۱٤۷/٥) کښے دے:

جُمعه کے لیے جامع مسجد هونا شرط نهین الخ.

(دجُمعے مونځ دپاره جامع مسجد کیدل شرط نه دی).

فتاوی حقانیه (۳۹۲/۳) کښے دی:

(دجُمعے په ورځ رسول الله ﷺ دقباء نه مدینے طیبے ته تشریف راوړو چه دغه وخت هیڅ مسجد

آباد نه وو، دے وجے نه رسول الله ﷺ په وادی بنی سالم بن عمرو (نومے علاقه) کښے دجُمعے خطبه ورکړه، دا دجُمعے اولنۍ خطبه وه چه دهغوئ نه واورېدلے شوه). ---- اودجمعے دمانځه دپاره دوه کسان ضروری دی لکه څنګه چه دعامو پنځو مونځونو دپاره کم نه کم دوه کسان وی، نو دجُمعے دمانځه دصحت دپاره هم کم از کم دوه کسان ضروری دی چه یو امام وی او بل مقتدی.

احناف دجُمعے دمانځه دصحت دپاره درے مقتدیان ضروری ګنړی، یعنی که درے کسان وو نو دجُمعے مونځ به کوی اوکه ددے نه کم وو نو بیا به جُمعه نه کوی بلکه دماسپخین مونځ به کوی ----- رد المحتار (۱/۵٤٥) کښے دی:

والسادس: الجماعه واقلها ثلاثه سوی الامام ملخصاً.

(شپږم: جماعت دے چه دامام نه سوی درے کسان دی).

چه دامام سره څلور کسان جوړیږی. ومثله فی اعلاء السنن: ۵۳/۸.

فتاوی دیوبند(۹۱/۵) کښے دی:

دجُمعے دپاره ددرے مقتدیانو موجودیدل ضروری دی.

او امام ابو یوسفؒ دوه مقتدیان شرط ګنړی چه دوه کسه مقتدیان وی اویو امام وی نو هم به دجُمعے مونځ کوی. (شرح وقایه: ۲٤۲/۱) وهدایه (۱۶۹/۱).

تنبیه: خو احنافو سره په دے مذکوره اشتراط باندے څه صریح دلیل نشته دے. بلکه صحیح خبره داده چه څومره کسانو ته دپنځه وخته مونځونو امامت او جماعت کولے شی نو هغوی ته دجُمعے مونځ هم کولے شی .اود پنځه وخته مونځونو دجماعت دپاره خو بالا تفاق دوه کسه (یو امام او یو مقتدی) کافی دے لهذا دجُمعے دپاره هم دوه کسان کافی دی.

اوګوره: فتاوی الدین الخالص (۶/) المحلی (۲۵۰/۳).

فقط. وبالله التوفیق. ۱٤۲٤/۱۲/۲۹ هـ.

د جُمعے مونځ په څه موندل کیږي؟

سوال: که یو کس نه دجُمعے دمانځه یو رکعت فوت شی او په دویم رکعت کښے دامام سره شریك شی، نو آیا دغه کس به یو رکعت سره دجُمعے مونځ اونیولو اوکه نه؟

دغه شان که دجُمعے په ورځ یو کس راشی اودده نه دواړه رکعته فوت شی صرف دامام سره په تشهد

یا په سجده کښې شریك شی نو آیا داکس به دجُمعې مونځ کوی اوکه دماسپخین څلور رکعته فرض مونځ به کوی ؟ دقرآن او سنت په رنړا کښې جواب غواړو.

جواب : کله چه یو کس یو رکعت دجُمعې مونځ دامام سره اونیسی نو داکس دجُمعې مونځ اونیولو، دے به صرف یو رکعت بل اوکړی اود جُمعې مونځ به پوره کړی.

په دے مسئله دلیل دادے :

عن ابي هريره – رضی الله عنه – قال : قال رسول الله ﷺ : من ادرك من الجُمعه ركعه فليصل اليها أخرى.

ترجمه : چاچه دجُمعې دمانځه نه یو رکعت دامام سره رالاندے کړو نودے رکعت سره دے بل رکعت ملګرے کړی.

(رواه ابن ماجه : ۱۸۵/۱ . والنسائی : ۲۷۵/۱ . وصححه الشيخ الالبانی. انظر الارواء : ۳).

۲ – عن ابن عمر – رضی الله عنهما – قال : قال رسول الله ﷺ : (من ادرك ركعه من اصلاه الجمعه اوغيرها فقد ادرك الصلاه.

ترجمه : چاچه دجُمعې دمانځه یا دنورو مونځونو نه یو رکعت دامام سره رالاندے کړو نو یقینا ده دغه مونځ اونیولو.

(رواه ابن ماجه : ۱۸۵/۱) (۱۱۲۳).

دا دواړه حدیثونه په دے مسئله باندے دلیل دے چه په یو رکعت موندلو سره هم دجُمعې مونځ موندل کیږی. اودے باره کښې نور احادیث هم شته چه فتاوی الدین الخالص (۱۹۰/٦) ارواء الغليل للامام الالبانی (۸٤/۳ – ۹۰) کښې ذکر دی.

لیکن کله چه دمقتدی نه دجُمعې دواړه رکعته فوت شی اودامام سره صرف په سجده یا تشهد کښې شریك شی نو دا کس به دجُمعې مونځ نه کوی بلکه څلور رکعته مونځ به کوی. ځکه چه دامام سره صرف په تشهد یا سجده نیولو سره مدرك دجُمعې نشی جوړیدے. بلکه دا کس به دماسپخین څلور رکعته کوی.

او په دے مسئله دلائل دادی :

۱ – اول دلیل : مخکښې ذکرشو چه :

من ادرك من الجمعه ركعه فليصل – وفي روايه – فليضف اليها اخرى.

يعنې : چاچه دجُمعې دمانځه يو رکعت اونيولو نودې دې بل رکعت ورسره ملګرې کړي. -----
حافظ ابن حجرؒ فتح الباري (۵۷/۲) کښې اوابن علامه ابن قدامه په المغني (۱۵۹/۲) کښې ليکي :
ددې دحديث مفهوم نه معلوميږي چه که چرې ئې يو رکعت هم اونه موندلو نوبيا ئې دجُمعې مونځ نه دې موندلې.

۲ – عن ابن مسعود – رضي الله عنه – قال : اذا ادرکت رکعه من الجمعه فاضف اليها اخرى، فاذا فاتك الرکوع فصل اربعا.

ترجمه : ابن مسعودؓ فرمائي : کله چه تا دامام سره يو رکعت اوموندلو نو دهغه سره بل رکعت ملګرې کړه، اوکله چه (ددويم رکعت) رکوع در نه فوت شوه نو بيا څلور رکعته مونځ کوه. -----
(رواه ابن ابي شيبه : ۱۲۸/۲. والبيهقي : ۲۰٤/۳ .والطبراني في المعجم الکبير. انظر مجمع الزوائد : ۱۹۲/۲). وارواء الغليل : ۸۱/۳، ۸۲. وسنده صحيح).

۳ – واخرج ابن ابي شيبه عن ابن عمر قال : من ادرك من الجمعه رکعه فليضف اليها اخرى. وفي لفظ للبيهقي : اذا ادرکت من الجمعه رکعه فاضف اليها اخرى، وان ادرکتهم جلوسا فَصل اربعا.
(وسنده صحيح کما في الارواء : ۸۳/۳).

ترجمه : دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دې دا فرمائي چه : څوك دامام سره يو رکعت دجُمعې مونځ اوموموي نو هغې سره دې بل رکعت ملګرې کړي. اود بيهقي په روايت کښې داسې دي چه : (کله چه تا امام سره دجُمعې يو رکعت اونيولو نو هغې سره بل رکعت ملګرې کړه اوکه چرې تا امام په قاعده کښې اونيولو نوبيا څلور رکعته مونځ اوکړه. ددې روايت سند هم صحيح دې.

علامه ابن قدامهؒ په المغني کښې فرمائي :

اکثر اهل العلم يرون ان من ادرك رکعه من الجمعه مع الامام فهو مدرك لا يضف اليها اخرى ويجزيه.

ترجمه : داکثر علماؤ دا رائې ده چه څوك دامام سره يو رکعت دجُمعې مونځ اونيسي نو هغه دجمعې مونځ اوموندلو بل رکعت به ورسره اوکړي ودا ده دپاره کافي دي.

بيا ليکي : وهذا قول ابن مسعود، وابن عمر، وانس، وسعيد بن المسيب، والحسن، وعلقمه، والاسود وعروه ، والزهري، والنخعي، ومالك ، والثوري، والشافعي،واسحق، ابي ثور، و اصحاب الرأي الخ.

یعنې : همدا قول دابن مسعود، ابن عمر، انس، سعید بن المسیب، حسن، علقمه، اسود،عروه، زهري، نخعي، مالك، شافعي، اسحق، ابو ثور اواحنافو دے .

ددے نه روسته امام ابن قدامهؒ لیکي :

اما امن ادرك اقل من رکعه فانه لا یکون مدرکا للجمعه ویصلي ظهرا . وهو قول جمیع من ذکرنا في المسئله قبل هذه. وقال الحکم وحماد وابو حنیفه : یکون مدرکاً للجمعه باي قدر ادرك من الصلاه مع الامام الخ .

ترجمه : اوڅوك چه دیو رکعت نه هم کم (یعنې صرف سجده یا تشهد) اونیسي نودے کس دجُمعے مونځ نه دے موندلے، اودا کس به دماسپخین مونځ کوي . اودا مذهب دتولو هغه علماؤ دے کوم چه مخکښې مسئله کښې ذکر شول .او حکم، حماد او ابو حنیفه وئیلي دي چه : که دامام سر هرځائے کښې شریك شو نودے کس دجُمعے مونځ اوموندلو . (المغني لابن قدامه : ۱۵۸/۳، ۱۵۹) .

دامام ابو حنیفهؒ دلیل قیاس دے . دغه شان هغه په بعضو غیر صریحي روایاتو یا په بل عبارت سره په متشابهاتو باندے استدلال کوي .

امام ابن قدامهؒ لیکي :

ولانه قول من سمینا من الصحابه والتابعین ولا مخالف لهم في عصرهم فیکون اجماعاً .

ترجمه : دا مسئله چه صرف په سجده نیولو یا تشهد نیولو سره مدرك دجُمعے نه ګرځي دهغه صحابه کرامؓ اوتابعینؒ مذهب دے کوم چه مونږ مخکښې دهغوي نومونه ذکر کړل . اوددوئ سره په دے مسئله کښې ددوئ په زمانه کښې هیڅوك مخالف نشته نو په دے مسئله باندے اجماع شوه . (المغني لابن قدامه : ۱۵۹/۲) .

دکتور وهبه الزحیليؒ په الفقه الاسلامي کښې لیکي :

وقال الجمهور : اذا ادرك الرکعه الثانیه مع الامام فقد ادرك الجمعه واتمها جمعه، وان لم یدرك معه الرکعه الثانیه اتمها ظهراً الخ .

(جمهور علماء وائي چه : کله دامام سره دویم رکعت لاندے کړي نو یقیناً دَه دجمعے مونځ اونیولو . اوکه چرے دویم رکعت هم اونه نیسي نو بیائے دجُمعے مونځ نه دے نیولے . بلکه دماسپخین مونځ به پوره کوي .

(الفقه الاسلامي : ۲۷۳/۲) .

دتفصیل دپاره اوګوره : فتاوی الدین الخالص : ۱۹۰/٦ . المجموع شرح المهذب : ٤/٥٥٥ . فتاوی اللجنه : ۳۲٤/۸ . مرعاه المفاتیح للمبارکفوری : ٥٠٤/٤ . الروضه الندیه : ۱۳۸/۱ . السیل الجرار للشوکانی : ۳٠۲/۱ . تحفه الاحوذی : ۳۷۲/۱ . فتح الباری : ٥۷/۲ .

تنبیه : دعلامه ابن قدامهؒ دعبارت (فیکون اجماعا) معلوما شوه چه دا اجماع ده. حال داچه دا اجماع احناف نه منی بلکه ددے اجماع خلاف فتوی ورکوی. او ظلم بالا ظلم دادے چه کله یوه مسئله کښے مونږ دحدیث تابعداری اوکړو اود جمهورو قول پریږدو، نو دوئ چغے اوناری وهی چه اوګورئ داسے کسان پیدا شوی دی چه اجماع نه منی !! داګمراه دی داپے مذهبه دی !!

لیکن کله چه په خپله نه منی نو بیا نه ګمراه دی او نه بے مذهبه ! عجیب عقل !!

مونږ وایو ! تاسو چه کومه اجماع مونږ ته پیش کوئ،اود کومے اجماع منکرین مونږ ګڼړئ که چرے ستاسے کورنئ اجماع راته یادوئ یا داسے اجماع چه داحادیثو خلاف وی یا داسے اجماع چه هرمذهب والائے دعوی' کوی، نو دا اجماع مونږ په رشتیا سره نه منو، ځکه چه دداسے کسانو باره کښے امام احمدؒ فرمائی :

من ادعی الاجماع کذب .

(المحلی لابن حزم :۲٥۳/۳ . مسئله الجمعه) .

(څوك چه داجماع دعوی کوی هغه دروغ وائی) ،

اوکه چرے داسے اجماع راته یادوئ چه هغے باندے تول امت متفق وی اود هغے ماخذ قرآن او حدیث وی، نو بیا راته اوښائے چه مونږ چرته نه ده منلے ؟ مونږ خوداسے اجماع علی الرأس والعین منلے ده. اوڅوك چه وائی چه داسے اجماع هم اهل حدیث والسنه نه منی، نو دا په دوئ غته افتراء او ظلم او بهتان عظیم تړی.

۱٤۲٥/۱/۳ هـ .



کتاب الجنائز

کوم ماشوم چه مړ پیدا شي په هغه دجنازې کولو حکم

سوال : کوم ماشوم چه مړ پیدا شی آیا په ده باندې جنازه کول جائز دی اوکه نه ؟

جواب : الحمد لله رب العالمین والصلاه والسلام علی رسوله محمد وآله وصحبه اجمعین، اما بعد :

کوم ماشوم بچی کښې چه روح واچولې شی په خېټه دمور کښې، نوکه ژوندې پیدا شی اوبیا مړ شی اوبیا مړ پیدا شی نو په هغه باندې جنازه کول په راجح قول دعلماؤ کښې مستحب ده .

دلائل او تائیدات دادی :

۱ - عن المغیره بن شعبه عن النبي ﷺ قال : والسقط یصلی علیه .

(اخرجه ابوداود، واحمد : ٢٤٧/٥، وهو في المشکاه : ١٤٦/١، وهو حدیث صحیح .

او سقط په لغت کښې : الولد الذي یسقط من بطن امه قبل تمامه .

(النهایه : ٣٧٨/٢، لسان العرب : ٢٩٣/٦) .

وفي القاموس: السقط الولد لغير تمام .
دا وجه ده چه ترمذي باب الصلاه على الاطفال كښې راوړېدے .
ثم قال : والعمل عليه عند بعض اصحاب النبي ﷺ وغيرهم قالوا : يصلى على الطفل وان لم يستهل بعد ان علم انه خلق وهو قول احمد واسحق .
۲ – واخرج البيهقي :۹/٤ : عن سعيد بن المسيب ان ابا بكر الصديق قال : صلوا على اطفالكم، فانهم احق من صليتم عليه .
وقد روى هذا من وجه آخر مرفوعاً .
مراد دطفل نه عام دے كه مستهل وى اوكه نه، كما في المغني :۳۹۳/۳ .
وفي روايه ابن ابي شيبه عن ابي بكر – رضي الله عنه – قال : اذا تم خلقه ونفخ فيه الروح صلى عليه .
٤ – واخرج البيهقي : ۹/٤، عن ابي هريره – رضي الله عنه – انه صلى على المنفوس ثم قال : اللهم اعذه من عذاب القبر. واخرجه عبد الرزاق :۵۳۱/۳ .
اومنفوس ذا نفس ته وائي يعنى خاوند دروح .
وفي النهايه (۹۵/۵) : اي طفل حين ولد .
۵ – واخرج عبد الرزاق عن ابن مجاهد وابن سيرين وقتاده وغيرهم انهم فعلوا ذلك .
او په المغني (۳۹۳/۳) كښې ليكى :
والسقط اذا ولد لاكثر من اربعه اشهر غسل وصلى عليه. السقط الولد تضعه المرأه ميتا اولغير تمام فاما ان خرج حيا واستهل فانه يغسل ويصلى عليه بغيرخلاف الخ .
يعنې : ناتمام ماشوم چه كله دځلور مياشتو نه د زياتے مودے پيدا شي نو هغه له به غسل وركولے شي او جنازه به ئے كولے شي. او سقط (ناتمام) هغه ماشوم دے چه ښځه ئے مړ اوزيګوي يا يے مودے پيدا شي. اوكله چه ژوندے پيدا شي او آواز اوكړي نو دلته به غسل وركولے شي او مونځ به پرے كولے شي، په دے كښې څه خلاف نشته .
٦ – ولان في الصلاه عليه دعاء لوالديه وفيه خير فلا يحتاج لذلك بخلاف الميراث .
۷ – دغه شان داماشوم انسان دے قيامت كښې راپاڅيږى نو ځكه مستحق دجنازه دے .
او كومو روايتونو كښې چه استهلال ذكر دے نو دهغے حقيقت دادے :

۱ - اخرج الترمذي والنسائي وابن ماجه والحاكم وابن حبان عن جابر عن النبي ﷺ قال : الطفل لا يصلى عليه ولا يرث ولا يورث حتى يستهل .

روي هذا الحديث مرفوعا بإسناد ضعيف، لان فيه اسماعيل المكي وهو ضعيف، وقال الدارقطني في العلل : لا يصح رفعه، ورواه ابن ماجه من طريق الربيع بن بدر مرفوعا، وهو ضعيف ايضا . قال ابن حجر في التلخيص : ووهم - الحاكم - لان ابا الزبير ليس من شرط البخاري، وقد عنعن فهو علة هذا الخبر ان كان محفوظا عن سفيان الثوري .

نو ثابته شوه چه دا روايت مرفوعا ثابت نه دے، او موقوفا هم په کښے کلام دے چه هغه دابو الزبير عنعنه ده. اوګوره التلخيص الحبير والتحفه : ۱٤٥/۲ .

نو صحيح تطبيق دادے چه هغه مذکوره مرفوع حديث دے اودا متکلم فيه موقوف دے، نو عمل به هغه حديث باندے وی .

او يا په مستهل هم جنازه شته او په غير مستهل هم شته، او د (لا يصلى) نه به مراد (وجوبا) وی، په دے سره تول حديث معمول به ګرځی، اود علماؤدخبرو داسے توجيه کول چه دهغوئ دمذهب خلاف وی جائز نه ده .

وبالله التوفيق . ۱٤۲۰/۱/۱۱ هـ .

د مړی سر او خپو ته سورت بقره وئيل

سوال : دقبر سر اوخپو ته دسورت بقره اولنی او آخرنی آيتونه لوستل په شريعت کښے څه حيثيت لری ؟

جواب : الحمد لله رب العالمين والصلاه والسلام على رسوله ﷺ .

دمړی ددفن کولو نه پس دعا ثابته ده .

اوګوره : صحيح ابن عوانه، فتح الباري : ۱۲۰/۱۱، احسن الفتاوی : ۲۲٤/٤، المشكاه : ۲٦/۱)۔

---- پاتے شو دقرآن کريم لوستل په مقبره کښے نو دا په شريعت کښے نشته دے .

په دے خبره ډير دلائل دی :

۱ - **اول دليل :** رسول الله ﷺ نه په هيڅ صحيح حديث کښے دانه دی ثابت چه هغه دقرآن کريم څه آيتونه په مقبره کښے لوستلی وی، اونه هغه دے عمل ته څه ترغيب ورکړيدے . اودا اتفاقي

قانون دے چه :

عدم النقل دلېل الکراهېه .

ېعنے : درسول الله ﷺ نه چه ېو عمل ثابت نشی نودا دلېل دے په دے چه دا عمل مکروه دے.
(الهداېه : ۸٦/۱، البزازېه).

۲ – **دوېم دلېل** : چه کوم کار د رسول الله ﷺ په زمانه کښے ډېر واقع کېږی دغه شان روسته زمانه کښے هم ډېر واقع کېږی، او بېا هم رسول الله ﷺ دهغے باره کښے څه اونه فرمائېل، نو دلېل دے چه هغه عمل دېن نشی ګرځېدلے، لکه د هغه په زمانه کښے د شماره مړو جنازے شوې دې، او بېا هم هغه دا عمل نه دے کړے اونه ئے چاته حکم کړے چه ته ئے اوکړه، نودلېل شو چه دا بدعت دے.
(مجموع فتاوی شېخ الاسلام : ۱٤۰/۲۱).

۳ – **درېم دلېل** : مسلم (۳۱٤/۱) کښے راځی :عائشه – رضی الله عنها – درسول الله ﷺ نه پوښتنه اوکړه چه زه کله مقبرے باندے ورتېرېږم نو څه به واېم ؟ نو رسول الله ﷺ ورته دا دعاء اوخودله چه : السلام علی اهل الدېار ... الحدېث.

نو علماء وائی چه دا مقام دبېان وو اود قرآن دآېتونو دلوستلو ترغېب ئے ورنه کړو، نو دا ددے خبرے دلېل دے چه په مقبره کښے قرآن لوستل نشته.

٤ – **څلورم دلېل** : رسول الله ﷺ فرمائی :

(لا تجعلوا بېوتکم مقابر، فان الشېطان ېفر من البېت الذي ېقرأ فېه سوره البقره).

ترجمه : دخپلو کورونو نه مقبرے مه جوړوئ – چه قرآن په کښے نه لولئ – ځکه شېطان دهغه کور نه تختی په کوم کښے چه سورت بقره لوستلے شی.

(مسلم : ۸۸/۱، ترمذی :۳۲/۳، مسند احمد :۲۸۳/۲، مشکوه : ٦۹/۱).

نوددے حدېث نه معلومه شوه چه مقبره دقرآن کرېم لوستلو ځائے نه دے خصوصاً سورت البقره لوستل په کښے جائز نه دی.

٥ –**پنځم دلېل** : دجمهورو علماؤ رائے داده چه مقبره کښے قرآن لوستل مکروه دی. -- ېکره قرائه القرآن في المقبره مطلقاً واما الاستېجار لذلك فمتضمن لبدعات کثېره.

(نور الاېضاح فصل في حملها ودفنها حاشېه ص :۱۳٤).

ېعنے : مقبره کښے قرآن لوستل مطلقاً مکروه دی. او په مزدورئ ورله قارېان نېولو کښے خو بېا ډېر

بدعات راجمع دی.

قال ابوداود في مسائله ص (۱۵۸) : سالت احمد عن قرائه القرآن عند القبر فقال : لا.

(امام ابوداودؒ په خپل مسائلو کښې وائی : ما دامام احمدؒ نه تپوس اوکړو چه دقبر خواته قرآن لوستل څنګه دی ؟ هغوئ وئیل : نشته).

دغه شان امام ابو حنیفۃؒ فرمائی : یکره قرائه القرآن في المقبره.

(په مقبره کښې قرآن لوستل مکروهه دی).

(مقدمه ریاض الصالحین ص : ۱۷، حاشیه نور الایضاح فصل في حملها ودفنها).

دارنګ اقتضاء الصراط المستقیم کښې شیخ الاسلام لیکی :

امام ابوحنیفۃؒ، امام مالك او امام احمدؒ په مقبره کښې قرآن کریم لوستل مطلقاً منع ګنړی، اود امام شافعيؒ نه په کښې صراحتاً څه نقل نشته، لیکن ښکاره داده چه هغه هم ورته مکروه وائی ځکه دهغه قول دادے چه مړو ته ثواب دلوستلو دقرآن نه ور رسیږی، دے وجے نه دهغه په نزد هم قرآن لوستل په مقبره کښې مکروهه شو.

(ابن کثیر ص : ۲۵۸، سورت النجم).

نودا ثابته شوه چه دڅلورو امامانو اودغه شان دنورو علماؤ په نزد په مقبره کښې قرآن لوستل مکروهه شول.

۶ – **شپږم دلیل** : فقهاؤ دفقه په کتابونو کښې (کوم چه مشهور دی) داخبره نه ده راوړے چه دسورت بقرے اول او آخر به دمړی سر اوخپو ته لولی.

باقی کوم **حدیث** کښې چه دابن عمر رضي الله عنه نه راغلی دی چه نو دهغې باره کښې تحقیق دادے چه دغه روایت په کتاب الروح ص (۱۳) دابن قیم، کتاب التذکره دقرطبي ص (۸٤)، حیاه الصحابه للکاندهلوي (۲۹۱/۳) المشکوه (۱٤۹/۱) ابن العساکر (۳۹۹/۱۳) او کنز العمال (۷۳٤/۱۵، رقم : ٤۲۹۲۱) او السنن الکبری ص :(۵٦) کښې دے. لیکن دهرحدیث دپاره صحیح سند ضروري وی، اوددے حدیث سند داسے دے :

قال الخلال :حدثنا الحسن ابن احمد الوراق، حدثنا علی بن موسی الحداد وکان صدوقاً عن محمد بن قدامه الجوهري عن مبشر الحلبي عن عبد الرحمن بن العلاء بن العجلان عن ابیه عن ابن عمر انه اوصی بذلك.

لیکن علمائے حدیث وائی چه دا سند ډیر ضعیف دے،ځکه الحسن بن احمد مجهول دے، دغه شان علي بن موسی هم مجهول دے، او عبد الرحمن بن العلاء هم مجهول دے، کما في المیزان والتقریب.

نودا حدیث دابن عمر رضي الله عنه نه دے ثابت، زمونږ دین په د اسے کمزورو او واهیاتو باندے بناء نه دے. --- لسنن والمبتدعات (۱۰٦/۱) کښے وائی: چه دا بدعت دے.

کوم خلق چه وائی چه په **ضعیف حدیث** باندے په فضائل الاعمال کښے عمل کول جائز دی نو داخبره مطلقاً داسے نه ده، بلکه دا مشروط ده په یو څو شرطونو باندے:

۱ – حدیث به ډیر ضعیف نه وی.

۲ – دهغے اصل به موجود وی.

۳ – دصحیح احادیثو خلاف به نه وی.

٤ – همیشه دپاره به پرے عمل نشی کیدے.

٥ – سنت به ورته نه وائی.

کما حقق ذلك ابن حجرؒ وغیره. نو ثابته شوه چه په دغه روایت باندے عمل کول خلاف دی دمذکوره دلائلو نه، نوځان ترے ساتل پکار دی. خصوصاً دا یوه فقهی قاعده ده چه:

اذا دار الشئ بین کونه مستحبا أو بدعه فترکه واجب. (کما في رد المحتار: ۴۳۱/۱).

(کله چه یو شے متردد شی داستحباب او بدعت ترمینځه نو پریخودل ئے واجب دی).

وبالله التوفیق.

د ښځے یا خاوند یو بل ته غسل ورکول

سوال: آیا ښځه خپل خاوند ته غسل ورکولے شی که نه! دغه شان که ښځه مړه شی نودهغے خاوند هغے ته غسل ورکولے شی که نه؟

جواب: په اوله خبره چه ښځه خپل مړ شوی خاوند ته غسل ورکولے شی اتفاق دعلماؤ دے۔

اودلائل ئے دادي:

۱ – عن عائشه – رضي الله عنها – قالت: لو کنت استقبلت من امري ما استدبرت ما غسل النبي ﷺ غیر نسائه.

(عائشه رضي الله عنها فرمائي : که ماته مخکښې هغه خبره معلومه وې کومه چه راته روسته معلومه شوه نو رسول الله ﷺ ته به دهغه دبیبیانو نه علاوه بل چا غسل نه وې ورکړې) .

دا حدیث ابوداود او حاکم : ۵۹/۳، البیهقی : ۳۸۷/۳، مسند احمد : ۲۶۷/۶، المنتقی : ۲۵۷، روایت کړیدې . وسنده صحیح، انظر صحیح ابي داود للالباني : ۶۰۷/۲، رقم : ۲۶۹۳، وابن ماجه : ۲۴۷/۱ .

۲ – ابو بکر صدیق – رضي الله عنه – وصیت کړې وو چه ماته دې زما ښځه غسل راکړی نو دهغه بي بي، اسماء بنت عمیس – رضي الله عنها – ابو بکر – رضي الله عنه – ته غسل ورکړو.---- اوګوره : موطا امام مالك، بیهقی : ۳۹۷/۳، ابن ابي شیبه : ۲۴۹/۳، نیل الاوطار : ۲۹۹/۱، و : ۵۸/٤) .

۳ – جابر بن زید – رضي الله عنه – هم وصیت کړې وو چه ماته دې خپله ښځه غسل راکړی .(ابن ابي شیبه : ۲۴۹/۳) .

٤ – ابوموسي اشعري – رضي الله عنه – ته هم خپلې ښځې غسل ورکړې وو .

(مصنف ابن ابي شیبه : ۲۵۰/۳) .

دغه شان دجواز فتوی دابوسلمه،عطاء، سلیمان بن موسی نه هم نقل ده . (پورتنۍ حواله) . ---- علماء هم دجواز قائل دی . اوګوره : البحر الرائق : ۱۷٤/۲، رد المحتار :۱۹۸/۲، فتاوی دیوبند : ۲۴۶/۵، حاشیه کنز : ۵۰/۱) .

۵ – قرآن او حدیث کښې منع نه ده راغلې چه ښځه دې خاوند ته غسل نه ورکوی .

دویم صورت :

خاوند خپلې مړې ښځې ته غسل ورکولې شی که نه ؟ راجحه خبره داده چه خاوند خپلې ښځې ته غسل ورکولې شی .

ددې دلائلو په وجه :

۱ – عن عائشه – رضي الله عنها – قالت : رجع الی رسول الله ﷺ من جنازه بالبقیع وانا اجد صداعا في رأسي، واقول : وارأساه ! فقال : بل وانا وارأساه ! ما ضرك لومت قبلي فغسلتك وكفنتك ثم صلیت علیك ودفنتك .

(اخرجه احمد : ۲۲۸/۶، والدارمي : ۳۷/۱، وابن ماجه : ٤٤٨/۱، وابن هشام في السیره : ۳۶۶/۲،

والدارقطني : ١٩٢، والبيهقي : ٣٩٦/٣، والحديث حسن انظر صحيح ابن ماجه : ٢٤٧/١، رقم : ١١٩٧، ارواء الغليل رقم : ٧٠٠).

ترجمه : عائشه - رضي الله عنها - فرمائي : رسول الله ﷺ ديوے جنازے نه چه په بقيع کښے وه راواپس شو اوزما په سر درد وو اوما دسر درد نه شکايت کولو، نو ماته رسول الله ﷺ اوفرمائيل : زما هم سر خوګيږي (ته څه غم کوے) که مانه مخکښے مړه شوے نو زه به غسل درکړم، کفن به درکړم، جنازه به دے اوکړم بيا به دے خښه کړم.

نوددے حديث شريف نه دا مسئله **معلومه** شوه چه خاوند خپلے ښځے ته غسل ورکولے شي. ځکه رسول الله ﷺ خپلے بي بي - عائشے رضي الله عنها - ته اوفرمائيل : چه زه به غسل درکړم. که دا جائز نه وے نو رسول الله ﷺ به هغے ته دانه فرمائيل.

٢ - ان فاطمه بنت رسول الله ﷺ قالت :يا اسماء ! اذا انامت فاغسليني انت وعلي بن ابي طالب، فغسلها علي واسماء بنت عميس. (اخرجه البيهقي : ٣٩٦/٣).

ترجمه : فاطمه - رضي الله عنها - اسماءؓ ته اوويل : کله چه زه مړه شم نو ماته به ته او زما خاوند علي - رضي الله عنه - غسل راکوئ، نو کله چه مړه شوه نو عليؓ او اسماءؓ دواړو ورته غسل ورکړو.

نودا درسول الله ﷺ دلورمبارکے وصيت دے اود خلفاء راشدينؓ نه يو ديو خليفه عمل دے، او نورو صحابه کرامؓ هم په دے رد نه دے کړے، نو دا ددے دليل دے چه خاوند ښځے له غسل ورکولے شي.

---- او څوك چه دتخصيص خبره کوي چه دا خاص وو دعلي - رضي الله عنه - پورے لکه فتاوى ديوبند :٢٤٧/٥، او شامي کښے دي. او استدلال په حديث کوي. ---- نو **اول** خو مونږ دا حديث په دے الفاظو چرته نه دے موندلے.

دويم دا چه : هغه خو دقيامت سره خاص دے ځکه دقيامت تذکره ورسره شويده.

نو څوك چه دمنع دغسل قائل دي دهغوئ خبره صحيح نه ده.

٣ - عن ابن عباس - رضي الله عنهما - قال : الرجل احق بغسل امرأته.

ترجمه : خاوند ډير حقدار دے په دے باندے چه خپلے ښځے له غسل ورکړي.

(ابن ابي شيبه :٢٥٠/٣).

٤ - البيهقي (٣٩٧/٣) کښے دي چه دجواز فتوى دابن مسعود، ابن عباس، علقمه، جابر بن زيد - رضي الله عنهم - او ابو قلابهؒ نه هم روايت دے.

دغه شان حسن بصريؒ نه هم نقل دی، چه هغه هم دا جائز ګڼړله چه خاوند ښځې له غسل ورکړي.
----- او ابو سلمهٔ او سليمان بن يسارؒ هم دا وئيلی دی، چه:
يغسل الرجل امرأته. (اوګوره ابن ابي شيبه: ۳/۲۵۰).
ائمه ثلاثه: امام مالك، امام شافعي او امام احمد - رحمهم الله - تول دیته جائز وائی، چه خاوند خپلې مړې ښځې له غسل ورکولے شي.
باقی تفصيل په فتاوی الدين الخالص (۷) جلد کښې اوګوره.
۱٤٢٤/٢/٤هـ.

جنازے مانځه دپاره د تيمم وهلو حکم

سوال: دجنازے مانځه دپاره تيمم وهل جائز دی که نه؟ مثلاً: اوبه هم وی لیکن که چرے دا کس اودس کوی نو دجنازے مونځ ورنه فوت کيږی.
جواب: دجنازے مانځه یا اختر مانځه دپاره تيمم کول سره داوبو ملاويدو نه جائز نه دے. ځکه تيمم خو هغه وخت جائز وی، چه اوبه موجود نه وی، لکه حديث کښے دی:
عن حذيفه - رضي الله عنه - قال: قال رسول الله ﷺ: جعلت لي تربتها طهورا اذا لم نجد الماء.
----- (رواه مسلم: ١/١٦٠، والبيهقي: ١/٢٣٠، وغيرهما).
ترجمه: دزمکے خاوره ماته پاکونکے ګرځولے شویده کله چه مونږ اوبه مونده نه کړو.
نوکله چه اوبه موجودے وی او انسان په اوبو استعمالولو باندے قادر هم وی، نو بیا ده دپاره تيمم وهل څنګه جائز شی؟
کوم خلق چه وائی، چه دمړی ولی به تيمم نه کوی اوبل څوك ئے کولے شی. نوپه دے فرق باندے هيڅ دليل شرعي نشته. سيوا ددے نه چه که دا سړے اودس کوی، نوبيا ورنه دجنازے مونځ فوت کيږی.
نوددے **جواب** دادے چه دجنازے مونځ فرض عين نه دے بلکه فرض کفائي دے نوکه فوت شو څه حرج په کښے نشته، ځکه دا کس معذور دے الله تعالی دے نه ګنهګاروی.
اوګوره فتاوی الدين الخالص المجلد السابع.

دجنازې په مانځه کښې سورت فاتحه وئېل ضروري دي

سوال : دجنازې په مانځه کښې سورت فاتحه لوستل په صحیح حدیث کښې ثابت دي اوکه نه ؟ دقرآن او سنت په رنړا کښې مدلل اوتفصیلاً جواب اولیکئ، وجزاکم الله خیرا .

جواب : دجنازې مونځ کښې سورت فاتحه لوستل ضروری دی، دے باره کښې درسول الله ﷺ نه اودهغه دصحابه کرامؓ نه احادیث صحیحه راغلی دی چه سورت فاتحه په جنازه کښې شته دے.

دغه شان دتابعینو، تبع تابعینو اوپے شماره نورو علماؤ اقوال هم راغلی. چه ددے نه دلته یو څو دلائل ذکر کولے شی.

١ – عن طلحه بن عبد الله بن عوف قال: صلیت خلف ابن عباس علی جنازه فقرأ بفاتحه الکتاب قال: لتعلموا انها سنه.

(رواه البخاري : ١/، ١٣٣٥، وابوداود :١/، ٣١٩٨، والترمذي : ١/، ١٢٧).

ترجمه : طلحه بن عبد الله وائی : ما ابن عباس – رضي الله عنهما – پسے دجنازے مونځ اوکړو نوهغه په کښې سورت فاتحه اولوستله او وے فرمائیل : چه تاسو ته پته اولګی چه دا سنت دے (درسول الله ﷺ).

٢ – طلحه بن عبد الله بن عوف فرمائی :

صلیت خلف ابن عباس علي جنازه فقرأ بفاتحه الکتاب وسوره وجهر حتی اسمعنا فلما فرغ اخذت بیده فسالته قال : سنه وحق.

ترجمه : ما دعبد الله بن عباس – رضي الله عنهما – پسے دجنازے مونځ اوکړو هغه سورت فاتحه او یوسورت په زوره اولوستلو تردے چه مونږ ته ئے را واورولو، کله چه جنازه اوشوه ما دابن عباسؓ لاس اونیولو او تپوس مے ترے اوکړو، نو هغه اوفرمائیل : بیشکه چه دا حق اوسنت دے.

(النسائي :١٩٨٦، المنتقی لابن الجارود : ٥٣٦، البیهقي : ٣٨/٤، مسند ابي یعلی : ٦٧/٥، ٢٦٦١، الاوسط لابن المنذر : ٤٣٧/٥، مستدرك حاکم :٣٥٨/١، وابن ماجه : ٢٢٩/٢، صحیح ابن حبان :٦٧/٥، کتاب الام : ٢٧٠/١، شرح السنه : ٣٥٣/٥، ١٤٩٤، المحلی : ١٢٩/٥، مسند طیالسی : ٢٧٤١، دارقطني : ٧٢/٢، شرح معانی الاثار : ٥٠٠/١، مصنف عبد الرزاق : ٤٨٩/٣، مصنف ابن ابي شیبه : ٢٩٨/٣، وغیرها).

٣ – ابوامامه سهل بن حنیف – رضي الله عنه – فرمائی :

السنه في الصلاه على الجنائز ان يكبر ثم يقرأ بام القرآن ثم يصلى على النبي ﷺ ثم يخلص الدعاء للميت، ولا يقرأ الا في التكبيره الاولى ثم يسلم في نفسه عن يمينه.
(النسائی : ۱۹۸۸، الاوسط : ۴۳۷/۵، مصنف عبد الرزاق :۴۸۹/۳، ۴۹۰، رقم : ٦٤٢٨، المنتقى لابن الجارود : ۵۴۰، فضل الصلاه على النبي ﷺ لاسماعيل القاضي : ۹۴، فتح الباري : ۲۰۳/۳، وقال : اسناده صحيح).

ترجمه : په جنازه کښې سنت طريقه داده چه اول تکبير اووئيلے شی بيا سورت فاتحه اووائی (اوددويم تکبير نه روسته) په نبي كريم ﷺ باندے رود اووائی، او (ددريم تکبير نه روسته) دمړی دپاره په اخلاص سره دعاء اوغواړی. اود اول تکبير نه سيوا بل هيڅ ځائے کښې به قرأت (قرآن) نه لولی. بيا به دځان سره رو ښی طرفته سلام واړوی.

۳ – عن ابي امامه – سهل بن حنيف، وكان من كبراء الانصار وعلمائهم وابناء الذين شهدوا بدراً مع رسول الله ﷺ – ان رجلاً من اصحاب النبي ﷺ اخبره ان السنه في الصلاه علي الجنازه : ان يكبر الامام ثم يقرأ بفاتحه الكتاب سراً في نفسه، ثم يختم الصلاه في التكبيرات الثلاث. ----- (شرح معانی الآثار : ۵۰۰/۱، البيهقی : ۴۰/۴، معرفه السن والآثار : ۱۶۸/۳، مسند الشافعي ص : ۳۵۹).

ترجمه : دابو امامه – رضي الله عنه – نه روايت دے چه دا دانصارو مشرانو اوعلماؤ نه وو اودهغه صحابه كرامؓ دځامنو نه وو کوم چه بدر ته حاضر شوی وو، دے فرمائی : چه د رسول الله ﷺ يو صحابی ده ته خبر ورکړو چه دجنازے په مانځه کښې سنت طريقه داده چه امام به تکبير اووائی بيا به په رو سورت فاتحه اولولی، بيا به باقی مونځ په درے تکبرونو کښې ختم کړی.

په دے احاديثو کښې چه دسنت لفظ راغلے دے نو ددے نه مراد درسول الله ﷺ سنت مراد دے. ----- لکه امام حاکم فرمائی :

وقد اجمعوا على ان قول الصحابي سنه حديث مسند. (مستدرك :۳۵۸/۱).

(دفقهاؤ اومحدثينو په دے اجماع ده چه کله صحابی دسنت لفظ ذکر کړی نوددے نه مراد درسول الله ﷺ سنت وی).

امام شافعی – رحمه الله – په کتاب الام : ۴۲۰/۱، کښې فرمائي :

واصحاب النبي ﷺ لا يقولون : السنه، الا لسنه رسول الله ﷺ ان شاء الله.

ترجمه : دنبي كريم ﷺ صحابه كرام ؓ دسنت لفظ درسول الله ﷺ دسنت دپاره استعمالوی.
----- اودا قاعده متفقه علیه ده.ددے دپاره دا کتابونه اوګوره :

(عمده الرعايه : ۱٤۰/۸، الجوهری النقي : ۳۰۳/۱، المجموع : ۲۳۲/۵، التحرير لابن همام :۱٤۹/۳، فتح القدير شرح الهدايه : ۲۱۲/۱، مرقات : ٦۳۸/۲، نصب الرايه : ٤۱۳/۱، وحاشيته : ۲۷۱/۲، فتح الباري :۲۰٤/۳، المقنع : ۱۲۵/۱، المستصفي : ۱۳۱/۱، تدريب الراوي :۹۷/۱، الفيه السيوطي : ۲۱، شرح نخبه الفكر : ۱۱۰، الباعث الحثيث :٤٤، قواعد التحديث : ۱٤٤، ارشاد الفحول :۹۳، المغني : ٤۰۳/۳، آپ کے مسائل اور ان کا حل : ۲٤۵/۲، لمبشر احمد رباني حفظه الله تفصيلاً وغيره).

دے باره کښے ډیر زیات احادیث راغلی دی چه دلته مونږ په دے باندے اکتفاء کوو.

په جنازه کښے دسورت فاتحے باره کښے دصحابه کرامو آثار

مولانا محمد شاهي شواتي صاحب په نيل المفازه کښے تفصيلاً دصحابه کرامؓ آثار ليکلی چه دهغے خلاصه داده :

۱ – عبد الله بن مسعود – رضي الله عنه.

(مصنف ابن ابي شيبه : ۲۹۷/۳، معرفه السنن والآثار :۱٦۹/۳، المحلی : ۹۰۵، السنن الكبری : ۳۹/٤، الاوسط :٤۳۸/۵، شرح السنه : ۳۵٤/۵، وغيره).

۲ – عمرو بن العاص – رضي الله عنه :

(معرفه السنن والآثار : ۱٦۹/۳، كتاب الام : ۳۰۹/۱، السنن الكبری للبيهقی : ۳۹/٤، مسند الشافعي : ۳۵۹، شرح السنه : ۳۵٤/۵).

۳ – ابو هريره رضي الله عنه :

٤ – ابودرداء رضي الله عنه :

۵ – انس بن مالك رضي الله عنه :

(المحلی : ۹۱/۵، عمده القاري : ۱۹٤/٦، مصنف عبد الرزاق : ٤۹۲/۳، مجمع الزوائد : ۱۳۸/۳، الطبراني في الاوسط : ۲۵۹/۹، سبل الهدی للصالحي : ۳٦۸/۸).

٦ – ابو بكر صديق رضي الله عنه :

۷ – سهل بن حنيف رضي الله عنه :

(معرفه السن والآثار : ۱۶۹/۳، کتاب الام :۳۰۹/۱، عمده القاري : ۱۹٤/٦، الاوسط : ٤٤٥/٤، تهذيب الآثار لابن جرير الطبري : ۱۸۲/٥) .

۸ – ابودرداء رضي الله عنه :

(مصنف عبد الرزاق : ٤٩٢/۳، عمده القاري : ۱۹٤/٦، المحلی : ۹۱/٥) .

۹ – ام عفيف النهديه رضي الله عنها :

(المعجم الکبير : ۱٦۸/۲٥، مجمع الزوائد : ۱۳۸/۳، تحفه الاحوذي :۹۲/٤، عمده القاري : ۱۹۳/٦، معرفه الصحابه لابي نعيم الاصبهاني : ۳٥٤۱/٦) .

۱۰ – عبد الله بن زبير رضي الله عنه :

(عمده القاري : ۱۹٤/٦، شرح صحيح بخاري لابن بطال ۳۱٦/۳، مختصر اختلاف العلماء : ۳۹۲/۱) .

۱۱ – اسماء بنت يزيد رضي الله عنها :

(المعجم الکبير : ۱٦۲/۲٤، مجمع الزوائد : ۱۳۷/۳) .

۱۲ – حبيب بن مسلمه رضي الله عنه :

(شرح معاني الاثار : ۲۹/۲، تاريخ دمشق : ۱٥۳/٥۳، مسند الشاميين :۱٦۱/٤، الاستذکار : ۲٦۳/۸) .

۱۳ – عبيد بن عمير رضي الله عنه :

(الاستذکار لابن عبد البر : ۲٦٥/۸) .

ددې تولو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه نقل دی، چه دوئ به جنازه کښې سورت فاتحه لوستله .

دجنازې په مانځه کښې د

سورت فاتحې لوستلو باره کښې دعلماؤ اقوال :

دعلماؤاقوال خو په دې باره کښې بې شماره دی، چه هغوئ په جنازه کښې دفاتحې وئيلو قائل دی . ليکن دلته صرف دېو څو حنفی علماؤ اقوال ذکرکولے شي :

۱ – علامه حسن الشرنبلالي حنفي مستقله رساله ليکلے چه دهغې نوم دے :

النظم المستطاب لحکم القرائه في صلاه الجنازه بام الکتاب .

دې کتاب کښې هغه داثابته کړې چه په جنازه کښې فاتحه لوستل مشروع دی .

(امام الکلام ص : ۳٤۱، التعلیق الممجد ص : ۱٦۹،مراقي الفلاح ص : ۲۳۰).

۲ – علامه عبد الحي لکهنويؒ دشرنبلالي دکتاب ذکرکولو نه روسته فرمائی :

هذا هو الاولی لثبوته عن رسول الله ﷺ واصحابه.

(التعلیق الممجد علی موطا امام محمد ص : ۱٦۹).

ترجمه : دجنازے په مانځه کښے دسورت فاتحے دلوستلو خبره غوره ده، ولے چه دنبي کریم ﷺ اود هغه دصحابه کرامو نه ثابته ده.

دغه شان دے په خپل کتاب امام الکلام کښے دډیر تفصیل نه روسته لیکی :

ولم ار نصا قاطعا للمنع مقتضیا لعدم جواز قرائه الفاتحه في صلاه الجنازه.

(ما په جنازه کښے دسورت فاتحے دناجائز والی باره کښے هیڅ نه دے لیدلے.

۳ – علامه شاه ولی الله صاحبؒ لیکی :

ومن السنه قرائه فاتحه الکتاب لانها خیر الادعیه واجمعها، علمها الله تعالی عباده في محکم کتابه. – حجه الله البالغه : ۳٦/۲.

ترجمه : دجنازے په مانځه کښے سورت فاتحه وئیل سنت دی ځکه دا په تمامو دعاګانو کښے بهترینه اوجامعه دعاء ده، الله تعالی دا خپلو بندګانو ته په خپل محکم کتاب کښے ورخودلے ده.

٤ – قاضي ثناء الله پانی پتي حنفی په خپل وصیت نامه کښے لیکی :

وبعد تکبیر اولی سورت فاتحه هم خوانند. (ما لا بد منه ص : ۱۳۸).

ترجمه : (زما په جنازه کښ) دتکبیر اولی نه روسته به سورت فاتحه هم اووائی.

دتفصیل دپاره اوګوره :

(الروضه الندیه : ۱٦٥/۱، تحفه الاحوذي : ۱٤۲/۲، موارد الظمآن : ۲۹٦/۲، مرعاه : ۳۸۰/٥، مجموعه رسائل اللکنوي :۲٦۹/۳، فتح الباري : ۱٥۸/۳، الغنیه : ۱۳۳/۲، المحلی : ۳٥۱/۳، تفهیم المسائل : ۲٥۹/٦، کتاب الام : ۲۷۰/۱، المغني : ۳٦۷/۲، فتاوی اللجنه : ۲٥۹/۸، آپ کے مسائل اور ان کا حل : ۲٤۲/۲، جامع الفقه لابن القیم : ٤٥۳/۳، مغني المحتاج : ۳٤۱/۱، فتاوی الدین الخالص : ۷/) .نیل المفازه في اثبات قرائه الفاتحه في صلاه الجنازه لمولانا محمد شاهي سواتي، التحقیقات في رد الهفوات : ٥۹۹، الموسوعه الفقهیه :٤/، احکام الجنائز للالباني).

د جنازے په مانځه کښے سبحانك اللهم وئیل نشته

سوال : آیا دجنازے په مانځه کښے : (سبحانك اللهم وبحمدك وتعالی جدك وجل ثناؤك) لوستل

شته دے ؟ آیا دے باره کښے کوم دلائل راغلی دی چه دا به لولی ؟

جواب : دجنازے په مانځه (سبحانك اللهم) لوستل ثابت نه دي، دے باره کښے هیڅ صحیح حدیث نه دے راغلے، اونه دکوم صحابی نه په صحیح سند سره ددے نقل شته .

پاتے شو قیاسونه، نو په قیاسونو باندے عبادتونو نه ثابتیږی خصوصاً داسے مقام کښے ځکه په دے باندے دعلماؤ اتفاق دے چه مبنی دعباداتو په نقل ده، په عقل سره نه ده. دے وجے نه دجنازے په مانځه کښے د سبحانك اللهم په وئیلو باندے علماؤ رد کړیدے .

لکه علامه ابن المنذرؒ په الاوسط : ٥/٤٣٤، کښے فرمائی :

لم نجد في الاخبار التی جائت عن النبي ﷺ انه قال بعد ان افتتح الصلاه علی الجنازه کما ان افتتح الصلاه المکتوبه قولاً، ولا وجدنا ذلك عن اصحابه ولاعن التابعین . وقال احمد : ما سمعت .

ترجمه : لکه څنګه چه دفرض مانځه په شروع کښے دنبي کریم ﷺ نه دعاء استفتاح نقل ده، نو داشان نقل دجنازے په مانځه کښے په هیڅ یو حدیث کښے نه دے راغلے چه دالله رسول ﷺ دے دجنازے په مانځه کښے دعاء الاستفتاح (سبحانك اللهم) وئیلی وی، اونه دصحابه کرامؓ او تابعینوؒ نه یو روایت راغلے چه هغوئ لوستلے وی، امام احمدؒ فرمائی : ما هم نه دی آوریدلی .

امام ابوداوُدؒ په مسائل احمد ص (١٥٣) کښے فرمائی :

سمعت احمد سئل عن رجل یستفتح علی الجنازه سبحانك اللهم .... قال : ما سمعت .

یعنے : ما داحمدؒ نه واوریدل چه دهغه شخص باره کښے ترے تپوس اوشو چه هغه دجنازے په مانځه کښے سبحانك اللهم لولی، نو امام احمدؒ اوفرمائیل : ما هیڅ نه دا نه دی آوریدلی . ----- امام البانيؒ په احکام الجنائز ص : ١١٩، کښے لیکی :

ان دعاء الاستفتاح في صلاه الجنازه غیر مشروع وهو قول الشافعیه .

(داستفتاح دعاء – سبحانك اللهم وغیره – په جنازه کښے وئیل جائز نه دی، اوهمدا دشوافعو قول هم دے) .

الموسوعه الفقهیه :٤/١٣٨، کښے دي :

ولیس في صلاه الجنازه دعاء الاستفتاح، لعدم ورود ذلك .

یعنے : دجنازے په مانځه کښے سبحانك اللهم وغیره نشته، ځکه ددے نقل نه دے راغلے .

باقي کوم خلق چه دسبحانك اللهم په وئیلو باندے دبعضے آثارو نه استدلال کوی لکه دابو هریره

رضي الله عنه نه نقل دي، چه :

فاذا وضعت كبرت، وحمدت الله وصليت على نبيه .

(رواه مالك في الموطا :٧٦) .

یعنې : کله چه جنازه کېخودلې شي نو تکبیر اووایه، دالله حمد اوثناء اووایه او په نبي کریم ﷺ باندې درود اووایه .

نودلته دوئ وائي چه مراد د (حمدت الله) نه سبحانك اللهم ده !

جواب : دلته مراد د(حمدت الله) نه فاتحه ده، اودا چا وئیلي چه سبحانك اللهم ده ؟ ----- ځکه سورت فاتحې ته خپله په احادیثو کښې حمد او ثناء وئیلې شوېده :

لکه صحیح حدیث کښې دي :

قال الله : قسمت الصلاه بيني وبين عبدي، فاذا قال : الحمد لله رب العلمين، قال الله : حمدني عبدي، واذا قال : الرحمن الرحيم، قال : اثنى علي عبدي (رواه مسلم) .

ترجمه : الله فرمائي : مونځ - یعنې سورت فاتحه - زما او زما دبنده ترمینځه تقسیم شوېده، کله چه بنده الحمد لله رب العلمين اووائي، نو الله فرمائي : بنده زما حمد او ثناء اووئیله، اوکله چه بنده : الرحمن الرحیم اووائي، نو الله فرمائي : بنده زما صفت اوکړو .

نو اوګوره ! دلته په صحیح حدیث کښې سورت فاتحې ته حمد او ثناء وئیلې شوېده . لهذا ثابته شوه چه دابو هریرهؓ په دغه روایت کښې دحمد نه مراد سورت فاتحه ده، نه سبحانك اللهم .

دویم استدلال : دا خلق په اثر دابن عباس - رضي الله عنه - کوي چه ابو حمزه فرمائي : ما دابن عباسؓ نه تپوس اوکړو :

كيف اصلى في الكعبه ؟ قال : كما تصلي في الجنازه، تسبح وتكبر او تضرع واستغفر ولا تركع ولا تسجد . (اورده ابن حجر في فتح الباري، وسنده صحيح) .

جواب : دابن عباسؓ په دې اثر کښې دسره دسبحانك اللهم ذکر نشته .

دویم دا چه : په بیت الله کښې دمونځ تشبیه دجنازې دمانځه سره په عدم رکوع اوسجده کښې ده، ځکه ابن عباسؓ په بیت الله کښې دمونځ کولو قائل نه وو .

دریم دا چه : په دې اثر خپله احناف عمل نه کوي، ځکه ابن عباسؓ نه چه دا تپوس اوشو چه زه څنګه مونځ اوکړم په بیت الله کښې ؟ ورته ئې اوفرمائیل : دجنازې پشان مونځ به کوې چه رکوع او

سجده به په کښې نه کوې .

مطلب دا چه ابن عباسؓ په بیت الله کښې دمونځ نفی کوې چه بیت الله کښې دننه مونځ نشته، ستا مونځ دادې چه تسبیح ، استغفار او الله ته عاجزی کوه .

حال دا چه احناف په بیت الله کښې دننه دمانځه قائل دی !!

ځلورم دا چه : دابن عباسؓ نه خو په صحیح حدیث دبخاری کښې نقل دی چه هغه به سورت فاتحه وئیله، نو څنګه دصحیح البخاری صریح او صحیح حدیث ته دخپل خود ساخته مذهب دپاره شپاړس جوابونه کولے شي، اودلته په مجمل روایت استدلال کولے شی !! یا لِله العجب !!

الغرض : جنازه کښې دسبحانك اللهم لوستلو باره کښې هیڅ صحیح او صریح روایت نشته، نه درسول الله ﷺ نه اونه دهغه دصحابه کرامؓ نه .

دتفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص اووم جلد کتاب الجنائز اوګوره .

د حُسن خاتمے اسباب

سوال : دحُسن خاتمے کوم کوم اسباب دی چه هغے سره دانسان خاتمه ښه کیږی یعنی په ایمان سره ددنیا نه ځی ؟ الله رب العالمین دے مونږ تولو ته حسن خاتمه رانصیب کړی، آمین .

جواب : دحسن خاتمے اسباب ډیر دي چه یو څو دلته ذکر کیږي :

۱ – اول سبب : داوداسه نه روسته دا دعاء لوستل :

عن ابي سعید قال : قال رسول الله ﷺ :

من توضا ثم قال : [سبحانك اللهم وبحمدك لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك] كتب في رق، ثم طبع بطابع فلم یكسر الی یوم القیامه .

وفي روایه : طبع الله علیها بطابع، ثم رفعت تحت العرش فلم تكسر الی یوم القیامه .

نو دا یو ډیر لوئے بشارت دے دا دعاء قبلیږی او انسان ته په دے باندے اجر ملاویږی اوددے سره دا لازم دی چه انسان به په ایمان مړکیږی .

(رواه الحاكم : ۵٦٤/۱، والنسائي في عمل الیوم واللیله ص : ۴۳، وهو في الصحیحه : ۴۳۸/۵، ۲۳۳۳) .

۲ – دویم سبب : دآذان نه پس دا دعاء لوستل :

[اللهم رب هذه الدعوه التامه والصلاه القائمه آت محمدا الوسېله والفضېله وابعثه مقاما محمودا الذي وعدته] .

رسول الله ﷺ فرمائی : څوك چه دآذان نه پس دا دعاء اووائی نو :

حلت له شفاعتي يوم القيامه . (دده دپاره زما شفاعت واجب شو) .

(رواه البخاري ومسلم وغېرهما) .

د(حلت) معنی ده (وجبت اونزلت) مرعاه : ۳٦٤/۳ .

زما په نېز دحلت معنی حلال هم کېدے شی، ولے چه بعضے خلقو دپاره به درسول الله ﷺ شفاعت حرام وی نو ددے دعاء په برکت سره به ورته حلال شی .

(فتاوي الدېن الخالص) . ---- نو دا هم دحسن خاتمے يو سبب دے .

۳ – درېم سبب : دآذان جواب ورکول، دآذان نه پس په نبي کرېم ﷺ درود وئېل، اوبيا درسول الله ﷺ دپاره دالله نه دوسېلے سوال کول .

نبي کرېم ﷺ فرمائی : فمن سال لي الوسېله حلت علېه الشفاعه .

(څوك چه ما دپاره دالله نه دوسېلے سوال اوکړی نو زما شفاعت هغه دپاره حلال – واجب – شو . مشکاه : ٦٤/١) .

وسېله : الله ته دقرب اونزدېکت يوه مرتبه ده چه دقيامت په ورځ به ئے الله رسول الله ﷺ ته ورکوی .

٤ – څلورم سبب : دا دعاء لوستل :

[اللهم احسن عاقبتنا في الامور كلها، واجرنا من خزي الدنيا والآخره] .

رسول الله ﷺ فرمائي :

من كان ذلك دعاؤه مات قبل ان يصيبه البلاء .

(رواه احمد : ۱۸۱/٤، والطبراني : ۳۳/۲، ۱۱۹۷، وابن حبان : ۲٤۲٤، باسناد صحيح) .

يعنے : څوك چه همدا دعاء غواړی نو دمصيبت رسېدلو نه مخکښے به مری . (يعنے په ژوند کښے به ورته مصيبت اونه رسېږی) .

نو ددے دعاء اهتمام کول پکار دی .

٥ – پنځم سبب : دا لاندېنئ دعاء لوستل :

په ترمذی، ابن ماجه او مشکاه (۲۰۱/۱) کښې دابو سعېد اوابو هرېره – رضي الله عنهما – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائېلی دی:

څوك چه داسے اووائي:

لا اله الا الله، صدقه ربه، قال: لا اله الا انا وانا اکبر.

واذا قال: لا اله الا الله وحده لا شریك له.

یقول الله: لا اله الا انا وحدي لا شریك لي.

واذا قال: لا اله الا الله له الملك وله الحمد.

قال: لا اله الا انا لي الملك ولي الحمد.

واذا قال: لا اله الا الله ولاحول ولا قوه الا بالله.

قال: لا اله الا انا لاحول ولا قوه الا بي.

رسول الله ﷺ فرمائی: څوك چه دا په مرض کښې اووائی او بیا مړ شی (لم تطعمه النار) اور به ئے اونه خوري.

نودا صحیح حدیث په دے باندے دلیل دے چه دانسان خاتمه به ښه شی اود اور نه به خلاصے بیامومي.

٦ – شپږم سبب: ابوداود رقم: ١٥١٩، کښې دابو سعېد خدري ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائېلی دی:

من قال: رضیت بالله ربا، وبالاسلام دینا، وبمحمد رسولا، وجبت له الجنه.

دا حدیث مسند احمد: ٣/١٤، او الصحیحه: ٥٨٩/١، ٣٣٤، کښې راغلی اوڅه قید ورسره نشته.

---- او په الصحیحه: ٢٦٨٦: کښې داسے الفاظ راغلی دی:

من قال اذا اصبح: رضیت بالله ربا، وبالاسلام دینا، وبمحمد نبیا، فانا الزعیم لاخذن بیده حتی ادخله الجنه.

ترجمه: څوك چه سحر دا دعاء اووائی نوزه ذمه وار یم ددے چه زه به دے دلاسه نیسم او جنت ته به ئے داخلوم. ---- (رواه الطبراني باسناد حسن، مجمع الزوائد: ١١٦/١٠).

او په جامع الترمذي کښې ورسره دماښام او درے ځله وئیلو قید هم راغلی دے، اوحاکم، ذهبي اوبوصیري ورته صحیح وئیلی دی.

لیکن شیخ البانی – رحمه الله – ددې ځلې وئیلو او ماښام قید ضعیف کړیدې.

۷ – اووم سبب: په سید الاستغفار باندې همیشه والې کول چه هر سهر اوماښام ئې په یقین سره وائي.

لکه دبخاری په حدیث کښې دشداد بن اوس – رضي الله عنه – نه مرفوعاً روایت دی.

چه څوك ئې دورځې په یقین سره اووائی اوپه دغه ورځ دماښام نه مخکښې مړ شو، نو دا دجنت والو نه دې. اوڅوك ئې چه ماښام اووائی او په دغه شپه دسحر نه مخکښې مړ شو نو دا دجنت والو نه دې. مشکاه: ۲۰٤/۱.

سید الاستغفار دادې:

[اللهم انت ربي ، لا اله الا انت خلقتني وانا عبدك وانا علی عهدك ووعدك ما استطعت ، اعوذ بك من شر ما صنعت ، ابوء لك بنعمتك علي وابوء لك بذنبي ، فاغفر لي ، فانه لا یغفر الذنوب الا انت].

نودا استغفار وئیل جنت ته دننوتلو سبب دې، دې کښې په حُسن خاتمه تصریح شویده.

۸ – اتم سبب: دخوب دعاء وئیلو سره انسان په فطرت باندې مړ کیږی. هغه داده:

اللهم اسلمت نفسي الیك ، ووجهت وجهي الیك ، وفوضت امري الیك ، والجات ظهري الیك ، رغبه ورهبه الیك ،لا ملجا ولا منجا منك الا الیك ، آمنت بکتابك الذي انزلت ، وبنبیك الذي ارسلت.

رسول الله ﷺ فرمائی: څوك چه اودس اوکړی اوپه ښي اړخ څملی اوددې ذکر وئیلو نه پس (دنیوی) خبرې اونه کړی اودا کس په دې شپه مړ شی (مات علی الفطره) نو دابه په اسلامي دین باندې مړشي.

وفي روایه: فان مت من لیلتك مت علی الفطره وان اصبحت اصبت خیراً.

یعنې: که په دې شپه مړ شوې نو په فطرت (اسلامي دین) باندې به مړ شې، اوکه سحر دې کړو نوخیر – ښیګړه – به حاصله کړې.

(رواه البخاري ومسلم ، کما في المشکاه: ۲۰۹/۱).

۹ – نهم سبب: دا دعاء لوستل:

[ربنا لا تزغ قلوبنا بعد اذ هدیتنا وهب لنا من لدنك رحمه انك انت الوهاب ، ربنا انك جامع الناس

لیوم لا ریب فیه، ان الله لا یخلف المیعاد] .

دے خبرے ته قرآن کریم هم اشاره کړېده اودا ئے دراسخېنو او هغه علماؤ صفت ګرځولے دے چه هغوئ په خپل علم باندے عمل کوی اوپه دے پو هېږی چه زړونه دالله ددوو ګوتو ترمېنځه دی .

۱۰ – لسم سبب : دا دعاء غوښتل : کومه چه رسول الله ﷺ غوښتله :

اللهم مصرف القلوب صرف قلوبنا علی طاعتك، اللهم مقلب القلوب ثبت قلوبنا علی دینك .

انس رضي الله عنه درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو : یا رسول الله ! آیا ته په مونږ باندے یرېږے ! وے فرمائیل : هاؤ ! ځکه چه بېشکه زړونه درحمن ذات ددوه ګوتو ترمېنځه دی کوم خوا ئے چه غواړی اړوی ئے .

(رواه ابن ماجه والترمذي، کما في المشکاه : ۲۲/۱) .

۱۱ – یوولسم سبب : همیشه دمجلس نه دپاڅیدلو دعاء وئیل :

عائشه رضي الله عنها فرمائی :

« ان رسول الله ﷺ کان اذا جلس مجلسا أو صلی تکلم بکلمات، فسالته عن الکلمات، فقال : ان تکلم بخیر کان طابعا علیهن الی یوم القیامه، وان تکلم بشر کان کفاره له : سبحانك اللهم وبحمدك لا اله الا انت استغفرك واتوب الیك .

(رواه النسائي، المشکاه : ۲۱۶/۱) .

یعنے : درسول الله ﷺ عادت مبارك داوو چه کله به دیو مجلس نه پاڅیدلو یا به ئے مونځ اوکړو نو څه کلماتو باندے به خوله خوزوله، ما ددغه کلماتو باره کښے ترے تپوس اوکړو، نو وے فرمائیل : که انسان – یو مجلس کښے – دخیر خبرے کړے وی نو دا – کلمات – به په هغے باندے مُهر – تاپه – شی تر قیامته پورے، اوکه دبدے خبرے ئے کړے وی نو دابه دهغے دپاره کفاره شی .

۱۲ – دولسم سبب : دا راتلونکی کارونه کول دحسن خاتمے سبب دے

عن عائشه رضي الله عنها قالت : قال رسول الله ﷺ : خلق الانسان من بني آدم علی ستین وثلثمائه مفصل، فمن کبر الله وحمد الله وهلل الله وسبح الله واستغفر الله وعزل حجرا عن طریق الناس او شوکه او عظما أو امر بمعروف اونهی عن منکر عدد تلك الستین والثلثمائه فانه یمشي یومئذ وقد زحزح نفسه عن النار .

وفي حدیث آخر : ویجزي من ذلك رکعتا الضحی .

ترجمه : عائشه - رضي الله عنها - فرمائي : رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمايه : هر انسان په درے سوه شپېتو جوړونوباندے پيدا شويدے، نو چا چه الله اكبر اووئيلو، الحمد لله ئے اووئيله، لا اله الا الله ئے اووئيله، سبحان الله ئے اووئيله، استغفارئے اوكړو، ېو كاڼړے يا ازغے يا هډوكے ئے دخلقو دلارے نه لرے كړو، يا ئے دنيكئ حكم او دبدئ نه منع اوكړه په اندازه ددغه درے سوه او شپېتو جوړونو نو دے به په دغه وخت په داسے حال كښے په زمكه روان وي چه ده به خپل ځان داور نه خلاص كړے وي .

او په بل حديث كښے دي چه : ددے تولو اعمالو نه دچاشت وخت دوه ركعته كافي كيږي .
----- نو ځوك چه دا اعمال په دے مقدار اوكړي ده دجهنم نه ځان خلاص كړو .
(رواه مسلم كما في المشكاة : ۱۶۸/۱) .

۱۳ - دپارلسم سبب :

مسند احمد او ابوداود كښے دعباده بن الصامت - رضي الله عنه - نه په صحيح سند سره نقل دي چه نبي كريم ﷺ فرمائيلي دي :

خمس صلوات افترضهن الله تعالى من احسن وضوئهن وصلاهن لوقتهن واتم ركوعهن وخشوعهن كان له على الله عهد ان يغفر له . . . الحديث .

ترجمه : پنځه مونځونه دي چه الله تعالى فرض كړي دي ځوك چه دهغے دپاره اودس په شان سره اوكړي او په خپل خپل وخت كښے ئے اداء كړل او دهغے ركوع اوخشوع ئے په ښه طريقے سره اوكړل، نو دده دپاره په الله باندے دا وعده ده چه الله به ده ته بخښنه كوي .

دے حديث كښے هم دحسن خاتمے زيرے دے،بلكه ددے نه ډير صريح اوښكاره هغه روايت دے كوم چه دارمي، ترمذي او مشكاه كښے نقل شويدے (۷۰/۱) چه :

يا محمد ! فيم يختصم الملا الاعلى،قلت : نعم ! في الكفارات، والكفارات المكث في المساجد بعد الصلوات والمشي على الاقدام الى الجماعات وابلاغ الوضوء في المكاره، فمن فعل ذلك عاش بخير ومات بخير، وكان من خطيئته كيوم ولدته امه .

ترجمه : اے محمد(ﷺ) ! ملا اعلى په څه كښے بحث مباحثه كوي ؟ ما اووئيل : په كفاراتو كښے، اوكفارات دمانځونو نه پس په جوماتونو كښے ايساريدل، جماعت ته پيدل تګ او په نابرداشته وختونو كښے پوره اودس كول دي . ځوك چه دا كار اوكړي هغه به په خير سره ژوند تيركړي او په خير سره به مړ شي اود ګناهونو نه به داسے اووځي لكه چه اوس دمور نه پيدا شويدے .

۱۴ – څوارلسم سبب :
دالله دمکر او تدبیر نه ویرېدل اود سوء خاتمې نه خوف کول .
انسان له پکار دی چه دالله تعالی دمکر اوتدبیر نه اوېرېږي چه هسې نه الله تعالی ایمان رانه وانخلی، زما دګناهونو، ناشکرئ اوزړورتیا په وجه. خو په داسې طریقه چه انسان الله باندې بدګمانه نشی ځکه چه الله تعالی خوداسې ذات دے چه :
﴿ ان الله لا یضیع اجر من احسن عملا ﴾ ﴿ انی لا اضیع عمل عامل منکم ﴾
﴿ هو ارحم الراحمین ﴾ ﴿ ویعفو عن کثیر ﴾ .
لیکن په خپلو اعمالو او اخلاقو بدګمانی کول پکار دی. ځکه دانسان قول اوفعل کله دانسان دایمان دختمېدو سبب جوړېږي – والعیاذ بالله !
الله تعالی فرمائی :
﴿ افامنوا مکر الله فلایامن مکر الله الا القوم الخاسرون ﴾ .
(آیا داخلق دالله دمکراو تدبیر نه په امن دی حال داچه دالله دمکر او تدبیر نه خو صرف تاوانیان خلق په امن کیږی) .
ددې مفهوم دادے چه څوك دالله دمکر او تدبیر نه په امن او غافل نه وی نو هغه دخسران نه بچ دے .
دے وجے نه دابودرداء – رضي الله عنه – په اثر کښې راځی :
ما امن احد علی ایمانه الا سلبه .
(رواه ابن عساکر کما في موسوعه آثار الصحابه :۳/ ۳۱۰) .
یعنې : هیڅوك دخپل ایمان نه بے غمه شوے نه دے مګر هغه ایمان ترے سلب شوېدے .
علامه ابن القیم – رحمه الله – فرمائی :
لقد قطع خوف الخاتمه ظهور المتقین – الجواب الکافي .
(دخاتمې وېرے خو دمتقینو ملاګانې ماتے کړېدي) .
۱۵ – پنځلسم سبب :
دحسن خاتمې یو بل مهم سبب دالله رب العالمین سره ډېره مینه کول دی :
۱۶ – شپاړسم سبب : مؤمنانو سره تواضع اوعاجزي کول، دهغوئ سره موالات او دوستانه

تعلقات لرل اوپه هغوئ باندے شفقت کول.

۱۷ - اوولسم سبب: دکافرانو سره دشمنی کول، دهغوئ نه نفرت کول اود کافرانو سره ډېر سخت بغض لرل.

۱۸ - اتلسم سبب: جهاد في سبيل الله کول.

۱۹ - نولس سبب: دالله باره کښې دهیچا دملامتیا نه نه وېرېدل.

ددے تولو دلیل دا قول دالله تعالی دے:

﴿ يا ايها الذين آمنوا من يرتد منكم عن دينه فسوف ياتي الله بقوم يحبهم ويحبونه اذله على المؤمنين اعزه على الكافرين يجاهدون في سبيل الله ولايخافون لومه لائم، ذلك فضل الله يؤتيه من يشاء والله واسع عليم ﴾.

دے آیت کریمه کښے دیته اشاره ده چه دچا دا صفات وی نو هغه به نه مرتد کېږی، ځکه کوموخلقو چه دا صفات پرېخودل نو مرتد شول.

دغه شان الله تعالی فرمائی:

﴿ ولا يزالون يقاتلونكم حتى يردوكم عن دينكم ان استطاعوا ومن يرتد عن دينه ﴾.

په دے آیت کریمه کښے هم دیته اشاره ده چه ترک الجهاد دډېرو خلقو دپاره دارتداد سبب دے. لکه دا حالت اوس په سترګو وینو.

بل ځائے الله تعالی فرمائی:

﴿ فمن يكفر بالطاغوت ويؤمن بالله فقد استمسك بالعروه الوثقى ﴾.

۲۰ - شلم سبب: ددے تولو اسبابو نه زیات قوی یو سبب دادے چه انسان اعتصام بکتاب الله اوکړی علماً وعملاً وتدبراً وتلاوه. چه انسان ددے عظیم کتاب نه مخ وانهړوی

(الذي لا ياتيه الباطل من بين يديه ولا من خلفه تنزيل من حكيم حميد).

قرآن کریم دزړونو دمرضونو ظاهری او باطني علاج دے.

رسول الله ﷺ فرمائی:

[تركت فيكم امرين لن تضلوا ما تمسكتم بهما : كتاب الله وسنتي].

(رواه مالك في الموطا، كما في المشكاه: ۳۰/۱، وسنده صحيح).

دغه شان بل حدیث کښے دي:

[ترکت فېکم امرېن لن تضلوا ما اعتصتم بهما : کتاب الله وعترتي] .

(رواه مسلم :۲۷۹/۲، والترمذي، کما في الصحېحه : ۳۵۵/٤) .

قرآن کرېم په خپله هم دېته اشاره کړېده :

﴿ فاما ېاتېنکم مني هدی فمن تبع هداي فلا ېضل ولا ېشقی ﴾ .

ابن عباس – رضي الله عنه – فرمائېلی دی :

من تعلم کتاب الله ثم اتبع ما فېه، فلا ېضل في الدنېا ولاېشقی في الآخره .

(انظر المشکاه : ۳۱/۱) .

ېعنې : چاچه دالله کتاب زده کړو اوبېا په هغې کښې چه څه دی، هغې پسې روان شو نو دے به نه په دنېا کښې ګمراه شی اونه به په آخرت کښې بدبخته شي .

۲۱ – ېووېشتم سبب : اعتصام په سنت نبوي باندے (د رسول الله ﷺ سنت طرېقه کلك نېول هم دحسن خاتمے سبب دے :

لکه دمخکنو نصوصو نه هم دا معلومه شوه .

امام مالك – رحمه الله – فرمائېلی دی :

مثل السنه کسفېنه نوح من رکبها نجا، ومن تخلف عنها هلك . (الوجېز) .

ېعنې : دسنت مثال داسے دے لکه دنوح – علېه السلام – کشتئ، څوك چه په دے کښې سور شو هغه کامېاب شو، او څوك چه ددے نه پاتے شو هغه تباه شو .

۲۲ – دووېشتم سبب :

په شعب الاېمان دالبېهقی کښې داسماء بنت ېزېد – رضي الله عنها – نه رواېت دے چه نبي کرېم ﷺ اوفرمائېل :

من ذب عن لحم اخېه بالمغېبه کان حقاً علی الله ان ېعتقه من النار .

وفي رواېه : کان حقاً علی الله ان ېرد عنه نار جهنم ېوم القېامه . ثم تلا هذه الآېه :﴿ وکان حقاً علېنا نصر المؤمنېن ﴾ . انظر المشکاه :۴۲٤/۲، والحدېث صحېح) .

ترجمه : چاچه پشی شا دخپل ورور دغوښے خوړلو – غېبت کولو – نه دفاع اوکړه نو په الله باندے دا حق دے چه دے به داور نه خلاصوی. او په ېو بل رواېت کښے دي : چه په الله باندے حق ده چه دقېامت په ورځ به دده نه دجهنم اور بل طرفته اړوی، بېا ئے دا آېت تلاوت کړو : وکان حقا علېنا .الخ

یعنے په مونږ باندے حق دے چه دمؤمنانو امداد به کوو.

دتفصیل دپاره : (فتاوی الدین الخالص اووم جلد، الفوائد في تزکیه النفوس وعلم القلوب والرغبه الي علام الغیوب ص : ۱۸۷، اوګوره).

د تعزیت حکم او په دے کښے بدعات

سوال : زمونږ علاقه کښے دا رواج دے چه کله مړے ښخ کړے شی نود مړی خپلوان په مسجد کښے ناست وی او خلق درے ورځے دهغه تعزیت ته راځی اولاس اوچت کړی دعاء اوکړی دمړی دپاره، اوهلته دچائے څکلو دپاره هم بند وبست وی۔

سوال دادے چه آیا تعزیت سنت دے که نه ؟ په تعزیت کښے لاس اوچتول شته اوکه نه، دارنګه دهغے دپاره په مسجد کښے یا بل خاص ځائے کښے کیناستل څه حکم لری، دقرآن او سنت په رنړا کښے جواب راکړئ ! وجزاکم الله خیراً۔

جواب : ولا حول ولا قوه الا بالله۔

تعزیه سنت عمل دے اوددے زیات فضیلت احادیثو کښے راغلے دے دارنګه ددے دعاء هم په احادیثو کښے راغلے ده. دلیل په دے باندے چه تعزیه سنت ده احادیث دامام اعظم ﷺ دی :

۱ – دقره المزنی رضی الله عنه نه روایت دے چه درسول الله ﷺ سره به یو څو کسان کیناستل په دے کښے دیو صحابی چه دوی سره به کیناستلو ځوئے مړ شو اودا صحابی درسول الله ﷺ مجلس ته ډیر وخت حاضر نشو، کله چه رسول الله ﷺ دهغه باره کښے تپوس اوکړو چه فلانے ولے زمونږ مجلس ته نه راځی، نو رسول الله ﷺ ته اوویل شو چه دهغه ځوئے مړ شوے دے. رسول الله ﷺ ورسره ملاقات اوکړو اود ځوئے تپوس ئے ترے اوکړو. هغه اوویل : هغه خو مړ شویدے. رسول الله ﷺ هغه تعزیه اوکړه۔۔۔۔۔ الحدیث. اوګوره نسائی (۲۹۶/۱) ابن حبان. الحاکم (۳۸٤/۱) مسند احمد (۳۵/۵) وسنده صحیح. اوګوره کتاب الجنائز للامام الالبانی ص (۱٦۲)۔

۲ – دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

من عزی أخاه المؤمن في مصیبه کساه الله حله خضراء یحبر بها یوم القیامه، قیل : یا رسول الله ! ما یحبر؟ قال : یغبط۔

ترجمه : چاچه دمصیبت په وخت کښے یو مؤمن ورور ته تعزیه اوکړه نو الله رب العزت به دے په

پوه شنه جامه کښې دقيامت په ورځ پټ کړی چه خلق به هغې ته پسخيږی.

دا حديث خطيب په تاريخ بغداد (۳۹۷/۷) ابن عساکر په تاريخ دمشق کښې راوړې دے او سند ئے حسن دے. اوګوره ارواء الغليل للشيخ الالبانی رقم (۷۵۶) کتاب الجنائز ص (۱۶۳)۔ ----- اود تعزيت دعاء داده :

ان لله ما اخذ (وله) ما اعطی وکل شئ عنده الی اجل مسمی فلتصبر ولتحتسب۔

(اخرجه البخاری ومسلم وابوداود وغيرهم من اصحاب السنن)۔

دارنګه پشتو يا بله ژبه کښې دے دتسلئ خبرے ورته اوکړی. ليکن په دے دعاء کښې لاس اوچتول بدعت دی چه څوك راشی نو آواز اوکړی چه پوه دعاء به اوکړو، نو نيم منټ لا س پورته کړی بيرته لاس ښکته کړی، نه دعاء وی، نه اخلاص، نه خشوع بلکه صرف يو رواج پوره کول وی. دا نه درسول الله ﷺ نه ثابت ده، نه دهغه صحابؓ نه، سره ددے نه چه دهغه وخت کښې ډير مړی شوی. اودا عدم نقل دليل دے په عدم ثبوت ددے کار باندے۔

اوګوره فتاوی الدين الخالص : (۹۰/۱) فتاوی برکاتيه ص (۳۴۶) احسن الفتاوی (۳۶۵/۱)۔

دارنګه دتعزيه دپاره په يو خاصو ورځو او خاص مقام لکه مسجد يا حجره وغيره کښے راجمع کيدل او کيناستل هم بدعت دے. دانه درسول الله ﷺ نه ثابت دی اونه دصحابه کرامؓ نه او نه دنورو سلفؒ نه چه هغوئ دتعزيے دپاره مخصوص يو څو خاصے ورځے چرته ناست وی۔ ----- رد المحتار کښے دی :

قال کثير من متاخری ائمتنا : يکره الاجتماع عند صاحب البيت بل اذا فرغ ورجع الناس من الدفن فليفرقوا ويشتغل الناس بامورهم وصاحب البيت بامره. (۸۴۲/۱)۔

يعنے : دکور والو سره اجتماع حرامه ده بلکه کله چه مړے دفن کړے شی خلق دے جدا شی خپل کار دے کوی او کور والا دے خپل کار کوی۔

اوګوره احسن الفتاوی (۳۸۱/۱) دمفتی رشيد احمد حنفی ديوبندی. المجموع للنووی (۳۰۶/۵) الشافعی في کتاب الام (۲۴۸/۱) کتاب الجنائز للامام الالبانی ص (۱۶۷) فتاوی الدين الخالص (۹۰/۱)۔

نو کور والا دے خپل کار کوی که څوك په لا رکښے ورسره ملاؤ شو هلته دے تعزيه ورته اوکړی، که پټی کښے وی هلته دے تعزيه ورته اوکړی اوکه کور يا دکان کښے وی نو هلته دے ورته تعزيه

اوکړي. او په تعزیه کښې درې ورځې خاص کول نشته بلکه د درې ورځو نه روسته هم تعزیه ورکولے شي، ځکه د رسول الله ﷺ نه د درې ورځو نه روسته هم تعزیه ثابت ده. لکه حدیث د عبد الله بن جعفر رضی الله عنه کښې راځي:

ثم امهل آل جعفر ثلاثا أن یاتیهم ثم اتاهم. الحدیث۔

(اخرجه احمد باسناد صحیح رقم (۱۷۵۰)۔

یعنې: رسول الله ﷺ آل جعفرؓ کره د درې ورځو نه پس تعزیه د پاره راغے۔

اوګوره: الانصاف (۵٦٤/۲) المجموع (۳۰٦/۵) کتاب الجنائز ص (۱٦٦) فتاوی سراجیه ص (۷۲) مرعات (٤۹٤/۵) مجموعه فتاوی عبد الحی (۱۷۳/۲) جامع الفقه لابن القیم (۵۱۲/۲). فتاوي بزازیه علي هندیه (۳۵۷/٦)۔



كتاب الصيام

دروژے بیان

د مسافر دپاره کله روژه خوړل جائز کیږي ؟

سوال : کله چه دروژے په مباشت کښے يو کس دخپل کور نه په سفر اوځي يا دکلی نه لږ لرے لاړ شي نو آيا ده دپاره روژه خوړل جائز دی اوکه نه ؟ چه مثلاً خپل کور کښے څه اوخوری او روان شی ؟

جواب : دے باره کښے دعلماؤ اختلاف دے چه يو کس سفر کولو ته تيار شي، خو دکور ياکلي نه نه وي وتلے آيا دا کس روژه خوړلے شي که نه ؟

نو راجح خبره داده چه کله يو کس دسفر دپاره ځان تيار کړي خپل اسباب برابر کړی نودا کس که خپل کور کښے وي يا دکور کلی اووتلو نو ده دپاره روژه خوړل جائز دي .

په دے خبره دلائل دادی :

۱ - امام ترمذی په خپل جامع السنن (۱/۱٦٤، رقم : ۳۰۸) کښے دمحمد بن کعبؒ نه روايت کوی هغه فرمائی :

اتيت انس بن مالك في رمضان وهو يريد سفراً وقد رحلت له راحلته ولبس ثياب السفر، فدعى بطعام فاكل فقلت له : سنه ؟ فقال : سنه، ثم ركب .

وسنده صحيح صححه الامام الالباني والشوكاني وابن العربي والقرطبي وابن عبد البر – رحمهم

الله .

ترجمه : زه انس بن مالكؓ ته دروژې په مېاشت کښې راغلم، هغه دسفر اراده کړې وه، هغه دپاره سورلۍ هم تیاره شوې وه، اود سفر جامې ئې هم اغوستې وې،انسؓ خوراك راؤغوښتلو، وې خوړلو. ماورته اووئیل : آیا دا سنت طریقه ده ؟ وې فرمائیل : آو ! سنت طریقه ده . ددې نه پس په سورلۍ سور شو اولاړو.

دا صحیح حدیث په دې دلیل دې چه خپل کور کښې هم سفر ته دروانیدو نه مخکښې روژه ماتول جائز دي .

امام ترمذیؒ ددې حدیث روایت کولو نه پس فرمائیلی دي :

وقد ذهب بعض اهل العلم الی هذا الحدیث، وقال : للمسافر ان یفطر في بیته قبل ان یخرج ولیس له ان یقتصر حتی یخرج من جدار المدینه او القریه، وهو قول اسحق بن راهویه .

ترجمه : ځینو علماؤ دې حدیث ته تګ کړې دې او وئیلی ئې دي چه دمسافر دپاره جائز دي چه دې سفر ته دوتلو نه مخکښې په خپل کور کښې هم روژه ماتولې شي، خو دده دپاره داجائز نه دی چه دمانځه قصر اوکړي ترڅو چه دښار یا کلي ددیوالونو نه تیر نشي، اوهمدا قول داسحق بن راهویهؒ دې .

۲ – عن عبید بن جبیر قال : رکبت مع ابي بصره الغفاری في السفینه من الفسطاط في رمضان فدفع، وفي روایه فرفع ثم قرب غدائه ثم قال : اقترب فقلت : الست بین البیوت ؟ فقال ابو بصره : ارغبت عن سنه رسول الله ﷺ ؟

ترجمه : عبید بن جبیر فرمائي : زه د ابو بصره غفاريؓ سره په رمضان کښې دفسطاط نه په کشتۍ کښې سور شوم، هغه چه کله لاړ نو هغه ته صبا نارې پیش کړې شو او ماته ئې اوفرمائیل : رانزدې شه، ما اووئیل : آیا د کورونو ترمینځه نه ئې ؟ نو ابو بصرهؓ اوفرمائیل : آیا ته د رسول الله ﷺ د سنت نه اعراض کوې ؟

(رواه ابوداود : ۳۳۵/۱ . ۲۴۱۲، وصححه الالباني ورجاله ثقات، کما في نیل الاوطار : ۳۱۱/۴) .

----- علامه شوکانيؒ په نیل الاوطار کښې لیکي :

وهذان الحدیثان – یعني حدیث انس وحدیث جبیر – یدلان علي انه یجوز للمسافر ان یفطر قبل خروجه من الموضع الذي اراد السفر منه .

(دا دواړه حدیثونه په دې مسئله دلیل دي چه مسافر دپاره دخپل ځائے نه دوتلو نه مخکښې هم روژه

ماتول جائز دي) .

امام ابن العربيؒ په عارضه الاحوذي شرح الترمذي کښې لیکی :

هذا صحیح ولم یقل به الا احمد .

دا صحیح حدیث دے او په ائمه اربعه ؤکښې دامام احمدؒ نه سیوا بل چا په دے باندے عمل نه دے کړے . ------ زه وایم : دا خبره امام احمد، قرطبي، ابن عبد البر، شوکاني اوشیخ الباني په خپله رساله (تصحیح حدیث افطار الصائم قبل سفره بعد الفجر) کښې او نورو علماؤ هم غوره کړے ده .

۳ – وعن انس بن مالك قال : قال لي ابو موسی : الم انبا انك اذا خرجت خرجت صائماً واذا دخلت دخلت صائماً ؟ فاذا خرجت فاخرج مفطراً، واذا دخلت فادخل مفطراً .

(رواه الدارقطني : ۱۸۸/۲، والبیهقي : ۲٤۷/٤، باسناد صحیح .

ترجمه : انسؓ فرمائي : ماته ابو موسی اشعريؓ اووئیل : زه خبر شوے یم چه کله ته دکوره اوځے نوروژه دار اوځے، اوکله چه داخلیږے نو روژه دار داخلیږے ! (داسے مه کوه بلکه) کله چه دکور نه وتلے نو روژه ماته کړے اوځه اوکله چه راځے نو روژه ماته کړے راځه۔

٤ – دغه شان عمل دابو درداء – رضي الله عنه – نه هم نقل دے .

٥ – دحسن بصريؒ نه نقل دي چه هغه فرمائیلي دي :

یفطر ان شاء في بیته یوم یرید ان یخرج .

(په کومه ورځ چه دوتلو اراده لري نو په خپل کور کښې ئے هم ماتولے شي) .

(تفسیر قرطبي :۲۷۹/۲) .

دتفصیل دپاره فتاوی الدین الخاص : ۱۳۲/٦، ته رجوع کول پکار دي .

په روژه کښې د مذي وتلو حکم

سوال : که یو سړے دخپلے ښځے لوبے توقے کوی اودده نه مذي لاړه شی نو آیا په دے باندے روژه ماتیږی ؟

جواب : که یو سړے دخپلے ښځے سره لوبے توقے کوی یا خپله ښځه ښکل کړی اودے سړی نه مذي لاړه شی نو په دے صورت کښې روژه نه ماتیږی .

دلیل په دے باندے چه په خروج المذي یا ودي باندے روژه نه ماتیږی دادے چه :

رسول الله ﷺ کوم مفسدات الصوم ذکر کړی دی په هغې کښې دا نشته چه که دېو سړی نه مذي یا ودي خارجه شی نو روژه ماته شوه. مطلب دا چه عدم النقل دلیل دے، او اصل په روژه کښې داده چه باقی به وی.

اوګوره : الفقه الاسلامي : ۶۷۱/۲ .

دویم دا چه : خپله رسول الله ﷺ دروژے په حالت کښې خپله بي بي خکل کړېده :

عن عائشه – رضي الله عنها – قالت : کان النبي ﷺ یقبل وهو صائم.

(رواه البخاري ومسلم).

دغه شان عمر – رضي الله عنه – هم په روژه کښې خپله بي بي خکل کړه، رسول الله ﷺ دهغې اجازه ورکړه او ورته ئے اوفرمائیل : دا لکه مضمضه او استنشاق پشان دی. یعنے لکه څنګه چه په مضمضه او استنشاق باندے روژه نه ماتیږی دغه شان په خکلولو هم روژه نه ماتیږی. (رواه ابوداود).

اودا معلومه خبره ده چه سړے په شهوت سره بي بي خکل کړی نو مذي ترینه خارجیږی. ----- او په دے خکلولو کښې دا تخصیص نشته چه ځوان به ئے نه خکلوی او بوډا ئے خکلولے شی.

او اجازت دخکلولو : دعمر، عائشه، ابن عباس، ابو هریره، سعد بن ابي وقاص اوابو سعید الخدري – رضي الله عنهم – عکرمه، حسن، ابو سلمه، مسروق، شعبي اوسعید بن جبیر – رحمهم الله – نه نقل دے.

اوګوره : المحلی لابن حزم : ۳۳۵/۴. الفقه الاسلامي : ۶۷۱/۲، ابن ابي شیبه : ۵۹/۳، عبد الرزاق :۱۷۲/۴، فتاوی رمضان لابن باز وابن عثیمین وابن جبرین : ۴۵۷/۲ .

فتاوی الدین الخالص کتاب الصیام.

اوبعض علماء وائی چه په مذي ودي وتلو باندے روژه ماتیږی لیکن داپے دلیله خبره ده.

د روژه ماتي دپاره د آذان په ځائے ډول وغیره وهلو حکم

سوال : بعضے خلق په رمضان کښې دافطار دپاره آذان نه کوی بلکه ډول یا تلئ وغیره وهی اوکله چه روژه ماته کړی نو بیا د ماښځه دپاره آذان کوی، آیا دا کار صحیح دے ؟ .

جواب : ولا حول ولا قوه الا بالله .

دا کار باطل اود سنت طریقے نه خلاف عمل دے، ځکه رسول الله ﷺ په زمانه کښې به د افطار او ماښځه دواړو دپاره یو آذان کیدلو .

لکه صحیح مسلم (۳۵۱/۱) کښې دابو عطیه نه روایت دے دا فرمائی : زه او مسروق دواړه دعائشے

– رضي الله عنها – خواته لاړو اوعرض مو اوکړو : اے ام المؤمنین ! درسول الله ﷺ دوه صحابه دي په دوئ کښے يو کس افطار هم په تادئ سره کوي او مونځ هم مخکښے کوي، او هغه بل افطار او مونځ دواړه روسته کوي !. عائشه رضي الله عنها اووئيل : په دوئ کښے کوم يو کس افطار او مونځ دواړه مخکښے کوي ؟ مونږ اووئيل : عبد الله بن مسعود. هغے اووئيل : دغه شان به رسول الله ﷺ کول. او هغه بل کس ابو موسیٰ اشعري دے. (مشکوه : ۱۷۵/۱).

نو دا صحيح حديث په دے خبره دلالت کوي چه آذان دافطار او مونځ دواړو دپاره دے.

کېدے شي چه دا خلق آذان په دے وجه روسته کوي چه داحنافو په قول عمل اوشي چه دوئ وائي دآذان او اقامت ترمينځه تاخير کول په مانځه دماښام کښے به صرف په مقدار ددرے آيتونو يا درے قدمونو سره وي.

لیکن داقول ضعيف دے، ځکه درسول الله ﷺ نه په قولي او فعلي او تقريري سنت سره دماښام دآذان نه پس دوه رکعته نفل مونځ ثابت دے.

سنت قوليه :

هغه دا چه امام بخاري : (۸۷/۱، مسلم : ۲۷۸/۱، مشکوه : ۱۰٤/۱، کښے دعبد الله بن مغفل – رضي الله عنه – نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل :

صلوا قبل المغرب، صلوا قبل المغرب، ثم قال في الثالثه : لمن شاء، کراهيه ان يتخذها الناس سنه.

ترجمه : دماښام دمانځه نه مخکښے نفل مونځ کوئ، دماښام دمانځه نه مخکښے – نفل – مونځ کوئ، بيا ئے په دريم ځل اوفرمائيل : دچا چه خوښه شي، دا ځکه چه خلق دا لازم –او فرض – اونه ګڼړي.

او ابن نصر په قيام الليل ص : ۷۱، بخاري :۸۷/۱، مسلم :۲۷۸/۱، مشکوه : ۱۰٤/۱، کښے دعبد الله بن مغفل مزني – رضي الله عنه – نه روايت کړېدے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلے : دهر آذان او اقامت ترمينځه مونځ شته دے، دهر آذان اوقامت ترمينځه مونځ شته دے دچا چه خوښه شي – يعني نفل مونځ دے فرض نه دے. وسنده صحيح.

سنت فعليه :

عن عبد الله المزني – رضي الله عنه ، ان رسول الله ﷺ صلی قبل المغرب رکعتين

ترجمه : عبد الله مزنيؓ فرمائی : رسول الله ﷺ دماښام نه مخکښې دوه رکعته – نفل – اوکړل . (صحیح ابن حبان : ۸۸/۳، رقم : ۲٤۸۰، موارد الظمآن : ۱٦۲، رقم : ٦۱۷، قیام لابن نصر ص :۷۷، باسناد صحیح) .

سنت تقریریه :

عن مرثد بن عبد الله قال : اتیت عقبه بن عامر الجهني – رضي الله عنه – فقلت : الا اعجبك من ابي تمیم یرکع رکعتین قبل صلاه المغرب ! فقال عقبه : انا کنا نفعله علی عهد رسول الله ﷺ. قال: فما یمنعك الآن ؟ قال : الشغل . انظر المشکاه : ۱۰۵/۱ .

ترجمه : مرثد بن عبد الله وائی : زه عقبه بن عامرؓ ته راغلم او ورته مې اوویل : دابو تمیم باره کښې درته ناشنا خبره نه کووم هغه داچه دې دماښام دمانځه نه مخکښې دوه رکعته کوی ! نو عقبهؓ اوفرمائیل : مونږ به هم درسول الله ﷺ په زمانه کښې دا کار کولو . مرثدؒ ورته عرض اوکړو : (ددې نه) اوس څه شی منع کړې ئې ؟ وئیل : روزګار .

۲ – عن انس بن مالك قال : لقد ادرکت کباراصحاب النبي ﷺ یبتدرون السواري عند المغرب . وزاد شعبه عن عمرو عن انس : حتی یخرج النبي ﷺ .

ترجمه : انس بن مالك فرمائی : ما دنبي کریم ﷺ لوئې لوئې صحابه موندلی دی چه دماښام په وخت به ئې ستنو ته جلتی کوله – او دماښام مانځه نه مخکښې به ئې دوه رکعته مونځ کولو – تردې چه نبي کریم ﷺ به را اووتلو . (بخاري : ۷۲/۱) .

۳ – وعن انس قال : کنا بالمدینه فاذا ذان المؤذن لصلاه المغرب ابتدروا السواري فرکعوا رکعتین حتی ان الرجل الغریب لیدخل المسج فیحسب ان الصلاه قد صلیت من کثره من یصلیهما .

ترجمه : انس بن مالك فرمائی : مونږ په مدینه کښې وو، کله به چه مؤذن دماښام دپاره آذان اوکړو نو صحابه کرامؓ به ستنو ته منډې کړې او دوه رکعته نفل به ئې اوکړل، اودومره ډیرو خلقو به دا دوه رکعته کول چه یو مسافر سړې به مسجد ته راغې نو دهغه به دا خیال وو چه ګنې دماښام مونځ شویدې . (مسلم : ۲۷۸/۱، مشکوه : ۱۰۵/۱) .

دا تول حدیثونه دلیل دې په دې چه دا دماښام مانځه نه مخکښې دوه رکعته نفل کول مستحب او سنت دی . او په هغه چا باندې رد دې چه وائی : دآذان نه پس دماښام دمانځه تاخیر جائز نه دې مګر په اندازه ددرې آیتونو یا درې قدمونو باندې .

تفصیل په فتاوی الدین الخالص کښې اوګوره (۳/۳۵۱).

سوال: اوکه څوك اووائي چه دا دوه رکعته د ماښام په مانځه کښې د تاخیر سبب ګرځي، نو ځکه مکروهه دي.

جواب دادے: چه دا تعلیل دے په مقابله دنص کښې، ځکه چه کله د حدیث په نصوصو سره دا ثابته شوه نو بیا څنګه مکروهه شي؟ لهذا ددے قیاس هیڅ اعتبار نشته. بله داچه دا دوه رکعته خفیف دي دومره وخت پرے نه لګي.

پاتے شو هغه موقوف حدیث چه امام ابوداود (۱/۱۸۹) دطاووس نه نقل کړیدے:

سئل ابن عمر عن الرکعتین قبل المغرب فقال: ما رأیت احداً علی عهد رسول الله ﷺ یصلیهما ورخص في الرکعتین بعد العصر.

نو په دے باندے دڅو وجهو نه استدلال کول صحیح نه دي:

۱ – دا حدیث ضعیف دے ځکه په دے کښے ابوشعیب دے اودا مجهول دے.

کما في ضعیف ابي داود رقم: ۱۲۸٤.

۲ – په دے کښے ابن عمرؓ وائي: ما نه دي لیدلي. اوبل طرفته انسؓ وائي: ما لیدلي دي. نو انسؓ سره زیاتي علم دے. لهذا علم د(من رأی) به حجت وي په علم د (من لم یر) باندے. اودا خبره په احادیثو کښے ډیره زیاته ده.

۳ – دا دوه رکعته دنبي کریم ﷺ نه په حدیث قولي، فعلي او تقریري – درے واړو – سره ثابت دي، لکه مخکښے تیر شو.

او هرچه هغه حدیث دے چه امام بیهقي په السنن الکبری (۲/٤۷٤) روایت کړیدے:

ان النبي ﷺ قال: بین کل اذانین رکعتین، ما خلا المغرب.

نو دا باطل حدیث دے، ځکه چه په دے کښے حیان بن عبید الله دے اودا دروغجن دے. دغه شان ددے په متن کښے هم اختلاف دے، لکه ددے بیان امام بیهقيؒ اوزیلعيؒ کړیدے.

(نصب الرایه: ۲/۱٤۰). ----- او هرچه دا **حدیث** دے چه:

ان رسول الله ﷺ وابا بکر وعمر لم یکونوا یصلونهما.

نودا روایت معضل حدیث دے او مقطوع هم دے. اوګوره نصب الرایه: ۲/۱٤۱.

دغه شان څوك چه وائي دا دوه رکعته منسوخ دي دا خبره هم غلطه ده، ځکه چه دصحابه کرامؓ

آثار دلیل دی په عدم نسخ باندے. لهذا په نسخ باندے هیڅ دلیل نشته.

انهلر ګیس روژه نه ماتوی

سوال: ددمه بیمارئ دپاره د انهلر – یو خاص قسم ګیس – استعمالول روژه ماتوی اوکه نه؟

جواب: انهلر استعمالولو سره روژه نه ماتیږی ځکه روژه په خوراك، څکاك اوجماع سره ماتیږی، اودا ګیس نه خوراك دے اونه څکاك اونه په معنی دخوراك څکاك کښے دے. ځکه دا اِنهلر – بخاخ ضیق النفس – معدے ته نه داخلیږی، بلکه دایو ګیس دے چه دساه اخستلو ځائے ته ځی اوهلته یو تاثیر کوی چه روسته بیاانسان بیرته عادی ساه اخلی. او اصل په روژه کښے صحت دے تر څو چه دقرآن اوسنت اواجماع نه صحیح دلیل دفساد نه وی راغلے.

حاصل: داچه په دے باندے ځکه روژه نه ماتیږی چه روژه په خوراك څکاك سره ماتیږی اودا نه خوراك دے اونه څکاك، اودامعدے ته هم نه داخلیږی بلکه دا د (نفس) یعنے ساه اخستلو دلارے سره تعلق لری نو دساه اخستو لار جداده او معده جدا ده.

کما في فتاوی رمضان: ۵۳۱/۲، للشیخ ابن باز والشیخ العثیمین. وفتاوی اللجنه الدائمه للبحوث العلمیه والافتاء: ۱۷۶/۱۰.

بلکه په شریعت مطهره کښے داسے مثالونه دجواز شته دے لکه په خوله کښےیخے اوبه اچول،یخه هوا تیرول، طعام څکل، مضمضه او استنشاق کول،یخ څادر اچول یا غسل کول تولے فائدے دی روژه دار ته، لیکن روژه نه ماتوی. نو دغه شان انهلر هم روژه نه ماتوی، خصوصاً ما خپله تجربه اوکړه چه انهلر نه لوندوالے پیداکوی اونه غذائیت.

بعضے خلق د (الفطر مما دخل) روایت پیش کوی خو ددے جواب دادے چه یو خودا مرفوع حدیث نه دے (نصب الرایه) دویم داچه: هر داخل شے مراد نه دے بلکه معروف مراد دے.

د ښځو دپاره په کور کښے اعتکاف کول بدعت دے

سوال: دښځے دپاره خپل کور کښے اعتکاف کول څه حکم لری؟ دقرآن او سنت په رڼا کښے تفصیلاً جواب راکړئ! جزاکم الله خیراً!

جواب: لا حول ولا قوه الا بالله.

دمسئلې بېانولو نه مخکښې داخبره پېژندل ضروري دي، چه په دې خبره باندې دعلماؤ اتفاق دې چه دمسجد نه بغېر بل ځائے کښې اعتکاف نه کېږي، او ددې دلېل دادې چه:

الله جل شانه فرمائي:

﴿ وانتم عاكفون في المساجد ﴾ [البقره، آيت: ۱۸۷].

دغه شان رسول الله ﷺ اودهغه صحابه کرامؓ به په مسجد کښې اعتکاف کولو. درسول الله ﷺ اود صحابه کرامؓ نه دا نه دي ثابت چه هغوئ دمسجد نه بغېر بل ځائے اعتکاف کړے وي، اونه دامهات المؤمنېنؓ نه دا ثابت دي.

(فتح الباري: ۲۹۱/٤، نېل الاوطار: ۳٥۹/٤).

اعتکاف که دنارېنه وي اوکه دزنانه مسجد ورله ضروري دے اودا دجمهورو علماؤ مذهب دے، چه کور یا بل ځائے کښې اعتکاف کول جائز نه دي.

(الفقه الاسلامي: ۷۰۰/۲، فقه السنه: ٤۲۱/۱، بلوغ الاماني شرح الفتح الرباني: ۲٤۱/۱۰).

اوکوم علماء چه دښځې دپاره په کور کښې اعتکاف مستحب ګڼړي دهغوئ قول ضعېف او خطاء دے.

اودے درے وجے دي:

۱ - په کور کښې اعتکاف کولو باندې داعتکاف شرعي (مسنونه) تعرېف نه صادقېږي ځکه شرېعت کښې داعتکاف تعرېف دادے:

قال الراغب: الاعتكاف الاحتباس في المسجد على سبېل القربه.

يعنې: مسجد کښې درنګ تېرول دعبادت په نېت باندې. دا تعرېف امام راغبؒ کړے.

چا داعتکاف تعرېف داسے کړے:

المكث في المسجد ولزومه على وجه مخصوص.

(مسجد کښې وخت تېرول اوهغے کښې تېنګ اوسېدل په يوه خاصه طرېقه سره).

يعنې کومه طرېقه چه مونږ ته شرېعت خودلے ده.

المرعاه للمباركفوري، بلوغ الاماني: ۲۳۸/۱۰، فقه السنه: ٤۱۹/۱، معارف القرآن: ٤٥٦/۱۱، فتح الباري: ۱۱۸/٤.

نو کله چه معلومه شوه چه اعتکاف دپاره اتفاقاً مسجد شرط دے، نو بیا په کور کښې ځنګه

صحیح شي؟ اوس که څوك اووائي چه د ښځې دپاره د کور هغه ځائے مسجد دے کوم ځائے کښې چه دا مونځ کوي، نو ددے جواب دادے چه دا خو ته هم راسره منے چه د اعتکاف دپاره مسجد شرط دے، اود ښځے چه په کور کښې کوم جومات وی نو هغه شرعي مسجد نه دے اونه په هغه ځائے باندے دمسجد احکام جاري کیږی.

۱ – مثلاً مسجد اخستل خرڅول حرام دی، لیکن ښځے چه کوم ځائے په کور کښې مونځ دپاره مقرر کړیدے هغه اخستل اوخرڅول بالاتفاق جائز دی.

۲ – په مسجد کښې دجنب اوحائضے ګرځیدل راګرځیدل حرام دی، او ښځه چه په کور کښې کوم ځائے مونځ کوی دهغه ځائے دا حکم نه دے.

۳ – په مسجد کښې متیازے کول او نورے ګندګئ اچول حرام دی. لیکن ښځه چه کور کښې کوم ځائے مونځ کوی دهغه ځائے نه بیت الخلاء جوړول هم جائز دی. لکه داخبره امام ابن حزم په المحلی (۴۲۸/۳) کښې لیکلے. دغه شان علامه عبد الحی لیکلی چه کور کښې کوم ځائے نه مسجد جوړ شوے وی (یعنے مونځ دپاره مقرر شوے وي) نو په هغے کښې ډکے تشے متیازے کول، اود خپل کور والا سره جماع کول مکروهه هم نه دي.

(عمده الرعایه : ۱۹۹/۱).

۴ – د مسجد احترام اوعزت کول فرض دی، او ښځه چه کور کښې کوم ځائے مونځ کوی دهغه ځائے دا حکم نه دے.

۵ – په مسجد کښې په اوداسه کښې کیناستل داجر اوثواب سبب دے، او دا ځائے دا شان حکم نه لري. او نور ډیر فرقونه دي.

بعضے خلق وائی چه مونږ هغه ځائے ته چرته چه ښځه مونځ کوی ځکه دمسجد حکم ورکوو، چه حدیث کښې ورته مسجد وئیلے شویدے. لکه حدیث کښې دی : مسجد بیتها.

لیکن په دے حدیث باندے دښځے داعتکاف دپاره استدلال کول صحیح نه دی ځکه دلته چه دښځے دمانځه ځائے باندے دمسجد اطلاق شوے نودا شرعي مسجد نه دے بلکه لغوی مسجد مراد دے، ځکه په حقیقت کښې دامسجد وے نو بیاخو پکار دی چه دمسجد احکام هم ورکړے شوی وے، سره ددے نه چه د مسجد احکام دیته نه دی ورکړے شوی، لکه مخکښې تیر شو.

دویم داچه : که چرے دښځے دمانځه ځائے ته ددے اضافت او نسبت په وجه دمسجد احکام ورکړے

شي. نوبيا خو بل حديث كښې تولې زمكې ته مسجد وئيلې شوېدې. لكه حديث كښې راځي: وجعلت لي الارض مسجدا.

ما دپاره زمكه مسجد جوړ كړې شوېده. ------ بل حديث كښې دي:

الارض كلها مسجد، الا المقبره والحمام.

(زمكه توله مسجد دې سېوا دمقبرې او حمام نه).

نو ددې حديث په اتفاق دعلماؤ سره د معنى نه ده چه توله زمكه دمسجد حكم لري او تولې زمكې سره به دمسجد په شان معامله كولې شي! اوګوره: المغني :۳/ ۱۳۰.

بالفرض كه مسجد هم شي نو آيا په هرمسجد كښې اعتكاف كول صحيح دي؟

دې باره كښې رواېتونه واوره:

عن عائشه – رضي الله عنها – قالت: السنه في المعتكف ان لايخرج الا للحاجه التي لا بد منها، ولايعود مريضا ولايمس امرأه ولا يباشرها ولااعتكاف الا في مسجد جماعه.

(رواه ابوداود، والبيهقي: ۴/ ۳۱۵، بسند صحيح).

ترجمه: معتكف دپاره دا طريقه ده چه دا به خپل ضروري حاجت نه سېوا بل څه دپاره دمسجد نه نه اوځي، اونه به بيمار پښتنه كوي، نه به ښځې سره مباشرت كوي اونه به ورسره ځملي، او اعتكاف نشته مګر په هغه مسجد كښې چه په هغې كښې پنځه وخته جماعت سره مونځ كېږي.

دارنګه دابن عباسؓ اوحسن بصريؒ نه رواېت دې چه:

لا اعتكاف الا في مسجد تقام فيه الصلاه.

يعنې: اعتكاف نه كېږي مګر په هغه مسجد كښې چه په هغې كښې پنځه وخته جماعت كېږي.

(رواه البيهقي: ۴/ ۳۱۶).

همداسې خبره دابوجعفر، حماد، حكم اوزهري نه هم رواېت شوېده.

(مصنف ابن ابي شيبه: ۳/ ۹۱).

ددې رواېتونو نه دا خبره معلومه شوه چه په هغه مسجد كښې اعتكاف نه كېږي كوم كښې چه پنځه وخته جماعت نه كېږي.

نو سوال دادې چه آيا په دې دعلماؤ اتفاق نه دې چه دمسجد نه بغير اعتكاف نه كېږي؟ آيا ښځه چه كور كښې كوم ځائے مونځ كوي دا ځائے دمسجد حكم لري؟

آيا ښځه چه کوم ځائے مونځ کوی دا ځائے داسے مسجد دے چه دے کښے په پنځه جماعت سره مونځ کيږی ؟

که جواب په نفی سره وی نو بيا څنګه دزنانه دکور په ځائے کښے اعتکاف کول دزنانه دپاره مستحب ګنړلے کيږی ؟

۲ – کور کښے اعتکاف کول بدعت دے :

دابن عباس – رضي الله عنه – نه روايت دے چه دوئ فرمائيلی دی :

ان ابغض الامور الی الله البدع، وان من البدع الاعتكاف في المساجد التي في الدور – رواه البيهقي : ٣١٦/٤ .

ترجمه : بيشکه الله تعالی ته په تولو کارونو کښے بدترين کارونه بدعتونه دی، او بيشکه په بدعاتو کښے دا خبره هم شامله ده چه په کورونو کښے اعتکاف اوکړے شی .

دغه شان الشيخ منصور البهوتي په کشاف القناع (۳۵۱/۲) کښے ليکي :

وروی حرب باسناد جيد عن ابن عباس انه سئل عن امرأه جعلت عليها ان تعتكف في مسجد بيتها،فقال : بدعه، وابغض الاعمال الی الله البدع .

ترجمه : ابن عباسؓ نه دهغه زنانه باره کښے تپوس اوشو چه په ځان باندے ئے داخبره لازمه کړے چه دخپل کور په مسجد کښے به اعتکاف کوی – ددے څه حکم دے ؟ – ابن عباسؓ اوفرمائيل : دا کار بدعت دے، او الله تعالی په تولو کارونو کښے بدعتونه ډير زيات مبغوض وی .

۳ – دريمه وجه : په کورونو کښے اعتکاف نه رسول الله ﷺ کړے، نه دهغوئ ازواجو مطهراتو – رضي الله عنهن – او نه نورو صحابياتوؓ کړے، اونه ئے ددے اجازت ورکړے . لهذا ددے په بدعت کيدو کښے هيڅ شك نشته .

سره ددے نه چه دامهات المؤمنينؓ پرده ډيره سخته وه تردے چه هغوئ به دشخصيت پرده هم کوله يعنی هغوئ به بدن دپاسه برقع هم نه ښکاره کوله . درسول الله ﷺ پاکے بيبيانے به په ډولئ کښے ورړل کيدلے .

دخليفه راشد عمر فاروق – رضي الله عنه – په زمانه کښے به دحج په موقع باندے په داسے ځائے کښے پاتے کيدلے چه هغه به جدا ځائے وو، هيچا ته به ددوئ طرفته دتلو اجازت نه وو .

بله داچه دعائشه – رضي الله عنها – حجره دمسجد سره بالکل متصله وه ليکن ددے تولو

جو هاتو باوجودئے دخپل کور نه بهر په مسجد کښې اعتکاف کولو.

سوال: بعضے خلق وائی: نن صبا دفتنے دور دے نوددے وجے نه ښځے دپاره په کورکښې اعتکاف کول پکار دی.

جواب: دا خبره بالکل صحیح ده چه نن صبا پُر فتن دور دے ـ لیکن دا علت ددے دلیل نشی کیدے چه دښځو دپاره اعتکاف په کورکښې مستحب بلکه جائز کړی.

ددرے وجونه:

۱ – نن صبا لکه څومره چه فتنے ډیرے دی نو دے سره دهغے نه د بچ کیدو اسباب او وسائل هم ډیر دی چه دهغے په ذریعه کیدے شی چه ښځے په مسجد کښې اعتکاف اوکړی. لکه داسے ډیر مسجدونه شته چه دوه چته وی نو پکار دی چه کومے ښځے اعتکاف کوی هغه په دویم چت کښې اعتکاف اوکړی چه هغے ته دسړو دپاره دننوتلو اجازت نه وی.

۲ – اکثره مسجدونه دوه درے جدا جدا حصے لری نو خلقو له پکار دی چه دروژے میاشت په لسو ورځو کښې دمسجد یوه حصه دښځو دپاره خاصه او جدا کړی چه دے سره هم دښځو اختلاط او بے پردگی نه راځی. والحمد لله علی ذلك.

۳ – که چرے دا یو هم نشی کیدے نو بیا دے اعتکاف نه کوی ځکه اعتکاف خو یو سنت اومستحب عمل دے اوبیا چه سړے په مسجد کښې اعتکاف کوی نو دښځونه هم کافي دے نو چه دضرورت اوعذر په بناء دښځو نه دا فضیلت – اعتکاف – پاتے شی څه باك نه کوی، لکه دښځو نه مثلاً نن صبا مسجدکښې دجماعت مونځ پاتے دے.

اوکله چه دوئ نه د یو عذر په بناء په مسجد کښې دا سنت پاتے شو، نو مونږ خو دا نشو کولے چه ددے دپاره جدا حکم – په خپله کارخانه – کښې جوړ کړو چه ښځے به په کور کښې اعتکاف کوی.

د مزید تفصیل دپاره فتاوی الدین الخالص کتاب الاعتکاف اوگوره.

فتاوی برکاتیه: ۹۰، للعلامه ابو البرکات احمد صاحبؒ، فتح الباري: ۲۲۳/٤، المجموع: ٤٧٨/٦، المغني: ۱۳۱/۳، الانصاف للامام علاء الدین ابي الحسن المرداوي: ۳٦٤/۳، المحلی: ٤۳۸/۳، کشاف القناع: ۳۵۱/۲، آپ کے مسائل: ۲۹۵/۱، ۳۰٤/۲، السنن الکبری: ۳۱۵/٤، مغني المحتاج: ۲۰۸/۲، للخطیب الشربیني.

اوهمدا دجمهورو علماؤ مذهب دے.

اوګوره: فقه السنه: ۴۲۱/۱، فقه اسلامي: ۷۰۰/۲، بلوغ الاماني: ۲۴۱/۱۰.
۲۶: رمضان: ۱۴۲۴هـ.



کتاب العیدین

د اخترونو مسایل

افحام الجاسوس – فی ادله حل الجاموس

آیا مېښنه خوړل او په هغې قرباني کول جائز دي که نه؟

سوال: مېښنه (جاموس) خوړل جائز دي اوکه نه؟ ډېر خلق داتپوس کوي چه مونږ ته په دې دلیل پېش کړي چه مېښنه خوړل جائز دي؟ ددې مسئلې وضاحت دقرآن او حدیث په رنړا کښې اوکړئ.

جواب: الحمد لله رب العالمین والصلاه والسلام علی رسوله الکریم محمد وعلی آله وصحبه اجمعین. اما بعد: ؟

په دې خبره ټول پوهول پکار دي چه زمونږ دین کامل او پوره دې، هېڅ یوه داسې خبره پاتې نه ده چه

هغه زمونږ دګټې یا دتاوان سبب وی او قرآن اوحدیث کښ هغه نه وی ذکر شوی. الله تعالی فرمائی ﴿ الیوم اکملت لکم دینکم واتممت علیکم نعمتی ورضیت لکم الاسلام دینا ﴾ ترجمه : نن ورځ ما تاسو دپاره ستاسو دین پوره کړو او په تاسو مے خپل خاص نعمت پوره کړو، اوتاسو دپاره مے اسلامی دین غوره کړو.

نو څوك چه وائی چه مینبه په قرآن او حدیث کښ ذکر نه ده، بلکه دا ددین امامانو په قیاس او خپلې رائے سره جائز کړیده – نو ددے شخص دماغ خراب دي، دا شخص به ددغه مذکوره آیت کریمه ددے جملو (اکملت او اتممت) سره څه کوي ؟

دارنګه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

(ما من شئ یقربکم الی الجنه ویباعدکم من النار الا وقد امرتکم به، وما من شئ یقربکم الی النار ویباعدکم من الجنه الا وقد نهیتکم عنه) .

اخرجه البغوی فی شرح السنه (۳۳۰/۷) کما فی المشکاه (۴۵۲/۲) .

یعنی هیڅ یو داسے څیز نشته چه هغه تاسو لره جنت ته نزدے کوی اود جهنم نه مو لرے باسی مګر دهغے حکم ما تاسو ته کړیدے. او هیڅ یو داسے څیز نشته چه هغه تاسو جهنم ته نزدے کوی اود جنت نه مو لرے باسی مګر ما تاسو ته دهغے نه منع کړی ئے. داحدیث شریف په دے مسئله واضحه دلیل دے چه الحمد لله رسول الله ﷺ هیڅ یوه داسے خبره نه ده پریښے چه هغه زمونږ دفائدے یا تاوان سبب ګرځی مګر هغه ئے مونږ بیان کړیده.

بلکه دابو ذر رضی الله عنه نه روایت دے هغه فرمائی :

(لقد ترکنا رسول الله ﷺ وما یحرك طائر جناحیه فی السماء الا ذکرنا منه علما) .

رواه احمد (۱۵۳/۵، ۱۶۲) والطبرانی (۱۵۵/۲) رقم (۱۶۴۷) وزاد :

(وما بقی شئ یقرب من الجنه ویباعد من النار الا وقد بین لکم) .

ورجاله رجال الصحیح قاله الهیثمی فی المجمع (۲۶۳/۸) واخرجه ابن سعد (۱۷۰/۴) وقال الالبانی فی الصحیحه (۴۱۶/۴) رقم (۱۸۰۳) وهذا اسناد صحیح ونحوه فی المستدرك (۴/۲) والبیهقی (۷۶/۷) .

یعنی : رسول الله ﷺ مونږه په داسے حالت کښ پریښودو چه په آسمان کښ یو مارغه خپلے وزرے نه خوزوی مګر مونږ ته ئے دهغے په باره کښ معلومات راکړیدے. بل روایت کښ ورسره دا

اضافه هم ده : داسې هېڅ څېز نشته چه جنت ته نزدې کول کوی او داور نه لرې کول کوی مګر هغه ئې تاسو ته بیان کړېدې . دا حدیث اوددې پشان بې شماره احادیث په دې مسئله باندې واضح دلیل دې چه ددین ټولې مسئلې رسول الله ﷺ بیان کړېدی (علمه من علمه وجهله من جهله) .

دا خو بوه مقدماتی خبره وه. اوس راځو خپل مقصد ته . هغه داچه دمېښې په **حلت** باندې بې شماره دلائل دی چه بعضې دهغې نه دادی :

۱ – قال الله تعالی : ﴿ هو الذی خلق لکم ما فی الارض جمیعا ﴾ یعنی الله هغه ذات دې چه تاسو له ئې ټول هغه څه پیدا کړېدی چه په زمکه کښې دی . دا آیت کریمه صریح دلیل دې په دې چه اصل په اشیاؤ کښې اباحت دې، ترڅو چه دلیل دمنع نه وی راغلې .

۲– قال الله تعالی : ﴿ قل لا اجد فیما اوحی الی محرما علی طاعم یطعمه الا ان یکون میته ﴾ الآیه . یعنی : ورته اووایه ! زه نه مومم په هغه وحی کښې چه ما ته شوېده یو حرام شې په خوړونکی باندې چه خوری ئې، مګر که دا شې مرداره وی یا وینه وی یا دخنزیر غوښه وی، اویا هغه شې وی چه په هغې سره دالله نه سیوا دبل چا نوم اخستې شوې وی .

۳ – قال الله تعالی : ﴿ ومالکم الا تاکلوا مما ذکر اسم الله علیه وقد فصل لکم ما حرم علیکم الا ما اضطررتم الیه ﴾ ترجمه : څه وجه ده تاسو لره چه نه خورئ هغه څېز چه په هغې باندې دالله نوم اخستې شوېدې، او په تحقیق سره په ډیر وضاحت سره ئې بیان کړېدی تاسو ته هغه څه چه په تاسو ئې حرام کړېدی مګر هغه چه تاسو هغې ته محتاج (مجبوره) شوئ .

دا آیت کریمه په دې مسئله واضح دلیل دې چه په کوم څېز دالله نوم واخستې شی نو دهغې خوراك جائز دې، مګر هغه څېز نه دې جائز چه دکوم څېز منع او تحریم په قرآن اوحدیث کښې راغلې وی. نو په قرآن او حدیث کښې په هېڅ یو ځائې کښې دمېښې تحریم نه دې راغلې. نو دالله په نوم اخستو ددې خوراك هم جائز شو .

٤ – دابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې دا فرمائی :

(کان اهل الجاهلیه یاکلون اشیاء ویترکون اشیاء تقذرا فبعث الله نبیه وانزل کتابه واحل حلاله وحرم حرامه، فما احل فهو حلال وحرم فهو حرام، وما سکت عنه فهو عفو، وتلا : ﴿ قل لا اجد فیما اوحی الی محرما ﴾ الی آخر الآیه) .

(رواه ابوداود (۱۸۳/۲) رقم (۳۸۰۰) واسناده صحیح.

یعنې : جاهلیت والو به دخوراك څه څیزونه خوړل او څه به ئې دکرکې او نفرت په وجه پرېښودل، الله تعالی خپل پیغمبر ﷺ رااولیګلو او په هغه باندې ئې خپل کتاب نازل کړو، حلال ئې حلال مقرر کړل،او حرام ئې حرام مقرر کړل، نو کوم څیزونه ئې چه حلال کړیدی هغه حلال دی، او کوم څیزونه ئې چه حرام کړیدی هغه حرام دی، اود کومو څیزونو نه ئې چه خاموشي اختیار کړیده، نو هغه معاف دې، بیا ئې (ددې دتصدیق دپاره) دا آیت کریمه اولوستلو : ترجمه : ورته اووایه ! زه نه مومم په هغه وحی کښې چه ماته شویده یو حرام څیز په خوړونکي باندې مګر داچه هغه وینه وي ... تر آخره پورې . نو دکوم څیز چه په شریعت مطهره (قرآن او حدیث) کښې دحرمت څه نه وي راغلي نو دادلیل دې چه دغه شې جائز دې، اود هغې نه فائده اخستل جائز دي .

اوګوره مجموعه الفتاوی لشیخ الاسلام (۵۳۵/۲۱) .

۵ - دارنګه یوبل حدیث کښې ارشاد دې:

(وسکت عن اشیاء من غیر نسیان رحمه لکم، فلا تبحثوا عنها) . مشکاه (۳۲/۱) .

یعنې : شارع دبعض څیزونو نه سکوت فرمائیلې دې دا سکوت ئې په دې وجه نه دې کړې چه ګنې دهغه نه هیر شویدی، بلکه دا سکوت او خاموشي ئې پتاسو باندې دشفقت دوجې نه کړیده، نو دې څیزونو کښې بحثونه مه کوئ.

۶ - عامه اصولي او متفق علیها قاعده ده چه : اصل په اشیاؤ داکل، شرب، لباس وغیره کښې اباحت دې . نو دمیښې نه هم منع نه ده راغلې نو ددې خوراك جائز شو .

په جواز د میښه باندې خصوصي دلائل :

۱- په دې خبره ځان پوهول پکار دي چه قرآن او حدیث الله تعالی په عربۍ ژبه باندې نازل کړیدی . نو کوم څیز ته چه په عربي لغت کښې کوم نوم ورکړې شوې وي نو حکم به هم دهغه څیز لري . لکه قرآن کریم لفظ د(غنم) شویدې نو کوم قسم حیوان چه د(غنم) یعنې ګډې بیزې په تعریف کښې راځي، هغه حیوان به د (غنم) حکم لري . دغه شان قرآن او حدیث کښې د بقر (غوا، غوئې) حکم ذکر شویدې نو عربۍ ژبه کښې چه کوم حیوان ته بقر وئیلې شي هغه حیوان به په هرڅه کښې بقر (غوا، غوئې) حکم لري .

نو راځئ چه اوس دمیښې په باره کښې عربي لغت ته رجوع اوکړو، چه میښه په کوم قِسم حیوان

کښې داخله ګڼړلے شي. نو اجمالاً ذاخبره واوره چه عربۍ لغت کښې مېښه دغوا یو قِسم ګڼړلے شویده. نوددے وجے نه مېښه دغوا حکم لري. اوس به څوك دا نه وائي چه دمېښے نوم دقرآن او سنتِ نه راوړه. دا به دسائل جاهلانه سوال وي. لکه څنګه چه بقر (غوا) تورے غوا، سپینے غوا، برګے غوا تولو ته وائي، اوس که یوسړے دا اووائي چه مثلاً دتورے غوا غوښه خوړل جائز نه دي ځکه قرآن او سنت کښې دا اوښایه چه توره قرآن غوړل جائز دي. دا سوال به چه جهالت باندے بناء وي. ولے چه قرآن او حدیث کښې لفظ د(بقر) راغلے دے اولفظ دبقر تورے، سپینے، خړے، برګے تولو غواګانو او غویانو ته شامل دے. کله چه بقر جائز شو نو تول انواع او اقسام جائز شول. نو دغه شان جاموس (مېښه) هم دبقر (غوا) یو قسم دے، هر کله چه دغوا غوښه خوړل جائز دي نو ددے بل قسم غوا جاموس (مېښے) غوښه خوړل به هم جائز وي. نو دبقر لاندے دوه نوعے داخل دي:

(۱) غوا (۲) مېښه. اوس که څوك مېښه ددے دخول نه اوباسي هغه به مستقل دلیل پیش کوي. لکه څنګه چه یو انسان توره غوا د بقر نه اوباسي هغه به په دے اخراج باندے دلیل پیش کوي. کوم چه نه شي پیش کولے. نو جاموس دبقر نه په وېستلو باندے هم هیڅ دلیل نشته. بلکه دا دغوا یوقسم دے. دارنګه دغوا نور ډیر اقسام دي، فارمي غوا، زراعتي غوا، عامے کورنۍ غواګانے، ځنګلي غواګانے دا تول دبقر (غوا) دلاندے داخل دي. په بیله بیله باندے دلیل پیش کولو ته ضرورت نشته. دغه شان دمېښے مستقل نوم اخستلو ته ضرورت نشته، روسته ددے نه چه دا په بقر (غوا) کښې داخل ده.

دارنګه په ګډو بېزو کښې هم بے شماره اقسام دي نو دهر یو دپاره بیل بیل دلیل ذکر کولو ته ضرورت نشته. بلکه کوم قسم حیوان چه د (غنم) په تعریف کښې داخلیږي، هغه به د(غنم) حکم هم لري. دغه شان د(ابل) لفظ په قرآن اوحدیث کښې ذکر دے نو داوښانوتول قسمونه لکه: ۱- بخاتي. ۲- عرابي. ۳- مهریه. ٤ - ارحبیه. ٥ - مجیدیه (کما فی المجموع ٤٢٤/٥) داتول د (اِبل) دحکم لاندے راځي. اوس به دا وئیل جهالت وي چه دبخاتي اوښ په حلالوالي څه دلیل دے ؟. دعِرابي اوښ په حلالوالي څه دلیل دے ؟ اوکه بالفرض څوك دغه سوال اوکړي (لکه چه اوس دا سوال مقلدین کوي) نو جواب به ئے همدا وي چه: ددے تولو دحلالوالي دلیل دادے چه دا تول د(اِبل) یعنی اوښ په تعریف کښې دي، دے تولو ته اوښان وئیلے کیږي. دابل تعریف پرے صادق دے. دا علمي قاعده ده چه صدق دمقسِم په خپلو تولو اقسامو باندے حقیقه وي. نو صدق دبقر په جاموس (مېښه) باندے

حقیقه‌شو. نو مېښنه حقیقه‌غوا شوه. او دغوا غوښنه خوړل جائز دی، نو مېښنه به هم جائز وی. اودا قانون ښوائي په عربی لغت کښ نه دے بلکه په هر لغت کښ دا موجود دے. نو دمېښې هم بعېنه داشان حکم دے. ځکه مېښنه هم په عربی لغت کښ (په کوم قرآن نازل شوېدے) دغوا ېو قسم ګڼړلے کېږی.

د مېښې په باره کښ داهل لغت اقوال :

دمېښې په باره کښ تول اهلِ لغت وائی چه دا دغوا ېو قسم دے :

۱ – لسان العرب چه دا دلغتو مشهور اوعمده کتاب دے هغے کښ دی :

(الجاموس نوع من البقر) – ۳۵٤/۲.

۲ – لسان اللسان (۲۰۳/۱) کښ دی : مېښنه دغوا ېو قسم دے.

۳ – المنجد.

٤ – تاج العروس من جواهر القاموس (۵۱۳/۱۵)

للسېد محمد مرتضی الحسېنی کښ.

۵ – اقرب الموارد فی نصح العربېه والشوارد (۱۳۷/۱) للسعېد الخوری الشرتونی.

٦ – معجم متن اللغه موسوعه لغوېه حدېثېه (۵٦۷/۱)

للعلامه اللغوی الشېخ احمد رضا.

۷ – المعجم الوسېط (۱۳٤/۱) کښ.

دے تولو مشهور اهل لغتو مېښه دغوا ېو قِسم منلے ده. نو هرکله چه مېښنه شرعاً دغوا ېو قسم شوه. نو دابه دغوا حکم هم لری. اوداقېاس نه دے لکه بعض جُهال – کوم چه دکتاب او سنت نه داستدلال په طرېقه نه پوهېږی اود قرآن اوسنت قواعد نه پېژنی – دا شان خبرے کوی. بلکه دا په اشاره النص، یا دلاله النص، یا اقتضاء النص کښ داخلېږی.

۲ – **دوېم دلېل** : په دے باندے دعلمائے کرامو اجماع ده چه مېښنه دغوا په شان ده په زکوه، قربانئ، اود هغے په غوښه خوړلو کښ. اود اجماع ماخذ راتلونکی دلېلونه دی. لکه علامه ابن المنذر په الاجماع ص (٤۷) او الاشراف کښ لېکی :

(اجمع کل من یحفظ عنه من اهل العلم : ان الجوامیس کالبقر).

یعنی : دکومو علماؤ نه چه زده کولے شی دهغوئ تولو په دے باندے اجماع ده چه مېښے دغوا ګانو پشان دی.

په المغنی (۴۵۹/۲) کښې علامه ابن قدامه ددې قول نه روسته چه (والجوامیس کالبقر) لیکی: (لاخلاف فی هذا نعلمه) یعنی: په دې کښې مونږ ته هیڅ اختلاف معلوم نه دې (دا اتفاقی خبره ده) چه میښه دغوا پشان ده.

فقه اسلامی (۸۴۲/۲) کښې دی: (اتفق الفقهاء عملاً بحدیث معاذ علی ان اول نصاب البقر ومثله الجاموس ثلاثون) یعنی: دفقهاؤ په دې اتفاق دې دوجې دعمل کولو نه په حدیث دمعاذ باندې چه اولنې نصاب دغواګانو، اوددې پشان دمیښو دیرش غواګانې یا میښې دی.

شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په مجموعه الفتاوی (۲۹/۲۵) کښې رقمطراز دې:

(والجوامیس بمنزله البقر، حکی ابن المنذر الاجماع).

یعنی: میښه دغوا حکم لری، ابن منذر په دې باندې اجماع نقل کړیده. نو اجماع هم حجت دې، ددې نه پس اعتراض کونکی مقلدین ولې دا اجماع نه مني؟

دمیښې په جواز باندې دڅلور وارو مذاهبو اتفاق:

دغه شان په دې باندې دڅلورو وارو مذاهبو وغیره ؤ اتفاق دې:

۱- مالکی مذهب:

امام مالك رحمه الله فرمائی: (وکذلك البقر والجوامیس یجمع علی ربها فی الصدقه. وقال: انما هی بقر کلها. (موطا الامام مالك ص: ۲۹۴). یعنی: دغواګانو او میښو ددې دوارو مالکانو نه به ددې صدقه (زکوه) اخستلې شی، او بیا فرمائی: دې تولو (غوا، اومیښو دوارو) ته غواګانې وئیلې کیږی.

۲- حنفی مذهب:

والجاموس نوع من البقر، کما فی المُغرب، فهو مثل البقر فی الزکاه،والاضحیه) رد المحتار (۱۸/۲) ونحوه فی (۲۰۵/۵). یعنی: میښه دغوا یو قسم دې، نو دابه په زکوه او اضحیه کښې دغوا حکم لری.

۳- حنبلی مذهب: علامه ابن قدامه په المغنی (۴۵۹/۲) کښې لیکی:

ولان الجوامیس من انواع البقر، کما ان البخاتی من انواع الابل).

انظر کشاف القناع (۱۹۳/۲) ـ یعنی: بله داچه میښې دغواګانو نه یو قسم دې، لکه څنګه چه

بخاتي داوښانو نه يو قسم دے.

٤ - شافعي مذهب: امام نووي رحمه الله ليکي:

واما اذا كانت الماشيه نوعين او انواعا بان قسمت الابل الى بخاتي وعراب والى ارحبيه ومهريه ومجيديه. او انقسمت البقر الى جواميس وعراب، اوجواميس وعراب، ودربانيه. او انقسمت الغنم الى ضان ومعز، فيضم بعضها الى بعض في اكمال النصاب بلا خلاف، لاتحاد الجنس) المجموع شرح المذهب: ٤٢٤/٥) - يعني دغوا اوميښے جنس متحد دے، دا دواړه دوه نوعے دي چه د جنس (بقر) نه لاندے داخل دي.

دميښے دجواز په باره کښ درسول الله ﷺ احاديث:

١ - کوم احاديثو درسول الله ﷺ کښ چه دبقر (غوا، غوئي) لفظ راغلے په همغه لفظ کښ ميښه هم داخل ده. ځکه مخکښ ذکر شو چه په عربي لغت کښ چه هرکله بقر لفظ ذکر شي، نو ميښے ته هم شامليږي، اودا شان بے شماره احاديث راغلي دي چه دبقر ذکر په کښ راغلے دے.

٢ - الديلمي په مسند الفردوس (١٢٤/٢) رقم (٢٦٥٠) کښ دعلي رضي الله عنه نه روايت کړيدے چه: (الجاموس تجزئ عن سبعه في الاضحيه). يعني: ميښه په قربانئ کښ داوو کسانو دطرف نه کفايت کوي. دا حديث موقوف دے ليکن په منزله دمرفوع حديث دے، ځکه صحابي ؓ چه داشان اخبار ورکړي نو دائے درسول الله ﷺ نه اوريدلے وي. ولے چه په دے خبره کښ عقل او قياس نه چليږي. نو دا حديث لفظاً موقوف او حکماً مرفوع شو. لکه په دے خبره علماء کرام پوهيږي.

٣ - امام ابن ابي شيبه په خپل مصنف (٢٢١/٣) کښ باب ذکر کړيدے:

(باب من قال: فيما دون ثلاثين من البقر زكوه): عن عكرمه بن خالد قال: استعملت على صدقات عك، فلقيت اشياخاً ممن صدق على عهد رسول الله ﷺ وسالتهم فاختلفوا علي، فمنهم من قال: اجعلها مثل صدقه الابل، ومنهم من قال: في ثلاثين تبيع، ومنهم من قال: في اربعين بقره مسنه .والجواميس تعد في الصدقه كالاباقير).

يعني: عکرمه بن خالد ؒ فرمائي: زه دعك قبيلے په صدقاتو (زکاتونو) راغونډلو باندے عامل مقرر شوم، نو ما دهغه شيوخو (صحابه کرامؓ) سره ملاقات اوکړو چاچه درسول الله ﷺ په زمانه هغه دپاره صدقه دخلقو نه راجمع کړے وه، ما دصدقاتو تپوس دهغوي نه اوکړو. نو هغوي په دے

کښې مختلف شول. بعضو اووئیل : داوښانو پشان صدقه ترینه واخله. ځینو اووئیل : په دیرشو کښې یو تبیع دے. بعضو اووئیل : په څلویښتو کښې یوه مسنه ده. او میښې په صدقه (زکات) کښې دغواګانو په شان دی. نودا حدیث صریح دے په دے کښې چه هغه صحابه کرامو ؓ کومو چه درسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې دخلقو نه داسلامی حکومت دپاره زکوه او صدقات راتولول، هغوی میښې دغوا په شان ګرځولی دی.

٤ – عن هشام عن ابن سیرین قال : اشتکی رجل فوصف له لبن الجوامیس، فبعث الی عبد الرحمن بن ابی بکره : ان ابعث الینا بجاموسه، فبعث الیه بتسع مائه جاموس. فقال : انما اردت واحده، فبعث الیه ان اقبضها کلها. ورویت هذه الحکایه لاخیه الامیر عبید الله، وذلك اشبه. (سیر اعلام النبلاء ٣١٩/٤) و (٤١١/٤) وحلیه الاولیاء لابی نعیم).

یعنی : هشام دابن سیرین ؒ نه نقل کوی چه : یو سړی بیمار شو، هغه ته چا دمیښې دپیئو صفت اوکړو (چه دا درله ښه دی) نو هغه عبد الرحمن بن ابی بکره ته ځوك اولیګل چه مونږ ته یوه میښه راولیږه، عبد الرحمن ورته نهه سوه میښې راولیږلے. هغه سړی وئیل : ما خو صرف یوه غوښتله. نو هغه عبد الرحمن ورته جواب راولیږلو چه دا تولے ستا شوے . دا قیصه دعبد الرحمن ورور عبید الله ته راغلے وه. اودا حق ته نزدے ده. ------ دااثر هم په دے باندے دلیل دے چه میښه دصحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم او تابعین عظامو رحمهم الله په زمانه کښې موجوده وه. هغوی به دمیښې دپیئو اوغوښو نه فائدے اخستلے.

خلاصه داچه : د میښې جواز په قرآن کښې هم ذکردے، په احادیثو درسول الله ﷺ کښې هم ذکر دے، په اقوالو دصحابه کرامو رضی الله عنهم کښې هم ذکر دے، او په اجماع (چه متفق علیه حجت دے) کښې هم ثابته دے. اودے مسئله کښې هم لکه دنورو مسائلو په شان هیڅ قسم خود ساخته قیاس او تقلید ته ضرورت نه راځی. بلکه قرآن او سنت کښې جامعیت دے. ولله الحمد. دتفصیل دپاره اوګوره : (فتاوی الدین الخالص رقم المسئله : ٣٩١/٦) ، چه دمسئلے نوم دے : (افحام الجاسوس فی ادله حل الجاموس).

قرباني کول کله واجب کيږي ؟

سوال : دقربانئ لازمیدو دپاره څومره نصاب شرط دے ؟یعنی چه څومره مال انسان سره وی نو

قرباني وربانده لازمېږی ؟ دارنګ په کوم حیوان قربانی کېږی او په کوم نه کېږی ؟

جواب : الحمد لله والصلاه والسلام علی رسول الله، اما بعد :

دقربانئ دپاره په شریعت کښې څه حد او نصاب نه دے مقرر شوے چه ګنې یو سړی سره دومره دومره مال وی په هغه قربانی لازم ده . بلکه شریعت کښې صرف فراخی شرط کړے شویده . ----- لکه حدیث دابن ماجه کښې دی :

من کان له سعه ولم یضح فلا یقربن مصلانا . (رقم الحدیث : ۳۱۲۳) .

یعنے : دچا چه وسع کېږی او قربانی ئے اونه کړه نو هغه دے زمونږ عیدګاه ته نزدے نه راځی .

غرض په دے حدیث سره زجر دے هغه چاته چه وسع او قدرت لری او بیا هم قربانی نه کوی .

نودچا چه وسع کېږی، دېر قرض وربانده نه وی هغه به قربانی کوی .

بله مسئله : کوم حیوان کښې چه ددے شپږ عیبونه یو عیب موجود وی نو په هغې باندے قربانی نه کېږی . ځکه په حدیث دبراء بن عازب – رضي الله عنه – کښې راځی چه په دے حیواناتو قربانی نه کوی :

۱ – العوراء بین عورها : یعنے په سترګه باندے ښکاره عیب واله .

۲ – المریضه بین مرضها : یعنے ښکاره بیماره .

۳ – والعرجاء بین ضلعها : یعنے ښکاره ګوډه .

٤ – والکسیر التي لا تنقی : یعنے چه ډیره تپه اوخواره وی .

٥ – هر عیب چه غوږونو اوسترګو کښې وی .

٦ – اود کوم حیوان چه تے پریکړے شوے وی، نو که ددے په وجه بیماری پیدا کوی نو نه کېږی اوکه مرض نه وی بیا جائز دے .

(والتفصیل في فتاوی الدین الخالص المجلد السادس) .

کتاب الزکوۃ

مسجد ته د زکوه یا سرمایه ورکولو حکم

سوال : مسجد ته زکات یا صدقه الفطر ورکول جائز دی که نه ؟
مثلاً یو کس دزکات په پیسو مسجد ته زمکه واخلی یا دزکوه پیسې دمسجد په تعمیر اولګوی یائې دمسجد په بل ضرورت کښې اولګوی. په دې صورت کښې ددې کس صدقه الفطر یا زکات اداء شو که نه ؟ دقرآن اوسنت په رڼا کښې جواب راکړئ !
جواب : الحمد لله والصلاه والسلام علی رسول الله اما بعد :
په دې کښې دعلماؤ اختلاف دې چه زکات په مسجد، لاره جوړولو، مسافر خانه جوړولو یا ددې نه علاوه په بل کار خیر کښې استعمالول جائز دی که نه ؟
نو دجمهورو علماؤ مذهب دادې چه مسجد یا ددې نه علاوه بل کار خیر دزکات مصرف نه دې او ددې په جوړولو باندې دزکات مال لګول جائز نه دی. بلکه دزکات مصارف خپله قرآن کریم کښې ذکر شوی دی.
دعلماء کرامو داختلاف منشاء داده چه قرآن کریم کښې دزکات یو مصرف (في سبیل الله) ذکر شوې نو في سبیل الله کښې درې اقوال دی :
۱ – ددې نه صرف مجاهدین مراد دی.
لکه قاضي ابن العربي په احکام القرآن :۹۵۷/۲، کښې د (وفي سبیل الله) په تفسیر کښې دامام مالكؒ نه نقل کوی :
عن مالك قال : وفي سبیل الله کثیره ولکننی لا اعلم خلافاً في ان المراد بسبیل الله ههنا الغزو من جمله سبیل الله.
یعنې : دفي سبیل الله مصداقات ډیر دی لیکن په دې کښې ماته دهیچا هم خلاف نه دې معلوم چه په دې آیت کریمه کښې دفي سبیل الله نه جهاد مراد دې.
دارنګ اوګوره :الشرح الکبیر مع حاشیه الدسوقي : ٤٩٧/١ .
امام قرطبيؒ لیکی :
وهم الغزاه وموضع الرباط یعطون ما ینفقون في غزوهم کانوا اغنیاء اوفقراء، وهذا قول اکثر اهل العلم وهو تحصیل مذهب مالك رحمه الله.
یعنې : دفي سبیل الله نه مراد غازیان اود سرحدي چوکیو پهره داران دی هغوئ ته به زکات ورکولې کیږی برابره خبره ده که دوئ غریبان وی که مالدار، اودا داکثر اهل علمو قول دې اوداد امام مالك

دمذهب حاصل هم دے.

(تفسیر قرطبي: ۱۸۵/۸، سورت التوبه، آیت: ۶۰).

دامام شافعيؒ قول هم دادے چه د (في سبیل الله) نه مراد په دے آیت کریمه کښے صرف مجاهدین دي. ---- لکه هغه په کتاب الام (۶۰/۲) کښے فرمائي:

ویعطي من سهم (سبیل الله) جل وعز من غزا من جیران الصدقه فقیرا کان اوغنیا.

(دفي سبیل الله حصه به هغه غازیانو ته ورکولے شي چه دصدقاتو تقسیم کونکو په خوا کښے اوسیږي غني وي که فقیر).

دارنګ اوګوره: الروضه للنووي: ۳۲۶/۲، تحفه المحتاج: ۹۶/۳، المهذب وشرحه: ۲۱۱/۶).

همدا مذهب دامام احمدؒ هم دے چه دفي سبیل الله نه په دے آیت کریمه کښے جهاد اومجاهدین مراد دي.

(المغني: ۴۷۰/۶، المختصر للخرقي مع شرحه للمغني: ۴۸۲/۶).

امام ابن حزم – رحمه الله – لیکلي دي: واما سهم في سبیل الله فهو الجهاد بحق.

(دفي سبیل الله نه مراد شرعي احکامو مطابق جهاد دے). المحلی: ۱۵۱/۶.

داحنافو هم دا مذهب دے چه د: في سبیل الله نه مراد مجاهدین دي.

فتاوی هندیه: ۱۸۸/۱، کښے دي:

ومنها في سبیل الله وهم منقطعوا الغزاه الفقراء منهم عند ابي یوسف رحمه الله وعند محمد رحمه الله منقطعوا الحاج الفقراء منهم، هکذا في التبیین والصحیح قول ابي یوسف رحمه الله کذافي المضمرات.

د زکات یل مصرف في سبیل الله دے اودے نه مرا د دامام ابویوسف په نزدهغه غازیان دي چه دجهاد نه پاتے شوي وي او فقیران وي. اود امام محمد په نزد هغه فقیران حاجیان دي چه دحج نه دفقر په وجه پاتے شوي وي، صحیح مذهب دامام ابویوسفؒ دے.

اوګوره: المبسوط للسرخسي: ۱۰/۳، تفهیم المسائل: ۱۱۴/۱، ۳۶۷/۳.

دتفصیل دپاره اوګوره: فقه الزکوه: ۶۳۵/۲، ابحاث هیئه کبار العلماء: ۶۲/۱.

خلاصه: په دے باندے دجمهورو علماؤ اتفاق دے چه د في سبیل الله نه مراد په دغه آیت کریمه کښے صرف جهاد دے.

دفي سبيل الله نه هر کار خير مراد نه دے.

نوهرکله چه دفي سبيل الله نه صرف جهاد مراد شو نودزکات روپۍ په مسجدونو جوړولو، مسجد له فرش وغيره اخستلو باندے صرف کولو سره زکات نه اداء کيږي.

در مختار کښے دي:

قال في شرح التنوير: لا يصرف مال الزكوه الى بناء نحو مسجد.

يعنے: زکات به دمسجد وغيره په جوړولو کښے نشي لګولے.

علامه شامي ددے په شرح کښے ليکي:

كبناء القناطير والسقايات واصلاح الطرقات وكري الانهار والحج والجهاد وكل مالا تمليك فيه. (شاميه: ۸۵/۲، ومثله في فتاوى هنديه: ۹۷/۱).

دتفصيل دپاره اوګوره: الفقه الاسلامي: ۸۷۵/۲، فتاوى سعديه: ۲۲۸، فتاوى برکاتيه ص: ۱۱۲، فتاوى اسلاميه: ۹۱/۲، تفسير فتح البيان في مقاصد القرآن: ۳۳۱/۵، الدرر السنيه في الاجوبه النجديه :۲۵٦/۵، مرعاه: ۲۳۹/٦، فقه الزكوه: ٦۳۵/۲، تفهيم المسائل: ۱۱٤/۱، ۳٦۷/۳، ابحاث هيئه کبار العلماء: ۸۲/۱.

صدقه الفطر هم دزکات حکم لري ځکه احاديثو کښے صدقه الفطر ته هم زکات وئيلے شويدے:

عن ابن عمر – رضي الله عنه – ان رسول الله ﷺ فرض زكاه الفطر من رمضان على الناس – متفق عليه.

فتاوى هنديه: ۱۹٤/۱، کښے دي:

ومصرف هذه الصدقه ماهو مصرف الزكوه.

(دصدقه الفطر مصرف دزکوه دمصرف په شان دے).

بحر الرائق: ۲۵٦/۲، در مختار: ۸٦/۲، کښے هم داشان ذکردی.

تنبيه: احناف علماء په مسجد کښے دزکوه لګولو دجواز دپاره يوه **حيله** کوي هغه داچه مالداره کس فقير ته زکوه ورکړي او فقيرئے مسجد ته صدقه (خيرات) کړي نو دوئ وائي چه دا شان باندے زکوه مسجد ته ورکول جائز دي.

ليکن دا حيله کول **حرام** دي ځکه په زکات کښے دجمهورو علماؤ په مذهب تمليك ضروري دے. او يو فقير ته دحيلے په طريقه زکوه ورکولو کښے هغه دهغه زکوه مالك نه جوړيږي.

رسول الله ﷺ په ېهودو باندے لعنت وئېلے دے چه کله په هغوئ باندے الله وازدے خوړل حرام کړل نو هغوئ به حېله کوله چه وازدے به ئے خرڅے کړے اودهغے پېسے به ئے خوړلے. لهذا دا حېلے اودهوکے دالله سره کول جائز نه دی.

د استعمال په سرو او سپېنو کښے زکوه شته

سوال: داستعمال په زېوراتو اوکالو او سرو، سپېنو کښے زکوه شته اوکه نه؟

جواب: ولا حول ولا قوه الا بالله.

راجح قول دعلماؤ دادے چه په سرو سپېنو کښے زکات فرض دے کله چه دهر ېو دپاره مستقل نصاب پوره شی. دسرو نصاب (۲۰) شل دېناره دے چه دهغے نه اوس اووه نېمے تولے جوړېږی. اود سپېنو نصاب درے سوه روپېئ دے چه دهغے نه دوه پنځوس نېمے تولے جوړېږی. برابره ده که دا سره اوسپېن دلوښی په شکل کښ وی یا دګاڼړی په شکل وی یا توتے وی، دغه شان که په استعمال کښے راځی اوکه نه زکات په کښے فرض دے.

۱ – **اول دلېل:** ځکه چه قرآن او حدېث دے باره کښے مطلق حکم کړے، فرق ئے نه دے کړے دګاڼړے او غېرګاڼړے.

﴿ والذېن ېکنزون الذهب والفضه ولا ېنفقونها فې سبېل الله ... الآېه ﴾.

نوکوم علماء چه فرق کوی هغوئ داطلاق دکتاب الله او سنت نه مخالفت کوی.

۲ – **دوېم دلېل:** عن ام سلمه – رضې الله عنها – قالت: كنت ألبس اوضاحاً من ذهب فقلت: ېا رسول الله! اكنز هو، فقال: ما بلغ ان تؤدی زكاته فزكې فلېس بكنز.

ام سلمهؓ فرمائې: مابه د سرو زرو بنګرې اچول، ماعرض اوکړو ېا رسول الله! آېا دا په کنز (خزانه) کښے داخل دې؟ وے فرمائېل: کوم چه د زکوه نصاب ته رسې او دهغے زکات اداء شې نو دا کنز نه دے.

(رواه مالك وابوداود، كما فې المشكاه: ۱/۱۶۰، وسنده حسن.

۳ – **درېم دلېل:** حدېث دعبد الله بن عمرو – رضې الله عنه – دے دوو ښځو دسرو بنګړی اچولی وو، نبې کرېم ﷺ ورته دزکات ورکولو حکم اوکړو.

(رواه ابوداود بسند حسن، المشكاه: ۱/۱۶۰).

٤ – **څلورم دلېل:** حدېث دعائشه – رضې الله عنها – دے چه نبې ﷺ دے ته حکم دزکات

کړے وو په سرو کښے .

(رواه ابوداود رقم : ١٥٦٥، بسند صحيح) .

دغه شان نور احاديث هم شته لېکن دېو مسلمان دپاره دا هم کافي دی .

٢ – دوېمه مسئله : سره د سپېنو سره ضم کول – يعنے يوځائے کول – چه هر يو ېواځے نصاب ته نه رسېږي، لېکن کله چه دواړه جمع کړی نو بيا رسېږي، نو دا په دېن کښے **نشته** . دا صرف دبعضے علماؤ رائے ده څه اعتبار ورلره نشته .

(راجع النووي شرح مسلم : ٣١٥/١) .

بله داچه : ضم الذهب بالفضه دا نوے نصاب مقررول دی، حال داچه مقادير به شارع بيانوی، علماؤ له داحق نشته چه دځانه مقادير جوړ کړی . په مقاديرو کښے رائے له هېڅ دخل نشته . هذا وبالله التوفيق .

وصلی الله علی نبينا محمد وآله وصحبه اجمعين .

د استعمال په څېزونو – موټرو، کورونو وغېره – کښے د زکات حکم

سوال : يو سړے دترکاڼۍ کار کولو دپاره مشېندرۍ واخلی اوکار ورباندے کوی، نو په دے کارو بار کښے نقدي پيسے خونه برابرېږی لېکن مشېندرۍ موجوده ده . اودا مشېندرۍ کله کله خرابېږی هم لېکن خپل قيمت نه ورکوی ترڅو چه توله نه وی خرابه شوے آيا په دے مشېندرۍ باندے زکات شته اوکه نه ؟

جواب : صنعتی آلات او وسائل لکه موټر، مشېندرۍ، د اوړو ملونه، او هر قسم کارخانے اود کراکړۍ سامان، دکرائے کورونه، زمکے وغېره څېزونه چه تجارت دپاره نه وی بلکه دمزدورۍ کولو دپاره نوددے تولو څېزونو په ذات کښے زکات نشته اگرکه داموټرے، مشېندريانے، کارخانے، زمکے اوکورونه دلکهونو اوکروړونو روپو ولے نه وی .

او په دے **مسئله** باندے دتولو علماؤ اتفاق دے، مگر ددے نه چه کوم آمدنی او مال حاصل شی اوهغه مال نصاب ته اورسېږی اوحولان حول اوشي (يو کال پرے تېر شی) نوبيا په دغه آمدنی باندے زکات لازم دے، ځکه پيسے او روپۍ په منزله ددينار او درهم دی شرعاً ---- او **دليل** په دے خبره دادے چه : عامه فقهی قاعده ده چه :

الاصل برائه الناس من التزام التكاليف، ولا يجوز الخروج عن هذا الاصل الابنص صريح عن الله ورسوله.

یعنې : چه الله اود هغه رسول ﷺ هغه اموال په نښه کړي چه هغې کښې زکات فرض دے نو بیا به په کښې زکات فرض وي ورنه نه.

او هغې کښې دا نشته چه زمکو، کشتو، دکرائے کورونو کښې زکات شته دے، سره ددے نه چه دا څیزونه درسول الله ﷺ په زمانه کښې هم موجود وو. او اصل برائت دذمه دے.

۲ - دصحابه کرامؓ ، تابعینوؒ او نورو سلفو نه دا نه دي نقل چه هغوئ دا وئیلي وي چه دے څیزونو کښې زکات لازم دے. بلکه دهغوئ نه خو دا نقل دي چه دے څیزونو کښې زکات نشته.

اوڅوك چه په دے څیزونو کښې زکات فرض ګڼړي لکه یوسف القرضاوي اود هغه بعضے استاذان دا خبره کوي او استدلال په عموماتو باندے کوي نو ددوئ خبره خطاء ده، لکه هغه په فقه الزکوه : ۴۵۸/۱، کښې داخبره کړیده.

ځکه فرضیت یو شرعي حکم دے ددے دپاره شرعي دلیل پکار دے.

او استدلال په داسے مسائلو کښې دعموماتو نه کول انسان بدعت ته رسوي،خصوصاً دارنګ مسائلو کښې چه یو انسان باندے فرضیت او لازمول وي.

ددے مسئلے **تحقیق** په دے لاندینو کتابونو کښې کتل پکار دي چه دے تولو کښې دي چه دغه څیزونو کښې زکات نشته.

فتاوی هیئه کبار العلماء : ۳۸۸/۱، فتاوی برکاتیه : ۱۰۰/۱، جدید فقهي مسائل : ۱۱۲/۱، الروضه الندیه : ۱۹۴/۱، المحلی : ۴/، فتاوی الدین الخالص کتاب الزکوه، فتاوی اسلامیه : ۷۷/۲، الفتاوی العالمکیریه : ۱۸۰/۱، ۱۷۲/۲، البحر الرائق : ۲۲۸/۲، مجموعه الفتاوی اللکهنویه : ۳۶۳/۱).

تنبیه : کوم موټر چه دبارګیرن دپاره وي یا مشینړي وغیره دتجارت او خرڅولو دپاره وي نو دے کښې زکات فرض دے کله چه په هغې باندے کال تیر شي.

۹/شعبان : ۱۴۲۴ هـ.

آیا په قرض روپو کښې زکات شته ؟

سوال : آیا په قرض روپو کښې زکات شته ؟ مثلاً زَید بکر ته یو لکھ روپۍ قرض ورکړی، دبکر سره دغه قرض روپۍ یو، دوه کاله پورې پاتې شی. نو آیا ددې یو لکھ روپو زکات په زید شته دې اوکه نه ؟ ددې مسئلې جواب دقرآن اوسنت په رڼا کښې راکړئ !

وجزاكم الله خيراً !

جواب : لا حول ولا قوه الا بالله.

قرض دوه قسمه دې، (۱) یو **هغه قرض** دې چه په مالداره کس باندې دچا قرض وی. چه کله ئې دهغه نه مطالبه اوکړی نو هغه ورته قرض واپس کوی،نو په داسې قرض زکات لازم دې،ځکه داد امانت حکم اومثال لری.

دې باره کښې دعمر فاروق – رضي الله عنه – فرمان هم شته چه هغه فرمائیلی دی:

فاذا حلت – يعني الزكاه – فاحسب دينك وما عندك واجمع ذلك جميعاً ثم زكه.

یعنې : کله چه دزکات وخت راشی. نو خپل قرض اوهغه روپۍ چه تاسره موجودې وی. یو ځائې حساب کړه او بیا ئې زکات ورکړه.

(المحلى لابن حزم : ٢١٧/٤).

داخبره دجابر، عثمان اوابن عمر – رضي الله عنهم – نه هم نقل ده.

دغه شان دطاؤس، نخعی، جابر بن زيد، حسن، ميمون بن مهران، زهري، قتاده، حماد بن ابي سليمان، شافعي، اسحق اوا بو عبيد – رحم الله الجميع – قول هم دې.

۲ – دویم قسم : **هغه قرض** دې چه په غریب کس باندې وی. چه ته ئې دهغه نه اوغواړې نو هغه ئې تاته نشی درکولې او هغه کس دا اقرار کوی. چه په ما قرض شته دې لیکن زه ئې دداء کولو طاقت نه لرم، یا یو کس بالکل قرض نه منکر وی، نوداسې قرض باندې بیا زکوه نشته. ځکه دا مال دمال غیر مملوکه حکم لری دغه شان دمال غیر نامی په شان وی.

اودافرق نورو علماؤ هم کړې چه قرض په یو غریب کس یاداسې کس چه دهغه نه نه راوزی. نو په دې قرض باندې زکوه نشته.

اوهغه قرض چه په مالداره کس باندې وی او ته ئې چه کله اوغواړې هغه ئې درکوی، نوداسې قرض کښې زکوه شته دې. دهغه کتابونو او علماؤ نومونه دادی :

فتاوی اسلامیه : ۸۸/۲، لاصحاب فضيله العلماء : ابن باز، وابن عثيمين وابن جبرين، فتاوی

هیئه کبار العلماء : ۳۸٦/۱، فتاوی برکاتیه : ۱۱۰، زکات کے مسائل ص : ۹۲، لمحمد اقبال کیلانی، احسن الفتاوی : ۲۵۷/٤، فتاوی الدین الخالص کتاب الزکاه، فتاوی المرأه المسلمه : ۳٤٤/۱، المختارات الفقهیه : ۸۱/۱، ارشاد اولی الابصار ص : ۷۳، کلاهما لناصر السعدي، فتاوی اللجنه : ۱۹۱/۹.

۹/ شعبان : ۱٤۲٤هـ.

د یتیم او لیوني په مال کښې زکات واجب دے

سوال : آیا دیتیم په مال کښې زکات واجب دے اوکه نه ؟

جواب : راجح قول دعلماؤ دادے : چه زکات دیتیم اود ماشوم اولیونی په مال کښې واجب دے .

۱ – ځکه قرآن کریم کښې الله تعالی فرمائی :

﴿ خذ من اموالهم صدقه تطهرهم وتزکیهم بها ﴾ .

اوهر انسان تزکیه او تطهیر ته محتاج دے .

۲ – حدیث دبخاري اومسلم کښې راځی چه کله معاذ بن جبل – رضي الله عنه – نبي کریم ﷺ یمن ته لیږلو نو ورته ئے اوفرمائیل :

توخذ من اغنیائهم وترد في فقرائهم .

نو داحدیث عام دے هرڅوك چه غني وی دهغه په مال کښې زکات لازم دے .

۳ – دعلی بن ابي طالب – رضي الله عنه – نه نقل دی چه هغه به دیتیم دمال نه زکوه اخستلو . (الدارقطني : والبیهقي : ۱۰۷/٤، وسنده صحیح) .

٤ – دقاسمؒ نه نقل دی چه عائشه – رضي الله عنها – به زما اوزما دورور چه مونږ یتیمان وو زمونږ دمال نه به زکات اخستلو .

(موطا : ۱۰٦/۱، ۲۸۲، والشافعي في الام : ۲٤/۲، بسند صحیح) .

۵ – عمر فاروق – رضي الله عنه – به فرمائیل :

(ابتغوا باموال الیتامی لا تاکلها الزکاه) .

(رواه الدارقطني والبیهقي : ۱۰۷/٤، بسند صحیح) .

دغه شان دجابر، عثمان بن ابي العاص اوعبد الله بن مسعود – رضي الله عنهم – نه نقل دی چه

زکات به ترېے وېستلے شی. اودا ګوېا دصحابه کرامؓ اجماع ده.

كما في المصنف لعبد الرزاق: ٦٩/٤، والمحلی: ١١/٤، وابن ابي شيبه: ٢٤٩/٣، والزيلعي في نصب الرايه: ٢٣٢/٢.

٦ – احادېث مرفوعه صرېح هم شته په دے موضع کښے لېکن سنداً په کښے ضعف دے په دے وجه مونږ هغه تول اونه لېکل اود هغے تائېد دا موقوف رواېات کوی.

ددے دلائلو په مقابله کښے بعضے کمزورې دلائل شته لېکن هغه مردود دی، ته هغه خپله په تدبر سره په مذکوره کتابونو کښے مطالعه کړه.

وبالله عز وجل التوفيق.

د قربانۍ څرمن مدرسے یا مسجد ته ورکول

سوال: دقربانۍ څرمن مسجد یا مدرسے ته ورکول څه حکم لری؟ مثلاً که یو کس مدرسے یامسجد ته دقربانۍ څرمنے ورکړی چه په هغے سره دمدرسے یا مسجد تعمېراوشی یادمدرسے اومسجد په ضرورېاتو باندے اولګولے شی، آیا داکار جائز دے؟ دا مسئله دقرآن اوسنت په رڼړا کښے تفصېلا اُولېکۍ! وجزاکم الله خېرا!

جواب: لا حول ولا قوه الا بالله.

دقربانۍ دڅرمنو په باره کښے درسول الله ﷺ ارشاد مبارك دے:

عن علي – رضي الله عنه – قال: بعثني النبي ﷺ فقمت على البدن فامرني عليه الصلاه والسلام فقسمت لحومها، ثم امرني فقسمت جلالها وجلودها.

(رواه البخاري: ٢٣٢/١).

ترجمه: دعلی – رضي الله عنه – نه رواېت دے چه زه نبي کرېم ﷺ اولېږلم نو ما دقربانېو دذبح کولو اهتمام اوکړو، نوماته نبي ﷺ دهغے دغوښو تقسېمولو حکم اوکړو بیا ئے راته حکم اوکړو نو ما دهغے زېنونه اوڅرمنے تقسېم کړے.

امام بخاری – رحمه الله – په خپل صحېح (٢٣٢/١) کښے باب راوړے:

باب يتصدق بجلود الهدي.

نو په دغه حدېث کښے رسول الله ﷺ دقربانۍ دڅرمنو صدقه کولو حکم فرمائېلے.

اود مسجد، مدرسے په تعمیر یا دهغے په ضروریاتو کښے ځرمن ورکول هم صدقه او خیرات دے.
----- بل دا چه دقربانۍ دځرمنو حکم دزکات پشان نه دے ځکه دزکات مال په خپله استعمالول یا دځان دپاره په هغے څه اخستل جائز نه دي. لیکن دقربانۍ ځرمن په خپله هم په استعمال کښے راوستل جائز دي.

لکه الدر المختار: ۳۲۷/۶، فتاوی هندیه: ۳۰۱/۵، کښے دي:

ویتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال وجراد وقربه وسفره ودلو الخ.

دارنګ زکات مالدار ته ورکول جائز نه دي لیکن دقربانۍ ځرمن مالدار ته هم ورکول جائز دي لکه فتاوی هندیه: ۳۰۰/۵، کښے دي:

ویهب منها ما شاء للغني والفقیر والمسلم والذمي کذا في الغیاثیه.

دقربانۍ ځرمن مالدار، فقیر، مسلمان او ذمي کافر ته په هبه کښے ورکولے شي. څومره ئے چه خوښه شي. ------ دارنګ زکات کښے تملیك شرط دے او په قربانۍ صدقه کولو کښے تملیك ضروري نه دے.

خلاصه: دا چه څوك چه وائي. چه دقربانۍ ځرمن په مسجد اودمدرسه لګول صحیح نه دي نو دهغوئ قول خطاء دے.

مولانا ګوهر رحمٰن صاحبؒ په تفهیم المسائل ص: ۱۵۱۳، کښے لیکي:

(دقربانۍ دځرمنو په باره کښے په حدیث کښے راغلي دي چه دادے صدقه کړے شي اود مسجد ضروریات پوره کول هم صدقه ده، دے وجے نه دقربانۍ ځرمن دمسجد متولي ته ورکول جائز دي، بهتره داده چه خپل ځان له دخرڅولو په ځائے دمسجد متولي یا کمیټۍ سربراه ته ځرمنے ورکړے شي چه هغه ئے خرڅے کړي اود مسجد ضروریاتو کښے ئے خرچ کړي).

دغه شان په (۱۵۳/۱) کښے هم دجواز فتاوی ورکړیده.

فتاوی حقانیه: ۴۷/۶، کښے دي:

سوال: دقربانۍ ځرمن یا دهغے قیمت په مسجد مدرسه یا نور دخیر په کارونو کښے خرچ کولے شي اوکه نه؟

جواب: دقربانۍ ځرمن دنفلي صدقاتو نه ده، نوځکه بعینه ځرمن مسجد یا مدرسے ته یا عام اجتماعي منافعو، یا مالدارو ته تملیکاً ورکول اود هغوئ استعمالول مباح دي).

دارنګ اوګوره : آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن سنت کې روښنې مېن :۳۱۸/۲، المحلی : ۵۱/٦، المغني : ۱۱۲/۱۱، ٦٨٨١، فتاوی الدين الخالص شپږم جلد .



كتاب النكاح

جينئ کله د خيار بلوغ حق لري ؟

سوال : زمونږ خور ده هغه په وړوکوالی کښې زمونږ پلار خپل وراره له ورکړېده، په دے مېنځ کښې ډېر کلونه تېر شول او زمونږ خور تعليم کولو تردے چه هغه بالغه شوه، زمونږ دتره ځوئے اوس واده کوی لېکن زمونږ خور چه کله په ښه اوبد پوهه شوے نو هغه په دے نکاح کولو راضی نه وه، او اوس هم راضی نه ده کله چه دواده نوم واوری ژاړی، لېکن زمونږ دتره ځوئے وائی چه زه واده کوم ځکه ستاسو پلار دا جينئ ماته په نکاح راکړے .

اوس سوال دادے چه کله يوه وړه جينئ پلار په نکاح ورکړی او هغه بالغه شی او په دے نکاح راضی نه وی، نو آيا دېته شريعت خيار بلوغ ورکړے که نه ؟

دا مسئله تفصيلا دقرآن او سنت په رنړا کښې اولېکئ ځکه په دے باندے غته لانجه ده .

جواب : لا حول ولا قوه الا بالله ۔

مسئله خیار بلوغ :

که چرې جینۍ بالغه وي نو په اتفاق دعلماؤ باندې دهغې رضا شرط ده که جینۍ راضي نه وي نکاح ئې نه کیږي، اګرکه دجینۍ پلار په نکاح ورکړې وي اود جینۍ رضا نه وي بیا هم نکاح نه صحیح کیږي، دوجې دمخکښې دلائلونه.

پاتې شوه صغیره چه مثلاً یوه جینۍ بلوغ ته نه وي رسیدلې پلارئې په نکاح ورکړي او بیا روست بالغه شي آیا دیته خیار البلوغ حاصل دې ؟ نو په دې کښې دعلماؤ اختلاف دې، راجح خبره داده چه جینۍ لره خیار بلوغ شته دې .او هغه داسې چه جینۍ کله بالغه شي او فوراً دا اووائي چه زه په نکاح راضي نه یم، لیکن ددې خیار بلوغ هله ختمیږي چه کله بالغه شي او ډیر وخت روسته اووائي چه زه په دې نکاح راضي نه یم !

اودلیل په دې خبره دادې :

رسول الله ﷺ فرمائیلي دي :

لا ضرر ولا ضرار ۔ (وسنده صحیح، ارواء الغلیل :۳/۴۰۸).

بل حدیث کښې راځي :

لا ضرر ولا ضرار فی الاسلام ۔ (اخرجه الطبراني في الاوسط : ۱/۱۴۱) .

نوددې حدیث نه دا مسئله هم ثابتیږي چه خیار بلوغ شته ځکه جینۍ ته خیار بلوغ ورنکړې شي او ښځه په دې نکاح راضي نه وي نو دخاوند سره پاتې کیدلو کښې دې جینۍ ته ضرر دې، حال داچه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه : لا ضرر ولاضرار في الاسلام .

یعنی په اسلام کښې نه په خپله ضرر پورته کول شته او نه بل ته ضرر ورکول شته .

۲ – عن ابن عباس – رضي الله عنه – ان جاریه بکرا أتت النبي ﷺ فذکرت ان اباها زوجها وهي کارهه فخیرها النبي ﷺ.

(ترجمه : ابن عباس ؓ فرمائي : یوه پیغله جینۍ رسول الله ﷺ ته راغله او ورته ئې دا خبره ذکر کړه چه زه پلار په نکاح ورکړې یم اوزما رضا نه ده، نو هغې جینۍ ته رسول الله ﷺ اختیار ورکړو.

دا حدیث ابوداود : (۱/۲۹۳، ابن ماجه : ۱/۱۳۶روایت کړې اود حدیث سند هم صحیح دې، اوګوره صحیح ابي داود : ۲/۳۹۵، ابن ماجه : ۱/۳۱۵، للالباني رحمه الله.

نودا حدیث دلیل دے په دے خبره چه یوه جینئ په نکاح رضا نه وی دیته اختیار شته دے، ځکه دے حدیث کښے صریح ذکر دې چه (فخیرها النبي ﷺ).

اودے حدیث کښے دا نشته چه داجینئ بالغه وه.

ځوك چه دا خبره کوی چه دلته جینئ بالغه وه، نو ځکه رسول الله ﷺ ورته خیار ورکړو،نودا خبره یے دلیله ده اود حدیث مقید کول دی په خپله رائے سره.

نو ځوك چه دا وائی چه یوه بالغه جینئ چه پلار په زور چاته په نکاح ورکړې هغے لره خیار شته، اوکومه جینئ چه بالغه وی هغے ته خیار نشته، نو په دے فرق باندے هیڅ دلیل نشته دے . ځکه احادیث تول مطلق راغلی دی، هغے کښے دا نشته چه دا جینئ بالغه وه یا نا بالغه وه، او اصولی قاعده ده چه :

المطلق یجري علی اطلاقه.

او خصوصا اُحناف خو مطلق دومره په اطلاق پریدی چه وائی خبر واحد (اګرکه دبخاری او مسلم حدیث هم وی) مطلق آیت نشی مقید کولے .نودلته بیا څنګه مطلق په رائے سره مقید کیدے شی؟

احناف علماء هم داسے وائی:

١ – علی ان القیاس فی نکاح الاب والجد ان لایلزم.

(علاوه لا داچه قیاس ددے تقاضا کوی چه دپلار اونیکه نکاح دے په یوه جینئ لازم نشی .(په غیر دخیار بلوغ نه).

(بدائع الصنائع للکاسانی الحنفی: ٣١٥/٢).

٢ – شمس الائمه سرخسی په المبسوط (٢١٣/٤) کښے لیکی:

وابن سماعه رحمه الله ذکر فیه قیاساً واستحساناً قال فی القیاس یثبت لها الخیار، لانه عقد علیها عقداً یلزمها تسلیم النفس بحکم ذلك العقد بعد زوال ولایه الاب یثبت لها الخیار کما لوزوجها اخوها، ولکن ترکنا القیاس للحدیث.

(حاصل ددے عبارت دادے چه قیاس دا تقاضا کوی چه دے جینئ ته خیار بلوغ ورکړے شی اودا داسے مثال لری لکه یوه نابالغه جینئ چه ورورچاته په نکاح ورکړی، نو په دے صورت کښے خو بالاتفاق خیار بلوغ جینئ لره شته، نوچه پلارئے ورکړے هم قیاساً باید جینئ دخیار بلوغ حق اولری .لیکن دے وائی چه مونږ دا قیاس دحدیث دوجے نه ترك کړے ۔ ------- مونږ وایو: هغه کوم

حدیث دے او چرته دے؟

که دعائشے – رضي الله عنها – نکاح کول رسول الله ته وي، اودا اووئېل شي، چه هغې ته خپار بلوغ نه دے ورکړے شوے، نو جواب دادے چه مونږ واېو نابالغه جینئ چه کله بالغه شي، نو دېته خپار دے اودا ددے حق دے. او په دے باندے واجب نه دي چه خپل اختیار استعمال کړي، اوپا داچه دا به ضرور دخاوند نه ځان جدا کوي. بلکه مونږ واېو چه دېته خپار بلوغ حاصل دے، دا حق لري چه که په نکاح دپلار باندے رضا نه وي، چه نکاح ماته کړي.

دوېم جواب: دادے چه عائشه – رضي الله عنها – چه خپار بلوغ باندے عمل نه دے کړے نودا خو دلېل ددے نشو چه نورے ښځے به څه نه وائي، اودا خپار به ګنې ورته حاصل نه وي. ------ او دعائشے رضي الله عنها نه چه خپار بلوغ نه دے نقل دا ځکه چه هغه خو په رسول الله ﷺ راضي وه، اوولے به راضي نه وه چه درسول الله ﷺ دا صفات وو:

۱ – اعلي اخلاق:

عن انس رضی الله عنه قال: کان النبی ﷺ احسن الناس خلقا. وسنده صحیح.

(رسول الله ﷺ د تولو خلقو نه زیات ښه اخلاق لرل).

۲ – ظاهري ښاېست:

عن ابي هرېره رضي الله عنه قال: کان النبي ﷺ احسن الناس، ربعه الی الطول ما هو، بعېد ما بېن المنکبېن، اسېل الخدېن، شدېد سواد الشعر، اکحل العېنېن، اهدب الاشفار ... اذا وضع ردائه عن منکبېه فکانه سبېکه فضه.

(ابو هرېره رضي الله عنه فرمائي: نبي ﷺ د تولو خلقو نه زیات ښائسته وو، درمیانه قدئے لرلو، لږ شان اوګدوالي ته مائل وو خو اوګد نه وو، ددواړه اوګو ترمېنځه ئے فاصله ډېره لرله، نرمو اننګو والا، تك تور وېختانو والا، تورو سترګو والا او اوګدو بڼړو والا وو. کله به ئے چه څادرلرے کړو نو داسے به معلومېدو چه ګوپاکه دا د سپېنے زرو نه جوړ شوېدے.

۳ – د ظاهري او باطني اعلي خوېونو خاوند:

عن انس قال: کان النبي ﷺ احسن الناس، واجود الناس، واشجع الناس.

(انس رضي الله عنه فرمائي: نبي ﷺ د تولو خلقو نه زیات ښائسته، اود هرچا نه زیات سخي او زیات بهادر وو).

(وسنده صحيح، انظر جامع الصغير: ٨٤٩/٢).
نو عائشې - رضي الله عنها - نه چه خيار بلوغ نه دے نقل نودا په همدے وجه.
اوزمونږ خبره په هغه چا کښے ده چه يوه ښځه پلار په نابالغ والى کښے ورکړے وى اود خاوند ئے ناکاره صفات وى اوښځه اوس بالغه شوه نو دابه ولے خيار بلوغ نه لرى؟
احنافو هم په دے موضوع داسے ليکل کړى:
رجل زوج ابنته الصغيره من رجل على ظن انه صالح لا يشرب الخمر فوجده الاب شريبا مدمنا، وكبرت الابنه فقالت: لا ارضى بالنكاح ان لم يعرف ابوها بشرب الخمر وغلبه بيته الصالحون فالنكاح باطل اي يبطل وهذه المسئله بالاتفاق كذا في الذخيره، فتاوى عالمگيري.
ابن عابدين شامى ليکي:
حتى لو عرف من الاب سوء الاختيار لفسقه او لطمعه لا يجوز اجماعا.
کفايه المفتى کښے هم مفتى کفايه الله حنفى صاحب ليکى:
باپ اور داد کى طرف سے اگر کوئى ايسى صريح بے رحمى اور بے شفقى نا انصافى سرزد هو تو نکاح نه هونى کا حکم صحيح هے الخ (٧٢/٥).
دغه شان (٨٩/٥) کښے ليکى:
اگر اس لرکى کا باپ نے بے غيرتى يا طمع يا سفاهت مين مشهور او معروف هو تو نکاح منعقد نهين هوا، الخ.
دغه شان شيخ ابو عمر عبد العزيز په خپل کتاب (القنابل المقذوفه على الخاطف والمخطوفه) کښے هم دے ته ترجيح ورکړے ده چه خيار بلوغ شته دے ص: (١٠٨).
دغه شان فتاوي الدين الخالص کتاب النکاح کښے هم دېته ترجيح ورکړے شويده.
يو بل حديث کښے راغلى دى:
ان النبي ﷺ زوج امامه بنت حمزه - وهى صغيره - وجعل لها الخيار اذا بلغت.
چه امامهؓ ته هم خيار بلوغ ورکړے شوے وو. (فقه السنه: ١١٢/٢).
فتاوى نذيريه (٣٩٦/٢) کښے علامه سيد نذير حسين محدث دهلويؒ فرمائى:
اور اهل حديث کے نزديك جب صغيره کانکاح باپ يا داد يا کوئى اور ولى کرديوے اور وه صغيره بالغ هوکر اس نکاح سے راضى نه هو تواس کو فسخ کا اختيار باقى رهتا هے .. اور يهى بات حق هے

الخ .

مولانا خالد سیف الله چه دا یو حنفي عالم دے لیکی :

په دے لړ کښے ابن ابي شیبه یو دریمه رائے پیش کړے ده چه هغه په حقیقت کښے دقاضی شریح رائے ده، چاچه د عمرفاروق – رضی الله عنه – دخلافت نه واخله تر د علي – رضی الله عنه – تر دوره پورے دلویو لویو صحابه کرامو په زمانه کښے دقاضی توب منصب په ښه شان چلولے دے .

دے نه ثابتیږی چه هغه په دین ښه پوهه لرله، ددین په مزاج هم ښه پو هیده اود کتاب اوسنت په مزاج باندے ئے ژور نظر لرلو، هغه قاضي شریح وائی :

(که په خپله پلار هم دنابالغ ځوئے، لور نکاح اوکړي نو ددوئ په بالغ کیدو به ورته خیار بلوغ حاصل وی چه دغه نکاح جاری ساتی اوکه رد کوی ئے .

(اذا زوج الرجل ابنه اوبنته فالخیار لهما اذاشابا) .

(مصنف ابن ابي شیبه : ١٤١/٤) (جدید فقهی مسائل : ١٢٥/٢) .

روسته لیکی : مناسب دادی چه په دے مسئله کښے دقاضی شریح رائے اختیار کړے شی اود پلار، دنیکه دنکاح کولو په صورت کښے هم نابالغه لره دخیار بلوغ حقدار اومنلے شی . (١٣٠/٢) .

اوګوره : فتاوی نذیریه (١٩٥/٢ – ١٩٨)، القنابل المقذوفه علی الخاطف والمخطوفه ص (١٨٠) للشیخ ابو عمر عبد العزیز النورستانی ، آپ کے مسائل اور ان کا حل (٣٤٦/١) لمبشر احمد احمد ربانی -

د تره یاد وراره د ښځے سره نکاح کول

سوال : تره چه مړ شی نو دهغه ښځه وراره په نکاح اخستے شی اوکه نه، دغه شان که وراره مړ شی نو تره ته دوراره ښځه په نکاح اخستل جائز دی اوکه نه ؟ دقرآن اوسنت په رنړا کښے فتوی راکړئ !

جواب : دوراره ښځه خپل تره لره جائز ده، دغه شان دتره ښځه خپل وراره لره جائز ده، او په دے خبره باندے دلیل دادے :

قال الله تعالی : ﴿ واحل لکم ما وراء ذلکم ﴾ النساء : ٢٤ .

(یعنے : دا کوم محرمات چه مخکښے ذکر شو ددے نه سیوا تولے ښځے په نکاح اخستل جائز دی) .

مطلب : داچه الله جل شانه چه کومے ښځے حرامے کړی دی نو په هغوئ کښے دتره ښځه اود وراره ښځه نشته دے .

که دیو کس تره مړ شی اود تره ښځه پاتے شی اود هغے عدت تیر شی نو دوراره دپاره جائز دی چه دتره دښځے سره نکاح اوکړی .

اوکه وراره مړ شو نو تره دپاره جائز دی چه دوراره دښځے سره نکاح اوکړی .

فتاوی اسلامیه : ۱٤۲/۳، کښے دی ----- تحل للرجل زوجه عمه وخاله بعد طلاقه وكذا زوجه اخیه وابن اخیه اذا طلقها وانقضت عدتها .

(یعنی : یوکس دپاره دتره اودماما ښځے سره نکاح جائز دی کله چه هغه ورته طلاق ورکړی، دغه شان دورور او وراره ښځه هم جائز ده کله چه هغه طلاقه کړی او عدت ئے تیر شی -------- فتاوی دیوبند : ۲۸۲/۷، کښے دی چه دهغے حاصل دادے :

(چچی یعنی چچا متوفی کی زوجه سے کذرنے عدت کے نکاح جائز هے، قرآن شریف میں الله تعالی نے فرمایا هے : حرمت علیکم امهاتکم الآیه . اس میں چچی کو محرمات میں سے نهیں فرمایا، اور حدیث شریف میں بھي چچي سے نکاح کي حرمت مذکور نهیں هے ، کسي کتاب تفسیر وحدیث وفقه واصول میں چچي بیوه سے نکاح کی حرمت مذکور نهیں هے، ومن ادعی فعلیه البیان) .

ترجمه : دتره دښځے سره دنکاح حرمت نه په قرآن کښے شته، نه په حدیث، نه په فقه نه په اصولو اونه په بل کوم کتاب کښے، څوك چه ددے خلاف دعوی لری هغه لره دلیل راوړل پکار دی) .

فتاوی دیوبند : ۲۱۰/۷، ۱۷۳، ۳۰۱، ۲۸۲) . --- فتاوی اسلامیه : ۱٤۲/۳، لاصحاب فضیله العلماء : الشیخ ابن باز، الشیخ ابن عثیمین، الشیخ عبد الرحمن بن جبرین .

وفی الحدیث (الحمو الموت) رواه الترمذی .

والحمو اقارب الزوج کالاخ والعم والخال، فعلم انهم غیر محارم ، فیجوز نکاحهم .

انظر الدین الخالص رقم المسئله : ۲۱، ص : ۸۵۵ .

که دیومے ښځے خاوند لیونے شی نو آیا دا د نکاح ختمولو حق لری که نه ؟

سوال : که د یوے ښځے خاوند لیونے وي آیا دیته د نکاح ماتولو حق شته که نه ؟ زمونږ په کلي

کښې د امسئله رامېنځ ته شوې چه ښو سړې آته کاله کېږي چه لېونې شوې او د هغه ځوانه ښځه ده آيا هغه دنکاح ختمولو حق لري که نه ؟

جواب : که دېوې ښځې خاوند لېونے وی نو په دې صورت کښې ښځه دا حق لری چه فسخ دنکاح اوکړی (نکاح ماته کړی) دغه شان که ښځه لېونئ وی خاوند داحق لری چه فسخ دنکاح اوکړی . برابره خبره ده که دا عيب قبل الدخول وی ښځه خاوند کښې يا بعد الدخول پيدا شی .

اود فسخ طريقه داده چه حاکم يا قاضی به دے لېونی ته ښو کال مهلت ورکړی، که روغ شو نو ډېره ښه ده، اوکه روغ نه شو نو حاکم ياقاضی به ددوئ نکاح فسخ (ماته) کړی .

اودليل په فسخ کولو دنکاح قبل الدخول باندې فيصله دعمر فاروق – رضی الله عنه – ده چه هغه فرمائی :

ايما امرأه غريها رجل بها جنون اوجذام اوبرص فلها المهر بما اصاب منها وصداق الرجل علی من غره .

وفي لفظ آخر : قضی عمر في البرصاء والجذماء والمجنونه اذا دخل بها فرق بينهما والصداق لها بمسيسها اياها وهو له علی وليها .

(اخرجه البيهقی : ۲۱۵/۷، ومالك فی الموطا : ۵۲۶/۲، وهو فی زاد المعاد :۱۶٤/۵) .

ترجمه : کومه ښځه باندې چه سړې دهوکه شی او په نکاح ئے کړی اوهغه لېونئ يا جذامی يا برګی مرض والا وی نوخاوند باندې پوره مهر لازم دے ،که جماع ئے ورسره کړې وی، اودے سړی ته به تاوان هغه ځوك ورکوی چاچه دهوکه ورکړې وی .

دغه شان که دا عيب دجنون په ښځه خاوند کښې بعد الدخول پيدا شی نو بيا هم ښځه دا حق لری چه فسخ دنکاح اوکړی .

دا دجمهورو فقهاؤ قول دے او په دے باندې ډېر دلائل دی چه دلته بعضے ذکر کولے شی .

اول دليل :

قال الله تعالی : ﴿ فامسکوهن بمعروف او سرحوهن بمعروف ولا تمسکوهن ضرارا لّتعتدوا من يفعل ذلك فقد ظلم نفسه . (بقره، آيت : ۲۲۲) .

دا آيت کريمه اګرچه دطلاق باره کښې دے چه طلاق شوې ښځو ته دهغوئ دتنګولو او ضرر رسولو دپاره رجوع کول ګناه اوظلم دے، ليکن ددے دعموم نه دا خبره معلومېږي چه دنکاح مقصد (امساك

بمعروف) دے چه دښځے شرعی حق اداء کړے شی اود هغې سره په (حُسن معاشرت) زندګی تېره کړے شی.

لېونے چونکه دخپلے ښځے حقوق نشی اداء کولے چه هغه ترحم، يو بل سره مينه محبت اود ښځے جنسی تعلقات او پُر سکون زندګی ده. نودلېونی سره دښځے پاتے کول ظلم او ضرر دے . اوحدیث کښے دي :

لا ضرر ولا ضرار فی الاسلام .

دویم دلیل : قرآن کریم کښے نکاح ته احصان، خاوندانو ته محصنين او ښځو ته محصنات وئیلے شوی دی چه ددے ماده (حصن) دے یعنی هغه مضبوطه قلعه چه دحفاظت ذریعه وی. نو دنکاح په وجه خاوند هم دخپلے ښځے دعفت او عصمت ساتلو ذریعه جوړیږی، نو ګویا نکاح یوه قلعه ده چه هغې کښے دداخلیدو په وجه ښځه خاوند دواړه محفوظ شی .

لیکن کله چه خاوند دخپلے ښځے دعفت اوپاك دامنئ ذریعه جوړ نشی نودنکاح مقصد حاصل نه شو اوددے قلعے حیثیت ختم شو . نو دښځے پاتے کیدل دخاوند سره بے مقصده کار جوړیږی، چه په دے پاتے کیدو کښے دتاوان نه سیوا نور هیڅ هم نشته .

دریم دلیل : دعمر – رضي الله عنه – فیصله دلیونی په باره کښے کوم چه دجمهورو فقهاؤ دپاره صریح دلیل دے هغه داده :

عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال : کتب عمرو بن العاص الی عمر بن الخطاب في رجل مسلسل بقیود یخافونه علی امرأته فقال : احبسوه سنه یتداوی، فان برأ والا فرق بینهما .

(المدونه الکبری :۲/۲٦٦، سنن سعید بن منصور رقم الحدیث : ۲۰۱۹).

ترجمه : عمرو بن العاص – رضي الله عنه – عمر بن الخطاب – رضی الله عنه – دهغه شخص په باره کښے اولیکل کوم چه په زنځیرونو کښے تړل شوے وو، دخلقو ویره وه چه هسے نه خپلے ښځے ته څه ضرر ورکړی، نو عمر – رضی الله عنه – ورته اوفرمائیل : یو کال مهلت ورکړئ، که جوړ شو نو ښه ده، اوکه جوړ نشو نو ښځه دده نه جدا کړئ .

څلورم دلیل : دعمر فاروق، عثمان، علی، ابن مسعود اومغیره بن شعبه – رضی الله تعالی عنهم – نه نقل دی چه دوئ دعنین (نامرد) باره کښے عنین ته یوکال مهلت ورکړے وو اود یوکال نه روسته ئے دنکاح دختمولو حکم کړے وو.

نودکوم علت په وجه چه خلفاء ثلاثه او نور صحابه کرامو – رضی الله عنهم – دعنین نکاح فسخ کړے وه – چه هغه علت دښځے حقوق نه اداء کول وو – نو دا علت لیونی کښے هم شته دے.

نوځه وجه ده چه په لیونی باندے سره داشتراك علت نه دعنین حکم جاری نه کړے شي ؟ بلکه امیر المؤمنین خو هغے ښځے ته هم اختیار ورکړے چه خپلے ښځے سره جماع کولے شی لیکن دهغه بچی نه کیده اوښځه دخاوند ددے عیب نه خبره نه وه.

اوګوره مصنف عبد الرزاق : (١٦٢/٦، سنن سعید بن منصور (٥٥/٢) رقم (٢٠٢١).

ددے عیب په وجه دا سړے دخپلے ښځے جنسی تسکین کولے شو او نورو حقوق ئے هم پوره کولے شو،لیکن معلومه خبره ده چه ښځے دبچو خواهش هم لری، خاوند هغه نشی پوره کولے نو ښځه دنکاح فسخه کولو اختیار لری په دے شرط که دخاوند په دے عیب باندے دنکاح نه مخکښے خبره نه وه.

نوپه دے صورت کښے چه خاوند لیونے وی ښځه په طریقه اولی دا حق لری چه د نکاح فسخ اوکړی چه دخپلے ښځے جنسی سکون اود زوجیت نور حقوق خاوند نشی اداء کولے.

تنبیه : دلته چه دلیونی داخبره ذکرشوه چه دښځے حقوق نشی اداء کولے نو دښځے حقوق صرف جماع (کوروالی) ته نه وائی، بلکه دښځے حقوق نفقه، استوګنه، جماع، مینه محبت، یو بل باندے رحمت اوشفقت دا تول دزوجینو په یو بل باندے حق دے.

په دے موضوع باندے دعلماؤ اقوال :

جمهور علماء وائی چه کله دیوے ښځے خاوند لیونے شی نو ښځه دنکاح ماتولو (فسخ کولو) مطالبه کولے شی.

قاضی یا حاکم یا بل مشر به لیونی ته یو کال وخت ورکړی که دے یوکال کښے روغ شو نو ښځه به ده سره پاتے وی اوکه روغ نشو ددوئ نکاح به ماته کړے شی.

١– د امام مالك رحمه الله قول :

قال عبد الرحمن بن القاسم : قال لي مالك رحمه الله في المجنون : اذا اصاب المجنون بعد تزويجه المرأه انها تعزل عنه ويضرب له الاجل في علاجه فان برأ والا فرق بينهما وبلغني انه قال : يضرب له اجل سنه .

(المدونه الکبری :٢٦٦/٢).

دارنګ اوګوره الشرح الکبېر للدردېر وحاشېه الدسوقي (۲۷۷/۲) شرح الصغېر (۱/۴۲۴).

۲ – د امام شافعی رحمه الله قول:

هغه هم وئېلی چه که ښځه خاوند کښے جنون یا جذام یا برګی مرض پېدا شو نو هر یو دنکاح فسخ کولو اختیار لری، اګرکه دا لېونے قابل علاج وی.

اوګوره نهایه المحتاج (۳۰۲/٦، مغنی المحتاج (۲۰۲/۳) المهذب وشرحه المجموع (۴۲۱/۱۵) کتاب الام للشافعی (۸۵/۵).

۳ – دامام احمد رحمه الله قول:

ابو القاسم خرقی په خپل کتاب المختصر کښے لېکی:

واي الزوجېن وجد بصاحبه جنونا أوجذاما أو برصا فلمن وجد ذلك منهما لصاحبه الخېار في فسخ النکاح.

یعنے: ښځے خاوند که یو بل کښے جنون، جذام یا برګے مرض بېاموند نو دوئ ته دنکاح فسخ کولو اختیار شته دے.

ابن قدامهؒ لېکی چه دا فتوی دعمر، ابن عمر، ابن عباس اوجابر – رضی الله عنهم – نه هم روایت ده. اوګوره المغني شرح الخرقي (۱۸٤/۷) شرح منتهی الارادات (۸۷/۳).

٤ – دامام محمدؒ او نورو متاخرېن احنافو رائے:

فتاوی عالمګېری کښے دي:

قال محمد رحمه الله: ان کان الجنون حادثا یوجله سنه، کالعنت ثم یخېر المرأه بعد الحول اذالم یبرأ، وان کان الجنون مطبقا فهو کالجب، وبه ناخذ. وکذا في الحاوي للقدسي: ۵۲٦/۲، ۵٤۲.

ترجمه: امام محمدؒ فرمائېلی دی: که چرے دخاوند لېونتوب مستقل نه وی بلکه وقفے وقفے سره واقع کېږي نو قاضی به دعنېن په شان یو کال مهلت ده ته ورکړي، اودیو کال نه روسته به ښځے ته اختیار وی که جوړ نشو. اوکه چرے دخاوند لېونتوب همېشه وی نو بیا بغېر دمهلت نه به فسخ دنکاح کولے شي اومونږ په همدے قول باندے عمل کوو. ----- دا خبره امام محمدؒ په کتاب الآثار کښے هم کړے، اوپه المبسوط کښے امام سرخسی هم دا قول بیان کړېدے. (المبسوط: ۹۷/۵).

در مختار (۸۲۲/۲) او البحر الرائق (۱۳۸/٤) کښے لېکلی: چه: که چرے قاضی دامام محمدؒ په قول فېصله اوکړه نو هغه به نافذه وی. ------ هدایه کښے هم دی چه:

وقال محمد : لها الخيار دفعا للضرر عنها كما في الجب والعنه.

يعنې : كله چه خاوند لېونے شي نو ښځې له دنكاح ختمولو اختيار دے ځكه چه په دے صورت كښې ښځې ته ضرر او پرېشاني ده چه ختمول غواړي، لكه څنګه چه عنېن يا آله تناسل پرېكېدو په صورت كښې ښځې ته ضرر او نقصان وي.

شېخ ګوهر رحمن – رحمه الله – هم په خپل كتاب تفهيم المسائل :۲۲۲/۳ - ۲۳۱ كښې ددے مسئلې ډېر ښه تفصيل لېكلے اودے خبرے ته ئے ترجيح وركړے چه ښځه دنكاح فسخ كولے شي .

------ فتاوی مظاهر علوم كښې خليل احمد سهارنپوری لېكي :

اس صورت مذكوره مېں اكر امام محمد صاحب كے قول كے موافق نكاح فسخ كرايا جائے تو كچهـ مضائقه نهېں اور عورت كو اختيار هے (۲۱۳/۱).

فتاوی نذيريه (۳۹۵/۲) كښې هم دفسخ النكاح فتوی وركړېده .

دغه شان علامه ابن القيم په زاد المعاد (۱٦٥/٥) كښې، او دكتور عبد الكريم زيدان په المفصل فی احكام المرأه (٦۲/۹) كښې دے خبرے ته ترجيح وركړېده.

فتاوی ديوبند (۲٥٥/۱۰) كښې دي :

امام محمد اور امام شافعی وغيره كے نزديك فسخ نكاح كا اختيار هے كذا في رد المحتار پس اكر كسي شافعي المذهب سے رجوع كركے نكاح فسخ كرالېوے تو درست هے. شامي (۹۰۳/۲) فتاوی ديوبند (۲٦۲/۱۰) تفصيلا."

وانظر ايضاً "رحمه الامه في اختلاف الامه للسيوطي، وفيه : ان ذلك في الزوج بعد العقد اوبعد العقد قبل الدخول وبعده تخير المرأه.

وفي نيل الاوطار للشوكاني : قد ذهب جمهور اهل العلم من الصحابه فمن بعدهم الی انه يفسخ النكاح به. والتفصيل في الفتاوي النذيريه (۳۹۵/۲). وكذا الفتاوی الثنائيه (۲۰۹/۲).

نو مسئله مذكوره كښې دے ددے ښځې نكاح فسخ كړے شي اويو مياشت روسته واده كولے شي چه يو حيض ئے راشي، ځكه دا طلاق نه دے، بلكه فسخ ده، او فسخ كښې يو مياشت عدت وي. بله دا چه دا فسخ دے يو عالم يا دكلي مشر ياسخر اوكړي.

۱٤۲٤/۸/۲۳هـ

يو انسان په ځوي توب يا لورتوب سره نيول

سوال : دزید اولاد نه کیده، زید دبکر نه لور واخسته، دا جینۍ د زید سره یولس یا دولس کاله پاتے شوه. اوس دجینۍ پلار ته چا اووئیل چه ستا دلور اوسیدل دزید سره حرام دی ځکه دا ددے غیر محرم دے .

ددغے جینۍ سره د زیداوسیدل حرام دی دارنګ ددے جینۍ سره زید سفر او خلوت هم نشی کولے .

اوس دجینۍ پلار دا غواړی چه خپله لور د زید نه واخلی، لیکن زید دبکر لور نه ورکوی. نو آیا په شریعت اسلامیه کښے بکر د زید نه خپله لور بیرته اغستلے شی اوکه نه ؟

دغه شان ددے مسئلے نور وضاحت هم اوکړئ . وجزاکم الله خیرا !

جواب : دغه مسئله کښے چه بکر زید ته لور ورکړی ددے دپاره چه داجینۍ زید لویه کړی او په پښتو کښے خلق وائی : (داستا لور شوه).

نو په دغه خبره دا جینۍ د زید لور نه ګرځی دیته (متبنی) وئیلے شی، متبنی دیته وائی چه دبل چا ځوئے یا لور وی، او بل کس ورته اووائی چه ته زما ځوئے یا لور شوے .

متبنی جوړول زمونږ په دین کښے منع دی .

الله رب العزت فرمائی :

وما جعل ادعیائکم ابنائکم، ذلك قولکم بافواهکم، الآیه .

اونه دی ګرځولی الله پاك متبنی ستاسو، ځامن ستاسو، دا ستاسو دخولے خبره ده. (څه حقیقت نه لری).

ددے آیت کریمه نه دا مسئله معلومه شوه چه :

اسلام کښے دا مسئله نشته چه دا ستا ځوئے شو !

دغه ستاسو مسئله کښے هم دبکر لور دزید لور نه ګرځیږی، دغه شان ددغه جینۍ سره دزید خلوت (یواځے والے) کول او دزید سفر کول حرام دی .

دغه شان دزید کتل دغه جینۍ ته هم حرام دی .

حاصل : داچه دا جینۍ اوزید غیر محرم اوپردی خلق دی . او زید څنګه دبکر لور دځان سره اوساتی ؟

په دے باره کښے یوه عامه شرعی قاعده واوره :

چه دیوے ښځے اوسړی مینځ کښے خلوت کول دهغوئ سفر کول په دوه صورتونو کښے جائز دی :

۱ – چه دوئ خپل مېنځ کښې محرم وي.

۲ – چه دوئ دواړه ښځه او خاوند وي.

په دغه صورت دمسئلې کښې زېد او دبکر لور خپلو کښې هېڅ هم نه دي، نو بيا څنګه زېد دغه جېنئ ځان سره ساتي؟

اوس چه زېد دبکر لور ځان سره ساتي نو د زېد دا کار حرام اوظلم دے، اود بکر لور بېرته بکر ته ورکول ضروري دي.

اوګوره: الفقه الاسلامي: ٦٦٣/٧.

٥/ شعبان ١٤٢٤ هـ

حرامي سره نکاح کول

سوال: يوه مېړه والا ښځه ديو کس سره اوتښتي اوددے کس نه ددے ښځے لور پيدا شي، نودا خو ښکاره خبره ده چه دا ښځه زناکاره شوه، ليکن زمونږ تپوس دادے چه آيا ددے ښځے (زناکارے) لور په نکاح کول يائے دلور لور يعني ددے زناکارے لمسئ په نکاح اخستل څه حکم لري؟

زمونږ په علاقه کښې دا واقعه رامېنځ ته شوېده، بعضے علماء ورته جائز وائي، يعني دزناکارے لور يالمسئ په نکاح اخستل جائز ګڼري، اوبعضے نور علماء ورته ناجائز وائي. مونږ ته ددے مسئلے حل دقرآن او سنت په رڼا کښې اوکړئ!

جواب: مېړه والا ښځه په نکاح کول په نص قرآني سره حرام ده.

الله تعالى فرمائي:

والمحصنات من النساء (النساء: ٢٤). (او په تاسو حرام دي مېړه والا ښځے).

دداقسم سړي اوښځے نه چه کوم بچي پيدا کېږي دابه (ولد الزنا) حرامیان وي.

اوس دا مسئله چه دولد الزنا سره نکاح کول جائز دي که حرام؟

نو په دے مسئله کښې دعلماؤ اتفاق دے چه دولد الزنا سره که يوکس نکاح کوي نو دهغه سره نکاح کول جائز دي. ----- او **دليل** دادے چه کوم محرمات قرآن اوسنت کښې ذکر شوي په هغوئ کښې ولد الزنا نشته.

اود نورو په باره کښې الله تعالى داسے فرمائي: ﴿واحل لکم ما وراء ذلکم﴾.

(او حلال کړے شوی دی تاسو دپاره هغه زنانه چه ددے زنانو نه علاوه وی (کوم چه په قرآن اوحدیث کښے ذکر دی) ----- اوعام قانون هم دادے چه :

اصل په انکحه ؤ کښے حِل دے، اودلیل وریاندے (ماوراء ذلکم) دے .

پاتے شوه داخبره چه داخو ولد الزنا دے نو داصفت موجب ددے نه دے چه دهغه سره نکاح حرامه شی، ځکه که یوکس ولد الزنا وی نو دا خو دده څه ګناه او قصور نه دے،بلکه ګناهګار خوئے مور او پلار دی.

الله تعالی فرمائی : ﴿ لها ما کسبت وعلیها ما اکتسبت ﴾ . - (سورت البقره،آیت : ۲۸٦) .

بل ځائے کښے دی :

﴿ ولاتزر وازره وزر اخری ﴾ . اسراء ، آیت : ۱۵ .

اودے باره کښے چه کوم حدیث راغلے چه : (لا یدخل الجنه ولد الزنا)

یعنی : ولد زنا به جنت ته نه ځی .

نو دا روایت موضوعی (دځانه جوړ شوے) دے لکه دا خبره علامه ابن الجوزی په الموضوعات کښے کړیده. (اوګوره المنار المنیف ص : ۱۳۳، لابن القیمؒ).

دتفصیل دپاره اوګوره :

فتاوی هیئه کبارالعلماء : ۸۰۱/۲ . فتاوی نذیریه : ۱٦۲/۳، ۳۰۲ . للسید نذیر حسین محدث دهلویؒ. ----- فتاوی دیوبند : ۳۰/۱۱، کښے دي :

ولد الزنا سے نکاح صحیح ھے . (ولد زنا سره نکاح صحیح ده) .

دغه شان (۱۸۸/۷، ۲۱۲) کښے هم ذکر دی.

دارنګ اوګوره : تفهیم المسائل : ۳۰۹/٤، لمولانا ګوهر رحمن . احسن الفتاوی :۷٤/۵ .

آیا د محرم سره په زنا کولو باندے نکاح ماتیږي ؟

سوال : انګور، مور، خور، لور یا خوانیے یا خینے سره چه یو سړے زنا اوکړی آیا دده نکاح ماته شوه اوکه نه ؟ او شریعت کښے ددے سړی څه سزا ده، اکثر احناف وائی چه دده نکاح ورسره ماتیږی لکه مولانا اشرف علی په بهشتی زیور کښے لیکی ؟

جواب : دمور، خور یا لور سره زنا ډیره سخته ګناه اوحرام کار دے اوداسے سړی سزا قتل دے چه

یقینی په ده باندے زنا ثابته شی.

کما فی النسائی من روایه ابي برده بن نیار وکما فی المشکاه (۲۷٤/۱) والترمذی (۲٥۲/۱) عن البراء بن عازب قال: مر بی خالي ابوبرده بن نیار ومعه لواء، فقلت: این تذهب، قال: بعثنی النبي ﷺ الی رجل تزوج امرأه ابیه آتیه برأسه.

او ښځه به هم وژلے شی که دهغے ورسره رضا وه، اوکه چرے په زوره ورسره زنا شوے وه نو هغه به نشی وژلے.

او هرچه دنکاح دماتیدو مسئله ده نو راجح داده چه په زنا سره نکاح نه ماتیږی لکه ابن عباس رضی الله عنه نه دا نقل دی، کما فی البیهقی (۱٦۸/۷) او بخاری هم تعلیقاً راوړے (۷٦٥/۲) واخرجه عبد الرزاق (۱۹۹/۷).

اود علی - رضی الله عنه - نه هم دا نقل دی لکه چه دابیهقی نقل کړے دے.

او ابن حزم په المحلی کښے وئیلی دی چه:

صح ذلك عن ابن عباس وسعید بن المسیب والزهری وعروه ویحیی بن یعمر، وقال: ما حرم حرام حلالا قط (۲۷۹/۹) المحلی لابن حزم.

وقال رحمه الله: لا یفسخ النکاح بعد صحته بزنی یحدث من احدهما ولا بزناه بحریمتها کامها وجدتها او ابنتها او بنت ابنها او اختها وخالها اوعمتها ولا بزناها بابنه.

ترجمه: کله چه نکاح صحیح اوشی نو بیا هغه په زنا باندے نه باطلیږی کومه چه د ښځے یا خاوند کښے دیو کس نه صادره شی، اونه دښځے دمحرم سره په زنا کولو باندے نکاح ماتیږی لکه دښځے مور، نیا، لور، دځوئے لور، دلور لور، خور، ترور او یا دښځے ماسی سره په زنا کولو باندے، دغه شان دخاوند ځوئے سره په زنا کولو سره هم نکاح نه ماتیږی.

وفقال الفقیه الشوکانی فی السیل الجرار (۲٥۸/۲) في شرح قول المصنف: وکل وطی لا یسند الی نکاح، الخ فصواب لان الحکم بالتحریم یحتاج الی دلیل ولادلیل.

(اودا خبره دمصنف چه هر هغه وطی چه نکاح ته مستند نه وی دے سره نکاح نه ماتیږی، همدا خبره دماتن حقه ده ځکه چه په تحریم باندے حکم کول دلیل ته محتاج دی اودلته دلیل نشته دے.

وقال ابن حجر رحمه الله فی الفتح: والی ذلك - ای جواز النکاح بام المزنی بها - الجمهور وحجتهم ان النکاح في الشرع انما یطلق فی الشرع علی المعقود علیها، لا علی مجرد الوطی،

وایضاً فالزنا لا صداق فیه، ولا عده، ولا میراث. قال ابن عبد البر: وقد اجمع اهل الفتوی فی الامصار علی انه لا یحرم علی الزاني تزوج من زنا بها فنکاح امها وابنتها اجوز.

ترجمه: او همدے خبرے ته چه دمزنیے دمور سره نکاح جائز ده جمهورو تگ کړے دے اوددوئ دلیل دادے چه په شریعت کښے دنکاح اطلاق په هغه څه باندے کیږی چه په هغے باندے ئے عقد کړے وی، صرف په وطی باندے دنکاح اطلاق نه کیږی. بله دا چه په زنا کښے خو مهر نه وی او نه په کښے عدت او میراث وی. علامه ابن عبد البرّ وئیلی دی چه: په اسلامی ښارونو کښے داهل فتوٰی په دے خبره باندے اتفاق دے چه دزنا کار سړی دپاره دهغه زنانه سره نکاح کول حرام نه دی چا سره ئے چه زنا کړے وی، نو دهغے دمور او لور سره نکاح دے په طریقه اولی سره جائز شی.

وقال القرطبي فی تفسیره (١١٤/٥):

واختلفوا فی الوطی بالزنا هل یحرم ام لا، فقال اکثر اهل العلم: لو اصاب رجل امرأه بزنی لم یحرم علیه نکاحها بذلك، وکذلك لا تحرم علیه امرأته اذا زنا بامها اوبابنتها وحسبه انه یقام علیه الحد، ثم یدخل بامرأته.

وان زنی بامرأه ثم اراد نکاح امها او ابنتها لم تحرما علیه بذلك، آھ.

وانظر ایضاً المجموع شرح المهذب (٣٨٥/١٧). --- وانظر اعلام الموقعین لشیخ الاسلام ابن القیم (٣١٢/٣) تفصیلا، وجامع الفقه له (١٣٢/٥).

وقال العلامه ابو الطیب صدیق بن حسن علی الحسینی في فتح البیان (٧٤/٣):

وقد اختلف اهل العلم في وطء الزنا هل یقتضی التحریم ام لا، فقال اکثر اهل العلم: اذا اصاب رجل امرأه بزنا لم تحرم علیه نکاحها بذلك وکذلك لا تحرم علیه امرأته اذا زنی بامها او ابنتها وحسبه انه یقام علیه الحد.

وقال الاستاذ الدکتور وهبه الزحیلی فی التفسیر المنیر (٣١٤/٤):

وقال الحنفیه: انه من زنی بامرأه یحرم علیه اصولها وفروعها، وخالفهم باقی الائمه وقالوا: الزنا لا یحرم اصول المزنی بها ولا فروعها.

او فتاوی نور الهدی (چه حنفی فتاوی ده) هغے کښے دی:

واذا قضی القاضی بجواز النکاح التی زنت بامها او بابنتها نفذ عند محمد ص (٨٨).

تنبیه: یو سړے که دخواښے یاخینے سره زنا اوکړی نوښځه په ده باندے دغوره قول مطابق نه

حرامېږي، لېکن دا زناکار ډېر سخت ګناهګار دے، توبه دے اوباسي. اودا نکاح به ذريعه دزنا نه کرځوي، چه يوے ښځے سره په دے وجه نکاح کوي. چه دهغے دمور سره ياخور سره په ناجائز تعلقات ساتي.

باقي تحقيق په فتاوي الدين الخالص کښے کتلے شي.

خښنه غېر محرم ده

سوال: خښنے - يعني دښځے خور - محرمه ده که غېر محرمه، مثلاً دهغے سره خلوت - يوائے والے - کول، هغے له لاس ورکول، دهغے سره سفر کول څه حکم لري؟

جواب: دمسئلے دبيانولو نه مخکښے دا خبره ضروري ده چه الله رب العزت مونږ ته تول دين په واسطه دمحمد رسول الله ﷺ رالېږلے، رسول الله ﷺ په احاديثو کښے ددے دين تفصيل او تشريح فرمائيلے ده.

نو خښنے غېر محرمه ده، دابه دخپل اوخي. نه داسے ستر او پرده کوي. کومه پرده چه دا دپردو خلقو نه کوي. دليل په دے خبره دادے چه:

کوم محرمات چه قرآن اوحديث کښے بيان شوي دي. په هغوئ کښے خښنے يا اوخے نشته، اونه ددين يو عالم وئيلي دي. چه ګينے خښنے دخپل اوخي. دپاره محرمه ده اوخېر دے پرده او ستر دے ورنه نه کوي!

اوکومه خبره چه ددوئ مېنځ کښے دنکاح دنه صحيح کېدلو ده نو دا عارضي. طور سره ده، ځکه که ددے سړي. ښځه مثلاً مړه شي. نو دخپلے خښنے سره په دغه ورځ اود مرګ نه فوراً روسته نکاح کولے شي.

معلومه شوه چه خښنه محرمه نه ده اودا نکاح نه کېدل ددوئ په مېنځ کښے ديو عارض دوجے نه دي.

اوددے مثال داسے دے لکه يوه ښځه دبل سړي. په نکاح کښے ده، نو ددے ښځے دبل سړي. سره نکاح نه کېږي، اودا په تولو خلقو حرامه ده ترڅو چه ددے نه دا خاوند مړ شوے نه وي. او يا هغه طلاقه کړے نه وي. نو دا دبل چا سره نکاح نه شي. کولے. نوآيا دا ښځه به هم دسړو نه پرده نه کوي. ځکه چه ددے اوددوئ خلقو مېنځ کښے نکاح حرامه ده اود يو عارض دوجے نه نه کېږي؟ ------ نو دخښنے مثال هم

بعینه دارنګ دے نوپه دے نکاح نه کیدو خودا دخپل اوخی محرمه نشی جوړیدلے . ----- البته دا ښځه خپل اوخی سره خبرے کولے شی هغه خبرے چه شرع دهغے اجازت ورکوی چه :

۱ – ګپ شپ به نه لګوی، نورے حرامے خبرے به نه کوی.

۲ – دخپل اوخی سره به خلوت نه کوی، ځکه چه رسول الله ﷺ دغیرمحرم سره دخلوت کولو نه منع فرمائیلے ده (کما فی مسلم : ۲/۲۱۶).

۳ – په سترے مه شی وئیلو کښے به لاس خپل اوخی ته نه ورکوی ځکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه زه غیرمحرمو سره مصافحه نه کوم.

اوعائشه رضی الله عنها فرمائیلی دی :

والله ما مست ید رسول الله ﷺ ید امرأة قط کما فی الصحیحین .

(قسم په الله ! درسول الله ﷺ لاس هیڅ کله دپردئ زنانه لاس سره نه دے لګیدلے).

٤ – دا خینے به خپل اوخی ته ډول سینګار نه ښکاره کوی. بلکه دا دے تول بدن ورنه پټ کړی چه مخ پړ کښے هم شامل دے .اوکه صرف مخ او ورغوی ئے ښکاره شی نو دا هم جائز دی البته نور تول بدن پټول ورله ضروری دی.

خلاصه : داچه خینے اواوخی خپل مینځ کښے محرم نه دی اودا نکاح چه اوس ددوئ ترمینځه نه کیږی نودا دیو عارض دوجے نه ده. خینے او یا اوخے دیو بل کور ته ورتلے شی خو چه دا څلور شرطونه موجود وی.

که کوم سړی باندے دفساد شك وی، فاسق وی نو دا دخپلے خینے کور ته نشی تللے، اوکه یو سړے ښه مسلمان وی، په ده باندے دفساد ویره نه وی نو دخپلے خینے کور ته ورتلے شی او هغه دخپل اوخی کور ته راتلے شی خو چه پورتنی څلور شرطونو لحاظ اوساتلے شی.

والتفصیل فی فتاوی الدین الخالص. وفتاوی ابن تیمیه (۱۱/۳۲) وجلباب المرأه المسلمه للشیخ الالبانی رحمه الله.

خپلے خینے سره شهواني تعلق ساتلو سره د نکاح ماتیدو مسئله

سوال : که یوکس دخپلے خینے نه په شهوت سره لاس چاپیره کړی او هغه خکل کړی، یا هغه دسینو نه اونیسی نو آیا په دے صورت کښے په دغه کس خپله ښځه حرامه شوه اوکه نه ؟ دغه شان که

یو کس دخپلې خښنې سره زنا اوکړی آیا په دغه کس خپله ښځه حرامه شوه اوکه نه ؟ دقرآن اوسنت په رڼا کښې جواب راکړئ، وجزاکم الله خیرا !

جواب : دخپلې ښځې دخور – یعنی خښنې – سره جنسی او شهوانی تعلق ساتل غټه ګناه او قبیح عمل دے، که هغه دخپلې خښنې خکلول وی اوکه دهغې سره زنا کول وی دا هرڅه حرام دی.

پاتې شوه دنکاح دماتیدو اونه ماتیدو خبره نود هغې حکم دادے :

چه که یو کس خپله خښنې خکل کړی یا دهغې سره زنا اوکړی نو په اتفاق او اجماع دعلماؤ سره ددے کس دخپلې ښځې سره نکاح نه ماتیږی.

په دے خبره دلیل دادے :

۱ – عدم الدلیل علیه، لان الحکم بالتحریم یحتاج الی دلیل .

یعنی : قرآن او حدیث کښې دا حکم مونږ ته نه دے وئیلې شوے چه یو کس دخپلې خښنې سره شهواني تعلق اوساتی یا زنا اوکړه نو په ده خپله ښځه حرامه شوه، داسے څه خبره نشته . ﴿ وما کان ربك نسیا ﴾.

لکه دا خبره علامه شوکانی په السیل الجرار (۲۵۸/۲) کښې کړیده.

۲ – دابن عباس – رضی الله عنهما – نه نقل دی لکه البیهقی (۱٦۸/۷، عبد الرزاق : ۱۹۹/۷، البخاری تعلیقا : ۷٦۵/۲، چه دوئ فرمائیلی دی :

ماحرم حرام حلالا قط .

(حرام هیڅ کله حلال شے نه حراموی) یعنی داسے نشی کیدے چه دحرام کار کولو په وجه په انسان باندے حلال شے هم حرام شی. مثلا : یو کس زنا اوکړی اوددے زنا دوجے نه په ده خپله ښځه حرامه شی نو دا نه کیږی.

امام ابن حزم رحمه الله فرمائیلی دی :

وصح ذلك عن ابن عباس وسعید بن المسیب والزهری وعروه ویحیی بن یعمر.

(المحلی : ۲۷۹/۹، ۲۸۹).

یعنے : همدا خبره دابن عباس، سعید بن المسیب، زهری، عروة او یحیی بن یعمر نه صحیح ثابته ده.

او امام بیهقی دعلی – رضی الله عنه – نه هم دا شان نقل کړی دی.

دغه شان رد المحتار (۳۸٦/۲) یا (۳٤/۳) کښې دي :

وطی اخت امرأته لا تحرم علیه امرأته .

یعنې : دخپلې خینې سره دزناکولو په وجه خپله ښځه نه حرامیږی .

دارنګ خلاصه الفتاوی : ۷/۲ .

فتاوی دارالعلوم دیوبند (۳٤٤/۷) کښې دي :

(سالی سے زنا کیا تو بیوی حرام نہیں ہوتی) .

فتاوی حقانیه (٤۲۲/٤) کښې دي :

(دخینې سره زنا کولو په وجه پرې خپله ښځه نه حرامیږی، نکاح ئې نه ماتیږی) .

تنبیه : نن صبا اکثر خلق په دے کار کښې ډیره کوتاهي او چشم پوشي کوي چه د خینې سره د اوښي په کیناستلو، سفر کولو، د هغې کور ته ورتللو کښې، خبرو اترو کښې د شرعي حکمونو خیال نه ساتي، نو په دے وجه دا قسم زنا کښې ډیر خلق اخته کیږي، نو مسلمان له په دے باره کښې ډیر احتیاط کول پکار دی، د خپلو ښځو او لونړو حفاظت او ساتنه اوکړئ، خینه او اوښے خپل مینځ کښې پردی دی، دا هیڅکله دیو بل محرم نه دی .

۲۹/جمادی الثانیه :۱٤۲٤ هـ

د خپلې ښځې سره بربنډ ځملاستلو او خبرے کولو حکم

سوال : دخپلې ښځې سره مکمل بے حجابه څملاستل جائز دی اوکه نه ؟ دغه شان دجماع په حالت کښې دخپلې ښځې سره خبرے کول څه حکم لری ؟

جواب : سړے دخپلې ښځې سره مکمل بے حجابه سملاستلے شی، دغه شان په دے حالت کښې خبرے کول هم جائز دی .

په دے باندے ډیر دلائل دی ځینې دادی :

۱ – عن عائشه قالت : کنت اغتسل ورسول الله ﷺ من اناء بینی وبینه واحد – تختلف ایدینا فیه – فیبادرنی حتی اقول : دع لی، دع لی، قالت : وهما جنبان .

نوددے حدیث نه دا مسئله معلومه شوه چه ښځه خاوند یو بل ته دبربنډ توب په حالت کښې کتلے شی، دغه شان دا مسئله ترے هم معلومه شوه چه په دے بربنډ حالت کښې خبرے کول هم جائز دی .

۲ – رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :
احفظ عورتك الا من زوجتك اوما ملكت یمینك .
(رواه ابوداود والترمذی والحاكم والنسائی واحمد) .
ترجمه : دخپل عورت حفاظت کوه (بربندېدو وغیره نه) مگر دخپلې ښځې او وینځې نه حفاظت ضروری نه دے .
قال ابن عروه الحنبلی فی الکواکب (۱۹/۱) (۵۷۵) :
ومباح لکل احد من الزوجین النظر الی جمیع بدن صاحبه ولمسه حتی الفرج لهذا الحدیث .ولان الفرج یحل له الاستمتاع به فجاز النظر الیه ولمسه کبقیه البدن .
یعنے : ښځه خاوند یوبل ته نظر کول جائز دی چه دیو بل عورت او تول بدن ته اوگوری . -----
ابن سعد دواقدی نه نقل کوی چه هغه وائی :
ما انس بن مالك، ابن ابي ذئب لیدلی دی چه هغه په دے باندے باك نه کولو چه ښځه خاوند دیوبل شرمگاه او بدن اووینی .
نو چه دیو بل بدن لیدل ورله جائز دی نو بربند هم ځملاستلے شی او خبرے هم کولے شی . لکه دبخاری اومسلم دحدیث نه معلومه شوه .
(اوگوره آداب الزفاف للشیخ الالبانی ص : ۴۰) .
لیکن دجماع نه پس دځادر وغیره په ځان باندے داچولو نه بغیر تر سحره پورے دغسے بربند سملاستل خلاف ادب دی، پکار داده چه جماع اوکړے شی نوبیرته ښځه خاوند خپل عورت پټ کړی . ځکه حدیث شریف کښے دی :
فالله احق ان یستحیی منه من الناس .
یعنے : دخلقو په نسبت الله ډیر حقدار دے چه حیاء ترے اوکړے شی .
دغه شان دملائکو نه حیاء کول پکار دی .
فتاوی دار العلوم دیوبند (دمحمد شفیع صاحب) کښے دی :
اور خود زوجه سے کلام کرنے میں مضائقه نهیں .

یعنے : دجماع په حالت کښے دبل چا سره خبرے کول مکروهه دی، خو دخپلے ښځے سره په خبرو کولو کښے څه باك نشته دے . (۱۰۳۲/۲) .

یوه کونډه اود هغې انګور په نکاح کښې جمع کول

سوال : احمد اوحامد دواړه دیو مور او پلار ځامن دي، حامد وفات شو، احمد دحامد زوجه په نکاح کړه، دحامد نه یو ځوئې پاتې شو، هغه بالغ شو، واده ئې اوکړو، روستو وفات شو، احمد ته چه دحامد هغه زوجه چه په نکاح کړې ئې وه ژوندئ ده په دې وخت کښې دحامد دځوئې زوجه په نکاح کولې شي یانه ؟ ځکه یو طرفته داحمد زوجه دمتوفي دزوجې خواښې کیږي، یعنې دواړه سره جمع کیدې شي اوکه نه ؟

جواب : لاحول ولا قوه الا بالله :

په دې صورت دمسئله کښې احمد دحامد ښځه اود هغه انګور په نکاح کښې جمع کولې شي، ځکه دلته اګرچه دحامد ښځه اود حامد دځوئې ښځه په خپل مینځ کښې خواښې او انګور یعنې قریبان دي، لیکن ددوئ قرابت دومره نزدې نه دې چه هغه ددې سبب جوړ شي چه دوئ دواړه یو کس ته په نکاح کښې جمع کول حرام شي .

دې باره کښې شرعي قاعده داده چه یو کس له ددوو خپلوانو ښځو په نکاح کښې جمع کول هغه وخت حرام دي چه په دې ښځو کښې هره یوه نر (نارینه) فرض کړې شي نو دبلې سره ئې نکاح حرامه وي .

اوګوره الفقه الاسلامي : ۱۶۱/۷ . المغني : ٤٧٩/٧ . مغني المحتاج : ۱۸۰/۳ .

(الدر المختار : ۳۰۹/۲، فصل في المحرمات . کشاف القناع : ۸۰/۵) .

دلته کښې دحامد دښځې او انګور ترمینځه دا صورت نشي جوړیدې،نو ددې وجې نه داحمد دپاره دحامد ښځې او دهغه انګور په نکاح کښې جمع کول جائز دي .

الله تعالی فرمائي : ﴿ واحل لکم ما وراء ذلکم ﴾ .

دارنګ دحامد ځوئې داحمد پرکتئ (ربیب) کیږي اودربیب ښځه هم په نکاح اختسل جائز دي .

(رد المحتار : ۳۰۳/۲) .

د خپلې ښځې نفقه په خاوند فرض ده
لیکن د نافرمانه ښځې نفقه لازم نه ده

سوال : ما خپله لور یوکس ته واده کړه، دځو کلونو نه پس هغه زما دلور سره جنګ اوکړو اوزما لور زما کور ته راغله، دهغې سره بچې هم وو، دهغې خاوند (۸) کاله خبر وانه خیسته، آته کاله پس وائی چه زه خپله ښځه بیرته کورته بوځم، لیکن زه ورته وایم چه ماته به د اتو کالو خرچه راکوې کوم چه ستا په ښځه اوبچو باندې ما کړیده،زما زوم ئې نه راکوی، آیا زه ده نه ددې نفقې اخستلو حق لرم اوکه نه ؟

جواب : په خاوند باندې دا فرض دی چه خپلې ښځې ته نفقه ورکړی چه هغه عبارت دې دخوراك، لباس اود مسکن (استوګنې دځائې) نه. په دې خبره باندې دقرآن اوحدیث نه ډیر دلا ئل دی اوپه دې خبره دعلماؤ اجماع ده چه خاوند به خپلې ښځې ته نفقه ورکوی.

لیکن په یو صورت کښې په خاوند باندې نفقه ورکول نشته، او هغه داچه ښځه کښې نشوز (نافرمانی) پیدا شی.

۱ - **اول دلیل** : قال الله تعالی : ﴿ اسکنو هن من حیث سکنتم من وجدکم ﴾ .

ترجمه : اووسوئ دوئ لره په هغه ځائې کښې کوم کښې چه تاسو اوسیږئ دخپل وس مطابق.

----- دې آیت کریمه کښې الله رب العزت دطلاق شوې ښځو دنفقې حکم بیان کړې دې چه خاوند به هغې ښځې ته چه طلاقه شوې وی نفقه ورکوی، نو کله چه په خاوند باندې دطلاق شوې ښځې نفقه لازمه ده نو دهغې ښځې نفقه چه دده په نکاح کښې وی دابه په طریقه اولی باندې په ده لازمه وی.

لکه دا خبره ابن قدامه رحمه الله هم بیان کړیده.

احکام القرآن للجصاص : ۴۵۹/۳ . تفسیر ابن العربي : ۱۸۲۷/٤ .

۲ - **دویم دلیل** : قال الله تعالی :

﴿ وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن بالمعروف ﴾ .

(په پلار ددې بچی باندې لازم دی خوراك اوجامه ددې - یئ ورکونکو - ښځو ته په ښه طریقه باندې).

په (احکام القرآن: ٤٠٤/١) کښې جصاص لیکلی دی چه ددې آیت تقاضا داده چه په خاوند باندې دښځې نفقه په حالت دنکاح کښې هم واجب ده، ځکه آیت شاملیږی تولو میندو ته که هغه حالت نکاح کښې وی یا طلاقه شوې وی.

ابن رشدؒ وائی : دښځې په حقوقو کښې په خاوند باندې یو حق دادې چه خاوند به ښځې ته نفقه ورکوی او استدلال ئې په دغه ذکرشوی آیت باندې کړې دې .

دغه شان علامه علاء الدین الکاسانی هم فرمائیلی دی :

اما وجوبها – اي نفقه الزوج – فقد دل علیه الکتاب والسنه والاجماع والمعقول. اما الکتاب العزیز فقوله تعالی : ﴿ اسکنو هن من حیث سکنتم من وجدکم ﴾ وقول الله تعالی : ﴿ وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن بالمعروف ﴾ .

ابن المنذرؒ فرمائیلی دی :

هذه نفقه وجبت بالکتاب والسنه والاجماع . (اوګوره زاد المعاد : ٤٥٤/٥) .

ابن القیمؒ فرمائیلی دی :

ان نفقه الزوجه تجب مع الیسار والاعسار وکذلك ان نفقه الزوجه تجب مع استغنائها بمالها . زاد المعاد :٤٥٣/٥ .

یعنې : که دیوې ښځې خاوند غریب وی که مالداره نود هغې نفقه په ده باندې واجب ده، دارنګ که ښځه مالداره هم وی بیا به هم خاوند هغې ته نفقه ورکوی .

دې باره کښې احادیث د رسول الله ﷺ :

١ – رسول الله ﷺ دحجه الوداع په خطبه کښې فرمائیلی وو :

(واتقوا الله في النساء فانکم اخذتموهن بامانه الله واستحللتم فروجهن بکلمه الله ولهن علیکم رزقهن وکسوتهن بالمعروف) .

(اخرجه مسلم في الحج باب حجه النبي ﷺ ، رقم الحدیث : ١٢١٨) .

ترجمه : دالله نه دښځو په باره کښې ویره اوکړئ ولې چه تاسو دوئ دالله په امانت سره اخستی اوددوئ شرمګاهونه مو دالله په خبره حلال ګنړلی دی، اوس تاسو باندې ددوئ خوراك څکاك او اغوستن دعرف مطابق ضروری دې .

٢ – رسول الله ﷺ دابو سفیان ښځې – هندې – ته فرمائیلی وو :

(خذي مایکفیك وولدك بالمعروف) .

(اخرجه البخاری في البیوع : ٣٣٨/٤، ومسلم رقم : ١٧١٤، في الاقضیه) .

ترجمه : ته دخپل خاوند – ابو سفیان – دمال نه دومره حصه – بې اجازته – اخستې شې څومره چه

ستا او ستا دبچو دپاره دعرف مطابق کافی کېږی .

طریقه داستدلال ددے حدیث نه داده : چه که ددے ښځے حق په خپل خاوند نه وے نو رسول الله ﷺ به هندے ته دانه فرمائیل چه دخپل خاوند ابو سفیان دمال نه دعرف مطابق خرچه بے اجازته اخستلے شے . ځکه پردے مال خو بے اجازته اخستل جائز نه دی . معلومه شوه چه دښځے خرچه په خاوند ضروری ده .

په خاوند باندے دښځے د نفقے لازمېدلو شرطونه :

۱ - اول شرط : ښځه به خپل خاوند ته ځان تسلیموی :

دتسلیمولو معنی داده چه ښځه به دخاوند سره جماع کولو ته ځان تیاروی ، که یوه ښځه دخاوند سره (د شرعي عذر نه بغیر) جماع (کوروالی) ته تیاره نه وی یا نور (حقوق زوجیت) نه اداء کوی نو په دے صورت کښے دښځے دنفقے حق نشته .

دلیل په دے باندے هغه مخکښے ذکر شوے حدیث دے .

واستحللتم فروجهن .

چه خاوند به نفقه په دے وجه ورکوی چه ښځے ورته ځان سپارلے وی نواوس چه ښځه خپل خاوند ته ځان نه سپاری اوخاوند سره جماع نه کوی نو په دے صورت کښے بیا نفقه دځه شی غواړی ؟

اوګوره البدائع : ۱۸/٤ . الهدایه : ۳۳٤/۳ . الفتاوی الهندیه : ۵٤۵/۱ .

۲ - دویم شرط : ښځه به دخاوند - دشریعت موافق - تابعداری کوی :

او اطاعت نه کولو ته (نشوز) نافرمانی وئیلے شی ، اوکله چه ښځه ناشزه (نافرمانه) شی نو په دے صورت کښے په اتفاق دعلماؤ سره په خاوند باندے دښځه نفقه لازمه نه ده .

بیا د نشوز او نافرمانئ صورتونه دادی :

۱ - دکورنه دخاوند داجازے نه بغیر اوځی .

که چرے یوه ښځه دخاوند داجازت نه بغیر بهر وتله نو داناشزه ده، نوددے دنفقے حق ختم شو .

------ در مختار کښے دی :

وخارجه من بیته - اي بیت زوجها - بغیر حق، وهي الناشزه بالمعنی الشرعي . (۵۷٦/۳) .

(شرعاً نا فرمانه هغه ښځه ده چه په ناحقه - د شرعي عذر نه بغیر - د خاوند له کور نه بهر اوځي .

----- المغنی لابن قدامه کښے دی :

او خرجت من منزله بغیر اذنه – الی ان قال – فلانفقه لها ولا سکنی فی قول عامه اهل العلم ـ
----- یعنې : کله چه ښځه دخاوند داجازت نه بغیر دکور نه اوځی نو دعامو علماؤ په نزد نه دنفقې حق لری اونه د استوګنې حق لری.
دغه شان کشاف القناع : ۴۳۷/۳، فتاوی المرأه : ۸۸۳/۲، کښې هم دی. او تفصیل په المفصل في احکام المرأه : ۱۵۲/۷ – ۲۲۳) للدکتور عبد الکریم زیدان.
نودغه ستاسو مسئله کښې چه پلار خپله لور دخاوند نه اته (۸) کاله ایساره کړیده که چرې دخاوند دطرفه ظلم شوې وی لکه په ښځه باندې ډیر ظلم کول چه پلار مجبور شی چه لور خپل کور ته بوځی. یا خاوند ددې سړی لور ته نفقه نه ورکوی چه خوراك څکاك، لباس، ځائے، تداوی کله چه ښځه بیماره شی،نه کوی، یا بل داسې شرعي عذر وی چه پلار مجبور وی چه لور کورته ځان سره بوځی نو په دې تولو صورتونو کښې په خاوند لازم دی چه د (۸) اتو کالو خرچه ددې ښځې پلار ته ورکړی.
اوکه چرې ښځه ناشزه (بداخلاقه، نافرمانه) وه یا هغه شرطونه ښځه کښې نه وو کوم چه مخکښې ذکر شو، نو بیا په خاوند باندې د آتو کالو دخرچې حق نه شته .
چه مثلاً ښځه دخاوند حق نه اداء کوی (هغه حقونه کوم چه شریعت لازم کړی دی)، ښځه دخاوند داجازې نه بغیر دکور نه اوځی، یا ښځه بوغیر شرعی کار کوی، مثلاً دغیر محرم نه پرده نه کوی، نو اوس ستاسې مسئله کښې باید یو څو دیندراه کسان خپل مینځ کښې سره جرګه شی اوددې ښځې او دهغې دپلار اود ښځې دخاوند باره کښې معلومات اوکړی چه کوم طرف ظالم او کوم طرف مظلوم دې، که هر څوك ظالم اوختلو تاوان په هغه راځي، که دښځې خاوند وی اوکه دښځې پلار وی.
دارنګ اوګوره فتاوی نذیریه (۱۰۰/۳). ۱۴۲۴/۲/۶ هـ .

د بلوغ (وخته رسیدو) نښې اود هلك او جینۍ د بالغ کیدو دعوی کول

سوال : که چرې جینۍ دعوی کوی چه زه بالغه یم اود هغې خاوند یا پلار دعوی کوی چه بالغه نه ده، نو په دې کښې به دچا خبره منلې شی اود بلوغ علامات څه دی ؟

جواب : ولا حول ولا قوه الا بالله .

دجینکو دبلوغ علامات دادی :

۱ – حیض (۲) احتلام (۳) حمل (٤) کم نه کم هغه عمر چه جینکۍ په هغې کښې وخت (بلوغ) ته رسیږی. نهه کاله دی.

ددې هر یو تفصیل دادې:

۱ – حیض وئیلې شی دمخصوص ځائې (عورت) نه بغیر دمرض نه دوینې وتلو ته، او حیض ددې خبرې دلیل دې چه جینۍ پیغله شوه.

در مختار کښې دی: وادنی مدته – اي مده البلوغ للغلام: اثنا عشر سنه، وللجاریه تسع سنین، وهو المختار (١٥٤/٦. فتاوی دیوبند: ٨٩/٨).

مبسوط د سرخسی کښې دی: فاما البلوغ بالعلامه وهی في الجاريه بالحيض او بالحبل او بالاحتلام وادنی المده فی ذلك تسع سنين (١٨٤/٩).

ومثله فی امداد الفتاوی لاشرف علی التهانوی: ١٩٩/٢.

ددې دواړو مطلب دادې چه دښځې بلوغ په حیض،احتلام او حمل کیدو باندې راځی چه ددې کمه موده نهه کاله ده.

۲ – احتلام: داهم دلیل دبلوغ دې، که دیوې جینۍ احتلام اوشی نو داهم دبلوغ نښه ده. دې سره جینۍ وختته اورسیده.

۳ – حمل: داهم دبلوغ علامه ده. لکه مخکښې ددرمختار او مبسوط په عبارت کښې ذکر شو،ځکه حمل دنابالغې جینۍ نه کیږی، لکه داخبره واضحه ده.

خلاصه: داچه جینۍ بالغه کیږی نو یا په حیض راتلو سره یاپه احتلام سره، یاپه حمل کیدو سره.

٤ – اود عمر په لحاظ سره چه د (۹) کلونو شی نو بیا هم احتمال دبلوغ لری.

★ اوس که یوه جینۍ پلار په نکاح ورکړی اوجینۍ دعوی اوکړی چه زه بالغه یم آیا ددې دعوی صحیح کیږی اوکه نه؟

جواب دادې چه آو! ددې دعوی به صحیح کیږی چه کله مراهقه – یعنی قریب البلوغ – وی.

۱ – بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع للکاسانی الحنفي کښې دی:

واذا اشكل امر الغلام المراهق في البلوغ فقال: قد بلغت يقبل قوله، ويحكم ببلوغه، وكذلك الجاريه المراهقه، لان الاصل في البلوغ هو الاحتلام وانه لايعرف الا من جهته، فالزمت الضروره قبول قوله كما في الاخبار عن الطهر والحيض. (١٧٢/٧).

در مختار علی هامش رد المحتار کښې دي :

فان راهقا بان بلغا هذا السن - التاسع للجاریه - فقالا : بلغنا صدقا ان لم یکذبهما الظاهر، وهو ان یکونا بحال یحتلم مثلهما والا لا یقبل قولهما، وهما حینئذ کبالغین حکماً، فلا یقبل جحودهما البلوغ بعد اقرارهما (١٥٤/٦) - یا - (١٣٢/٥).

دبدائع او درمختار دعبارت مطلب دادې چه : که هغه جینۍ یا هلك چه بلوغ ته ئې عمر نزدې وی دبلوغ دعوی اوکړی نو دعوی ئې صحیح ده اودوئ ته حکماً بالغان وئیلې شی، لیکن شرط دادې چه ددوئ ظاهر به هم ددوئ تصدیق کوی، مثلاً دوئ چه کوم عمر کښې وی نوددوئ همزولی بالغان شوی وی،اویا ددوئ پشان یوه جینۍ مثلاً صورت لری اوهغه بالغه شوې وی. اوکه دوئ دبلوغ دعوی اوکړی لیکن ددوئ دصورت نه داپه ښکاره معلومیږی چه دروغ وائی مثلاً جینۍ په صورت او په عمر کښې ډیره وړه وی او وائی زه بالغه شوې یم،نو دابه بیا نشی منلې.

فتاوی دار العلوم دیوبند کښې دی :

مراهقه کا قول در باره بلوغ معتبر ومصدق هوتاهے (٤٨/٨) --او په (٩٥/٥) کښې وائی :

دس برس کی لرکی جب کهے که حیض آتا تو مانا جائیکا اس کا نکاح اس کی مرضی سے هوکا .

---- (دلسو کالو جینۍ چه اووائی ماته حیض راځی نو دهغې خبره به منلې شی او نکاح به دهغې په رضا تړلې شی).

اوپه (١٤٥/٥) کښې هم وائی چه دمراهقې جینۍ دعوی به منلې شی چه که هغې دا دعوی اوکړه چه زه بالغه یم یعنی ماته حیض راځی.

دغه شان په (١٩٦/٥) کښې هم وئیلی چه جینۍ د (٩) کالو په عمر مراهقه کیږی.

په المبسوط کښې وائی :

چه جینۍ د (٩) کالو په عمر کښې بالغه کیدې شی (١٨٤/٩).

امداد الفتاوی (١٩٦/٢) کښې اشرف علی تهانوی حنفی لیکی :

از مجموعه روایات بوضوح پیوست که در بلوغ قول زن معتبر است هرکاه صدقش محتمل باشد ووقت اختلاف اورا حلف داده شود الخ .(ددې تولو روایتونو نه دا خبره واضحه شوه چه په بلوغ کښې د جینۍ خبره معتبره ده).

حاصل : داچه دیوې جینۍ دعوی دبلوغ باره کښې صحیح کیږی اوکه چرې دجینۍ باره کښې

نیا او ترور اوتره دبلوغ (حیض) ګواهي ورکړي نو دا ګواهي په طریقه اولی سره قبلیږي . ځکه چه داښځه په خپله اووائي چه زما حیض راغلے نوددے به تصدیق کولے شي نوکه چرے ددے جینئ ترور او تره او نیا ګواهي ورکړي نودا ګواهي خوبه ضرور قبلولے شي په دے شرط چه دے ګواهانو کښے دقبول الشهادت شروط موجود وي .

فتاوی نور الهدی چه په فتاوی جامع الرموز سره مشهوره ده ص (۹۶) کښے دي :

كما لو زوجها ابوها مثلا زاعما عدم بلوغها فقالت : انا بالغه والنكاح لم يصح وهي مراهقه وقال الاب اوالزوج بل هي صغيره، فان القول لها، ان ثبت ان سنها تسع .

یعنے : یوه جینئ د (۹) کالو په عمر دحیض دعوی اوکړي اودهغے پلار یا خاوند اووائي چه دیته حیض نه دے راغلے نو دلته به دجینئ خبره منلے شي .

دنکاح صحیح کیدو دپاره شرائط :

۱ - رضا الزوجین : چه دښځے خاوند به رضا وي په نکاح باندے، که چرے ښځه یا خاوند په نکاح راضي نه وي نودا نکاح نه کیږي .

۲ - د ښځے د ولي رضا : که چرے هلك او جینئ رضا وي، لیکن د جینئ د ولي (سربراه) رضا نه وي نودا نکاح هیڅکله نه صحیح کیږي، ځکه په حدیث کښے دي :

~~لا نكاح الا بولي . (دولي نه بغیر دښځے نکاح نه کیږي) .~~

۳ - ګواهان : ځکه حدیث کښے دي :

لانكاح الا بولي مرشد وشاهدين .

(نکاح نه کیږي مګر په راهنما ولي او دوه ګواهانو سره) .

انظر ارواء الغليل بالتفصيل .

صفر المظفر : ۱٤۲٤/۲/۲۸ هـ .

د ښځے د رضا نه بغیر ددے نکاح نه کیږي

سوال : آیا یوه بالغه جینئ پلار په زوره چاته په نکاح ورکولے شي اوکه نه ؟ مثلا جینئ راضي نه وي او پلارئے چاته په نکاح ورکړي، آیا ددوئ نکاح اوشوه که نه ؟

جواب : دغه ستاسو مسئله کښے چه ددے نکاح شوے دا شرعا نکاح نه ده ځکه نکاح کښے

دجينئ رضا شرط ده، که پوه بالغه جينئ په نکاح کولو راضي نه وي اود هغې ولي - پلار، ورور وغيره - داپه نکاح ورکړي نو دابه نکاح نه وي بلکه دا به زنا وي.

په دے خبره قرآن اوسنت دواړه دليل دے :

۱ - اول دليل دقرآن نه :

قال الله تعالى : ﴿ حتى تنكح زوجاً غيره ﴾.

دے آيت کريمه کښے چه دنکاح نسبت ښځے ته شويدے دا دليل دے په دے خبره چه نکاح کښے دښځے رضا شرط ده.

۲ - دويم دليل دسنت نه :

احاديث خو په دے باره کښے ډير زيات دي اودا خبره په وضاحت سره په کښے بيان شويده چه دښځے رضا په نکاح کښے ضروري ده، اودهغے درضا نه بغير نکاح نه کيږي.

۱ - امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کښے باب ذکر کړيدے :

باب لا ينكح الاب وغيره البكر والثيب الابرضاها.

دابو هريره - رضي الله عنه - نه روايت کوي چه هغه فرمائي :

ان النبي ﷺ قال : لا تنكح الايم حتى تستامر، ولا تنكح البكر حتى تستاذن، قالوا : يا رسول الله ! وكيف اذنها ؟ قال : ان تسكت. (۷۷۱/۲).

ترجمه : نبي کريم ﷺ فرمائيلي دي : کونډه ښځه به دهغے د مشورے نه بغير په نکاح نشي ورکولے، او پيغله ښځه به هم دهغے د اجازت نه بغير په نکاح نشي ورکولے، صحابو عرض اوکړو : دپيغلے اجازت به څنګه وي ؟ نبي کريم ﷺ اوفرمائيل : چه هغه خاموشه شي دائے اجازت دے.

۲ - امام بخاري رحمه الله بل حديث ذکر کړے او باب ئے لګولے دے :

باب اذا زوج ابنته وهي كارهه فنكاحها مردود.

يعني : دا باب په بيان ددے کښے دے چه پلار، لور بے اجازته په نکاح باندے ورکړي نو دا نکاح به مردوده وي ---- بيا حديث راوړي :

عن خنساء بنت خذام الانصاريه ان اباها زوجها وهي ثيب فكرهت ذلك فاتت رسول الله ﷺ فرد نكاحها. (۷۷۲/۲). ------ اود ابن ماجه په روايت کښے دي :

فرد عليها نكاح ابيها. (۱۳٦/۱) ابوداود : ۲۹۳/۱، نسائي : ٦٤/۲. والحديث صحيح.

۳ – عن ابن عباس – رضی الله عنه – ان جاریه بکرا أتت النبي ﷺ فذکرت ان اباها زوجها وهي کارهه فخیرها رسول الله ﷺ .

(یوه پیغله رسول الله ﷺ ته راغله او ورته ئې اوویل چه زه پلار په نکاح ورکړې یم حال داچه زما رضا نه ده،نو رسول الله ﷺ هغې ته (دنکاح نه کولو) اختیار ورکړو.

ابوداود : ۲۹۳/۱، ابن ماجه : ۱۳٦/۱، وصححه الالباني . المحلی : ٤٦۱/۹ .

٤ – عن عائشه ام المؤمنین – رضی الله عنها – قالت : ان فتاه دخلت علیها فقالت : ان ابي زوجنی ابن اخیه لیرفع بي خسیسته وانا کارهه فقالت عائشه : اجلسي حتی یاتي رسول الله ﷺ، فجاء رسول الله ﷺ فاخبرته فارسل الی ابیها فدعاه فجعل الامر الیها .. الحدیث .

(رواه النسائي في سننه : ۷۱/٦) ----- ابن ماجه (٦۰۲/۱) کښې دا راغلی :

ان فتاه جائت الی النبي ﷺ ... الحدیث. (دارقطنی : ۲۳۲/۳) .

٥ – امام ابن حزمؒ دجابر – رضی الله عنه – حدیث راوړیدې :

ان رجلا زوج ابنته وهي بکر من غیر امرها فاتت النبي ﷺ ففرق بینهما . المحلی : ٤٦۱/۹ .

ترجمه : جابر – رضی الله عنه فرمائی : یو سړی پیغله لور چاته دهغې داجازت نه بغیر ورکړې وه ، نو هغه جینئ رسول الله ﷺ ته (دشکایت دپاره) راغله، نو رسول الله ﷺ دوئ بیرته سره جدا کړل .

٦ – **شپږم حدیث** : دابن عمر – رضی الله عنه – نه روایت دې :

ان رجلا زوج ابنته بکرا فکرهت فاتت النبي ﷺ فرد نکاحها .

(یو سړی پیغله لور چاته په نکاح ورکړې وه اود هغې لورئې رضا نه وه نو رسول الله ﷺ ته راغله، رسول الله ﷺ ئې نکاح رد (ماته) کړه .(اوګوره المحلی : ٤٦۱/۹) .

نور احادیث هم ډیر دی لیکن په دې احادیثو باندې اکتفاء کوم ځکه دمسلمان دپاره یو صحیح حدیث هم کافی شافی دې .

دارنګ علماء کرامو هم په دې خبره تصریح کړې ده چه په نکاح کښې دجینئ رضا شرط دې .

په دې باره کښې دعلماؤ اقوال :

۱ – امام ابن حزم رحمه الله لیکلی دی :

واذا بلغت البکر والثیب لم یجز للاب ولا لغیره ان یزوجها الا باذنها، فان وقع فهو مفسوخ ابدا ".

---- (کله چه پیغله یاکونډه جینئ بالغه شی نو بیا نه پلار له دا جائز دی چه او نه بل چا لره چه

دښځې داجازت نه بغیر ئے په نکاح ورکړی، که داسے کار ئے اوکړو نو بیا به خامخا دا نکاح ختمولے شی). المحلی : ٤٥٩/٩ .

٢ - ابن حجر - رحمه الله - دابو هریره - رضی الله عنه - دحدیث په شرح کښے لیکلی دی کوم چه مخکښے ذکر شو :

والحدیث دال علی انه لا اجبار علیها - اي البکر - اذابلغت .

(یعنے : جینئ چه کله بالغه شی نو پلارئے په زور باندے چاته نشك په نکاح کولے).

(فتح الباری : ١٩١/٩).

٣ - سبل السلام کښے امام صنعانی - رحمه الله - لیکی :

وهذا الحدیث افاد ماافاده فدل علی تحریم اجبار الاب لابنته البکر علی النکاح .

(یعنے : دا حدیث دلیل دے په دے مسئله باندے چه پلار دپاره حرام دی چه په خپله پیغله لور په زوره نکاح ورکړی) - ١٦٢/٣ .

٤ - علامه شمس الحق عظیم آبادي - رحمه الله - فرمائی :

في الحدیث دلاله علی تحریم الاجبار للاب لابنته البکر علی النکاح وغیره من الاولیاء بالاولی .

---- (حدیث دلیل دے په دے چه پلار دپاره دا حرامه ده چه خپله پیغله لور چاته په دهغے درضا نه بغیر په زور چاته په نکاح ورکړی، هرکله چه پلار دپاره دا حرامه ده نو نور اولیاؤ دپاره به په طریقه اولی باندے دا کار حرام وی).

(عون المعبود شرح سنن ابي داود : ١٢٠/٦).

٥ - امام شوکانی رحمه الله فرمائی :

وظاهر احادیث الباب ان البکر البالغه اذا زوجت بغیر اذنها لم یصح العقد .

(یعنے : ظاهر داحادیثو دلیل دے په دے خبره چه یوه بالغه پیغله جینئ که پلار یا یو بل ولی ددے درضا نه بغیر په نکاح ورکړه نو نکاح به صحیح نه وی. (نیل الاوطار : ١٢٣/٦).

٦ - فقه حنفی کښے هم داخبره ښه په وضاحت سره ذکر شویده چه پلار یوه بالغه لور په زوره چاته نشی ورکولے، بلکه په نکاح کښے دبالغے پیغلے، کونډے رضا شرط ده، که یوه پیغله جینئ پلار دهغے داجازت نه بغیر ورکړو نو دا نکاح هله صحیح کیږی چه ددے جینئ رضا وی. که په دے نکاح جینئ راضی نه وی نوکه سل کاله هم تیر شی دابه نکاح نه وی بلکه دابه زنا وی.

اوګوره : فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیه (۳۵۸/۱) في فصل الاولیاء، والفتاوی التاتارخانیه (۲٤/٤) کتاب النکاح معرفه الاولیاء. المبسوط (٤/٥) الدر المختار ورد المختار (٥٨/٣) فتح القدیر (۲۹٥/۲).

کفایه المفتی (٦٨/٥) کښې هم دا شان ذکر دی.

تفهیم المسائل کښې مولانا ګوهر رحمٰنؒ هم دا شان ذکر کړې دی (۲۱۹/٤).

دارنګ دنورو علماؤ هم دا قول دے.

اوګوره : المفصل فی احکام المرأه (٤۳۰)، فتاوی المرأه المسلمه (٦۳٤/۲)، القنابل المقذوفه ص (۹۹). فتاوی الدین الخالص کتاب النکاح.

د ښځے نکاح د ولی نه بغیر نه کیږی

سوال : آیا دجینئ په نکاح کښے دجینئ دولی رضا شته اوکه نه ؟ یعنی که یوه ښځه دولی - پلار ' ورور وغیره - نه بغیر دچا سره نکاح اوکړی،او ولی په دے نکاح باندے راضی نه وی نو آیا داقسم نکاح شرعاً کیږی او که نه ؟

جواب : الحمد لله رب العالمین والصلاه والسلام علی رسوله الکریم وعلی آله وصحبه اجمعین اما بعد :

صحیح او راجح خبره داده چه په نکاح کښے دښځے اوخاوند رضا او دښځے دولی رضا ضروری ده، که نکاح کښے دښځے یا خاوند رضا نه وی، نو نکاح نه صحیح کیږی، دغه شان که دښځے دولی - د کور مشر - رضا او اجازت نه بغیر نکاح اوشوه نو دابه نکاح نه وی بلکه دابه شرعاً زِنا شمیرلے شي.

نو په دے خبره چه په نکاح کښے دښځے دولی اجازت ضروری دے او بغیر دولی داجازت نه نکاح نه کیږی ډیر زیات دلائل دی په قرآن او حدیث کښے :

قرآني آیتونه په باره د ولی ضروری کیدو کښے

۱ - اول دلیل : الله تعالی فرمائی :

﴿ولا تنکحوا المشرکین حتی یؤمنوا﴾ الآیه .

ترجمه : تاسو - خپلے لونړه خویندے - مشرکانو ته په نکاح مه ورکوئ تردے چه هغوئ ایمان راوړی ----- علامه قرطبيؒ فرمائی : ددے آیت نص دلیل دے په دے چه دولی نه بغیر نکاح نه

کیږي، محمد بن علي بن حسین وئیلي دي چه دولي نه بغیر نکاح نه کیږي اونکاح به دولي په اختیار کښې وي، او بیا ئے دغه آیت کریمه اولوسته : ولا تنکحوا المشرکین الآیه.

۲ - **دویم دلیل** : الله تبارك وتعالی فرمائي :

﴿ فلا تعضلوهن ان ینکحن ازواجهن ﴾ .

(تاسو ښځے مه منع کوئ ددے نه چه دخپلو خاوندانو سره نکاح اوکړي - یعنې هغوئ ته رجوع اوکړي).

امام ترمذی په خپل سنن (۱۲۷/۲) کښے ددے آیت تفسیر کوي فرمائي :

دمعقل بن یسارؓ حدیث دلیل دے په دے دولي داجازت نه بغیر نکاح نه کیږي، ځکه دمعقل بن یسارؓ خور کونډه وه نو که دهغے اختیار وے چه په خپله ځان په نکاح ورکړي نوځان به ئے په نکاح ورکړے وے اود ولي اجازت ته به ضرورت نه وے.

دارنګ خبره قرطبي هم په خپل تفسیر کښے کړیده (۱۵۸/۳).

۳ - **دریم دلیل** : الله تعالی فرمائي : ﴿ فانکحوهن باذن اهلهن ﴾ .

دغه شان بل ځائے فرمائي : ﴿ وانکحوا الایامی منکم ﴾ .

امام قرطبی فرمائي : الله رب العزت صرف سړو ته خطاب کړیدے چه تاسے ښځے په نکاح ورکړئ ، که چرے دښځو په خپله دځان ورکولو اختیار وے نوالله تعالی به هغه هم ذکر کړے وو.

دغه شان الله تعالی د شعیب علیه السلام حکایت فرمائیلے دے :

﴿ قال انی ارید ان انکحك احدی ابنتی هاتین، الآیه ﴾ .

(زما اراده ده چه زه تاله په خپلو دے دواړو لونړو کښے یوه په نکاح درکړم).

دغه شان الله رب العالمین فرمائي : ﴿ الرجال قوامون علی النساء، الآیه ﴾ .

نوددے آیتونو نه داخبره واضحه معلومه شوه چه دښځے مستقل اختیار نشته دے چه دولي - یعنې پلار، ځوئے، ورور - داجازت نه بغیر چا سره په خپل سر نکاح اوکړي، بلکه ولي به ښځه په نکاح ورکوي. خو دښځے رضا به هم ضروري وي. نو شریعت مطهره دښځے رضا دهغے دولي رضا ددواړو رضا شرط کړیده، ددواړو جانبینو رعایت او لحاظ ئے په دے حکم شرعي کښے ساتلے دے، اودا دشریعت مطهره ډیر ښائسته او په زړه پورے حکمت دے .

احادیث د رسول الله ﷺ د ولي باره کښے

احادیث درسول الله ﷺ په دے باره کښے ډیر زیات دی، چه دولی داجازت نه بغیر دښځے نکاح نه کیږی، ښځه خپل ځان په خپله په نکاح نشی ورکولے، په فتاوی الدین الخالص کښے (۱۷) احادیث جمع کړے شوی دی .

۱ — **حدیث** : عن عائشه — رضی الله عنها — قالت : قال رسول الله ﷺ :

ایما امرأه تزوجت نفسها بغیر اذن ولیها، فنکاحها باطل، فنکاحها باطل، فنکاحها باطل ... الحدیث .

ترجمه : کومے ښځے چه خپل ځان دولی داجازت نه بغیر چاته په نکاح ورکړو، نو ددے ښځے نکاح باطله ده، ددے نکاح باطله ده، ددے نکاح باطله ده) .

(ابوداود : ۹۱/۱:، باب لا نکاح الا بولی . ترمذی : ۲۰۸/۱ . مسند احمد . ابن ماجه رقم : ۱۸۷۹ . دارمی : ۶۲/۲ . حاکم : ۱۶۸/۲ . بیهقی : ۱۰۵/۷ . ابن ابي شیبه : ۱۲۸/٤ . طحاوی . ارواء الغلیل : ۲۳۵/٦ . مشکوه : ۲۷۰/۲) . اوددے حدیث سند صحیح دے .

ابن عدیؒ فرمائیلی دی :

دا ډیر ښه حدیث دے په دے باب کښے اوپه دے باندے اعتماد دے چه دولی داجازت نه بغیر نکاح نه کیږی . (۱۵٦/۲) .

۲ — **حدیث** : عن ابي موسی قال : قال رسول الله ﷺ :لا نکاح الا بولی .

(ترمذی : ۲۰۸/۱، ابوداود : ۲۹۱/۱، ابن ماجه رقم : ۱۸۸۱، ابن حبان :۱۵۲/٦) .

(دابو موسی اشعریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : دولی داجازت نه بغیر نکاح نه کیږی) .

اودا حدیث هم صحیح دے، اوګوره : ارواء الغلیل : ۲۳٦/٦، تفسیر قرطبی : ۱۵۸/۳) .

۳ — **حدیث** : عن ابي هریره رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : لا تزوج المرأه المرأه ولا تزوج المرأه نفسها .

(رواه البیهقی : ۱۱۰/۷، وابن ماجه رقم : ۱۸۸۲، وا لدارقطنی : ۲۲۷/۳) .

ترجمه : ابو هریره — رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے : یوه ښځه بله ښځه په نکاح نشی ورکولے، اونه ښځه خپل ځان په نکاح ورکولے شی) .

٤ — **حدیث** : ابو هریرهؓ نه روایت دے دا فرمائی :

كنا نعد التى تنكح نفسها هي الزانيه ـ (ارواء الغليل : ٦/ ٢٤٩).

ترجمه: مونږ – صحابۀ – به هغه ښځه چه خپل ځان په نكاح وركوي زناكاره ګڼړله.

٥ – **حديث**: عن ابن عباس – رضي الله عنه – قال: قال رسول الله ﷺ: لا نكاح الا بشاهدي عدل، وولي مرشد.

ترجمه: نكاح نه كيږي مګر ددوو عادلانو ګواهانو په حضور او راهنمائي كونكي ولي په حضور كښې. ----- (مسند احمد: ١/ ٢٥٠، البيهقي: ٧/ ١٠٩، الطبراني: في الاوسط: ١/ ١٦٤، ارواء الغليل: ٦/ ٢٥١).

داحديث په خپل مجموعه طرقو سره صحيح دے.

دارنګ دا حديث دابن عباسؓ صحيح موقوف سند سره هم روايت شويدے، لكه ارواء الغليل: ٦/ ٢٥١، كښې ذكر دے.

٦ – **حديث**: عن عبد الرحمن بن القاسم عن ابيه قال: كانت عائشه تخطب اليها المرأه من اهلها فتشهد، فاذا بقيت عقده النكاح قالت لبعض اهلها: زوج، فان المرأه لا تلي عقد النكاح. ------- (وسنده صحيح اخرجه البيهقي :٧/ ١١٢).

ترجمه: عائشے – رضي الله عنها – ته به چه څوك راغلو اوددے دخپلوانو دنكاح مطالبه به ئے وه نو عائشے رضي الله عنها به دنكاح خطبه اولوستله، اوكله چه به صرف نكاح تړل پاتے شو نو ددے جينئ دخپلوانو نه به ئے يو سړي ته اووئيل چه نكاح اوتړه، ځكه ښځه نكاح نشي تړلے.

په دے باره كښے نور هم ډير احاديث راغلي دي خود اختصار په وجه دلته نه ذكر كيږي.

او صحابه كرامو – رضي الله عنهم – كښے د:

١ – عمر بن الخطاب رضي الله عنه

٢ – عمران بن حصين رضي الله عنه

٣ – عائشه رضي الله عنها

٤ – جابر بن عبد الله رضي الله عنه

٥ – ابوموسى اشعري رضي الله عنه

اونورو ډيرو صحابه كرامو نه نقل دي چه دولي داجازت نه بغير ښځه چاته ځان په نكاح نشي وركولے.

اوګوره :مصنف عبد الرزاق : ١٩٥/٦) .

بلکه د هيڅ يو صحابي نه هم څوك دا نقل نشي پيش کولے چه هغه وئيلي وي چه ښځه دولي داجازت نه بغير هم ځان چاته په نکاح ورکولے شي .

دهغه تابعينو اونورو علماؤ نومونه

چه هغوئ وائي دولي داجازت نه بغير دښځے نکاح نه کيږي :

١ – سعيد بن المسيب رحمه الله

٢ – حسن بصري رحمه الله

٣ – عمر بن عبد العزيز رحمه الله

٤ – جابر بن زيد رحمه الله

٥ – سفيان الثوري رحمه الله

٦ – ابن ابي ليلي رحمه الله

٧ – ابن شبرمه رحمه الله

٨ – ابن المبارك رحمه الله

٩ – قاضي شريح رحمه الله

١٠ – ابراهيم نخعي رحمه الله

١١ – امام مالك رحمه الله

١٢ – امام شافعي رحمه الله

١٣ – امام احمد رحمه الله

١٤ – امام بخاري رحمه الله

١٥ – امام ابن حزم رحمه الله

١٦ – امام ابوجعفر طبري رحمه الله

١٧ – امام اسحق بن راهويه رحمه الله

١٨ – ابو عبيد رحمه الله

١٩ – عبيد الله بن الحسن رحمه الله

٢٠ – ابو ثور رحمه الله .

(تفسیر قرطبي : ۷۲/۳، ترمذی : ۲۰۹/۱، مصنف عبد الرزاق :۱۹۵/٦، المحلی لابن حزم :۲۵/۹، سلسله الاحادیث الصحیحه : ۷۷۰/۲، مجموعه الفتاوی لابن تیمیه :۲۰۳/۳۲، زاد المعاد لابن القیم : ۱٤٤/٥، فتاوی المرأه المسلمه : ٦۲۱/۲، فتاوی الدین الخالص).

اوځوك چه وائي چه دولی داجازت نه بغیر هم نکاح کیږي دهغوئ قول غلط دے، او اکثر دلائل ئے ضعیف دي، اوکوم چه صحیح دي هغه غیر صریح دي. ددوئ سره د تاویلونو، قیاسونو نه بغیر بل هیڅ نشته. په ځائے ددے چه د صحیح احادیثو دپاره خپله رائے او نظریه بدله کړي، برعکس تاویلونه اوبے ځایه جوابونه کوي۔

بقول شاعر: خود بدلتے نهین، قرآن کو بدل دیتے هین

هوئے کس درجه فقیهان حرم نے توفیق

ددے په مقابله کښے دے طرفته صحیح او صریح دلائل موجود دي چه دولی داجازت نه بغیر نکاح نه کیږي، اود اکثرو اهل علمو **مذهب** هم دے، لکه مخکښے تیر شو، اوپه دے مسئله نور ډیر دلائل چه دلته دهغے استیعاب مقصد نه دے ، دا صرف دیوے فتوے دلائل دي چه دا هم دیو مسلمان دپاره کافی دي.

فائده : ځوك چه بغیر دولی نه د ښځے نکاح ته صحیح وائي نو دوی ګویا غیر شعوری طور سره متیزتوب ته دعوت ورکوی ۔ په دے سره په معاشره کښے ډیر فساد خوریږي، ځکه متیزتوب وئیلے کیږي د ولي نه بغیر د ښځے نکاح ته۔ لهذا ددے خبرے هم پوره لحاظ ساتل پکار دي ۔ ۱٤۲٤/۲/۱هـ

د میرنے خواښے سره د نکاح کولو حکم

سوال : دمیرنے خواښے سره نکاح کول جائز دي اوکه نه ؟ دغه شان ددے اوددے دخاوند دلور ترمینځه سرے جمع کولے شي اوکه نه ؟

جواب : لاحول ولا قوه الا لله.

۱ – دمیرنے خواښے سره نکاح کول جائز دي کله چه هغه طلاقه شي یا ترے خاوند مړ شي، ځکه چه میرنه خواښے په دے قول دالله تعالی کښے چه :

﴿ وامهات نسائکم ﴾ نه ده داخله، ځکه مراد د (امهات) نه هره نسبي یا رضاعي مور ده، اودا مور نه

نسبي ده اونه رضاعي .

۲ - **دوېم صورت** هم جائز دے، چه په نکاح کښے سرے خپله ښځه اود هغے مېرنه مور واخلی، ځکه قاعده فقهېه داده چه : ايها فرضت ذكراً حرمت الاخرى .

نو اوس به مونږ دا مېره مور سړے فرض کړو نوددے ښځے اوددغه سړي هېڅ تعلق نه پاتے کېږی. نو ځکه جائز شوه .

اوګوره : احسن الفتاوی : ۶۹/۵، رد المحتار : ۲۸۴/۲، كشاف القناع : ۷۵/۵، والهندېه : ۲۲۷/۱، فتاوی الدېن الخالص كتاب النكاح.

د رضاعي تره سره نكاح كول حرام دي

سوال : ېوه ښځه فاطمه نومېږي اودے ښځے خپل لېور (نادر) ته تے ورکړے، آيا دنادر لور دفاطمے ځوئے له جائز ده اوكه نه ؟ دقرآن اوسنت په رنړا كښے جواب راكړئ !

جواب: لا حول ولا قوه الا بالله .

مذكوره صورت كښے دنادر دلور اود فاطمے دځوئے نكاح نه كېږی، ځكه دے دواړو خپل مېنځ كښے رضاعی تره او وريره جوړېږی، اولكه څنګه چه دنسبی تره او وريرے نكاح نه كېږی دغه شان درضاعی تره او وريرے مېنځ كښے هم نكاح نه كېږی .

اول دلېل : رسول الله ﷺ فرمائېلی دی :

ان الله حرم من الرضاعه ما حرم من النسب، متفق علېه.

(الله رب العزت درضاعت په وجه هغه څه حرام كړی دی كوم چه دنسب په وجه حرام كړی دی) .

دوېم دلېل : مسلم شرېف (۴۶۷/۱) كښے دعلی رضی الله عنه حدېث دے :

عن علی - رضی الله عنه - قال : قلت : ېارسول الله ! مالك تنوق فی قرېش وتدعنا، فقال : وهل عندكم شئ ؟ قلت : نعم ! بنت حمزه، فقال رسول الله ﷺ : لا تحل لی انها ابنه اخی من الرضاعه ------ وفي الباب عن ابن عباس وام سلمه رضی الله عنهما .

ترجمه : علی رضی الله عنه فرمائی : ما رسول الله ﷺ ته عرض اوكړو : څه وجه ده چه ته په قرېشو كښے نكاحونه كوے او هغوئ غوره كوے او په مونږ كښے نكاح نه كوے؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائېل : تاسو كښے څوك ده چه زه ورسره نكاح اوكړم ؟ علی رضی الله عنه فرمائی : ما ورته

اووئېل : دحمزةؓ لور سره نکاح اوکړه . نورسول الله ﷺ اوفرمائېل : هغه خو ما دپاره جائز نه ده، ځکه هغه خو زما درضاعی ورور لور ده، یعنی زما رضاعی وریره کېږی .

نو ددے حدیث نه دا مسئله معلومه شوه چه درضاعی ورور لور نه ده جائز .

په رضاعت کښے د یو ے ښځے ګواهي هم قبوله ده

سوال : ډېر محترم مولوی صاحب امېن الله ! السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته !

محترما ! یو سړے مړ شو دوه ښځے ترے پاتے شوے یوه مشره ده بله کشره، په کشره ښځه باندے ددے سړی وراره نکاح اوتړله، تقریبا اُتلس کاله په کښے تېر شوی دی چه هم ددغے ښځے نه ئے نهه بچی شوی دی، اوس دهغه مړه سړی ښځه چه په کور ناسته وه دعوی ئے اوکړه چه دغه هلك ته چه د دغے بن ئے په نکاح کړېده ماتے ورکړېدے، د هلك مور ژوندئ ده هغه وائی چه دا دروغ وائی، مونږ بېل وو او ما کښے خپل پئ هم وو، داهم وئېل کېږی چه د موجوده ښځے او خاوند ډېر ښه کور دے یعنی ډېر خوشحاله دی اودوئ مخکښے هجرت کړېدے او بن ئے اوس راغلے ده، اوخلق وائی چه دا دپخوانی بنتوب دوجے نه دا خبره کوی ځکه د نکاح په وقت کښے دا خبره نه کوله، اوس د اتلسو کالو نه روسته دا خبره کوی .

په دے حقله شرعی لیکلے فتوی ته ضرورت دے، هیله کوم چه تاسو شرعی لیکلے فتوی قاری صاحب ته ورکړئ چه مونږ ئے هلته اولیګو .

والسلام . (صادق) .

جواب : صحیح اوراجح قول دادے چه په رضاع کښے دیوے ښځے شاهدی هم قبوله ده . دلېل په دے خبره حدیث درسول الله ﷺ دے :

۱ - اخرج الامام البخاری في صحیحه عن عقبه بن الحارث قال : تزوجت امرأه فجائتها امرأه سوداء فقالت : ارضعتکما، فاتیت النبي ﷺ فقلت : تزوجت فلانه بنت فلان، فجائت امرأه سوداء، فقالت لي : اني قد ارضعتکما - وهی کاذبه - فاعرض عني، فاتیته من قبل وجهه، قلت : انها کاذبه، قال : کیف بها وقد زعمت انها قد ارضعتکما، دعها عنك .

(رواه الدارمی والنسائی في سننهما، والترمذي في جامعه : ۲۱۸/۱) .

ترجمه : امام بخاريؒ په خپل صحیح کښے د عقبه بن حارثؓ نه روایت کوی چه دے وائي : ما د یوے

ښځې سره نکاح اوکړه، بیا دېته یوه توره ښځه راغله او وې وئیل : ما تاسو – ښځې خاوند – دواړو له تې در کړېدې، عقبهؓ وائي : زه نبي ﷺ ته راغلم او ما ورته عرض اوکړو چه ما دفلانې سړې لور سره نکاح کړېده او اوس یوه توره ښځه راغله او ماته ئې اووئېل چه ما تاسو دواړو له تې درکړېدې حال دا چه دا دروغ وائي . عقبهؓ فرمائي : رسول الله مانه مخ واړولو، زه ورته بیا دمخ د طرف نه راغلم او ورته مې اووئېل : دا ښځه دروغ وائي . رسول الله ﷺ اوفرمائېل : ستا به دې سره څه حالت وي حال دا چه ددې دا خیال دې چه دې تاسو له تې درکړېدې . دا ښځه د ځانه لرې کړه .

۲ – وقال ابن عباس رضی الله عنهما – کما رواه الترمذی : ۲۱۸/۱) : تجوز شهاده امرأه واحده في الرضاع ویؤخذ بیمینها، وقال : ان کانت کاذبه لم یحل الحول حتی تبیض ثدیاها – یعنی یصیبها برص عقوبه علی کذبها .------ (المغنی لابن قدامه : ۵۵۹/۷) .

ترجمه : ابن عباسؓ فرمائي : په رضاعت کښې دیوې ښځې ګواهي هم قبوله ده، اوددې خبره به قسم سره اخستلې شي . اوکه دا ښځه دروغجنه وي نو دکال به لا نه وي تېر شوې چه ددې سینې به ددې د دروغو وئیلو په وجه سپینې – برګې مرض – والا شي .

۳ – وقال الزهری رحمه الله : فرق بین ابیات زمن عثمان – رضی الله عنه – بشهاده امرأه في الرضاع .

ترجمه : امام زهریؒ فرمائي : د عثمان رضي الله عنه په زمانه د څو کورونو ترمینځه د یوې ښځې د ګواهۍ په وجه په رضاعت کښې جدا والې راوستې شو .

وقال الاوزاعی : فرق عثمان بین اربعه وبین نسائهم بشهاده امرأه في الرضاع .

امام اوزاعيؒ فرمائي : عثمانؓ دځلورو سړو اود هغوئ د ښځو ترمینځه په رضاعت کښې دیوې ښځې د ګواهۍ په وجه جداوالې اوکړو .

٤ – وقال الشعبي : کانت القضاء تفرق بین الرجل والمرأه بشهاده امرأه واحده في الرضاع .

(المغنی لابن قدامه :۵۵۹/۷) المفصل في احکام المرأه : (۲۶۹/٦) .

امام شعبيؒ فرمائي : زمونږ په زمانه کښې به قاضیانو دسړې او زنانه ترمینځه د رضاعت باره کښې دیوې ښځې د ګواهۍ په وجه جدائي راوستله .

۵ – وقال الامام الشوکانی : وقد استدل بالحدیث علی قبول شهاده المرضعه ووجوب العمل بها وحدها، وهو مروي عن عثمان وابن عباس والزهری والحسن واسحق والاوزاعي واحمد بن حنبل وابي

عبید ولکنه قال : یجب العمل علی الرجل بشهادتها فیفارق زوجته ولایجب الحکم علی الحاکم .
------- (نیل الاوطار :۳۱۹/۶، ۳۲۰ . ۱۲۵/۷).

لیکن دا شهادت دیوے ښځے هغه ځائے کښے قبلیږی چه شروط قبول الشهاده په دے ښځه کښے موجود وی، چه هغه شروط دلته مختصراً ذکر کیږی :

شروط قبول شهاده المرأه الواحده علی الرضاع

۱ – **عدالت** : چه دا ښځه به فاسقه نه وی چه په دروغو به مشهوره نه وی، که په دروغو مشهوره وی چه خپل خپلوان یا گاونډیان یا دکلی خلق په دے گواهی ورکوی چه دا ښځه دروغجنه ده او دروغ ئے عادت دے، نو ددے گواهی په دے صورت کښے نه قبلیږی .

د عدالت تعریف : من لم تعرف له کبیره ولا مجاهره بصغیره .

یعنے : دا ښځه به کبیره گناهونه نه کوی لکه مونځ به نه پریدی، اوواړه گناهونه به هم ښکاره نه کوی . نوکه دا ښځه مونځ نه کوی یا ئے کله کله کوی، دا ښځه سخته فاسقه ده، ددے گواهی به نه قبلیږی .

شرعی پرده به کوی، که یوه ښځه پرده دغیر محرم نه نه کوی او بازارونو کښے بے پردے گرځی دغیر محرم سره خلوت کوی، دهغے مخے ته سر څنگلے یا نور بدن لوڅ وی دا ښځه هم فاسقه ده، گواهی ئے قبوله نه ده .

۲ – ان یکون الشاهد غیر متهم في شهادته :

یعنے گواهی ورکونکے به په خپله گواهئ کښے متهم نه وی . چه ددوئ مینځ کښے به دشمنی نه وی، داسے دشمنی چه دعدالت نه انسان ورسره اوځی .

کما قال الفقیه ابن حزم : ومن شهد علی عدوه نظرنا فان کان تخرجه عداوته له الی مالا یحل فهي جرحه فیه ترد شهادته لکل وفی کل شئ الخ . (المحلی : ٤١٨/٩) .

۳ – دلته به دے ښځے له قسم (قرآن) ورکولے کیږی، لکه دا قسم ورکول دابن عباس – رضی الله عنه او امام احمدؒ نه یو روایت هم شته دے .

نوکه ښځے قسم نه کولو بیا به ئے هم گواهی نه قبلیږی .

٤ – څلورم شرط اودا ډیر ضروری شرط دے :

هغه داچه دے ښځے نه به دا تپوس کیږی چه تا (۱۸) کاله مخکښے ولے داخبره نه کوله څکه دلته

ددوئ دنکاح (۱۸) کلونه شوی دی او په دے دومره وخت کښے دے ښځے ولے دا خبره نه کوله چه اوس (۱۸) کاله روسته ئے دا خبره راښکاره کړه.

که دا ښځه په دے دومره وخت کښے ددوئ سره ملاؤ شوے نه وی یا په دے نکاح خبره نه وه یا بل شرعی عذر وو نو بیا دا شرط ورنه ساقط دے او خبره به ئے مقبوله وی، اوکه ښه خبره وه اودوئ سره ئے ملاقات هم کړے وو اوبل شرعی څه عذر هم دے ښځے سره نه وی نو دا ښکاره تهمت دے په دے ښځه باندے.

نوکه په دے ښځه کښے دغه شرطونه موجود وی چه په دروغو مشهوره نه وی، مونځونه کوی، دغیر محرم نه پرده کوی، نور غټ غټ گناهونه همیشه نه کوی اودغه شان ددے څلورم شرط صحیح جواب ورکړی چه شرعاً قابل قبول وی، نو په دے صورت کښے ددے گواهی قبوله ده، داښځه به خاوند به دیو بل نه جدا کیږی او اوس الله تعالی دوئ په دے موجوده نکاح باندے رانیسی ځکه مخکښے دا کار دوئ په بے علمئ سره کړے وو. ----- اوکه دا ښځه مونځ نه کوی، یا بالکل دغیر محرم نه پرده نه کوی، یا په دروغو مشهوره وی اود څلورم شرط شرعی جواب هم ور نه کړی نو په دے صورت کښے ددے گواهی نه قبلیږی (دا تفصیل به ترے قاضی یا مفتی طلب کړی).

په دے مسائلو کښے دالله عز وجل نه ویره پکار ده آخرت او قبر ته فکر کول په کار دی، په چا باندے دروغ وئیل یاښځه خاوند سره جدا کول دالله دقهر او غضب سبب دے.

او سړے دے هم فکر اوکړی چه هسے نه چه دخپل رضاعی پلار دښځے سره نکاح کړے وی اوخپلے مور سره زنا اونه کړی. والعیاذ بالله! ۱٤۲۳/۹/۵ هـ.

د مفقود – یعنی ورك شوی – شخص حکم

سوال: زما لور ده هغه مے یوکس ته واده کړه، دوه کاله ئے هغے سره تیر کړه، بیا دخه کاردپاره دکور نه لاړه لیکن کور ته رانغے، ډیر تفتیش او تالاش نه پس ئے هم هیڅ درك اونه لګیده، اوس تقریباً (۸) کاله کیږی چه دهغے خاوند نشته او زما لور خرچے ته هم ضرورت لری او ځوانه هم ده. دے باره کښے مونږ د قرآن او سنت په رنړا کښ. تفصیلاً فتوی راکړئ چه آیا زما لور دبل چا سره نکاح کولے شی اوکه نه؟

جواب: که صورت دمسئلے داسے وی څنګه چه په سوال کښے لیکلے شویدے نو دا صورت

دمفقود حکم لړۍ.

دمفقود (بې درکه سړي) په باره کښې حکم دادے چه که دځلورو کالو نه پس هم دده پته اونه لګېده نو ددے کس ښځې ته دا حق شته چه دفسخ یعنې نکاح ختمولو نه روسته دبل چا سره نکاح اوکړي.

★ مونږ اول دلته د بې درکه سړي تعریف ذکر کوو.

★ دوېم دا لیکو چه کوم قسم کسان دمفقود دحکم لاندے راځي.

★ درېم: دمفقود حکم ذکر کوو:

د مفقود یا بې درکه سړي تعریف

مفقود (ورك شوے) په شریعت کښې هغه کس ته وئیلې شي چه هېڅ پته ئې نه لګي چه چرته دے، ژوندے دے که مړ؟

فقهاء کرامو دمفقود تعریف داسے کړېدے:

هو الغائب الذي لا يدري حياته ولاموته .

(دا هغه غائب کس ته وئیلې شي چه نه ئې دژوند پته لګي اونه دمرګ).

(الفقه الاسلامي: ۱۴۵/۴، کشاف القناع: ۵۹۰/۲، عمده الرعایه: ۳۹۱/۲، مختصر القدوري ص: ۱۵۰، رد المحتار: ۳۲۸/۳، کتاب المفقود، المفصل فی احکام المرأه و بیت المسلم: ۴۴۲/۸).

کوم کسان د مفقود حکم لاندے راځي؟

دمفقود دحکم لاندے چه کوم کسان راځي هغه په دے طریقه دي:

یو کس دکور نه اوځي او بیا رانشي، دځه ضرورت دپاره دکور نه لاړ شي او بیا رانشي، چرته ریګستان یا دجنګ مېدان ته لاړ شي، یاپه داسے کشتئ کښې سور شي چه هغه ډوبه شي اوپه یقیني طور سره معلومه نه وي چه دا کس به هم په کښې مړ شوے وي اوکه بچ به وي، داشان هغه څوك چه کله یوځائے اوکله بل ځائے وي، لیکن ځائے ئے معلوم نه وي یعنې صرف دژوند معلومات ئے وي اوځائے معلوم نه وي، نودے کس ته هم دفقهاؤ په اصطلاح کښې مفقود وئیلې شي.

لکه فقه اسلامي: ۱۴۵/۴،کښې دي:

او تكون حياته متحققه ولكن لايعرف له مكان .

(چه ژوند ئے معلوم وي لیکن ځائے نه وي معلوم) نو دا هم مفقود دے.

الفقه الاسلامي : ٦٤٣/٧، للدکتور وهبه، الاقناع :١١٣/٤، المغني : ١٣٣/٩، جدید فقهی مسائل : ١٣٣/٢ .

دمفقود حکم :

دمفقود حکم دادے چه کله دیو کس دخلورو کالو دپے درکه کیدو نه روسته هم پته اونه لګی نو دده ښځے ته داحق شته دے چه دبل چا سره نکاح اوکړی .

په دے خبره دلائل دادی :

اول دلیل : قال الله تعالیٰ : ﴿ فامساك بمعروف او تسریح باحسان ﴾ [البقره : ۲۲۹] .

ترجمه : نو په ښه شان ساتل دی – ددے ښځو – اویا په ښه شان سره پریخودل دی .

په دے آیت کریمه کښے دښځے دخاوند نه ددوو څیزونو مطالبه شویده :

۱ – په ښائسته طریقه دځان سره ښځه اېسارول .

۲ – که دا نه وی بیا په ښائسته طریقے سره دښځے پریخودل دی .

کله چه دیوے ښځے خاوند غائب او مفقود وی نو دده نه خو په اوله مطالبه عمل کول پاتے شوی دی ځکه مفقود خو دسره شته دے نه ، نودخپلے ښځے سره به په معروفه (ښائسته) طریقه ژوند څنګه تیر کړی !

نو دلته خاوند ته دوہم امر متوجه شو چه هغه : ﴿ او تسریح باحسان ﴾ دے یعنی خپله ښځه په ښائسته طریقه سره پریخودل .کله چه ښځه مطالبه اوکړی .

لیکن دلته مفقود ددے نه هم قاصر دے چه هغه خپله ښځه پریدی، دے وجے نه دده دطرفه شریعت نائب جوړیږی .

که څوك **سوال** اوکړی چه دمفقود په صورت کښے خوخاوندته دوہم امر هم نه متوجه کیږی، نو بیا څنګه دده په غیاب کښے په ده دا فیصله کیږی چه دده اودده دښځے نکاح ختموه شوه ! دغه شان دده په خلاف څنګه په غیاب کښے فیصله کولے شی، سره ددے نه چه دخاوند حجت هم نه دے معلوم شوے ؟

جواب دادے چه کله کله دغائب کس په فائده کښے یا دده په خلاف هم فیصله اوحکم کول جائز دی دے دپاره چه جانب مقابل ته حرج او تکلیف نه وی. مطلب داچه دده دطرفنه قاضی او حاکم دضرورت په بناء باندے نائب جوړیدے شی .

لکه علامه ابن الهمام فرمائي :

اذا رأى القاضي المصلحه في الحكم للغائب وعليه، فحكم فانه ينفذ لانه مجتهد فيه .

(کله چه يو حاکم – امير يا قاضي – ته ديو غائب کس په فائده يا دهغه په تاوان فيصله کولو کښې مصلحت ښکاري او فيصله اوکړي نو دحاکم فيصله به نافذولے شي، ځکه حاکم په دے مسئله کښے مجتهد دے .

(اوګوره فتح القدير : ٤٤٠/٤، المفصل في احكام المرأه : ٤٥٣/٨، الفقه الاسلامي : ٤٩٨/٦، ازاله الخفاء ص : ١١٦، للشاه ولى الله بحواله فتاوى ثنائيه :٢٦٨/٢، مسك الختام :٥٥٧/٣، للعلامه صديق حسن خان) .

٢ – دويم دليل : دامير المؤمنين خليفه راشد عمر بن الخطاب – رضى الله عنه – نه په صحيح سند سره نقل دي چه ديوے ښځے خاوند مفقود (بے درکه) شي نو دا ښځه دے څلور کاله انتظار اوکړي که ددے خاوند پيدا نشو نودادے (عده المتوفى عنها زوجها) تير کړي، يعنى دهغه ښځے پشان عدت دے تير کړي چه دهغے خاوند مړ شوے وي، څلور مياشتے لس ورځے، بيا که چرے نکاح کول غواړي نوبل چا سره نکاح کولے شي .

عن سعيد بن المسيب ان عمر بن الخطاب – رضى الله عنه – قال : ايما امرأه فقدت زوجها فلم تدري اين هو فانها تنتظر اربع سنين ثم تنتظر اربعه اشهر وعشرا ".

(اخرجه البيهقى : ٤٤٥/٧، وعبد الرزاق : ٨٥/٧، ومالك في الموطا ص : ٣٣٢، باب عده التي تفقد زوجها، وسعيد بن منصور في سننه : ٤٠٠/١، ١٧٥٢، دارقطنى : ٣١١/٤، نصب الرايه : ٤٧١/٣) .

ترجمه : امير المؤمنين عمر بن الخطاب – رضى الله عنه – فرمائيلى دي : دکومے ښځے چه خاوند بے درکه شي او پته لګي چه چرته دے، نودادے څلور کاله انتظار اوکړي – که پيدا نشي – نو بيا دے څلور مياشتے او لس ورځے عدت تير کړي .

بل روايت کښے داه ورسره دي : (وتزوجت ان شائت) يعنى که خوښه ئے شي نو بل چا سره دے واده اوکړي . ---- دارنګ البيهقى :٤٤٥/٧، مصنف عبد الرزاق : ٨٥/٧،کښے دسعيد بن المسيبؒ نه روايت دے :

ان عمر وعثمان قضيا في المفقود ان المرأه تتربص اربع سنين واربعه اشهر بعد ذلك ثم تتزوج .

ترجمه : عمر بن خطاب او عثمان بن عفان – رضی الله عنهما – دواړو دمفقود سړی په باره کښې داسې فیصله کړېده چه دده ښځه دې څلور کاله انتظار اوکړی، اودې نه پس دې بیا څلور میاشتې اولس ورځې عدت تېر کړی، بیا دې بل چا سره نکاح اوکړی.

اوګوره : موسوعه فقه عمر بن الخطاب، عصره وحیاته، ص : ۷۸۷، وموسوعه فقه عثمان بن عفان ص : ۲۷۳، طبع بیروت، مصنف ابن ابي شیبه :۲۳۷/٤).

۳ – جابر بن زید – رضی الله عنه – فرمائي چه عبد الله عباس او عبد الله بن عمر – رضي الله عنهما – دواړه فرمائی : تنتظر امرأه المفقود اربع سنین .

ترجمه : دېے درکه سړی ښځه دې څلور کاله انتظار اوکړی.

(رواه البیهقی : ٤٤٥/٧، وسعید بن منصور : ٤٠٢/١، رقم : ١٧٥٦).

٤ – حافظ ابن حجر عسقلاني – رحمه الله – فرمائی :

وثبت ایضاً عن عثمان وابن مسعود في روایه، وعن جمع من التابعین کالنخعي وعطاء والزهري ومکحول والشعبي، واتفق اکثرهم علی ان التاجیل من الیوم ترفع امرها للحاکم وعلی انها تعتد عده الوفات بعد مضي الاربع سنین .

ترجمه : همدا خبره دعثمانؓ او په یوروایت کښې دابن مسعودؓ اوپه تابعینوؒ کښې دیو جماعت نه لکه نخعي، عطاء، زهری، مکحول او شعبی نه ثابت ده. اوداکثرو په دې باندې اتفاق دې چه دا مقرره موده دهغې ورځې نه شروع کیږی چه حاکم ته دا معامله لاړه شی. اوپه دې باندې هم اتفاق دې چه دڅلورو کالو نه روسته به دا ښځه عدت الوفات تیره وی.

(فتح الباري : ٤٣١/٩).

٥ – امام ابن قدامه په المغنی کښې نقل کړي دی :

قال الاثرم : قیل لابي عبد الله : تذهب الی حدیث عمر ؟ قال : هو احسنها یروی عن عمر من ثمانیه وجوه، ثم قال : زعموا ان عمر رجع عن هذا، هؤلاء الکذابین، قلت له : فروی من وجه ضعیف ان عمر قال بخلاف هذا، قال : لا، الا ان یکون انسان یکذب، وقلت له مره : ان انساناً قال لي :ان ابا عبد الله قد ترك قوله في المفقود بعدك، فضحك ثم قال : من ترك هذا القول أي شئ یقول : وهذا قول عمر وعثمان وعلی وابن عباس وابن الزبیر .

ترجمه : اثرم فرمائی : یوکس ابو عبد الله – امام احمدؒ – ته اوویل : ته دعمر رضی الله عنه په

حدیث عمل کوے ؟ امام احمدؒ په جواب کښے اووئیل : دعمر رضي الله عنه حدیث دتولو نه غوره دے، دعمر رضي الله عنه نه په اته طریقو سره نقل شویدے، بیا امام احمدؒ اووئیل : بعض خلق دا گمان کوی چه عمر رضي الله عنه ددے نه رجوع کړیده، نو هغه اووئیل : (ځوك چه دعمر رضي الله عنه درجوع خبره کوی) دا کسان دروغجن دی، بیا امام اثرم فرمائی : ما امام احمدؒ ته عرض اوکړو : چه په ضعیف سند سره خو به دا نقل وی چه عمر رضي الله عنه رجوع کړیده ددے قول نه، امام احمدؒ په جواب کښے اووئیل : نه، په ضعیف روایت کښے هم نشته، مګر که یوکس دروغ وائی . اثرم فرمائی : ما امام احمدؒ ته اووئیل : ماته یوکس اووئیل چه ستا نه روسته امام احمدؒ هم دمفقود باره کښے دخپل قول نه رجوع کړیده، امام احمدؒ اوخاندل او وے وئیل : ځوك چه دا قول پریګدی نو هغه به څه وائی ؟ اودا دعمر، عثمان، ابن عباس او ابن زبیر – رضي الله عنهم – قول دے ----- بیا روسته لیکی :

قال احمد : خمسه من اصحاب النبي ﷺ وبه قال عطاء وعمربن عبد العزیز والحسن والزهري وقتاده والليث وعلي بن المديني وعبد العزيز بن ابي سلمه .

(امام احمدؒ فرمائی : پنځه صحابه کرامؓ نه دا نقل دی، اودا د عطاء، عمر بن عبد العزیز، حسن، زهري، قتاده، لیث، علي بن المديني او عبد العزيز بن ابي سلمه – رحمهم الله – قول هم دے) . ----- المغني :لابن قدامه : ۱۳۵/۹ .

٦ – دسعید بن المسیبؒ نه روایت دے دافرمائی :

اذا فقد في الصف تربصت سنه، واذا فقد في غير الصف فاربع سنين .

(مصنف عبد الرزاق : ۸۹/۷، ۱۲۳۲٦) .

(کله چه یو کس دجنګ په صف کښے ورك شی نو ښځه به ئے یو کاله پورے انتظارکوی اوکله چه دجنګ دصف نه علاوه بل ځائے کښے ورك شی نو بیا به څلور کاله انتظار کوی) -- یوه بله وجه دا هم ده چه که دمفقود ښځے دنکاح فسخ اونه شی نو دښځے دپاره غټ ضرر دے،ځکه یوه ښځه چه دمفقود خاوند په نکاح کښے په دے طریقه کینول چه هغے ته دخپل خاوند ترمرګه پورے پته اونه لګی اودا په خپله دهغه له اړخه دخپل صنفي حق (وطي) نه سراسري محرومه وی نودا چه ضررناك ایسارول نه دی نور څه دی

الله تعالی فرمائي : ﴿ ولاتمسکوهن ضرارا لّتعتدوا ﴾ .

(دا ښځه تاسو دضرر ورکول دپاره مه ایساروئ چه تاسو پرے تیرے اوکړئ) .

او حدیث شریف کښې دي: لا ضرر ولا ضرار.

(نه خپله ضرر اوچتول شته اونه بل ته ضرر ورکول شته).

نو مونږ چه اوګورو نو دغه ښځې ته ضرر دے هرکله چه ډیر ې درکه خاوند په انتظار کښې دا سې بې اسرې کېنولې شي. چه دخاوند دضروري فوائدو نه محرومه څه چه نا امیده وي. نو په دے بناء قاضي دضرر دختمېدلو په وجه هم ددوئ مېنځ کښې دنکاح فسخ (ختمول) کولے شي. اوګوره: الروضه الندیه: ۵٤/۲، جدید فقهي مسائل: ۱٦۱/۲.

دمفقود باره کښې دعلماؤ اقوال:

۱ - شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائي:

والصواب في امرأه المفقود مذهب عمر بن الخطاب وغیره من الصحابه وهو انها تتربص اربع سنین ثم تعتد للوفات، ویجوز ان تتزوج بعد ذلك.

(دبې درکه سړي دښځې په باره کښې حقه خبره دعمر بن خطاب او نورو صحابه کرامو مذهب دے، چه دده ښځه به څلور کاله انتظار کوي اودے نه پس به دوفات عدت تیروي، اودعدت نه پس بیا دے دپاره جائز دي چه بل چا سره نکاح اوکړي).

(الاختیار الفقهیه من فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیه ص: ۲۸۱).

اوګوره: المفصل في احکام المرأه وبیت المسلم: ٤۵۲/۸.

۲ - د امام مالك او امام احمد - رحمهما الله - رائے:

فقه اسلامي کښې دکتور وهبه لیکي:

وقال الامامان: مالك واحمد: اذامضی اربع سنوات یفرق القاضي بین المفقود وبین امرأته ثم تتزوج من شائت، لان عمر - رضي الله عنه - قضی بذلك.

(۷۸٤/۵، الفصل العاشر في المفقود).

(امام مالك او امام احمدؒ دواړو وئیلي چه کله (دبې درکه سړي) څلور کاله تیر شي نو قاضي به دمفقود اود هغه دښځې مېنځ کښې جدا والے راولي، اوښځه به دوفات عدت تیر کړي، بیا که ددے خوښه وه نو چاسره دے نکاح اوکړي، ځکه عمر رضي الله عنه دمفقود پاره کښې هم دغه شان فیصله کړے وه).

حاشیه الدسوقوي علی الشرح الکبیر للدردیر: ٤۸۳/۲، المغني: ۱۳۵/۹).

۳ – دحنفي علماؤ رائے :

حنفي علماؤ هم دامام مالك – رحمه الله – قول غور کړېدے او وئېلی ئے دی چه کله دېوے ښځے خاوند مفقود (بے درکه) شی اوځلور کاله ئے هېڅ پته اونه لګی، نو دده ښځے له اختیار دے چه په قاضي باندے خپله نکاح فسخ کړی اوددے روسته څلور میاشتے اولس ورځے عدت تېرکړی، نو ددے نه پس بیا دا ښځه کولے شی چه دبل چا سره نکاح اوکړی. لکه داحنافو دکتابونو عبارتونه دارنګ دی :

فتاوی دیوبند کښے دي :

زوجه مفقود الخبر کے بارے میں حنفیه نے امام مالك رحمه الله کے مذهب پر فتوی دیا هے که چار برس کے بعد زوجه مفقود کو اس کے نکاح سے خارج کرکے عدت وفات پوری کراکے دوسرا نکاح کرنے کي اجازت دیتے هیں، کما في الشامي عن القهستاني، لوافتی في موضع الضروره لاباس به الخ. (۲۷۳/۱۰).

★ قال في البزازیه : الفتوی في زماننا علی قول مالك.

(بزازیه کښے دی چه زمونږ په زمانه کښے فتوی دامام مالك په قول ده).

(رد المحتار : ۳۳۰/۳ کتاب المفقود).

★ شیخ ګوهر رحمٰن صاحبؒ په تفهیم المسائل : ۱٦٤/۱، کښے لیکی :

علماء دیوبند نے بھی امام مالك کے مسلك پر فتوی دیا هے.

(دیوبندی علماؤ هم دامام مالك په مسلك باندے فتوی ورکړېده).

روسته (۳۷۷/۱) لیکی :

اس لئے اس بارے میں امام مالك رحمه الله کے مسلك پر عمل کیا جاسکتا هے.

(دے وجے نه دے باره کښے دامام مالك په مسلك باندے عمل کېدے شی).

★ مولانا اشرف علی تهانوی صاحب هم وئېلی دی چه دے باره کښے مونږ دامام مالكؒ په مذهب باندے فتوی ورکوو. او په دے باندے ددیوبند، سهارنپور اوتهانه بهون دعلماؤ دسختونه هم شته. (الحیله الناجزه للحیله العاجزه ص : ۲۲).

★ فتاوی حقانیه (٤٩٦/٤)، کښے هم دی :

(په داسے حالت کښے دامام مالك په مذهب باندے عمل کول جائز دی، چونکه حنفی فقهاؤ په دے

باندې دعمل کولو ګنجائش پېدا کړېدې دې وجې نه دا به دفقه حنفي حکم ګنړلے شي).

★ فتاوی رشیدیه کښې رشید احمد ګنګوهي صاحبؒ هم تفصيلاً داخبره لیکلې چه دمفقود په مسئله کښې احناف علماء دامام مالك په مذهب باندې فتوی ورکوي.

دغه شان فتاوی رشیدیه کښې دسید نذیر حسین محدث دهلوي صاحبؒ - چه دا مشهور اهلحدیث عالم دے - دده فتوی نقل کوي اود نذیر حسین صاحبؒ په فتوی باندې دے لاندینو علماؤ هم دستخطونه کړي، اولیکلي ئے دي چه دنذیر حسین صاحبؒ فتوی صحیح ده.

ابو محمد عبد الحق، محمد عبد السلام، خادم شریعت رسول الآداب ابومحمد عبد الوهاب، محمد نجیب خان، حفیظ الله، ابومحمد عبد الرؤف البهاري، ابو علي محمد عبد الرحمن المبارکفوري، نمقه محمد یسین، محمد حسین خان خورجوي، محمد تلطف حسین، ابو محمد عبد الله فقیر الله، محمد عبد القادر، محمد طاهر سلهتي.

اوګوره: فتاوی رشیدیه ص: ٤٨٥. فتاوی نذیریه: ٥٦٨/٢.

★ علامه عبد الحی لکهنوي رحمه الله لیکي:

عند الضرورت حنفیه کے نزدیك تقلید درست هے اور اس مسئله میں بهي حنفیه تصریح کرتے هیں چنانچه جامع الرموز میں هے: قال مالك والاوزاعي: الی اربع سنین فینکح عرسه بعدها کما في النظم: فلو افتی في موضع الضروره ینبغي ان لا باس به علی ما اظن.

اور رد المحتار حاشیه در مختار میں هے:

ذکر ابن وهبان في منظومته انه لو افتی بقول مالك في موضع الضروره یجوز.

(فتاوی رشیدیه ص: ٤٨٧، مجموعه الفتاوی اردو لمولانا عبد الحی لکهنوي: ٨٦/٢).

دے باره کښې دهر عالم قول رانقل په فتوی کښې د ډیر اوګدوالي سبب جوړیږي، دے وجے نه دلته صرف دهغوي دکتابونو حوالے کافي ګنړم چه دتفصیل دپاره ورته رجوع اوکړے شي:

(المدونه الکبری في مذهب الامام مالك: ٤٥٠/٢، احسن الفتاوی: ٤٢٠/٥، فتاوی نذیریه: ٥٦٣/٢، المفصل في احکام المرأه: ٤٤٢/٨، کشاف القناع عن متن الاقناع: ٤٢١/٥، اعلام الموقعین: ٥٣/٢، کفایه المفتي: ١٠٤/٦، جدید فقهي مسائل: ١٣٢/٢، فتاوی ثنائیه: ٢٦٠/٢.

جامع الرموز شرح مختصر الوقایه، طحطاوي، رد المحتار او فتاوی حسب المفتین کښې هم دضرورت په وخت کښې دمفقود په باره کښې دامام مالك په قول فتوی ورکړے.

اوګوره : فتاوی نذیریه : ۲/ او فتاوی رشیدیه : ٤٨٥ .

علامه شاه ولی الله په المسوی شرح الموطا کښې هم څلورو کالو ته ترجیح ورکړېده (بحواله فتاوی رشیدیه :٤٨٧) . ----آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن وسنت کی روشنی میں : ٤٣٨/٢، لمبشر احمد ربانی حفظه الله. سبل السلام : ٣١٨/٣ . ---- اوشیخ صدیق حسن خان په (لاضرر او لا ضرار في الاسلام) باندے هم استدلال کړېدے، کما في الروضه الندیه :٤٤٥/٢ .

نودا ضرر دے زوجے ته خصوصاً کله چه سړے متعنت او عنادی هم وی۔

کما في احکام المرأه (١/). ١٤٢٤/١١/٣٠هـ .

د مفقود ښځه کله بل چا سره نکاح کولے شي ؟

سوال : یو کس واده اوکړو او بیا دکور نه تقریباً یولس (١١) کاله غائب شو چه هیڅ نښه پته ئے معلومه نه ده، آیا دا کس دمفقود حکم لری اوکه نه ؟ اودده ښځه دبل چا سره نکاح کولے شی اوکه نه ؟

جواب : آو ! دا کس مفقود دے، ځکه دمفقود تعریف علماؤ داسے کړېدے :

هو الغائب الذي لا یدری حیاته ولا موته ، او حیاته متحققه ولکن لا یعرف له مکان .

(یعنے : مفقود هغه یے درکه شخص ته وئیلے شی چه دمرګ او ژوند پته ئے نه لګیږی یا داچه دامعلومه وی چه ژوندے دے لیکن دځائے پته ئے نه لګی چه چرته دے) .

(فقه اسلامي : ١٤٥/٤، رد المحتار : ٣٢٨/٣، کشاف القناع :٥٩٠/٢، المفصل في احکام المرأه وبیت المسلم : ٤٤٢/٨) .

دمفقود (بے درکه) شخص باره کښے شرعی حکم دادے چه کله یو کس څلور کاله ورك شی اوهیڅ پته ئے اونه لګی، نو دڅلورو کالو پورے به ئے ښځه انتظار کوی، اود څلورو کالو نه پس به دده ښځه دوفات عدت (څلور میاشتے اولس ورځے) – عدت تیروی، اوددے نه پس که بل واده کوی نو کولے ئے شی.

امیر المؤمنین عمر بن الخطاب – رضي الله عنه – داسے فیصله فرمائیلے ده :

عن سعید بن المسیب ان عمر بن الخطاب – رضی الله عنه – قال : ایما امرأه فقدت زوجها فلم تدري این هو فانها تنتظر اربع سنین ثم تنتظر اربعه اشهر وعشراً .

(اخرجه البیهقی : ٤٤٥/٧، وعبد الرزاق : ٨٥/٧، ومالك في الموطا ص : ٣٣٢، باب عده التي

تفقد زوجها، وسعید بن منصور في سننه : ۱/ ۴۰۰، ۱۷۵۲، دارقطنی : ۳۱۱/٤، نصب الرایه : ٤۷۱/۳).

ترجمه : امیر المؤمنین عمر بن الخطاب – رضی الله عنه – فرمائیلی دی : دکومې ښځې چه خاوند یې درکه شی او پته لګی چه چرته دے، نودادے څلور کاله انتظار اوکړی – که پیدا نشی – نو بیا دے څلور میاشتے او لس ورځے عدت تیر کړی .

بل روایت کښے دا ورسره دی : (وتزوجت ان شائت) یعنی که خوښه ئې شی نو بل چا سره دے واده اوکړی . ----- دارنګ البیهقی :٤٤٥/۷، مصنف عبد الرزاق : ۸۵/۷،کښے دسعید بن المسیبؒ نه روایت دے ----- ان عمر وعثمان قضیا في المفقود ان المرأه تتربص اربع سنین واربعه اشهر بعد ذلك ثم تتزوج .

ترجمه : عمر بن خطاب او عثمان بن عفان – رضی الله عنهما – دواړو دمفقود سړی په باره کښے داسے فیصله کړیده چه دده ښځه دے څلور کاله انتظار اوکړی، اودے نه پس دے بیا څلور میاشتے اولس ورځے عدت تیر کړی، بیا دے بل چا سره نکاح اوکړی .

اوګوره موسوعه فقه عمر بن الخطاب، عصره وحیاته، ص : ۷۸۷، وموسوعه فقه عثمان بن عفان ص : ۲۷۳، طبع بیروت، مصنف ابن ابي شیبه :٤/۲۳۷) .

۳ – جابر بن زید – رضی الله عنه – فرمائي چه عبد الله عباس او عبد الله بن عمر – رضي الله عنهما – دواړه فرمائی :

تنتظر امرأه المفقود اربع سنین .

ترجمه : دیے درکه سړی ښځه دے څلور کاله انتظار اوکړی .

(رواه البیهقی : ٤٤٥/۷، وسعید بن منصور : ۱/ ٤۰۲، رقم : ۱۷۵٦) .

٤ – حافظ ابن حجر عسقلاني – رحمه الله – فرمائی :

وثبت ایضاً عن عثمان وابن مسعود في روایه، وعن جمع من التابعین کالنخعي وعطاء والزهري ومکحول والشعبي، واتفق اکثرهم علی ان التاجیل من الیوم ترفع امرها للحاکم وعلی انها تعتد عده الوفات بعد مضي الاربع سنین .

ترجمه : همدا خبره دعثمانؓ او په یوروایت کښے دابن مسعودؓ اوپه تابعینوؒ کښے دیو جماعت نه لکه نخعي، عطاء، زهری، مکحول او شعبی نه ثابت ده . اوداکثرو په دے باندے اتفاق دے چه دا مقرره موده

دهغې ورځې نه شروع کېږي چه حاکم ته دا معامله لاړه شي. اوپه دې باندې هم اتفاق دې چه دڅلورو کالونه روسته به دا ښځه عدت الوفات تېره وي.

(فتح الباري: ٤٣١/٩).

باقي تفصيل ددې په مخکښې مسئله کښې تېر شو.

مفقود باره کښې دېو روايت تحقيق

سوال: تاسو دمفقود په مسئله کښې لېکلي چه دې باره کښې دعمر - رضي الله عنه قول راجح دې حال داچه دارقطني کښې دمغيره بن شعبه - رضي الله عنه - حديث دې: قال رسول الله ﷺ: امرأه المفقود امرأته حتى ياتيها البيان.

(دمفقود ښځه به هم دده ښځه وي ترڅو چه دېته دهغه باره کښې پوره پته اولګي).

دارنګ تاسو دعمر - رضي الله عنه - قول پېش کړې نو هغه خو دخپل قول نه رجوع کړېده لکه هدايه (٦٢٣/٢) کتاب المفقود کښې دي:

وعمر رجع الى قول علي - رضي الله عنهما.

(عمر - رضي الله عنه - دعلي رضي الله عنه قول ته رجوع کړېده).

نو هرکله چه دې باره کښې مرفوع حديث اود علي رضي الله عنه اثر راغلې او عمر رضي الله عنه هم دعلي رضي الله عنه قول ته رجوع کړې نو بيا تاسو څنګه دڅلورو کلونو قول غوره کړېدې؟

جواب: لا حول ولا قوه الا بالله.

مونږ دمفقود په مسئله کښې دعمر رضي الله عنه قول ځکه غوره کړې چه دده په مقابل کښې هيڅ صحيح مرفوع روايت نشته. اوکوم چه ددارقطني روايت دې نو هغه ضعيف جدا (انتهائي ضعيف) روايت دې. علامه عبد الحي لکهنوي ددغه روايت په باره کښې لېکي: فيه متروکون وضعفاء فلا يقوم حجه.

(دې روايت کښې متروك اوضعيف راويان دي نو دا روايت دليل نشي جوړېدې).

(عمده الرعايه: ٣٩٣/٢). ----- حافظ ابن حجر - رحمه الله - لېکي:

ددې حديث په سند کښې سوار بن مصعب دمحمد بن شرحبيل نه روايت کوي اودا دواړه متروك دي. ----- (الدرايه في تخريج احاديث الهدايه: ٢٠٢/٢)

علامه صنعاني په سبل السلام (۳۱۸/۳) کښې لیکي :
ضعفه ابو حاتم والبیهقي وابن القطان وعبد الحق وغیرهم .
(دا حدیث ابو حاتم، بیهقی، ابن قطان، عبد الحق او نورو علماؤ ضعیف کړیدے) .
نیل المرام کښې شیخ ابو عمر عبد العزیز لیکي :
په دے حدیث باندے عمل نه دے، دوجے دشدت ضعف ددے حدیث، ځکه چه په دے حدیث کښے صالح بن مالك او محمد بن الفضل دواړه مجهول دي او سوار بن مصعب او محمد بن شرحبیل دواړه متروك دي. خاصکر محمد بن شرحبیل دمغیره نه مناکیر اوبواطیل روایت کوی. (۲۹۶/۲) . داخو په دے حدیث باندے دعمل نه کولو وجه ذکر شوه
اوکوم چه دعلي رضي الله عنه قول دے چه :
امرأه المفقود ابتلیت حتی یاتیها یقین موته .
(دمفقود په ښځه باندے ابتلاء او مصیبت راغلے هغه دے صبر اوکړی ترڅو چه ورته دخپل خاوند دمرګ یقین نه وی راغلے) .
دعلي رضي الله عنه نه دا روایت حکم اوحماد مرسل روایت کوی اوددے په مقابل کښے دعلي رضي الله عنه په متصل سند سره نقل دی چه هغه دعمر رضي الله عنه موافق فتوی ورکړیده (چه څلور کاله انتظار دے). اوقانون دادے چه متصل روایت مقدم وی په مرسل باندے. (المغني لابن قدامه : ۱۳۵/۹، المفصل في احکام المرأه : ۴۵٤/۸) .
دریمه وجه دترجیح داده :
چه دعمر رضي الله عنه حدیث ته مونږ ځکه ترجیح ورکوو چه دعلي رضي الله عنه اثر دقیاس موافق دے او عمر رضي الله عنه اثر خلاف القیاس دے، اوکومه خبره چه یو صحابی خلاف القیاس اوکړی نودا دمرفوع روایت حکم لری (خصوصاً داحنافو داصولو مطابق) نو ددے وجے نه دعمر فاروق‌ؓ حدیث دمرفوع حدیث حکم لری، اوپه دے وجه ترجیح هم دعمر فاروق - رضی الله عنه - حدیث ته ورکوو.
(اوګوره عمده الرعایه : ۳۹۲/۲) .
اوکومه خبره چه صاحب الهدایه لیکلے چه عمر رضي الله عنه دعلي رضي الله عنه قول ته رجوع کړیده، نوددے :

جواب : دادے چه زه اول بغیر دتعصب او عناد نه دصاحب هدایه په باره کښے دا وئیلے شم چه صاحب الهدایه داحادیثو په صحت اوضعف باندے نه پوهیږی، هغه خو اوچ اولامده تول را جمع کوی، دصحیح احادیثو دصحت باوجود یے ځایه جوابونه کوی، کله صحیح احادیث منسوخ کوی،کله دصحیح احادیثو مقابل کښے قیاسات پیش کوی،کله موضوعي احادیث په دلیل کښے ذکرکوی وغیره.

که دبحث نه دوتلو ویره نه وے نو مونږ به ډیرمثالونه پیش کړی وو، خو دتفصیل دپاره زمونږ کتاب – **د تقلید حقیقت** – ته رجوع اوکړئ. دغه شان دخواجه محمد قاسم صاحب کتاب (هدایه عوام کي عدالت مین) اوګورئ، چه په دے کتاب کښے هغه دهدایه یے شماره ضعیف، موضوعي رواېتونه په نښه کړیدی. دغه شان (التنبیه علي مشکلات الهدایه لابن ابي العز الحنفي) هم اوګورئ.

نو صاحب الهدایه چه کومه دعمر رضي الله عنه درجوع خبره کړے نو دحدیث په کتابونو کښے دا نه دے موندلے شوے، دحافظ ابن حجرؒ غوندے محقق اوحافظ فرمائی :

اما رجوع عمر فلم اره. (دعمر رضي الله عنه رجوع ما چرته اونه موندله).

(الدرایه في تخریج احادیث الهدایه : ۶۰۲/۲).

ابن قدامه په المغني کښے داثرم رواېت نقل کوي لیکی :

ثم قال : زعموا ان عمر رجع عن هذا، هؤلاء الکذابین .

(بیا امام احمد اووئیل : ددے خلقو دا ګمان دے چه عمر رضي الله عنه دخپل قول نه رجوع کړیده نو دا خلق دروغجن دی). ----- بیا روسته فرمائی :

قلتٍ : فروی من وجه ضعیف ان عمر قال بخلاف هذا، قال : لا، الا ان یکون انسانا یکذب .

(اثرم وائی : ما امام احمدؒ ته اووئیل : چه کیدے شی په ضعیف سند خو به رواېت وی چه عمر رضي الله عنه دخپل قول (ثلورو کلونو) نه خلاف خبره کړے وی ! امام احمدؒ اوفرمائیل : نه، په ضعیف رواېت کښے هم دا نشته، مګر دا که یو انسان دروغ وائی .

(المغني :۱۳۳/۹، کشاف القناع عن متن الاقناع :۴۲۱/۵، للمرداوي، اوجز المسالك الی موطا مالك :۴۰۱/۴، للشیخ زکریا).

حاصل دا چه :

۱ – که دمفقود باره کښې درسول الله ﷺ نه صحیح روایت موجود وې نو خبره خلاصه وه. بیا خو هیڅ اشکال هم نه وو. لیکن دې باره کښې صحیح حدیث نشته، اوکوم روایت ددارقطني چه معترض پیش کړې هغه ضعیف جداً دې.
۲ – اود علي رضي الله عنه نه په متصل سند سره دعمر رضي الله عنه موافقت نقل دې، لکه مخکښې مونږ ذکر کړل. اوکوم روایت چه ددې خلاف دعلي رضي الله عنه نه نقل کولې شی نو هغه ضعیف او مرسل دې.
۳ – صاحب هدایه چه دعمر رضي الله عنه درجوع خبره کړېده نودا بې بنیاده خبره ده، اود امام احمدؒ دقول مطابق دا (کذابینو) او دروغجنو خبره ده.
هذا وبالله التوفیق. ۱۴۲۴/۱۲/۱ هـ.

که مفقود راشی نو اوس به څه کیږی؟

سوال: کله چه قاضي، حاکم دې درکه (مفقود) سړی ښځې ته دنکاح کولو اجازت ورکړی اودده ښځه دبل چا سره نکاح اوکړی اوددې نه پس رومبنې خاوند یعنی مفقود راشی، نو اوس به څه حکم وی؟
جواب: دې باره کښې داهل علمو اختلاف دې، **اکثر** اهل علم وائی چه دا ښځه به دړومبنی خاوند حسابیږی، البته هغه ته به قاضي یا حاکم اختیار ورکړی چه یا دې خپله ښځه واخله، اویا دهغې نه مهر – کوم چه ده ورکړېدې – بیرته واپس واخله.
دې باره کښې ابن ابي لیلیؒ دعمر فاروق – رضي الله عنه – نه اوسعید بن المسیبؒ دعثمان غني رضي الله عنه نه هم دا شان نقل کړي چه دوئ فرمائیلی دي:
ان جاء زوجها الاول خیر بین المرأه والصداق الذي ساق هو.
(رواه الجوزجاني والاثرم کما في المغني، وابن ابي شیبه: ۲۳۸/۴، ارواء الغلیل: ۱۵۰/۶).
دغه شان دعلي رضي الله عنه، عبد الله بن زبیرؓ، شعبيؒ او ابراهیمؒ نه هم منقول دي.
(مصنف ابن ابي شیبه: ۲۳۸/۴، المحلی لابن حزم: ۳۱۶/۹).
ابن قدامه رحمه الله خو دې کښې داجماع دعوی کړېده لکه فرمائی:
وهذه قضایا انتشرت في الصحابه فلم تنکر فکانت اجماعاً، ولم یعرف لهم مخالف في عصرهم

فكان اجماعاً. (المغني: ١٣٥/٩، مسئله رقم: ٦٣٥٠).

دوېم قول: دامام مالك رحمه الله دے، هغه وائي که رومنيے خاوند په داسے موقع کور کلي ته راشي چه دوېم خاوند ښځے سره دخول نه وي کړے نو ښځه به رومنبي خاوند ته واپس کړے شي،اوكه دخول ئے ورسره کړے وو نو دوېم خاوند ښځه شوه، درومنبي خاوند ورسره هيڅ حق پاتے نشو.

وان دخلوا فالآخِر احق. (المدونه الكبرىٰ: ٤٤٩/٢).

علامه ابن حزم دربيعةؒ نه دا نقل کوي چه دا ښځه به اوس ددوېم خاوند وي برابره خبره ده كه دخول ئے کړے وي اوكه نه.

او فرق السلطان بينهما فلا سبيل للاول ولا رجعه دخل بها او لم يدخل.

(المحلىٰ: ٣٢١/٩).

امام مالك دعمر فاروق رضي الله عنه په دے خبره دليل نيولے چه يو سړي خپلے ښځے ته غائبانه طلاق ورکړي او غائبانه هغے ته رجوع اوكړي، ښځے ته دطلاقو خبر را اورسيدو مگر درجوع خبر را اونه رسيدو، هغے دعدت تيرولو نه پس دوېمه نكاح بل چا سره اوكړه چه هغه ورسره كور والے هم اوكړو، اوس ئے كه رومنيے خاوند واپس كول غواړي نو حق ئے نشته.

(المدونه الكبرىٰ: ٤٤٩/٢).

راجح قول: دے باره كښے دژور فكر او سوچ نه پس دا معلومېږي چه دے مسئله كښے دوه صورته دي:

١ - اول صورت: كه چرے دا مفقود كس اضطراراً اومجبوراً دخپلے ښځے نه غائب شي مثلاً يو ځائے قيدي شي، دشمنان ئے اونيسي، يو ځائے كښے داسے ايسار شي چه نه كور ته تلے شي اونه كور ته خپل حال ليګلے شي،اوس دده ښځه دڅلورو كالو انتظار او عدت تيرولو نه پس بل چا سره نكاح اوكړي، اود نكاح نه پس مفقود خپل كور ته راشي، نو ده ته به بيرته باخپله ښځه واپس كولے شي اويا به مهر واخلي لكه په دے باندے دعمر بن خطاب او نورو صحابه كرامو - رضي الله عنهم - فتوىٰ دليل دے كومه چه مخكښے اول قول كښے ددے تفصيل ذكر شو.

٢ - دوېم صورت دادے:

چه يو كس په خپله خوښه بغير دعذر شرعي نه په كلونو كلونو دخپلے ښځے نه غائب دے، دهغے دنان نفقے، مكان، روغ نا روغ تپوس نه كوي اونه دهغے ښځے دجنسي حق پروا ساتي اودده ښځه څلور

کاله انتظار هم اوکړي لیکن بیا ئے هم پته اونه لګي نو دده ښځے ته دڅلور کلونو نه پس قاضيٍ، حکومت یا یو عالم دعدت تیرولو حکم اوکړي، دعدت تیرولو نه پس د بل چا سره نکاح اوکړي اوهغه دخول هم ورسره اوکړي، اوس که مفقود خاوند راشي نو ده ته به بیرته ښځه نشي واپس کولے اونه به مهر ورکولے شي.

دیو څو وجهو نه :

۱ – دا کس متعنت دے اوکله چه په صورت دتعنت کښے قاضيٍ یا حکم فسخ دنکاح اوکړي نو بیا خاوند بیرته دواپس کولو حق نه لري.تعنت دیته وائي چه یو کس بغیر دعذر شرعي، سره دقدرت نه خپلے ښځے له خرچه نه ورکوي او یا دهغے سره جماع نه کوي. نوپه دے صورت کښے قاضيٍ او حاکم ددوئ مینځ کښے نکاح فسخ کولے شي چه دیته دطلاق بائن حکم ورکولے کیږي.

اوګوره : احسن الفتاوي (۴۱۱/۵) فتاوی المرأه المسلمه (۷۴۲/۲).

۔ نوکوم طلاق چه دتعنت په وجه واقع شي یاکوم طلاق چه دقاضيٍ یا حاکم په وجه واقع شي نو دا تول دطلاق بائن حکم لري چه په طلاق بائن سره داولني خاوند ښځه نه شماریږي اونه هغه دښځے دواپس کولو حق لري.

(جدید فقهي مسائل :۱۷۱/۲).



کتاب الطلاق

په زبردستئ او زور باندے طلاق نه واقع کیږي

سوال : دزبردستئ او زور په وجه طلاق واقع کیږي اوکه نه ؟ مثلاً یوکس بل کس ډیر زیات اووهي یا وریاندے توپک، تمانچه کیدي چه ښځه طلاقه کړه اوهغه ددے وجے نه خپلے ښځے له طلاق

ورکړي ، یا ورته دمرګ دهمکۍ ورکړے شي نو آیا په دے صورتونو کښے په دغه کس باندے خپله ښځه طلاقیږي اوکه نه ؟ دقرآن اوسنت په رڼا کښے جواب اولیکئ !

جواب : الحمد لله والصلاه والسلام علی رسوله الکریم وعلی آله وصحبه اجمعین.

دزبردستۍ او زور په وجه طلاق نه واقع کیږي.

او په دے مسئله ډیر زیات دلائل دي :

۱ - **دلیل :** عن عائشه - رضي الله عنها - قالت : سمعت رسول الله ﷺ :

لا طلاق ولا عتاق في اغلاق. (طلاق او وینزه غلام آزادیدل په زوره نه کیږي).

(رواه ابوداود :۵۰۷/۱، وابن ماجه : ۶۶۰/۱، ۲۰۴۶، والحاکم : ۱۹۸/۲، واحمد : ۲۷۶/۶، والبیهقي : ۳۵۷/۷، والبخاري تعلیقا "مجزوما" : ۷۹۳/۲، کما في المشکاه :۲۸۴/۲، والارواء : ۱۱۳/۷). ----- امام ابو عبید، امام قتیبه او علامه ابن الاثیر - رحمهم الله - داغلاق معنی په اکراه او زبردستۍ سره کړیده.

(المغني : ۳۵۱/۱۰، شرح السنه : ۲۲۲/۹، النهایه : ۳۷۹/۳، السیل الجرار).

داحدیث واضح دلیل دے په دے خبره چه دزور او زبردستۍ په وجه طلاق نه واقع کیږي.

۲ - **دویم دلیل :** عن ابن عباس - رضي الله عنه - قال : قال رسول الله ﷺ : ان الله وضع عن امتي الخطا والنسیان وما استکرهوا علیه.

(اخرجه ابن ماجه، والطحاوي :۵۶/۲، والدارقطني، والحاکم : ۱۶۸/۲، وابن حبان : ۱۴۹۸، وسنده صحیح کما في الارواء : ۸۲/۱).

ددے حدیث نه دا مسئله ثابته شوه چه ددے امت نه خطاء، نسیان او اکراه په دے کار کولو باندے الله تعالی انسان نه رانیسی کوم کارونه چه دحقوق الله دقبیلے نه وي. او طلاق هم دحقوق الله دقبیلے نه دے.

۳ - **دریم دلیل :** امام بیهقی او عبد الرزاق باب راوړے : باب طلاق المکره :

عن عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - قال : لیس الرجل بامین اذا جوعت او وثقت اوضربت.

(رواه البیهقي : ۳۵۹/۷، واللفظ له، وعبد الرزاق : ۴۱۱/۶، ۱۱۴۲۴).

داحدیث اوفتوی دامیر المؤمنین عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - هم دلیل دے چه دزبردستۍ او زور په وجه طلاق نه واقع کیږي.

٤ – **څلورم دلیل** : دسیدنا ابن عباس – رضي الله عنه – نه روایت دے :
طلاق السكران والمستكره ليس بجائز . (رواه البخاري : ٧٩٣/٢، وابن ابي شيبه : ٤٢/٥) .
یعنے : دنشائی او مجبوره شخص طلاق جائز – نافذ – نه دے .
(البيهقي : ٣٥٨/٧، نصب الرايه :٢٢٤/٣) .
٥ – **پنځم دلیل** : عن ثابت ان عبد الرحمن بن زيد توفي وترك امهات اولاده قال : فخطبت احداهن الى اسيد بن عبد الرحمن وهواصغر من عبد الله بن عبد الرحمن، فانكحني، فلما بلغ ذلك عبد الله بعث الى فاحتملت اليه فاذا حديد وسياط فقال : طلقها والا ضربتك بهذه السياط والا اوثقتك بهذا الحديث قال : فلما رأيت ذلك طلقتها ثلاثا اوقال : بتتها، فسالت كل فقيه بالمدينه فقالوا : ليس بشئ، فسالت ابن عمر فقال : ايت ابن الزبير قال : فاجتمعت انا وابن عمر عند ابن الزبير بمكه، فقصصت عليهما فرداهما على .
(رواه عبد الرزاق في مصنفه : ٤٠٨/٦، ١١٤١٠، والبيهقي : ٣٥٨/٧، ومالك في الموطا ص : ٥٢٨) . ---- دا اثر صحيح دے او په دے مسئله واضح دليل دے چه په زوره او زبردستئ سره طلاق نه واقع کیږی . اودا هم ترینه معلومه شوه چه داد عامو فقهاؤ – صحابه کرامؓ او تابعینؒ – مذهب دے .
٦ – **شپږم دلیل** : عن الحسن ان عليا – رضي الله عنه – كان لا يرى طلاق الكره شيئا .
(اخرجه عبد الرزاق : ٤٠٩/٦، والبيهقي :٣٥٧/٧، وسنده صحيح) .
یعنے : علی رضي الله عنه به دمجبورئ – زور، زبردستئ – طلاق هیڅ هم نه ګڼړلو .
تنبيه : کوم روایت چه ددے خلاف دعلی رضي الله عنه نه نقل دے نو دهغے سند ضعیف دے، ځکه دهغے په سند کښے رجل مجهول دے .
امام ابن قدامه مقدسي – رحمه الله – فرمائیلی دی :
ان طلاق المكره لا يقع، وروي ذلك عن عمر وعلى وابن عمر وابن عباس وابن الزبير وجابربن سمره – رضي الله عنهم – وبه قال : عبد الله بن عمير، وعكرمه، والحسن، وجابربن زيد، وشريح، وعطاء، وطاؤس، وعمر بن عبد العزيز، وابن عون، وايوب السختياني، ومالك،و الاوزاعي، والشافعي، واسحاق، وابوثور، وابو عبيد . (المغني : ٣٥٠/١٠) .
ترجمه : په زوره طلاق نه واقع کیږی اودا مذهب دے دسیدنا عمر، علی، عبد الله بن عمر، عبد الله

بن عباس، عبد الله بن زبیر، جابر بن سمره – رضي الله عنهم – اوهمدا دعبد الله بن عمیر، عکرمه، حسن بصري، جابر بن زید، قاضي شریح، عطاء بن ابي رباح، طاؤس، عمر بن العزیز، ابن عون، امام ابو ثور او امام ابوعبید – رحمهم الله – نه نقل ده.

اوهمدا قول دجمهورو علماؤ دے لکه مالك، شافعي اواحمد – رحمهم الله.

خلاصه: په زور اوزبردستئ سره طلاق نه واقع کېږي. اوځوك چه په زور او زبردستئ هم طلاق واقع کول صحیح ګڼړي دهغوئ قول ضعیف دے،ځکه دلائل ئے یا ضعیف، یا مجمل یاعمومات دي. چه ددغه مذکوره خاصو دلائلو مقابله نشي کولے.

دتفصیل دپاره اوګوره: فتاوی الدین الخالص کتاب الطلاق.

مجموعه الفتاوی لمولانا عبد الحی لکهنوی کښے دي:

(زیدعمرو ته دهوکه ورکړه او خپل کور ته ئے دننه بوتلو او څو سړی ئے راوغوښتل او په زید باندے ئے په زوره دده ښځه په درے طلاقو طلاقه کړه، بلکه عمرو اود عمرو ملګری کوتك په لاس زید ته اووئیل: که انکار دے اوکړو نو فوراً ذبح وهو. کله چه هغه طلاق ورکړل نو عمرو او ملګرو ئے زید پرېښودلو. چونکه زید او دده دبي بي ترمینځه محبت وو، چه جدائی بېخی ګرانه وه، لهذا دضرورت په وخت دمذهب شافعی دتقلید په وجه نکاح جائز ده اوکه نه؟

جواب: دضرورت شدیده په وخت دامام شافعي رحمه الله دمذهب تقلید درست دے.

(مجموعه الفتاوی اردو مولنا عبد الحی لکهنوی :۲۰۳/۳).

که ښځه د طلاق دعوی کوی او خاوند انکار کوی نو څه فیصله به کېږي؟

سوال: نو په دغه صورت کښے ښځه دا دعوی کوی چه زما خاوند ماته طلاق راکړے لیکن دښځے خاوند ددے نه بالکل انکار کوی او وائی چه ما دسره طلاق په خوله هم نه دے راوړے. زمونږ تپوس دادے چه کله ښځه وائی چه ماته خاوند طلاق راکړے اوخاوند وائی چه ماطلاق نه دے ورکړے، ددے مسئلے شرعي حکم څه دے؟ دقرآن وسنت په رنړا کښے جواب راکړئ! واحسن الله الیکم!

جواب: الحمد لله والصلاه والسلام علی رسول الله.

که چرے ښځے سره په دے خبره دوه مسلمانان عادلان ګواهان وی نو ښځه طلاقه ده په اتفاق دمسلمانانو. اوکه چرے ښځه دا دعوی کوی چه ماته خاوند طلاق راکړی او په دے خبره ښځے سره دوه

مسلمانان عادلان ګواهان نه وي، نوبیا دخاوند خبره معتبره ده اود خاوند خبره به منلې شي. ځکه دلته ښځه دا دعوی کوي چه ماته خاوند طلاق راکړی او شرعي قانون دادے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي:

البینه علی المدعی والیمین علی من انکر. (رواه البیهقی کمافی المشکاه: ۳۲۶/۲).

یعنے: بینه - ګواهان او ثبوت - په هغه چا دے چه دعوی کوي او قسم په هغه چا دے چه انکار کوي. ---- دغه شان تش په دعوی کولو کار نه کیږي ترڅو چه دعوی کونکے، دوه ګواهان دخپلې دعوی داثبات دپاره پیش نه کړي.

ځکه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي:

لویعطی الناس بدعواهم لادعی ناس دماء رجال واموالهم ولکن الیمین علی المدعی علیه.

(رواه مسلم: ۷٤/۲، مشکاه: ۳۲۶/۲).

یعنے: که چرے صرف په دعوی باندے خلقو ته څه ورکیدلے نوخلقو به دډیرو سړو اودهغوئ دمالونو دعوی کولے، لیکن په دعوی کړے شوی کس باندے قسم دے. (او دعوی کونکے به ګواهان پیش کوي).

فتاوی دیوبند: ۱۳۰/۱۰، کښے دي:

(که خاوند دطلاق ورکولو نه انکار کوي او ښځے سره په طلاقو باندے دوه معتبر ګواهان نه وي نو دخاوند قول به معتبر وي او طلاق به نه ثابتیږي، اود هندے دزوجیت علاقه به دزید سره قائمه وي. هکذا في الدر المختار: ٥٨٥/٤.

فتاوی نذیریه: ۸٤/۳، کښے هم شیخ سید نذیر حسین محدث دهلوی - رحمه الله - هم دا شان خبره کړیده. دارنګ تفهیم الاحکام: ۲٥٥/۱، لمفتی سیاح الدین، تفهیم المسائل: ۳۰٥/۳، کښے هم دي. ۱٤۲٤/۱۱/۲۲ هـ.

آیا په دے مذکوره صورت کښے طلاق واقع کیږي؟

سوال: محمد بلال خپلے ښځے بنوري له دفریقینو ترمینځه داختلاف په وجه په کچرو کښے دجج (قاضي) په لیکلی کاغذاتو باندے دستخط کړیدے چه په هغے کښے ئے لیکلے دي چه محمد بلال خپله ښځه ددرے طلاقو په ذریعه آزاده کړیده، حال داچه ما په خولے باندے یوځل هم دطلاق لفظ نه

دے وئیلے، محمد بلال وائی ما باندے سخت دباؤ وو، او ماته دنوشتے هیڅ پته نه وه اونه ما لوستلے وو. روسته پته اولګیده چه په دغه نوشته کښے دطلاقه ثلاثه ذکر دے، نو آیا دشریعت په لحاظ ښځه په ما باندے طلاقه شویده اوکه نه ؟ زه پوځو مدرسو ته لاړم هغوئ وائي چه ستا طلاق ثلاثه واقع شویدي !

جواب : لا حول ولا قوه الا بالله.

که چرے صورت دمسئلے داسے وی. څنګه چه په سوالیه کښے لیکلے شوے نو ددے کس – محمد بلال – طلاق نه دی واقع شی، اودا دجمهورو علماؤ مذهب دے.

اوکه بالفرض طلاق واقع هم شی نو بیا یو طلاق واقع شویدے،درے طلاقه قطعاً نه دی واقع شوی.

اوددے خبرے پنځه وجوهات دی :

۱ – دا کس وائی چه په ما باندے په زبردستئ او دباؤ په وجه طلاق ورکړے شو.

اورسول الله ﷺ فرمائیلی دی : (لا طلاق ولا عتاق في اغلاق).

(طلاق او آزادی په زبردستئ سره نه کیږی).

امام ابو عبیدؒ، امام قتیبيؒ فرمائیلی دی چه : داغلاق معنی اکراه ده.

دغه شان دابن درید او ابوطاهر – نحاتو – په نیز هم داغلاق معنی ده اکراه.

(المغني : ۳۵۱/۱۰، شرح السنه : ۲۲۲/۹).

ابن قدامه – رحمه الله – فرمائی :

ان طلاق المکره لا یقع، وروي ذلك عن عمر وعلی وابن عمر وابن عباس وابن الزبیر وجابربن سمره – رضي الله عنهم – وبه قال : عبد الله بن عمیر، وعکرمه، والحسن، وجابربن زید، وشریح، وعطاء، وطاؤس، وعمر بن عبد العزیز، وابن عون، وایوب السختیانی، ومالك،و الاوزاعي، والشافعي، واسحاق، وابوثور، وابو عبید. (المغني : ۳۵۰/۱۰).

ترجمه : په زوره طلاق نه واقع کیږی اودا مذهب دے دسیدنا عمر، علی، عبد الله بن عمر، عبد الله بن عباس، عبد الله بن زبیر، جابر بن سمره – رضي الله عنهم – اوهمدا دعبد الله بن عمیر، عکرمه، حسن بصري، جابر بن زید، قاضي شریح، عطاء بن ابي رباح، طاؤس، عمر بن العزیز، ابن عون، امام ابو ثور او امام ابوعبید – رحمهم الله – نه نقل ده.

۲ – دا کس وائی چه دوکیل دطرفه طلاق نامه لیکلے شوے وه، ما په هغے باندے صرف ګوته

اولګوله زما دطلاقو نيت نه وو، اونه مې دطلاقو لفظ په خوله اخستې دې. اودا اتفاقي مسئله ده چه په يو کس باندې دزبردستئ اودباؤ په وجه طلاق واقع کړې شي نو دا طلاق نه واقع کېږي. يعنې په خوله دطلاقو لفظ اونه وائي صرف ګوته اولګوي.

لکه رد المحتار: ۵۸۹/۲، کښې دي:

وکذا کل کتاب لم يکتبه بخطه ولم يمله بنفسه لايقع الطلاق مالم يقر انه کتابه.

دارنګه فتاوى دېوبند کښې دي: (مخالف طلاق نامه اوليکله او خاوند اونه پېژنده او دستخط ئې اوکړو نو طلاق نه واقع کېږي - ۱۵۳/۹).

۳ - داکس وائي چه ماته دا هيڅ پته نه وه چه په طلاق نامه کښې څومره طلاق ليکلې شوي دي. اوکله چه داسې صورت وي نو بيا هم طلاق نه واقع کېږي لکه مولانا ګوهر رحمٰن رحمه الله ليکي:

(البته که ده ته دا معلومه نه وه چه په خط کښې څه ليکلي دي نو بيا طلاق نه واقع کېږي). (تفهيم المسائل: ۱۶۵/۱).

٤ - دا شخص وائي چه کله ماته جج اووئيل چه ته دې ښځې له طلاق ورکوې! ما ورته اووئيل چه زما دښځې مرضي ده نو زما ښځې اووئيل چه زه طلاق غواړم. نو دېته تفويض الطلاق وئيلې شي، اوپه تفويض الطلاق - ښځې ته طلاق سپارلو - کښې په ښځه يو طلاق واقع کېږي کله چه خاوند ددرې طلاقو نيت نه وي کړې.

لکه دا خبره دحنفي فقه په تولو کتابونو کنز، هدايه، شرح وقايه وغيره کښې ذکر ده.

۵ - دلته درې طلاقه ځکه نه دي واقع شوي چه په يوځل يا يو طهر کښې درې طلاقه ورکول دراجح قول مطابق يو طلاق شمارېږي.

لکه مسلم شريف: ٤٧٤/١، کښې حديث دې: چه درې طلاقه به درسول الله ﷺ په زمانه کښې يو طلاق شمارېدل، دغه شان دابو بکر - رضي الله عنه - اود عمر رضي الله عنه په اولنو دوو کلونو دخلافت کښې. (١٤٢٥/٣/٤ هـ).

په يوځل د درې طلاقو ورکولو حکم

سوال: درې طلاقه په يو ځل واقع کېږي که نه؟ په دې مسئله کښې ډېر خلق اخته کېږي، او بيا ملايانو ته ځي هغوئ د درې طلاقو واقع کېدو فتوى ورکوي، او بيا روسته ورباندې حلاله کوي، دا

مسئله تفصیلاً دقرآن اوسنت په رڼا کښې حل کړئ!

جواب : کوم سړے چه خپلے ښځے له درے طلاقه ورکړي اوداسے اووائي چه : ته په درے طلاقو طلاقه ئے، یا داسے اووائي : ته طلاقه ئے ! ته طلاقه ئے ! ته طلاقه ئے ! یا یو طلاق نن ورکړي اوبل صبا له او بل بل صبا له، یعنے په یو طهر کښے درے طلاقه ورکړي، نو په دے صورتونو کښے دعلمائے کرامو دوه قوله دي :

۱ - اول دا چه : دیو طهر درے طلاقه یو شمارېږي اودا رجعي طلاق دے . اوددے سړي دپاره په عدت کښے دننه رجوع کول جائز دي . اودا شرط په قرآن کښے دے . اود رجوع په وخت ددوه ګواهانو موجودیت ضروري دے . بله دا چه توبه به اوباسي ځکه درے طلاقه په یو ځل ورکول ګناه ده . **دلائل دادي :**

۱ - مسلم شریف (۱/٤٧٤، ٤٧٧) کښے حدیث دے :

عن ابن عباس - رضي الله عنه - قال : کانت الطلاق علی عهد رسول الله ﷺ وابي بکر وسنتین من خلافه عمر طلاق الثلاث واحده . وقال عمر بن الخطاب : ان الناس قد استعجلوا في امر کانت لهم فیه اناه فلو امضیناه علیهم، فامضاه علیهم .

ترجمه : ابن عباس - رضي الله عنه - فرمائي : درے طلاقه دنبي کریم ﷺ په زمانه کښے اود ابو بکر -رضي الله عنه - په زمانه کښے اود عمر فاروق - رضي الله عنه - په ابتدائي دوه کالو کښے به یو طلاق ګڼړل کیده . بیا عمر - رضي الله عنه - خلقو سره مشوره اوکړه چه خلق طلاق زیات ورکوي که دا طلاقونه درے په دوئ نافذ کړے شي نو ښه به وي . نو په خلقو ئے درے نافذ کړل .

دا حدیث ددے خبرے دلیل دے چه په یو ځل باندے درے ورکړے شوي طلاقه یو طلاق حسابیږي .

۲ - هرکله چه عمر فاروق - رضي الله عنه - درے طلاقه نافذ کړل نو دوئ ددے درے طلاقو نافذولو دپاره څه دلیل پیش نه کړو،صرف دومره ئے اوفرمائیل : (فلو امضیناه علیهم) یعنے : که مونږ په دے خلقو درے نافذ کړو نو دا به ښه وي . لهذا دا سیاسي فیصله وه شرعي خبره نه وه، (لکه ددے خبرے اقرار خپله احنافو علماؤ هم کړے)، اودا دهغه خلقو دپاره فیصله وه کومو چه به ډیر طلاقونه ورکول . اوس چه هم څوک بے پرواه وي او زیات طلاق ورکوي نو په هغه باندے به دعمر فاروق - رضي الله عنه - فیصله نافذولے شي . لیکن څوک چه داسے نه وي نو په هغه باندے به پورتنے مرفوع حدیث نافذولے شي .

۳ – دریم دلیل دادے : چه دعبد یزید په حدیث کښے راځی چه ده ته رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

راجع امرأتك رکانه واخوته فقال : اني طلقها ثلاثا یا رسول الله ! قال : قد علمت راجعها، وتلا : ﴿ یاایها النبي اذا طلقتم النساء فطلقوهن لعدتهن ﴾ .

ترجمه : نبي کریم ﷺ اوفرمائیل : خپلے ښځے ام رکانه ته رجوع اوکړه ! هغه عرض اوکړو : ما خپلے ښځے له درے طلاقه ورکړی دی. نبي کریم ﷺ اوفرمائیل : ماته پته ده رجوع ورته اوکړه، بیا ئے دا آیت کریمه تلاوت اوفرمائیله : یا ایها النبي الآیه.

(ابوداودرقم : ۲۱۹۶، البیهقي : ۳۳۹/۷، الحاکم : ۴۹۱/۲، مسند احمد : ۲۶۵/۱).

امام ابن تیمیهؒ فرمائی : وهذا اسناد جید. وقال ابن حجر في الفتح : ۳۱۶/۹ : اخرجه احمد وابو یعلی وصححه ثم قال : ویقوی حدیث ابن اسحق ما اخرجه مسلم.(ارواء الغلیل : ۱۴۴/۷).

نو دا حدیث حسن دے ، په دے مسئله واضح دلیل دے چه درے طلاقه یو شمارلے کیږي، او ددے په مقابله کښے بل حدیث کوم چه په ابوداود کښے ذکر دے ضعیف دے.

۴ – څلورم دلیل : دابن عباس – رضي الله عنه – فتوی ده چه په ابوداود کښے په صحیح سند سره نقل شویده :

قال ابوداود : وروی حماد بن زید عن ایوب عن عکرمه عن ابن عباس : اذا قال : انت طالق ثلاثا بفم واحد فهي واحده.

ترجمه : ابن عباس – رضي الله عنه – فرمائی : کله چه خاوند په یو ځل درے طلاقه ورکړی نودا یو طلاق دے.

دا صحیح فتوی ده. اود ابن عباسؓ دویمه مخالفه فتوی هم شته خو هغه سیاسي ده او دعمر فاروق – رضي الله عنه – داتباع دوجے نه ده.

(رواه ابوداود رقم : ۲۱۵۹۷،کما في الاغاثه : ۲۸۷/۱).

۵ – پنځم دلیل دادے : چه هرکله انسان دلعان په باب کښے داسے اووائی :

اشهد اربع شهادات باني صادق.

چه زه څلور ګواهیانے ورکوم چه زه رشتینے یم، نو دا به یوه ګواهي وی ، نه څلور. دغه شان د(اقرار بالزنا) په باب کښے چه سړے اووائی : (اني اقر اربع اقرارارت) نودابه یو اقرار وی. کما في الاغاثه

:۳۰۱/۱.

۶ - **شپږم دلیل** : دادے چه په قرآن کریم کښے الله تعالی فرمائی :

﴿ وبعولتهن احق بردهن في ذلك ﴾

او خاوند دخپلے طلاقه کړے شوے ښځے زیات حقدار دے چه دا په عدت کښے دننه واپس کړی. دا آیت مطلق دے دے سرہ ته هم شامل دے .نو دے هم خپلے ښځے ته رجوع کولے شی .اوس که څوك په یو ځل باندے درے طلاقه ورکولو نه پس رجوع صحیح نه ګنړی نو دا ددے آیت خلاف دے .

۷ - **اووم دلیل** : دادے چه الله تعالی فرمائی : ﴿ الطلاق مرتان ﴾

طلاق دوه کرته دی. یعنے یو طهر کښے به یو طلاق ورکوی او په دویم طهر کښے به دویم طلاق. او څوك چه درے طلاقه په یوځل ورکوی، نو (الطلاق مرتان) څه شو نوځکه دامشروع نه دی بلکه دقرآن کریم خلاف دی نو دے له به اعتبار نه وی.

(کما في الاغاثه : ۳۰۲/۱).

۸ - **آتم دلیل** : الله تعالی فرمائی : ﴿ وما جعل علیکم في الدین من حرج ﴾.

په دین کښے داسے تنګی نشته چه دهغے مخرج نه وی.

اودا په دے وجه بهتر دے چه نن صبا خلق طلاق ورکوی او بیا نکاح تحلیل تړی، اوپه دے کښے عدت هم نه تیروی اونه په دے کښے دنکاح شروط وی.

حال دا چه په نکاح تحلیل باندے لعنت فرمائیلے شویدے :

لعن الله المحلل والمحلل له.

عمر فاروق – رضي الله عنه – به درے طلاقه نافذول خو نکاح حلاله والا به ئے رجم کول. -----

اونبي کریم ﷺ دحلاله والا په باره کښے فرمائی : التیس المستعار .

یعنے : هغه ګډ چه په کرایه باندے اخستے شوے وی.

افسوس او صد افسوس ! چه دا خلق خپل ځان دشرعي رخصت نه محرومو ی او په حرامو باندے عمل کوی ! په پردو ښځو باندے سرے خیژوی !!

۲ – **اودویم قول** : دجمهورو علماؤ دے چه درے طلاقه په یو ځل باندے درے واقع کیږی. اوددوئ دلیل دعمر فاروق – رضي الله عنه – فتوی اوبعضے مجمل روایتونه دی. ------ لیکن مونږ وایو چه دا یوه سیاسي فیصله وه، او دهغے خلقو متعلق وه کومو چه په طلاق ورکولو کښے بے

پرواهي كوله. اوس هم چه څوك په طلاقو كښې زيادت كوي نو دهغه دپاره دا فتوی ده.

ليكن كوم خلق چه بے پرواه نه وي او دهغه نه بو ځل چرته داسے په بو ځل درے طلاقه واقع شي او بيا پښېمانه هم وي. نو ده له پكار دي چه توبه كړي ځكه ده په درے طلاقه وركولو سره ګناه اوكړه، او بيا دے رجوع اوكړي او دابه بو طلاق رجعي وي. كه چرے عدت تېر شوے وي نو صرف نكاح دے تازه كړي، دحلالے ضرورت نشته. اودا فتوٰی دبعضے حنفي علماؤ هم ده.

لكه دوئ وائي چه كله ددرے طلاقو وركونكي غرض تاكېد وي نو دا هم بو طلاق دے.

(كمافي رد المحتار) او كه خاوند خالي الذهن وي نو بيا هم بو طلاق دے.

ليكن مونږ وايو: هرڅنګه چه وي صرف بو طلاق رجعي واقع كېږي دوجے دمذكوره دلائلو نه.

------ تفصيل دپاره:

زاد المعاد، اغاثه اللهفان، مجموعه الفتاوی، نيل الاوطار، سلسله الاحاديث الضعيفه: ۳/.

د طلاق ثلاثه متعلق څو اهم نكتے

۱ - بعضے خلق دعمر - رضي الله عنه - فيصله پيش كوي چه دوئ درے طلاقه نافذ كړي وو. ليكن دے خلقوته معلومه نه ده چه **عمر** فاروق - رضي الله عنه - ددے مسئلے نه **رجوع** كړېده، اوپه دے فيصله ئے پښېمانتيا اختيار كړېده، ځكه چه ددوئ دا فيصله دشر اوفساد ختمولو دپاره وه، ليكن په دے سره شر او فساد دفع نه شو بلكه خلقو زيات شور جوړ كړو ------ صحيح اسماعيلي كښے حديث دے كوم چه په اغاثه اللهفان (۱/۴۹۳) كښے سند سره منقول دے:

حدثنا خالد بن يزيد بن ابي مالك عن ابيه قال: قال عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - : ماندمت على شئ ندامتي على ثلاث: ان لا اكون حرمت الطلاق، وعلى ان لا اكون انكحت الموالي، وعلى ان لا اكون قتلت النوائح. (اغاثه اللهفان لابن القيم: ۱/۳۵۱)، وسنده حسن.

ترجمه: عمر فاروق - رضي الله تعالى عنه - فرمائي: زه په هيڅ شي باندے دومره زيات نه يم پښېمانه څومره چه په دے درے كارونو باندے پښېمانه شوے يم:

(۱) چه ما طلاق نه وے حرام كړي (۲) دوينزو نكاح مے نه وے كړے (۳) او نوحه ګرے (وير كونكے) ښځے مے نه وے قتل كړے.

نوددے حديث نه معلومه شوه چه عمر فاروق - رضي الله عنه - په دے فيصله باندے پښېمانتيا

اختیار کړېده. که چرې دا سیاسي فېصله نه وي بلکه په سنت نبوی سره وي نو بیا دپښېمانتیا څه معنی وه؟ په سنت باندې په عمل کولو باندې خو څوك پښېمانتیا نه ښکاره کوی، د سوچ خبره ده!

۲ - څوك چه درې طلاقه درې شمارې او دېته مغلظ وائی دوئ اکثر حلاله کوی (لکه داسې بې شماره واقعات مونږ ته معلوم دی)کومه چه په اتفاق دعلماؤ حرام ده. عمر فاروق - رضي الله عنه - به فرمائېل:

کوم شخص چه حلاله اوکړه نو زه به هغه سنگسار کړم.

(ابن ابي شېبه: ٤٤/٧، عبد الرزاق والسنن الکبری: ٢٠٨/٧).

او عبد الله بن عمر - رضي الله عنهما - به حلاله کونکی ته زناکار وئېلو.

او نبي کرېم ﷺ فرمائېلی دی: لعن الله المحلل والمحلل له.

یعنې: په هغه چا الله لعنت وائی چه حلاله کوی او په هغه کس چه حلاله هغه دپاره کولې شی. (دواړه ملعون دی). (ابوداود، مشکوه).

نوددوئ دا **فېصله** نه دعمر فاروق - رضي الله عنه - نه نقل ده اونه د نبي کرېم ﷺ نه. بلکه دا دخواهش فېصله ده. اودا کار جائز نه دې چه نېم حدېث باندې عمل اوکړې شی او نېم حدېث پرېخودلې شی، گنې بیا د انسان د ﴿ افتؤمنون ببعض الکتاب وتکفرون ببعض ﴾ مصداق جوړېږی.

بل مثال: دابو هرېره - رضي الله عنه - حدېث دې چه که دصبا دمانځه په دوېم رکعت کښې نمر راوخاته نو مونځ صحیح دې دارنگه که دمازېگر دمانځه یو رکعت کولونه پس نمر غائب شو نو هم مونځ صحیح دې (بخاري، مشکوه: ٦٣/١).

لېکن احناف وائی: که نمر راؤخاته نودسحر مونځ فاسد شو.

نو دا دنېمائی حصې صاف مخالفت دې. اوداسې بې شماره مثالونه دی چه دا دتفصېل موقع نه ده ---- نو عمر فاروق - رضي الله عنه - د درې طلاق واقع کېدو قائل دې خو ورسره دحلالې درجم هم قائل دې.

لېکن احناف ددرې طلاقو قائل دی لېکن حلالې ته جائز وائی.

سبحانك هذا بهتان عظېم!

یا دحلالې په ځائې دخپلې ښځې سره دخور معامله کوی ځکه چه په طلاقو شرمېږی او دده په ذهن کښې رجوع ممکن نه ده، نو په گنړو گناهونو کښې مبتلا کېږی، دښځې حق بربادول، مُطلقه چه دده په

نزد اجنبۍ ښځه ده په خپل کور کښې ساتل. کله ورسره صحبت هم کوي نو په زنا کښې واقع شو، وغيره وغيره. نو آيا دا بهتره ده اوکه په صريح صاف حديث باندې عمل کول چه درې طلاقه په يو باندې شمار کړې شي او رجوع ورته اوکړي. چه دا مسئله دعقل او نقل او فطرت سليمه موافق ده.

ډير مقلدين خالي الذهن په دې مسئلې باندې عمل کوي او زمونږ دمدرسې دار الافتاء ته حاضريږي او دهغوئ ذِل اودماغ دا مسئله **قبلوي**. بل طرفته داحنافو والا دحلالې مسئلې نه فطرت سليمه **نفرت** کوي او داړکرجن عمل ګڼړي.

۳ ـ ځينې نام نهاد ـ کورسي ـ **مفتيان** صاحبان په دې مسئله کښې دعالم اوجاهل فرق نه کوي بلکه تولو خلقو ته يوه فتوي ورکوي چه درې طلاقه واقع دي، حالانکه څوك چه عالم دې نو هغه دپاره عمر فاروق ـ رضي الله عنه ـ دا فيصله سياستاً رائج کړې وه. او کوم چه دطلاقو داحکامو نه ناواقف دي بالکل خبر نه دي نو دهغوئ په ذهن کښې دادي چه طلاق هميشه درې ورکول دي. نودوئ ته دا حکم ورکول اود عالم اوجاهل په فتوي کښې برابرول دعقل اودانش نه خلاف دي.

کله چه جاهل سړې درې طلاقه خپلې ښځې ته ورکړي اوبيا مفتي صاحب ته خبر ورکړي چه ددې څه حکم دې ؟ کله چه مفتي صاحب ورته فتوي واوروي چه ستا په ښځه درې طلاقه واقع شوي دي نوپه ده باندې قيامت قائم شي. ډير خلق چغې سورې وهي، دځينو خلقو حواس باخته شي،ځينې ژاړي. ما څو داسې سړي ليدلي دي.

نو دعالم بالمسئله او جاهل بالمسئله ترمينځه فرق کول ضروري دي.

(اغاثه اللهفان : ۱/۴۹۶).

نو دا مسائل د مخکنئ زمانې نه داسې اختلافي راروان دي چه علماء کرامو په کښې دخپلې رائې اظهار کړيدې، نو دا څه اجماعي مسئله نه ده، بلکه اختلافي ده، لهذا عوامو لره د(اهل حق) نه متنفر کول جائز نه دي. اونه په دې کښې داجماع دعوې صحيح دي.

نومبر :۱۹۷۳ء کښې په دې باره کښې دهندوستان په مشهور ښار احمد آباد (ګجرات) کښې ديو مجلس مذاکره اهتمام اوکړې شو چه ددې صدارت مولانا مفتي عتيق الرحمن ديوبندي صاحب سريده ندوه المصنفين اوکړو. په دې موضوع باندې چه کومو اکابر علماء ديوبند خپلې علمي مقالې پيش کړې په هغې کښې خاص طور سره مولانا سعيد احمد اکبر آبادي فاضل ديوبند او مولانا محفوظ الرحمن قاسمي فاضل ديوبند خپلې علمي حقائقو سره ثابته کړه چه په داسې مخدوش

حالاتو او دعوامو په دېنې لاشعورئ لاندے که څوك په جذباتوكښے راشي. او خپلے ښځے له په يو مجلس كښے درے طلاقه وركړي - نو زمونږ په نزد كه دا صرف يو طلاق اوګنړلے شي. نو دا به ډېر زيات بهتر وي. دعلمي شواهدو نه پس زمونږ همدا رائے ده.

دغه شان يو فاضل كرم شاه صاحب فاضل جامعه ازهر آف بهېرې چه دبرېلوي مكتب فكر يو ممتاز عالم دے، په دے مسئله باندے مدلل اوتفصيلي مقاله لېكلے ده چه په هغے كښے ده دا خبره ثابته كړېده چه په داسے حالاتوكښے زما په نزد په دے باندے عمل كول افضل دي. چه درے طلاقه يو طلاق شمار كړے شي.

(اداره : مجلس نشر السنه، مخدوم رشيد ملتان).

(اوګوره : حلاله كي چُهري ص : ۱۱۲،مصنفه : ابوشرحبيل، مجموعه مقالات درباره ايك مجلس كي تين طلاق ص : ۱۰).

په مجموعه الفتاوي حاشيه خلاصه الفتاوي كښے مولانا عبد الحي لكهنوي دېو سوال په جواب كښے لېكي :

سوال : علماء دين دے مسئلے باره كښے څه فرمائي : چه زيد دغصے په حالت كښے خپلے ښځے ته اووئېل : ما طلاق دركړو، ما طلاق دركړو، ما طلاق دركړو. نو ددے درے ځلو وئيلو نه درے طلاقه واقع شو كه نه ؟ كه چرے په حنفي مذهب كښے واقع وي او مثلاً شافعي مذهب كښے واقع شوي نه وي نو حنفي لره په دے خاص صورت كښے دشافعي په مذهب دعمل كولو رخصت وركول پكار دي كه نه ؟

جواب : په دے صورت كښے داحنافو په نزد طلاق واقع كېږي اود تحليل نه بغير نكاح نه صحيح كېږي، لېكن دضرورت په وخت كښے كه چرے ددے ښځے جداكول دخاوند نه مشكل وي او احتمال دډېرو مفاسدو لري نو دے وخت كښے كه چرے دبل امام تقليد اوكړے شي هيڅ باك نه لري. ددے دمثال دمفقود الخبر سړي ښځه اوعدت ممتده الطهر موجود دے چه احنافو دضرورت په بناء دامام مالك په قول عمل كول صحيح ګنړي، لكه رد المحتار كښے تفصيلاً ذُكر دي.

لېكن غوره داده چه هغه كس دشافعي عالم نه فتوي اوغواړي او دهغه په فتوي عمل اوكړي. والله اعلم. حرره محمد عبد الحي عفي عنه.

(حاشيه خلاصه الفتاوي : ۷٤/۱، كتاب الطلاق، مجموعه الفتاوي اردو :۶۸/۲).

كفايه المفتي كښے دي :

سوال: زید حنفي المذهب خپلې ښځې هندې له په یو مجلس کښې دغیظ اوغضب اومرض په حالت کښې په یو زبان درې طلاقه ورکړل، بیا خپیمانه شو چه کور به وېران اوبال بچ به تس نس شي، دسخت ضرورت دوجې نه ئې داهل حدیث مفتي نه فتوی طلب کړه، هغه ځائې نه فتوی ملاؤ شوه چه صرف یو طلاق واقع شوېدے. زید رجوع اوکړه. په دے باندے نورو علماؤ په اهل حدیث مفتي باندے دکفر فتوی اولګوله اوهغه سره ئې دمقاطعې حکم ئې اوکړو او مسجد ته دراتلو نه ئې منع کړو، نو آیا دا کار جائز دے؟

او آیا په متقدمینو ائمهٔ کښې ددے څوك قائل وو که نه؟

جواب: په یو مجلس کښې ددرې طلاقو ورکولو درې حسابېدلو مذهب دجمهورو علماؤ دے او ائمه اربعه په دے متفق دي.

دجمهورو علماؤ نه علاوه بعضے علماء ددے قائل ضرور دي چه یو طلاق رجعي واقع کېږي. اودا مذهب اهل حدیثو هم اختیار کړېدے.

اود ابن عباسؓ، طاؤسؒ، عکرمهؒ او ابن اسحقؒ نه منقول دے.

نو یو اهل حدیث ته ددے حکم په وجه کافر وئیل درست نه دي، اونه هغه کس قابل مقاطعه او نه دمسجد نه دوېستلو مستحق دے. (کفایه المفتي: ۳۶۱/۶).

★ دپاکستان دسترے محکمے قاضي پیر کرم شاه ازهري په خپل تفسیر ضیاء القرآن کښې د (الطلاق مرتان) لاندے دارنګه په خپله بله یو مستقل رساله (دعوت فکر ونظر) کښې لیکلي چه درې طلاقه یو شمارېږي.

★ دتفسیر منار مصنف محمد رشید رضاؒ هم دا قول غوره کړے چه درې طلاقه په یو ځل ورکول په یو طلاق حسابېږي. (تفسیر منار: ۳۸۴/۲).

علامه صدیق حسن خان – رحمه الله – په الروضه الندیه کښې لیکلي دي:

چه درې طلاقه یوګڼړلو فتوی دابن عباس – رضي الله عنه – نه روایت دے. دغه شان دزبیر بن العوام اوعبد الرحمن بن عوف – رضي الله عنهما – نه هم دا فتوی ابن وضاح نقل کړېده. په تابعینوؒ کښې دعکرمهؒ او طاؤسؒ نه نقل دے. په تبع تابعینوؒ کښې دداؤد بن عليؒ او دهغه اکثرو ملګرو داشان فتوی ورکړے.

بعضے مالکیانو، بعضے احنافو اوبعضے حنابلو هم داشان فتوی ورکړېده.

مقصد داچه په دے قول باندے کتاب، سنت، قیاس او اجماع قدیم تول دلالت کوی. اود هغے نه روسته بله اجماع نه ده راغلے چه دامخکنۍ اجماع باطله کړی.

(الروضه الندیه : ۵۳/۲). ---- دغه شان علامه قاسمي په - الاستیناس - کښے ددے قائل دے چه درے طلاقه دیو مجلس یو حسابیږی.

دکتور عبد الکریم زیدان حنفي په خپل کتاب - المفصل في احکام المرأه :۸۸/۲) کښے دکافي بحث نه روسته لیکی :

القول الذی امیل الی الاخذ به :

والذي امیل الی الاخذ به من هذه الاقوال التي ذکرناها هو القول بان الطلاق بلفظ واحد او بتکریر لفظ انت طالق ثلاث مرات في مجلس واحد : ان الطلاق بهاتین الصیغتین یقع واحده رجعیه، وهذا القول ارفق بعامه المسلمین واقراب الی تحقیق المصلحه الشرعیه للاسره المسلمه، بالاضافه الی ما لهذا القول من مستند شرعي قوي بینا وجوهه فیما سبق.

ترجمه : په دے اقوالو کښے هغه قول چه زه په هغے باندے عمل کولو ته مائل یم هغه دادے چه په یو لفظ سره طلاق ورکول، یا درے کرته په یو مجلس کښے دانت طالق لفظ مکررول- په دے دواړو صورتونو کښے - دا یو رجعی طلاق دے. اودا قول په عامو مسلمانانو باندے دنرمۍ قول دے او په یو اسلامي کورنۍ کښے دمصلحت شرعی ثابتولو قول دے. سره ددے نه چه ددے قول دپاره یو قوی شرعي مستند اودلیل هم شته. چه مونږ مخکښے دهغے وجے ذکر کړے.

علامه ابن باز - رحمه الله - هم داسے فتوی ورکړے :

وذهب الی هذا القول - انها تعتبر - طلقه واحده - ابن عباس رضي الله عنهما في روایه صحیحه عنه. وذهب الی قول الاکثر في الروایه الاخری عنه. ویروی القول بجعلها واحده عن علی وعبد الرحمن بن عوف والزبیر بن العوام - رضي الله عنهم جمیعا - وبه قال جماعه من التابعین ومحمد بن اسحق صاحب السیره وجمع من اهل العلم من المتقدمین والمتاخرین، واختاره شیخ الاسلام ابن تیمیه وتلمیذه العلامه ابن القیم - رحمهما الله - وهو الذي أفتی به، لما في ذلك من العمل بالنصوص کلها، ولما في ذلك ایضا من رحمه علی المسلمین والرفق بهم. (فتاوی اسلامیه :۲۷۱/۳).

ترجمه : درے طلاقه یو حسابول دابن عباس - رضي الله عنهما - نه په یو صحیح روایت کښے نقل

دی، او په دویم روایت کښې دے ده داکثرو موافق کړیدے. اودرے طلاقه یو حسابولو قول دعلی، عبد الرحمن بن عوف او زبیر بن عوام – رضي الله عنهم – نه نقل دے. اوهمدا په تابعینوؒ کښې دیو جماعت قول دے. اودا دمحمد بن اسحق – صاحب سیرت – او په متقدمینو او متاخرینو کښې دیوے ډلے قول دے. اوهمدا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ او دهغه شاګرد علامه ابن القیمؒ غوره کړیده.

او په همدے قول باندے زه خپله هم فتوٰی ورکوم، ولے چه دے سره په تولو نصوصوباندے عمل راځی، بله داچه په دے کښے په مسلمانانو باندے نرمی او شفقت دے. آه. ----- شیخ محمد طاهر ابن عاشورؒ په خپل تفسیر کښے دجانبینو دلائلو ذکر کولو نه پس لیکی:

وقال علی بن ابي طالب وابن مسعود وعبد الرحمن بن عوف والزبیر بن العوام – رضي الله عنهم – ومحمد بن اسحق، وحجاج بن ارطاه، وطاووس والظاهریه وجماعه من مالکیه الاندلس منهم محمد بن زنباع، ومحمد بن بقي بن مخلد ومحمد بن سلام الخشني فقیه عصره بقرطبه واصبغ بن الحباب من فقهاء قرطبه واحمد بن مغیث الطلیطلي الفقیه الجلیل وقال ابن تیمیه من الحنابله: ان طلاق الثلاث في کلمه واحده لا یقع الا واحده، وهو الارجح من جهه النظر والاثر. ----- (تفسیر التحریر والتنویر لابن عاشور: ۴۱۹/۲).

ترجمه: علی بن ابي طالب، ابن مسعود، عبد الرحمن بن عوف، زبیربن عوام – رضي الله عنهم – دغه شان محمد بن اسحق، حجاج بن ارطاه، طاؤس، اهل ظواهر، داندلس ډیرو مالکیانو لکه محمد بن زنباع، محمد بن بقي بن مخلد، محمد بن سلام الخشني چه دا په خپل عصر کښے دقرطبې فقیه وو، اصبغ بن الحباب چه دقرطبے دفقهاؤ نه دے، احمد بن مغیث طلیطلي چه دا هم یو اوچت فقیه وو، دغه شان دحنابلو نه علامه ابن تیمیهؒ – دے تولو – فرمائیلی دی چه: درے طلاقه په یو ځل ورکول صرف یو طلاق واقع کیږی. اودا خبره دعقل او نقل دواړو په لحاظ راجح ده. آه.

(اوګوره: تفسیر التحریر والتنویر: ۴۱۹/۲، لابن عاشور).

محمد محمود حجازيؒ فرمائی:

وهل الطلاق الثلاث یقع طلقه واحده ام ثلاثا؟ الظاهر الذي علیه النظم الکریم من قوله: ﴿ مرتان ﴾ ان الطلاق الثلاث یقع طلقه واحده، ولحدیث ابن عباس – الذي رواه مسلم.

(التفسیر الواضح: ۶۷/۱).

★ مشهور مفسر علامه ابو حیان – رحمه الله – فرمائی:

ومازال یختلج في خاطري انه لو قال : انت طالق مرتین اوثلاثا انه لا یقع الا واحده، لانه مصدر للطلاق ویقتضي العدد، فاذا قال : انت طالق ثلاثاً فهذه لفظ واحد ومدلوله واحد، والواحد یستحیل ان یکون ثلاثا اَو اثنین ----- (تفسیر بحر المحیط : ۴۶۳/۲).

ترجمه : زما په زړه کښې همیشه راسې دا خبره تیرېږي چه که سړې داسې اووائی : ته دوه یا درې کرته طلاقه ئې نو دا خو صرف یو طلاق واقع کېږي. ولې چه دا خو دطلاق دپاره مصدر دې او دعدد تقاضا کوي. نو کله چه اووائي : انت طالق ثلاثاً نو دا یو لفظ دې، مدلول ئې یو دې، اودا ناممکنه ده چه یو دې درې یا دوه شي.

★ دکتور وهبه الزحیلي فرمائي :

وبالرغم مما أراه وهو رجحان مذهب الجمهور، لا اجد مانعا من الاخذ برأي ابن تیمیه ومن وافقه، لان الطلاق هدم للاسره، وتعریض لضیاع الاولاد، وهو کما قال ابوداود وابن ماجه عن ابن عمر : ابغض الحلال الی الله الطلاق، والشریعه اجازته لدفع ضرر اشد، وتحصیل مصلحه اکثر. آه ---- (التفسیر المنیر : ۳۴۱/۲).

ترجمه : او سره ددې نه چه زه دجمهورو مذهب غوره ګڼړم، خو دابن تیمیهؒ او دهغه دموافقینو په رائې او مذهب عمل کول منع نه ګڼړم ځکه طلاق دکورنۍ نړول او بال بچ ضائع کولو ته پیش کول دي، اوطلاق - لکه په ابوداود او ابن ماجه کښې دابن عمرؓ نه روایت دې - الله ته په ټول حلال څیزونو کښې مبغوض ترین دي. اوشریعت دضرر په دفع کولو او مصلحت حاصلولو کښې زیات اجازت ورکوي.

اوهمدغه شان خبره دکتور وهبه په الفقه الاسلامي : ۷۱۳/۷، کښې هم کړیده.

امام رازي په التفسیر الکبیر کښې لیکي :

ثم القائلون بهذا القول اختلفوا علی قولین : الاول وهو اختیار کثیر من علماء الدین انه لو طلقها اثنین اوثلاثا لَا یقع الا واحده ، وهذا القول هو الاقیس، لان النهي یدل علی منهي عنه علی مفسد راجحه، والقول بالوقوع سعی في ادخال تلک المفسده في الوجود وانه غیر جائز، فوجب ان یحکم بعدم الوقوع.

ترجمه : بیا ددې قول قائلینو په دوه قولینو کښې اختلاف کړیدې، اول قول - چه دا د ډیرو علماء دین قول دې - دادې چه که دوه یا درې طلاقه ئې ورکړل نو نه واقع کېږي مګر یو طلاق. اوهمدا قول

دعقل او قیاس سره زیات موافق دے، ځکه ددے نه چه منع راغلے ده نو دا دلالت کوی په دے چه دا په واضح اوښکاره فساد باندے مشتمله ده، اوکه درے واقع کول دا خو ددغه فساد رامنځ کولو دپاره منډے وهل دی، حال دا چه دا کار جائز نه دے، نو واجب ده چه دنه واقع کېدو حکم اوکړے شی.
(تفسیر کبیر: آیت الطلاق مرتان : ۲۶۰/۲).

د امام رازی په عبارت کښے (وهو اختیار کثیر من علماء الدین) لفظ قابل غور دے د مخالفینو دپاره. ---- علامه شیخ شلتوت په خپله فتاوی ص (۳۰٦) کښے لیکی:

الطلاق بالثلاث لایقع الا واحده رجعیه، ویرد الرجل زوجته بکلمه الرجعه او بالمخالطه الخاصه.

ترجمه: درے طلاقه نه واقع کیږی مګر یو رجعي طلاق، چه ددے نه پس به خاوند خپله ښځے ته درجوع په کلمے سره یا په خپل مینځی تعلق سره رجوع اوکړی.

الدلیل المرشد في القوانین والاوامر للمحاکمه الشرعیه ص (۳۸۳) کښې لیکی:

الطلاق المقترن بعدد لفظاً واشاره لا یقع الا واحده.

ترجمه: هغه طلاق چه لفظاً او اشارتاً دعدد سره متقرن وی نو دا صرف یو واقع کیږی.

تنبیه: دا کتاب دجامع از هر دکلیه الشریعه په تخصص القضاء کښې داخل نصاب دے۔

★ مولانا محفوظ الرحمن قاسمي دیوبندي فاضل دیوبند مدرس مدرسه بیت العلوم مالیګاؤن دے باره کښے یو مستقله رساله لیکلے چه درے طلاقه په یو ځل یوطلاق شماریږی. اوګوره:
(مجموعه مقالات علمیه درباره ایك مجلس کي تین طلاق ص: ۸۹).

دجامع از هر دعلماؤ فتوٰی:

دجامع از هر علماؤ هم دا فتوی ده چه درے طلاقه په یو مجلس کښے یو شماریږي.

لکه امام الجهاد شیخ عبد الله عزام –رحمه الله– په خپله یوه علمی رساله: انحلال الزواج في الفقه والقانون کښے لیکلی:

وقد وقف علماء الازهر في هذا العصر، کما وقف من قبل ابن تیمیه وابن القیم الی جانب هذا الرأي، وأیدوا هذا القول.

ترجمه: دازهر علماء په دے زمانه کښے دے رائے سره اودریدلي لکه څنګه چه ددوئ نه مخکښے ابن تیمیۃ او ابن قیمؒ دے رائے سره ولاړ وو. اودازهر دے علماؤ ددے قول تائید اوکړو. ---- اوګوره:
(موسوعه الزخائر العظام في ما اثر عن الامام الهمام الشهید عبد الله عزام: ۴۲۳/۱). ----- باقي

دے باره کښے به مونږ ان شاء الله مستقله رساله لیکو، ددے مسئلے تفصیل به هلته اوګورئ.

په یو ځل درے طلاقه واقع کیدو باندے د اجماع دعوی غلطه ده

سوال: بعضے کتابونو کښے دي چه په یو ځل طلاق ثلاثه واقع کیدو باندے دعلماؤ اجماع ده، آیا دا خبره صحیح ده؟ دے باره کښے مونږ ته تحقیقي جواب راکړئ!

جواب: الحمد لله والصلاه والسلام علی رسول الله.

دتولو نه مخکښے داجماع تعریف دفقه دکتابونو نه نقل کول غواړو:

هو اتفاق مجتهدي الامه بعد وفات رسول الله ﷺ في عصر علی اي امر کان.

یعنے: په یو زمانه کښے په یو مسئله باندے د رسول الله ﷺ دوفات نه پس دامت دمجتهدینو اتفاق کولو ته اجماع وائی.

حافظ ابن حجرؒ په فتح الباري: ۲۶٦/۱۲، کښے فرمائی:

(دا هل سنت والجماعت اتفاق دے چه دصحابه کرامؓ اجماع حجت دے).

اجماع کله ثابتیږی؟

داصول فقه په مشهور درسي کتاب نور الانوار ص: ۲۱۹، کښے دی:

والشرط اجماع الکل وخلاف الواحد مانع کخلاف الاکثر.

(شرط دادے چه دتولو به اجماع کړے وی، که یو کس اختلاف اوکړو نو دابه - داجماع په انعقاد کښے - داسے مانع وی لکه چه د تولو ا ختلاف مانع دے).

امام شوکاني رحمه الله فرمائی:

(که یومجتهد هم اختلاف اوکړو نو دجمهورو په نزد دا اجماع، اجماع نه پاتے کیږی). ارشاد الفحول ص: ۷۸. ------ یوسف القرضاوي فرمائی:

(غیر یقیني اجماع سره که مونږ دځه دلیل په وجه اختلاف اوکړو نو په دے کښے ځه حرج نشته، ځکه دا په واقع کښے اجماع نه ده). (فقه الزکوه: ۷٦/۱).

اوس ګورو چه په درے طلاق واقع کیدو اجماع شته دے که نه؟

نو په یو ځل درے طلاقه واقع کول درے شمارلو باندے داجماع دعوی کول غلط دی.

۱ - د ابن عباس رضی الله عنه فتوی:

عن ابن عباس - رضي الله عنه - اذا قال: انت طالق ثلاثا بفم واحد فهي واحده.
(ابوداود: ۳۰٦/۱).

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنه فرمائی: کله چه خاوند په یو ځل درے طلاقه واچوی نو دا یو طلاق حسابیږی.

ابن قیم - رحمه الله - نه نقل دی چه ددے سند دبخاري په شرط باندے دے.
(عون المعبود: ۲۲۷/۲).

دطاؤس - رحمه الله - نه نقل دی چه هغه فرمائی:

والله! ماکان ابن عباس یجعلها الا واحده.

ترجمه: قسم په الله! ابن عباسؓ به دا - په یو ځل درے طلاقه - صرف یو طلاق شمارلو. (حواله سابقه).

۲ - حافظ ابن حجر فتح الباري: ۳٦۳/۹، کښی فرمائی:

نقل عن علی وابن مسعود وعبد الرحمن بن عوف والزبیر مثله.

ترجمه: دعلی، ابن مسعود، عبد الرحمن بن عوف او زبیر - رضي الله عنهم - نه هم داسے نقل دی.

فتاوی اسلامیه: ۲۷۱/۳، لابن باز، وتفسیر التحریر والتنویر: ٤۱۹/۲.

۳ - علامه شوکاني رحمه الله په نیل الاوطار (۱٦/۷) کښے فرمائی:

داهل علمو دیوے ډلے رائے ده چه پرله پسے طلاق نه واقع کیږی بلکه صرف یو طلاق واقع کیږی او همدا خبره صاحب البحر دجناب ابو موسیٰؓ نه نقل کړیده اود جناب علیؓ نه هم روایت کړیده. دابن عباس، طاؤس، عطاء، جابر بن عبد الله، هادی، قاسم، باقر، ناصر، احمد بن عیسی اود عبد الله بن موسی نه هم نقل دی، اود زید بن علی نه هم یو روایت دے.

دمتاخرین یو جماعت هم دے طرفته تلے دے. چه ددوئ نه ابن تیمیهؒ،ابن قیمؒ او یو جماعت دمحققینو دے. ابن مغیث په کتاب الوثاق کښے دابن وضاح نه همدا خبره نقل کړیده. محمد بن تقي او محمد بن عبد السلام اود قرطبے د نورو مشائخو نه هم همدا فتوی منقول ده. ابن منذر دابن عباسؓ دشاګردانو مثلاً عطاء، طاؤس، عمرو بن دینار او عطاء بن مغیث نه هم همدا نقل کړیده.

او ابن مغیث په دے کتاب کښے په دے سلسله کښے دابن مسعود، عبد الرحمن بن عوف او زبیر بن عوام – رضي الله عنهم – نومونه هم اخستی دی.

٤ – علامه عبد الحی لکهنوی رحمه الله فرمائی:

والقول الثاني: انه اذا طلق ثلاثا تقع واحد رجعیه، وهذا هو المنقول عن بعض الصحابه، وبه قال داؤد الظاهري واتباعه، وهو احد القولین لمالك واصحاب احمد.

ترجمه: دویم قول دادے چه یو شخص درے طلاقه ورکړی نو یو رجعی طلاق واقع کیږی، دځینے صحابوؓ نه همدا نقل دی، داؤد ظاهریؒ او دهغه دمتبعینو هم دا رائے ده، دامام مالك یو قول هم دادے، بعضے حنابله هم داوائی.

(عمده الرعایه حاشیه شرح الوقایه: ۷۱/۲).

---

۵ – علامه نظام الدین نشاپوریؒ فرمائی:

بعضے خلق داسے هم شته چه هغوئ وائی چه که دوه یا درے طلاقه ورکړی نو صرف یو طلاق واقع کیږی،او همدا خبره صحیح ده، داکثر اهل بیت هم دا فیصله ده. دے وجے نه په یو ځل ددرے طلاقو نه چه کومه منع شویده نودا د ډیرے لوئے خرابئ دوجے نه ده،ددے – درے طلاقو – قائل کیدل دغه خرابئ لره وجود ته دراوړلو یو کوشش دے.

(تفسیر نشاپوري علی هامش ابن جریر: ۳٦۱/۲).

٦ – د امام رازی مسلك هم دادے لکه فرمائی:

ثم القائلون بهذا القول اختلفوا علی قولین: الاول وهو اختیار کثیر من علماء الدین انه لو طلقها اثنین اوثلاثا لَا یقع الا واحده، وهذا القول هو الاقیس، لان النهی یدل علی اشتمال المنهی عنه علی مفسده راجحه، والقول بالوقوع سعی فی ادخال تلك المفسده فی الوجود وانه غیر جائز، فوجب ان یحکم بعدم الوقوع.

ترجمه: بیا ددے قول قائلینو په دوه قولینو کښے اختلاف کړیدے، اول قول – چه دا د ډیرو علماء دین قول دے – دادے چه که دوه یا درے طلاقه ئے ورکړل نو صرف یو طلاق واقع کیږی. اوهمدا قول دعقل او قیاس سره زیات موافق دے، ځکه دے نه چه منع راغلے نودا منع دلالت کوی په دے چه په دے کښے ښکاره فساد دے، اوکه درے واقع کول دا خو ددغه فساد رامنځ کولو دپاره منډے وهل دی، حال دا چه دا کار جائز نه دے، نو واجب ده چه دنه واقع کیدو حکم اوکړے شی.

(تفسير كبير: آيت الطلاق مرتان ۲/ ۲٦۰).

۷ - علامه عينیؒ په عمده القاری شرح صحيح البخاری کښې فرمائی:

وفيه خلاف: فذهب طاؤس وابن اسحق والحجاج بن ارطاه والنخعي وابن مقاتل والظاهريه: الی انه الرجل اذا طلق امرأته ثلاثا معاً فقد وقعت عليها واحده، واحتجوا في ذلك بما رواه مسلم من حديث طاؤس ان ابا الصهباء.... الحديث.

(عمده القاري: ۲۰/ ۲۳۳، ومثله في شرح مسلم: ۱/ ٤٧٨، للنووي).

ترجمه: په دے کښې خلاف دے، دطاؤس، ابن اسحق، حجاج بن ارطاه، نخعي، ابن مقاتل اوظاهريه ؤ دا مذهب دے چه يو شخص خپله ښځه په يو ځل په درے طلاقو طلاقه کړی نو په هغے باندے صرف يو طلاق واقع کيږی. دوئ په دے باره کښې په هغه حديث باندے استدلال کړے چه دابو الصهباء نه روايت دے .....

۸ - الفقه علی المذاهب الاربعه: ٤/ ۳٤۳، کښې دی:

واقعي خبره داده چه يو مجلس کښې ددرے طلاقو واقع کيدو باندے اجماع نه موندلے شوے، دمسلمانانو کثير تعداد ددے مخالفت کړيدے، په دے کښې دشك گنجائش نشته چه جناب ابن عباسؓ دهغه مجتهدينو نه دے چه په هغه باندے په دينی مسائلو کښې اعتماد کيدلے شی، نو دده تقليد هم جائز دے، يوائځے دجناب عمرؓ تقليد ضروری نه دے .... نو کومو خلقو چه ديو مجلس درے طلاقه په ځائے ددريو باندے يو گڼلے دے نودوئ سره ددے مضبوط دليل موجود دے. اوهغه داچه دنبی کريم ﷺ په زمانه کښې، دجناب ابو بکرؓ په زمانه کښې اود عمرؓ په ابتدائی دوه کالو کښې په همدے طريقه باندے عمل کيدلو. دجناب عمر - رضي الله عنه - اجتهاد خو روستنئ خبره ده، چه ددے نورو خلقو مخالفت ئے کړيدے، که چرے دجناب عمر - رضي الله عنه - تقليد جائز دے نو دنورو تقليد هم جائز دے.

۹ - علامه ابو بکر جصاصؒ فرمائی:

ددے تمامو صحابه کرامؓ نه ديو مجلس ددرے طلاقو عدم نفاذ ثابت دے، ددے خلاف دهيچا نه منقول نه دے، پس په دے باندے - چه په يو ځل درے طلاقه يو شمارل کيږي - اجماع ده.

۱۰- شيخ الاسلام ابن قيم رحمه الله فرمائی:

علامه مازري په کتاب العلم کښې اختلاف نقل کړيدے او د محمد بن مقاتل - کوم چه دامام

ابو حنیفه دخاصو ملګرو نه دے – نه ئے دا قول نقل کړیدے . نو دامام صاحب په مذهب کښے هم دا یو قول دے . او تلمسانی په شرح التفریع کښے دامام مالك په مذهب کښے یو قول نقل کړیدے بلکه امام مالك نه ئے روایت نقل کړیدے . دغه شان دا دامام مالك او امام ابو حنیفه په مذهب کښے یو قول دے . او شیخ – امام ابن تیمیهؒ – کوم چه کم نه کم داصحاب الوجوه في المذهب په درجه کښے دے دوئ هم همدا قول اختیار کړیدے . اود امام احمد دبعضے ملګرو نه ئے هم دا نقل کړیدے، نو په حنبلی مذهب کښے هم دا یو قول دے . (اغاثه اللهفان ۳۰۷/۱)

۱۱ – حافظ ابن حجر – رحمه الله – فرمائی :

علامه غنوی همدا فیصله دقرطبے دمشهورو علماؤ محمد بن تقي بن مخلد او محمد بن عبد السلام خشني وغیرهما نه همدا نقل کړیدے، اوپه تابعینوّ کښے دسیدنا ابن عباسؓ شاګردان : عطاء بن ابي رباح، طاؤس او عمرو بن دینار نه هم دا نقل کړیدی .

(فتح الباري : ۳٦۳/۹، طبع سلفیه، مصنف ابن ابي شیبه : ۲٦/۵، عبد الرزاق : ۳۰۲/٦) .

اختصار دوجے نه په دے حواله جاتو باندے اکتفاء اوکړ ے شوه، ګنے دے باره کښے ډیر څه موجود دی . زمونږ غرض په دے حوالو نقل کولو کښے دادے چه کوم کسان وائي چه په یو ځل درے طلاقه درے شمارلو باندے اجماع ده، نو ددے تحقیق په رنړا کښے تاسو په ښه شان سره اندازه لګولے شئ چه ددوئ په دے خبره کښے څومره حده پورے صداقت دے ؟

تاسو اوکتل چه څومره علماؤ په یو ځل درے طلاقه یو شمارلي .

دے نه پس دا خبره هم قابل غور ده چه که دیو صحابی نه ددرے طلاقو درے شمارلو دمخالفت ذکر نه وی نو ددے نه اجماع نه ثابتیږی، بلکه امام احمدؒ خو داجماع دعوی کونکي دپاره دانتهائی محتاط رویے اختیارولو تلقین فرمائیلے دے، هغه فرمائی :

من ادعی الاجماع فهو کذاب، لعل الناس قد اختلفوا ومایدریه ولم ینته الیه، فلیقل : لانعلم الناس اختلفوا .

یعنے : څوك چه داجماع دعوی کوی نودے دروغجن دے، کیدے شی چه خلقو اختلاف کړے وی اوده ته پته نه وی یا ده نه وی را رسیدلے، داسے وئیل پکار دی چه : مونږ ته دخلقو داختلاف په باره کښے پته نشته .

امام شوکانی په ارشاد الفحول ص : ٦٤، کښے هم همدا قول نقل کړیدے .

دیوې شبهې ازاله :

دوئ وائی چه دجناب عمرؓ دفیصلې خلاف چونکه هیڅ صحابی خوله نه ده پرانستې اواختلاف ئې نه دې کړې لهذا ددوئ اجماع ثابته شوه. ظاهره خبره ده که داسې اجماع وی هم نو دېته به سکوتی وئیلې کیږی. ددې اجماع اهمیت په خپله دا حنافو نه واوره :

ویسمی هذا اجماعاً سکوتیاً وهو مقبول عندنا، وفیه خلاف الشافعي.

(نور الانوار ص : ۲۱۷).

(یعنې : داسې اجماع ته - چه یو صحابي یو کار اوکړی او نور وریاندې رد اونه کړي بلکه ساکت پاتې شي - سکوتی وئیلې کیږی. زمونږ په نزد مقبول ده لیکن دامام شافعی په نزد مقبول نه ده). ---- او علم اصول الفقه لعبد الوهاب خلاف ص : (۵۱) کښې دي :

پاتې شوه دویم قسم یعنی اجماع سکوتی نوداسې اجماع اعتباري ده ... دجمهورو علماؤ په نزد داسې اجماع دلیل نه دې، ځکه دا خبره خارج از امکان نشی ګڼړلې چه دا صرف دیو څو مجتهدینو رائې وی.

که په دې باندې اجماع وې نو بیا عمر فاروقؓ ولې پښیمانتیا ښکاره کوی ؟

ابوبکر اسماعیلی په کتاب مسند عمر رضي الله عنه کښې حدیث راوړی :

قال عمر بن الخطاب - رضي الله عنه - : ماندمت علی شئ ندامتی علی ثلاث : ان لا اکون حرمت الطلاق، وعلی ان لا اکون انکحت الموالي، وعلی ان لا اکون قتلت النوائح.

(اغاثه اللهفان لابن القیم : ۳۵۱/۱) . وسنده حسن خصوصاً علي اصول الحنفیه.

ترجمه : عمر فاروق - رضي الله تعالی عنه - فرمائی : زه په هیڅ شی باندې دومره زیات نه یم پښیمانه شومره چه په دې درې کارونو باندې پښیمانه شوې یم :

(۱) چه ما طلاق نه وې حرام کړی (۲) دوینزو نکاح مې نه وې کړې (۳) او نوحه ګرې (ویر کونکې ښځې) مې نه وې قتل کړې.

اجماع داده چه درې طلاقه په یو باندې شمارشوی دی

سال ابو الجوزاء ابن عباس : هل علمت ان الثلاث کانت علی عهد رسول الله ﷺ وابي بکر وعمر ترد الی واحده؟ قال : نعم ! (الدارقطني : ۵۵/٤)

وكذا في ابي داود بروايه ابي الصهباء، رقم : ۱۹۲٦، بسند صحيح :
قال لابن عباس : اتعلم انها كانت الثلاث تجعل واحده على عهد النبي ﷺ وابي بكر وثلاثا من اماره عمر ؟ فقال ابن عباس : نعم !
تفصیل دپاره اوګوره : اغاثه اللهفان لابن القیم : ۲۸۹/۱ .
کوم خلق چه وائی چه دطلاق ثلاثه په وقوع باندے اجماع ده نو دهغوئ خبره خطاء ده، مخکښے دعلماؤ اقوال تاسو اوکتل، دلته هم مختصر دهغه علماؤ دکتابونو حوالے ذکرکولے شی چه هغوی هم په دے اقرار کړے چه په یوځل درے طلاقو درے شمارلو باندے اجماع نشته دے بلکه داېو اختلافي مسئله ده :
تفسير منير : ۳٤/۲، فقه اسلامي : ٤٠٦/٧، بدايه المجتهد :٦١/٢، ارشاد الساري للتلمساني المالكي :١٢٧/٨، تفسير القرطبي :١٢٩/٣، التفسير الكبير : ٢٤٨/٢، مجموعه الفتاوی لابن تيميه :٨٦/٣٣، اعلام الموقعين :٤٤/٣، تفسير بحر المحيط : ١٩٢/١، فتح الباري : ٢٩٧/٩، عمده القاري : ٢٣٣/٢٠، شرح صحيح مسلم : ٤٧٧/١، المجموع شرح المهذب : ٨٤/١٧، الطحاوي : ٣٥/٢، عمده الرعايه :٧١/٢، تفسير فتح القدير :٢٣٨/١، نيل الاوطار :١٦/٧، المنار في المختار : ٥٣١/١، المفصل في احكم المرأه : ٨٨/٨، تفسير المنار : ٣٨٤/٢، انحلال الزواج في الفقه والقانون : ٣٩٥/١، الهدايه في تخريج البدايه :٩/٨، للغماري،الاستيناس لتصحيح انكحه الناس ص : ٣٨، للقاسمي، فتاوی اسلاميه : ٢٧١/٣، الروضه النديه :٥٣/٢، ارواء الغليل : ١٢٢/٧، فتاوی نذيريه : ٣٥/٢، الحلال والحرام ص : ٢٠٩، للقرضاوي، سبل السلام :٣٥٦/٣، فقه السنه : ٢٣٦/٢، دين الحق بجواب جاء الحق :٤٤٦/٢، تفسير ضياء القرآن، آپ کے مسائل،اوضح التفاسير تحت آيه الطلاق مرتان، التحقيقات في رد الهفوات، كفايه المفتي : ٣٦١/٦، علماء الازهر، انظر انحلال الزواج في الفقه والقانون للشيخ عبد الله عزام، الاشراف على مذاهب اهل العلم : ١٤٤/١، فتاوی الدين الخالص كتاب الطلاق، تفسير الواضح : ٦٧/١، تفسير التحرير والتنوير :٤١٩/٢، المنتقي في بيان المصفى شرح موسوعه فتاوی النبي ﷺ ودلائلها الصحيحه من السنه الشريفه لابن عليوی : ٢٤٦/١).

په غصه کښے د ورکړو طلاقو حکم

سوال : یو سړي خپلې ښځې ته دغصې په حالت کښې طلاق ورکړې آیا ددې سړي طلاق واقع شو که نه ؟ دقرآن او سنت په رڼا کښې جواب راکړئ !

جواب : لا حول ولا قوه الا بالله.

دغضبان (غصه شخص) په طلاق کښې درې صورته دي :

۱ – یو کس خپلې ښځې ته طلاق ورکړي په دومره ډېره غصه کښې چه بالکل دډېرې غصې دوجې نه په خبره نه پوهېدو، نوددې کس طلاق په اتفاق دمسلمانانو نه واقع کېږي.

۲ – یوکس خپلې ښځې له په داسې غصه کښې طلاق ورکړي چه عقل ئې ختم نه وي بلکه عقل ئې په خپل ځائې وي اوخبرې ئې په خپل اختیار کښې وي. نوددې کس طلاق په اتفاق دعلماؤ واقع کېږي.

۳ – یوکس ډېر غصه شي او عقل ئې په ځائې وي لیکن دغصې دوجې نه طلاق ورکړي اونیت ئې طلاق ورکول نه وي. چه روسته بیا خپه وي پښېمانه وي اوښځه ورته ګرانه وي دهغې سره ښه مینه وي. خو هغې ته ئې دطلاق لفظ دغصې دوجې نه وئیلې وې، نو دې کښې دعلماؤ اختلاف دې.

راجح قول دادې چه په دې صورت کښې هم طلاق نه واقع کېږي، او په دې خبره دابن عباس – رضي الله عنه – داحدیث دلیل دې چه هغه فرمائی : الطلاق عن وطر.

یعنې : طلاق هله واقع کېږي چه یوشخص دخپلې ښځې نه بې حاجته شي دخپلې ښځې نه ئې زړه موړ شي. ------- اوظاهره خبره ده چه په داسې غصه کښې دا کس دخپلې ښځې نه بې حاجته نه وي بلکه هسې دغصې په وجه ئې طلاق ورکړي وي.

دغه شان بل حدیث کښې دي : لا طلاق ولا عتاق في اغلاق.

(رواه ابوداود وابن ماجه واحمد والحاکم).

یعنې : طلاق او وینزه غلام آزادیدل داغلاق په وخت کښې نه صحیح کېږي.

د (اغلاق) معنې ډېرو علماؤ – چه یو دهغوی نه امام احمدؒ هم دې – په اکراه اوغضب شدید – سختې غصې – سره کړېده.

دا خبره شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ،ابن القیمؒ، قاسميؒ او نورو علماؤ هم غوره کړېده.

اوګوره : الاستیناس لتصحیح انکحه الناس ص : ٤٥، لعلامه الشام جمال الدین القاسمي المتوفي : ۱۳۳۲ هـ. طلاق الغضبان لابن القیم ص : ١٦، فتاوی اسلامیه لابن باز : ٢٧٤/٣، فتاوی

اسلامیه لابن عثیمین : ۲۸۲/۳). عام : ۱٤۲٤ هـ.

که ما داکار اوکړو په مادے ښځه طلاقوي – ددے څه حکم دے ؟

سوال : که یوکس اووائی ~~چه که ما داکار اوکړو نو په ما دے ښځه~~ طلاقه وي، مثلاً که ما دزید سره خبرے اوکړے نو په ما دے ښځه طلاقه ی، یا که زه دفلانی کور ته لاړم نو په ما دے ښځه طلاقه وي، لیکن دڅه زمانے نه روسته دا کار اوکړی نو آیا په دے کس ښځه طلاقه شوه که نه ؟

جواب : الحمد لله والصلاه والسلام علی رسول الله.

کوم سړے چه اووائی : که ما دا فلانے کار اوکړو نو په ما دے ښځه طلاقه وي، په دے کښے یوڅو **صورتونه** دی :

۱ – **اول** دا چه : دالفظ ده دقسم په طریقه استعمال کړے وي، ددے نښه به داوي چه دیو شی نه به ئے ځان منع کول غرض وي، یا به ئے په یو شی باندے تېزي ورکول غرض وي، دښځے طلاقول به ئے غرض نه وي. نو په دے صورت کښے که هغه کارئے اوکړو – دکوم نه ئے چه قسم کړے وي – نو دقسم کفاره به ورکړی.

لکه ددے **اول دلیل** دادے چه عبد الله بن عباس – رضي الله عنه – فرمائی :

الطلاق عن وطر – البخاري : ۷۹٤/۲.

یعنے : طلاق دحاجت نه وي. یعنے طلاق هله واقع کیږی چه سړے دخپلے ښځے نه موړ شی اوحاجت ترے پوره کړی.

دویم دلیل : حدیث د : (انما الاعمال بالنیات) دے کله چه دسړی نیت دقسم وی نوطلاق واقع شو.

دریم دلیل : ابن عمر او حفصه – رضي الله عنهما – یو زنانه ته فتوی ورکړے وه په کفاره باندے کله چه هغے دتولو غلامانو په آزادولو او دتول مال په هدیه کولو باندے قسم کړے وو. نو طلاق اوعتاق په حکم کښے یو شے دے، بلکه طلاق محبوب نه دے او عتاق محبوب الی الله تعالی دے (مصنف عبد الرزاق : ۳۸۲/٦).

بل دعامو علماؤ قول دے چه سړے په لفظ دطلاقو ایلاء اوکړی نو دا ایلاء شوه، لکه اووائی : که زه ښځے ته څلور (٤) میاشتو پورے نزدے شوم نو په ما دے طلاق وی.

(فقه السنه : ۱۷۸/۲) . ------- دا تول ددے دلیلونه دی چه دا الفاظ دقسم دی .

دا وجه ده چه فقه اسلامي : ٤٤٧/۷،کښې فرمائی :

وفي تقديري ان قول الجمهور اصح دليلا، ولکن الشبان غالبا يستخدمون الطلاق للتهديد لا بقصد الايقاع ولهذه نميل اليه، آهـ .

یعنے : اکثر ځوانان په لفظ دطلاقو قسم خوري دویرولو دپاره، نوزما رائے داده چه دا لفظ دقسم دے .

(راجع اعلام الموقعين : ۵۸/۲، وهوقول علی وطاوس وداود وعکرمه وغیرهم) .

۲ – دویم صورت : دادے چه تعلیق بالطلاق اوکړی، نوکه قصد دده ایقاع الطلاق وی روسته دوجود دشرط نه، نوپه دے صورت کښے طلاق واقع شو، اوکه قصد ئے دطلاق واقع کولو نه وو بلکه تېزي ورکول یا دیو شی نه منع غرض وه، نو بیا دا قسم دے ----------- اوس که مقصد دده طلاق وو نویو طلاق رجعی پرے واقع شو، که پښېمانه شو نو ښځے ته دے بېرته رجوع اوکړی په درے میاشتو کښے دننه دننه . یعنے ددرے حیضونو دتېریدو نه مخکښے مخکښے . اوکه درے حیضه تېر شو یا وضع دحمل اوشوه اورجوع ئے نه وه کړے نو بیا به فقط تجدید دنکاح کوی .

اوکه لفظ دثلاثه ئے استعمال کړے وی نو بیا په هغے کښے دوه قوله دی، راجح قول دادے چه دغه درے طلاقه په یو طلاق حسابیږی، اوطلاق رجعی واقع شو چه رجوع خپلے ښځے ته کولے شی په عدت کښے دننه . اوکه عدت تېر شو نو بیا به تجدید دنکاح کوی .

حاصل : داچه په سوال کښے چه کوم صورت ذکر دے نوکه ددغه سړی نیت دطلاقو نه وی بلکه صرف ځان منع کول ئے غرض وو دخبرو کولو نه نو دقسم کفاره دے ورکړی، په راجح قول دعلماؤ کښے دا طلاق نه دے .

هذا وبالله التوفيق .

په دے مسئله هر مُلا نه پوهیږی راسخینو ته ئے ښکاره کول پکار دی .

ابو محمد امین الله البشاوری .

كتاب البيوع

يو دُكان يا كور په كرايه نيول، بل چاته په كرايه وركولو حكم

سوال : يو كس يو كور يا يو دُكان په زر روپئ په كرايه اونيسي بيا همغه كس دا كور يا دكان بل كس ته په دوه زره روپئ په كرايه وركړي، آيا داكار شرعاً جائز دے ؟

جواب : الحمد لله والصلاه والسلام علىٰ رسول الله .

كه يو شخص مكان مثلاً په زر روپئ په كرايه واخلي او بل له ئے په يو نيم زر په كرايه وركړي نودا جائز دي .

دليل په دے باندے دادے چه دا اول شخص چه دا كور په كرايه اخستے دے ديته مؤجره وئيلے شي .اوس چه دا اول كس دويم كس ته دا مكان په كرايه وركړو دا هم مؤاجره ده .

او حديث كښے راځي : ان النبي ﷺ امر بالمؤاجره .

يعنے : نبي كريم ﷺ په مؤاجره باندے حكم كړے .

ابن حزم – رحمه الله – په المحلي : ۲۳/۷، كښے داخبره ډيره ښه ليكلے فرمائي :

استاجر داراً أو عبداً أو دابه او شيئاً ثم اجره باكثر مما استاجره به او باقل او بمثله فهو حلال جائز .

ترجمه : كور يا مرئيے يا حيوان يا يو بل څيز ئے په كرايه اونيولو بيا ئے ددے نه په زيات يا ددے نه په كم يا ددے پشان په قيمت په كرايه وركړو نو دا جائز اوحلال دي .

دغه شان المجموع : ۵۹/٤، المغني : ٦/، والتفصيل في فتاوى الدين الخالص كتاب البيوع .

د كشتونو د كاروبار حكم

سوال : دكشتونو كاروبار څه حكم لري ؟ دا مسئله دقرآن او سنت په رڼا كښے تفصيلاً واضحه

کړئ.

جواب: بیع تقسیط یعنې دکشتونو بیع کښې دعلماؤ اختلاف دے. په دے کښې راجح داده چه دا قسم بیع جائز نه ده، مګر که دنقدو او کشتونو په قیمت کښې چه کوم کم قیمت وی په هغې قیمت اخستل خرڅول اوکړے شی. مثلاً خرڅونکے اخستونکی ته اووائی: چه دا کتاب یا دا قلم په لس روپئ دے که روپئ نقدے راکوے اوکه په قسطونو باندے، نو دا بیع دتقسیط جائز ده.

دویم صورت: دادے چه بائع مشتري ته اووائی: چه دا کتاب یا دا قلم په لس روپئ دے په نقدو اوقسطونو باندے په (۱۵) روپئ دے، نودا قسم بیع تقسیط جائز نه دے.

ځکه حدیث شریف کښې دی: فله اوکسهما او الربا.

(ده دپاره یاکم قیمت دے اویا دا سود دے).

اودلائل په دے دادي:

۱ – عن ابي هریره – رضي الله عنه – قال: قال رسول الله ﷺ: من باع بیعتین في بیعه فله اوکسهما او الربا.

اخرجه ابن ابي شیبه: ۱۲۰/٦، وابوداود: ٦٦٢/٢، رقم: ٣٤٦١، والحاکم: ٤٥/٢، والبیهقي: ٣٤٣/٥، وابن حِبان: ٢٢٦/٧، والترمذي، واحمد: ٤٣٢/٢.

ترجمه: څوك چه په یوه سودا کښې دوه سودا ګانې اوکړی – یعنې په یوه سودا کښې دوه قیمتونه مقرر کړی – نودده دپاره په دے دواړو کښې هغه ده کومه چه په دے دواړوکښې کمه وی یا به سود کوی.

۲ – عن ابن مسعود – رضي الله عنه – قال: الصفقتان في صفقه ربا، ان یقول الرجل: ان کان بنقد فبکذا وان کان بنسیئه فبکذا.

اخرجه ابن ابي شیبه: ۱۱۹/٦، وعبد الرزاق: ۱۳۸/۸، واحمد: ۳۹۳/۱.

ترجمه: په یوه سودا کښې دوه بیعے کول سود دے، اوهغه داچه خرڅونکے اووائی: که څوك ئې په نقدو اخلی نو په دے ده اوکه په نیته ئې اخلی نو په دے ده.

۳ – عن محمد بن سیرین انه کان یکره ان یستام الرجل بالسلعه یقول: هي بنقد بکذا وبنسیئه بکذا.

(اخرجه ابن ابي شیبه: ۱۱۹/٦، وعبد الرزاق: ۱۳۷/۸، بسند صحیح).

ترجمه: محمد بن سیرینؒ به دا خبره بده گڼله چه سړے داسے ربړ اولګوی چه دا په نقدو په دومره ده او په نیته په دومره ده.

٤ – عن عمرو بن شعیب عن جده: کان اذا بعث تجاره نهاهم عن شرطین في بیع.

(ابن ابي شیبه: ١٢١/٦).

ترجمه: عمرو بن شعیب دخپل پلار په واسطه دخپل نیکه – عبد الله بن عمرو رضي الله عنه – نه نقل کوی چه کله به ده دتجارت دپاره مال لیږلو نو خرڅونکی به ئے ددے نه منع کړل چه په سودا کښے دوه شرطه اولګوی.

٥ – عن سعید بن المسیب انه کان ینهی عن البیعتین یجرهما الصفقه.

ترجمه: سعید بن مسیبؒ به دهغه دوه سوداګانو نه منع کوله کومه چه عقد راګاړی.

(ابن ابي شیبه: ١٢٠/٦).

٦ – عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده قال: قال رسول الله ﷺ : لا یحل سلف وبیع، ولا شرطان في بیع، ولا ربح ما لم یضمن، ولا بیع ما لیس عندك.

ترجمه: عبد الله بن عمرو – رضي الله عنه – نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے: نقد او نسیه حلال نه دی، اونه په یوه سودا کښے دوه شرطه، اونه دهغه شی ګټه جائز ده دکوم چه انسان ذمه وار نه وی، اونه دهغه شی خرڅول جائز دي کوم چه تاسره نه وی.

اخرجه ابوداود رقم: ٣٥٠٤، والحاکم: ١٧/٢، واحمد: ١٧٤/٢، وابن ماجه: ١٣/٢، والترمذي: ٢٣٣/١، وغیرهم کما في الارواء: ١٤٦/٥.

ابن قتیبه په غریب الحدیث: ١٨/١، کښے ددے تفسیر داسے کړے:

ومن البیوع المنهي عنها: شرطان في بیع وهو ان یشتري الرجل السلعه الی شهرین دینارین والی ثلاثه اشهر بثلاثه دنانیر، وهو بمعنی (بیعتین في بیعه).

ترجمه: دمنع شوو سوداګانو نه یوه سودا په یوه سودا کښے دوه شرطونه لګول دی. اوهغه دا چه یو سړے یو سودا ددوه میاشتو په نیته په دوه دیناره واخلی او ددرے میاشتو په نیته ئے په درے دیناره واخلی، دا د (بیعتین في بیعه – یعنے په یوه سودا کښے ددوه سوداګانو) په معنی کښے ده.

دابن قتیبهؒ په شان تفسیر امام صنعانیؒ په سبل السلام: ١٧/٣، کښے هم کړیدے.

٧ – عن طاؤس قال: اذا قال: هو بکذا وکذا الی کذا وکذا، وبکذا الی کذا وکذا، فوقع المبیع علی

هذا، فهو باقل الثمنين الى ابعد الاجلين. (رواه عبد الرزاق: ۱۳۷/۸، رقم: ۱٤٦٣١).

اودا سند صحيح دے. اوکوم روايت کښے چه دده نه جواز نقل دے هغه روايت ضعيف دے.

۸ - وعن سفيان الثوري اذا قلت: ابيعك بالنقد الى كذا، وبالنسيئه بكذا وكذا، فذهب به المشتري فهو بالخيار في البيعتين، مالم يكن وقع بيع على احدهما، فان وقع البيع هكذا فهو مكروه. وهو بيعان في بيعه، وهو مردود، وهو الذي ينهي عنه، فان وجدته متاعك بعينه اخذته، وان كان قد استهلك فلك اوكس الثمنين وابعد الاجلين.

(اخرجه عبد الرزاق: ۱۳۸/۸، رقم: ۱٤٦٣٢).

۹ - دامام اوزاعي نه هم دارنگه نقل دی. (معالم السنن: ۹۹/۵).

دارنگه دا قسم بيع ددے وجے نه هم جائز نه ده چه داسلام داصولو اود شريعت دروح نه خلاف ده، هغه داچه دمسلمان سره آسانی اونرمی کول پکار دی، لکه حديث کښے دی: رحم الله عبداً سمحاً اذا باع، سمحاً اذا اشتری، سمحاً اذا اقتضي. (بخاري: ۲۷۸/۱).

ترجمه: الله تعالی دے په هغه کس رحم اوکړی چه کله څه خرڅوی نو نرمه کوئ، کله چه څه اخلی نرمی کوی، کله چه دچانه دڅه مطالبه کوی نو نرمی کوی.

وقال ايضاً: من كان هيناً ليناً قريباً حرمه على النار.

(احمد: ٤٥/۱، الصحيحه: ٦٤٨/۲).

نو د قرض اخستلو په وخت کښے يا بيع شراء په وخت کښے د مسلمان سره نرمی او آسانی اواحسان پکار دے. نه داچه په هغه سختی اوکړے شی اودهغه نه ډيرے روپۍ واخستے شی اوپه گران قيمت ورکړے شی.

شيخ گوهر رحمٰن صاحبؒ هم دېته مکروه خلاف مروت، خلاف احسان وئيلے ده. (تفهيم المسائل: ۹۲/۲).

دغه شان دے بيعے ته استاذ مودودي صاحبؒ هم حرام او صريحاً سود وئيلے دے.

(رسائل مسائل: ۳۲۱/۱). اوگوره: بيع التقسيط للحافظ عبد المنان نور پوري صاحب.

والتفصيل في الصحيحه: ۷۲/٤، ٤۱۹/۵، رقم: ۲۳۲٦. وهيئه كبار العلماء: ۵٤۷/۲. للامام الالباني رحمه الله.

دے باره کښے ابو الحسن مبشر احمد رباني حفظه الله په (آپ کے مسائل اور ان کا حل) کښے ډير

ښه بحث کړي چه دفائدے دپاره ئے زه دلته رانقل کوم. دے فرمائي :

وضاحت : نن صبا خلق د آسانو قسطونو په جال کښے راشي. اومختلف څیزونه مثلاً پنکھے، جامو وینځلو مشین، فرِج وغیره دآسانو قسطونو په نوم سره قرض اخلي. او ددے څیزونو نقد او قرض قیمتونو کښے کافي فرق وي، مثلاً یو څیز په نقدو په لس زره روپۍ ملاویږي. لیکن قرض دآسان قسطونو په صورت کښے په دیارلس زره ملاویږي. اوس دا درے زره روپۍ چه کومے ددے قرض سره زیاتي ورکړے شوے ددے حیثیت به څه وي؟ ظاهره ده چه دا ښکاره سود دے.

دا **معامله** داسے اوپیژنه چه یو شخص دیوے کمپنۍ یا دکان نه لس زره روپۍ په دے شرط قرض اخلي چه دا به دا قرض دلسو زرو په ځائے دیارلس زره روپۍ په آسان قسطونو کښے ادا کوي. ظاهره خبره ده چه دا سود دے. دغه شان بل کس لس زره روپۍ قرض اخستلو په ځائے دلسو زرو روپو یو څیز په دے صورت کښے اخلي چه چه دے به ددے څیز دیارلس زره روپۍ په آسانو قسطونو کښے دقرض په طورادا کوي. ښکاره خبره ده چه ددے شخص په ذمه خو صرف لس زره روپۍ واجب الاداء وے لیکن دقرض اخستلو په وجه دده په اصل رقم کښے مزید ددرے زره روپو اضافه اوکړے شوه. لهذا دا هم سود دے. او ظاهره خبره داده چه دا سودي معاملات دقرض سره متعلق دي.

دجناب اسامه بن زید – رضي الله عنهما – نه روایت دے چه نبي کریم ﷺ ارشاد فرمائیلے : الربا في النسیئه وفي روایه : لا ربوا فیما کان یدا بید.

(صحیح البخاري وصحیح مسلم، مشکوه کتاب البیوع، باب الربوا).

ترجمه : سود په قرض (معاملاتو) کښے وي. او په یو روایت کښے دي : چه کوم څیزونو لاس په لاس (نقد) خرڅیږي په هغے کښے سود نه وي.

دیو څیز دوه قیمته مقررول :

جناب ابو هریره – رضي الله عنه – بیان کوي :

نهی رسول الله ﷺ عن بیعتین في بیعه.

(رسول الله ﷺ دیو څیز دوه قیمتونو – مقررولو – نه منع فرمائیلے ده).

(مسند احمد : ۴۳۲/۲، سنن الترمذي، کتاب البیوع، باب ماجاء في النهي عن بیعتین في بیعه، سنن النسائي، الاحسان بترتیب صحیح ابن حبان : ۲۲۵/۸، ۴۹۵۲، ابن الجارود : ۶۰۰، السنن

الکبری للبیهقي : ۳۴۳/۵، ومالك والشافعي في بلاغاته، وقال الترمذي : حدیث حسن صحیح).

ددے حدیث تمام راویان دصحیحینو راویان دی او ثقه دی،ا لبته ددے حدیث یو راوی محمد بن عمرو بن علقمه رحمه الله باندے دده دحافظے په وجه لګ شان کلام شوېدے. لکه حافظ ابن حجر عسقلانيؒ په خپل کتاب (تقریب التهذیب) کښے فرمائي :

صدوق له اوهام. امام بخاريؒ دده حدیث مقرونا اَو امام مسلم متابعتاً روایت کړېدے. اوعلامه ذهبيؒ ده ته حسن الحدیث وئیلے دے. (میزان :۶۷۳/۳).

ددے تفصیل نه معلومه شوه چه ددے حدیث سند حسن دے اودا حدیث صحیح دے.

(اوګوره : ارواء الغلیل : ۱۵۰/۵، مشکوه بتحقیق الشیخ الباني رحمه الله).

په یو بل حدیث کښے جناب ابو هریرهؓ روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

من باع بیعتین في بیعه فله اوکسهما او الربا

(کوم کس چه دیو څیز دوه قیمتونه مقرروی نو یا به هغه کم قیمت اخلی یا به بیا دا سود وی).

[مصنف ابن ابي شیبه، کتاب البیوع باب الرجل یشتري من الرجل المبیع فیقول الخ، اودده نه ابوداود دغه شان ابن حبان : ۲۲۶/۸، ۴۹۵۳، مستدرك حاکم :۴۵/۲، اودده نه امام بیهقي : ۳۴۳/۵، او امام حاکم وئیلی دی :صحیح علی شرط مسلم ووافقه الذهبي].

داحدیث هم دمحمد بن عمروؒ په سند سره دے چه دده په باره کښے تفصیل تیر شو.

جناب عبد الله بن مسعود – رضي الله عنه – ارشاد فرمائیلے :

لا تحل صفقتان في صفقه وان رسول الله ﷺ لعن آکل الربا وموکله وشاهدیه وکاتبه.

(په یو عقد کښے دوه معاملے کول حلال نه دی اورسول الله ﷺ په سود خوړونکی، خوروونکی، ددے په ګواهانو او ددے په لیکونکو باندے لعنت وئیلے دے).

[الاحسان ترتیب صحیح ابن حبان : ۲۴۲/۸]، او په مسند احمد کښے دی چه امام شعبه دا حدیث بیانولو نه پس اوفرمائیل : زما خیال دے چه ابن مسعودؓ دا حدیث مرفوع بیان کړېدے – مسند احمد : ۳۹۳/۱ .

په مسند احمد کښے ددے حدیث په شروع کښے داسے الفاظ دي : لا تصلح سفقتان في سفقه. یعنی په یو عقد کښے دوه معاملے کول جائز نه دی. او علامه هیثمی دا حدیث دبزار او طبراني په حواله سره مرفوع بیان کړېدے (مجمع الزوائد : ۴۸/۴) ددے حدیث سند صحیح دے. علامه هیثمی

فرمائي : ورجال احمد ثقات .

دارنګه اوګوره : ارواء الغليل :١٤٩/٥ .

په يو بل حديث کښې جناب عبد الله بن مسعود – رضي الله عنه – فرمائي :

صفقتان في صفقه ربا، ان يقول الرجل : ان كان بنقد فبكذا، وان كان بنسيئه فبكذا .

[مصنف ابن ابي شيبه : ١١٩/٦] .

يعنې : په يو عقد کښې دوه معاملې کول سود دے، (او په يو عقد کښې ددوه معاملو مطلب دادے) چه يو شخص اووائي چه که په نقدوئے اخلې نو په دومره روپو ده او که په قرضوئے اخلې نو په دومره روپو ده .

ددے حديث سند صحيح دے .

دجناب عبد الله بن مسعود – رضي الله عنه – دوضاحت نه معلومه شوه چه ديو شي نقد قيمت يو مقررول او قرض قيمت بل مقررول سود دے . او محدثينو او فقهاء کرامو هم ددے احاديثو همدا وضاحت فرمائيلے دے لکه امام ترمذيؒ فرمائي :

حديث ابي هريره حديث صحيح، والعمل على هذا عند اهل العلم، وقد فسر بعض اهل العلم قالوا : بيعتين في بيعه ان يقول : ابيعك هذا الثوب بنقد بعشره وبنسيئه بعشرين .

ترجمه : دجناب ابو هريرهؓ حديث صحيح دے اود علماؤ په دے حديث عمل دے . اوددے حديث په تفسير کښې بعضے اهل علمو وئيلي دي چه په يو څيز کښې ددوه قيمتونو معنى داده چه داسے اووائي : زه په تا باندے دا کپړه په نقدو په لس او په قرضو په شلو در خرڅوم . [سنن الترمذي كتاب البيوع] .

امام شافعي – رحمه الله – فرمائي :

ان يقول : بعتك بالفين نسيئه وبالف نقداً فايهما شئت اخذت به . وهذا بيع فاسد – وعله النهي عدم استقرار الثمن ولزوم الربا عند من يمنع بيع الشئ باكثر من سعر يومه لاجل النسيئه -----

(څوک چه اووائي چه زه دا شے په تا باندے په نقدو په دوه زره اوپه قرضو په زر باندے درخرڅوم، کوم يو چه دے خوښ وي په هغےئے واخله، دا بيع فاسده ده . اوددے نه په دے وجه منع کړے شويده چه ددغه شي قيمت مقرر نشو او بيا په دے کښې سود دے او کوم شخص چه دا تجارت منع کوي نو دا په دے وجه چه ددے شئ قيمت څکه زيات وصول کيږي چه دا په قرضو ورکړے شويدے) .

امام سفیان ثوری – رحمه الله – فرمائي :

اذا قلت : ابيعك بالنقد الی كذا، وبالنسيئه بكذا اوكذا، وهو بيعتان في بيعه وهو مردود وهو الذي ينهي عنه. [مصنف عبد الرزاق :١٤٦٣٢، بحواله شرح السنه للبغوي : ١٤٣/٨].

(کله چه ته اووائې : چه زه دا شے پتا باندے په نقدو په دومره او په قرضو په دومره خرڅوم نو همدا په یو سودا کښے دوه قیمتونه مقررول دی اودا مردود عمل دے اوهمدا هغه تجارت دے چه ددے نه منع راغلې ده).

امام بغوي – رحمه الله – فرمائي :

وفسروا البيعتين في بيعه علی وجهين : احدهما ان يقول : بعتك هذا الثوب بعشره نقدا، وبعشرين نسيئه الی شهر، فهو فاسد عند اكثر اهل العلم، لانه لايدری ايهما الثمن وجهاله الثمن تمنع صحه العقد . [شرح السنه : ١٤٣/٨].

ترجمه : دالبیعتین في بیعه تفسیر په دوه طریقو سره شویدے : یو داچه څوك اووائی : زه پتا باندے دا جامه په نقدو په لس او میاشتے پورے په نیته په شلو خرڅوم، نودا بیع داکثر اهل علمو په نیز فاسده ده، ځکه چه دا (اخستونکے) نه پو هیږی چه ددے شئ اصل قیمت څه دے، حال داچه دقیمت نامعلوم والے دعقد صحت لره منع کوی.

امام سماك بن حرب رحمه الله فرمائی :

الرجل يبيع البيع فيقول : هو بنسيئه بكذا وكذا، وهو بنقد بكذا وكذا. [مسند احمد : ٣٩٨/١].

(چه یو شخص دیو شی خرڅولو په وخت اووائی : دا شے په قرضو په دومره دومره دے او په نقدو په دومره دومروه).

دغه شان امام ابن حزم اندلسي – رحمه الله – په المحلی : ٦٢٧/٩، کښ، اوقاضي شوکاني (تحفه الاحوذي :٢٣٦/٢) هم د (بیعتین في بیعه) دا تعریف بیان کړیدے.

ددے تفصیل خلاصه داده چه دیو شی نقد قیمت یو وی او هغه په قرضو په بل قیمت باندے ورکړے شی نو دا سود دے چه ددے نه بچ کیدل په ایمان والو باندے لازم دی.

(از دکتور ابو جابر عبد الله دامانوی کراچی).

(آپ کے مسائل اور ان کا حل قرآن وسنت کی روشنی میں : ٤٥٠/٢).

د مضاربت په مال کښے تاوان په چا وی ؟

سوال : که دمضاربت په مال کښې تاوان اوشی نو تاوان به په چا راځی ؟

جواب : لا حول ولا قوه الا بالله.

مضاربت درب المال او مضارِب ترمینځ تجارتی معامله وی چه درب المال دمال سره سره دمضارب محنت اومشقت هم شامل وی.

دنقصان په صورت کښې درب المال اومضارب دواړو نقصان کیږی، ځکه که درب المال مالی تاوان اوشی نودے سره دمضارب تکلیف او محنت هم ضائع شی. کله چه دمضاربت په مال کښې نقصان راشی نو اول به دګټلی مال نه هغه تاوان پوره کیږی. که چرے ګټه نه وی یا ګټه لږه وه یا ګټه تقسیم شوے وی نو بیا په دے صورت کښې خساره اوتاوان صرف په رب المال – دمال په خاوند – راځی. ځکه که تاوان هم په مضارب راشی نو دمضارب ډیر نقصان کیږی وخت او محنت هم ضائع شی او ګټه هم لاړه اومالی تاوان هم وربانده راغے.

بله داچه دمضاربت رأس المال دامانت په شان حکم لری او په امین باندے تاوان نه وی. البته که چرے مضارب ددرب المال دشرطونو خلاف اوکړی او په رأس المال کښې خساره او تاوان راشی نو په دے صورت کښې به تاوان صرف په مضارب راځی.

مثلا رَب المال مضارب ته اووائي : چه صرف په پیښور کښې تجارت کوه او مضارب کراچۍ کښې تجارت اوکړی او په تجارت کښې تاوانی شی نو په دے صورت کښې به تاوان مضارب ورکوی. یاداشرط وربانده اولګوی چه مثلاً صرف په شهدو (عسلو) کښې به تجارت کوے، اومضارب په کپړه، کتابونو، یا بل څه کښې تجارت اوکړی اوپه هغے کښې خساره اونقصان اوکړی نو په دے صورت کښې هم نقصان په مضارب راځی.

لکه حدیث دی :

عن حکیم بن حزام – رضي الله عنه – انه کان یشترط علی الرجل اذااعطاه مالاً مقارضه یضرب له به ان لا تجعل مالي في کبد رطبه ولا تحمله في بحر ولا تنزل به في بطن میل، فان فعلت شیئاً من ذلك فقد ضمنت مالي.

[رواه الدارقطني کتاب البیوع : ۳۰۱٤، البیهقي : ۱۱۱/٦، وسنده صحیح].

ترجمه : حکیم بن حزام – رضي الله عنه – به کله چه خپل مال په مضاربت باندے چاله ورکولو نو داشرط به ئے وربانده لګولو چه زما په مال به دحیواناتو سودا نه کوے، اونه به بحري سفر کوے،

اونه به ئې داوبو په ځائې وړے. که په دے کارونو کښے دے ہو کار هم اوکړو نو زما دمال ضامن به ته ئې.

لیکن کله چه درب المال دشرطونو مطابق تجارت کیږي یا رب المال په مضارب څه شرطونه نه وی لګولی اوتجارت تاوان اوکړی نو مضارب به ضامن نه وی، اګرکه دده درب المال سره دتاوان شرط ددے نه مخکښے منلے هم وی.

دتفصیل دپاره اوګوره : الفقه الاسلامي : ٨٥١/٤، احکام تجارت اور لین دین کے مسائل ص : ١٦٦٠، للشیخ عبد الرحمن الکیلاني، فتاوی الدین الخالص کتاب البیوع، رد المحتار : ٦٤٨/٥، شرح مجله الاحکام ص : ٧٥٧، ماده : ١٤٢٨.

په شینل کمپني کښے داخله کول جائز نه دی

استفتاء : محترم الشیخ امین الله البشاوری : مدیر جامعه تعلیم القرآن والسنه مسجد حمزه ګنج پیښور ! السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته !

مسئله داده : چه چین والو یوه کمپني شروع کړیده د شینل په نوم باندے. په دے کمپنئ کښے ئے یو مشین جوړ کړیدے چه دهغے نوم ئے (هیلتهہ مشین) ایښے دے او ددے کمپنئ والو وینا ده چه په دے مشین کښے د (٧٠) بیمارئیانو علاج دے. اوددے مشین قیمت ئے (٩) زره مقرر کړیدے کوم کس چه دا مشین واخلی نو ددے کمپنئ ممبر جوړیږی. اوس که دامبر خپل کارو بار په دے کمپنئ کښے غواړی نو دے به دوه کسان خپل ځان پسے اولګوی. ددے دوه کسانو په سر باندے کمپنئ والا ده ته (٢٠٨٠) دوه زره اتیا روپئ کمیشن ورکوی. یعنے دیو کس په سر (١٠٤٠) روپئ ورکوی. دغه شان مثلاً زید په کمپنئ کښے اولګیدو نو زید خپل ځان پسے دوه کسان (١) عمرو او (٢) بکر اولګولو. اوس کمپنئ والو زید له دعمرو او بکر په سر باندے (٢٠٨٠) روپئ کمیشن ورکړو. اوس عمرو او بکر هم دوه دوه کسان ځان پسے اولګول. اوس عمرو او بکر ته هم ددے دوه دوه کسانو په سر (٢٠٨٠) روپئ کمیشن ملاویږی. او زید ته هم ددے دوه کسانو په سر (٢٤٠) (٢٤٠) روپئ ملاویږی. کله چه دا کسان شپږو ته اورسي نو زید به یو کس بل اولګوی چه دهغه په سر باندے زید ته (٨٠٠) روپئ کمیش ملاویږی. په دے ترتیب باندے چه کله دیرش کسان پوره شی نو زید ته یو موټر سائیکل او شل (٢٠) زره روپئ ملاویږی. او دغه شان دا سلسله لا متناهي جوړیږی. اود هر انسان په سر باندے به کمیشن حاصلوی. نو آیا دا کمیشن اخستل جائز دی اوکه نه ؟ دقرآن او سنت په رڼا کښے ددے

وضاحت اوکړئ. جزاکم الله خیرا !
والسلام : ابوعبد الرحمن وابو عبید الله.
جواب : الحمد لله والصلاه والسلام علی رسوله محمد وآله وصحبه اجمعین اما بعد.
په تجارتونو کښې دحلال او حرامو تمیز کول ډیر ضروری دی، ځکه دحرام خور سړی عبادت نه قبلیږی، دعاء ئے نه قبلیږی.
۱ – رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی :
ومطعمه حرام ومشربه حرام، وغذی بالحرام، فانی یستجاب لذلك.
(مسلم، مشکات : ۲٤۱/۱).
یعنې : دچاخوراك څښاك چه حرام وی اوغذاء ورته په حرامو باندې ورکړے شوے وی نو دده دعا به څنګه قبوله شی.
۲ – رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلے دے :
یأتي علی الناس زمان لا یبالي المرء ما اخذ منه، أ مِن الحلال ام من الحرام. (رواه البخاري)
یعنې : په خلقو به داسې زمانه راشی چه یوسړے به پرواه نه کوی چه حلال ئے وګټل اوکه حرام ----- دحرام خورئ ډیر نقصانات او ضررونه دی، چه په قرآن اوحدیث کښې ذکر دی، دحدیثو کتابونو ته رجوع کول پکار دی.

۳ – بیا څیزونه په درے قسمه دی :

(۱) ښکاره حرام (۲) ښکاره حلال (۳) مشتبه څیزونه.
داول قسم نه ځان ساتل فرض. ددویم قسم استعمال جائز دے. اوددریم قسم نه ځان ساتل تقوی ده او مهم دی ----- رسول الله ﷺ فرمائی :
فمن اتقی الشبهات استبرأ لدینه وعرضه (بخاري).
یعنې : چاچه دمشتبه څیزونونه ځان وساتلو، دین او عزت به ئے محفوظ شی.
دغه شان حدیث شریف کښې دی :
دع ما یریبك الی ما لا یریبك – (احمد، ترمذی، مشکوه : ۲٤۲/۱).
یعنې : شکي څیزونه (خوراك، څښاك، تجارت وغیره) پریده او یقیني څیزونه واخله.
دا ډیره فائده منه قاعده ده .

الغرض : زمونږ په دے دور کښې ددنیا محبت انتهائی عروج ته رسېدلے دے، قسما قسم بېوع ، تجارتونه او کمپنیانے پیدا شوی دی چه دهغے په حِل اوحرمت کښې دبعضے اهل علمو اختلاف پیدا شو، باخو بعضے مفتیان صاحبان دمستفتیانو او سائلانو ددهوکے او اختصار په وجه خطا شو - او یا په فتوی کښې دجلتئ او یا فکرئ په وجه - اوبعضے دقواعدو دشریعت نه دپے علمئ په وجه !

په دغه کمپنیانو کښې (۱) گولډن انتر نیشنل کمپنۍ (۲) ورلډ ټریډنګ نېټ کمپنی (۳) شېنل کمپنۍ (۵) شگوفه طلائی (٦) پرائم بېنك کمپنۍ (۷) العماد انترنیشنل سوتز کمپنی شامل دی ----- مونږ دشگوفه طلا ئي اود پرائم بېنك باره کښې فتوی لیکلے ده.

اوس دلته دشېنل کمپنۍ باره کښې مفصله فتوی لیکلے کېږی ان شاء الله تعالی. لیکن علمی قواعد په کښې ذکر دی، انتهائی سوچ اوفکر ته ضرورت لری، هله به پرے پوهه شے. صرف تکرار باندے نه پوهېږے.

دشېنل کمپنی شرعی نقصانات

شېنل کمپنی کارو بار کښې (۲ ۲) شرعي نقصانات دی

۱ - **اول نقصان :** داسودی کارو بار دے خو جامه دتجارت وراغوستول شوے ده. ځکه دے کښې پیسے په پیسو خرڅول دی او لږے ورکول او ډیرے اخستل دی، اوسود هم بعینه هم دا شے وی.

ددے وضاحت دادے چه : دشریعت مطهره مسلمه قاعده او ضابطه ده چه :

العبره للمقاصد والنیات، دون الا لفاظ وظاهر العبارات (کما فی کتب الاصول، اعلام الموقعین : ۹۵/۲، تفصیلا).

یعنے : اعتبار مقصد اونیت لره دے، ظاهری زبانی جمع خرچ لره نه دے.

اوس په شېنل کمپنی کښې مقصود مشین خرڅول ، اخستل نه دی بلکه ممبر جوړېدل دی، اونهه ، لس زره روپو باندے ډیرے پیسے اخستل دی.

دیو څو وجوهاتو نه :

(۱) دامشین عام بازار کښې ولے نه خرڅېږی ! که تجارت مقصود وی بیا خو مارکیټ کښې کېخودل پکار وو لکه دعام تجاراتو دا قانون وی، دامشین په یوے خاصے طریقے سره صرف دممبر په لاس خرڅول کېږی !

۲ – دمشین قیمت کم وزیات (۱۸) سوه روپۍ دے او خرخولے کیږی په لس زره روپو باندے، او اخستونکے ئے هم پیژنی چه دومره قیمت نه لری، خو روسته دکمیشن په لالچ ئے اخلی. اودا یقینی خبره ده. ددے اخستونکی له ته قسم ورکړه، هم دغه نیت ئے دے.

۳ – که دکمیشن لالچ نه وے نو هیڅ عاقل انسان دغه مشین په لس زره روپو نه اخلی، ځکه څه خاصه فائده په کښے نشته.

که چرے دا فائده مند شے وے نو ډاکټرانو سره به پروت وے، په بازارونو کښے به په اوچت قیمت خرڅیدلے. که یوه لویه بیماری پرے ښه کیدلے نو خلق په صحت باندے لکونه روپۍ خرچ کوی، دا مشین به ئے هم اخستلے، نو دومره تکلیف دممبر سازۍ ته هیڅ حاجت نه راتلو.

٤ – مشین اخستونکی اکثر بیماران نۀ دی اونه ډاکټران دی چه دا مشین واخلی چه ځان یا بل ته ترینه فائده ورکړی، داکار خو دډیر مال دګټلو په لالچ اکثر طالبانو او سادګانو مُلیانو صاحبانو شروع کړیدے.

۵ – مشتری ارزان شے چه قیمت ئے (۱۸) سوه روپۍ دے په ګران قیمت (۱۰۰۰۰) لس زره باندے ولی اخلی، حال داچه مشین ته ضرورت هم نه لری !! دا ددے دپاره چه په لسو سل وګټی، اوهمدغه طریقه دسود ده.

عبد الله بن عباس رضی الله تعالی عنهما فرمائی:

دراهم بدراهم دخلت بینهما حریره ---- (مجموع فتاوی ابن تیمیة: ۲۹/ ٤٤۱).

یعنے: یو سړی کهیر ګران خرڅ کړو مثلاً په (۱۰۰۰) باندے په نیته، بیا ئے واخستلو په (۵۰۰) په نغدو. نو هغه وفرمائیل چه دلته حریره مقصود نه ده، بلکه پیسے په پیسو باندے خرڅول مقصود دی، او نسیئه اوزیادت پکښے راغے نو سود شو.

دغه شان په شینل مشین کښے مقصود پیسے په پیسو اخستل دی، مشین صرف بهانه ده.

---- ددے دکارو بار دحرمت دپاره دا یو نقصان هم کافی دے.

بیا ما دمستندو ډاکټرانو (ډاکټر عبد القدوس، ډاکټر حاجی صاحب، دډاکټر مسعود الرحمن ورور وغیره) نه تحقیق اوکړو، هغوی اووئیل: دامشین صرف تکور قدرے دے، دتکور کار کوی، داتکور په ګټه او شګه هم کیږی، دومره قیمت نه لری بلکه مونږ ډاکټران دغه قسم علاج منو هم نه.

اوکه بالفرض دامشین قیمتی هم شی نو دحرمت وجهے ئے نورے هم شته لکه روسته وګوره او

سوچ پرے وکړه !

۲ - دوېم نقصان : دے کښے دجوارئ او قمار لو په شبهه ده .

ځکه اول ممبر ځان دپاره لاره جوړه کړي دلاندېنو خلقو دمال کمېشن ده ته راغے لېکن روستنې ممبران کېدے شي چه څوك ورته ملاؤ نشي دممبر جوړولو دپاره . یا دا کمپنې ختمه شي او یا وتختې لکه کراچئ کښے ددے په شان یوه کمپنې تختېدلے ده - نو دروستنو خلقو مال ضائع شو اوڅه خاص شے ورته په لاس ورنه رغلو، اوجواري هم داسے شے وي چه مال په خطر کښے وي او لاس باندے بعضے کسانو ته څه ملاو نشي .

بعضے اهل علم داسے تعبیر کوي :

چه دغه مشین اصلي قیمت پورے خرڅول جائز دي او مشتري مالك کېږي، مګر زیاتے روپئ چه ده کمپنئ ته ورکړے که دا ګاهك - خرېدار- پېدا نه کړي نو هغه ترے لاړے، اوکه ګاهك پېدا کړي نو زیاته نفع به ورته ملاو شي په دغه پېسو، اودا دجوارئ صورت دے .اوګوره : مجله الدعوه : شماره رجب ۱٤۲۳ هـ ستمبر ۲۰۰۲م .

۳ - درېم نقصان دادے :

چه داصورت په (نجش) کښے داخلېږي عند التدبر، او حدیث کښے راځي :

عن ابن عمر رضي الله عنهما : نهي رسول الله ﷺ عن النجش .

(بخاري : ۲۸۷/۱) .

یعنے : رسول الله ﷺ د(نجش) نه منع فرمائېلے ده .

د نجش معنی : هو ان یزید في الثمن لا رغبه بل لیخدع غیره .

یعنے : ددلال مقصد دانه وي چه یو شے واخلي بلکه صرف بل چاته ددهوکے دپاره ددغه شي قیمت زیاتوي چه ګاهك په دغه جال کښے راشي .

نو دلته هم ممبر عوام الناس ته ددغه مشین صفتونه کوي اود کمېشن لا لچ ورکوي چه اکثر دهغوي مال ضائع شي او هیڅ کمېشن پېدا نه کړي .

٤ - څلورم نقصان دادے :

چه شریعت مطهره کښے ددلالئ دکمېشن اجازت راغلے دے، دغه شان د (جعاله یعنے انعام ورکولو)اجازت هم شته (خلافا للحنفیه) ، دغه شان د(اجره الاعمال) اباحت هم شته۔ ---- لېکن

شپنل مشین کښې داتول صورتونه نه جوړیږي.

دپو څو وجوهاتو نه :

۱ - په دے کښې دممبر جوړېدو دپاره په لس زره روپو مشین اخستل شرط دی، او دلالئ کښې دا شرط نه وی، اونه په (جعاله) انعام کښې وی.

۲ - دے کښې صرف دوه یا درے کسان ممبران بلا واسطه پیدا کول دی، باقي نشي جوړولے، دلالئ کښې خو هرڅومره مشتریان (اخستونکی) راوستلے شی، نو ځکه دلالي صحیح اودا صحیح نه ده.

۳ - دلالی هله جائز ده چه د دلال دطرفنه خیانت نه وی دبائع اومشتري سره، اوشپنل مشین کښې د ممبر دطرفنه غالباً د مشتریانو سره خیانت وی.

٤ - په انعام کښې احسان اوتشویق غرض وی الزام نه وی، او دلته دممبر حصه لازمه ده په کمپني باندے په اموالو دلاندینو ممبرانو کښې - (کما في الفقه الاسلامي باب الجعاله).

۵ - پنځم نقصان دادے : چه اول ممبر دوه کسان راوستل، دهغوی کمیشن ئے د کمپنئ نه واخستلو، نو دنورو ممبرانو کوم چه دده په واسطه نه دی جوړ شوی، دهغوی کمیشن څنګه اخلی؟ ! چه هغے کښې دده هیڅ محنت نشته، قانوناً کمپنی والا دده محنت صرف دوه کسانو پورے منی، او شرعاً دمال دحصول غالباً درے طریقے دی :

۱ - مضاربت.

۲ - خپل مال کښې خپله تجارت کول.

۳ - نوکری، مزدوری چاسره کول.

په شپنل مشین کښې چه ممبر اول کمیشن دلسم شخص او دیرشتم او سلم شخص اخلی، دادځه په وجه؟ داسود نه دے؟ پردے مال خوړل دی بلا سببه اودا اکل اموال الناس بالباطل دے (ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل) - نه مضاربت دے، نه نوکری ده، نه تجارت دے، بلکه په پردو مالونو باندے مزے کول دی.

که څوك **سوال** وکړی چه بالواسطه ممبرانو جوړولو کښې هم داولنی ممبر کوشش وی تر آخره پورے نو ځکه هغه کمیشن اخلی!

ددے **جواب** دادے : چه قانوناً دکمپنئ دطرفه دا صرف دوه یا درے کسانو په راوستلو مسؤل دے باقي دامسؤل نه دے، داو جه ده چه دوی وائی : په دے کار کښې وقت دممبر ډیر نه صرف کیږی لکه

دنو کړئ اوتجارت په شان. بلکه صرف ېو دوه درے کسان چه پېدا کړې بیا به ې غمه کمېشن خوری.

اوکه خلقوته دے صرف ترغېب ورکوی نو دا خو دلالی نه ده.

محض دوسرون کو ترغب دینے کانام دلالی نهین هوتا، الا یه که کسی کو اس کام پر بطور ملازم رکھ لیا جائے.

(قاله احد العلماء مفتی عبد الواحد: مجله الدعوه ص : ۲۱).

٦ – شپږم نقصان دادے : چه په دلالئ کښے شرعي قانون دادے چه مشتری باندے به کوم زیادت په نرخ دمبیعه کښے نه راولی، که ددلالئ په وجه زیادت راشی مثلاً دیو شی نرخ دوه سوه روپئ دے او دلال دبائع نه دلالی غواړی اوشے په دے وجه په څلور سوه خرڅ کړی نودا بیا ظلم دے جائز نه دے.

نو په شېنل مشېن کښے دممبر ددلالئ په وجه شے ګران خرڅېږی اوقېمت ئے کم وی.

فتاوی اللجنه (۱۳۰/۱۳) کښے ددے ښه تفصېل دے:

س : اخذت زبونا ألی احد المصانع او المحلات لشراء بضاعه، فاعطاني صاحب المصنع او المحل عموله علی الزبون هل هذا المال حلال (العموله) واذا زاد صاحب المصنع مبلغا معېناً علی کل قطعه یاخذها الزبون ، وهذه الزیاده اخذها انا مقابل شراء الزبون لهذه البضاعه فهل هذا جائز ؟ اذا کان غېر جائز فما هی المعموله الجائزه ؟

ج : اذا کان المصنع او التاجر یعطیك جزاء من المال علی کل سلعه تباع عن طریقك تشجیعا لًك لجهودك في البحث عن الزبائن وهذا المال لایزاد في سعر السلعه ولیس في ذلك اضرار بالآخرین ممن یبیع هذه السلعه حیث ان هذا المصنع او التاجر یبیعها بسعر کما یبیعها الآخرون فهذا جائز لا محذور فیه.

اما ان کان هذا المال الذي تاخذه من صاحب المصنع او المحل یزاد علي المشتری في ثمن السلعه ، فلا یجوز لك اخذه ولا یجوز للبائع فعل ذلك لان في هذا اضرار بالمشتری بزیاده السعر علیه.

نو دے فتوی کښے لفظ د (عن طریقك) او (لجهودك) ته وګوره، داکار شېنل کښے نشته، دارنګ (اما ان کان هذا المال الذی تاخذه من صاحب المصنع او المحل یزاد علی المشتري في ثمن السلعه) داکار بعېنه په شېنل مشېن کښے کېږی ، فتفکر !!

۷ – اووم نقصان دادے :

چه شپنل کمپنی والا درے څلور زره روپۍ قرض ورکوی مشتری ته او بیا ترے په کمیشن کښے کټ کوی - نو بیع بالقرض خو جواز لری لیکن دلته د :

(کل قرضٍ جر منفعه) دلاندے راځي، اوهغه په دے طریقه چه کمپنی والا قرض ورکوی په دے شرط چه دوی دپاره به درے ممبران مشتریان راولی ، اوکه څوک ئے نه راولی نو هغه ته داقرض نه ورکول کیږی.

نودا صورت د (کل قرض جر منفعه) شو، اودا اجماعی قانون دے چه په قرض باندے د (مشتری) مقروض نه فائده اخستل حرام دی. (شامی : ۸۲/۵، اعلاء السنن : ۵۱٤/۱٤).

۸ - اتم نقصان دادے :

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم د(بیع الغرر) نه منع فرمائیلے ده .

فقد اخرج مسلم في صحیحه (۲/۲) عن ابي هریره قال :

نهی رسول الله ﷺ عن بیع الحصاه وعن بیع الغرر. - (وهو في المشکاه : ۱)

قال النووی : اما النهی عن بیع الغرر فهو اصل عظیم من اصول کتاب البیوع یدخل فیه مسائل کثیره غیر منحصره ثم ذکر بعضها کبیع الآبق والسمك في المال واللبن في الضرع وبیع الحصاه الخ.

----- دغرر معنی ده : دهوکه، اوپه شپنل مشین کښے غته دهوکه داده چه کله سادګانو خلقو ته دعوت ورکوی دممبر سازئ نو اکثر غلط صورت ورښائی اوبیا حقیقت هغه شان نه وی.

دغه شان ساده لوح خلق په کښے ور واچوی او ځان له ترے فائده اخلی، اوهغوی بیا نور ممبران نشی پیدا کولے، نو په حرج او تکلیف کښے واقع شی، اولا ورته دوریځے اوښان جوړ کړی، بیا هغه کار کښے ډیر مشقت او لوئے انتظار وی.

دغه شان دا مشین قیمت کم لری لیکن کمپنی والائے ګران خرڅوی او لالچ دکمیشن ورکوی چه هغه کله ملاؤ شی اوکله نه، اودا صورت د(غرر) دے لکه بیع الآبق کښے کله مشتری قادر شی په نیولو دغلامِ آبق اوکله نه !!!

۹ - نهم نقصان دادے :

دا اسراف کښے داخلیږی ، ځکه کم قیمت والا شے په ډیرو پیسو اخستل چه څه ضرورت هم ورته نشته اونه ترے چا معتد به فائده اخستے ده. اودا اسراف دے .

قال تعالی : ﴿ ولا تسرفوا انه لا یحب المسرفین ﴾ .

ماهرېنو ډاکترانو ددې مشېن تقریظ او تصدیق هم نه دې کړې.
اوګولډن کمپنۍ ددې په شان ده خو هغوی توته پېستَ کرېم (دغاښونو کرېم) خرڅوی او علماء کرامو دهغې دحرمت وجه داخولې ده.
۱۰ – لسم نقصان دادې: نبی کرېم صلی الله علیه وسلم فرمائی:
لا ضرر ولا ضرار في الاسلام. – (مشکاه: ۱)
او قرآن کرېم کښې ارشاد ربانی دې: ﴿لا تظلمون ولا تظلمون﴾
یعنې: اسلام کښې بل ته نقصان ورکول هم جائز نه دی او خپل ځان ته قصداً نقصان ورکول هم ناروا دی.
اوالله تعالی فرمائی: مه تاسو ظلم کوئ اونه به په تاسو ظلم کېدلې شی.
او په شېنل مشېن کښې په ځان ظلم وی چه د (۱۸) سوو روپو شې په لس زره اخستل کېږی، دوېم په بل هم ظلم دې ځکه دهغه کسانو کمېشن اخستل دی کوم باندې چه ده هېڅ محنت نه دې کړې کوم چه بالواسطه ممبران دی (داآیت او حدیث عظیم اصول دی).
۱۱ – یو لسم نقصان دادې: چه په تجارتونو اوبیوعو کښې شرعاً دعوام الناس فائده ملحوظ وی، دیو شخص دوه شخصو فائده ملحوظ نه وی. داوجه ده چه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم د(بیع الحاضر للبادی) نه منع فرمائیلې ده، اوداسې ئې فرمائیلی دی: (دعوا الناس یرزق الله بعضهم من بعض)
په دې کښې اشاره ده فوائدو دعوام المسلمېن ته.
دغه شان د(تلقی السلع) نه منع راغلې ده، دا ولې! داځکه چه هلته دیو شخص فائده کېږی او عوام الناس ته تکلیف جوړېږی.
دغه شان (الجالب مرزوق) کښې هم اشاره ده چه داسې کار کوه چه فائده عوام الناس ته رسېږی.
---- نو په شېنل مشېن کښې نه دملك ترقي شته نه عوام الناس ته فائده رسېږی، بلکه دبعضې عوامو سره دهوکه ده اوبې قیمته شې په ګرانه خرڅول دی.
داقسم کمپنیانې که عامې شی، ښه ښه کارو بارونه به معطل شی، اوفائده مند شیان به ضائع شی، اوخلق به هسې هوائی شیانو پسې ولېږی.
۱۲ – دولسم نقصان دادې: چه ډېر خلق ددنیا دمحبت په لالچ کښې په دې کار کښې اخته شو

اود دعوت الیٰ الله تعالیٰ اود علم اود عمل میدان ته ئے شاکړه، اودنیا پسے روان شو، پکارداده، آخره زمانه ده، علماء کرام وفات کیږی او علم ختمیږی، چه مونږ دقرآن او سنت ژور علمونه زده کړو، اودے له وقت ورکړو.

رسول الله ﷺ فرمائی :

من جعل الهموم هما واحداً هم الآخره، کفاه الله هم دنیاه وآخرته، ومن تشعبت به الهموم احوال الدنیا، لم یبال الله في أي اودیتها هلك. (شبع الایمان).

دغه شان ارشاد دے :

یا ابن آدم تفرغ لعبادتي املأ صدرك غنیً، واسد فقرك، والا تفعل املأ یدك شغلاً، ولم اسد فقرك) باندے عمل پاتے شو، عبادت، اوقات، جماعات برباد شول.

۱۳ - دیارلسم نقصان دادے :

چه کفار دمسلمانانو داقتصاد بربادولو کوشش کوی چه مسلمانان غریبانان شی، اوکفارو ته محتاج شی او جهاد اوددین په بل کار کښے ئے ذهن،مال اوبدن مصروف نشی. ---- نوددے دپاره مختلفے حربے استعمالوی، یوه داده چه چین شینل کمپنی جوړه کړه، بریطانیه کښے امریکے ګولډن وغیره کمپنیانے جوړے کړے - چه حاصل مقصد ئے دادے : په مسلمان باندے (تافه) یے قیمته شے ګران خرڅول. اود هغوی مالونه خپل ملك ته وړل، اود بعضے مسلمانانو نه ددلالئ کار اخستل، اوهغه له یو څو روپئ کمیشن یا رشوت ورکول !!!

تاسو فکر وکړئ شینل او ګولډن کمپنیانو کښے دغه مقصد دے.

کروړها روپئ دمسلمانانو دکفارو ملك ته لاړے په حیله اودهوکه، اوپه مسلمانانو ئے څه خرڅ کړل ؟

هاؤ ! دکفارو سره تجارت کول جائز دی چه صحیح اشیاء رالیږی او مسلمانان ئے اخلی چه فائده په کښے وی لکه عام تجارتونه دچین په اشیاؤ کښے کیږی، څوك هغے ته حرام نه وائی. ---- دامهم نقصان دے که څوك پرے سوچ وکړی !!

۱٤ - څوارلسم نقصان دادے :

چه دسوچ خبره داده چه یو کلی کښے زر کسان وی او تول دشینل ممبران شی نو مخکنی کسان خوبه کمیشن واخلی، دا روستنی کسان به دچا کمیشن اخلی ؟

دهغوی مال خو برباد شو، اودا بعینه دجوارئ صورت وی.

دارنګه که چرته دا کمپنۍ وتختی یا حکومت ئې قانونا بَنده کړی، نو بیا به څه وی ؟

۱۵ – پنځلسم نقصان دادے :

که داقسم کارونه شروع شی نو معاشی فائده به مسلمانانو ته کمه وی بلکه نه ملاویږی او مال به ئې ضائع کیږی، اوډیر خلق به بے روزګاره ګرځی او صرف کمیشن به ورته ملاویږی، اود بے روزګاره ګرځیدلو او فارغ کیناستلو ډیر تباه کن نتائج دی.

داوجه ده چه الله تعالی بندګان اکثر په کارو بار مصروف کړی کړیدی چه فساد عام نشی. قال الشاعر ۔

ان الشباب والفراغ والجده ★ مفسده للمرء ایّ مفسده

دشینل او ګولډن کمپنی دمالکانو دا دعوی ده چه دا ممبری قبوله کړئ، فارغ به ګرځئ او کمیشن درځی، صرف دوه کسان پیدا کړئ، باقی چهوتي ده.

۱۶ – شپاړسم نقصان دادے :

چه شریعت مطهره کښے دبیع العینه او بیع التورق نه منع راغلے ده.

شینل مشین د(بیع العینه، یابیع التورق) صورت نه دے لیکن دکوم علت چه وجه چه بیع التورق منع شوے ده، هغه علت دلته موجود دے.

وهو بیع الدراهم بالدراهم الی اجل وهو المقصود وادخال المبیع غیر مقصود کما قال ابن عباس دراهم بدارهم دخلت بینهما حریره.

قال شیخ الاسلام في مجموع فتاویه (۴۳۴/۲۹) :

لان المشتری لیس غرضه في التجاره ولا في البیع ولکن یحتاج الی دراهم فیاخذ مائه ویبقی علیه مائه وعشرین مثلا فهذا قد تنازع فیه العلماء والاقوی انه منهی عنه کما قال عمر بن عبد العزیز : التورق اخیه الربا فان الله حرم اخذ دراهم بدراهم اکثر منها الی اجل، لما في ذلك من ضرر المحتاج واکل ماله بالباطل وهذا المعنی موجو دفي هذه الصوره وانما الاعمال بالنیات ، وانما لکل امرء ما نوی.

اقول : وهذا المعنی بعینه موجود في (شینل) ایضاً.

ثم قال : وانما الذی اباحه الله البیع والتجاره وهو ان یکون المشتری غرضه ان یتجر فیها فاما اذا کان قصده مجرد الدراهم بدراهم اکثر منها فهذا لا خیر فیه.

نو دلته (شپنل) کښې هم روپۍ خرڅول دي اوپه ډېرو خرڅول دي اوپه نېته خرڅول دي، اومشین غېر مقصود دے، هسے دحیلے دپاره په مېنځ کښې راغلے دے.

١٧ – اولسم نقصان دادے :

چه په شریعت کښې ددے نه منع راغلے ده چه انسان باغونه د(بدو الصلاح) یعنے پخېدو نه مخکښې خرڅ کړي چه مېوه پکښې لا پخه شوے نه وي او باغ بان ئے خرڅ کړي دامنع دي. که چا خرڅ کړو اوپه دے کښې باغ باندے آفت، باران ګلۍ راشي نو نبي علیه السلام باغ والا ته فرمائي : ارأيت ان منع الله الثمره فبم يأخذ احدكم مال اخيه.

یعنے : که الله تعالی دباغ مېوه په څه طریقه تباه کړي اوپخه نشي او مشتري ترے فائده وانخلي نو ته به په څه باندے دهغے پیسے خورے ؟

نو دغه شان کله چه د شپنل کمپني روستني ممبرانو نه تا کمیشن تول کړو او هغوي ته څوك ملاؤ نشو دممبر سازۍ دپاره نو تاپه څه دهغوي نه داپیسے واخستے آیا په دغه بے قیمته مشین ترے ته لس زره روپۍ اخلے ! که هغه خبر شي چه څوك نه پیدا کېږي نو په لس روپۍ هم دغه مشین نه اخلي.

نودا پردے مال خوړل دي ، اوددے مسئلے پوره مشابهت دے د (بیع الثمره قبل بدو الصلاح) سره، فتفکر!

١٨ – اتلسم نقصان داښکاري :چه ددرے سوو (٣٠٠) کسانونه روسته دکمیشن مقدار نه کمپنۍ ذکر کوي اونه معلوم دے چه څومره به اول ممبرته ورکولے شي، اوحال داچه دا دکمپنۍ تر آخره شریك دے.

١٩ – نولسم نقصان دادے : چه کمپنۍ وائي : زمونږ مقصد هرکورته صحت او دولت رسول دي ---- زه وایم : دا دعوي غلطه ده دڅو وجو نه :

اول : دے مشین کښې صحت نشته په قول دمستند ډاکترانو اود ډېر کسانو په تجربه. دویم : دچا دولت هر کورته ورکوي ! آیا چین والا خپل دولت ورکوي ، اوکه نه دسادګانونه مالونه جمع کول اوخپل ملك ته وړل او بعضے چالاکو کسانو له ورکول دي ؟ سوچ وکړه !

دریم : دوي دخپل ملك خلق ولے نه مالداره کوي ! چه دمسلمانانو دومره خېر خواهي کوي !

څلورمه وجه : اوهغه ډېره عظیمه ده.

الله تعالیٰ په خپل ناصحانه کلام کښې مؤمنانو ته فرمائیلی دی :

﴿ یاایها الذین آمنوا لا تتخذوا بطانه من دونکم لا یالونکم خبالا ودوا ما عنتم قد بدت البغضاء من افواههم وما تخفي صدورهم اکبر قد بینا لکم الآیات ان کنتم تعقلون﴾ .

نو (لا یالونکم خبالاً) ته وګوره فرمائی : ستاسو تکلیف خوښوی (ستاسو مالداری او صحت نه غواړی) . دارنګ (وما تخفي صدورهم) ته هم وګوره .

نو څنګه دا کفار ستاسو دومره خیر خواه شو ؟ !! .

٢٠ – شلم نقصان دادے :

چه په کمیشن کښې دستار هوتل شپے، اود چیښ سیاحت هم شته، چه په دے کښې ډیر منکرات اود خواهشاتو اتباع ده، لکه دامشین دچینائی ښځو په لا س ورکول کیږی، هغوی په کښې لاس تقول هم کوی. په ګولډن کمپنئ کښې انګریزی ګانے بجانے، دزنانو اختلاط دسرو سره هم شته. نوکه په دے مجموعه منکراتو نظر واچول شی او یو متقی انسان چه پیسے ئے مقصود نه وی الله تعالیٰ نه ویریږی داحال اووینی نو ضرور به داکار غلط وګنړی ځکه هرهغه کار چه متضمن شی ګناه لره هغه ګناه وی (اوخه خاص ضرورت هم ورته نشته) . داخبره که څوك نه منی هغه دے تجربه وکړی !!

٢١ – یو ویشتم نقصان :

اودا نقصان بعد الدعاء، الله تعالیٰ ماته په ذهن کښې واچولو، هغه داچه حدیث صحیح کښې منع راغلے ده دګټے دهغه مال نه چه ته ئے ذمه وار نه ئے .

عن عبد الله بن عمرو رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ :

لا یحل سلف وبیع ولا شرطان في بیع، ولا ربح مالم یضمن، ولا بیع مالیس عندك .

(رواه الترمذي وابوداود والنسائی باسناد صحیح .

د (ولا ربح مالم یضمن) مطلب دادے چه ته دیو شی ذمه واری په غاړه نه اخلے ددغه شی ګټه جائز نه ده .

دلته په شینل مشین کښې بالواسطه ممبران چه کوم دی داول ممبر په سر هیڅ ذمه واری نشته نو ولے دهغوی دمال ګټه او کمیشن اخلی ! آیا دا ربح دمالم یضمن نه ده ؟

داعجیب دلیل دے که چا پرے سوچ اوکړو !

دارنګ بل حدیث کښے راځي : الخراج بالضمان – (مشکوه : ٢٤٩/١) .

یعنې : ګته به دهغه چاوې چه په سر ذمه وارې واخلې.
نود اولنې ممبر په سر ذمه وارې دهیڅ دمال نشته نو ګته ولې اخلې ؟!!
۲ ۲ – دوویشتم نقصان : رسول الله ﷺ فرمائې :
استفتِ نفسك، استفتِ قلبك ثلاثا. البر ما اطمأنت اليه النفس، واطمأن اليه القلب ، والا ثم ماحاك في نفسك وتردد في الصدر، وان افتاك الناس. (رواه احمد والدارمي).
یعنې : دیو شی ښه اوبد ته دخپل نفس او زړه نه معلوم کړه، په صحیح او حلال شی باندے زړه اونفس ته اطمینان راځي اود ګناه شے سرے بے اطمینانه کوی اوزړه کښے تردد او شك پیدا کوی.
نو اوس دشینل کمپنی مشین چه کومو مسلمانانو اخستے دے اود حرمت فتوی چا اوریدلے ده نو دهغوی شك پیدا شویدے اګر که هغوی داکار جاری ساتی لیکن زړه کښے ئے شك شته چه داکار زمونږ صحیح نه دے یا دشبهے نه ډك دے.
دارنګ نور نقصانات هم دے معامله کښے شته .
لیکن دا **فتوی** دملګرو دبار بار تپوسونو دوجے نه په جلتئ سره اوشوه، که مشران اهل علم په دے کښے سوچ وکړی نو نور نقصانات به هم په کښے پیدا کړی.
دامسئله ده زمونږ اجتهاد دے ته رسیدلے دے، اودغه مذکوره دلائل دی په دے باندے ، سوچ کول پکار دی که اثرئے وکړو، داکار پریخودل پکار دی اوکه دا دلائل چا ته غلط ښکاری نو ددے نه غوره اوصحیح دلائل هغه له پیش کول پکاردی !!
وبالله تعالی التوفیق.
ابو محمد امین الله البشاوری
زمونږ دافتوی دلاندینو علمائے کرامو دفتوی سره موافق ده چه اهل حدیث علماء دی او بعضے دیوبندیان احناف دی چه دلته ئے قول صحیح دے، والعبره للحق، خذ الحق ممن جاء به، ورد الباطل علی من جاء به، کما جاء في بعض الاحادیث.
چه هغه دادی :
★ العلامه عبد السلام بهتوی ، امیر مرکز الدعوه والارشاد.
★ العلامه ابو حمزه ظفر اقبال، من متعلقی مرکز الدعوه والارشاد.
★ الشیخ مفتی عبد الرحمن عابد ، مدیر جامعه الدراسات کراچی.

★ العلامه محمود الحسن شیخ الحدیث جامعه ستاریه کراچی.
★ العلامه تقی عثماني، مدیر دار العلوم کراچی.
★ الشیخ مفتی عبد الواحد صاحب.
★ مفتی الجامعه الفاروقیه، کراچی واصحابه.
★ مفتی دار العلوم سرحد سید قمر صاحب.

وصلی الله وسلم علی النبی الامی وعلی آله وصحبه اجمعین.

حرره: ابو محمد امین الله البشاوری

جمادی الثانیه (٦/٢٠/١٤٢٤ هـ).

وافق علیها: الشیخ السید عبد السلام حفظه الله

والشیخ ابو عمر عبد العزیز حفظه الله

والشیخ غلام الله رحمتي حفظه الله.

★★★★

د شینل کمپنۍ باره کښې یوه بله فتوی[1]

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله رب العالمین والصلاه والسلام علی نبینا محمد وآله وصحبه اجمعین.

صورت مسؤله کښې دشینل کمپنۍ دمشین کاروبار په باره کښې دا یاد لرئ چه دشریعت مطهره

دتتبع او استقراء نه معلومېږي چه کاروبار، خريد او فروخت څه اصول لري چه دهغې مراعات ساتلو سره حلال اود هغې مراعات نه ساتلو سره حرامېږي، دهغه اصولو خلاصه امام تيميه – رحمه الله – دا بيان کړيده هغه فرمائي :

والاصل في هذا الباب ان الشراء على ثلاثه انواع : احدها : ان يشتري السلعه من يقصدها الانتفاع بها، بالاكل والشرب واللباس والركوب والسكنى ونحو ذلك، فهذا هو البيع الذي احله الله ---- والثانى : ان يشتريها من يقصد ان يتجر فيها اما في ذلك البلد واما في غيره، فهذه هي التجاره التي اباحها الله تعالى .

والثالث : ان لا يكون مقصوده لا هذا ولا هذا، بل مقصوده دراهم لحاجته اليها .

(مجموع الفتاوى : ٤٤١/٢٩) .

بيا فرمائي : فان المشتري تاره يشتري السلعه لينتفع بها، وتاره يشتريها ليتجر بها . فهذان جائزان باتفاق المسلمين وتاره لا يكون مقصوده الا اخذ دراهم .

١ – ددې نه معلومېږي چه دشينل مشين خريداري کښې مقصد نه دمشين نه انتفاع ده اونه دغه مشين نه مقصد تجارت دې، بلکه صرف کميشن او ممبر جوړيدل ترې نه مقصد دې نو دې کښې دسود مفاسد موجود دي اوشرعاً نا جائز ده .

امام ابن تيميه رحمه الله فرمائي :

والمفاسد التي لاجلها حرم الله الربا موجوده في هذه المعاملات، مع زياده مكر وخداع وتعب وعذاب، فانهم يكلفون من الرؤيه والصفه والقبض وغير ذلك من امور يحتاج اليها في البيع المقصود، وهذا البيع ليس مقصودا لهم، وانما المقصود اخذ دراهم بدراهم، فيطول عليهم الطريق التي يؤمرون بها فيحصل لهم الربا فهم من اهل الربا المعذبين في الدنيا قبل الآخره، وقلوبهم تشهد بان هذا الفعل الذي يفعلونه مكر وخداع وتلبيس . (٤٤٥/٢٩) .

نودشينل مشين معامله هم داده چه مقصود دبيع نه مشين نه دې، دې وجې نه دا ګته ورته اوګده شي چه دوه دوه کسه به پيدا کوي په چل ول سره بيا به ورته فائده حاصلېږي، او کوم خلق چه ئې کوي هغوئ خپله هم مطمئن نه دي، اګرکه دشرمه خپل اطمينان ظاهروي .

٢ – دې خريد او فروخت کښې دبل مسلمان مال په نا جائزه طريقه خوراك دې ځکه که دې خريدار دوه کسان پيدا نه کړل نو دده داپيسې چه کومې ده په دې مشين ورکړې دي ډوبې شومې ځکه چه مشين

خو مقصود نه دے او کمېشن هم ورته پېدا نشو، نو کمپنئ والا دا پیسے په څه بنیاد باندے خوري، حالانکه رسول الله ﷺ فرمائی:

أرايتك ان منع الله الثمره بم تستحل مال اخيك. وفي روايه: بم تاخذ مال اخيك بغير حق. (رواه مسلم: ۱٦/۲).

۳ – دا خرید اوفروخت دظلم یو خداعي شکل دے ځکه چه دا مشین د کم وزیات اوولس سوه روپو دے او خرڅیږی په نهه زره باندے، مثلاً: مشتري نه دمشین نه فائده اخستے شی اونه ئے خرڅولے شی اوکه بالفرض خرڅ ئے هم کړی نو ده له دا ورکړے پیسے نه کوی نو داهم ده ته ضرر شو، رسول الله ﷺ فرمائی:

لاضرر ولا ضرار.

(ارواء الغليل :۴۰۸/۳، وقال الالباني: صحيح، وذكر للحديث عشره اسانيد وقال: قال العلائي: للحديث شواهد ينتهى مجموعه الى درجه الصحه او الحسن المحتج به).

او الله سبحانه وتعالى فرمائی: ﴿لا تظلمون ولا تظلمون﴾ [البقره: ۲۷۹].

٤ – داد بیع مضطر او غرور یوشکل دے ځکه چه مشتري دکمېشن اود ممبر شیپئ په لالچ کښے په خریدارئ مضطر دے او بائع ورته دکمېشن او ممبر جوړیدو دهوکه ورکوی اودا دواړه هله ظاهرېږی چه کله خریدار دوه کسان پیدا نه کړے شی. حدیث شریف کښے دي: نهى رسول الله ﷺ عن بيع الحصاه وعن بيع الغرر. (رواه مسلم: ۲/۲).

او امام نوويؒ فرمائی:

اما النهي عن بيع الغرر فهو اصل عظيم من اصول البيع. (النووي على مسلم: ۲/۲).

۵ – دا د جوارئ یوصورت دے چه په جوارئ کښے جوارګر دپیسے ګټلو په لالچ کښے خپله سرمایه لګوی، مګر په مینځ کښے څه شے نه وی دارنګ شینل کمپنی والا خپلے فائدے دپاره دلګو پیسو مشین په زیاتو پیسو خرڅوی اوخریدار دکمېشن اود ممبر جوړیدو په لالچ کښے خپل مال خرچ کوی او چه کسان پیدا نه کړی نو خائب خاسر پښېمانه وی. الله پاك فرمائی:

يا ايها الذين آمنوا انما الخمر والميسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشيطان فاجتنبوه لعلكم تفلحون. (المائده: ۹۰).

٦ – دشینل مشین خرید وفروخت کښے دنجش یوصورت هم دے او د نجش تعریف علماء داسے

کوي چه دمبيعې په قيمت کښې زيادت کول په مبيعه کښې درغبت په وجه نه بلکه بل ته ددهوکې ورکولو دپاره. بعينه دغه صورت دشينل دمشين دے چه په مشين کښې دده څه رغبت نه وي، خو دومره سرمايه چه خرچ کوي، نوصرف دے دپاره چه بل کس هم په کښې اخته شي، اوهمداسې کيږي.

حديث شريف کښې دي:

نهى النبي ﷺ عن النجش (رواه البخاري).

وقال البخاري رحمه الله: وقال ابن ابي اوفي :الناجش آكل الربا خائن وهوخداع باطل لا يحل. قال النبي ﷺ: الخديعه في النار. ومن عمل عملا لَيس عليه امرنا فهو رد.

(البخاري: ٢٨٧/١).

٧ - دشينل مشين کميشن کښې دبيع مالم يضمن صورت هم دے يعنې دهغه ګټے په ضمن کښې داخل دے چه اخستونکے ددغه ګټے ذمه وار نه وي. اوداسې ګټے نه رسول الله ﷺ منع کړيده او فرمائي:

لا يحل سلف ولا بيع، ولا شرطان في بيع ولا ربح مالم يضمن ولا بيع ما ليس عندك. (صحيح الترمذي: ٩/٢، صحيح ابي داود: ٦٦٩/٢، صحيح النسائي :٩٥٨/٣).

٤ - دلته اولنى کس ته چه کوم کميشن (معاوضه) ملاويږي يا څوك چه ممبر جوړ شي هغه ته چه ګټه ملاويږي دده څه ذمه واري ده؟ او حديث کښې راځي: الخراج بالضمان.

٥ - ګټه به دهغه چا وي چه په سرئے ذمه واري وي، حالانکه اولنى ممبر باندے دهيچا دمال ذمه واري نشته دے. نوکميشن (ګټه) په څه اخلي؟

کتبه: ابو عمر عبد العزيز النورستاني

ووافقه عليه کل من المشائخ

١ - الشيخ عبد السلام الرستمي.

٢ - الشيخ غلام الله رحمتي.

٣ - الشيخ عبد الله محمدي.

٤ - الشيخ امين الله البشاوري.

٥ - الشيخ سميع الله نجيبي

٦ - الشيخ امداد الله

٧ - الشيخ قاسم دريابادى

٨ - الشيخ عبد الله بن الفضل.

د شيخ ابو عمر حفظه الله وضاحت:

الحمد لله الذي قال : لا تاكلوا اموالكم بينكم بالباطل والصلاه والسلام على محمد وآله وصحبه اجمعين . اما بعد :

صورت مسؤله كښې ياد ساتئ چه دجامعه اثريه پيښور نه يوه فتوى زما او دشيخ امداد الله صاحب په تصويب سره مولوي وزير ګل صاحب صادره كړې وه، حقيقت دادې چه څنګه سوال وى هم هغه شان جواب وركولے كيږى .

چونكه مونږ ته سوال داسې پيش كړے شوے وو چه .... دا كمپنى دا مشين په آته زره باندے خرڅوى اول ګاهك ته (١٠٤٠) روپئ كميشن وركوى . او بيا هغه بل ګاهك پيدا كوى . چه په هغے كښې بيا دده دپاره (٢٤٠) روپے كميشن وى . دغه شان څومره ګاهك چه تلاش كوى دومره هغه ته كميشن ملاويږى، اودے سره انعام هم ملاويږى اودا كس ددے كمپنئ ممبر جوړيږى .

ظاهره ده چه ددے سوال په جواب كښې مفتى صاحب به دجواز فتوٰى وركوله او مونږ به تصحيح كوله . ولے چه دا ددلالئ صورت دے . اوس ستاسو د سوال نه څه نور څه را اووتل، دغه شان دمجله الدعوه ستمبر (٢٠٠٢ء) دشمارے اود شيخ امين الله حفظه الله دفتوى نه معلومه شوه چه دمسئلے رخ بل طرفته روان دے .

لهذا زه دخپل تصديق نه رجوع كوم، دے دپاره چه دالله تعالى مخلوق زما دفتوى په وجه په حرامو كښې دمبتلاء كيدو په وجه خپل آخرت تباه نه كړى او ورسره زما آخرت هم خراب نه شى .

دړومبى سوال نه معلوميدله چه څومره ګاهك پيدا كوى دومره هغه ته كميشن ملاويږى، كوم چه ددلالئ صورت دے . اوددے سوال نه معلوميږى چه ړومبے ګاهك به دوه كسان پيدا كوى او اول ګاهك ته به كميشن ملاويږى . دويم خريدار كه ګاهك پيدا كړو نو هغه ته به هم كميشن ملاويږى ورنه دده پيسے به بيكاره ځى، او د (١٧٠٠) روپو مشين په نهه زره كښې پرېوتلو . خو اولنى اخستونكي ته به ددے په سر باندے روان كميشن ملاويږى . دا صراحتاً ددے حديث نبوي خلاف دے چه :

ارأيتك ان منع الله الثمره بم تستحل مال اخيك وفي روايه : بم تاخذ مال اخيك بغير حق . رواه مسلم : ١٦/٢) .

هسے هم كه پيدا ئے هم كړو نو بيا هم دا دظلم صورت دے چه دمشين اصلي قيمت (١٧) سوه دے او خرڅوى ئے په نهه زره روپو باندے . الله تعالى فرمائى : ﴿ لا تظلمون ولا تظلمون ﴾ . او رسول الله

ﷺ اوفرمائیل : لا ضرر ولا ضرار في الاسلام .

دغه شان دویم ګاهك ئې په دهوکه کښې واچولو، دغه شان که چرې ده ګاهك پېداکړو نو دې به راتلونکی له دهوکه ورکوی. حدیث شریف کښې دی :

نهی رسول الله ﷺ عن بیع الغرر (رواه مسلم : ۲/۲). قال النووي : اما النهي عن بیع الغرر فهوا صل عظیم من اصول کتاب البیوع.

اهم شې ددې مشین په خرید اوفروخت کښې دادې چه دخریدار مقصد نه ددې نه نفع اوچتول دی اونه تجارت کول دی.

امام ابن تیمیه رحمه الله فرمائی :

والاصل في هذا الباب ان الشراء علی ثلاثه انواع : احدها : ان یشتري السلعه من یقصدها الانتفاع بها، بالاکل والشرب واللباس والرکوب والسکنی ونحو ذلك، فهذا هو البیع الذي احله الله. والثاني : ان یشتریها من یقصد ان یتجر فیها اما في ذلك البلد واما في غیره، فهذه هي التجاره التي اباحها الله تعالی. والثالث : ان لا یکون مقصوده لا هذا ولا هذا، بل مقصوده دراهم لحاجته الیها. (مجموع الفتاوی : ۴۴۱/۲۹).

نو ددې مشین خریداری په دریم قسم کښې داخل ده چه ناجائز ده. ابن عباس – رضي الله عنهما – ددې اثر لاندې فرمائی :

دراهم بدراهم دخلت بینها حریره. وسئل انس بن مالك عن نحو ذلك فقال : هذا مما حرمه الله ورسوله. (مجموع الفتاوی :۴۱/۲۹).

غرض داچه دا قسم بیع او کمیشن کښې ډیر زیات مفاسد دی کوم چه علماء کرامو بیان کړی دی ددې نه اجتناب ضروري دې. اوزه دخپلې اولنۍ تصویبی فتوی نه رجوع کوم. هذا والله من وراء القصد. ابو عمر عبد العزیز النورستاني.

د شینل کمپنۍ د حرمت باره کښې یوه بله مختصره فتوٰی :

دې باره کښې مفصله فتوی هم شته دلته مختصره فتوی لیکم په مشوره دمشرانو علماء کرامو چه روسته ئې نومونه ذکر کولې شی ان شاء الله.

دشینل کمپنۍ دمعلومات نه بعد مونږ ته په بصیرت سره داخبره معلومه شوه چه دا کاروبار جائز

نه دے او حرام دے هر مسلمان له ترے ځان ساتل پکار دی، بل تجارت دے اوکړی ددے نه غوره او حلال تجارتونه شته دے .اوشین کمپنی کاروبار ته تولو محققینو علماؤ که هغه اهل حدیث علماء دی اوکه احناف دی ناجائز وئیلی دی . ددے نه پس چه کوم ناپوهه خلق دجواز فتوی ورکوی نودا عناد اوضد دے او خپل ځان ته نقصان ورکول دی، ددغه علماؤ په کښے هیڅ ضرر نشته اونه دچا سره دشمنی او حسد لری .

د شینل کمپنئ د حرمت دلیلونه :

۱ – اول دلیل : پردے مال په باطله خوړل دی . ﴿ ولا تاکلوا اموالکم بینکم بالباطل ﴾ ځکه ممبر اول دوه کسان راولی او هغوی ته دهوکه ورکړی چه دابه اوشی اوهغه به اوشی اودهغوی مال نیم کمپنی واخلی اوڅه دا ممبران واخلی او هغه روستنو ته کله څه ملاؤ شی او کله نه ! او اخیر کښے دکمپنئ نه اوتختی چه نا امیده شی .

۲ – دویم دلیل : دا سودي کارو بار دے، پیسے په پیسو گټل دی، لگے ورکول او زیاتے ملاویدل، او مشین دتولو مشتریانو او اخستونکو مقصد نه وی، لکه دمشاهدے او تجربے او حال نه ښکاره معلومه ده، او عبرت په معاملاتو او عباداتو کښے نیت لره دے لکه حدیث کښے دی : انکم تختصمون الی ولعل بعضکم ان یکون الحن بحجته . . . الحدیث .

نوکه ظاهراً دیو شخص باره کښے دیو مال فیصله اوشی اوحقیقت کښے داسے نه وی نو نیت او حقیقت لره اعتبار دے، په ظاهری زبانی الفاظو حلال والے نه راځی . دے حدیث کښے بعضے جاهلان خطاء خبرے کوی .

قال الامام ابن القیم – رحمه الله – في اعلام الموقعین : ۹۵/۳ :

العبره في العقود والافعال بحقائقها ومقاصد ها دون ظوا هر الفاظها وافعالها .

بیا تفصیل کولو سره فرمائی :

وقاعده الشریعه التي لا یجوز هدمها ان المقاصد والاعتقادات معتبره في التصرفات ... الخ .

---- انظر النووی شرح مسلم : ۷٤/۲، وراجع لتفصیل المسئله الی کتب الاصول في مساله قضاء القاضی علی الظاهر ام علی الباطن .

۳ – دریم دلیل : دا چه دا دجوارئ او قمار صورت دے،ځکه هر هغه مال چه په خطر کښے وی چه ماته به ئے عوض ملاؤ شی اوکه نه دیته قمار وائی لکه لاتری او استقسام بالازلام .

او په شیښیل کمپنۍ کښې هم دا نهه لس زره روپۍ په خطر کښې وي اوعوض ئې نشته، مشین خو هسې زباني جمع خرچ دې اوجوارۍ حرامه ده.

٤ – څلورم دلیل دادې: په دې کښې دکفارو سره مزدورۍ ده اودا ناجائز ده،کله چه ذلت په کښې وي اودې کښې هم ذلت شته که څوك سوچ اوکړي. والتفصیل في الدین الخالص المجلد ۲.

٥ – پنځم دلیل دادې: چه دا معامله متضمن ده منکراتو لره او معامله کله دحق الغیر په وجه حرامیږي لکه غلا شوه کله ده دخبث او کله دحق الله په وجه اوکله دآثار مرتبه په وجه کله دجوار او ګاونډ په وجه،لکه ولیمه جائز ده لیکن چه تصویرونه ګناهونه هلته کیږي نو دغه ولیمې ته ورتلل حرام دي، نو دلته هم دکمپنۍ په دفترونو کښې ډیر منکرات موجود دي او کیږي چه تولو ته ښکاره او عیان دي،که څوك متقي انسان هغه ځائې ته ورشي او آخرت مخې ته کیدي نو هغه ته به ډیر منکرات ښکاره شي لکه زنانو سره اختلاط،لاسونه پرقول، خنداګانې کول، دنیا ته دعوت ورکول، ستار هوتلونو ته تلل وغیره وغیره.

٦ – شپږم دلیل دادې: چه شینل کمپنۍ کښې ربح دما لم یضمن ده، یعنې دهغه ممبرانو نه پیسې اخستل دي کوم چه اول ممبر دهغې هیڅ ذمه وار نه دې، او نبي کریم ﷺ ربح دمالم یضمن نه منع کړیده لکه چه مشکاه (۱/) کښې دي.

دا واضح دلیل دې لیکن دبعضو کسانو سترګې ددنیا شوق ړندې کړې دي.

۷ – اووم دلیل دادې: چه دې کښې دمسلمانانو اقتصاد خرابول دي اود کفارو اقتصاد ښه کول دي، څکه حاصل ددې معاملې دادې ښه پرې سوچ اوکړه: په مسلمانانو باندې بې قیمته شې ګران خرڅول اودهغوئ مالونه خپل ملك ته اوړل اودبعضې مسلمانانو نه د دلالئ کار اخستل اوهغه له د کمیشن په نوم په یو څو روپو دهوکه ورکولو باندې.

۸ – اتم دلیل دادې: چه دا کمپنۍ کافرانو د مسلمانانو دبربادولو دپاره جوړه کړیده اوهغوئ زمونږ خیر خواه نه دي، قال تعالی: ﴿ لا یالونکم خبالا ودوا ما عنتم ﴾. بیا فرمائي: ﴿ وما تخفي صدورهم اکبر﴾

نو دې آیتونو کښې ښه سوچ اوکړئ، نور دلائل هم شته په مفصله فتوی کښې ئې اوګورئ (کومه چه مخکښې اولیکلې شوه).

نو زه تولو علماؤ اود قرآن کریم قاریانو صاحبانو اودین دارو خلقو ته دعوت ورکوم چه دا غلط کار

پرېږدی، ددې انجام خراب دې اوبل تجارت دې شروع کړی او ددین دعوت لوئے کار دے هغه دے کوی، الله تعالیٰ درزق ذمه وار دے.

وما علینا الا البلاغ.

حرره: ابو محمد امین الله البشاوری.

ووافق علیه کل من المشائخ: الشیخ غلام الله رحمتی - الشیخ عبد السلام الرستمي. الشیخ ابو عمر عبد العزیز النورستاني. الشیخ سمیع الله نجیبي. الشیخ عبد الله محمدي.

د پرائم بېنك سره د کاروبار حکم

سوال: نن صبا دلته پاکستان کښې یوه کمپنی ده چه دپرائیم بینک په نوم کار کوی، آیا ددے سره کار کول او په دے کښې داخله کول شرعاً جائز دی اوکه نه؟ دهغې صورت دادے:

چه ته کم از کم پنځوس امریکی ډالر مالیت سره یو عدد (ای، ګولډ) سپونګ اکاؤنټ پرانستے شے، کله چه تاته داکاونټ نمبرجاری شی نو دهمدے دکاونټ په حواله سره ته دخپل نور رشته دار، دوستان او ګاونډیانو وغیره اکاونټونه هم په پرائیم بینک کښے پرانستے شے. اول ځل به ته دوه عدده نوی اکاونټونه دخپل اکاونټونو لاندے لاین کښے متعارف کوے چه په هغے کښے به یو اکاونټ ستا ګس او بل ښے وی. ددے نه پس ستا دتعارف کننده کهاتے دار دخپلو خپلو اوکاؤنت نمبر په ذریعه مزید ۲ – ۲ کهاتے دار دبینک سره متعارف کوے. کله چه ستا لاندے شپږ اکاؤنټونه درے ګس او درے ښی کهلاؤ شی نو په دے طریقه به ستا یوه مرحله مکمله شی. او ته به د (۳۰) امریکی ډالرو حقدار جوړ شے. دغسے دهر نوی ملګری دشاملیدو سره چه څومره مرحلے (چه مرحله په ٦ اکاؤنټونو ۳ ښی او ۳ ګس باندے مشتمله وی) مکملے شی نو د (۳) امریکی ډالرو في مرحله حساب سره به نه صرف ته حقدار جوړ شے بلکه تانه لاندے کارکونکی تول کهاته دار هم به په همدے حساب سره د ۳۰ امریکی ډالرو في مرحله حقدار جوړیږی. زیات نه زیات (۱۰) مرحلے روزانه مکمل کولو سره (۳۰۰) امریکی ډالرو پورے ګټل کیدے شی. پرائیم بینک (۲٤) ګینټے روزانه حساب سره ستا داکاونټ ساتنه دکمپوټرائز نظام په ذریعه لګیا وی کوی، دا بینک په مباشت کښے دوه ځله دحساب کتاب کولو نه پس ستا دآمدن چیک ستا په نوم او پتے د(تي، سي، ایس) په ذریعه لیګلی. که اوغواړے نو بینک نه حسب ضرورت (آن لاین) هم رقم وصول کولے شے.

ستا خپل اکاؤنټ (٦) میاشتے پس (یا کله چه اوغواړے) خپلو کښے رضامندئ سره ختمولے هم شے. په دے صورت کښے پرائیم بینك نه صرف ستا تمام واجبات اداء کوی بلکه تا چه د(۵۰) امریکی ډالرو سره کومه کهاته پرانستے وه دهغے په بدله کښے (۵) گرامه (۲۱ قیراط) خالص سره زر هم تاته دعزت او احترام سره پیش کولے شی. لا تعداد انعامات اومراعات ددے نه علاوه دی.

جواب : الحمد لله رب العالمین والصلاه والسلام علی رسوله الکریم وعلی آله واصحابه اجمعین اما بعد :

دپرائیم بینك کارو بار یوسُودي کارو بار دے. په دے کښے شراکت کول او (گولډ اکاؤنټ) پرانستل حرام او ناجائز دی.

که یو کس په دے پوهه شو چه دپرائیم بینك داکارو بار چه مثلاً تۀ به (۵۰) ډالر بینك ته ورکړے اوهغوی به تاته (۵) گرامه سره زر درکوی دهغه شرائطو موافق کوم چه دوئ ایخی دی. نو داکس داسے مجرم دے چه رسول الله ﷺ وربانده لعنت وئیلے دے.

لعن رسول الله ﷺ آکل الربا وموکله ...الحدیث. رواه مسلم.

اودے کس درب العالمین سره اعلان جنگ اوکړو.اودے کس داسے گناه ته لاس واچولو چه ددے کم جرم دومره دے لکه چه خپلے مور سره یو سړے زنا اوکړی - والعیاذ بالله -.

اودلیل په دے باندے چه دپرائیم بینك کارو بار کول سود دے داده چه :

مثلاً یوکس بینك ته (۵۰) ډالر ورکړی نودبینك دطرفه به دے سړی ته (۵) گرامه سونا ورکولے شی. نو په دے صورت کښے نسیه راغله چه دیته سُود وئیلے شی. اولکه څنگه چه (سره اوسپین) ثمن دی دارنگ راجحه داده چه دا نوټونه (نقود ورقے) هم مستقل ثمن دی لکه داخبره مولانا عبد الحی لکهنوی ؒ په مجموعه الفتاوی کښے غوره کړیده،کتاب البیوع نرخ دبیع سلم.

دارنگ دهغه شاگرد مولانا محمد هم غوره کړے.دارنگ فتاوی هیئه کبار العلماء ص : (۲۷) کښے په دے موضوع دډیر اوگد بحث کولو نه روسته فرمائیلی دی :

لذلك كله فان هيئه كبار العلماء تقرر باكثريتها :

۱ - ان الورق النقدي يعتبر نقدا قائماً بذاته، كقيام النقديه في الذهب والفضه وغيرها من الاثمان آهـ.

۲ - يجوز بيع بعضه ببعض من غير جنسه مطلقا اذاكان يدا بيد فيجوز بيع الليره السوريه او

اللبنانیه بریال السعودي ورقاً کان او فضه او اقل من ذلك اواکثر الخ.

ددے عبارت حاصل دادے چه: نوټونه مستقل ثمن دے لکه سره او سپین چه څنګه مستقل ثمن دے، په سرو باندے سپین اخستلے شی سره دزیادته، لیکن لاس په لاس والے په کښے ضروری دے چه نسیه حرامه ده.

نو دپیسو (نوټ) په بدل کښے سره اخستل او ورکول جائز دی سره دزیادت او نقصان نه ځکه جنس بدل دے، او نسیه حرامه ده. ځکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

فاذا اختلف هذه الاصناف فبیعوا کیف شئتم، اذا کان یدا بید. رواه مسلم، انظر المشکاه: ۲٤٤/۱----- نو دپرائیم بینك سره دے سکیم کښے شراکت کول حرام اوسود دے، دوجے د(نسیه) راتلونه.

۲ – دویمه مسئله داده:

چه دلالی (کمیشن) جائز دے چه دچا دپاره ګاهك پیدا کوے او هغه تاته دیو کس په سرڅه روپۍ درکوی. لیکن کله چه اوله مسئله سود دے، نو بیا ددے دپاره دلالی هم جائز نه ده، ځکه چه الله تعالی فرمائی: ﴿ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان﴾. اودا په ګناه باندے مدد دے.

۳ – دریمه مسئله:

د بینك سره ملازمت، دهغے سره بلاضرورت معامله (کارو بار) کول هم جائز نه دی. ځکه دا د سود مرکز دے ددے وجے نه ددے نه جداوالے فرض دے. اوپه دے کښے هم په اثم او عدوان باندے معاونت راځی.

هان! دسخت ضرورت په وخت کښے مال بینك کښے کیخودل، یا دهغے په ذریعه بل ځائے ته مال لیږل جواز لری.

تنبیه: دا فتوی چه کله مونږ لیکله نو دپرائیم بینك کارو بار ډیر په تیزۍ سره روان وو، لیکن (کوږ بار منزله پورے نه رسیږی) څه وخت پس په دے کښے دوه لکهه کسان دیواله شو اود تولو پیسے غرقے شوے اوحکومت د پرائیم بینك تول دفترونه بند کړل دهغوئ ممبران ئے ګرفتار کړل.

پرائز بانډ – انعامي بانډ – سود دے

سوال: نن صبا دحکومت دطرفه دپرائز بانډ په صورت کښے چه کوم کارو بار چلیږی په دے کښے

شرکت کول او په دے باندے متوقع انعام حاصلول شرعي نقطه نظر سره جائز دی که نه ؟ ځکه ظاهری طور سره دا نه سود معلومېږی اونه جواری. ولے چه دانسان اصل رقم محفوظ وي، خلق اکثر دا اختیاروي. ددے نور صورتونه دا هم دي:

۱ – مثلاً حکومت یو بانډ په (۱۱) روپۍ خرڅوی چه ددے اصل قیمت لس روپۍ وی، اولنۍ قرعه اندازۍ باندے خصوصي انعامات ورکولو نه پس دیوے روپۍ حیثیت ختمیږی ددے دهر انعامي بانډ دقرعه اندازۍ په ذریعه یو څو انعامي بانډونو باندے انعام اوځی. باقی بانډونه اخستونکو ته اصل رقم نه علاوه هیڅ هم نه ملاویږی.

۲ – دانعامي بانډنوی سبریز دپنځوس او پنځه سوه روپو والا بانډ وی چه دهغے خرڅول دهغے دمقرره تاریخ نه یوه میاشت مخکښے بندولے شی، کله چه تاریخ رو رو قریب راځی اخستونکی هر بانډ په بلیك قیمت باندے خرڅوی. مثلاً دپنځوس والا بانډ په (۵۳) روپۍ اود (۱۰۰) والا په (۱۰۵) روپو اود (۱۰۰۰) روپو والا په (۱۰۳۰) روپو خرڅوی. په دے زائد رقم باندے اخستے شوے بانډ که په قرعه اندازۍ کښے که چرے په قرعه اندازۍ کښے په دے باندے انعام اونه وځی نو دا په اصلي قیمت باندے خرڅیږی، خریدار ته (۵۰) باندے (۳) روپۍ او (۱۰۰) باندے (۵) روپۍ او (۱۰۰۰) باندے (۳۰) روپو نقصان کیږی.

۳ – ددے سره سره ددے هم وضاحت اوکړۍ چه په قرعه اندازۍ کښے د بانډراوتے رقم حلال دے که حرام خواه هغه رقم لګ وی یا ډیر، وضاحت اوفرمائي عند الله ماجور شۍ!

سائل: قاري مشتاق احمد مرجانوی.

جواب: دبانډ چه څومره قسمونه دی تول سود اود دروغو نه جوړ دی ځکه چه کوم رقم جمع دے هغه په سود سره په بینك کښے جمع کوی او قرآن اوحدیث له مخه سود اخستل او ورکول حرام دی. جواری ځکه ده چه دچا په نوم قرعه راوځی هغه ته انعامي رقم ملاویږی، دا حرام دی ځکه چه رقم خو تولو جمع کړیدے اوانعام صرف دیو راوځی دا ولے ؟ آیا دا شخص چه دچا انعام راوتے دے ده څه محنت کړیدے اونورو محنت نه دے کړے ؟ څه وجه ده چه یو کس ته یا یو څو کسانو ته مفت انعامي رقم ورکړے شو، او نورو ته ورنکړے شو. قرآن کریم جوارۍ ته (میسر) وئیلے دے یعنے دبل چا یسار (مالدار) اودولت بغیر دڅه محنت نه حاصلول – چه دا حرام دی.

لنډه دا چه: دبانډ هر صورت دجوارۍ او سود نه جوړ دے. په دے کښے دا دواړه حرام کارونه شامل

دی، لهذا دا حرام دے.

فتاوی برکاتیه ص: ۱۱٤ ---- تفهیم المسائل کښې مولانا گوهر رحمن فرمائی:

(انعامي بانډز - نېشنېل پرائز بانډز - قمار او جوارې ده چه دے ته انعامي بانډز نوم ورکړے شویدے، دفقه قاعده ده چه په عقودو کښې مقاصود له اعتبار وی، صرف الفاظو له اعتبار نه وی.

عبد الله بن عباس - رضي الله عنه - فرمائی:

ان المخاطره من القمار. یعنی: بازی لګول او رقم په داؤ لګول جواری ده.

(احکام القرآن للجصاص: ۳۸۸/۱).

دانعامی بانډونو او معمه بازیانو طریقه په مخاطرے کښې شامل ده دے وجے جواری اوحرام ده.

(تفهیم المسائل: ۳٦۷/۲).

احسن الفتاوی: ۲٦/۷، کښې مفتی رشیداحمد صاحب لیکی: انعامی بانډز جائز نه دے اودا د سود او جوارئ مجموعه ده او حرام در حرام دے.

فتاوی حقانیه (٦٤/٦) کښې ئے هم دیته ناجائز اوحرام وئیلے دے.

آپ کے مسائل اور ان کا حل (٤٠٣/١) کښې هم په دے باندے رد کړیدے.

ګوړے له د رنګ ورکولو حکم

سوال: یو کس ګوړے له رنګ ورکوی او په دے رنګ ورکولو کښې څه نقصان نه وی بلکه صرف ددے دپاره ئے ورکوی چه دګوړے رنګ ښه شی اودے سره دګوړے قیمت هم سیوا کیږی مثلاً دګوړے قیمت سل روپئ وی لیکن کله چه رنګ ورکړے شی نو دهغے قیمت یو سل شل شی.

سوال دادے چه: آیا دارنګ ورکول جائز دی اوکه نه؟ دغه شان دا کار خو په غش (ملاوټ) کښې نه داخلیږی؟ ددے مسئلے تفصیل دقرآن او سنت په رنړا کښې اولیکئ!

جواب: ګوړے له رنګ ورکول دوه قسمه دی:

۱ - **یو قسم**: هغه رنګ چه صحت له ضرر ورکوی نو ددے استعمال حرام دے.

ځکه رسول الله ﷺ فرمائی: لا ضرر ولا ضرار.

(نه ځان له ضرر ورکول شته اونه بل چا ته ضرر ورکول). وسنده صحیح.

۲ - **دویم قسم**: داسے رنګ ورکول چه صحت له ضرر نه ورکوی بلکه صرف ګوړه وریاندے

ښائسته کېږي او اخستونکي ته هم پته وي چه دېته رنګ ورکړے شوېدے. نو داقسم رنګ ورکول ګوړے له جائز دي.

اوپه دے خبره دلېل دادے:

قال الله تعالیٰ: ﴿واحل الله البیع وحرم الربوا، الآیه﴾.

(الله تعالیٰ بیع حلاله کړېده او سودئے حرام کړېدے).

۲ - اصل په اشیاؤ، معاملاتو او بیوعو کښې اباحت دے.

قال الله تعالیٰ: ﴿وهو الذي خلق لکم مافي الارض جمیعاً﴾.

ددے آیت کریمه نه دتولو خوراکي څیزونو اخستلو خرڅولو اباحت معلوم شو. اوس چه کوم څیز ته یو کس حرام وائي نو هغه به دلیل راوړي. بیوع او معاملات چه حرامیږي نو علماؤ دهغے دحرمت قواعد دا لیکلي دي:

۱ - قاعده الربا.

۲ - قاعده الغرر والجهاله.

۳ - قاعده الخداع والتغریر.

دا درے واړه قواعد دقرآن او حدیث نه اخستل شوېدي.

اوس که یوه بیعه دوه کسان خپل مینځ کښې اوکړي اودغه بیع کښې ددغه قواعدو نه یوه خبره هم راغله نو دابه حرامه وي. مثلاً یو بیعه کښې ربا (سود) راتلو دابه حرامه وي.

o یوه بیعه کښې جهالت وو، دابه حرامه وي.

o یوه بیع کښې دهوکه ورکول وو، دا به حرامه وه.

o بیا په دے هره قاعده کښې ډیر صورتونه داخلیږي.

دا یو علمي خبره ده چه علماء کرام وریاندے ډیر ښه پوهیږي.

اوس که یوکس ګوړے ته رنګ ورکړو صرف ددے دپاره چه ددے رنګ ښائسته شي اوددے په ریټ (نرخ) کښې زیادت راشي. او اخستونکے هم وریاندے پوهه وي چه دے ګوړے ته رنګ ورکړے شوے دے نو دا جائز دي. ځکه اصل په بیع کښې جواز دے.

اوس که څوك اووائي چه دلته غش (ملاوټ) راغے نو ځکه حرام دے. نو ددے جواب دادے چه غش دلته نه راځي ځکه غش وئیلے شي (دهوکے) او خطاء کولو (ضد النصح) ته. (النهایه لابن الاثیر:

۳۶۹/۳) الغش : ضد النصح من الغشش هو المشرب الكدر.

نو ېوکس چه په بل باندے ګوره خرڅوی اواخستونکے هم پوهېږی چه دېته رنګ ورکړے شوے نو په دے صورت کښے غش نه راځی.

اوس دا رنګ ګوړے ته ولے ورکوی ؟ نو دا ځکه چه پوخرڅولے شی نو بائع ضرور هغه شے ښائسته کوی مثلاً یوکس بوتان خرڅوی هغه صفا کوی هغه ته رنګ ورکوی. یا یو کس جامے جوړے شوے جامے خرڅوی نو هغه ضرور اول ځل وینځی بیا هغه استري کوی. موټر چه خرڅوی هغه وینځی هغه ته رنګ ورکوی، لاس پرے وهی. دغه شان هر شے واخله.

هاؤ ! په هغه وخت کښے رنګ استعمالول په ګوره کښے حرام دی چه خلق وریاندے دهوکه کېږی، مثلاً اُدنی ګوره وی او درنګ ورکولو په وجه ئے داعلی' ګوړے په نوم خرڅېږی، مثلاً دپنجاب ګوره وی دهغے نرخ ارزانه وی نوېوکس هغے له رنګ ورکړی اود سرحد دګوړے په نوم ئے خرڅوی، نو بیا داکارحرام دے.

دلیل په دے باندے داحدیث دے :

عن ابي هريره – رضي الله عنه – ان رسول الله ﷺ مر على صبره من طعام فادخل يده فيها فنالت اصابعه بللاً فقال : ما هذا يا صاحب الطعام ! قال : اصابته السماء يا رسول الله ! قال : افلا جعلته فوق الطعام كي يراه الناس ؟ من غش فليس مني.

(رواه مسلم وابوداود، المشكاه : ۲٤۸/۱).

ترجمه : رسول الله ﷺ دطعام په یو راشے (ډیری) باندے ورتیر شو نو دهغے په مینځ کښے ئے لاس ورننویست نو لاس مبارك ئے لوند شو، رسول الله ﷺ دطعام خاوند ته اوویل : دا څه دی ؟ هغه عرض اوکړو : یا رسول الله ! دا باران والی دی، رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل : نو بیا دا لوند طعام ولے دپاسه نه ګدے چه خلق ئے وینی. چاچه دهوکه اوکړه هغه زمونږ نه نه دے.

ددے حدیث شریف نه دا مسئله معلومه شوه چه کوم شئ کښے دهوکه ورکول راځی هغه به حرام وی. او یو شی کښے چه دهوکه ورکول غرض نه وی اونه اخستونکے په هغے دهوکه کېږی نو دا حرام نه بلکه جائز دے.

فتاوی حقانیه (۹۲/٦) کښے دی :

که چرے دګوړے دصفائی اود هغے دمعیار بهتر کولو دپاره رنګ کاټ استعمال شی نودے کښے

هيڅ حرج نشته. اوكه چرے رنګ كاټ ددے دپاه استعمال شي چه دادني ګوړے نه ښه ګوړه ظاهره كړي يا داخستونكي ته تلبيس اودهوكه وركول مقصود وي نوداد ملاوټ پشان دے اودا بيا ناجائز اوحرام دے.

۳۰- رجب، ۱٤۲٤ هـ.

د دلالۍ او پراپرټۍ كاروباركولو حكم

سوال: ددلالۍ اجرت اخستل څنګه دي، دغه شان دپراپرټۍ څه حكم دے چه دے كښې دلال داخستونكي او خرڅونكي نه يو معلوم اجرت اخلي، ولے چه ده د اخستونكي دپاره دلالي اوكړه او دے ئے خرڅونكي له راوستو اودهغه سره ئے ورله خبره جوړه كړه، نوګويا دے دجانبينو نه وكيل دے، نو آيا ددے دواړو نه ده دپاره اجرت اخستل جائز دي؟

جواب: دلال دپاره په خپله دلالۍ باندے اجرت اخستل جائز دي كله چه د يو مسلمان سره دهوكه اونه كړي.

قال البخاري (۳۰۳/۱): لم ير ابن سيرين وعطاء والحسن وابراهيم باجر السمسار باساً.

قال ابن عباس: لا باس بان يقول: بع هذا الثوب فمازاد على كذا وكذا فهو لك.

وقال ابن سيرين: اذا قال: بعه بكذا فما كان من الربح فهو لك اوبيني وبينك، فلا باس به. وقال ﷺ المسلمون على شروطهم. (راجع فقه السنه :۱۲۷/۳).

فتاوى رشيديه (۵۱۳) كښې دي:

ددلال اجرت صحيح دے خو چا ته به دهوكه نه وركوي.

هم دغه شان په فتاوى بركاتيه (۱۱٦) كښې هم دي.

بله داچه: په دے كښے كوم شرعي مانع نه دے موجود بلكه يو وكالت دے او په وكالت باندے مال اخستل جائز دي.

فقه اسلامي (۳۳۲٦/۵) كښې دي:

السمسره: هي الوساطه بين البائع والمشتري لاجراء البيع، والسمسره جائزه. والاجر الذي ياخذه السمسار حلال، لانه اجر على عمل وجهد معقول.

(دلالي: دا دبائع او مشتري ترمينځه دسودا جاري كولو دپاره واسطه ده، دلالي جائز ده. او هغه

اجرت چه دلال ئے اخلی حلال دے، ولے چه دا په ہوکار او معقول عمل باندے اجرت دے ------ احسن الفتاوی: ۲۷۲/۷، کښے دي:

(دلالئ اجرت جائز دے، په دے شرط چه ښکاره طور سره اجرت معین کړے شی.

سوال: ددلالئ اجرت في روپیه یوه آنه یا کم وبیش لکه چه عام رواج دے شرعاً جائز دے که نه؟

جواب: ددلال په اجرت کښے دفقهاء حنفیه عبارات مختلف دی مګر حاجه الناس مد نظر لرلو سره دجواز قول مختار او مفتی به دے. تعین داجرت ضروري دے. او یوه آنه في روپۍ هم دتعین صورت دے.

د ژوندی حیوان څرمن یا نور اجزاء خرڅول جائز نه دی

سوال: آیا د ژوندی حیوان څرمن دحلالے نه مخکښے خرڅول جائز دی که نه؟ دغه شان دهغه کلیجی وغیره قبل الذبح خرڅول څنګه دی؟

جواب: د ژوندی حیوان اجزاء خرڅول جائز نه دی ځکه په دے کښے غرر او مخاطره ده. او هرهغه بیع چه متضمن وی غرر - دهوکے - لره یا جګړے ته رسیږی هغه صحیح نه وی.

دلیل په دے باندے دادے:

عن ابی هریره - رضي الله عنه - قال: نهی رسول الله ﷺ عن بیع الحصاه وعن بیع الغرر.

(مسلم: ۲، کما في المشکاه: ۲٤۷/۱).

ترجمه: رسول الله ﷺ دبیع الحصاه اود ددهوکے دسودا نه منع فرمائیلے ده.

قال النووی: ویدخل تحت الغرر مسائل کثیره جداً. فمنها: بیع الحصاه، ومنها: ضربه الغواص، وبیع انتاج والملامسه، ومنها بیع المخاطره، ومنها بیع الصوف في الظهر، ومنابیع السمن في اللبن وحب الحبله.

نو دابیوع منهي عنها دی ځکه غرر په کښے دے (فقه السنه: ۱۳۰/۳).

، نوکیدے شی چه حیوان مردار شی، دا احتمال هم شته چه څرمن اوشلیږی، یا عیب جنه شی، یا تول حیوان ورك شي، لهذا په دے بیع کښے دهوکه ده اوجګړه په کښے هم واقع کیدے شی.

دغه شان حدیث دبیع المضامین والملاقیح نه منع راغلے ده. (زاد المعاد: ۷۳۵/۵).

په بېنك كښې د مال كېخودلو حكم

سوال: په بېنكونو كښې مال كېخودل جائز دی كه نه؟ او آيا دبېنك نه نفع (سود) اخستل او بيا دخپر ښېګړې په كارونو كښې صرف كول پكار دی اوكه بېنك ته پرېخودل

جواب: په سودي بېنكونو كښې مال كېخودل جائز نه دی، اګركه نفع ترېنه نه اخلی. ځكه الله تعالى فرمائی:

﴿ولا تعاونوا على الاثم والعدوان﴾.

(دګناهونو اوزياتی په كارونو كښې دچا سره تعاون مه كوئ). او په دے كاركښې په سود باندے ښكاره تعاون دے. ---- باقی كه دے بېنك كښې مال كېخودلو ته محتاج شو مثلاً پيسے ورسره ډېرے دی، دغل غده دخوف نه ئے ګدی، نو بيا دسختے مجبورئ په وجه چه كله غير سودی بېنك ورته نه ملاوېږی نو په سودي بېنك كښې ئے كېخودل جائز دی. ځكه دالله تعالى ارشاد دے:

﴿فمن اضطر في مخصمه غير متجانف لاثم فلا اثم عليه﴾.

(څوك چه په سخته لوګه كښې مجبوره شو چه ګناه ته ګرېدونكے نه وو نو په ده باندے څه ګناه نشته).

پاتے شو په بېنك كښې مال كېخودل اود هغے منافعه شرط كول نودا په كتاب اوسنت او اجماع المسلمين سره حرامه ده. اوس كه يو شخص ددے په حرمت باندے جاهل وو، او په بېنك كښې مال كېخودلو، بيا ورته ددے پته اولګېده نو آيا منافعه به اخلی اوكه نه؟

په دے كښې دوه رائے دی: راجحه داده چه وائے نه خلی، ولے چه الله تعالى فرمائی:

﴿وذروا ما بقي من الربا ان كنتم مؤمنين﴾.

دا آيت كريمه عامه ده په دے مؤمن او كافر دواړه داخل دی.

نو پكار ده چه نه ئے دكافر نه واخلی اونه دمسلمان نه.

اوپه همدے خبره هيئه كبار العلماء السعوديه هم فتوی وركړے اودا ماته صحيح ښكاری. ځكه دسود نه لرے كېدل واجب دی، مسلمان دپاره جائز نه دی چه دمسكينانو دپاره سودي معامله اوكړی.

حرره: ابومحمد امين الله البشاوری. ۳/ ۱۲/ ۱٤۲٤هـ.

حرام مال سره به څه کوی؟

سوال : که چا حرام مال حاصل کړو نو په دے باندے به څه کوی؟

جواب : کله چه چاته حرام مال ملاؤ شی نو په ده باندے واجب دی چه په فقیرانو باندے ئے خیرات کړی او یا ئے دخیر ښیګړے په کارونو کښے اولګوی. اودا ورله جائز نه دی چه په خپل استعمال کښے ئے راولی، کله چه ورته مضطر (سخت محتاج) نه وی. اودا ورله هم جائز نه دی چه ضائع ئے کړی (چه اوئے سیزي یا ئے ځیرے کړی).

دحرام مال په فقیرانو باندے دصدقه کولو دلیل حدیث دابوداؤد دے :

اطعمیه الاساری ---- (قیدیانو باندے ئے اوخوروه).

دا دګډے بیزے غوښه وه چه دمالکے داجازت نه بغیر اخستے شوے وه.

دغه شان په یو حدیث کښے دی : ولا صدقه من غلول ـ

(صدقه دحرام مال نه نه قبلیږی). رواه مسلم والترمذي.

ددے مسئلے تحقیق شیخ الاسلام ابن تیمیه ؒ په مجموعه الفتاوی، علامه ابن القیم ؒ په بدائع الفوائد او شیخ انور شاه ؒ په عرف الشذي کښے کړیدے. کما في درس ترمذي ص : ۱۷. چه چاته حرام مال ملاؤ شو نو دهغے صدقه کول واجب دی.

اوکله چه دبینك نه څه منافعه ورته ملاؤ شی نواول خو دے نه اخلی، بیا ئے که واخسته نو په فقیرانو باندے دے ئے اولګوی. او په دے کښے دے دفراغ الذمه (ذمے فارغولو) نیت کوی.

وانظر هیئه کبار العلماء : (۱/۱۲۵). والله اعلم.

حرره : ابو محمد امین الله البشاوري. ۱۰/۱۱/۱٤۲٤ هـ.

د کمیشن اخستلو حکم

سوال : کمیشن کاری کول څه حکم لری؟

جواب : کمیشن کاری اوپه کمیشن ایجنټ جوړیدو کښے څه باك نشته. خو په دے کښے او په هره معامله کښے یو څو شرطونه دی :

۱ – په دے کښے به تګی نه وی، که چرے په کمیشن کارئ یا بله معامله کښے تګی (غش) وی نو دا بیا جائز نه دے. مثلا یوکس کور نه اخلی او ته ورته اووائے چه دا کور خو ډیر کسان غواړی، اودا کور

دومره ښه صفاتو والا دے او حقیقت داسے نه وي نو دا په غش (تګئ) کښے راځي. او د غش نه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده:

من غش فلیس منا – رواه مسلم.

۲ – په دے معامله کښے به (نجش) نه وي. نجش دیته وائي چه یو کس په حقیقت کښے یو څیز نه اخلي لیکن د اخستونکي تیزولو د پاره دا اووائي چه زه ئے هم اخلم او ډیرے پیسے یادے کړے، د دے د پاره چه مشتري (اخستونکے) ئے په ګران قیمت واخلي. نو دا کار هم حرام دے.

دے باره کښے ډیر احادیث راغلي لکه د ابن عمر – رضي الله عنهما – نه روایت دے:

نهى النبي ﷺ عن النجش. (رواه البخاري: ۲۸۷/۱).

ترجمه: رسول الله ﷺ د نجش نه منع فرمائیلے ده.

که چرے په کمیشن کارئ کښے دا خرابیانے نه وي کوم چه مونږ ذکر کړل نو بیا کمیشن کاري کول بالکل جائز دي. او د دے په جواز باندے دلائل دادي:

۱ – اصل په بیوعو کښے حِل او جواز دے. الله تعالی فرمائي:

﴿واحل الله البيع﴾ [البقره].

اوس که څوك یو بیع او لین دین حراموي نو هغه به په حرمت باندے دلیل پیش کوي. لیکن کوم دلیل؟ هغه دلیل چه قرآن او حدیث وي. هسے عقلیات، قیاسات دلیل کښے ذکر کول هیڅ کار نه ورکوي.

نو مونږ وایو چه کمیشن کاري هم د بیع یو قسم دے نو ځکه جائز دے.

او کومه خبره چه د غش (تګئ) او د (نجش) ده نو دا کارونه په هر قسم بیع او لین دین کښے حرام دي. هغه که کمیشن کاري وي او که بل څه معامله وي. صرف د کمیشن کارئ تخصیص کول صحیح نه دي.

۲ – سلف صالحینو هم د دے (کمیشن ایجنټ) جوړیدو اجازت ورکړیدے:

لکه امام بخاري – رحمه الله – فرمائي:

لم یر ابن سیرین وعطاء والحسن وابراهیم باجر السمسار باسا.

قال ابن عباس: لا باس بان یقول: بع هذا الثوب فمازاد علی کذا وکذا فهو لك. وقال ابن سیرین: اذا قال: بعه بکذا فما کان من الربح فهو لك اوبیني وبینك، فلا باس به. وقال ﷺ المسلمون علی

شروطهم.

(صحیح البخاري: ۳۰۳/۱، فقه السنه: ۱۲۷/۳، فتاوی رشیدیه ص: ۵۱۳، فتاوی برکاتیه ص: ۱۱۶، ابن ابي شیبه، فتاوی الدین الخالص کتاب البیوع.

وصلی الله وسلم علی نبینا محمد وآله وصحبه ومن تبعه الی یوم الدین

د الله په توفیق سره

امین الفتاوٰی اول جلد مکمل شو



مصافحه په یو لاس کول سنت دی

سوال : آیا مصافحه په یو لاس سنت ده، اوکه په دوه لاسونو ؟

جواب : الحمدلله ، والصلاه والسلام علی رسول الله ﷺ اما بعد :

مصافحه درسول اکرم ﷺ نه په صحیح احادیثو کښې نقل او ثابته ده اود مصافحې د سنتوالی نه څوك انکار نشی کولے . لیکن مهمه خبره داده چه آیا مصافحه په کوم طرز او طریقه سره پکار ده، داحادیثو نه داخبره ثابته ده چه سنت دنبی اکرم ﷺ اود صحابه کرامو رضی الله عنهم په لاس سره مصافحه کول دی او په دوه لاسونو باندې مصافحه کول چرته هم دنبی اکرم ﷺ نه ثابت نه دی، او مصافحه دصحابوؓ ترمینځه هغه وخت عامه شوه چه دیمن نه څه کسان راغلل او هغوی مصافحه کوله نو نبی اکرم ﷺ صحابه کراموؓ ته حکم اوکړو چه تاسو هم مصافحه کوئ . څنګه چه په مسند احمد (۱۱۲/۳) کښې راځی دجناب انس رضی الله عنه نه روایت دے چه : څه وخت اهل یمن راغلل او هغوی مصافحه کوله، رسول الله ﷺ اوفرمائیل :

یمن والا تاسو ته راغلل چه ډیر نرم زړه والا دی پتاسو کښې، اودوئ هغه خلق دی چه دتولو نه اول ئے په مصافحه باندې راتګ اوکړو۔

او په بل روایت (۲۲۳/۳) کښې دا هم راغلی دی چه : دوئ اولنی کسان دی چه مصافحه ئے راوړله (وکان هم اول من احدث المصافحه)۔

او مصافحه په یولاس باندې دسنت او لغت نه ثابته ده ۔

هغه دلائل چه سنت والے

د مصافحې په یو لاس سره ثابتوی دادی :

۱ – ابوداود رقم : (۲٦۰۰) مسند امام احمد (۲۵/۲، ۳۸، ۱۳٦) او ابن عساکر (۲۹۰/۱٤) کښې

دقزعه نه روایت دے دا فرمائی :

أرسلنی ابن عمر في حاجه فقال : تعال حتی اودعك... الحدیث فاخذ بیدي فصافحنی الحدیث)۔

ددے حدیث سند صحیح دے . اوګوره سلسله الاحادیث الصحیحه رقم (١٤) (٢٠/١)۔

نوددے روایت د (فاخذ بیدی) نه په یو لاس سره مصافحه کول ثابت شو ځکه چه په دوه لاسونو مصافحه سنت وے نو دوئ به دوه لاسونه ورکړی وے، نه یو لاس ۔

٢ - ابن ماجه رقم (٣٧١٦) طبقات ابن سعد (٣٧٨/١) بغوی په شرح السنه (٢٤٥/١٣) ابو الشیخ په اخلاق النبی ﷺ (٢٥) او ابن حبان په خپل صحیح رقم (٢١٣٢) کښے دانس رضی الله عنه نه روایت نقل کړے دے چه :

کان رسول الله ﷺ اذا صافح رجلا لم یترك یده حتی یکون هو التارك لید رسول الله ﷺ.

ترجمه : درسول الله ﷺ دا عادت کریمه وو چه کله به ئے دکوم سړی سره مصافحه کوله نو دهغه لاس به ئے تر هغه وخته پورے نه پریخودلو تر څو به چه هغه سړی درسول الله ﷺ لاس پریخودلو۔

دا صحیح حدیث دے . اوګوره سلسله الاحادیث الصحیحه (٦٣٥/٥) رقم (٢٤٨٥)۔

٣ - دارنګه په روایت دبراء بن عازب رضی الله عنه دے په ترمذی (١٠٢/٢) کښے۔

٤ - دغه شان روایت طبرانی دابوداود الاعمی نه روایت کړے دا فرمائی :

ما سره براء بن عازب رضی الله عنه مخامخ شو (فاخذ بیدی فصافحنی) ځما لاس ئے اونیولو او مصافحه ئے راسره اوکړه، او وے خندل او وے فرمائیل : تاته پته شته چه ما ولے ستا لاس اونیولو (لم أخذت بیدك) الحدیث :

ددے روایت نه هم په یو لاس سره مصافحه ثابتیږی . اوګوره الترغیب والترهیب (٤٣٢/٣) ۔

لیکن په روایت کښے ابوداود متروك دے، خو په مجموعی صورت سره دا حدیث صحیح دے . اوګوره : سلسله الصحیحه (٤٤/٢) رقم (٥٢٥)۔

٥ - دا رنګه حدیث طبراني په اوسط کښے دحذیفه بن الیمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول اکرم ﷺ فرمائی :

ان المؤمن اذا لقی المؤمن فسلم علیه وأخذ بیده فصافحه) . الحدیث۔

اوګوره الترغیب والترهیب (٤٢٣/٣) او مجمع الزوائد دالهیثمی (٣٦/٨) وأخذ بیده (اونیسی

لاس دهغه) ۔

دا روایت هم ثابتونکے دے مدعا لره چه مصافحه په یولاس سره ده۔

٦ – دارنګه حدیث د الترغیب والترهیب (٤٣٣/٣) مجمع الزوائد (٣٧/٨) او طبرانی کښے دسلمان فارسی رضی الله عنه نه روایت دے چه فرمائی : رسول الله ﷺ فرمائیلی دی :

ان المسلم اذا لقي اخاه المسلم فاخذ بیده ... الحدیث۔

دے حدیث کښے لفظ د (بیده) نه داخبره ثابت شوه چه مصافحه په یولاس سره ده۔

٧ – دارنګه حدیث دترمذی (١٠٢/٢) کښے دابن مسعود رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی :

من تمام التحیه الاخذ بالید۔

دا حدیث هم ثابتونکے دمدعا دے۔

٨ – دارنګه روایت دبزار او روایت دطبرانی او روایت دمجمع الزوائد (١٠/٩) دا مسئله ثابتوی چه ابو هریره رضی الله عنه فرمائی :

لم یکن احد یاخذ بیده فینزع یده ... الحدیث۔

٩ – دارنګه حدیث دترمذی (١٨٢/٢) مجمع الزوائد (١٦/٩) کښے هم دی۔

١٠ – دارنګه حدیث دبخاری (٩٢٦/٢) دعبد الله بن هشام نه نقل کوی چه فرمائی :

(کنا مع النبی ﷺ وهو آخذ بید عمر بن الخطاب۔

(هو آخذ بیده) رسول الله ﷺ نیونکے وو لاس دعمر بن الخطاب رضی الله عنه۔

دا حدیث صریح دلیل دے په سنتوالی دیو لاس مصافحے سره۔

او هرچه هغه حدیث دے چه امام بخاری رحمه الله دابن مسعود رضی الله عنه نه نقل کړے چه رسول الله ﷺ ماته تشهد ښودلو اوزما ورغوے درسول الله ﷺ ددواړو ورغو ترمینځه وو۔

نو دا حدیث دلیل نشی جوړیدے په مصافحه بالیدین باندے ځکه که په دواړو لاسونو سره مصافحه سنت وے نو ابن مسعود رضی الله عنه به هم دواړه لاسونه ورکړی وے، یو لاس به ئے نه ورکولے۔

بل داچه دا حدیث دمصافحے سره تعلق نه لری ځکه چه دا حالت دتعلیم دے . اولاس دابن مسعود رضی الله عنه نیول دزیادت اهتمام دپاره وو . نه داچه مصافحه په دواړو لاسونو سره ده۔

١١ – علامه مبارکفوری رحمه الله په تحفه الاحوذي (٣٩٨/٣) کښے دا مسئله ښه په صراحت سره ذکر کړے ده هغه فرمائی :

ان المصافحه هي الصاق صفح الکف بصفح الکف، فالمصافحه المسنونه اما ان تکون بالید الواحد من الجانبین، او بالیدین. واما علی التقدیر الاول فظاهر وعلی التقدیر الثانی فتکون مصافحتان۔

یعنې : مصافحه رسول دورغوی دلاس دے ورغوی دلاس ته اومسنونه مصافحه په یو لاس ده دوړو خواؤ نه، اویا په دوه لاسونو ، اول تقدیر خو ظاهر دے چه په یو لاس سره شی، ځکه په دوه لاسونو دوه مصافحے کیږی نه یوه۔

۱۲ – دارنګه اکثر ائمه په دے رائے باندے دی لکه شوافع، حنابله او احناف۔

اوګوره رد المختار (۱٦٦/۲) والمصافحه بالیمنی. (مصافحه به په ښي لاس وي) ۔

دا صریح دے په قول داحنافو کښے هم چه مصافحه په یو لاس سره ده۔

۱۳ – دارنګه عبد القادر جیلانی ؒ په غنیه ص (۱۹) کښے هم دیو لاس تذکره کړے ده۔

۱٤ – شیخ په مجموعه الفتاوی (۱۰۹/۲۱) کښے هم فرمائی :

والذي یختص باحدهما ان کان من باب الکرامه کان بالیمین کالاکل والشرب والمصافحه.

۱۵ – همدا رائے دصاحب دعون المعبود هم ده (۱۱۹/٤)۔

۱٦ – په عرف الشذي (۱۰۱/۲) کښے فرمائی :

والمصافحه افضاء صفحه الید بصفحه الید۔

۱۷ – مرقات (۷٤/۹) کښے لیکی :

والمصافحه هي افضاء صفحه الید الي صفحه الید۔

۱۸ – دغه شان په سلسله الاحادیث الصحیحه (۲۲/۱) کښے په دے حقله ډیر احادیث نقل کړے شویدی۔

۱۹ – دارنګ علامه سید نذیر حسین دهلوی ؒ په فتاوی نذیریه (۴۱۷/۳ – ٤۲۲) کښے ډیر په تفصیل سره دا بیان کړی دی چه مصافحه په یو لاس سره ده .

خلاصه دا چه : مصافحه یو سنت عمل دے خو په یو لاس سره به مصافحه کیدلے شی او په دوه لاسونو سره مصافحه کول خلاف سنت ده . او مصافحه په دواع یا رخصتئ وخت کښے هم سنت ده۔